بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاوی عثمانی

په قندهاری پښتو

تالیف:

حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب مدظلہ

پښتو مترجم

استاد المولوی القاری عبدالاحد الحقانی

ناشر

مکتبة العلوم الدینیة

کانسی روډ کوئټه

پنځه څلويښت کلنه د خپل لاس ليکل شوي

د فتواؤ مجموعه

فتاوىٰ عثماني

دريم جلد

کتاب الشركة والمضاربة، کتاب البيوع، کتاب الربوٰ والقمار والتأمين، کتاب الاجاره، کتاب الرهن، کتاب الهبة، کتاب الوديعة والعارية، کتاب اللقطة، کتاب الجهاد، کتاب الامارة والسياسة، کتاب الحدود، کتاب الصلح، کتاب الجناية، کتاب الوکالة، کتاب القسمة

تاليف

حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب مد ظله

پښتو ترجمه

مفتي هبة الله (M,R)

ناشر

مکتبة العلوم الدينية کانسی روډ کوټه

کتاب الربوٰ والقمار والتأمين ۳۱۰

کتاب الاجارة ٤۰٤

کتاب اللقطة

کتاب الجهاد

(کتاب الامارة والسياسة) ۵۴۹

پیش لفظ

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین، والصلوة والسلام علی رسوله الکریم، وعلی کل من تبعهم باحسان الی یوم الدین

امابعد!

دفتاویٰ عثمانیه دریم جلد ستاسي په خدمت کي ده څنګه چي ما داول جلد په سر کي تاسي ته عرض کړی ؤ چي ما دبزرګانو دامر دتعمیل سره دفتویٰ نویسي بالکل په ابتداء دعمر کي شروع کړې وه، او سره دټولو مشاغلو تر اوسه دالړی روانه ده، او ددې خبري پوره احساس کوم چي دا یوه ډیره نازکه او دخطره ډکه ذمه واري ده، که دالله ﷻ توفیق او دبزرګانو دعاوي راسره مل نه وي نو دانسان په وسه پوره نه ده چي دا عهده تر خپل ځایه پوره په سمه ورسوي.

دا دریم جلد خاص پر هغه مسائلو مشتمل ده چي دهغه تعلق تر ډیره دمعاملاتو سره اړه لري، او زموږ په دور کي خو دنویو معاملاتو داسي پیچلی دور راغلی دی، چي دهغو صریح حکم په پخوانیو کتابو کي په اسانۍ سره نه پیدا کیږي نو ددې مسائلو داصولو څخه راایستل کیږي او وربانديي تطبیق کول، په استنباط دمسائلو کي داصولو څخه غلطي هم ممکن وي، اودعلماؤ رایه هم سره مختلف وي، او ځینی وختونه خو په یوه مسئله کي زیات جهتونه وي، نو په دې صورت یوه جهت ته ترجیح ور کول کیږي په دې وجه د فتوا لیکلو پر وخت دالله ﷻ څخه ویره هم وي او دخپل وس سره سره پوره تحقیق هم وکړي، لیکن بهر صورت! دا یو بشري کړنه ده او کړنه هم دداسي چا ده چي دهغه سره دکم علمی احساس دی، نو په

دې خاطر ده ته ددې اجازت شوی چي انشاء الله چي هغه به داهل علم دنظر څخه وزي نو یا به یې تصدیق وشي او یا به هم کومه غلطي په نښه کړي، زه دالله ﷻ ډیر شکر ګذاریم چي ددې فتاویٰ عثماني دوه جلده لا له وړاندي څخه داهل علم او اهل فتویٰ تر نظر وتلي دی چي هغو دمحبت او دقبول په نظر ورته کتلي دی، او دهغو څخه څه حضراتو لا هم ځیني کوتایاني هم په ګوته کړې دي، او بیا دهغو په بیا چاپیدلو کي اصلاح هم شوې ده، او کله دا هم ضروري بلل شوې چي دهغه داصلاح اعلان باقاعده په میاشتنۍ مجله البلاغ کي هم شوې ده، ددې دریم جلد په باره هم دالله ﷻ څخه درحمت امید شته چي اهل علم به یې دخپل شفقت څخه نه محرومه وي.

زما عزتمند او ګران دقدر وړ مولانا محمد زبیر حق نواز صاحب ددې جلد په ترتیب او تهذیب کي په خاص طرز تیارولو کی زیار ایستلی دی، او هغه چي په کوم قابلیت او سلیقې سره دغه جلد پیش کړی، هغه ته که زه خراج تحسین وړاندي نکړم نو دا به زما یو ډیره غټه ناشکري وي، هغه دمختلفو کتابچو او دوسیو څخه دا فتواوي راغونډي کړي دی، هغه ددې سره سره تخریج او تعلیق هم کړی دی، چي په دې سره به لوستونکي ته څه اندازه مأخذ هم په ګوته کړي، مګر دا به دحقیقی محنت څخه ربنتیا هم کم وي نو هغه لره دا دعا کوم چي الله ﷻ دي دده په عمر، علم او عمل کي ظاهر او باطني ترقي راولي او هغه ته دي په صدق نیت ددین خدمت نور هم ورپه برخه کړي، آمین، ثم آمین

که په دې کتاب سره الله ﷻ چاته ګټه ورسوي نو هغه به محض دالله ﷻ کرم او احسان وي دهغه څخه زما غوښتنه ده چي هغه دغه ناکاره بنده ته په ژوند او پس له مرګه په دعاؤ کي هیر نه کړي، جزاهم الله تعالی خیرًا. وماتوفیقي الا بالله العليِّ العَظیم

۵/ جمادي الثانیه/ ۱۴۳۱

بنده

محمد تقی عثماني / عفی الله تعالی عنه

دارالعلوم کراچي

عرض مرتب

الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد!

تقریبا درې کاله وړاندې دمصنف صاحب فتاویٰ په دوو جلدو کې عام منظر ته وړاندې شوه چې په هغه کې د، کتاب الایمان، څخه نیولې بیا تر، کتاب الطلاق، پورې پر ابوابو مشتمله وه اوس الحمد لله، فقه المعاملات، سره اړوند مسائل هم په دریم جلد کې ستاسې لاسو ته رسیږي، چې په دې کې د، کتاب الشرکت، څخه نیولې بیا تر، کتاب القسمت، پورې پر ابواب مشتمل ده. په دې جلد کې به په لاندې ډول بابو سره اړوند مسائل راځي:

کتاب الشرکة والمضاربة، کتاب البیوع، کتاب الربا والقمار والتأمین، کتاب الاجارة، کتاب الرهن، کتاب الهبة، کتاب الودیعة والعاریة، کتاب اللقطة، کتاب الغصب والضمان، کتاب الجهاد، کتاب الامارة والسیاسة، کتاب الدعویٰ والشهادات والقضاء، کتاب الحدود، کتاب الجنایات، کتاب الصلح، کتاب الوکالة، کتاب القسمة.

الله تعالی چې مصنف صاحب ته کوم امتیازي شان ورکړی دی خاص بیا په حدیث، په فقه او دفتویٰ په میدان کې هغه ډیر لوړ مقام دی، په دې وجه الحمد لله دې فتاوا ته داهل علم او فتوی تر منځ ډیر زیات مقبولیت ورکړل شوی او چونکه دمصنف قلم ته خداوند یو داسې انداز بخښلی چې دده بیان نهایت آسان او دلنشین وي، په دې وجه مخکیني دواړو جلدونه دعلماؤ څخه علاوه عوام الناس کې هم

مصنف دسائل دمقصودي سوال په تفصیل سره ځواب کوي ، او دضمني سوالاتو یوائې جزوي او مختصر ځواب کوي.

په دې خاطر بنده هغو سوالاتو ځوابونه دخپل اړوند بابو سره تړلي چونکه لوستونکي دسائل داصل سوال څخه ناخبره وي نو کله چې دی هغه مختصر سوال او ځواب ملاحظه کوي نو اجمال محسوس کوي ، حالانکه چې دهغه دتفصیلي سوال او ځواب یو جزوي.

یو دا وضاحت هم ضروري دی چې په دې مجموعه کی داسي فتواوي هم وجود لری چې څلویښت یا پنځوس کاله پخوا لیکل شوې دی ، او په دې مسائلو کی کله ناکله تحقیق هم بدل شوی وی ، ددې فتاواؤ په نظر ثاني کي مصنف کله ناکله څه تبدیلي هم کړې وي نو ددې سره سره که په کومه فتوا کي غلطي وي نو دهغه ذمه داري به پر بنده باندې وي ، مصنف دهغه څخه بري دي.

دا خبره هم ضروري ده چې په اول جلد کي هم ورته اشاره راغلې ده هغه دا چې مصنف چې کوم علمي تحقیق کړی دی خاص دفقه په میدان کي هغه ذي جهته او همه ګیر وی چې دهغو ضبط کول مشکل وی ، په دې سره دڅلورم جلد هم بحمد الله دتیاري مراحل پوره کیدونکي دي ، او ډیر ژر به انشاء الله جلوه داره شي ، ددې سره سره موږ دانشوویلای چې په دې کي دمصنف ټولي فتواوي راجمع شوې دی ، بلکه څنګه چې وړاندې ذکر شوي دفتاوا عثمانیه دهغو فتواؤ مجموعه ده چې مصنف په دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي په رجسټرو او فائلو کي محفوظ کړي دی ، چې په اول کي ځیني فتواوي دحفاظت څخه بغیر وتلي چې هغه په دې فتاوا کي شامل نه دی ، او ځیني خو لا مصنف په مختلفو انحاؤ دعالم کي په مختلفو ژبو ځواب کړی چې په رجسټرو کي محفوظ شوې نه دی ځیني اهم خطوط چې هغه

محفوظ شوی او بیا په دې فتاوا کي ذکر شوی چې دهغو تعداد ډیر کم دی ، هم داډول پر نیټ باندې هم مصنف دسوالو ځواب دامیل په واسطه کوی چې هغه هم اکثر دمعاملاتو سره اړوند وي ، هغه هم په دې مجموعه کي شامل نه دی ، داډول په البلاغ کي چې کوم سوالات او جوابات یو مستقله روانه سلسله لري هغه فتواوي هم په دې مجموعه کي شامل نه دی. (البته دانګریزي فتواؤ یو مجموعه زیر طبع ده)

بهر حال ددې مجموعې داشاعت څخه وروسته دا فکر کول چې دا دمصنف ټولي فتواوي دی غلط دی ، ولی چې ددې څخه علاوه دډیرو نورو مجموعو ګنجائش شته ، زموږ دعا ده او دلوستونکو څخه هم دا غوښتنه ده چې مصنف ته ددراز عمر دعا وکړي او الله ﷻ دی دده صحت او سلامتي تر ډیره ولري ، چې تر ډیره دغه دعلومو او عرفان سلسله جاري وي ، او امت نور هم دمصنف څخه مستفید شي.

په آخر کي دلوستونکي څخه جدي غوښتنه کیږي چې مصنف ، بنده او دده والدینو او اساتذه کرام په خپلو دعاؤ کي هیر نه کړي چې دا به ددوي یو غټ احسان وي.

والسلام

محمد زبیر حق نواز

۲/ربیع الاول/۱۴۳۱

كتاب الشركة والمضاربة

شركت او مضابت (دپانټر شيپ او سرمايه كاري) مسائل

١ په پنځلس فيصد نفع او نقصان پر بنياد دشركت حكم

٢ : په مضاربت كي دمضارب لپاره نفع متعين كول او تنخواه مقرر كول

سوال : - عرض دادی چی یو سړی بنده په خپل تجارت کی شريک کوي خو هغه دسرمايه كاري پر بنياد نه بلكه دنفعي او نقصان په يو خاص نسبت سره مثلاً پنځلس فيصده منافع او پنځلس فيصده نقصان پر بنياد دخپل ځان سره شريكوم ، ايا داسي كول دشريعت دنګاه څخه جائز دي.

٢ : - ديوه سړی يواځي سرمايه ده دبل سړي يواځي كار كول دی سرمايه نلري او كاركونكي ته مثلاً ديرش فيصده ګټه وركوي او يو خاص مقدار تنخواه هم وركوي او كاركونكی په نقصان كي شريک نه دی ايا دا دشريعت دنګاه څخه جائز ده .

امتي ګل ، افغان استور

(ابوظبي ، متحده عرب امارات)

ځواب : - كه ته ددې سړي سره دا خبره طی كړې چي ستا او زما دتجارت تر كولو وروسته چی څه ګټه راځي مثلا پنځلس فيصده به ستاوي ، نو دا صورت جائز دی [1] البته دنقصان په صورت كي پنځلس فيصد تعين كول هم په دې صورت كي جائز دی كله چی دده ټوله سرمايه پنځلس فيصد وي كه دهغه سرمايه ددې مذكوره فيصد څخه كمه يا زياته وي نو دنقصان فيصدي به هم دسرمايې په اندازه وي ، په دې خاص پنځلس فيصده كي شركت كول فاسد دی ، دشركت اصول دادی چي دنفع تناسب به دشركاء په رضامندي سره وي څومره چي وي ، لكن نقصان به هميش دسرمايې په تناسب وی ، څونه چي سرمايه وی هغومره به نقصان وي.

٢ : - دا صورت جائز نه دی يا خو دنفع فيصد ځانته معلوم كړه ، بيا تنخوا مقرر كول جائز نه دی ولي چي دا مضاربت دی تنخوا مقررول جائز نه دي [2] يا خو تنخوا مقرر كړه چي

---

(1) وفي كنز العمال ج: ٥ رقم الحديث : ٤٠٤٨٢ ص ١٧٦ الوضيعة على المال والربح على ما اصطلحوا عليه وكذا في مصنف ابن ابي شيبه ج:٥ ص٤ رقم الحديث ١٠ ومصنف عبدالرزاق ج٨ ص ١٤٨ رقم الحديث ١٥٠٥٨ .

وفي البدائع ج ٦ ص٦٢ (طبع سعيد) والوضيعة على قدر المالين متساويًا ومتفاضلاً لانّ الوضيعة اسم لجزء هالک من المال فيتقدر بقدر المال وفي فتح القدير كتاب الشركة فصل ولا تنعقد الشركة الخ ج٦ ص١٧٧ (طبع مصطفى بابي مصر) وفي طبع مكتبه رشيديه كوته ج٥ ص٣٩٧ الربح على ما شرطا والوضيعة على قدر المالين الخ وكذا في التتارخانيه ج٥ ص٦٥٥ (طبع ادارة القرآن) والمحيط البرهاني ج٦ ص٤٠١ (طبع غفاريه كوته) وعامة كتب الفقه .

(2) وفي رد المحتار ج ٤ ص ٣٢٦ كتاب الشركة فصل في الشركة الفاسدة مطلب يرجع القياس الخ (طبع سعيد) لا اجر للشريک في العمل بالمشترک

وفي النتف في الفتاوى كتاب الاجارة اجارة الشريک شريكه ص ٣٤٩ (طبع سعيد) ولو كان طعام بين رجلين فقال احدهما لصاحبه احمله الى الموضع كذا ولک في نصيبی من الاجر كذا او قال اطحنه ولک في نصيبی كذا من الاجر جاز ذلک في قول زفر ومحمد بن صاحب ولا يجوز في قول ابي حنيفة وابي يوسف ومحمد رحمهم الله تعالى .

معلومه تنخوا وي ، دنفع فيصدي به نه وي ، په دې صورت کي اجاره ده دواړه جمع کول جائز نه دی (۱)

والله اعلم ۱۲/۷/۱۴۰۸ه (فتوی نمبر ۱۳۲۵/ ۰۳۹)

دشرکت او مضاربت سره اړوند څو مهم سوالات او دهغو ځوابونه

۱: دنفع یو معلوم مقدار پوري مضاربت دنه ختمولو معاهدي حکم

سوال : - سوال داده چی رب المال دمضارب سره دا معاهده کولی شي چی تر څو مضارب سل زره روپی نفع ونه کړي تر هغو به مضاربت نه ختمیږي ، ایا ددې اختیار شته ؟او که داسي معاهده وکړي نو ددې معاهدې پوره کول لازم دی ؟

ځواب : - کوم شرط چي تاسي لیکلی دی دهغه جواز په نظر نه راځي ولې چي دا تر غیر محدود مدت پوري مضارب پابند کولو مرادف دی (۲) او په دې کي في الجمله رب المال ته دنفع ضمانت هم دی

---

(۱) وفي المعجم الاوسط للطبراني ج۲ص۱۶۹ (طبع دار الحرمين قاهره) قال رسول الله ﷺ ثم لا تحل صفقتان في صفقة وفي مجمع الزوائد ج۴ص۸۴ (طبع دار الريان للتراث قاهره ودار الكتاب العربي بيروت) عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال : نهى رسول الله ﷺ عن صفقتين في صفقة واحدة

(۲) وفي البدائع للكاساني ج۶ ص۱۰۹ (طبع سعيد) واماً صفة هذا العقد يعنى المضاربة فهو انه عقد غير لازم ولكل واحد منهما اعنى رب المال والمضارب الفسخ لكن عند وجود شرطه وهو علم صاحبه.

دمضاربت دتوقیت او لزوم دواړو صورتو کي او دهغه حکم په اړوند تفصیل لپاره دمصنف کتاب بحوث في قضايا فقهيه معاصره ج۲ ص۱۷۳ بيا تر ۱۷۶ پوري ملاحظه کړی

۲ : - دفسخ دمضاربت په صورت کي ټول مال درب المال په حواله کولو معاهده

سوال : - ایا رب المال دمضارب سره داسي معاهده کولی شي که دمضارب دختمولو اراده وي نو ټول مال به رب المال ته ورکوي ، او درب المال ونډه به بې رسوي او هغه به پر خپل ځای کوي ، که داسي معاهده وکړي نو ایا مضارب ددې پابنده دي ؟

ځواب : - دفسخ په وخت که رقم نقد وي نو مضارب دی هغه رقم بیرته ورکړي او که نقد نه وي نو تنضیض (۱) (نقد)دې کړي البته که رب المال عروض غواړي (۲) نو

---

(۱) وفي الهدايه كتاب المضاربة فصل في العزل والقسمة ج ۳ ص ۲۷۰ و ۲۷۱ (طبع مكتبه رحمانيه) وفي طبع سعيد ج۳ص۲۲۱ وانكانا يقتسمان الربح والمضاربة بحالها ثم هلك المال بعضه او كله ترادا الربح حتى يستوفى رب المال رأس المال لان قسمة الربح لا تصح قبل استيفاء رأس المال لانه هو الاصل وهذا بناء عليه وتبع له وفي المبسوط للسرخسي : الربح لا يظهر مالم يسلم جميع رأس المال لرب المال لان الربح اسم للفضل فما لم يحصل ما هو الاصل لرب المال لايظهر الفضل فقال ﷺ : مثل المؤمن كمثل التاجر لا تخلص له نوافله مالم تخلص له فرائضه فالتاجر لا يسلم له الربح حتى يسلم له رأس ماله .... الخ او په بدائع کي ج ۶ ص۱۰۷ : وانما يظهر الربح بالقسمة وشرط جواز القسمة قبض رأس المال فلاتصح قسة الربح قبل قبض رأس المال .

نورو ائمه په نزد هم دفسخ دمضاربت تقسیم پر اثاثه دنقد کولو ضروري ده ، دتفصیل لپاره : منهاج الطالبين ص۶۵ والشرح الصغير على اقرب المسالک ج ۳ ص ۷۰۰ لعلامه احمد الدردير المالكي والمغنى لابن قدامه ج۵ ص ۳۳ (طبع دار الفكر)

(۲) وفي البدائع ج۶ ص۱۰۱ (طبع سعيد) ويجوز شراء رب المال من المضارب وشراء المضارب من رب المال وان لم يكن في المضاربة ربح في قول اصحابنا الثلاثة وقال زفر لا يجوز الشراء بينهما في مال المضاربة وجه قول زفر ان هذا بيع ماله بماله .... ولنا ان لرب المال في مال المضاربة ملک رقبة لا ملک تصرف وملكه في حق التصرف كملک الاجنبي وللمضارب فيه ملک التصرف لا الرقبة فكان في حق

جائز ده ، په وې وخت کي که په نقد کي نفع وي نو هغه به هم په تقسيم کی شامل وي ، او وراندي دي هغه مال ورته وسپاري او بيا دي هغه په عقد مضاربت کي نه شامله وي ، هو که هغه عقد ددې شرط څخه خالي وي او وروسته بيا مضارب وعده وکړي نو جائز دی البته مال مضاربت که سامان وي او که ربح هم ښکاره وي او مضارب درب المال څخه غوښتنه وکړي چي زه مال غواړم نو رب المال انکار نه شي کولی څنګه چي امام طحاوي وايي:

وان كان في تلك العروض فضل اجبر المضارب على بيعها على المضاربة حتى يستوفى رب المال رأس ماله ، ويكون الفضل انكان بينهما على ما اشترطا ، الا ان يشاء المضارب ان يعطى رب المال رب ماله وحصته من الربح ويحبس العروض بنفسه فلا يكون لرب المال الامتناع عنه (الشروط الصغير للطحاوي ج٢ ص ٧٣١ طبع بغداد) (١)

ملك الرقبة كملك الاجنبي حتى لا يملك رب المال منعه عن التصرف فكان مال المضاربة في حق كل واحد منهما كمال الاجنبي لذلك جاز الشراء بينهما .... الخ

وفي الهنديه الباب الرابع (المضاربة) اذا باع رب المال مال المضاربة من المضارب او باعه المضارب من رب المال فهو جائز سوٓاء كان في المال فضل على رأس المال او لم يكن .

(١) وفى المبسوط للسرخسي رحمة الله عليه ج ٢٢ ص ٦٧ طبع مكتبه غفاريه كوټه (باب نفقة المضارب) واذا اشترى المضارب بمال المضاربة متاعًا وفيه فضل او لا فضل فيه فأراد المضارب ان يمسكه حتى يجد به ربحًا كثيرًا واراد رب المال ان يبيعه فان كان لا فضل فيه اجبر المضارب على ان يبيعه او يعطيه رب المال برأس ماله لانه لاحق للمضارب في المال في الحال فهو يريد ان يحولَ بين رب المال وبين ماله بحقٍ موهومٍ .... وانكان فيه فضل وكان رأس المال الفًا والمتاع يساوي الفين فالمضارب يجبرُ على بيعه لانّ في تاخيره حيلولة بين رب المال وبين ماله وهو لم يرض بذلک حين عاقده عقد المضاربة الا ان للمضارب هنا ان يعطى رب المال ثلاثة ارباع المتاع برأس ماله وحصته من الربح ويمسک ربع المتاع وحصته من

ترکومه چي دسمولو او پر ځای کولو شرط دی هغه تراموالو مبيعه پوري موقوف دی که اموال داسي وي چي کورته وړل کيږي او هلته پر ځای کيږي دتجارانو په عرف او اصطلاح کي نو دغه شرط بيا جائز دی او که نوي نو فاسد دی.

٣: دنقدو پر ځای دمضاربت بالعروضو حکم

سوال : - که رب المال دنقدو پر ځای عروض ومضارب ته ورکړي نو ايا دغه مضاربت صحيح دی ؟

ځواب : - حنفيه او جمهور علماء مضاربت په عروضو صحيح نه بولي (١) مګر دا چي هغه به بې پلوري او بيا به بې نقد کوي ، مګر دامام احمد په يو روايت کی بې نقدو کولو هم جائز دی او په وقت دعقد کي قيمت درأس المال به دمضاربت لپاره معلوموي ، (٢) (الانصاف للمرداوي ج ٥ ص٤٠٩ (٣) دحاجت په وقت کي مولانا اشرف على تهانوى

الربح وليس لرب المال ان يأبى ذٰلک عليه لانّ الربح حق والانسان لا يجبر على بيع ملک نفسه لتحصيل مقصود شريكه (محمد زبير حق نواز)

(١) وفى البدائع ج٦ص٥٩ لا تصح الشركة في العروض وفيه ايضًا معنى الوكالة من لوازم الشركة والوكالة التى يتضمنها الشركة لا تصح في العروض ... الخ وكذا في المبسوط للسرخسي رحمة الله عليه ج١١ ص ١٥٩ .

وفي مجلة الاحكام ج٤ص١٣٤٢ (طبع نور محمد كتاب خانه) لا تصح الشركة على الاموال التى ليست معهودة من النقود كالعروض والعقار اى لا تجوز ان تكون هذه رأس مال للشركة .

(٢) وفي المغنى لابن قدامه ج٥ ص١٠ ،١١ (طبع دار الفكر بيروت) فأما العروض فلا تجوز الشركة فيها في ظاهر المذهب نص عليه احمد ...... وعن احمد رواية اخرى ان الشركة والمضاربة تجوز بالعروض وتجعل قيمتها وقت العقد رأس المال و قال احمد ، اذا اشتركا في العروض يقسم الربح على ما اشترطا .

(٣) وفي كتاب الشركة (طبع مكتبه علميه) فعلى الرواية الثانية ويجعل رأس المال قيمتها وقت العقد ..... الخ

رحمۃ اللہ علیہ هم دشرکت بالعروض دمالکیه پر قول دګنجائش اختیار ورکړی (۱) (امداد الفتاوی ج۳ ص۴۹۵ طبع مکتبه دارالعلوم کراچي) دا ګنجائش دلته هم کیدلای سي (۲)

۴ : - دمضارب لپاره دفسخ دمضاربت پر وقت درب المال څخه سوا پر بل چا دمال دپلورلو حکم

سوال : - دمضاربت ختمیدل یي غوښتل چي رب المال ورته وویل: ټول مال پر ما وپلوره ، مګر مضارب وایي: چی زه یې تاته نه درکوم بلکه زه یې پر فلانکي پلورم ، ایا دمضارب دغه اختیار شته ؟

ځواب: - که دمضارب ته زیات قیمت ورکول کیږي نو هغه ته دې ورکړي مګر که درب المال په قیمت یې غواړي نو رب المال ورباندي حق داره دی په دې باره کي اګر که صراحتًا ماته کومه جزئیه یاده نه ده ولي دقاعدې لمخي رب المال مضارب مجبورولی نه

---

(۱) وفي الشرح الصغیر علی اقرب المسالک للدردیر ج ۳ ص ۴۵۹ وتصح (بعین) من جانب (وبعرض) من الآخر (بعرضین) من کل جانب عرض (مطلقًا) اتفقا جنسًا او اختلفا کعبد وحمار اوثوب .
وفي المغنی لابن قدامه ج ۵ ص۱۱ (طبع دار الفکر) .... مقصود الشرکة جواز تصرفهما في المالین جمیعًا وکون ربح المالین بینهما وهذا یحصل في العروض کحصوله في الاثمان فیجب ان تصح الشرکة والمضاربة بها کالثمان .

(۲) څنګه چي په مغنی لابن قدامه کي شرکت سره مضاربت بالعروض دجواز صراحت شوی دی .
وفی المغنی لابن القدامه ج۵ ص۱۱ (طبع دار الفکر) ..... مقصود الشرکة جواز تصرفهما في المالین جمیعًا وکون ربح المالین بینهما وهذا یحصل في العروض کحصوله في الاثمان فیجب ان تصح الشرکة والمضاربة بها کالاثمان .
ددا ډول مال شرکت جائز دی په هغه کي مضاربت هم جائز دی کمافي الهدایه ج ۳ ص ۲۱۳ طبع سعید وفي طبع مکتبه رحمانیه ج۳ ص۲۶۳ ولا تصح الا بالمال الذي تصح به الشرکة ..... الخ

شي ولي چي په مال کي کلیة اختیار دمضارب دی درب المال دمداخلې حق نسته (۱) ، لکن په بل جهت بیا چی رب المال دابتداء څخه ملک درقبې ورته حاصل دی هغه ته ترجیح ورکول کیږی اګر که دا یو اخلاقي ترجیح ده قضاءً مضارب نه مجبوریږي.

۵ : - دشرکت او مضاربت یو ځای کولو صورت ددواړو نفع په فیصدي سره معلومول

سوال : - که یو سړی دبل سړي سره شرکت او مضابت دواړه یو ځای غواړي نو ددواړو یو ځای دنفع فیصدي متعین کیدای شي که یا ؟ مثلا یو سړي دبل سړی سل زره روپۍ په شرکت او سل زره په مضاربة واخلي ایا داسي کول جائز دی ؟

ځواب : - دا صورت هغه وقت متصور کیدای شي چي کله مضارب خپله هم سرمایه ولري که مجموعي کار بار یو وي نو ددې حاصل دادی چی دوه سوه زره په طور دمضارب دی او مضارب ته دخپلي سرمایې اجازت هم وي (۲) په دې صورت کي شرط یواځي درب المال حصه دنفع درأس المال په تناسب به زیاته نه وي نو دځلوېښت فیصدي نفع شرط هلته جائز دی چي دمضارب هم خپله سرمایه وي او هغه څونه ده ؟ ولي چي شرط عدم العمل په صورت کي شریک دخپل رأس المال څخه زیاته حصه نشي متعین کولای وراجع البدائع (۳) په دې صورت کی دنفع دتقسیم طریقه ما په انګریزي کتاب کي

---

(۱) وفی الهدایه ج ۳ ص ۲۱۴ (طبع سعید) واذا صحت المضاربة مطلقة جاز للمضارب ان یبیع ویشتري ویوکل ویسافر ویبضع ویودع وفیها ایضًا قبلها ج ۳ص ۲۱۴ ولا بد ان یکون المال مسلمًا الی المضارب ولا یدلرب المال فیه ..... الخ
(۲) وفی المبسوط للسرخسي ج۲۲ ص۱۲۳ خلط الف المضاربة بالف من ماله قبل الشراء جاز
(۳) بدائع ج۶ ص۶۳ (طبع رشیدیه)

ورباندي بحث کړی چی هغه ترجمه بیا مولانا زاهد صاحب د اسلامي بینکاري اصول په نامه کړې ده.

۲:- یو شریک بې له عمله پنځه سوه زره روپۍ د دوهم سړي سل زره سره د عمل شرکت وکړي دا ډول شراکت جائز دی که نه؟

سوال: - دوه کسان دا ډول شراکت کوی چی دا یوه سړي پنځه سوه زره روپۍ ورکړي مگر کار نه کړي او دبل سړي یواځی سل زره روپۍ وي دهغه سره کار هم کوي نفع د دواړو ترمنځ په نصف سره تقسیم کوي ایا داسي کول جائز دی؟ که جائز وی نو ددې شرکت او د مضاربة او شرکة څه فرق شو؟ زما په اندازه چی یواځي دوه فرقه څرګند دی یو دا چی کار کوونکی به نقصان یواځي پنځه فیصده پورته کوی، او بل دا چی دمال درانیولو وروسته چي کوم اضافتوب راځي هغه به هم په دې نسبت سره وي، ددې څخه علاوه نور فرق لري که یا؟

بنده محمد شفیق / خادم جامعه الرشید احسن آباد

ځواب: - اول فرق خو ظاهره دی (۱) مگر دوهم صحیح نه دی ولي چی کارکوونکی دا اضافتوب څخه یواځي پنځه فیصده نه پورته کوی بلکه څونه چي د دوی دوو ترمنځ طی شوې ده (نصف) دهغه حساب څخه شریک دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲/محرم الحرام / ۱۴۳۲هـ

---

(۱) وفی مصنف عبدالرزاق ج۸ص۱۴۷رقم الحدیث ۱۵۰۸۵ وکنز العمال ج۱۴ص ۱۷۶رقم الحدیث ۴۰۴۸۲الوضیعة علی المال والربح علی ما اصطلحوا علیه وکذا فی مصنف ابن ابي شیبه ج۵ص۴وفتح القدیر ج۵ص۳۹۷.

کم تر کمه فیصد پنځه او زیات تر شلو منافع ورکوونکې اداره صمد پراپرټي انوسټمنټ کي سرمایه کاري حکم

سوال: - عرض دادی چی نن صبا په کراچي کي اداري دعوامو څخه رقم وصولوي او په کار کي یې لګوي، منافع هم په عوامو کي تقسیموي، او دغه دا ول څخه منافع مقرر کرده شده هم ورکوي، چي په ظاهره هغه سود دی، بعض اداري باقاعده دمنافع تقسیم کوی چی هره میاشت کم یا زیات شي، دهغو کار دبینک په ډول دی، چی دعوامو روپۍ په مختلفو کاروکي لګوي، او منافع یې په دوی کي تقسیم کوي، دا ډول یوه اداره ده چی دصمد پراپرټي په نام یادیږي چی دمځکو او پلاټو او کورو داخستلو او خرڅولو کاروبار کوی ددې اداري منافع کمي او کله زیاتي شي، چی دسود په تعریف کي نه راځي، په وړاندي میاشتو کي هغه اوه فیصده منافع یا دهغه څخه څه زیاتي منافع ورکړي، لیکن دهغه سره یې لیکلي دی چی د پنځه فیصده څخه نیولې بیا تر شلو فیصدو پوري منافع ورکول کیږي او س سوال دادی:

۱: چی کم از کم شل فیصده متعین کول شرعًا قباحت لري؟

۲: په دې کار بار کی دشرعي کولو لپاره څه کول پکار دی؟

ځواب: - ددې ډول کار بار جائز او یا ناجائز کولو پر مفصل طریق کار باندی موقوف دی یواځي نیمایي خبره باندی دصحیح کولو یا صحیح نه کولو حکم کول سم کار نه دی، لهذا دکار دکولو په باره کی دا معلومول ضروري دی چی دهغه تفصیل سم صحیح ولیکی بیا به دجائز او نا جائز ځواب ورکول کیږي.

۱: که معاهده داسي طی شوې وی چی د سرمايه کاري کم ازکم پنځه فيصده نفع ضروري وي بيا دغه کار سود دی.

۲: زيات تر زيات نفع مقرر کولو څو صورتونه دی دهغه تفصيل وليکئ نو بيا به ځواب درکړل شي ، دغه دواړي خبري هغه وخت دی چی معاهده کي کم ازکم منافع دشرح دسرمايې په تناسب طی شوې وي ، که په معاهده کی چي څونه منافع وی دهغه منافع پنځه فيصده ورکول کيږي او که بلکل منافع نه وی نو هيڅ به نه وی ،(۱) دهغه سره به سرمايې کاري کوونکی ته دا ويل کيږي چی عمومی ددې کاربار دونه فيصد نفع راځي نو په دې کي حرج بيا نشته.

---

(۱) وفي الهنديه ج۲ص۳۰۲ (طبع رشيديه كوئته) وان يكون الربح معلوم القدر فان كان مجهولاً تفسد الشركة وان يكون الربح جزءاً شائعاً في الجملة لا معيناً فان عينا عشرة او مأة او نحو ذلک کانت الشركة فاسدة.

وفي الهداية ج۲ ص۶۱۱ (مكتبه رحمانيه) ولايجوز الشركة اذا شرط لاحدهما دراهم مسماة من الربح لانه شرط يوجب انقطاع الشركة فعساه لا يخرج الا قدر المسمى لاحدهما ونظيره في المزارعة.

وفي مجمع الانهر ج۲ص۵۴۴ (طبع مكتبه غفاريه) وركنها الايجاب والقبول وشرطها عدم ما يقطعها كشرط دراهم معينه من الربح لاحدهما.

وفي الدر المنتقى مع مجمع الانهر كتاب المضاربة ج۳ ص۴۴۶ (طبع مكتبه غفاريه كوئته) وكون الربح بينهما مشاعاً فتفسد ان شرط لاحدهم عشر دراهم مثلاً.

وفي تبيين الحقائق ج۴ص۲۴۸ كتاب الشركة(طبع سعيد) وتفسد ان شرط لاحدهما دراهم مسماة من الربح لانه شرط يوجب انقطاع الشركة في بعض الوجوه فلعله لايخرج الا القدر المسمى لاحدهما من الربح.

وكذا في البحر الرائق ج۵ ص۱۷۷ (طبع سعيد) وخلاصة الفتاویٰ ج۴ ص۲۹۴ (طبع امجد اكيڈمي لاهور) وفى شرح المجلة لسليم رستم باز رقم الماده ۱۳۳۷ج۲ ص۷۱۳ (طبع دارالكتب العلميه بيروت) يشترط ان تكون حصص الربح التى تنقسم بين الشركاء جزءً شائعاً كالنصف والثلث والربع فاذا اتفق الشركاء على اعطاء احدهم قدرا معيناً كانت الشركة باطلة ، كذا في شرح المجلة للاتاسي ج۴ ص۲۶۱ (طبع مكتبه حبيبيه كوئته)

والله اعلم ۲/ ۱۱/ ۱۴۰۷ هـ (فتویٰ نمبر ۱۸۵۲ / ۳۷ج)

د مشترک مال تجارت د بهر ځخه د راغوښتلو په صورت که او ګوټ ډوب شي نو د شريک ځخه د تلافي حکم

سوال:- موږ د چين ځخه مال راوغوښت چي په هغه کی ديو سرې شراکت هم ؤ چي په نفع او په نقصان به سره ګډ يو ، په مال راغوښتلو کي ټولي روپۍ موږ ولګولې و لي چي زموږ او د شريک تر منځ هميش داډول شراکت کيدو ، کله به هغه راوغوښت او وروسته به بيا موږ ورته روپۍ ورکړې کله به هغه وروسته راته روپۍ راکړه بهر کيف دلس يا دولس کالو ځخه موږ کار بار دی ديو پر بل بروسه ده ، داځل چي په کوم اوګوټ کي مال راروان ؤ دالله په مرضي ټول په درياب کي ډوب شو ، ددې نقصان د پوره کولو لپاره موږ د حميد صاحب ځخه چي زموږ سره په نفع او نقصان شريک دی روپۍ اخستلی شو ؟

ځواب:- که د مال را غوښتلو په وخت کی د شرکت دا معاهده ستاسي تر منځ طی شوې وي چی د مال په راغوښتلو کي دواړه جانبه په نفع او نقصان سره شريک ياست او مال دده په اجازه راغوښتل شوی وی نو شريک هم په دې نقصان کی د نيمايي حصې ذمه وار دی که مال وړاندي حصول شوی وي که نوي. په بدائع کي دی:

واختلاط الربح يوجد وان اشترى كل واحد بمال نفسه على حدة لان الزيادة وهى الربح تحدث على الشركة .... حتى لو هلک بعد

الشراء باحدهما كان الهالک من المالين جميعًا لانه هلک بعد تمام العقد (بدائع ج ۶ ص ۶۰) (۱)

والله اعلم ۱۱ / ۱۱ / ۱۴۹۲ (فتویٰ نمبر ۲۵۲۸ / ۲۷ ه)

په کاربار کی دشراکت دروپو څخه وروسته دماهانه سود مطالبې کولو حکم

سوال :- دوه کاله کیږی دوالد صاحب انتقال شوی دی ، پر وخت دانتقال پر والد صاحب قرضه وه چی دوالد صاحب دکار بار څخه به ادا کیدله اوس ټوله قرضه ادا شوې ده ، یو سړی داسي هم شته چی په کار بار کی یې والد صاحب ته په دکان کي لس زره روپۍ دشراکت لپاره ورکړې وې ، لیکن دوې میاشتی وروسته دشراکت پر ځای یې دسود مطالبه وکړه ، ورنه خپلي روپۍ راکړه ، نو مجبورا سود ورکړل شو ، داډول څو زمانه سود ورکیدلو ، لیکن دکان ورځ په ورځ دمنډۍ والو تر قرضې لاندي راتلو په آخر کي دکان بلکل ختم شو ، والد صاحب مجبورا دبهر ملک ته ولاړ چي ددې سړي قرضه ادا

---

(۱) طبع سعيد وفي فتح القديرج ۵ ص ۳۹۹ (طبع رشيديه کوټه)..... بخلاف ما بعد الخلط حيث يهلک على الشركة لانه لا يتميز فيجعل الهالک من المالين ، وان اشترى احدهما بماله وهلک مال الاخر قبل الشراء فالمشترى بينها على ما شرطا لان الملک حين وقع وقع مشتركًا بينها لقيام الشركة وقت الشراء ..... الخ

وفى درر الحکام شرح غرر الاحکام ، ارکان الشرکة وشروطها وبعده اى بعد الخلط يهلک عليهما لانه لا يتميز فيهلک من المالين فان هلک مال احدهما بعد شراء الاخر بماله فمشتراه لهما على ما شرطا لان الملک حين وقع وقع مشتركًا بينهما لقيام الشركة وقت الشراء فلا يتغير الحکم بهلاک مال الاخر وراجع ايضًا الى الفتاوى الهنديه ج ۴ ص ۳۰۹ الى ص ۳۱۱ (طبع رشيديه کوټه)

کړي دقرض پر وخت چی هغه کوم دسود په نامه روپۍ ورړې دی ، هغه به باسي او نوري به ورکوي او که به ټولي ورکوي.

ځواب :- دسود کار بار جائز نه دی (۱) ددې میاشتي وروسته دسود مطالبه کول ددې معنی داده چی هغه دشراکت معامله ختم کړه ، په دې صورت حساب کول پکار دي ، په هغه وخت کي چي څونه دده حصه جوړیدله هغه ورکول کیږي ، لکن داسي خو ونه شول نو اوس دی اندازه ولګول شي ، چي دې وخت کي په دکان کي نفع وه که نه ، که نفع وه کوم رقم چي په سود کي ورکړل شوې دی هغه که دنفع سره برابر وي خو سمه ده او که زیات وی نو هغه ورڅخه وباسی. او بیا اصل رقم ورته ورکړی.

والله اعلم ۱۳ / ۹ / ۱۳۹۷ (فتوی نمبر ۹۵۰ / ۲۸

په تاج کمپنۍ کي ۱۵ تا ۲۰ فیصد پوري دمنافع شرط دسرمایه کاري حکم

سوال :- تاج کمپنۍ چي دقرآن شریف دچاپولو یوه مشهوره اداره ده ، خلګو ته دشرکت دعوت ورکول کیږی چی د۱۵ بیا تر ۲۰ فیصد پوري منافع ورته ورکوي په دې کي سرمایه لګول څنګه دی منافع اخستل جائز دی که نه ؟

ځواب دغه منافع که دکاربار مجموعی منافع پر ځای ورکول کیږي چي ۱۵ او یا ۲۰ فیصد وي نو دا کار سود دی او دا کار بار جائز نه دی (۲) جائز صورت صرف داده چی کوم سړی څونه سرمایه کاري کوي نو دهغه نفع او نقصان به دواړه پورته کوي او دده سرمایه چي

---

(۱) ددې حوالې لپاره ص ۲۶۷ حاشیه نمبر ۱۱ او ص ۲۸۴ حاشیه نمبر ۴ وګورۍ.
(۲) ددې حوالې دکتلو لپاره ص ۴۲ ، ۴۸ ، ۵۳ او ص ۵۴ حواشي او ص ۲۸۴ حاشیه نمبر ۴ وګورۍ.

ځونه وی دهغه په تناسب به نفع او يا نقصان اخلي كار بار دقرآن دچاپولو وي او كه بل وي دقرآن دچاپولو لپاره سود جائز نه دی.

والله سبحانه اعلم ۱۲/ ۲/ ۱۳۹۲ (فتویٰ نمبر ۵۸۳ / ۲۸ب)

دخوړو په شیانو کي دمختلف اجناسو په صورت کي دتقسيم مساوات ضروري دی که نه؟

سوال: - ځوکسانو دخوړلو لپاره يوه اندازه روپۍ سره جمع کړې په هغه سره يې خوراكي توكي تيار كړل چي هر يوه برابر برابر روپۍ وركړې، په ستر خوان كي هر يو يې برابر شريک دی، كله چی ډوډۍ خوړل كيږي نو كمه او زياته خوړل كيږي يو ملګری وايي چي دهر يوه حصه چي جلا نشي نو داسي ګډ خوړل جائز نه دی، ولي چي شركت دهر يوه په يوه اندازه دی او پر دې خبره دغه لاندي دلائل هم پيشوي: فشركة الاملاک العين يرثها رجلان ويشتريانها فلايجوز لاحدهما ان يتصرف في نصيب الآخر الا باذنه وكل واحد منهما في نصيب صاحبه كالاجنبي الى ان قال الا في صورة الخلط والاختلاط فانه لا يجوز الا باذنه هدايه: (ج۲ص۲۰۵) (۱) او په ردالمحتار كي دی قوله من حيث الامانة فان مال احد الشريكين امانة في يد الآخر كما ان مال المفقود أمانة في يد الحاضر (۲)

نو بايد دهر يوه حصه جلا شي او په خورک دهريوه حصه برابربرابر وويشل شي او داسي كول خو ډير مشكل دی، نو كه داسي وي نو په داسي شركت كي به قباحت هم وي ولي چي مختلفو شيانو كي كمی او زياتي جائز ده چی دغه دتقسيم اصول دي او دلته يې مراعت نه دی شوی نو په دې جائز نه دی نو داسي دي وكړي چي ټول ملګري دي خپلي روپۍ يوه

(۱) هدايه كتاب الشركة ج۲ ص۶۰۵ (طبع مكتبه رحمانيه)

(۲) ردالمحتار كتاب الشركة ج۴ ص۲۹۸ (طبع سعيد)

سړي ته وركړي او هغه دي دوی ټولو ته دعوت وكړي، نو دصورت دجواز وضاحت دي وركړل شي.

ځواب: - په صورت مسؤله كي ډوډۍ كتغ او سبزي وغيره مختلف اجناس دی نو په دې خاطر دتقسيم پر وخت مساوات ضروري نه دی بلكه كله چی دوی تر خپل منځ رضا شي نو تفاضل جائز دی كله چي ټول يو ځای شول هر يو چي ځونه خوري هغه دده حصه بلل كيږي، په دې شرط چي ټول شركاء راضي وي نو په دې كي سوال نشته. البته كه فقط يو شی رانيول شي چي هغه وزني يا كيلي وي نو دهغه دتقسيم پر وخت مساوات ضروري دی نو دهغه سره يو بل جنس هم شامل كړی ځنګه چي داختري په غوښه كي فقهاؤ ليكلي دي، يا دي ټول يو ځاي يو سړي دپيسو مالک كړي، هغه دي دځان لپاره شی رانيسي او بيا دې دوی ته وركړه كړي داډول اشتراک ته ,,نهد,, ويل كيږي او په عهد رسالت كي ددې ډير مثالونه دی ځنګه چي راځي:

لم ير المسلمون في النهد بأسا، ان يأكل هذا بعضا وهذا بعضا

(صحيح البخاري، كتاب الشركة ج۱ ص۳۳۷)

تر دې لاندي حضرت مولانا انورشاه كشميري رحمة الله عليه ليكلي دی

انها ليس من باب المعاوضات التى تجري فيه المماكسة او تدخل تحت الحكم وانما هى من باب التسامح والتعامل، وكيف تكون خلاف الاجماع مع انه قد جرى به التعامل، من لدن عهد النبوة الى يومنا هذا.

(فيض الباري ج۳ ص۳۴۲) (۱)

(۱) طبع مكتبه رشيديه كوټه

وفي عمدة القاري شرح البخاري ج۱۳ ص۶۰ (طبع داراحياء التراث) باب الشركة في الطعام والنهد والعروض وكيف قسمة مايكال ويوزن مجازفة او قبضة قبضة لما لم ير المسلمون في النهد بأسًا ان يأكل

هذا بعضا وهذا بعضا وكذلک مجازفة الذهب والفضة والقِران في التمر اى هذا باب في بيان حكم الشركة
في الطعام وقد عقد لهذا باب مفردا مستقلا يأتي بعد ابواب ان شاء الله تعالى والنهد بفتح النون وكسرها
وسكون الهاء وبدال مهملة قال الازهري في التهذيب النهد اخراج القوم نفقاتهم على قدر عدد الرفقة يقال
تناهدوا وقد ناهد بعضهم بعضا وفي المحكم النهد العون وطرح نهده مع القوم اعانهم وخارجهم وقد تناهدوا
اى تخارجوا يكون ذلک في الطعام والشراب وقيل النهد اخراج الرفقاء النفقة في السفر وخلطها ويسمى
بالمخارجة وذلک جائز في جنس واحد وفي الاجناس وان تفاوتوا في الاكل وليس هذا من الربا في شيئ
وانما هو من باب الاباحة .

وفيه أيضاً ج ۱۳ ص ۶۱ (طبع دار احياء التراث) قوله لما لم ير المسلمون اللام فيه مكسورة والميم مخففة
هذا تعليل لعدم جواز قسمة الذهب بالذهب والفضة بالفضة مجازفة اى لاجل عدم رؤية المسلمين بالنهد
بأسا جوزوا مجازفة الذهب بالفضة لاختلاف الجنس بخلاف مجازفة الذهب بالذهب والفضة بالفضة
لجريان الربا فيه فكما ان مبنى النهد على الاباحة وان حصل التفاوت في الاكل فكذلک مجازفة الذهب
بالفضة وان كان فيه التفاوت بخلاف الذهب بالذهب والفضة بالفضة لما ذكرنا قوله ان يأكل هذا بعضا تقديره
بان يأكل وآشار به الى انهم كما جوزوا النهد الذى فيه التفاوت فكذلک جوزوا مجازفة الذهب والفضة مع
التفاوت لما ذكرنا قوله والقران في التمر بالجر ويروى والاقران عطف على قوله ان يأكل هذا بعضا اى بان
يأكل هذا تمرتين تمرتين وهذا تمرة تمرة

وفيه أيضاً ج ۱۳ ص ۶۲ (طبع دار احياء التراث) مطابقته للترجمة تؤخذ من قوله فأمر أبو عبيدة بأزواد ذلک
الجيش فجمع ذلک كله ولما كان يفرق عليهم كل يوم قليلا قليلا صار في معنى النهد واعترض بانه ليس
فيه ذكر المجازفة لانهم لم يريدوا المبايعة ولا البدل واجيب بان حقوقهم تساوت فيه بعد جمعه فتناولوه
مجازفة كما جرت العادة وفي فتح البارى كتاب الشركة ج ۵ ص ۱۷۰ و ۱۷۱ (طبع مكتبة الرشيد) واما
بفتحها فجميع اصناف المال وماعدا النقد يدخل فيه الطعام فهو من الخاص بعد العام ويدخل فيه البويات
ولكنه اغتفر فى النهد لثبوت الدليل على جوازه واختلف العلماء في صحة الشركة كما سيأتي قوله وكيف
قسمة ما يكال ويوزن اى هل يجوز قسمته مجازفة او لابد من الكيل في المكيل والوزن في الموزون
واشار الى ذلک بقوله مجازفة او قبضة قبضة اى متساوية قوله لما لم تر المسلمون بالنهد بأسا هو بكسر
اللام وتخيف الميم وكانه اشار الى احاديث الباب وقد ورد الترغيب في ذلک وروى ابوعبيد في الغريب
عن الحسن قال اخرجوا نهد كم فانه اعظم للبركة واحسن لاخلاقكم قوله وكذالک مجازفة الذهب
والفضة كانه الحق النقد بالعروض للجامع بينهما وهو المالية لكن انما يتم ذلک في قسمة الذهب مع الفضة
اما قسمة احدهما خاصة حيث يقع الاشتراک في الاستحقاق فلا يجوز اجماعاً قاله بن بطال وقال بن

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۴/ ۱/ ۱۴۱۲ (فتوی نمبر ۲۷ / ۵۹)

په شراکت او مضاربت کي خپلي روپۍ بيرته اخستلى شي

(په لائنس موټرز کمپنۍ کي جمع شوي روپۍ بيرته اخستل)

وضاحت : - سائل دغه سوال وړاندي ددارالافتاء والارشاد څخه کړی ؤ دهغه ځای څخه
دځواب دترلاسه کولو وروسته مفتي صاحب ته يې پيش کړی سوال او ددارالافتاء
والارشاد دجانب څخه جواب او بيا په دمفتي صاحب جواب ذکر شي (محمد زبير)

سوال : - مسئله داده چي دلائنس موټرانو په نوم تاسي خبر ياست چي يوه
شخصي کمپنۍ ده چي په هغه کي خلګ هم سرمايه کاري کوي او دکمپنۍ له طرفه څخه
هره مياشت تر څلويښتو فيصدو پوري منافع ورکوي ، زه دهغې کمپنۍ يو نمائنده يم
دکمپنۍ داصولو مطابق دخلګو سرمايې وصول کوم او بيا يې کمپنۍ ته ليږم ، دکمپنۍ
په اصولو کي دا هم دی چي که سرمايه کار غواړي چي خپل سرمايه بيرته وباسي نو هغه
ته يوه مياشت وړاندي ويل کيږي چي تاته دا مياشت منافع نه درکول کيږي.

اوس زيد چي يو سرمايه کار دی خپله سرمايه غواړي چي بيرته يې وباسي نو داول
جنوري څخه ده ته ويل کيږي چي داول دفبروري څخه خپله سرمايه وباسي او دجنوري
منافع به هم نه ورکول کيږي (کمپنۍ ددې اصولو مطابق چي سرمايه کار ته يې علم هم
وی) چي کله بکر په فروري سرمايه کاري وکړي او خپل رقم په دې کمپنۍ کي جمع کړي
نو هغه زيد ته ورکول کيږي او دزيد دسرمايه کاري نوم بکر ته بدل شي ، اوس سوال دادی

المنير شرط مالک في منعه ان يكون مصكوكًا والتعامل فيه بالعدد فعلى هذا يجوز بيع ماعداه جزافا
مقتضى الاصول منعه وظاهر كلام البخاری جوازه ويمكن ان يحتج له بحديث جابر في مال البحرين
والجواب عن ذلک ان قسمة العطاء ليست على حقيقة القسمة لانه غير مملوک للآخذين قبل التميز والله
اعلم.

• چی زید دجنوري دمنافع حق داره دی او که بکر؟ دکمپنۍ داصولو مطابق هغه رقم ماته راکول کیږي او زه ددې حق داره یم او که نه ؟ (جواب از دار الافتاء والارشاد ناظم اباد کراچي)

ځواب : - په اصل کي چي دکم تاریخ څخه ده ته دخروج ویل شوي وي نو دهغه تاریخ څخه دده حصه ګواکي کمپنۍ راونیوله او دهغه ثمن یوه میاشت وروسته ورکوي ، نو دهغه روپۍ تاته حلالي دی.

الجواب صحیح / عبدالرحیم / نائب مفتی دارالافتاء والارشاد ناظم آباد کراچي

والله اعلم محمد موسی

دار الافتاء والارشاد ناظم آباد کراچي(فتوی نمبر ۲۲۸۹۵)

(جواب از حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثماني صاحب)

شرکت یا مضاربت کي دروپو درا ایستلو خبره نه وی کومه چی ددارالافتاء والارشاد خبره کړې هغه صحیح کیدلای شي لیکن دهغه لپاره شرط دادی چی یا خو سرمایه کار ته دا اختیار وي چي دده زړه وي هتله دی خپله حصه وپلوري ، یا داول څخه دحصې دومره قیمت مقرر نه شي چي هغه دروپو سره برابر وي ولی چي په دې صورت کی رأس المال مضمون وی چی هغه په شرکت او مضاربت کي په دواړو کي جائز نه دی ، ددې پر ځای یاخو په بازار کی په قیمت حصه وپلورل شي ، یا خپل تر منځ په رضامندي سره قیمت مقرر کړل شي ، په دې معاهده کي که دغه خبره وي نو صحیح ده لکن په هر صورت کي داصلي سرمایې په روپو دخرڅولو شرط دی نو بیا رأس المال مضمون ګرځولو شرط فاسد دی (۱) البته په مضاربت کي شرط فاسد لغو دی لهذا مضاربت دعقد باوجود

( ) ولي چي په دې صورت کي شرط (چي خپل رقم به بیرته باسي) حاصل دادی چی دنقصان برداشت نه کول دی او دا شرط فاسد دی.

صحیح دی هو دشرع خلاف شرط لګول ګناه ده او دا شرط واجب التعمیل هم نه دی (۱) څنګه چی دکار منافع تقسیم شي که په هغه کی کوم بل دشرغ مخالف امر نه وي نو دهغه استعمال جائز دی پاته شوه دا خبره چي دمیاشتي په شروع کي بکر چي کوم سرمایه کاري کړې ده هغه زید ته ورکول کیږي ، نو دا پر مسئله کوم فرق نه اچوي ، په دې سره بکر دجنوري دمیاشتي دمنافع مستحق هم نه دی ولي چی بکر سرمایه په مضاربت کی شامله

وفي مجمع الانهر کتاب المضاربة ج۳ ص ۴۴۷ (طبع مکتبه غفاریه کوټه) ویبطل الشرط کشرط الوضیعة هی الخسران علی المضارب لان الخسران جزء هالک من المال فلایجوز ان یلزم غیر رب المال لکنه شرط زائد یوجب قطع الشرکة في الربح .

وفي الفتاوی التاتار خانیه کتاب الشرکة الفصل الرابع في العنان ج۵ ص۶۵۵ (طبع ادارة القرآن کراچي) وان شرطا ان یکون الربح والوضیعة بینهما نصفین فشرط الوضیعة بصفة فاسد ولکن بهذا لا تبطل الشرکة لان الشرکة لا تبطل بالشروط الفاسدة وان وضعا فالوضیعة علی قدر رأس مالهما

وفي الدر المختار ج۵ ص۶۴۸ (طبع سعید) کل شرط یوجب جهالة في الربح او یقطع الشرکة فیه یفسدها والا بطل الشرط وفي الشامیه تحته (قوله بطل الشرط) کشرط الخسران علی المضارب .

وفي المحیط البرهانی في الفقه النعماني ج۶ص۴۰۱ (طبع غفاریه کوټه) وان شرط الوضیعة والربح نصفان فشرط الوضیعة نصفان فاسد لان الوضیعة هلاک جزء من المال فکان صاحب الالفین شرط ضمان شئ مماهلک من ماله علی صاحبه وشرط الضمان علی الاخر فاسد ولکن بهذا لا تبطل الشرکة حتی لو عملا وربحا فالربح بینهما علی ماشرطا .

وفی تبیین الحقائق ج۵ ص۲۵۱ (طبع دارالکتب العلمیه بیروت) ویبطل الشرط کشرط الوضیعة علی المضارب وکذا في شرح المجلة ج۲ ص۷۵۷ (طبع مکتبه حنفیه کوټه)

( ) وفي رد المحتار کتاب الشرکة ۴ ص۳۱۶ (طبع سعید) .... لان الشرکة لا تفسد بالشروط الفاسدة وکذا في فتح القدیر کتاب الشرکة فصل ولا تنعقد الشرکة ج۶ ص۱۷۷ (طبع مصطفی بابی مصر) .

وفي المحیط البرهاني في الفقه النعماني ج۶ ص۴۰۲ (طبع غفاریه کوټه) فالشرکة مما لا تبطل بالشروط الفاسدة ....الخ وفي الدر المختار ج۵ ص۶۴۸ (طبع سعید) ... بطل الشرط وصح العقد وفي الشامیه تحته کشرط الخسران علی المضارب .... الخ .

شوه ، او نقود متعين نه دی نو هغه زيد ته وركول كيږي ددې مطلب دادی چې زيد ته دخپلې حصې قيمت وركول شو .

والله اعلم احقر محمد تقی عثماني عفی عنه ۱۴۰۸/۱۱/۶ (فتویٰ نمبر ۳۹/۲۲۸۸ز)

والد چې كوم كاربار شروع كړی وی او بيا زامن هم ورسره حصې مقرری كړی په هغه كې دكمي او زياتي اختيار دی

سوال : - دزيد پلار عبدالله څلور زامن لري : زيد ، حارث ، بكر ، خالد ، زيد دخپل پلار سره په دكان كې كار كوي ، زيد چې كله يولس كاله دپلار سره كار وكړو دهغه وروسته يې په خپل كوشش سره يو دكان كرايه كړو ، پلار ځانته كار كولو ، دالله درضا سره سم زيد يو بل كار چې دشپې لخوا به يې كولو هم شروع كړو ، تر دروكلو وروسته يې هغه كار بيرته بند كړو ، په دې منځ كې دزيد واده هم وشو نه مياشتی وروسته دزيد او پلار پر دكان دشركت سوال راپورته شو ، والد خپل دكان دڅلورو وروڼو څلور آنې حصه مقرر كړه او زيد سره يې بكر ، حارث او خالد ، درې درې حصې مقرر كړې ، ولې چې زيد ته پلار پيسې دكار لپاره وركړې وې ، او زيد شپه او ورځ كوشش كاؤ ، زيد به دروځې پر درې بجې بيديدلو پلار وزيد ته تقريبًا اتلس زره روپۍ وركړې وې اوه كاله وروسته بيا زيد خپل دكان خرڅ كړو ، په ۱۹۷۵م كې والد صاحب حج ته ولاړ ، او حج ته دتلو وړاندې يو خط وليكو او خپل اولاد ته يې په دكان كې هغه پورتنۍ حصې مقررى كړې ، او ويل يې چې دزيد په دكان ټول شريک ياست خو دلته پلار ته داخبره وشوه چې تا خو وړاندې دزيد په دكان كې زيد ته اووه او نوروته درې درې حصې وركړې وې ، پلار دزيد لپاره دوباره فيصله وكړه چې دهغه اووه حصې دی ، خو دپلار دحج وروسته يواري

بيا دزيد په دكان دشركت نوې له سره معاهده وشوه ، نو پلار وويل : چې دزيد هم څلور حصې دي په دې دكان كې ، زيد خپلې مور ته ددې ذكر وكړ چې پلار مخكې ده ته اوه حصې وركړې وې ، كله چې مور دپلار سره خبره وكړه ، نو بيا پلار زيد ته په شپږ حصو راضی شو ، زيد وويل : چې دوه واره اووه حصې ماته راكړل شوې نو اوس څه پيښه شوه چې شپږ حصې شوې ، نو ماته دي بيرته اووه حصې راكړل شي په دې جنجال چې يو نيم كال تير شو ، بيا پلار وويل : زيد ته دې يوائې هغه څلور حصې وركړل شي څنګه چې نورو ته وركول كيږي ، زيد يواري بيا خپلې مور ته ددې بيان وكړ چې اوس هغه شپږ حصې هم نشوې ، مور اته ورځی وروسته بيا مور ورته وويل : چې ما دي دپلار سره خبره كړې ده چې تاته به شپږ حصې دركوي ، زيد مور ته وويل : چې ماته دي اووه حصې راكړې ، څه نور تجويزونه يې هم وكړل ، ۱ : داچې كه ته ماته اووه حصې نه راكوې نو نن ماته درې حصې راكړه او بيا مور ټول په حصو كې برابر كړه ، آينده به زما هيڅ اعتراض نه وي ، ولې چې كه ته دزيد نورو وروڼو ته څه اوس ورنكړې نو هغه هيڅ هم نه شي كولای ، په دې وخت كې زيد دكان رانيولو ټول دكان دزيد پر نامه شو ، ليكن زيد دخپلې وعدې څخه پرشا نه شو ، او وروسته پلار يواري بيا وويل : چې زيد ته يوائې څلور آنې وركوم ، ولې چې كه زه ده ته اووه حصې وركړم نو دهغه نورو سره بې ايماني وشوه ، زيد پلار ته داسې نه شي ويلی چې ته په خپل دكان كی ماته اووه حصې راكړه ، زيد دخپل ګټل شوې روپو څخه اووه حصې غواړي ، چې دپلار دوعدې سره مطابق دی ، دغه وعده چې پلار يې ۱۹۷۳ كې كړې وه بيا يې ۱۹۷۵ كې تجديد كړه .

دشريعت درويه كه پلاز زيد ته اووه حصې وركړي نو دا دهغه نورو وروڼو سره بې ايماني ده ؟ او كه زيد ته خپل حصه وركړي؟ دزيد ورور حارث چې د۲۷ كاله دی يوائې دوه نيم كاله يې كار كړی دی بكر اته يا نه كاله كار كړی ، عمر يې شل كاله دی او خالد درې نيم كاله كاركړی عمريې ۱۸ كاله دی زيد ۲۲ كاله كار كړی عمر يې ۳۳ كاله دی ، يو هلک

دوې نجوني چي عمرونه يې ۶ كاله ۵ كاله او ۲ كاله دی ، زيد چي ډير عمر يې دپلار سره تير كړی ،هغه په هيڅ كار كي بې ايماني نه كوله ، په دې تاسي ته دغه مسئله ليكي ، تر څو چي خپل ځان ته دحق لاره معلومه كړي كه كومه غلطی وی نو هغه به دځان څخه ليري كړي ورنه دغه فتوی خپل پلار ته پيش كړي او پلار پريږدی چي خپله فيصله وكړي ، دزيد دمعلوماتو سره سم اسلام موږ دوعدې پابنده كوي.

ځواب : - كه دزيد پلار زيد ته دتجارت لپاره دروپو وركولو پر وخت په كار كي داوو حصو او نوروته ددرو حصو وعده كړې وي نو دوعدې سره سم وفا لازمه ده دهغه څخه خلاف ورزي هيڅ جائز نه ده.

البته دسوال څخه دا معلوميږي چی په شروع كي دكان يواځي زيد كولو ، دهغه څخه وروسته نور ورونه هم ورسره شريک شوي دی ، كه دغه صورت حال وی نو داوو حصو پابندي هلته ضروري ده چي زيد تنها كار كوي ، او دكوم تاريخ څخه چي نور ورونه ورسره شريک شوی دی نو دهغه تاريخ څخه پلار دنوې معاهدې مستحق دي ، چي دی دزيد حصه كمه كړي او دنورو ورونو حصې زياتي كړي (۱) كه دشروع څخه ټول ورونه

---

(۱) ولي چي په دې صورت كي ټول كار بار دزيد دپلار بلل كيږي او دهغه ملک دی ، چي دده دورونو څونه حصې مقرر كړي نو دهغه مستحق دی.

وفي الشاميه ج۴ ص۳۲۵ (طبع سعيد) لما في القنيه الاب وابنه يكتسبان في صنعة واحدة ولم يكن لهما شيئ فالكسب كله للاب ان كان الابن في عياله لكونه معيناً له ..... الخ

وفي الهنديه كتاب الشركة الباب الرابع في شركة الوجوه وشركة الاعمال ج۲ص۳۲۹ (طبع رشيديه) أب وابن يكتسبان في صنعة واحدة لم يكن لهما مال فالكسب كله للاب اذا كان الابن في عيال الاب لكونه معينا له الا ترى انه لو غرس شجرة تكون للاب .... الخ

وفي تنقيح الفتاویٰ الحامديه كتاب الشركة ج۱ ص۹۵ (طبع ميمنيه مصر) اب وابن اكتسبا ولم يكن لهما مال فاجتمع من الكسب اموال فالكل للاب لان الابن اذا كان في عياله فهو معين له الا ترى انه لو غرس شجرة فهی للاب ...... الخ

شريک وي يا دهغه وخت څخه شريک چي داووحصو معاهده شوې وي نو سوال وليكه او صورت مسؤله دوهم ځل وپوښته ، دهغه سره دغه كاغذ بيرته راوليږه.

والله اعلم ۱۳۹۹/۱۰/۲ (فتویٰ نمبر ۱۷۰۹/۳۰ د)

په شركت كي دهر يوه عليحده عليحده مال متعين كول او بيا دهغه نفع او نقصان حاصلولو مخصوص صورت حكم

سوال : - ديو سړی څلور چنده دبل څخه زيات سرمايه كاري كړې ده او دكار روبار صورت دادی چی اول سړی به دوهم ته مال رانيسي او پر هغه مال باندی پنځه فيصده خرڅ كوی ، او بعد كی داول او دوهم شخص تر منځ نفع تقسيم كوي چي اول ته درې او دوهم ته دوه حصې نفع وركول كيږی ، اوپه دې وخت كي كه يو بري شي نو دوهم نفع او نقصان پورته كوی بيا دوهم ځل بيا مال رانيسی اول ته يې وركړی او بيا په دې طريقه سره نفع تقسيم كوي ايا دا كاروبار دشريعت دنظره صحيح دی كه يا ؟

ځواب : سوال مجمل دی ، دغور كولو وروسته دمعاملې صورت داراووت چی (الف) او (ب) په منځ دشركت معامله ده په اصل كي سرمايه.څلور حصې د(الف) او يوه حصه د(ب) ده ، په دې مجموعي سرمايه سره چي كوم سامان رانيسي نو هغه بيا دپلورلو څخه

وفي شرح المجلة لسليم رستم باز رقم المادة : ۱۳۹۸ ج۱ص۷۴۱ (طبع مكتبه حنفيه كوټه) اذا عمل رجل فی صنعة هو وابنه الذي في عياله فجميع الكسب لذلک الرجل وولده يعد معيناً له وكذا اذا اعانه ولده الذی فی عياله عند غرسه شجرة فتلک الشجرة للاب لا يشاركه ولده فيها .... الخ (وكذا فی شرح المجلة للاتاسی ج۴ ص۳۱۹ طبع مكتبه حبيبيه كوټه) (محمد زبير حق نواز)

وړاندي اندازه کوي چي دا مال پنځه فیصده نفع کوي او بیا د پلورلو څخه وړاندي یې دا ډول تقسیم کوي چي درې حصې نفع (الف) او دوې حصې نفع (ب) ته رسیږي ، (الف) خپله حصه وصول کړي او ساز سامان د پلورلو لپاره (ب) ته ورکړي که د معاملې صورت داوي نو دا صورت جائز نه دی ولي چي دلته د (الف) درې فیصده نفع متعین ده او (ب) نفع مشتبه دی (۱) معامله دا ډول کول پکار ده چي نفع د فروخت وړاندي اندازې پر ځای مثلاً دا طی شي چي سامان د فروخت کولو وروسته چي کومه نفع حاصله شي نو دهغه به څلورمه (ب) او درې څلورمي (الف) ته ورکول کیږي په دې صورت کي چي رضامندي حاصله شي که د نفع کوم تناسب وي هم فرق نه لري ، د اصل مال تناسب ضروري نه دی (۲) که د معاملې صورت بل ډول وي نو هغه دي ولیکي او بیا دې را ولیږي ،.

والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقي عثماني عفی عنه ۲۵ /۵ /۱۳۹۱ ھ (فتویٰ نمبر ۲۲/۲۸۸ ب)

الجواب صحیح بنده محمد شفیع عفی الله عنه

---

(۱) د تفصیل معلومولو لپاره ۴۲ و ۴۸ او دمخکي صفحې حاشیه وګوری.

(۲) وفي شرح المجلة لسلیم رستم باز رقم الماده ۱۳۳۷ ج ۲ ص ۷۱۳ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت) یشترط ان تکون حصص الربح التی تنقسم بین الشرکاء جزءً شائعًا کالنصف والثلث والربع فاذا اتفق الشرکاء علی اعطاء احدهم قدراً معینًا کانت الشرکة باطلة ، وکذا في شرح المجلة للاتاسي ج ۴ ص ۲۶۰ (طبع مکتبه حبیبیه کوټه) وکذا في البحر الرائق ج ۵ ص ۱۷۷ (طبع سعید) وخلاصة الفتاویٰ ج ۴ ص ۲۴۹ (طبع امجد اکیډمي لاهور).

وفي البدائع ج ۶ ص ۵۹ (طبع سعید) ومنها ان یکون الربح معلوم القدر ...... ومنها ان یکون الربح جزءً شائعًا في الجملة لا معینًا فان عینا عشرة او مائة او نحو ذلک کانت الشرکة فاسدة لان العقد یقتضي تحقق الشرکة في الربح والتعیین یقطع الشرکة لجواز ان لا یحصل من الربح الا القدر المعین لاحدهما فلا یتحقق الشرکة في الربح ... الخ وفي الهدایة ج ۳ ص ۲۶۳ (طبع مکتبه رحمانیه) ومن شرطها ان یکون الربح بینهما مشاعًا لا یستحق احدهما دراهم مسمّاة من الربح ..... الخ (محمد زبیر حق نواز)

په مضاربت کي ټول نقصان پر سرمایه کار وي او په شرکت (پارټنرشیپ) کي هر فریق به د مال په تناسب نقصان پورته کوي

سوال: - sleeping partner په طریقه سرمایه کاري کول په دې شرط چي د نقصان یو متعین فیصد به پر sleeping partker هم وي مثلاً ۲۵ فیصد نفع او نقصان وي ، په دې کي دغه لاندی دوه صورتونه امکان لری. یو دا چي Activ partner صرف محنت کوي ، او سرمایې شامل د تجارت نوي ، دوم دا چي Activ partner محنت سره سرمایه هم لګولې وي.

ځواب: که کار کوونکی یوائي کار کوي د هغه سرمایه شامله نه وی نو په دې صورت کي نقصان ذمه واري پر ده جائز نه ده د معاملې د صحت لپاره دا ضروري ده چي نفع دواړه لپاره معلومول ضروري ده او دا به طی کوي چي نقصان ذمه وار به سرمایه کار وي (۱)

---

(۱) وفي الدر المختار مع ردالمحتار کتاب المضاربة ج ۵ ص ۶۴۸ (طبع سعید) کل شرط یوجب جهالة في الربح او یقطع الشرکة فیه یفسدها والا بطل الشرط وصح العقد.

وفي الدر المختار مع ردالمحتار کتاب المضاربة ج ۵ ص ۶۴۸ (طبع سعید) کل شرط یوجب جهالة في الربح او یقطع الشرکة فیه یفسدها والا بطل الشرط وصح العقد.

وفي الشامیه (قوله بطل الشرط) کشرط الخسران علی المضارب ...... الخ

وفي مجمع الانهر کتاب المضاربة ج ۳ ص ۴۴۷ (طبع غفاریه کوټه) ویبطل الشرط کشرط الوضیعة ای الخسران علی المضارب لان الخسران جزء هالک من المال فلا یجوز ان یلزم غیر رب المال لکنه شرط

او كه كار كوونكی د محنت سره څه سرمايه كاري هم وكړي ، ددواړو تر منځ به تناسب ددوي په رضامندي سره وي ، ليكن د نقصان په صورت كي به ددواړو د سرمايې په نسبت سره وي مثلا كاركوونكي سرمايه لس فيصده وي او نيوي فيصد دبل وي نو د نقصان په صورت كي يواځي لس فيصده پر فريق اول او نيوي فيصد پر فريق ثاني راځي (١)

والله اعلم ١٤٠٩/١٢/٢٩ (فتوی نمبر ٢٤٧٥ / ٤٠ و)

زائد لايوجب قطع الشركة في الربح ولا الجهالة فيه فلا يفسد المضاربة لانها لاتفسد بالشروط الفاسدة ..... الخ

وفی تبيين الحقائق ، كتاب المضاربة ج٥ ص ٥٢١ (طبع دار الكتب العلميه بيروت) ويبطل الشرط كشرط الوضيعة على المضارب ...... وشرط الوضيعة شرط زايد لا يوجب قطع الشركة في الربح ولا الجهالة فيه فلا يكون مفسدا وتكون الوضيعة وهو الخسران على رب المال لانه ما فات جزء من المال بالهلاک يلزم صاحب المال، دون غيره ، وكذا فی شرح المجلة ج٢ ص٧٥٧ (طبع مكتبه حنفيه كوټه) همدا ډول ص٤٢ و٤٨ او حواشي هم وګوری .

(١) وفي مصنف عبدالرزاق ومصنف ابن ابي شيبه عن علی ﷺ الوضيعة على المال والربح على ما اصطلحوا عليه (كنز العمال ج١٥ ص١٧٦ رقم الحديث ٤٠٤٨٢)

وفی موسوعة الاجماع اتفقوا على ان الربح والخسران في الشركة بين الشركاء كل بقدر ماله .

وفي البدائع ج٦ص٦٢ (طبع سعيد) والوضيعة على قدر المالين متساويا ومتفاضلا لان الوضيعة اسم لجزء هالک من المال فيتقدر بقدر المال .

وكذا في فتح القدير ج٥ ص٣٩٧ (طبع مكتبه رشيديه كوټه)

وفي المدونة الكبرى للامام مالک ج٣ ص٦٠٩ (طبع دار الكتب العلميه بيروت) الوضيعة عند مالک عليهما على قدر رؤس اموالهما .

وفی المجموع شرح المهذب ج١٤ ص٧١ ٩طبع دار احياء التراث بيروت) ويقسم الربح والخسران على قدر المالين وفی المغنی لابن قدامه ج٥ ص٢٢ (طبع دار الفكر بيروت) الخسران فی الشركة على كل واحد منهما بقدر ماله فان كان مالهما متساويا فی القدر فالخسران بينهما نصفين ، وان كان اثلاثا فالوضيعة اثلاثا لا نعلم في هذا خلافا بين اهل العلم وبه يقول ابو حنيفة والشافعي رحمهما الله وغيرهما . . . . الخ

د مضارب د مضاربت د ختمولو په قيمت اسميه د خرڅولو شرط

سوال : فضيلة الدكتور / عبدالستار ابوغده المحترم (١)

نائب رئيس هيئة الفتویٰ والرقابة الشرعية ورئيس لجنتها التنفيذيه وعضو الهيئة المنتدب .

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

تعرض احدى شركات الطاقة الكبرى في أبوظبي على المصرف ترتيب اصدار صكوک مضاربة لصالحها بالتعاون مع بنک باركليز والمسألة المتكررة دومًا ونود ان نعالجها من البداية ، هی مسألة الثمن الذي يتعهد المضارب بشراء اصول المضاربة به وما يجري عليه العمل – للأسف في معظم الصكوک – من اعتماد القيمة الاسميه مع المبالغ المتحققة وغير الموزعة من الارباح فهل يمكن للخروج من الاشكال الشرعي ان نمسک العصا من الوسط ، ونعالج الامر على النحو الآتي

أولاً : يذكر في اجراءات الاسترداد انها تتم بانها المضاربة باستخدام حامل الصک اشعاراً معينًا ومن ثم يشتري المضارب اصول المضاربة منه .

---

(١) سائل سوال دشيخ عبدالستار ابوغده څخه كړی ؤ هغه بيا دجواب لپاره مفتي تقی عثماني صاحب ته استولی

ثانيًا : ينص في التعهد بالشراء بأن المضارب يتعهد بأن يشتري اصول المضاربة بالقيمة الاسمية ويكون هذا التعهد مضافًا الى ما بعد انتهاء اوانها المضاربة بالنحو المتقدم .

بهذا الكيفية يكون تعهد المضارب مضافًا الى الوقت الذي لا يكون (لا يبقى) فيه مضاربًا .

هذه هى المعالجة المقترحة بشكل مجمل ، فهل ترونها مقبولة ؟

وتقبلوا فائق الاحترام والتقدير. محبكم /أسيد كيلاني

جواب : – الى فضيلة الشيخ اسيد كيلاني حفظه الله تعالى .

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد :

فان تعهد المضارب بشراء الاصول بالقيمة الاسمية لا يجوز (١) ولو كان بعد انتهاء المضاربة ما دام هذا التعهد موجوداً عند عقد المضاربة بمعنى انه يوقع عند ابرام عقد المضاربة سواء كان منصوصا في عقد المضاربة او منفصلاً عنه .

والله اعلم اخوكم محمد تقى العثماني عفى الله عنه ٧ / جمادى الاولى / ١٤٢٨ هـ

شركت متناقصه كي بينک ته دقيمت خخه وړاندي په كمه ادائيگي ددين اړولو يو خاص صورت

(اسلامي بينک دبنگله ديش سوال او جواب)

سوال : – فضيلة الشيخ / الأستاذ محمد تقى عثماني حياه الله تعالى

نائب رئيس دار العلوم كراتشى ، باكستان

وعضو مجمع الفقه الاسلامي التابع لمنظمة المؤتمر الاسلامي

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد :

فيسرنا ان نتقدم لفضيلتكم باطيب التحيات واخلص التقديرات متمنين لكم دوام الصحة والعافية ، وبعد فنرجو من فضيلتكم التكرم بابداء الرأى الشرعي في الصورة التالية :

ان احد عملاء البنک الاسلامي يتمتع بتسهيلات استثمارة تحت صيغة بيع المرابحة للآمر بالشراء بمبلغ قدره ٣٥ مليون تاكا وكان يتعامل مع البنک بصفة مرضية حيث كان يشتري من البنک بضائعه المطلوبة مرابحة بالأجل في حدود المبلغ اعلاه فيبيعها في السوق فيسدد بقيمتها دينه المترتب عليه للبنک ، قبل حلول الأجل ، لكنه في الاونة الأخيرة اشترى سيارات وشاحنات عددها ٢٦ بقيمة البضائع المباعة دون ان يسدد بها دينه المترتب عليه بغير اذن مسبق من البنک ، والجدير بالذكر أن الاجل لتسديد الدين المترتب عليه لم يحل الى الآن ، وفي هذا الوضع اقترح العميل للبنک اقتراحًا جديداً من توقيع عقد جديد عقد اجازة بالبيع تحت شركة الملک حيث يشارک البنک مع العميل في ملكية السيارات والشاحنات المذكورة بمقابل ١٠ مليون تاكا من دين المرابحة الذي يستحقه البنک فبذلک يتخلص العميل من دين المرابحة بقدر ١٠ مليون تاک الذي كان عليه تسديده للبنک فيكون البنک مالكًا (اى شريكًا) للسيارات والشاحنات المذكورة اعلاه ويؤجرها للعميل ويدفع العميل للبنک اجرة

(١) حواله دپاره ص ٣٧ او ص ٤٧ دحواشي سره وگورى .

معينة على اقساط كما انه يشتريها من البنک تدريجيًا بدفع قيمتها على اقساط معينة ، فهل يجوز للبنک ان يوافق على اقتراح العميل في الصورة الموضحة اعلاه ؟

شاكرين لكم حسن تعاونكم معنا ، والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

مع اطيب التقديرات

محمد سراج الاسلام

عضو وأمين اضافي هيئة الرقابة الشرعية

بنک بنغلاديش الاسلامي المحدود.

جواب : حيث ان المعاملة المقترحة تكون شركة متناقصة ، ويراعي في مبلغ الأجرة ربح للبنک فوق أجرة المثل ، فان هذه المعاملة تكون من قبيل قلب الدين فلا تجوز اما اذا كانت اجرة السيارات اجرة المثل وكان شراء حصص السيارات من قبل العميل على أساس القيمة السوقية فلا بأس بهذه المعاملة ، بشرط ان لاتكون عقود البيع والاجارة مشروطًا بعضها ببعض بل يكون كل عقد منفصلا عن الآخر (١)

والله سبحانه وتعالى اعلم محمد تقى العثماني ۴ شعبان ۱۴۲۸

(فتوىٰ نمبر ۹۸۹/ ۵)

---

(١) وفي سنن ابي داؤد ج٣ ص٢٨٣ (طبع رحمانيه) لا يحل سلف وبيع ولا شرطان في بيع ، وكذا فى جامع الترمذي ج٣ص٥٣٥ (طبع سعيد) وفي المعجم الاوسط للطبراني ج۴ ص٣٣٥ ان النبي ﷺ نهى عن بيع شرط وفي الهدايه ج٣ ص٦٢ (طبع رحمانيه) لو باع عبداً على ان يستخدمه البائع شهراً او داراً على ان يسكنها ... لانه شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد المتعاقدين ولانه نهى عن بيع وسلف ولانه لو كان الخدمة والسكنى يقابلهما شيئ من الثمن يكون اجارة في بيع ولو كان لا يقابلها يكون اعارةً فى بيع وقد نهى ﷺ عن صفقتين في صفقةٍ ، ددې سره د٧٨ حاشيه هم ملاحظه كړى.

(فارم ټرانسوال افريقه ديوې كورنى شراكتي كمپنۍ په اړه څو مختلف سوالات او جوابات.

(ديوې معاهدې د شركت حيثيت)

۱: دوالد د طرف څخه د خپل جائداد پر څلورو زامنو په مشترک ډول اخستلو يو معاهده تر سره كړي

۲: د معاهدې د شركت د خلاف كوونكى شريک حكم

۳: په معاهده د شركت كي د تجارتي سرمايې د مقدار په متعين ډول يې ليكلى نه دى څه حكم لرى ؟

۴: كوم شريک چي كار ونكړي يا غائب وى نو شركت ختميږي او كه نه ؟

۵: يو طرفه د شركت ختمولو لپاره دوهم طرف شركاء د فسخ نه قبلول ضروري نه دى

۶: د معاهدې په صورت كي د كوم شريک تحريري استعفاء كولو شپږ مياشتي وروسته دهغه د شركت ختميدلو اصول شرعي حيثيت

۷: د كوم شريک د مستعفي كى د لو شپږ مياشتي وروسته هم ده ته خپله حصه وركول كيږى نو دهغه شركت باقي دى كه يا ؟

۸: د شركت د فسخ كولو لپاره د نورو شريكانو مطلع كول ضروري دى ، محض استعفاء ليكل د خپل ځان سره ايښوولو سره شركت نه ختميږى

۹: د كوم شريک د انتقال وروسته دهغه اولاد د كاربار شريک دي كه يا ؟

او د مرحوم شريک اولاد د شريک جوړولو د مجلس د ځيني شرکاؤ سکوت اختيارولو حکم.

سوال: -ضروري تمهيد مختصراً :-

حاجی موسی اسماعيل رحمه الله په خپل ژوند کي ټول جائيداد او تجارت د خپلو څلورو زامنو تر منځ په زباني طور وېشلو ، وروسته ده څلورو زامنو هغه تجارت او جائداد د حاصلولو وروسته يو تجارتي شرکت جاري کړو ، ددې شرکت د باقاعده چلولو په غرض هغو يو معاهده د شرکت تياره کړه ، چي هغه ستاسي په عالي خدمت کي سره د استفتاء ارسال شوه ، اوس سوال ددې لاندنيو شيانو ده ، اميد دی چي مفتی صاحب به خاص توجه ورته وکړي جوابات به مفصل او مدلل وليکي نو ستاسي به ډېر احسان وي او اجر به د الله څخه وي.

۱: ملفوف شوی دستاويز (معاهده نامه) (۱) ايا شرعا معتبر ده که يا ؟

۲ : که کومه معاهده شوی وی او خلاف ورزي ورڅخه کيږی نو د هغه مخالفت کوونکی د شريعت د روی مخالفت جائزدی او که نه ؟

۳ : که معاهده نامه کي د شرکت تجارت سرمايه هغه مقدار متعين مذکور نه وی مگر په يو خاصه وجه سره متعين مقدار د کال ورکول کيږي نو شرکت معتبر دی که نه ؟

۴ : که کوم شريک د معاهدې مطابق کار پرېږدي يعنی په خپله د تجارت کار پرېږدي او په معاهده کي د کار کولو وېل شوی وي او کار پرېږدي غائب شي نو شرعا داسي غائب شريک تجارت بلل کيږي که نه ؟ او د هغه شرکت ختم دی که نه ؟

(۱) د شراکت دغه معاهده ددې سوال په آخر کي درج ده چي په هغه کی ددې شراکت تمام جزوي تفصيلات او دفعات موجود دی.

۵ : که کوم شريک د استعفا وروسته د استعفاء جواب (يعنی د نورو شريکانو د طرف استعفاء د قبليدو يا د عدم قبليدو اطلاع) نه وي نو په دې استعفاء چي معاهده کي ده اصولو سره سم ورکړې وي معتبر ده که نه ؟

۶ : په معاهده د شرکت کي يوه دفعه داهم ده چي کوم شريک تحريرا د شرکت څخه جلا کيدلو استعفاء ورکړي نو د هغه استعفاء تاريخ څخه شپږ مياشتي وروسته ده د شرکت په خپله ختميږي ، ايا ددې دفعې مطابق که کوم شريک تحريراً استعفاء ورکړي نو د هغه شرکت ختميږي او که نه ؟

۷ : که کوم شريک داټول مستعفي کيدلو څخه وروسته نورشريکان دغه شريک بولي يعنی د تقسيم مال په وقت کی نور شريکان ده څلورمه حصه ورکوي نو ايا د مستعفي کيدلو وروسته د نورو شريکانو څلورمه حصه ورکولو کي د هغه شرکت به پاته وي او که ختميږي ؟

۸ : که کوم شريک د خپل طرف څخه استعفاء تحرير کړي لکن د هغه علم کوم شريک ته نه وي ، څو کاله وروسته د استعفاء ذکر وکړی نو دغه استعفاء چي د شريکانو مخته نه ده وړاندي شوې ، نه وړباندی د چا علم ؤ ، شرعًا معتبر ده که نه ؟ که معتبر وي نو د کوم تاريخ څخه اعتبار لری ؟

۹ : که کوم شريک د معاهدې نامې سره د مخصوص دفعې خلاف خپله استعفاء وړاندي کړي نو هغه استعفاء شرعًا معتبر ده که نه ؟

۱۰ : يو شريک مړشي د هغه د انتقال وروسته ټول شريکان په يو مجلس کي د ده اولاد شريک تجارت کړي ، اوس ځيني شريکان وايي چي په دې مجلس کي عقد ضروري دی او موږ داوخت د هغه څخه انکار هم نه دی کړی ، لکن د عقد په وخت کي نا منظوري يا انکار او يا هم عدم رضائيت هم نه دی ظاهر شوی او ددوی مشر ورور موجود وی د هغه په موجود گي د هغه مرضي خلاف کار هم نه وي شوی په دې باره کي بالاراده سکوت اختيار

شوی وي ، نو ایا شرعًا ددې سکوت باوجود دمرحوم اولاد شریک تجارت بلل کیږي که یا ؟ (ازراه کرم دضمیمي متعلق سوال نمبر ۵ او ۶ ملاحظه کړی.)

دعا گو: بنده بشیر احمد سنجالوي غفرله ولوالدیه

ازجوها نسبرگ جنوبي افریقه

مخدومي ومکرمي ! په دې مسئله او معامله کي ستاسي دکومک اشد ضرورت دی امید چی هر ډول کومک به وکړی ، الله تبارک وتعالی دي ستاسي درجې درلوړي کړي. آمین

طالب دعا بنده بشیر احمد بنده شعبه غفرله

(ضمیه از مستفتي متعلق بسوال نمبر ۵ او ۶)

۱: مذکوره مستعفي زباني استعفاء ورکړې بیا دوهم ځل يې تحریري استعفاء ورکړې ، او دهغه وروسته دخپلي استعفاء ذکر شریکانو ته کړی دی ، او دهغه وروسته هغه په خپله ټول دشرکت مکمل حساب دځان سره تیار کړل ، چي په هغه کي هغه دخپلي حصې مجموعي قیمت تیار کړل او دده مجموعي قیمت څخه کوم شریک انکار هم نه دی کړی اوس دمذکوره استعفاء وړاندي کولو او بیا ټولو شریکانو ته دمجموعي قیمت نقلونه رسول او بیا دتجارت څخه دست بار کیدل دهغه څخه دا معلومیږي چي دهغه داستعفاء ورکول مقصود ؤ اوس دداسي شریک استعفاء ورکول من حیث الشرع مسموع او معتبر ده که یا ؟

۲: دا ډول مذکوره مستعفي داستعفاء ورکولو وروسته وقتًا فوقتًا حسب ضرورت مختلف رقم دشرکت تجارت څخه پنځلس یا شل کاله دشرکت څخه وصول کول ، اوس هغه رقم دکوم شي په عوض شمارل کیږي ؟ ایا ددې شرکت دحصې څخه شمارل کیږي ، او یا قرض بلل کیږي ؟ فقط.

(معاهده شرکت) (تمهید)

الف: - څلور شریکانو دا اقرار کړی چی موسی اسماعیل تمام جائداد او نور ملکیتونه هغه حاصل کړي دی.

ب: - څلورو شریکانو دمجموعي تجارت کي شریک کولو او شرکت قائم کولو باندي خپله رضامندي ظاهره کړې ، او ټولو شرکت قائم کړی.

ج: - عقد شرکت شروط او قیود تحریري په یو دستاویز کي قلم بند کړی دی او پر هغه یې رضامندي ظاهر کړې ده چي هغه حسب ذیل دی:

(مادې)

۱: مذکوره شرکاء پر دې خبره رضامند دی چی ټول به دغه شرکت (جنزل مرچنټ) تجارت کي دشرکاء حیثیت لري.

۲: ددې مجموعي تجارتي صورت ، (سلیمان اسماعیل میان اینډ کمپنی) وي او ددې شرکت تجارت به دډروډیرشو مارکیټو اسټریټ څخه جاري وي ، او ددې وروسته چیرته چي شرکاء خپله رضامندي ظاهر کړي.

۳: ددې سره چي دشرکت دشروع کیدلو تاریخ په دې دستاویز کي لیکلی دی ، لکن ددې شرکت ابتداء تاریخ اول دجولائي دنونس سوه شل میلادي څخه وي.

۴: دشرکت هذا سرمایه به دهر شریک برابره حصه وی (لیکن دستاویز کي سرمایه مقدار نه دی لیکلی او هغه درج نه دی)

۶: دتجارت حساب به دفاتر باقاعده کوي ، دا ډول هر عقد تجارت او هر معامله تجارت به درج کول کیږي ، او مسلسل تاریخ به ورسره لیکل کیږی ، بل دا چی دغه تجارت چی چیري جاري کیږي نو هلته به هم ورسره دفتر خلاصیږي ، چي په هغه کي به دتجارت ټول نقود او حسابات پوره لیکل کیږي ، او ددې حساباتو درجسټرو کتل او معائنه کول دهر شریک حق دی.

۷ : دهر کال دجون دمیاشتي ديرشمه یا دهغه وروسته چي ممکن وی یو ګوشواره به دنفع او نقصان تیاريږي ، چي په هغه کي دشريکانو ملکيت نفع او نقصان پرتله کيږي ، او دهر شريک به ځانته حصه معلوميږي ، لکن هيڅ شريک به دتحريري اجازت بغير رقم نه ايستل کيږي.

۸ : هر شريک لره پکار ده چی حسب ذیل امورو کی عملاً حصه واخلي:

الف : - هر شريک به خپل پورا وقت او پوره توجه ددې شرکت په تجارت کي کوي ، او په شوق او ایمان داری سره به حتی الوسع خپله ذمه واري دنورو شرکاء په مشوره سره ادا کوي.

ب : - پر شريکانو لازم دی چی په ایمان داری او انصاف سره به کار کوي ، او دا چی هر وقت به په خپل منځ کي يووبل ته خبر ورکوي ، چيرته چی کوم وضاحت طلب خبره وي نو هلته به په وضاحت او په خوشي سره خبره کوي بې داخفاء او جبر.

ج : - حسب معمول تمام رقوم تجارت او تمام چيکونه او نور معاوضات تجارت به دبينک په کاته کي جمع کيږي.

د : - هر شريک ته لازمه ده چی خپل ذاتي قرضه په خپله ادا کړی چي نور شريکان هروخت دهر ډول اخراجاتو څخه بري اومنزه وي.

۹ : هر شريک به دحسب ذیل امورو مستحق وی:

الف : - دتجارت دطرف څخه چيک ايستل.

ب : - دخپل نفع دحصې څخه ماهانه پنځويشت پونډه ايستل چی هغه به دده دحساب څخه منها کيږي.

ج :- په هرو څلورو کلو کي به يو کال تعطيل ورکول کيږي

۱۰ : دکوم شريک بغير نور شريکان دوړاندیني رضامندي لاندی ددغو امورو حق ورته نه ورکول کيږي:

الف :- بالواسطه یا بلا واسطه په کوم ځانته تجارت مشغول کيدل.

ب : - هغه دخپل ذاتي سرمايه حصه څخه څه رقم وقتًا فوقتًا ايستل.

ج :- دداسي خلګو ګراکانو په باره کي چي نور شرکاء سابق په تحريري طور منع کړی وي قرضه ورکول او مال وربانديږ په پور خرڅول.

د : - داسي يو کار کول چی دخپل طرف څخه کفالت یا ضمانت ورکول کيږی چی شرکت تجارت جائداد ته کوم نقصان رسوي.

ر : - تجارت کي داسي کاغذات باندی تصديق کول یا ادائيکي سکه لګول چی هغه تجارت ته نقصان رسوی.

س : دخپلي حصې څخه تجارت جائداد منافع خرڅول ،تحويل کول ، یا په رهن ورکول.

ص : - دتجارت رقم یا مال ومتاع په کار کی راوستل یا رهن اينبوول ، ماسوا دتجارت عام نفع دپاره یا روزمره تجارتي کارونه کول.

ط : - په تجارت کي کوم ملازم پر ملازمت باندي پرياينبوول او يا معزول کول بې له فحش بد اخلاقي دوجي.

ع : - دتجارت په غرض دټرانسوال صوبې په حدودو کي سفر کول.

ف : - دسل پونډه څخه زياته معاهده یا وعده یا اجاره کول ، په دې شرط چي داسي معامله دمعمولی تجارتي کاروائي خلاف نه وي.

ی : - داسي معاهده کول چی په دې تجارت کي روزمره کاروائي خلاف وي.

۱۱ : دهر شريک دا حق دی چی کوم وخت غواړي مستعفي شي ، په دې شرط چي مستعفي کيدلو څخه شپږ مياشتي وړاندې استعفاء شرکاؤ ته وړاندي کړي يعنی دجون دمياشتي دديرشو تاريخو څخه یا ددسمبر دمياشتي ديوديرشم تاريخ څخه طالب فسخ استعفاء ورکولو اراده وکړي ، نو داسي شرکاؤ ته ضروري ده داستعفاء وړاندي کولو

شپږ میاشتي وروسته دهغه شرکت ختمیږي نو دمستعفي شریک دشرکت دفسخ کولو دفعه ١٢ اوس لازمیږی ګویا فسخ کوونکی شریک اوس وفات شوی ، په دې بنا هغه قواعد او ضوابط لازم بلل کیږي چی دکوم شریک دانتقال پروقت لازمي دی ، دکوم شریک دوفات یا استعفاء وروسته نورو شرکاؤ په حق کی قائم او باقي بلل کیږي.

١٢: شرکت جاري ساتل اګر که کوم شریک وفات شي دهغه زنده شرکاء تر منځ دهر شریک دموت تاریخ دهغه دحصې مطابق متوفی شریک تجارت دی ، داډول دجون دآخري تاریخ څخه چي څونه میاشتي چي تیري شوې وي دهري میاشتي په مقابل کي دهغه اولاد ته حصه ماهانه پنځویشت پونډ ورکول کیږی سره دهغه دتجارتي حصې (یعنی متوفی شریک حصه دهغه اولاد ته بقایا زنده شرکاء به یې اخلي) ددې سره شریک دفعه نمبر (١١) مطابق مستعفي کیږي نو یا داستعفاء تاریخ دیرشمه دجون یا یودیرشم ددسمبر ، نو که دیرشمه دجون وی نو دغه کال دتجارتي نفعي یا یو دیرشم دسمبر وي نو بیا یو کال ددیرشم دجون دده دحصې چي څونه رقم وي دی یې حق دار دی، سره دپنځوس پونډ ، چي دجون ددیرشمي څخه نیولې تر یودیرش ددسمبر پوري دهغه دحصې نفع بلل کیږي ، دکوم مستعفي شریک دا حق نشته چي هغه دپګړی رقم طلب کړي نه هغه ته دا حق ورکول کیږي چی تجارتي نقصان دتجارت څخه ایستل کیږي ، په دې باره کي هغه څه تبدیلي دي وغواړي ، مستعفي شریک یا متوفی شریک ونمائده ته ثمن مبیع ماهانه پنځه سوه پونډ دحساب څخه په شپږویشت قسطو باندي ورې (په دواړو کي چي کوم اقل مقدار) په هغه سره به ادا کیږي.

١٣: دشرکت په باره کي که کوم جګړه رامنځ ته کیږي نو هغه به دټولو څخه وړاندي دشریکانو والد محترم یعنی حاجي موسی اسماعیل صاحب ته رجوع کوي ، او دهغه په عدم موجودګي کي به دشریکانو والده یعني حاجیانه امینه ته رجوع کول کیږي ، او دهغې دعدم موجودګي په صورت کي ددې تجارت دمحاسب منشي ته رجوع کیږي ، او

دهغه په عدم موجودګي کي به دوه حکم کوونکی مقرر کیږي چي دهغو انتخاب به دفریقینو دطرف څخه کیږي او بیا به دغه دوه مقرر شوی حاکمان په دې معامله کی دخپل طرف څخه په دکار شروع کولو څخه وړاندی به یو شخص نامزد کوی چی دهغه دوو حاکمانو درمنځ حاکم شي ، چي دغه حاکم به دحاکمانو دنااتفاقي په صورت کي قطعي فیصله وکړي.

١۴: دشرکاء تجارت هذا دا خبره به مني چي که جګړه پیدا شي نو په مابین کي تجارت منیجر او یو بل شریک ددې دفعې ١٣ مطابق به فیصله کوي ، دمذکوره بالا شرطونو باوجود که شرکاء په منځ دتجارت کی یوه نا اتفاقي پیدا شي نو داکثره شریکانو په رائ سره به فیصله کیږي ، داډول که کوم شریک حاضر نه وي نو بیا به هغه ته خپل حق ورکول کیږي ، چي هغه دخپل طرف څخه کوم وکیل مقرر کړي. ختم شو

شاهد نمبر ١: زید

شاهد نمبر ٢: عمرو

دشریکانو امضاوي

١- ایوب ابن موسیٰ

٢- یونس بن موسیٰ

٣- هارون بن موسیٰ

۴- سلیمان بن موسیٰ

ځواب: - دسوالاتو جوابات بالترتیب مندرجه ذیل دي:

١: صورت مسؤله کي شرکت درست دی اګرچي په حنیفي مسلک کي - شرکت بالعروض - جائز نه دی (١) لکن په صورت مسؤله کي چي د حاجي موسیٰ اسماعیل

---

(١) وراجع للدليل والتفصيل الى بدائع الصنائع ج٦ ص٥٩ لا تصح الشركة في العروض والمبسوط للسرخسي ج١١ ص١٥٩ (طبع ادارة القرآن) والتاتارخانيه ج٥ ص ۴٢٢ (طبع قديمي كراچي) وفتح القدير ج٥ ص٣٨٩ (طبع رشيديه كوټه) وشرح المجلة لعلى حيدر ج١٠ ص٣٧۴ رقم الماده ١٣۴٢ (طبع دار الكتب بيروت) ومجلة الاحكام العدلية ج۴ ص١٣۴٢ (طبع نور محمد كراچي)

صاحب رحمه الله زامنو تمام جائیداد دوالد په مشترکه طور اخستی دی په دې ددوی تر منځ شرکت الملک متحقق دی (۱) او شرکة الملک په تحقق کي وروسته دشرکة العقد عروض کي هم درست دی ، لمافي الهندیه: -

والحیلة في جواز الشرکة في العروض وکل ما یتعین بالتعیین ان یبیع کل واحد منهما نصف ماله بنصف مال صاحبه حتی یصیر مال کل واحد منهما نصفین ، وتحصل شرکة ملک بینهما ، ثم یعقد ان بعد ذلک عقد الشرکة فیجوز بلا خلاف کذا في البدائع .

(عالمگیریه ج ۲ ص ۳۰۷ باب اول فصل ۳)(۲)

لهذا صحت شرکت په عروضو کي اشکال نلري.

ترکومه چي دمعاهدې دشرکت تعلق دی چي دضمیمې په دستاویزاتو کی قلم بند دی نو دهغه اکثر شرائط درست دی لکن بعض شرطونه یې فاسد دی ، مثلا شرط دفعه ۱۰ ذیل الف مذکور چی که کوم شریک بالواسطه یا بلاواسطه ځانته تجارت نه شي کولای ، دا شرط دشرکت عنان دمقتضا څخه خلاف دی ، او شرکت مفاوضه شرائط دلته موجود

---

(۱) وفي البحر الرائق کتاب الشرکة ج۵ ص ۱۶۶ ۹ (طبع سعید) ان یملک اثنان عینًا ارثًا او شراءً بیان للنوع الاول منها وقوله ارثًا او شراءً مثال لا قید ..... والحاصل انها نوعان جبریة واختیاریة فاشار الی الجبریة بالارث والی الاختیاریة بالشراء کما في المحیط ..... الخ

(۲) (طبع مکتبه رشیدیه کوټه)

وفي بدائع الصنائع ، کتاب الشرکة ج ۶ ص ۵۹ (طبع سعید) والحیلة في جواز الشرکة في العروض وکل ما یتعین بالتعیین ان یبیع کل واحد منهما نصف ماله بنصف مال صاحبه حتی یصیر مال کل واحد منهما نصفین وتحصل شرکة ملک بینهما ثم یعقد ان بعد ذلک عقد الشرکة فتجوز بلا خلاف ، وکذا في الدر المختار ج ۴ ص ۳۱۰ (طبع سعید) وکذا في التاتارخانیه ج۵ ص ۴۲۴ (طبع قدیمي کراچي)

نه دی ، لهذا دا شرط فاسد دی ، لکن په شرکت کی چی کوم شرط فاسد راشي نو هغه شرکت نه باطلیږي ، بلکه هغه شرط فاسد دی او پر هغه عمل ضروري نه دی

لما في رد المحتار : لان الشرکة لا تفسد بالشروط الفاسدة

(شامي ج ۳ ص ۳۷۶) (۱)

یو بل شرط فاسد دمعاهدې دفعه ۱۲ کي مذکور دی چی که یو شریک وفات شي نو ۳۰ جون څخه نیولې بیا چي څو شپږ میاشتي تیریږي نو دهر میاشتي په مقابله کی دهغه اولاد ته پنځویشت پونډه ورکول کیږي هغه دنفع قائم مقام بلل کیږي چي ددیرش جون څخه بیا تر تاریخ دوفات پوري دمرحوم حصه راځي.

په دفعه ۱۱ کي هم یو شرط فاسد دی چی که اګر کوم شریک ۳۱ دسمبر څخه شرکت ختم کول غواړی نو هغه ددونه رقم حق داره دی چی ۳۰ جون دده په حصه کي ؤ سره دیو سل پنځوس پونډه چي ۳۰ جون څخه بیا تر ۳۱ دسمبر پوري دهغه حصه نفع بلل کیږي دغه شرط هم دمذکوره وجي پر بنا فاسد دی ، که داډول یو شریک کوم معلوم رقم په طور دنفع اصل شرکت مقرر کړی نو دغه شرکت فاسدیږي.

لما في الدر المختار وتفسد باشتراط دراهم مسماة من الربح لاحدهما لقطع الشرکة کما مر لا لانه شرط لعدم فسادها بالشروط . (درمختار مع شامي ج ۳ ص ۳۷۶ ، ۳۷۷) (۲)

---

(۱) رد المحتار ، کتاب الشرکة ج ۴ ص ۳۱۶ (طبع سعید) وکذا في الهندیه ج ۲ ص ۳۰۳ (طبع مکتبه رشیدیه کوټه) (محمد زبیر حق نواز)

(۲) الدر المختار ج ۴ ص ۳۱۶ (طبع سعید)

وفي الهدایه ج ۲ ص ۶۱۱ (طبع رحمانیه) ولا یجوز الشرکة اذا شرط لاحدهما دراهم مسماة من الربح لانه شرط یوجب انقطاع الشرکة ... الخ

لکن په دې معاهده نامه کي دفعه ۵ کي شرکاء په منځ کی دنفع تقسیم په عام ډول دشریعت سره مطابق ده ولي چي په دې کي یوه فریق ته هم مقرر نفع نه ده معلومه شوې، نفع او نقصان کي سره شریک دی، هغه ددفعه ۵ سره متعارض دی، او صرف فسخ شرکت په وقت کي حساب یو ډول طی شوی، لکه انګریزي متن کي معین رقم (نفع قائم مقام) بلل شوې، چي دهغه معنی داده چی نفع هغه ده چی په دفعه ۵ کي ذکر شوې، لکن دا معین رقم قائم مقام بلل کیږي دا شرط فاسد اصل عقد شرکت نه باطله وي، البته داشرط باطل دی.

خلاصه داده چي معاهده شرکت هغه دستاویزات چی په استفتاء سره منسلک شوی تر دې حده معتبر دی چی په دې بنیاد شرکت هم درست دی، لکن په دې کي چی شرائط فاسده مذکور دی هغه شرائط لغو دی.

وفي الهنديه ج۲ص۳۰۲ (طبع مكتبه رشيديه كوټه) وان يكون الربح معلوم القدر فان كان مجهولاً تفسد الشركة وان يكون الربح جزءاً شائعًا في الجملة لا معينًا فان عينا عشرة او مائة او نحو ذلک كانت الشركة فاسدة..... الخ

وفي بدائع الصنائع ج۶ ص۵۹ (طبع سعيد) ومنها : ان يكون الربح جزءاً شائعًا في الجملة لا معينًا فان عينا عشرة لا يحصل من الربح الا القدر المعين لاحدهما فلا يتحقق الشركة في الربح.

وفي فتح القدير كتاب الشركة ج۵ ص۴۰۲ (طبع رشيديه) ولا تجوز الشركة اذا شرط لاحدهما دراهم مسماة من الربح قال ابن المنذر لا خلاف في هذا لاحد من اهل العلم ووجهه ما ذكره المصنف بقوله لانه شرط يوجب انقطاع الشركة فعساه لا يخرج الا قدر المسمى.

وفي تبيين الحقائق، كتاب الشركة ج۴ ص۲۴۸ (طبع دار الكتب العلميه بيروت) وتفسد ان شرط لاحدهما دراهم مسماة من الربح لانه شرط يوجب انقطاع الشركة في بعض الوجوه فلعله لا يخرج الا القدر المسمى لاحدهما من الربح وكذا في خلاصة الفتاوى ج۴ ص۲۹۴ (طبع امجد كيډمي لاهور) والبحر الرائق ج۵ ص۱۷۷ (طبع سعيد) وشرح المجلة لسليم رستم باز رقم المادة ۱۳۳۷ ج۲ ص ۷۱۳ (طبع دار الكتب العليمه بيروت) (محمد زبير حق نواز)

۲: کوم شرائط فاسده چي په سوال نمبر ۱: په جواب کي راغلی، په هغه عمل واجب نه دی، لکن نور ټول شرائط شرعًا درست دی، دهغه مخالفت یوه شریک ته جائز نه دی.

لان المسلمين على شروطهم الا شرطًا حرّم حلالا او احل حرامًا (۱)

۳: که دا خبره په متعین ډول معلوم وی لیکل شوی محفوظ دځلورو ورونو چي دپلار څخه جائداد اخستی ده، هغه څه ډول؟ او چیرته دی؟ نو بیا معاهده نامه شرکت کی جزوی تفصیلات او مقدار بیان کول دشرکت دصحت لپاره ضروري نه دی، دهغه دوه اسباب دي:

الف: - اول سبب دادی چی سرمایه شرکت دمقدار معلومول دعقد پر وخت دصحت لپاره ضروري نه دی.

لما في البدائع : واما العلم بمقدار رأس المال وقت العقد فليس بشرط لجواز الشركة بالاموال عندنا وعند الشافعي رحمة الله عليه شرط ..... ولنا أن الجهالة لا تمنع جواز العقد لعينها، بل لا فضائها الى المنازعة وجهالة رأس المال وقت العقد لا تفضى الى المنازعة، لانه يعلم مقداره ظاهراً وغالبًا لان الدراهم والدنانير توزنان وقت الشراء فيعلم مقدارها فلا يؤدى الى جهالة مقدار الربح وقت القسمة. (بدائع الصنائع ج۶ص۶۳) (۲)

---

(۱) وفي جامع الترمذي رقم الحديث ۱۲۷۲ المسلمون على شروطهم الا شرطًا حرم حلالا او احل حرامًا. (وكذا في الصحيح البخاري، كتاب الاجارة)

(۲) (طبع سعيد) وفي الهنديه ج۲ ص۳۰۶ (طبع رشيديه كوټه) اما العلم بمقدار رأس المال وقت العقد فليس بشرط عندنا.

ب : - دوهمه وجه داده چې په صورت مسؤله کی ځلور واړه وروڼه په منځ کې شرکت عنان ځکه وړاندي شرکت ملک قائم سوی دی ، ځنگه چې په سوال نمبر ۱ په جواب کې ولیکل شول ، او ټولي حصې برابري دی ، او نفع هم برابر ده ، نو په دې د سرمایې نه معلومول مفضي ومنازعې ته نه دی ، شرکت في العروض چې کومه حیله د سوال نمبر ۱ په جواب کې ذکر شوې ده ، په دې سلسله کې علامه ابن همام رحمه الله داسي لیکي:

وهذا لانه المانع من كون رأس مال الشركة عروضًا كل من امرين : لزوم ربح مالم يضمن ، وجهالة رأس مال كل منهما عند القسمة ، وكل منهما منتف ، فيكون كل ما ربحه احدهما ما هو مضمون عليه ، ولا تحصل جهالة في رأس مال كل منهما ، لانه لا يحتاج الى تعرف رأس مال كل منهما عند القسمة حتى يكون ذلک بالحذر فتقع الجهالة لانهما مستويان في المال شريكان فيه فبالضرورة يكون كل ما يحصل من الثمن بينهما نصفان . (فتح القدير ج۵ ص۳۹۲) (۱)

۴ : محض کار پرېاینبوول یا غائب کېدل شرکت نه ختموي.

لما في العالمكيريه : وان عمل احدهما ولم يعمل الآخر بعذر او بغير عذر صار كعملهما معًا كذا في المضمرات . (فتاوى عالمگيريه: ج۲ ص۳۲۰ كتاب الشركة باب ۳ فصل۲) (۲)

(۱) (طبع مکتبه رشیدیه کوټه)

(۲) ایضًا

که نور شرکاء دده سره شرکت نه خوښوي نو دهغه سره دی صراحة شرکت فسخ کړي.

۵ : یک طرفه شرکت فسخ کولو لپاره داشرعًا ضروري نه ده چې فریق ثاني فسخ قبول کړي.

لما في الدر المختار : وتبطل أيضًا بانكارها وبقوله لا اعمل معک فتح وبفسخ احدهما . (شامي ج۳ ص۳۸۴) (۱)

او معاهده دشرکت چې په صورت مسؤله کې لیکل شوې ده ، په هغه کې هم استعفاء دنورو شرکاء پر قبولیت موقوف نه ده ، لهذا چې کوم شریک دمعاهدې مذکورې سره سم استعفاء ورکړي ، نو دهغه شرکت په معاهده کې دمذکوره مدت سره ختمیږي ، که نور یې قبول کړي او یا یې رد کړي.

۶ : کیدلای شي دلیل یې په ۵ نمبر کې تیر شوی.

۷ : لوړ تیر شول چې دمعاهدې مطابق استعفاء په ورکولو دمستعفي شریک شرکت ختم کیږی ، اوس دهغه دوهم ځل شریک کیدلو لپاره ضروري ده چې نوی عقد

(۱) الدر المختار كتاب الشركة فصل في الشركة الفاسدة ج۴ : ص۳۲۷ (طبع سعيد)
وفي الهنديه ج۲ ص۳۳۶ (طبع مكتبه رشيديه كوته) واذا قال احد الشريكين لصاحبه لا اعمل معكم
بالشركة فهو بمنزلة قوله فاسختک الشركة .
وفي التاتار خانيه ج۵ ص۶۳۷ (طبع ادارة القرآن) واذا انكر احد المتفاوضين المفاوضة انفسخت
المفاوضة هكذا ذكر شيخ الاسلام فيجب ان يكون الحكم في جميع الشركات هكذا وفي الظهيرية واذا
انكر احد الشريكين الشركة ومال الشركة امتعة كان هذا فسخا للشركة .
وفي فتح القدير ج۵ ص۳۸۰ (طبع رشيديه كوته) لان عقد الشركة عقد غير لازم فان لكل منهما ان
يفسخه اذا شاء وفي درر الحكام شرح المجلة لعلى حيدر تحت المادة رقم ۱۳۵۳ تنفسخ الشركة بفسخ
احد الشريكين او بانكاره الشركة او يقول احدهما للاخر لا اعمل معک فانه بمنزلة فاسختک (محمد زبير
حق نوزا)

ترسره شي ، لهذا كه نورو شركاؤ دوهم ځل دده سره نوی عقد قائم كړی وي ، نو دهغه ځلورمه حصه وركړل شوې نو هغه شريک بلل كيږی او كه نوی شوې نو نه بلل كيږی ، دديې برعكس كه كوم نوی عقد نه وي شوی ، او نورو شريكانو دده حصه وركوله نو دلته څو احتمالات موجود دی ، يو دا چی شركاء تبرعًا دغه رقم وركوی ، بل داچی دشركت دفسخ پر بناء ومستعفي ته دشركت حصه ور ادا كوي ، لهذا كه دشركت نوی عقد صراحتًا نوي تر سره شوی نو ددې احتمالاتو محض ځلورمي حصې دادائيگي دعقد شركت نه بلل كيږي ولی چی په احتمالاتو سره عقد نه ثابتيږي : لان الشركة لاتثبت بالاحتمال.

٨ : شرعًا هم شركت دفسخ كولو لپاره دا ضروري ده چي فسخ كولو والا ونورو شريكانو ته دفسخ اطلاع وركړي ، ددوی د اطلاع بغير شركت نه فسخ كيږي

لما في الدر المختار : وتبطل ايضًا بانكارها ...... بفسخ احدهما .... ويتوقف على علم الآخر لانه عزل قصدی ، وفي رد المحتار : (قوله لانه عزل قصدی) لانه نوع حجر فيشترط علمه دفعًا للضرر عنه فتح . (ردالمحتار ج٣ ص٣٨٤ و٣٨٥) (١)

---

(١) ردالمحتار ج٤ ص٣٢٧ (طبع سعيد كراچي)
وفي التاتار خانيه ج٥ ص٦٣٧ (طبع ادارة القران) .... وهذا اذا فسخ بحضرة صاحبه اما لو فسخ بغيبة صاحبه ولم يعلم صاحبه بالفسخ لا يصح
وفي الهنديه ج٢ ص٣٣٥ (طبع رشيديه كوټه) ولو لم يمت لكن فسخ احدهما الشركة ولم يعلم شريكه لا تنفسخ الشركة وكذا في فتح القدير ، كتاب الشركة ج٥ ص٤١٣ (طبع رشيديه)
وفي شرح المجلة لعلى حيدر ج١٠ ص٣٩٠ (طبع دار الكتب بيروت) تنفسخ الشركة بفسخ احد الشريكين ولكن يشترط ان يعلم الآخر بفسخه ولا تنفسخ الشركة ما لم يعلم الآخر فسخ الشريک.

او منسلكه معاهدې هم داستعفاء لپاره دنوروشريكانو اطلاع ضروري بللې ، لهذا كه كوم شريک استعفاء وړاندي كوي او نوروته يې پيش نه كړي نو شركت نه فسخ كيږي ، هو كه هغه دخپله څخه استعفاء راوړه شركاء ته يې پيش كړه نو شپږ مياشتي وروسته دحسب معاهدې شركت فسخ كيږي.

٩ : دغه سوال واضح نه دی په معاهده نامه كي مخصوص دفعي خلاف استعفاء دپيشولو څه شكل دی په وضاحت يې وليكی، نو به جواب ممكن وی.

١٠ : دغه جزئيه صراحة دنظر څخه نه ده تيره شوې لكن دمتعدد نور جزئياتو د قياس څخه ظاهريږي چي صورت مسؤله كي دمرحوم شريک اولاد شريک كاربار تصور كړي ، په اصل كي دمرحوم دوفات سره شركت ختم شو ، اوس دده نور شركاؤ باندی لازم ده چي دمرحوم حصه دده وورثاء ته وركړي ، او كه هغه شريک كار بار څانونه جوړوي نو د نورو شركاؤ رضامندي لازمي ده.

لما في الدر المختار : لا يملک الشريک الشركة الا باذن شريكه جوهره . (ج٣ ص٣٧٨) (١)

اوس دغه رضامندي عام حالات كي صريح الفاظ باندي بايد وي ، لان الساكت لا ينسب اليه قول (٢) لكن كله چی نور شركاء دطرف څخه وي نو هغه وقت يو شريک كاربار حيثيت مدت تصرف كوي ، بيا كه هغه بل كوم اعتراض ونكړو نو مجموعي طرز عمل رضامندي ثابت كولو لپاره كافي ده.

---

(١) الدرالمختار كتاب الشركة ج٤ ص٣١٧ (طبع سعيد)
(٢) ردالمحتار ج٣ ص٦٢ قاعدة لا ينسب الى ساكت قول وكذا في الاشباه والنظائر ج٢ ص١٧٠ (طبع دار الكتب العلمية)

نظيره مافي الاشباه : سكوته عند بيع زوجته او قريبه عقاراً اقرار بانه ليس له على ما افتى به مشايخ سمرقند .

وفيه بعد ذلک : رآه يبيع ارضًا او دارًا فتصرف فيه المشتري زمانا وهو ساكت يسكت دعواه .

ددې لاندې علامه حموي رحمه الله ليکلي دي:

فيه عما قبله زيادة تصرف المشتري بعد الشراء زمانًا وهو ساكت فهو قيد في الاجنبي لا في الزوجة والقريب كما يفهمه اطلاقه . (شرح الاشباه والنظائر للحموي ج۱ ص۱۸۷)(۱)

دا مسئله درمختار او ردالمحتار داشباه څخه نقل کړې ده داډول په کتاب الوقف کې هم ذکر شوې ده. (ردالمحتار ج۳ ص۴۸۹) (۲)

۱۱: مستفتي مذکور دطرف څخه زير بحث معاملې متعلق يو بله استفتاء وروسته راغله ، په هغه کې دهغو سوالاتو اعاده شوې ده دکومو چې وړاندې جواب وشو البته دلته يو سوال زيات دی هغه دا چې معاهده نامه کې دا طی شوې ده چې دشرکت کاربار صوبه ټرانسوال پورې محدود دی ، په وروسته کې په رضامندۍ دشرکاء ددې کاربار نورو علاقو ته هم وسعت ورکړل شوې دی سوال داسې شوی دی چې دغه کاربار دشرکت خو په عرفي حيثيت باندې کوم اغيز نه کوي ؟

(۱) القاعدة الثانية عشر ج: ۱ ص۷۹ .

(۲) وفی الدر المختار ج۴ ص۴۸۲ (طبع سعيد) (في الاشباه السكوت كالنطق في مسائل) عد منها سبعة وثلاثين وفي الشاميه تحته (مطلب المواضع التى يكون فيها السكوت كالقول ......) ۲۴ سكوته عند بيع زوجته او قريبه عقاراً اقرار، بانه ليس له على ما افتى به مشائخ سمرقند .... الخ ....۲۵ رآه يبيع عرضًا او دارًا فتصرف فيه المشتري زمانًا وهو ساكت تسقط دعواه .

ددې جواب : دادی چې که تمام شرکاء په رضامند وی نو تجارت دټرانسوال دولايت څخه نورو ځايونه وړل څه فرق نه لري ، شرکت هغسې قائم دی ، او که نور شرکاء ورباندې راضی نه وي نو بيا تجارت ټرانسوال ولايت څخه دباندې وړلو سره بيا هم شرکت پر خپل ځای صحيح دی ، البته دباندې وړلو سره که کومه خساره راسې نو خساره يوائې پر هغه شريک رائې چا چې دمعاهدې مخالفت کړی دی.

لما في رد المحتار : وان خص له (اى المضارب) رب المال التصرف في بلد بعينه او فی سلعة بعينها لم يجز ان يتجاوز ذلک فان خرج الى غير ذلک البلد او دفع المال الى من اخرجه لا يكون مضمونًا عليه بمجرد الاخراج حتى يشترى به خارج البلد فان هلک المال قبل التصرف فلا ضمان عليه ، وکذا لو اعاده الى البلد عادت المضاربة كما كانت على شرطها وان اشترى به قبل العود صار مخالفًا ضامنًا ..... والظاهر ان الشركة كذلک .

(شامی ج۳ ص۳۰۸) (۱)

هذا ما ظهر لی والله سبحانه وتعالى اعلم وعلمه اتم واحكم

(۱) ردالمحتار كتاب الشركة ج۴ ص۳۲۱ (طبع سعيد)

وفي الهدايه كتاب المضاربة ج۳ ص۲۶۵ (طبع مكتبه رحمانيه لاهور) وان خص له رب المال التصرف في بلد بعينه او في سلعة بعينها لم يجز له ان يتجاوزها لانه توكيل وفي التخصيص فائدة فيتخصص وكذا ليس له ان يدفعه بضاعة الى من يخرجها من تلک البلدة لانه لا يملک الاخراج بنفسه فلايملک تفويضه الى غيره فان خرج الى غير تلک البلدة فاشترى ضمن وكان ذلک له وله ربحه لانه تصرف بغير امره وان لم يشتر حتى رده الى الكوفه وهى التى عينها برئ من الضمان كالمودع اذا خالف في الوديعة ثم ترک ... الخ (محمد زبير)

۲۰ ذی الحجة ۱۴۰۲ھ (فتوی نمبر ۱۸۳۹/ ۲۲ه)

په شرکت کي ديو شريک دانتقال وروسته شرکت ختميږي

سوال: - زيد او بکر برابر شرکت کوی کار بار روان دی څه وخت وروسته زيد وفات شو ، مرحوم شاته يوه ښځه او درې نابالغ ماشومان پريايښوول (چي يوه نجلۍ او دوه هلکان دی) او يو وررور پاته شو.

اوس دا راته ووايې چې دزيد مرحوم شرکت او دده کار بار به څنګه وي ؟ ختميږي او که نه ؟ که ختم شی نو دزيد مرحوم حصه چاته حواله شي ؟ کونده وايي ماته دی راکړل شي ، لهذا دشرعي حکم څخه موږ ته لار ښونه وکړی ، که دغه دمرحوم حصه دښځي او کوچنيانو په منځ کی تقسيم شی او دهر يوه حصه هغه ته ورکړل شي او دکوچنيانو حصه مورته وسپارل شي نو داسي کول جائز دی ؟

جواب: - په مذکوره صورت کي زيد چی کله انتقال وکړی نو دمرحوم شرکت (۱) دبکر سره ختم شو ، پر بکر لازم ده چی دزيد حصه جلا کړي او څوک چي دزيد ورثاء وي

---

(۱) في الدرالمختار ج ۴ ص۳۲۷ (طبع سعيد) وتبطل الشركة اى شركة العقد بموت احدهما علم الآخر اولا.

وفي الجوهرة النيرة (قبيل كتاب المضاربة) ج۳ص۱۲۸ واذا مات احد الشريكين او ارتد ولحق بدار الحرب بطلت الشركة .....الخ

وفی تبيين الحقائق فصل في الشركة الفاسدة ج۱۰ ص۱۷۸ وتبطل الشركة بموت احدهما.

وفي فتح القدير فصل في الشركة الفاسدة واذا مات احد الشريكين او ارتد ولحق بدار الحرب بطلت الشركة ....الخ

هغه ته يې ورکړي ، بهتر داده چي ددوشاهدانو په مخکي يې ورته حواله کړي ، تاکه بعد فساد رانسي ، داسي هم کولی شی چي په خپله يې دشريعت سره سم ورتقسيم کړي

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲ /۱۳۱۷۲ (فتویٰ نمبر ۲۵۸/ ۲۸ ب)

دزامنو مال په کاروبار کي لګول چی هغوته ماهانه متعين رقم ورکولو حکم

سوال: - ما خپل زوی ته مثلا لس زره روپۍ ورکړې دی او بيا مي هغه دده پرنام په کاروبار کي لګولې دی او هره مياشت هغه ته سل روپۍ ماهانه ورکوم زوی نه په کار کي شريک دی او نه په نقصان کي نو دا شرکت صحيح دی ؟

جواب: - ته خپل زوی په کار کي درشريکولی شې ، هغه ستا شريک دی ، لکن دشرکت دحيثيت سره سم هغه دنقصان څخه بري کول يا سل روپۍ هغه ته ماهانه ورکول شرعًا صحيح نه دی ، تجارت داسي يو کار دی چي په هغه کی نفع او نقصان دواړه راځي نو تاته په حيثيت دپلار دخپل زوی مال په تجارت کي لګول جائز دی چي هغه به په نفع او نقصان دواړو کی شامل وی ، هو که ته په نظر دشفقت دخپلې حصې څخه سل روپۍ ورته ورکوې نو هغه ځانته خبره ده يا داسي وکړه چي دنفع څخه هغه ته سل روپۍ ماهوار ورکوه په کال دوه کاله کي څونه دده حصه جوړيدله دهغه څخه يې کمه وه

وماتردد من العقود بين نفع وضرر كالبيع والشراء توقف على الاذن (شامي ج۵ص۱۲۸) (۱)

وفی شرح مجلة الاحكام للاتاسي ج ۴ ص۲۷۷ رقم المادة ۱۳۵۲ (طبع مكتبة اسلاميه كوټه) اذا مات احد الشريكين او جن جنونًا مطبقًا تنفسخ الشركة .... الخ

(۱) الدر المختار ج ۶ ص۱۷۳ (طبع سعيد)

واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنہ ۱۳۹۰/۳/۲۲ھ (فتویٰ نمبر ۲۱۸/۲۲ الف)

الجواب صحیح / بندہ محمد شفیع عفی اللہ عنہ

کتاب البیوع

دخرید او فروخت مسائل

فصل في البيع الفاسد والباطل والموقوف والمكروه

(بيع فاسد ، باطل ، موقوف او مكروه بيان)

دبيع او اجاره دمعاملې ديو ځای کولو حکم

سوال : - زيد خپله ګامیبنه سره دبچي پر بکر خرڅه کړه په عوض داوولس سوه روپۍ ، ددې سره به زيدمځکه دبکر په دې ډول کري چي څلوبنت کنال مځکه چي په هغه کي اولس کنال زياته چي ديو کانال مځکي قيمت دڅوارلس سوه روپۍ برابر دی او آينده به ديارلس سوه روپۍ وي .

۲ : دغه ټول معامله دطرفين تر منځ په څلور زره څلور سوه وشوه چي دهغه څخه بكر زر روپۍ نقدي ورکړې ، او څوارلس سوه روپۍ ۱۵ / ۴ / ۱۹۷۷ کي به ورکوي او دوه زره ۱۹۷۸ کي ورکوي.

زيد مذكوره مځکه عمر ته په مزارعت په نصف سره ورکړه ، دهغه حصه به زيد ورکوله ، اوس پاته سو دوروسته ۳۱ / ۸ / ۱۹۷۶ څخه تر ۱۵ / ۵ / ۱۹۷۸ پوري دمځکي ټول خرڅ به پر بکر وی ، بکر دمځکي دکشت په خپله فيصله وکړه ، نو مزارع عمر ناراض شوويل يې ماته ستا ددې کال دوچند دنصف ويلي ؤ دهغه پنځلس سوه روپۍ ورکړه او مځکه او ګامیبنه بيرته واخله ، کله چي بکر دګامیبني بچي په په ۱۷۰ روپۍ فروخت کړ نو په دې دوران

کي دمځکي آمدني وابنه وغيره يې هم دځان سره يوړل ، هغه ټول بې بيي ايا په شريعت کي دبکر لپاره دروپو وړل جائز دی ؟ حالانکه معاملې په ابتداء کي زرروپۍ ورکړې وې.

جواب : - په صورت مسؤله کي ظاهر داده چي مځکه دګامیبني او بچي په بيع سره مشروط دي دبيع او اجارې معامله مجموعي طور کړې وه ، لهذا دغه معامله صفقه في صفقة ده په دې بنا فاسد (۱) اوواجب الفسخ ده (۲) او فريقينو چي په خپله منسوخه کړې صحيح ده ، لکن په دې صورت کي بکر دزيد ددونه رقم شرعًا وصول کولی شي چي څونه ده زيد ته ورکړې دی ، دهغه څخه دزيات وصول کولو حق نه لري ، بلکه ګامیبنه او دهغه بچی به هم ورکوي خو که هغه خرڅ کړي وي نو قيمت به يې ورکوي ، او وابنه چي بکر وړي نو دهغه حکم دادی چي که چيري وابنه په خپله خوبنه راشنه شوی نو هغه قيمت نه لري هغه دبکر دی (۳) او ، او که کرل شوی وي نو دهغه به قيمت راوړي.

---

(۱) وفي المعجم الاوسط للطبراني ج۲ ص۱۶۹ (طبع دار الحرمين قاهره) قال رسول الله ﷺ ثم لا تحل صفقتان في صفقة وفی مجمع الزوائد ج۴ ص۸۴ (طبع دار الريان للتراث قاهرة ودار الكتاب العربي بيروت) عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال : نهى رسول الله ﷺ عن صفقتين في صفقة واحدة .

(۲) وفي الدر المختار ج۵ ص۹۰ و ۹۱ (و) يجب (على كل واحد منهما فسخه (اى فسخ البيع الفاسد) قبل القبض ، ويكون امتناعًا عنه ابن ملک (او بعده مادام) المبيع بحاله جوهرة (في يد المشتري) اعدامًا للفساد ، لانه معصية فيجب رفعها بحر .

وفي الهنديه الباب الحادى عشر في احكام البيع الغير الجائز ج۳ ص۱۴۷ (طبع رشيديه) .... ويثبت الملک قياسًا واستحسانًا الا ان هذا الملک يستحق النقض ويكره للمشتري ان يتصرف فيما اشترى شرأ فاسدًا بتمليک او انتفاع ..... الخ

(۳) وفي المشكوة ص ۲۶۶ (طبع رحمانيه) المسلمون شركاء في ثلاث في الماء والكلاء والنار (الحديث)

لما في الدر المختار في حكم فسخ البيع الفاسد لو نقص في يد المشتري بفعل المشتري او المبيع او بآفة سماوية أخذه البائع مع الارش (شامي ج۴ ص۱۳۱) (۱)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۴/۲/۱۳۹۷ هـ (فتویٰ نمبر ۵۴۳/۲۸ ب)

دښځي خريد او فروخت او دهغې مينځه جوړول

سوال: - كه موږ دبازار څخه كومه نجلۍ رانيسو او دهغې څخه دمنځې كار اخستلى شو؟

جواب: - نن ورځ هيڅ يو ځاى شرعي منځې وجود نه لري لهذا په موجوده حالت كى دكومې نجلۍ رانيول هم حرام دى (۲) او دهغې څخه دمنځې كار اخستل هم حرام دى

والله اعلم محمد تقى عثماني عفى الله عنه ۴/۲/۱۳۹۷ (فتویٰ نمبر ۵۴۳/۲۸ ب)

الجواب صحيح بنده محمد شفيع

دذبح څخه وړاندې دحيوان داعضاوو دخرڅولو حكم

سوال: - دحيوان دذبح كولو څخه وړاندې سر، پښې، دلبند وغيره خرڅول دشريعت له نظره څنګه دى؟

(۱) الدر المحتار ج۵ ص۱۰۰ (طبع سعيد) وفى الهنديه ج۳ ص۱۴۸ (طبع رشيديه) وان انتقص المبيع في يد المشترى ان كان النقصان بأفة سماوية فللبائع ان يأخذ المبيع مع ارش النقصان وكذلک النقصان بفعل المشترى او بفعل المعقود عليه .... الخ.

(۲) وفى الدر المختار ج۵ ص۵۲ وبطل بيع ماليس بمال كالدم والميتة والحر وكذا في الهداية ج۳ ص۵۳.

جواب: - دحيوان دذبح كولو څخه وړاندې دمذكوره اشياؤ خريد او فروخت جائز نه دى.

قال في الدر المختار: ولؤلؤ فى صدف للغرر وصوف على ظهر غنم ...... وكذا كل ما اتصاله خلقي كجلد حيوان ونوى تمر ولبن وبتيخ لما مر انه معدوم عرفاً (شامي ج۴ ص۱۴۹) (۱)

والله سبحانه اعلم احقر محمد تقى عثماني عفى عنه ۱/۲/۱۳۸۸ هـ (فتوى نمبر ۱۹/۲۳۶ الف)

الجواب صحيح / بنده محمد شفيع

يو طرفه بيع دمالک تر رضامندي پورې موقوف ده

سوال: - ديو كورنى دوه سكه وروڼه سره جلا شول، يو ورور څه وروسته په يو حادثه كى مبتلا شو او دخپل مشر ورور سره په كار كي شامل شو، او صرف دكورنۍ خرڅه يې پر غاړه واخستله وروسته پاكستان ته راغى مګر ښځه او ماشومان يې په هندوستان كي ؤ مشر ورور يې دوه يا درې سوه روپۍ ماشومانو ته ماهانه وركولې،

(۱) الدر المختار ج۵ ص۶۳ باب البيع الفاسد (طبع سعيد) وفي البحر الرائق ج۵ ص۲۷۶ (طبع سعيد) وفي الخانيه ولو اشترى لؤلؤة في صدفة قال ابو يوسف رحمة الله عليه يجوز البيع وله الخيار اذا راى وقال محمد رحمة الله عليه لا يجوز وعليه الفتوى آهـ، وهكذا في الولوالجية معللاً للفتوى بانها منه خلقة .... الخ وفى الهنديه ج۳ ص۱۲۹ الفصل التاسع (طبع رشيديه) ولو باع الجلد والكرش قبل الذبح لا يجوز فان ذبح بعد ذلک ونزع الجلد والكرش وسلم لا ينقلب العقد جائزاً كذا في الذخيرة.

وفى شرح البداية ج۳ ص۵۴ ولا بيع الحمل ولا النتاج ولا اللبن فى الضرع ولا الصوف على ظهر الغنم وجذع فى السقف.

وكذا فى مجمع الانهر ج۳ ص۸۱ وامداد الفتاوى ج۳ ص۶۱ وامداد الاحكام ج۳ ص۴۷۱ و۱۸۱.

دي څخه علاوه نور ضروریات یې هم ورپوره کول ، کشر ورور دهندوستان څخه وپاکستان دراتلو پر وخت څه جائداد تقریبًا ۹ بیګه دځان سره راوړي ؤ چې هغه خرڅ کړي او روپۍ یې ور ولیږي ، زما کورنۍ پاکستان ته په ۱۹۶۵ کي راغله ، دلته چې زما جائداد او روپۍ وې ، هغه دنورو په لاسو کي وې ، په دې حال ۱۹۷۰ کي مشر ورور ته ولیکل چې جائداد وپلوري او زما کومک وکړي ، مګر تر ۱۹۶۹ بیا ۱۹۷۰ پوري هیڅ جواب نه راغی ، په ۱۹۷۰ کي زما زوی هندوستان ته ولاړ هلته یې ۲۵ زره روپۍ زما زوی ته ورکړې وې ، دزوی مي دا خیال ؤ چې هغه یې دامداد په ډول ورکړې ، په ۱۹۷۶ کي معلومه شوه چې کومي روپۍ چي ورکړل شوې وې هغه دمځکي دقیمت څخه زیاتي ورکړل شوې دي ، ددوې واقعې څخه وروسته یې ولیکل چي ۲۵ زره روپۍ راوړه او وریې کړې ، سوا ددې مځکي اوس دی غواړي چي دغه مځکه دلمسي لپاره ولیکي دشریعت حکم په دې اړه څه دی ؟ زه نه صبر کولی شم او نه راته مشر ورور څه راکوي.

جواب: - که ستا مشر ورور ستا مځکه پر بل چا نه وي خرڅه کړې او دځان سره یې ساتلې وي او تاته یې دیوه طرفه ۲۵ زره روپۍ درکړې وي او دغه بیع ستا پر رضامندي باندي موقوف ده او که ۲۵ زره روپۍ په عوض دبیع تا رضامندي ښکاره کړې وي نو بیع صحیح شوه (۱) او مشر ورور دهغې مالک دی چي څه یې خوښه وي نو هغه کولی شي ،

(۱) وفی مشکوة المصابیح ص ۲۶۱ (طبع رحمانیه) باب الغصب والعاریة عن ابی حرة الرقشي عن عمه قال قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه وفی شرحه ، ای بالامر او بالاذن.

وفی المجلة لا یجوز لاحد ان یأخذ مال احد بلا سبب شرعی ...... الخ

او که تا بیع مسترد کړې وی نو ستا پر مشر ورور باندی واجب ده چی هغه مځکه ستا امانت وبولي او ته دده خپلي ۲۵ زره روپۍ ورکړې ، او که تر اوسه معامله مبهمه پاته وي ، نو تاته په کار ده چی هغه ته خط ولیکې ، چي ته په څو غواړي چي خپله مځکه وپلورې نو په دې صورت کي که ستا مشر ورور قبوله کړه نو هغه دې رانیسي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۰/۲/۱۳۹۷ھ (فتویٰ نمبر ۲۸/۲۳۷ ب)

دمذکوره فتویٰ وضاحت

سوال: - کشر ورور ددې بیع دامانت فکر کوی ۲۵ زره روپۍ دور کولو بیع نه بولي ، او دطرفینو په منځ دخرید او فروخت خبره هم نه ده شوې ، دا خبره ده چی کشر ورور په هیڅ ډول مځکه نه شي تر لاسه کولای ، مجبور محض دی ، په موجوده وخت کی ۱۹۷۱ کي جائداد قیمت په سلهاؤ زره ته رسیږي ، کشر ورور نه صبر کولی شي او نه هغه روپۍ چي ورکړل شوې دی قبلوي ، پرون او نن دواړه ، هغه دروپو بیرته ورکولو ته تیار دی ، د۱۹۵۹ څخه وړاندي چی ماشومان یې په هندوستان کي ؤ ، ما په دتنګلاسۍ شپې صباکولې ، که یې دغه روپۍ ماته راکړې وای نو ما به هلته ورسره اتفاق کړی وای ، ولي

وفی الشامیه ج۴ ص۶۱ (طبع سعید) اذ لا یجوز لاحد من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی وفی الدر المختار ج۵ ص۱۰۶ من یتصرف فی حق غیره بغیر اذن شرعی کل تصرف صدر منه تملیکًا کان کبیع وتزویج او اسقاطًا کطلاق واعتاق وله مجیز ..... انعقد موقوفًا .....الخ.

وفی الهدایه کتاب البیوع فصل فی بیع الفضولی ج۳ ص۹۳ (طبع مکتبه رحمانیه) ومن باع ملک غیره بغیر امر فالمالک بالخیار ان شاء اجاز البیع وان شاء فسخ وکذا فی مجمع الانهر ج۳ ص۱۳۴

وفی مجلة الاحکام کتاب البیوع رقم المادة ۲۶۷ البیع الذی یتعلق به حق الغیر کبیع الفضولی وبیع المرهون ینعقد موقوفًا علی اجازة ذلک الآخر ..... الخ وفی الهندیه ج۳ ص۱۵۲ (طبع رشیدیه اذا باع الرجل مال الغیر عندنا یتوقف البیع علی اجازة المالک ..... الخ ، داډول راتلونکی صفحه حاشیه هم وګورۍ

چي په دې روپو سره مادماشومانو کار هم کولای شوای او تعليم يې هم حاصلولای شوای
، او تنګدستی به يې هم وربانـدی ورکه شوې وای ، اوس چې يو سړی دسل زره زياتي
روپو ته هم تيار دی ، کشر وررور دشريعت قانون غواړی ، مشر وررور دملينو مالک دی ،
کشر وررور دی دالله رضا خيال وساتی نه داچي حسد او کينه کوي.

جواب: - که تا په غور دسوال جواب کتلی وای نو دوهم ځل دسوال ضرورت به نه
ؤ ، کله چی تا ۲۵ زره روپۍ دامانت په ډول ورکړې دی ، او پر بيع کولو دی رضامندي هم
حاصله کړې نه ده نو مځکه ستا ملکيت ده ، ستا پر وررور واجب ده چې مځکه ستا په رضا
مندي سره خرڅه کړي او دهغه قيمت تاته حواله کړي ، ته ورته ۲۵ زره روپۍ بيرته ورکړه.

لقوله تعالى : يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَـٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَـٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ..... (سورت النساء : ۲۹)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱/ ۷/ ۱۳۹۷ (فتوی نمبر ۶۹۳/ ۲۸ ب)

دهندوانو دمتروکه جائداد قبضه کول او بيا پلورل

سوال: - کله چی هند تقسيم شو مهاجر پاکستان ته راغلل دهندوانو پر ډيرو ځايو
يې قبضې وکړې داسي هم وشول چې چاته خالی کور په لاس ورغی پر هغه به يې قبضه
کوله ، داډول ديوه سړي پر مځکه قبضه وشوه ، بل سړي ورڅخه رانيوله ، قيمت يې ورته
ورکړو ، کله چې يې ناپ کړه نو هغه ۳ يا ۲ مرلې زياته شوه ، اوس دهغې څه حل دی ؟
دهغه قيمت حکومت ته ورکړی او که يې دبائع ورثاؤ ته ورکړي او که هيڅ نه وکړي ؟ ولي
چی دقبضې او ملک څخه وروسته حکومت په خپله په اختيار کي واخستله ، دغه

معامله چې تقريبا ۳۸ کاله وړاندی تر سره شوې وه سائل متقي شخص دی وايي چې
دمرګ څخه وروسته زما غاړي وربانـدي بندي نه وي.

جواب: - ددې سوال جواب په دې تنقيح سره موقوف دی چې کومو خلګو په دې
علاقه دهندوانو څخه مځکه جائداد قبضه کړې ، هغه قبضه حکومت تسليم کړه ، او هغه
يې مالکان کړل که يا ؟ که مالکان کړل شوی وی نو بيا دغه بيع درست ده ، او کومه مځکه
چې زائد مشتري ته پاته شوې ده هغه قيمت بائع ته ردول ضروري ده ، که حکومت دغه
قابضين مالکان کړي نه وي او دا خبره مشتري ته هم معلومه وی نو دغه بيع صحيح نه
ده(۱) او زائد قيمت به خامخاحکومت ته ورکوي ، او څونه مځکه چې دوړاندي ده
رانيولې ده دهغه قيمت به هم حکومت ته ورکوي ، ، هو ! که چيري مشتری ته دا معلومه

---

(۱) ولی چي په دې صورت کی دغير مملوک بيع شوی چی جائز نه ده .
وفى جامع الترمذى وابى داؤد والنسائى عن عمر وبن شعيب ﷺ قال قال رسول الله ﷺ : لا يحل سلف وبيع ولا شرطان فى بيع ولا ربح مالم يضمن ولا بيع ماليس عندک (مشكوة المصابيح ص۲۴۸) .
وفى المرقاة ج ۶ ص۸۷ عن حكيم بن حزام ﷺ قال : نهانى رسول الله ﷺ ان ابيع ماليس عندي ، رواه الترمذي فى رواية له ولابى داؤد والنسائي ، قال قلت يارسول الله ! يأتينى الرجل فيريد مني البيع وليس عندي فابتاع له من السوق ، قال لا تبع ماليس عندک . هذا يحتمل امرين ... والثاني ان يبيع منه متاعًا لا يملكه ثم يشتريه من مالكه ويدفعه اليه وهذا باطل لانه باع ماليس فى ملكه وقت البيع وهذا معنى قوله (قال ولا تبع ماليس عندک) اى شيئًا ليس فى ملكک حال العقد .
وفى رد المحتار ج ۴ ص۵۰۵ وشرط المعقود عليه ستة : كونه موجودًا مالاً متقومًا مملوكًا فى نفسه وكون الملک للبائع فيما يبيعه لنفسه وكونه مقدور التسليم فلم ينعقد بيع المعدوم ... ولا بيع ماليس مملوكًا له ..... الخ
وفى بدائع الصنائع ج۵ ص ۱۴۶ ومنها وهو شرط انعقاد البيع للبائع ان يكون مملوكًا للبائع عند البيع فان لم يكن لا ينعقد .... وهذا بيع ماليس عنده ، ونهى رسول الله ﷺ عن بيع ماليس عند الانسان .
وكذا فى المبسوط للسرخسي ج۱۳ ص۸ وشرح المجلة ج۲ ص۳۴۹ .
وفى الدر المختار كتاب البيوع ج۵ ص۵۸ (طبع سعيد) وبطل بيع ماليس فى ملكه .

نوي چې قابض د مځکي مالک نه دی نو په دې صورت کي بائع باندي واجب ده چې هغه قيمت حکومت ته ورکړي ، او د حکومت څخه د بيع اجازت حاصل کړي ، بيا مشتري ته ورکړي او حکومت چي قيمت قبول کړي نو دا حکمًا اجازت دی (۱).

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲/۱/۱۴۱۱ھ (فتویٰ نمبر ۴۵/۸۵)

د مشتری د قبضې څخه وړاندي که مبيعه هلاک شي نو نقصان پر بائع دی

سوال: - مسمی حافظ عبدالرشيد صاحب يوه ګاميښه د بچي سره چي قيمت يې يو سل لس روپۍ دی ، به بيعانه کي يې پنځوس روپۍ بائع ته ورکړې ، او بائع وويل: حافظ صاحب ! دغه بچی يې څه وخت بيا يې ؟ حافظ صاحب وويل: ماښام يې بيايم او يا بله ورځ ، د بيع په وخت کي بچی بلکل صحيح سالم ؤ ، بيا حافظ صاحب حسب وعده دوهمه ورځ نه ولاړی، دريم ورځ چي کله راغی نو هغه بچی مړ شوی ؤ ، اوس بائع د بقايا قيمت حقدراه دی او که نه چی دادائيګي څخه پاته وې ، او که بائع و مشتری ته خپلي پيسې بيرته ورکړي ؟ شرعًا حکم څه ډول دی ؟

جواب: - په صورت مسؤله کي چی د بچی د مړيني نقصان يوائې پر بائع دیٰ ، بائع يوائې دا نه چي د باقي روپو حق دارنه دی ، بلکه هغه پنځوس روپۍ چي ده وصول کړي هغه به هم بيرته ورردوي ، ولي چي د فريقينو ترمنځ چی د بيعانې خبره شوې وه هغه د عقد بيع پر ځای وعده بلله کيږي ، نو د دې حکم ظاهر دی چی تر اوسه بيع نه ده شوې ، که دغه

(۱) او حقيقتًا يا حکمًا اجازت اخستل ضروری دی ، ولی چي د فضولي بيع د مالک د اجازت پوري موقوف ده ، عبارات او جزئيات ص۸۰ او ص۸۷ سره د حاشيې ملاحظه کړی.

عقد بيع وبلل شي نو بيا هم مشتری پر مبيع قبضه نه ده کړې ، او د قبضې څخه وړاندي مبيعه د بائع په ضمان کي دی .

قال فی رد المحتار وفی الفتح والدر المنتقی : لو هلک المبيع بفعل البائع او بفعل المبيع او بأمر سماوي بطل البيع ويرجع بالثمن لو مقبوضاً ..... (شامي ج۴ ص۴۲ قبيل باب خيار الشرط) (۱)

وفی الدر المختار ثم التسليم يكون بالتخلية علی وجه يتمكن من القبض بلا مانع ولا حائل وقال الشامي لو اشتری بقراً فی السرح فقال البائع : اذهب واقبض ان كان يری بحيث يمكنه الاشارة اليه يكون قبضاً .... الخ)ج۴ ص۴۳) (۲)

(۱) رد المحتار ج۴ ص ۵۶۰ (طبع سعيد) وفی فتح القدير ج۵ ص ۴۹۶ (طبع رشيديه کوټه) فلو هلک فی يد البائع بفعله او بفعل المبيع بنفسه بأن كان حيوانًا فقتل نفسه او بأمر سماوی بطل البيع فان كان قبض الثمن اعاده الی المشتری ..... الخ ، دا ډول خلاصة الفتاوی ج ۳ ص۹۰ (طبع رشيديه کوټه)

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ج ۴ ص۵۶۱ (طبع سعيد) وفی فتح القدير ج۵ ص۴۹۶ (طبع رشيديه کوټه) فی التجريد تسليم المبيع ان يخلی بينه وبين المبيع علی وجه يتمكن من قبضه من غير حائل . وفيه ايضاً ج۵ ص۴۹۷ (طبع رشيديه) اذا اشتری بقراً فی السرح فقال البائع اذهب واقبض ان كان يری بحيث يمكنه الاشارة اليه يكون قبضاً ..... الخ

وفی البحر الرائق كتاب البيوع ج۵ ص۳۰۸ (طبع سعيد) واما ما يصير به قابضاً حقيقة ففی التجريد تسليم المبيع ان يخلی بينه وبين المبيع علی وجه يتمكن من قبضه بغير حائل وكذا تسليم الثمن . وفيه ايضاً ج۵ ص۳۰۹ وكذا لو اشتری بقراً فی السرح فقال البائع اذهب فاقبض ان كان يری بحيث يمكنه الاشارة اليه يكون قبضاً .... الخ

وفی الهنديه ج ۳ ص۱۶ وتسليم المبيع هو ان يخلی بين المبيع وبين المشتری علی وجه يتمكن المشتری من قبضه بغير حائل ...... واجمعوا علی ان التخلية فی البيع الجائز تكون قبضاً .... الخ ۔

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳/ ۹/ ۱۳۹۷ه (فتوی نمبر ۹۴۶/ ۲۸ ج)

په رمضان المبارک کي دخوړلو شيان خرڅول

سوال: - درمضان المبارک په مياشت کي دروځي لمخي دخوړلو شيان خرڅول پر هغه سړي چي روژه خوري جائز دی او که نه؟

طلعت محمود، راولپنډي

جواب: - زما عزيز او مکرم ورور جناب طلعت محمود صاحب! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

په رمضان المبارک کي دخوراکي توکو خرڅول جائز دی، البته کوم څوک چي روژه خوري بغير دکوم عذري شرعي پر هغه سړي دورځي خوراکي توکي خرڅول جائز نه دی او که معلوم نوي چي هغه روژه خوري او که نه نو بيا هم جائز دی. (۱) والسلام

والله اعلم ۸/ شعبان ۱۴۰۸ھ

درادیو، ټیپ، ټي وي او وي سي آر کاربار کول

وکذافی خلاصة الفتاوی ج۳ ص ۸۹ (طبع رشيديه کوټه) وبدائع الصنائع ج۵ ص ۲۴۴ (طبع سعيد).

(۱) څنګه چي حضرت مولانا مفتی محمد شفيع صاحب رحمة الله عليه ددې دواړو صورتو حکم په دې ډول ذکر کړی دی که پلورلو والا علم نه وی چي هغه دانګورو دشيرې څخه شراب جوړوي يا کوم کور په کرايه ورکړي معلوم نه وی چی هغه څه ډول سکونت پکي کوي نو په دې صورت کي بيع او اجاره صحيح ده بې له کراهته، او که دا معلومه شي چي هغه ددې انګورې دشيري څخه شراب جوړوي يا ددې کور څخه دفسق او فجور کار اخلی نو بيا بيع او اجاره مکروه ده، او ګناه دعين سره متعلق وي نو بې دتغير او تصرف ... بيا مکروه تحريمي دی، تفصيل لپاره دحضرت مفتي مولانا شفيع صاحب رساله، تفصيل الکلام فی مسئلة الاعانة علی الحرام، او جواهر الفقه ج۲ ص۴۵۸ تر ۴۶۲ پورې ملا حظه کړی.

سوال: - درادیو، ټیپ، ټي وي او وي سي آر کار کول جائز دی که؟

طلعت محمود راولپنډي

جواب: - زما عزيز او مکرم ورور جناب طلعت محمود صاحب! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

درادیو، ټیپ، په کاربار کي څه مضائقه نشته لکن دټي وي او وي سي آر کاربار دکراهت څخه خالی نه دی. (۱) لهذا که کوم بل کار کولی شي نو ډيره غوره ده، حتی الامکان کوشش کول پکار دی چي بل کار وکړي.

والسلام ۷/ ۴/ ۱۴۱۴. (۱)

دوي سي آر کارکولو شرعي حيثيت په غلطي اخستل او بيا بيرته خرڅول

سوال: - يو سړي په حلال آمدني کي لس يا يوولس زره روپو وي سي آر سيټ واخست په کوم چي هغه خپله هم فلمونه کتل او نور بې هم ورباندي اخته کړي و. حق تعالی ددعوت او تبليغ په برکت هغه ته هدايت وکړو او دبدو کارو څخه يې توبه وايستله او دلمانځه او روژې پابنده شو. هغه اوس بلکل دهغه استعمال ترک کړو، هغه سوال

(۱) وفی بدائع الصنائع ج۵ ص۱۴۴ (طبع سعيد) ويجوز بيع آلات الملاهي من البربط والطبل والمزمار والدف ونحو ذلک ...... انه يمکن الانتفاع بها شرعاً من جهة اخری بان تجعل ظروفا لاشياء ونحو ذلک من المصالح ...... الخ

وفی الفقه الاسلامي وادلته ج۴ ص۳۰۲۹ (طبع دار الفکر) والضابط عندهم (ای عند فقهاء الحنفيه) ان کل مافيه منفعة تحل شرعاً فان بيعه يجوز لان الاعيان خلقت لمنفعة الانسان.

دادول دنورو حوالو لپاره راتلونکې صفحه او دهغه حواشي وګوری.

کوي چي که زه هغه وي سي آر وپلورم نو دهغه پيسې به ماته حلالې وی او که نه ؟ يا په کوم صورت ماته حلاليږي ، که يې خرڅ نه کړم او مات يې کړم نو زما زيات مالي نقصان کيږي ، کوم وخت چي هغه ما رانيولی ؤ نو دهغه روپۍ دحلال آمدني وې ، او بل دا چې که زه يې وپلورم نو هغه به ورباندې فلمونه ګوري ، نو ايا دهغه ګناه به دبائع په غاړه وي ؟

جواب: - دوي سي آر بيع او کار بار اختيارول په موجوده حالاتو کي درست نه دی . (٢) لکن اتفاقي صورت تاسي ليکلی په هغه کي هم دوي سي آر بيع دکراهيت څخه خالي نه معلوميږي ، او داحتياط خلاف(١) ده ، بيا هم که په صورت مسؤله کي که هغه يې خرڅ کړي چي په ځينو صورتو کي ورڅخه صحيح فائده هم اخستل کيدلای شي نو آمدني يې حرام نه بلل کيږي ، . (٣) والله سبحانه وتعالی اعلم

(١) ددې صفحې مذکوره فتوی حضرت مفتی صاحب دسائل موصوف دخط په جواب کي ليکلې ده .

(٢) وفی الشاميه ج٦ ص٢١١ ، ٢١٢ (طبع سعيد) وضمن بكسر معزف) بكسر الميم آلة اللهو وقالا لا يضمن ولا يصح بيعها وعليه الفتوی ملتقی .

وفی البحر الرائق ج٨ ص١٢٤ و١٢٥ (ومن کسر معزفاً ضمن) وهذا قول الامام وقالا لا يضمنها لانها معدة للمعصية فيسقط تقومها كالخمر ... والفتوی فی زماننا علی قولهما لكثرة الفساد .... (وصح بيع هذا الاشياء) وهذا قول الامام وقالا لا يجوز بيع هذه الاشياء لانها ليست بمال متقوم .

وفی الهنديه ج٣ ص١١٦ وماكان الغالب عليه الحرام لم يجز بيعه ولا هبته .

وفيها ايضاً ج٥ ص١٣١ ويجوز بيع البرط والطبل والمزمار والدف والنرد واشباه ذلک فی قول ابي حنيفة رحمه الله وعندهم لا يجوز بيع هذا الاشياء قبل الكسر .... الفتوی علی قولهما ..... الخ وكذا فی تنقيح الفتاوی الحامديه ج٢ ص٣٥٤ .

(٣) وفی رد المحتار ج٤ ص٢٦٨ (طبع سعيد) لا يكره بيع الجارية المغنية والكبش النطوح والديک المقاتل والحمامة الطيارة لانه ليس عينها منكراً وانما المنكر فی استعمالها المحظور .... وعرف بهذا انه لا يكره بيع مالم تقم المعصية به كبيع الجارية المغنية والكبش النطوح والحمامة الطيارة والعصير والخشب الذی يتخذ منه المعازف .

دفضولي دبيع يو مخصوص حکم

سوال : - يو مولوی صاحب زما په موجودګي کي داسي فيصله وکړه ، دهغه وينا ده چي دغه فيصله دشريعت مطابق ده ، دښځي دجهيز سره يې يو غويی ورکړو ، دکوم چي هغه مالک ؤ دهغې ميړه غوښتل چي په چالاکي دهغې څخه دغه غويی واخلی ، يو سړی يې خپلي ښځي ته وروليږو چي غويی ستا زوی غواړي ښځي هغه غويی خپل زوی ته دهغه سړي په لاس وروليږو ، کله چي ښځي ته معلومه شوه چي غوددې وزوی ته نه دی رسيدلی هغې ته تشويش پيدا شو او دغويی دبيوونکي شخص څخه يې معلومات وکړی چي هغه غويي دی څه کړو ؟ نو هغه سړي وويل چي هغه غويی په اصل کي ما ستا دميړه څخه رانيولو په سل روپۍ ، ښځي وويل : هغه غويی ماته په جهيز کي راکړل شوی ؤ ، هغه زما ملکيت دی ، تاڅنګه هغه واخست ؟ ماته خپل غويی بيرته راکړه ، ښځه پر خپل ميړه په قهر شوه ، چي تا ولی زما غويی خرڅ کړی دی ؟ ماته يې بيرته راکړه ، بائع پر ورور خرڅ کړی دی ، ښځي دهغه ورور ته وويل چي ماته خپل غويی راکړه ، هغه ورته وويل:

وفی بدائع الصنائع ج٥ ص١٤٤ (طبع سعيد) ويجوز بيع آلات الملاهی من البربط والطبل والمزمار والدف ونحو ذلک عند ابي حنيفة رحمه الله لكنه يكره وعند ابي يوسف ومحمد لا ينعقد بيع هذه الاشياء لانها آلات معدة للتلهی بها موضوعة للفسق والفساد .... ولابي حنيفة انه يمكن الانتفاع بها شرعاً من جهة اخری .

وفی فتح القدير فصل فی غصب مالا يتقوم ج٨ ص ٢٩٣ (طبع مکتبه رشيديه کوټه) ومن كسر لمسلم بربطاً او مزماراً او دفا او اراق له سكراً او منصفاً فهو ضامن وبيع هذا الاشياء جائز وهذا عند ابي حنيفة وقال ابو يوسف ومحمد رح لا يجوز بيعها ولابي حنيفة انها اموال لصلاحيتها لما يحل من وجوه الانتفاع وان صلحت لما لا يحل فصار كالامة المغنية وهذا لان الفساد لفعل فاعل مختار فلا يوجب سقوط التقوم .

وفی الدر المختار ج٦ ص ٣٩١ وجاز بيع عصير عنب ممن يعلم انه يتخذه خمراً لان المعصية لا تقوم بعينه بل بعد تغيره وقيل يكره لاعانته علی المعصية ... بخلاف بيع امرد ممن يلوط به وبيع سلاح من اهل الفتنة لان المعصية تقوم بعينه وكلا في امداد الفتاوی ج٣ ص١١٠ وراجع للتفصيل جواهر الفقه ج٢ ص٤٣٩ الی ص٤٦٢ (طبع مکتبه دار العلوم)

زما روپۍ راکړه چي زه خپل غويی بيرته درکړم ، دغوايي اخستونکی سړی دهغه سړی دورور څخه اوبښ دغوايي په مقابل کي واخست چي ښځه به دهغه دغوايي پيسې درکړي او غويی بيرته هغه ښځي ته ورکړه ، دوهمه ورځ هغه څلور کسان دځان سره بو تلل اوهلته دغوايي مالک ته ورغلل هغه ته يې وويل : مورږ ته غويی بيرته راکړی دهغې ښځي ميړه ورته وويل : غويی زمانه دی ، زما دښځي دی ، هغه يې نه خرڅوي ، اوس چي ما ستاسي څخه دغوايي سل روپۍ اخستې دي هغه د هغه څلور زرو څخه کمي کړه چي زما پر تا باندي دی ، هغه خلګ بيرته ولاړل چي څه په لاس ورنه غلل ، تقريباً پنځلس ورځی وروسته يي غويی دچراګاه لپاره وايست ، ښځي په تانه کي رپوټ وکړ ، معامله مولوی صاحب ته ورسيده چي هغه به ستاسي فيصله دروکړي ، دښځي ميړه بيان وکړی چي غويی ما نه دی خرڅ کړی بلکه ما دمځکي دجوړلو لپاره ورکړی دی ، کومي چي ما سل روپۍ ورڅخه اخستې دی هغه زما دڅلور زرو څخه وضع کړل شوې دی ددواړو تر منځ دغوايي درانيولو شاهد نهٔ ، دواړه دقرآن شريف وقسم ته تيارۀ و ويل کيدل چی غويی چی مورږ په شپه کي بوولی هغه غلا شوی نه دی بلکه هغه رانيولی شوی دی ، دوهم فريق وايي چی هغه ما خرڅ کړی نه دی ، که دی شاهد لري نو پيش دې کړي.

دمولوی صاحب فيصله

۱ : غويی خرڅ شوی دی ولي چی مالک دسل روپو په عوض دې ته تيارۀ چی خپل غويی بيرته راولي که داسي نه وای نو څه مصلحتۀ ؟

۲ : غويی غلا شوی نه دی ولي چی هغه رانيولی ۀ که جرم وی نو دغوايي خرڅوونکی ولي په تانه کي رپوټ کولو ؟ دښځي ميړه وايي چی غويی زما دښځي ملکيت دې زما څلور زره روپۍ دهغه څخه دی دغه سل روپۍ ماته راکړل شوې دی ، مولوی صاحب وويل : چی فيصله صحيح ده فريقين به يې قبلوي.

جواب : - که سوال کی درج شده واقعه درست وی ، نو غويی دهغې ښځي ملکيت دی ، که دهغې ښځي ميړه خرڅ کړی وی هم دا بيع صحيح نه ده ولی چی غويی دده نه دی مالکه يې ښځه ده ، چي هغې نه دی خرڅ کړی ، او نه يې دبيع اجازه کړی دی لهذا دغه بيع باطل ده (۱) اوس غويی اصلي مالکې ته رسيدلی دی نو دهغې څخه بيرته اخستل جائز نه دی ، البته که دهغې په خوښه سره کومه معامله تر سره شي نو بيله خبره ده ښځي چي داوو سوو روپو وړاندوينه کړې هغه شرعًا دبيع رضامندي نه ده و بلکه دغه دخپل ميړه ددين دادائيګي تبرعًا راضي کيدل دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ / ۱۱ / ۱۳۹۶ (فتویٰ نمبر ۲۷۶۰ / ۲۷ و)

سودی بينک لپاره مکان يا پلاټ دپلورلو حکم

سوال : - سودی بينک لپاره کوم مکان يا پلاټ پلورل جائز دی که نه ؟ دخرڅولو په صورت کی هغه روپۍ چی لاسته ورڅخه راشي حلالي دی که حرامي ؟

محمد عامر (استاذ جامعة الرشيد)

---

(۱) وفی الدر المختار ج۵ ص۱۰۶ فصل فی الفضولی هو من يتصرف فی حق غيره بغير اذن شرعی کل تصرف صدر منه تمليکًا کان کبيع وتزويج او اسقاطًا کطلاق واعتاق (وله مجيز) ای لهذا التصرف من يقدر علی اجازته حال وقعه العقد موقوفا .

وفی الهنديه ج ۳ ص۱۵۳ اذا باع الرجل مال الغير عندنا يتوقف البيع علی اجازة المالک .... الخ

وکذا فی مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر ج ۳ ص۱۳۴ .

وفی الهداية کتاب البيوع فصل فی بيع الفضولی ج ۳ ص۸۸ ومن باع ملک غيره بغير امره فالمالک بالخيار ان شاء اجاز البيع وان شاء فسخ .

وفی مجلة الاحکام کتاب البيوع رقم المادة ۳۶۸ البيع الذی يتعلق به حق الغير کبيع الفضولی وبيع المرهون ينعقد موقوفًا علی اجازة ذلک الآخر .

جواب: - چونکه دبینک اکثریت مال حرام نه وی په دې دپلورلو گنجائش معلومیږي لکن دکراهت تنزیهي څخه خالي نه دی (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ / ۲ / ۱۴۲۵

هغه ساعتونه چي په قاچاق راغلي وي دهغه حکم

سوال: هغه ساعتونه چي دخارج څخه په قاچاق راوړل کیږي رانیول یې څنګه دی چي په نصف قیمت پلورل کیږي؟

جواب: - که په هغو ساعتو کي درواغ او دبلي ګناه ارتکاب نه وي شوی نو قاچاقي شیانو رانیول جائز دی (۲)

الجواب صحیح / محمد عاشق الهی عفی عنه

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۷ / ۱۲ / ۱۳۸۷ (فتویٰ نمبر ۱۴۳۲ / ۱۸ الف)

دسګریټ خرید او فروخت کول

(۱) وفي رد المحتار ج۴ ص۲۶۸ باب البغاة (طبع سعید) قلت وافاد کلامهم ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریما والا فتنزیها (قوله نهر) وعبارته وعرف بهذا انه لا یکره بیع مالم تقم المعصیة به کبیع الجاریة المغنیة به والکبش النطوح والحمامة الطیارة والعصیر والخشب ممن یتخذ منه المعازف.

وکذا فی البحر الرائق ج۵ ص۱۴۳ (طبع سعید) وفی تنقیح الفتاوی الحامدیة کتاب الاجارة ج۲ ص ۱۵۳، ددې سره جواهر الفقه ج۲ ص۴۵۷ و تا ۴۶۲.

(۲) دقاچاق په اړوند دتفصیل لپاره ص۹۰ او دهغه سره حواشي ملاحظه کړی او په بیع کي درواغ او دوکه کول په تفصیل سره ص۱۰۲ تا ص۱۰۴ وګوری. (ژباړونکی: مفتي هبة الله مجاجر)

سوال: - سګریټ خرڅول څنګه دی؟ په دکان کي دنورو شیانو سره سګریټ خرڅول جائز دی که نه؟

طلعت محمود.

جواب: - دسګریټو خرڅول حرام نه دی (۱) مګر ښه هم نه دی کهددې څخه سوا بل کاروي نو ښه کار دی ورنه ګنجائش شته.

والسلام احقر محمد تقی عثماني عفی الله عنه ۵ / شعبان ۱۴۰۷

سګریټ خرڅول او دهغه څخه لاس ته راوړل شوی دګټي حکم

سوال: - دسګریټ کمپنی ګټه څنګه ده؟ او سګریټ څکول حرام دی که نه؟

جواب: - سګریټ څکول حرام نه دی، او دهغه څخه ګټه حاصلول حلال دی (۲)

الجواب صحیح / بنده محمد شفیع عفی الله عنه

احقر محمد تقی عثمان عفی الله عنه ۱۲ / ۲ / ۱۲۸۸ (فتویٰ نمبر ۷۱۷ / ۱۹ الف)

دقاچاق شرعي حیثیت

(۱) وفی الدر المختار ج۷ ص۴۵۴ (طبع سعید) وصح بیع غیر الخم ومفاده صحة بیع الحشیشة .... الخ

وفي تنقیح الفتاوی الحامدیه مسئل وفواسد شتی ج۲ ص۳۶۶ (طبع مکتبه حبیبیه کوټه) وبالجمله ان تثبت فی هذا الدخان ضراراً صرف خال من المنافع فیجز الافتاء بتحریمه ان لم یثبت انتفاعه فالاصل حله مع ان فی الافتاء بحله دفع الحرج عن المسلمین فان اکثرهم مبتلون بتناوله مع ان تحلیله ایسر من تحریمه وما خیر رسول الله ﷺ بین امرین الا اختار ایسرهما.

وفی مجموعة االفتاوی کتاب البیوع ج۲ ث۱۲۷ اما بیعها و شرائها فیجوز لامکان الانتفاع بها.

هم داړول فتاوی رشیدیه ص۴۸۸ او کفایت المفتی ج۹ ص۱۴۸ (طبع جدید دار الاشاعت)

(۲) ایضاً، مذکوره حواله مطالعه کړی.

سوال: - قاچاقي كول جائز دى كه نا جائز ؟ بعض حضرات دې ته جائز وايي ، او دحكومت دطرف څخه ورباندى بنديز دى او په دې كي دعزت هم خطره وى.

۲ : كه دملک وداخل ته دغه شيان ورسيږي او بيا على الاعلان پلورل كيږي نو دداسي شيانو رانيول او پلورل جائز دى ؟

۳ : ځيني خلگ دملک په سرحداتو كي اوسيږي مثلا ايران په سرحد كي او دا خلگ دپاكستان او ايران دواړو څخه خپل ضرورتونه پوره كوي ، دهغو لپاره دجواز صورت شته ؟

۴ : كه كوم سړى خپله ايران ته نه ځى بلكي دوستانو ته خط وليكي او سامان راغواړي ، او بيا يې رانيسى ، مثلا ايران څخه نن ورځ موټر سائيكلان دمكران دلاري څخه راځي هلته يې رانيسي او بيا په كراچي كي ورته كاغذات جوړوي ، ولي چي بغير دكاغذاتو څخه اجازت دچلولو نشته ، په كراچي په زر يا په يونيم زر روپۍ ورته كاغذات برابر كړي ، چي په دې كار سره عوام او خواص دواړه مبتلاء دى دا كار جائز دى؟

جواب: د ۱ : څخه تر ۴ : پورې په اصل كي شرعًا هر شخص ته دا حق حاصل دى چي په خپل مملوک روپو حخه دخپل ضرورت يا خوښ كړل شوى مال رانيسي چي غواړي هلته يې وپلوري ، (۱) لهذا دكوم ملک څخه مال راوړل او بيا خرڅول جائز دى او

(۱) وفى شرح المجلة للاتاسى رقم المادة ۱۱۹۳ ج ۳ ص ۱۳۲ (طبع مكتبه حبيبيه كوټه) كل يتصرف فى ملكه كيف شاء وفى شرح المجلة للاتاسى ج ۴ ص ۱۴۰ رقم المادة ۱۱۹۷ (طبع مكتبه حبيبيه كوټه) لا يمنع احد من التصرف فى ملكه ابداً الا اذا كان ضررة لغيره.
وكذا فى رد المحتار ج ۵ ص ۴۴۸ (طبع سعيد)

مباح دى (۱) لكن يو صحيح اسلامى حكومت كه دعام مسلمانانو په مفاد كي مباح شى بند كړي نو دهغه پابندي شرعًا لازمي كيږي (۲) اوس چي موجوده حكومتونه چونكه قوانين يې غير اسلامي دى لهذا ددوى دا اختيار نشته چى كوم صحيح اسلامي حكومت

(۱) وفى الهداية ج ۴ ص ۴۷۲ (طبع مكتبه رحمانيه) ولا ينبغي للسلطان ان يسعر على الناس لقوله عليه السلام : لا تسعروا فان الله هو المسعر القابض الباسط الرازق ولان الثمن حق العاقد فاليه تقديره فلا ينبغى للامام ان يتعرض لحقه الا اذا تعلق به دفع ضرر العامة.
وكذا فى بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۲۹ والدر المختار ج ۶ ص ۳۹۹.
وفى بحوث فى قضايا فقهيه معاصرة ص ۸ وللبائع ان يبيع بضاعته بما شاء من ثمن ولا يجب عليه ان يبيعه بسعر السوق دائمًا وللتجار ملاحظة مختلفة فى تعيين الاثمان وتقديرها ..... الخ ؟
(۱) ايضًا ، مذكوره حواله مطالعه كړى.
(۲) وفى احكام القرآن للمحدث العلامه ظفر احمد العثمانى رحمة الله عليه ج ۲ ص ۲۹۱ وهذا الحكم اى وجوب طاعة الامير يختص بما اذا لم يخالف امره الشرع يدل عليه سياق الآية فان الله تعالى امر الناس بطاعة اولى الامر بعدما امرهم بالعدل فى الحكم تنبيهًا على ان طاعتهم واجبة ما داموا على العمل آه . وكذا فى تفسير المظهري ج ۲ ص ۱۵۲ والجامع لاحكام القرآن ج ۵ ص ۲۵۹ .
وفى الدر المختار مطلب فى وجوب طاعة الامام ج ۲ ص ۱۷۲ (طبع سعيد) تجب طاعة الامام فيما ليس بمعصية وفيها ايضا ج ۶ ص ۴۶۰ وفى شرح الجواهر تجب اطاعته فيما اباحه الشرع وهو ما يعود نفعه على العامة وقد نصوا فى الجهاد على امتثال امره فى غير معصية .
وفى رد المحتار ج ۵ ص ۱۶۷ (طبع سعيد) قوله يعزر) لان طاعة امر السلطان بمباح واجبة وفى الدر المختار كتاب الجهاد باب البغاة ج ۴ ص ۲۶۴ تصرف الامام بالرعية منوط بالمصلحة.
وفى تكملة فتح الملهم ج ۳ ص ۳۲۳ وص ۳۲۴ (طبع مكتبه دار العلوم كراچى) المسلم يجب عليه ان يطيع اميره فى الامور المباحة فان امر الامير بفعل مباح وجبت مباشرته وان نهى عن امر مباح حرم ارتكابه ...... ومن هنا صرح الفقهاء بان طاعة الامام فيما ليس بمعصية واجبة .... هذه الطاعة كما انها مشروطة بكون امر الحاكم غير معصية فانها مشروطة ايضًا بكون الامر صادراً عن مصلحة لا عن هوى او ظلم لان الحاكم لا يطاع لذاته وانما يطاع من حيث انه متول لمصالح العامة آه.
وفى بحوث قضايا فقهيه معاصره ص ۱۶۶ (طبع مكتبه دار العلوم كراچي) كل من يسكن دولة فانه يلتزم قولاً اوعملاً بانه يتبع قوانينها وحينئذٍ يجب عليه اتباع احكامها ..... الخ.

ته حاصل دی ،لکن ددې حکامو په خلاف ورزي کي چونکه ډیر منکرات لازمیږی ، مثلا
دروغ ویل ، دخان او دمال خطره ، وغیره ، نو ددې قوانینو پابندي کول پکار دی (۱)
ددې څخه علاوه که څوک دکوم ملک ښاري شي نو هغه به قولا او عملا دحکومت پر
قوانینو او معاهدو پابندي کوي ، ددې معاهدې تقاضا داده چی تر څو دحکومت حکم پر
معصیت مشتمل نه وی نو دهغه پابندي لازمه ده ، (۲) دقاچاق معامله هم داسی ده ، چی
دبل ملک څخه مال راوړل یا ددې ملک څخه بل ملک ته وړل شرعًا جائز ده ، لکن
حکومت پر هغه پابندي لګولې ده او دپابندي خلاف ورزي کول دډیرو مفاسدو سبب
ګرزي نو په دې علماؤ دهغه څخه منع کړې ده او دهغه څخه یې داجتناب تاکید کړی دی.
والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۴/۷/۱۳۹۷ (فتوی نمبر ۲۸/۷۷۸ ج)

دپرچی په واسطه دخرید او فروخت کولو شرعي حکم

سوال: - وخدمت ته داقدس سیدي ومرشدي حضرت شیخ الاسلام مدظلهم
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
دالله تعالی څخه تاسي ته دعافیت غوښتونکی یم الله تعالی دی ستاسي صحت او
عافیت په برخه کړی ، او الله تعالی ستاسي فیض دا ناکاره بنده ته ورسوي
دلته په ځیره منډۍ کي په پرچی سره کاربار په یو صورت دی چي دشرعي حکم
دمعلومولو لپاره تاسي ته درلیږل کیږي ، ولی چی دکار باري طبقې خلک پر تاسي پوره
اعتماد لری غوښتنه کیږي چي تاسي یې ملاحظه کړی ، احقر به انشاء الله دنور وضاحت
لپاره پر تلیفون ددې کاربار نور وضاحت هم وکړي.
په آخر کي دشیخ صاحب څخه ددعاؤ درخواست دی

( ) ددې سره راتلونکي صفحه او حاشیه وګوری.
( ) ایضًا

والسلام خویدکم محمد عالمګیر غفرله دار الافتاء ځیره منډي فیصل آباد ۱۸/۶/۱۴۲۴ھ

دمسئلې دصورت تفصیل

ځیره منډي فیصل آباد کار بار یو صورت مروج دی چي یو سړی دکاندار څخه
ځیره اخلی دکان دار چي مال خرڅوی هغه دده په ګودام کي وي خریدار ته هم دګودام دمال
دموجودګي یقین وی سودا چي کله طی شوه نو هغه ته پرچي ورکول کیږي چي دې ته
(ډیلیوري آرډر) ویل کیږي هغه حواله کیږي ، ددې مطلب داوي چي که خریدار وغواړي
نو مال دګودام څخه ایستلی شي ، ددې پرچی دوصولي څخه وروسته ددې ګودام څخه
مال نه ایستل کیږي بلکه ددې پرچی په بنیاد بیا پر بل سړي پلورل کیږي دخرید او
فروخت کوونکی دمختلفو خلګو څخه دمعلوماتو کولو وروسته دغه امور مخته راغلل:

۱: کله چی پلورل شوی مال داول پلورونکي په ګودام کي موجود وي تر دې وخته
مال دهغه په ذمه کي وی ، که هغه مال هلاک شي نو نقصان درانیوونکی (چاچي پرچی
وصول کړې وي) دمال څخه نه بلکه دهغه اصل پلورنکي دمال څخه کیږي.

۲: دځیره په ګودام کي بوجی موجودي وي لهذا دخریدار مال په ګودام کي دنورو
مالو سره یوځای پروت وی ، ځانته کول یې ډیر مشکل وي ، که خریدار دمال دکتلو
غوښتنه وکړي نو هم یې نه شي لیدلی ولي چي هلته چوکیدار او نور ملازمین ورته وایي
چی ستا مال دنور مالو شاته دی هغه ته نه شې لیدلی ، لهذا مال پر خپل ځای پروت وي نو
دهغه لیدل نا ممکن وي.

۳: دپلورونکي ګودام کي ډیر زیات مالونه ځي او راځي دګودام والا هیڅ دا نه
وایي چی کوم مال چي تا رانیولی دی اوس یې حفاظت په خپله وکړه ، بلکه ډیر وخت هغه
پلورل کیږي ډیلیوري یې بدلیږي را بدلیږي لکن مال په ګودام کي پروت دی او دګودام

مالک ورباندي خبر هم نه وي چي مال دچا ملکيت دی ، ليکن که مالک وغواړي چي خپل مال نقل کړي نو هغه يې نقل کولی شي.

۴: دا پرچی (ډيليوري آرډر) په وقفه وقفه پلورل کيږي ، او مال داصلي مالک په ګودام کي پروت وي ډير څله هغه مختلفو نومانو ته بدل شي ، دا خبره يقيني وي چي تر ټولو وروستنی شخص داولني شخص څخه مال وصول کولی شي ، محض فرق دادی چي دمال يوځای کولو او ترتيبولو امکان نه وي ، په دې صورت کي دوقفې وقفې سره سم دمال تعين يا تفريق کولو ته دګودام مالک بالکل تيار نه وی ولي چي دهغه تعين مشکل وي.

دمذکوره صورت شرعي حکم باندی غور کولو سره دا خبره راووتله چي ډيليوري آرډر شرعي قبضه نه بلله کيږي ، ولي چي دپرچي دپلورلو باوجود مال په ګودام کي وي ، تر هغه وخته دده په ضمان کي وي ، دمارکيټ دعرف لمخي ددې مال ضمان خريدار ته منتقل کيږي ، لهذا په ګودام کي پروت مال په پرچي رانيول کيږي او بيا پلورل کيږي چي دغه بيع قبل القبض ده جائز نه ده.

په صورت دعدم جواز کی کله چي دمارکيټ دځينو ديندار اشخاصوسره خبره وشوه ، نو دهغه سوال داؤ که موږ دمارکيټ دعام عرف په خلاف ديانة رانيول شوی شي ذمه واري قبوله کړو او خدا نخواسته هغه مال په ګودام کي وسوځول شي او هغه مال ضائع شي نو موږ به دخپلو پارسلانو ذمه وار يو (اګر که خريدار ته ددې دضمان په باره کي ويل شوی هم نه وی ، ولي چي په دې صورت کی دپلورونکي دخيانت احتمال دی) نو بيا موږ يواځي پرچي وړاندي پر بل سړي پلورلی شو او که يا ؟

ددې سوال دجواب لپاره دفکر او مشورو وروسته دغه لاندي امور مخته راغلل چي تاسي ته نمبر وار وړاندي کيږي:-

۱: دقبضې بنيادی شی انتقال دضمان دی ، که کوم ځای حسی قبضه ونشي البته دپلورل شوي شی ضمان به پر خريدار وی ، نو داهم قبضه بلل کيږي ، ددې نظير دکمپنۍ حصص دی چي خريد او فروخت يې دسند په واسطه کيږي ، ظاهر چي دکمپنۍ پر اثاثاتو حسي قبضه نه متصور کيږي ، لهذا انتقال دضمان هم دقبض لپاره کافي شو (دملاحظه لپاره: فقهی مقالات ج:ص۱۵۴)

لهذا په مسؤله صورت کی هم که خريدار ذمه قبوله کړی نو دغه دقبض لپاره کافي دی او دپرچي پلورل ورته جائز دی.

لکن په دې صورت کی دجواز ورکولو څه سوالات شته هغه په لاندي ډول دی:

الف : دکمپنۍ حصص او مسؤله صورت دافرق واضح لري ، اول دا چی که دحصصو رانيوونکی غواړي چي په کمپنۍ کي خپل داثاثاتو تعيين وکړي نو دا ناممکن دی ، نو هلته يواځي ضمان کافي بلل شوی ، بخلاف دصورت مسؤله چی دلته دمال تعيين ممکن دی ، او په حقيقت کی مشکل کار دکار باري طبقې په ډير په تيزۍ وړاندي تلل دی ، نو دکمپنۍ حصص ددې سره نظير ورکول مشکل دی.

ب: بل دا چی دحصص دفروخت په صورت کي دکمپنۍ دکارباري خلګو تر منځ عرف دادی چي دحصې درانيولو سره سم دحصې ضمان خريدار ته منتقل کيږي اګر که دحصې سند يې لا تر اوسه نه وي لاس ته کړی ، او په مبحوث صورت کي داسي نه دی ولي دخلګو تر منځ ضمان پر رانيوونکی نه دی اګر که کوم شخص داسي وکړي هم دنور خلګو دغلط فهمي خطره ده ، خاص بيا چي په دې ډول سره خريدار دبل خريدار لپاره دخبرولو جوګه هم نه دی.

ج: دزباني خبرو په نتيجه کي داخبره منځ ته راغله چی دپرچی (ډيليوري آرډر) رانيووکی دمال ضمان ته هغه وخت تياريږی چی ټول مال په ګودام کي هلاک شي اګر خدانخواسته يواځی يوحصه دمال ضائع شي نو دهغه ضمانت نه قبلوي ولي چي دمال

تعین دلته دی او په دې کي دنزاع هم خطره ده ، ددې څخه ښکاره شوه چې خریدار مکمل دضمانت لپاره تیار نه وی ، او په کمپنۍ کي داسي صورت نه راځي ، ولي چي په کمپنۍ کي ټولي اثاثې مشاع وي او هغه ټول دکمپنۍ دخریدارانو ملکیت وی لهذا په حصصو کي چي ضیاع راځي او دهغه ضمان پر ټولو دحصصو پرمالکانو دحصو په اندازه تقسیمږی او هر یو یې ذمه دار وي.

د : آخري اشکال دادی چي محض پرچې په خرڅولو په جواز سره به ډېرو سټو (قماري) کاربار ته هم لاره هواره شي.

ددې څلورو واړو وجوهاتو پر بنیاد که خریدار دخپل طرف څخه دمال ذمه قبول کړی نو ددې په جواز ورکولو کي تردد دی.

۲ : بل تجویز دا هم دی چي کله مال ګودام ته لا داخل شوی نه وی نو دهغه څخه وړاندي پر هغه بوریو باندی سریل نمبر ولګوي نو کله چي فروخت ته وړاندي کیږي نو پر پرچې دي دهغه سریل نمبر ولیکي ، مثلا که سل بورۍ راونیسي نو دهغه دشروع او تمام سیریل نمبر معلوم کړي ، ددې فائده به داوی چي دمال دفروخت تعین یا افراز به کوم بل عمل ته ضرورت نه لري ، که خریدار دمارکیټ دعرف خلاف دمال ذمه پر خپله غاړه واخلي ، نو هغه ته به ممکن وی که دګودام مال څه هلاک شي نو دوی ته معلومول اسان وي ، او ددې په وجه به نزاع هم تریو حده رفع وي.

لکن په دې تجویز کي دوې خبري قابل غور دی:

الف: څنګه چي وړاندي ولیکل شول دمارکیټ عام عرف دادی چي مال چي تر څو په ګودام کي موجود وي نو ترهغه وخته دمالک دګودام په ذمه کي وي ، خریدار ته یې ضمان نه قبلیږي ، په مجوزه صورت کي دمارکیټ دعرف خلاف دیانة خریدار دهغه ذمه قبلوي ، او دذمه دقبلولو څخه فروخت کننده بالکل خبر نه وی ، ولي که دی پلورونکی په دې خبر کړي نو هغه به ورسره بې ایماني وکړي ، مثلا کوم دریم شخص ته به دده مال

ورکړي ، او بیا به وایي چي مال غلا شوی دی ، او چونکه ذمه یې تا په غاړه اخستې وه مال ضائع شوی دی زما ورسره اړه نشته ، په دې وجه پلورنکي ته خبره نه کوي ، اوس قابل غور خبره داده چي په دې ډول ذمه اخستل دقبضې لپاره کفایت کوی او که نه؟

ب: پر بوریانو باندی دسیریل نمبر لیکل اوس هم عملي دي ، خو دتجارو دشرعي احکامو سره قلت داعتناء دی او دحلال او حرام په فکر نه دی ، په ظاهر په دې باندي عمل نا ممکن دی څو محدود کسان دې کار ته حاضر دی ، لکن هغه یوائې رانیوونکی دی نه دا چي هغه دګودام مالکان دی ، نو ددې تجویز یوائې دتصور تر حده ممکن دی ، دکوم چي عملي وجود ممکن نه دی.

۳ : دا ټول تفصیل په دې صورت دی کي دځیرې پلورل شوی مال وړاندي دپلورلو لپاره شرط وبلل شي ، څنګه چي دحنیفیهؤ او شافعیهؤ مذهب دی ، لکن دمالکیه مذهب دادی چي یوائې دطعام بیع قبل القبض جائز نه ده ، ددې څخه سوا نور شیان قبل قبض جائز دی ، دامام احمد رحمة الله علیه څخه هم یو روایت دادی ، په دې وخت کي دځیري دمارکیټ یو عامه ابتلاء ده ، او دمارکیټ حال دادي چي یوائې څه کسان دیته تیار دی چي قبل القبض یې ونه پلوري ، مګر دعامو خلګو په اعتبار دغه ممکن نه دی ، په دا خبره یو تجویز داهم دی چي دمالکیهؤ په مذهب فتویٰ ورکړل شي ، ولي چي په معاملاتو کي توسیع شته ، چي پر مذهب دغیر هم ځینو وختو کي فتویٰ ورکول جائز دی ، او ددې نظائر هم زیات دی ، دا ډول دکار بار طریقه چي خلګو کي رواج شي دهغه څخه دخلګو راګرزول ممکن نه وي او دحرج باعث وی ، علامه شامي رحمة الله علیه دمیوو په بیع کي دیو صورت دظاهر الروایة څخه دعدول کولو وجه داسي بیان کړې.

(قوله وافتی الحلواني بالجواز) وزعم انه مروی عن اصحابنا وکذا حکی عن الامام الفضلی وقال استحسن فیه لتعامل الناس وفی نزع الناس عن عادتهم حرج قال فی الفتح : وقد رأیت روایة فی نحو هذا عن محمد فی بیع الورد علی

الاشجار فان الورد متلاحق وجوز البيع فى الكل وهو قول مالك قال الزيلعي :
وقال شمس الائمة السرخسي : والأصح انه لا يجوز لان المصير الى مثل هذه
الطريقة ... عند تحقق الضرورة ولا ضرورة هنا لانه يمكنه ان يبيع الاصول على ما
بينا .... قلت : لكن لا يخفى تحقق الضرورة فى زماننا ولا سيما فى مثل دمشق
الشام كثيرة الأشجار والثمار فانه لغلبة الجهل على الناس لايمكن الزامهم بالتخلص
بأحد الطرق المذكورة ، وان أمكن ذلك بالنسبة الى بعض افراد الناس لا يمكن
بالنسبة الى عامتهم وفى نزعهم عن عادتهم حرج كما علمت (شامي ج ۴ ص ۵۵۵)
لكن په مبحوث عنه صورت كى دمالكيهؤ دمذهب مطابق بيع قبل القبض دجواز
فتویٰ كي دستې دروازه هم دخلاصيدلو خطره ده په خاطر دجواز دفتوى په وركولو كي
تردد دى.

محترم مفتى صاحب ستاسي څخه جدي غوښتنه ده دمذكوره مسئلې په اړه خپله
قيمتي رائ ښكاره كړې ، او دوړاندينيو صورت څخه كوم صورت چي زيات مناسب وي
هغه په ګوته كړې او يا هم كوم بل صورت چي ستا دذهن سره مناسب وي هغه تحرير كې.
فقط والله سبحانه وتعالى اعلم محمد عالمګير غفرله دار الافتاء ځيره منډۍ
فيصل آباد ۱۴۲۴/۲/۱۷هـ

جواب : - دپرچې په واسطه دپلورلو او رانيولو مروج طريقه كي دوې خرابياني
دى يو دا چي دمبيعى تعين نه وي ، بل دا چي بيع قبل القبض راځي ، لهذا دا طريقه جائز
نه ده (۱) داولي خرابي په صورت كي دمالكيهؤ پر مذهب هم بيع جائز دنه ده بلكه په
موجود دور كي دستې وغيره دخرابيو څخه دساتلو لپاره ضروري ده چې پر دې فتویٰ
ورنه كړل شي په خپله مالكيه علماء هم پر دې باندى په فتوى وركولو كي تردد كوى ،
البته په مذكوره كاربار كي جائز صورت دادى چي پر بوريو باندى نمبر وليكل شي

دخريداري پر وخت دنمبرو په واسطه تعين وكړل شي ، (۲) او پرچې باندي هم هغه نمبر
ليكل شوى وي ، او بائع دي هم دخپل طرف څخه تخليه وكړي ، يعني رانيوونكي ته دي
ووايي چى دغه ستا بورۍ دى ، كله چي غواړي نو وړلى يې شې ، زه اوس ددې بوريو
ضامن نه يم ، تر څو چي زما په ګودام كي وي نو امانت به وي ، زه دهغه دنقصان ذمه وار نه
يم داخبره دى پر پرچې هم وليكي ، په دې صورت كي مبيع به هم متعين شي ، او ضمان به
هم دبائع په تخليه سره مشتري ته منتقل شي ، او خريدار ته به وړاندي دپلورلو جواز هم
پيدا شي ، (۳) يواځي خريدار ته دا خبره كفايت نه كوي چى زما په ضمان كي راغى كه بائع
يې په خپل ضمان كي بولي او كه نه ، عرف هم داوي چى ضمان دبائع څخه نه ختميږي.

والله سبحانه وتعالى اعلم بنده محمد تقى عثماني عفى عنه ۲۲/۲/۱۴۲۴ (فتویٰ
نمبر ۴ / ۲۴۴)

دژوندي حيوان په تول سره دپلورلو حكم

(۱) بيع قبل القبض دعدم جواز سره اړوند تفصيل لپاره ۸۲ او ۲۲۳ دحاشيو سره ملاحظه كړى.

(۲) وفى مواهب الجليل لشرح مختصر الخليل ج ۶ ص ۸۵ (طبع دار الكتب العلمية بيروت) وجهل بمثمون او ثمن ولو تفصيلا يعنى ان من شرط صحة البيع ان يكون معلوم العوضين فان جهل الثمن او المثمون لم يصح البيع وظاهر كلامه انه متى حصل الجهل بأحد العوضين من المتبايعين او من احدهما فسد البيع وصرح بذلك الشارح فى الكبير وهو ظاهر التوضيح ايضاً.

(۳) وفى الهدايه ج ۳ ص ۱۶ ويعتبر فى التسليم ان يكون المبيع مفرزاً غير مشغول بحق غيره هكذا فى الوجيز للكردي واجمعوا على ان التخلية فى البيع الجائز تكون قبضاً ..... الخ
وفى البدائع ج ۵ ص ۲۴۴ فالتسليم والقبض عندنا هو التخلية والتخلى وهو ان يخلى البائع بين المبيع وبين المشترى برفع الحائل بينهما على وجه يتمكن المشترى من التصرف فيه فيجعل البائع مسلما للمبيع والمشترى قابضاً له. آه ددې سره ۸۳ حاشيه هم ملاحظه كړى.

سوال : - نن صبا ژوندي حيوانات لکه چرګان ، وزې وغيره په تول سره پلورل کيږي په دې باره کي ستاسي محترم څه رائ ده ؟ (مفتی عبدالواحد)

جواب : - تاسي چي دکوم شي په باره سوال کړې ده دهغه باره کي داحقر څه رائ ده ؟غالبًا ستاسي مقصد به داوی چي دغه شيان عددی دی او اوس په وزن سره پلورل کيږي نو هغه اوس وزني دی ؟فی الحال داحقر جواب په نفی سره دی زما خيال دادی چی اوس هم هغه دعددي ؤ څخه دي او دهغه تلل يواځي ددې لپاره دی چی دهغه انتخاب په تول سره وکړي ، دوزني معنی داده چی هغه مشتري څونه وزن غواړی ، کله چي يې غواړي ، رانيولی يې شي ، په چرګانو او وزو کي دا ممکن نه دی لهذا امر واقعه دادی چی په تللو سره يواځي دا مقصد وي چي ددې حيوان څونه وزن دی ؟کله چی داخبره په تلله سره واضح شي نو سودا عددًا وي ، لهذا داعددی دی . والسلام

محمد تقی عثماني اول دصفر المظفر ۱۴۱۲هـ (۱)

(۱) دحيوان هميشه عددی پاته کيدلو او په وزن سره دفروخت کولو اړوند دټولو امورو وضاحت او حکم دمفتي صاحب په لاندي فتویٰ کي ملاحظه کړی .

دژوندي حيوان په تول سره دپلورلو حکم

سوال : - دعلمائي کرامو دلاندي سوال په اړه څه رائ ده چي ژوندي حيوان مثلا چرګ ، وزه وغيره په وزن سره پلورل جائز دي که نه ؟

الجواب حامدًا ومصليًا

که پلورونکي او رانيوونکی دژوندي حيوان په پلورلو ، او رانيولو راضي وي نو دژوندي حيوان په وزن سره رانيول او پلورل په نقد سره يا کوم بل جنس سره جائز دی ، په دې شرط چي دمتعين حيوان دکلو وغيره نرخ وار دمخه لا متعين شي او دحيوان دتللو وروسته هم دهغه قيمت معلوم شي ، چي هغه صورت به داوی چي که رانيوونکی ته ديوې وزې ضرورت وی نو هغه دی تاجر ته ورشي او وزه دی منتخب کړی ، او تاجر دي ده ته ووايي چی ددې وزې نرخ في کلو پنځوس روپی دی ، او بيا دی وزه

وزن کړی مثلا هغه شل کلو راغله نو که مشتري هغه قبول کړی بيع منعقد کيږي ، او داډول خريد او فروخت کول جائز دی .

په مذکوره مسئله کي دا خبره ضروري ده چي دلته دوې خبري دی يو دا چی حيوان به وزن کيږی او بيا به پلورل کيږي ، بل دا چی حيوان موزوني وبلل شي او دموزوني اشياؤ فقهي احکام ورباندي جاري شي ، نو داولي خبري په اړه بايد وويل شي چي هغه بلا شبه جائز ده ، او دهغه دعدم جواز کومه شبه نشته .

لکن دوهمه خبره چي حيوان موزوني وبلل شي او دموزوني اشياؤ حکم ورته ورکړل شي نو دا خبره صحيح نه ده ، ددې دوې وجي دی :

۱ : اول وجه داده چی دکومو شيانو کيلي ، وزنی يا عددي رسول الله ﷺ په مبارک عهد کي منصوص دی دهغه حيثيت نه بدليږي ، او درسول الله ﷺ په وخت کي حيوانات دعددي ؤ څخه دی ، البته کوم شي چي هغه وخت وزنی يا کيلي بلل منصوص نه وی نو دهغه مدار پر عرف باندی دی ، دهغه عرف پر کيل کولو دی ، نو هغه کيلی دی او که دهغه عرف په وزن سره وی نو هغه وزنی دی څنګه چي په عالمګيريه کی دی :

ومالا نص فيه ولم يعرف حاله علی عهد رسول الله ﷺ يعتبر فيه عرف الناس فان تعارفوا کيله فهو کيلی وان تعارفوا وزنه فهووزني کذا في المحيط (العالمګيريه ج۳ ص۱۱۷) نو چي دحيوان عددی کيدل درسول الله ﷺ په زمانه کي معلوم دی نو دهغه حيثيت وزنا په بيع کولو سره نه بدليږي ، دا ځانته خبره ده چی بيع يې په وزن سره جائز ده ، لعدم المانع .

۲ : دوهم وجه يې داده چي نور شيان چي وزني دی هغه حسب منشأ کم او زيات کول جائز دی ، مطلب دا چی نور شيان چي موزوني دی چي څونه مقدار مطلوب وی نو هغه بلاتکلف وزن کيدلی شي ، مثلا بوره ۲۰ کلو ۱۵ کلو ګرام ضرورت شي نو هغه بلا تکلف په مطلوب مقدار سره په اسانی سره وزن کيدلی شي ، او حيوان داسي نه دی ولي چی څوک وغواړي چي پنځلس يا ۲۰ کلو ګرام وزه واخلي نو هغه به ډير کم په بازار کي موجود وی چي په ظاهر محال ده ، نو په دې سره ښکاره شوه چي حيوان وزنی نه بلکی عددي دی .

په دې سره داخبره هم واضح شوه که بالفرض حيوان په ټوله دنيا کي په وزن سره بيع شي نو هم حيوان وزني نه بلکي عددی دی ولي چي دموزوني اشياء صفات دلته موجود نه دی .

دمذکوره تفصيل وروسته دحيوان دبيع په وزن سره دجواز حاصل دادی چی دکلو دحساب سره دحيوان قيمت معلومول دی ، چي په دې بنياد سره دحيوان دقيمت اندازه معلومه شي نو په صورت مذکوره کي

وزن یوائحي دقیمت دمتعین کولو یوه آسانه وسیله ده ، اګر که په عرف کي دا بیع بالوزن وبلل شي ، لکن په حقیقت کي ددې په وزن سره بیع محل تامل ده ، البته بیع په هر حال کی جائز ده خاص بیا چي حیوان متعین وی ، او قیمت یې هم متعین شي . فافهم

دحیوان په ترازو پلورلو کي کله ناکله ځینو خلکو ته څه اشکالات پیدا کیږي ، نو په دې وجه دهغو اشکالات او بیا مختصر جوابات وړاندي کیږي :

۱ : اولنی اشکال دادی چی داسي ویل کیږي لیس بموزون یعنی حیوان وزنی نه دی ، او دفقه په کتابو کی دا په صراحت سره ویل شوی ، لکن تاسي وایاست په وزن سره یې پلورل جائز دی ، فکیف التوفیق ؟

نو ددې جواب دادی : دا خبره هلته کیدلای شي چی بیع حقیقتاً په وزن سره وای لکن په حقیقت کي بیا هم وزني نه ده څنګه چي وړاندي ددې وضاحت وشو ، لکن که دغه بیع وزناً وبلل شي ،ولو عرفاً ومجازاً نو ددې هم وړاندي تفصیل په وضاحت سره وشو ، دواړه ځانته خبري دی ، لیس بموزون ، ددې مطلب دادی چی پر دې دوزني اشیاؤ احکام نه جاری کیږي ، مثلاً قرض په کي جائز نه دی ، ربا الفضل په کي روانه ده ، وغیره وغیره ، ددې مطلب داده دی چی بیع یې وزنا جائز نه ده بلکي حدیث شریف کي راځي : اذا اختلف النوعان فبیعوا کیف شئتم ، عمومي ددې بیع دجواز مؤید دی ، دا حدیث امام مسلم په کتاب المساقات کي او ابوداؤد په کتاب البیوع کي نقل کړی دی ، بل دا چی دیو شی دبیع لپاره دوزن دجواز لپاره موزونی کیدل ضروري او شرط نه دی ، ډیر داسي شیان دی چی موزوني نه دي لکن په وزن سره یې خرید او فروخت کیږي ، مثلاً جامه بالاتفاق مذروع ده یعني په ناپ سره ده ، لکن په غټو ښارو کی په وزن سره په لاټو پلورل کیږي ، نو که جامه متعین وی او نرخ هم طی شوی وی نو په دې ډول پلورل بلا شبه جائز دی وغیره وغیره ددې ډول ډیر مثالونه دی .

۲ : دوهم دا اشکال کیږي چي دحیوان وزن پوره معلومول سخت دی ، لانه یخفف نفسه مرة ویثقله اخری، یعنی کله هغه سپک او کله هم ځان دروند کړي ، دا په کتاب کي هم ذکر شوی

ددې جواب دادی : چی اول داخبره یقین نه ده حیوان سپک او دروند کیدلی شي بلکی دا صرف یو احتمال دی ، او دغه عبارت په کتب فقه کي په باب دربا کي ذکر شوی ، او په باب دربا کي تفاضل احتمالاً هم ممنوع دی څنګه چي په شامی کي دی، فانه لا یصح لاحتمال الربا واحتماله مانع کحقیقته (شامی ج۴ص۵۳۱) لهذا که حیوان دغوښي په مقابل کي وپلورل شي نو په هغه کي احتمال دربا راځي او که دنقد په مقابل کي وي نو یوائحي دغه احتمال دمنع لپاره کافی نه دی .

ثانیا داخبره چی حیوان خپل ځان سپک او دروند ښکاره کوي تسلیم شي ، نو دعدم جواز لپاره دلیل نه شي کیدلای چي بیع دروپو په عوض سره وی ، ولي چي که دحیوان په دې عمل په هغه کي فرق راشي نو هغه ډیر کم وي او جهالت یسیره به لازم شي په عامو بیوع کي جهالت یسیره فرق نه راولي ، او دجهالت یسیره وجه چا معتبر کړې نه ده ، په شامي کي راځي (وقیدنا بالفاحشة لما قالوه لو باعه جمیع مافي هذا القریة او هذه الدار والمشتری لا یعلم ما فیها لا یصح لفحش الجهالة ، اما لو باعه جمیع ما فی هذا البیع او الصندوق او الجوالق فانه یصح لانه الجهالة یسیرة (شامي ج۴ ص۵۲۹) ، او دا هم ده چی دلته بائع او مشتري په جهالت سره راضی دی او دنزاع احتمال نشته ، نو که حیوان په حالت دوزن کي ځان خفیف کړي یا ثقیل کړی دهغه علم بائع او مشتري دواړو ته نشته ، حالانکه په خفت کي دبائع نقصان دی چي دلږ وزن روپۍ ورته ورکول کیږي او په حالت دثقل کی دمشتری نقصان کړی دی چي زیاتي روپۍ ورباندي راځي ، لکن دوی دواړه پر خپل ځان ددې نقصان برداشت کړی ولي چي بیع بالتراضي شوې ، لهذا جهالت یسیره په بیع کي دعدم جواز دلیل نه عرفاً او شرعاً کیدای شی .

ثالثاً که موږ دا هم نه تسلیمهؤ چی کله بیع دروپو په عوض کي وی دا اشکال دی وارد شي ، ولي چي بیع دوزن په وقت کی معتبره ده که په حالت دخفت کي وی او که دثقل کي وي ولی چي په حالت دخفت کی دانه دی ویل شوی چی دحیوان څخه کوم شی ایستل شوی دی ، دهغه په وجه وزن کم شو ، یا په حالت دثقل کی دا نه شي ویل کیدلای چی دهغه وزن سره کوم شی شامل شوی دی چي په هغه سره وزن زیات شو بلکه هر سړی داوایي که په حالت دثقل کي وی او که په حالت دخفت کي وي : دادهغه حیوان وزن دی لهذا په حالت دوزن کي دحیوان بیع معتبر ده او دې وزن سره بیع صحیح ده .

۳ : دریم اشکال دا دی چی ځیني خلک دا ویلی شي : لایجوز بیع صبرة طعام کل قفیز بدرهم ، په دغه ډول دغه بیع جائز نه ده ولي چي دلته دا علت دی چي مبیع او ثمن مجهول دی دا معلومه نه ده چی په دې صبره کي څو قفیزه دی ، او څو درهم به شي .

ددې جواب دادی : چی بیع دحیوان دوزن په صورت کي دجواز دا قید شته چي حیوان دمشتري په وړاندي وزن شي ، چي جهالت رفع شي هم په مبیع او هم په ثمن کي ، په دې صورت کي بیع جائز ده په خلاف دصبرة طعام چي هغه ناجائز ده هلته هم دا قید لګیدلی دی چی کچیري هغه صبره په مجلس کي ناپ شي او کل مقدار یې معلوم شي نو جائز ده ، : وصح في الکل ان کیلت فی المجلس لزوال المفسد قبل تقرره او سمی جملة قفزانها (الدرالمختار ج۴ ص۵۳۹) او په دې بحث کي علامه شامي لیکلی دی : واراد اصبرة مشیراً الیها کما سیأتي ولیست قیدا بل کل مکیل او موزون او معدود من جنس واحد (فتاوی شامی ج۴ ص۵۳۹) یعنی یوائحي دصبرة طعام حکم دا ندی بلکي دهر کیلي او وزني او

فصل فی الغرر والعيب

(بيع کي د دوکې او عيب بيان)

اصلی ډبو کي بل قسم تيل اچولو حکم

سوال: - زه د تيلو کار کوم هغه تيل چی په ډبو کي بنديږي ، هغه د مختلفو کمپنيو وي ، لکن ډير خلک داسي وي چي د اصلي کمپنۍ په خالي ډبو کي د خپل ځان څخه تيل اچوي او د اصلي کمپنۍ مهر او قيمت ورباندي ولګوي خرڅه وي يې چي ۷۵ فيصده په بازار کي دغه ډول تيل خرڅيږي ، او خلک يې د اصل په ګمان رانيسي ، او که د اصلي کمپنۍ تيل په زيات نرخ وپلورې نو خلک يې نه رانيسي او اصلي تيل په بازار کي په حقيقت کي پيدا کيږي هم نه ، او کله که پيدا شي نو ر ډير ګران وی ، اصل تيل په بازار

عددي شي دکوم چي وزن کړل شي وپلورل شي دهغه هم دا حکم دی ، چي کل معلوم شي نو بيع صحيح ده .

دمذکوره بالا ذکر شويو دجواز ممکنه وجوهات اوجوابونه شوی ، دهغه څخه علاوه بله کومه وجه موږ دعدم جواز پيدا نکړه . فاغتنم تحقيق هذا المقام بما يرفع الظنون والاوهام ويندفع به التناقض واللوم عن عبارات القوم والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب وعلمه اتم .

العبد الضعيف

الياس زمان رکن پوري

دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي ۱۴

الجواب صحيح / احقر محمود اشرف غفرله / ۱۷/ ۱۴۲۲ هـ .

الجواب صحيح / عبدالله عفی عنه / ۲۳/ ۱/ ۱۴۲۲ هـ

الجواب صحيح / احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه /۲۱/ ۱/ ۱۴۲۲ هـ

الجواب صحيح / محمد عبد المنان عفی عنه / ۲۲/ ۱/ ۱۴۲۲ هـ

الجواب صحيح / بنده عبدالرؤف سکهروی / ۲۲/ ۱/ ۱۴۲۲ هـ

کي دومره ناپيد دی چی دوه ځله ما کرايه هم مصرف کړه او پيدا مي نکړل ، د دې پر ځای هغه تيل چی اصلي نه دی هغه د اصلي په نام ورکوم ولي چي اصلي تيل د کمپنۍ د پلورونکو سره هم نشته ، موږ چي يې د دکاندارانو څخه راوړ څنګه چي هغه يې موږ ته په کوم نامه راکوي موږ يې هم په هغه نامه پلورو ، ايا په دې ډول بيع جائز ده که حرام ؟

جواب : - که تاسي خپلو ګراکانو ته حقيقت څرګند کړی نو بيا تاسي ته دا تيل پلورل جائز دی (۱) او ښه طريقه دا ده چی تاسي اصلي تيل هم د ځان سره کښيږدی او دغه

«»«»

(۱) وفی صحيح البخاري ج۱ ص۲۷۹ (طبع قديمي کتب خانه) عن حکيم بن حزام ؓ قال قال رسول الله ﷺ : البيعان بالخيار مالم يتفرقا او قال : حتی يتفرقا ، فان صدقا وبينا بورک لهما فی بيعهما وان کذبا وکتما محقت برکة بيعهما ، وفيها ايضاً قبله بيع المسلم المسلم لاداء ولا خبثة ولا غائلة ...... وقال عقبة بن عامر لا يحل لامرئ ان يبيع سلعة يعلم ان بها داءً الا اخبره ...... الخ

وفی مشکوة المصابيح ص۲۴۹ (طبع قديمي کتب خانه) من باع عيباً لم ينبه لم يزل فی مقت الله او لم تزل الملائکة تلعنه . (رواه ابن ماجه)

وفی تکملة فتح الملهم ج۱ ص۳۷۷ عن حکيم بن حزام ؓ عن النبي ﷺ قال : البيعان بالخيار مالم يتفرقا فان صدقا وبينا بورک لهما فی بيعهما وان کذبا وکتما محق برکة بيعهما . رواه مسلم قوله فان صدقا وبينا ای صدق البائع فی اخبار المشرتي صفة المبيع وبين العيب ان کان فی السعة

وفی البحر الرائق : کتمان عيب السلعة حرام (ج۶ ص۲۵)

وف الدر المختار ج۵ ص۴۷ (طبع سعيد) لا يحل کتمان العيب فی مبيع او ثمن لان الغش حرام آه

وفی الشاميه : ذکر فی البحر اول الباب بعد ذلک عن البزازيه عن الفتاوی : اذا باع سلعة معيبة عليه البيان (ج۵ ص۴۷)

وفی الهنديه ج۳ ص۲۱۰ رجل اراد ان يبيع السلعة المعيبة وهو يعلم يجب ان يبينها فلو لم يبين قال بعض مشائخنا يصير فاسقاً مردود الشهادة وقال الصدر الشهيد : لا نأخذ به کذا فی الخلاصة .

وفی الفتاوی البزازية علی هامش الهندية ج۴ ص۵۱۲ (طبع رشيديه کوته) وفی الفتاوی : اذا باع سلعة معيبة عليه البيان ..... الخ

دوهم ډول يې هم دځان سره كنبيږدي، او خريدار ته دواړه ورښكاره كړي او ددواړو فرق ورته واضح كړي بيا يې ورباندي وپلوري (۱)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۸/ ۱۲/ ۱۳۹۷هـ (فتویٰ نمبر ۱۲۹/ ۲۸ج)

په بل چا شی جوړ كړي او خپل نوم دورباندي دليكلو حكم

سوال: - حكومت سندهـ قانون دادی چی دتول او دترازو وتې برابروي او پر هغه خپل نوم ليكي يعنی دمجبوري په وجه زه خپل مال نه شم جوړولی او دپنجاب په نورو كارخانو كي مال جوړ كړي ، او پر هغه باندي خپل نوم وليكي ، ولي دی وايي : كه دپنجاب دحكومت نوم ورباندي وليكم بيا دسندهـ حكومت جواز نه وركوي ، او زما سند دسندهـ دی دهغه كلنی جريمه هم وركوم ، دهغه نوم داډول ليكل كيږي چي دهغه نوم عبدالشكور دی دی يواځي مخفف حروف ورباندي ليكي زما نوم محمد غياث دی په نوم كي يواځي (جي ايچ) وليكم په دې زما دوكه مقصود نه وی بلكه حكومت سندهـ دشرط پوره كولو لپاره وی ، ايا داسي كول جائز دی. ؟

جواب: - كه دغه مال دسندهـ دمروجه وزن او پيمانې سره برابر وي ، كومه كمي او زياتوب نه وي او ته يې په پنجاب كي جوړوې او مال ټول ستا ملكيت وی ، نو ته پر هغه خپل نوم ليكلی شې ، مګر كه دهغه وزن څخه كم وي چي په سندهـ كي مروج دی ، نو دا

وكذا فی امداد الفتاوی ج۳ ص۴۳ وامداد الاحكام ج۳ ص۴۰۳ وكفاية المفتی باب نمبر ۷ج۸ ص۲۰ ، ددې سره راتلونكې صفحه سره دحاشيې وګورئ.
(۱) ايضاً.

دوكه كول دی جائز نه دی (۱) خلاصه داده چي درواغ او دوكه كه دپنجاب په مال كي نه وي نو خپل نوم ورباندي ليكلو كي حرج نشته (۲)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۲/ ۲/ ۱۳۹۷ (فتوی نمبر ۲۰۴/ ۲۸ ج)

په پاكستان كي جوړشوي شی باندي دامريكا يا ايټاليا نوم ليكل او دخرڅولو حكم

سوال: - په داسي حال كي چی ما دخپل سرمايې دلوړي او دتجارت كولو عزم وكړ ، دپاكستان جوړ شوی شيان راځي او موږ په هغه كي توليه او بوټونه نمونې راغواړو ، او دجوړ دلحاظه دواړه برابر دی ، لكن دكوم دكاندار څخه چي موږ مال رانيسو نو هغه راته وويل: چي كله پر توليه made in USA او پر بوټو Made in Italy ونه ليكي خلك يې نه رانيسي ولي چي ددې ځای خلك دامريكا او ايټاليا جوړ بغير بل څه نه

(۱) وفی جامع الترمذي باب ماجاء في كراهية الغش فی البيوع ج۱ ص۲۴۵ (طبع سعيد) عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم ... ثم قال من غش فليس منا وقال الترمذي : حديث ابي هريرة حديث حسن صحيح والعمل على هذا عند اهل العلم كرهوا الغش وقالوا الغش حرام .
وفی جمع الفوائد ج۱ ج۴۲۸ المسلم اخ المسلم لا يحل لمسلم باع من اخيه بيعًا فيه عيب الا بينه له وفي اعلاء السنن ج۱۴ ص۵۴ من علم بسلعة عيبًا لم يجز بيعها حتی يبينه للمشتری فان لم يبينه فهو آثم عاص نص عليه احمد لما روی حكيم بن حزام رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال : البيعان بالخيار مالم يتفرقا فان صدقا وبينا بورك لهما وان كذبا وكتما محق بركة بيعهما آهـ .
وفی البحر الرائق ج۶ ص۳۵ (تنبيه) كتمان عيب السلعة حرام .
وفی الهنديه ج۳ ص ۲۱۵ ولا بأس ببيع المغشوش اذا كان الغش ظاهرًا كالحنطة بالتراب وان طحنه لم يجز حتی يبينه .
وفی الدر المختار ج۵ ص۴۷ لا يحل كتمان العيب فی مبيع او ثمن لان الغش حرام .
ددې سره سابقه فتوی او ددې حاشيه وګورئ (محمد زبير)
(۲) ايضاً

رانيسي دلته چي په مارکيټ ځونه توليه پلورل کيږي ، هغه توله په پاکستان کي جوړيږي ،او پر هغه باندي ليکلي وی made in USA ، زه ددې سوال کوم چي موږ هم داسي کولی شو ؟زموږ پروګرام دادی چي موږ دپاکستان څخه مال راواريدوو او ددکانداري په قيمت به يې پلورو ، هغه دکاندارانو ته معلومه وي چي دغه دپاکستان جوړ دی ، لکن پر هغه made in USA ليکلي وي ، او که موږ دپلورلو پر وخت ورته ونه وايو چي اصل خبره داده نو بيا موږ ته دشرعي جواز شته ؟

ډاکټر ظهور احمد بمعرفت مولانا خليل احمد ابوظبی (امارات)

جواب :- دپاکستان پر جوړ شوي شيانو باندي داسي جمله ليکل چي په هغه سره امريکا او يا ايټاليا دجوړ دعوی کيږي ، دا ښکاره غلط بياني ده ، چي دهغه شرعًا بلکل اجازت نشته (۱) هو ! که بل چا دا کار کړی وي ، او ته يې پلورې نو دليکلو ګنا ستا په غاړه نه ده ، ته چي کله هغه په حقيقت خبر کړی نو ستا ګنانشته چي پر دې ليکلی يو څه دی او داد پاکستان جوړ دی ، پاته شو دا عذر چي خلګ بې له دې چي دامريکا او يا آيټاليا دليکلو بغير شی نه رانيسي نو په دې وجه غلط بياني جائز نه ده . و السلام.

---

(۱) دحوالو لپاره سابقه دوې فتواوي وګوری.

فصل فی انواع البيوع المختلفة

(دبيع مختلف اقسام ، بيع وفاء ، سلم ، استصناع او بيع استجرار بيان)

دبيع بالوفا حکم.

سوال :- زيد از حکومت يک هزار روپيه قرض گرفت وقتيکه حکومت طلب کرد چونکه نزد زيد روپيه نه بود البته نه ایکر زمين بود حکومت گفت که اگر قرضه ادانمی کنيد زمين نيلام کنم ازين وجه زيد زمين خود را به عمرو فروخت کرد بعوض ۱۲۵۸ باين شرط که اگر اين رقم را وقتيکه اداکنم زمين من واپس کنيد عمرو قبول کرد و نام عمرو به نيلام نوشت وروپيه ۱۲۵۰ بحواله حکومت کرد و عمرو بر زمين قابض شد الحال زيد به عمرو می گويد اکنون پيسه شمارا می دهم زمين بمن واپس کنيد عمرو انکار کند و عمرو زمين را وقف کرد است سوال اين است که زمين رهن را فروختن جائز است يانه ؟ بر تقدير جواز زيد را از عمرو پيسه واپس گرفتن جائز است يانه ؟ واگر بيع اول جائز نيست پس زيد که زمين خود را از حکومت وقتی نيلام به طور وکالت بنام عمرو گرفت ونام عمرو در نيلام نوشت در حق عمرو نافذ ميشود يانه ؟

جواب :- در صورت مؤله عقدی که میان زید و عمرو واقع شد بیع بالوفا است واو را در اصل مذهب بیع فاسد است. بیشتر فقهاء کرام برو احکام رہن جار کنند(۱) وبیع را فاسد میگویند ونزد بعض فقهاء بیع صحیح است (۲) و مشتری راحق بود که ازو نفع گیرد ولکن او راحق نمی بود که کسی رابیع کند در رد المحتار اقوال کثیر نقل کرده قول جامع باین طور ذکر میکند که:

قوله (وقيل بيع يفيد الانتفاع به) هذا محتمل لاحد القولين: الاول : انه بيع صحيح مفيد لبعض احكامه من حل الانتفاع به الا انه لا يملك بيعه قال الزيلعى فى الاكراه وعليه الفتوى. الثانى : القول الجامع لبعض المحققين انه فاسد فى حق بعض الاحكام حتى ملك كل منهما الفسخ صحيح فى حق بعض الاحكام كحل الانزال ومنافع البيع ورهن فى حق البعض حتى لم يملك المشترى بيعه من آخر ولا رهنه وسقط الدين بهلاكه فهو مركب من العقود الثلاثة كالزرافة فيها صفة البعير والبقر والتمر جوز لحاجة الناس اليه بشرط سلامة البدلين لصاحبها قال فى البحر وينبغى ان لا يعدل فى الافتاء عن

---

(۱) وفى تنوير الابصار ج۵ ص۲۷٦ قيل هو رهن وفى الشاميه تحت قوله (وصورته .....) هو ان يقول البائع للمشترى بعت منك على ان تبعه منى متى جئت بالثمن هذا البيع باطل وهو رهن وحكمه حكم الرهن وهو الصحيح.

(۲) وفى الدر المختار (بحواله مذكوره) وقيل بيع يفيد به الانتفاع ، تفصيل په راروانه فتوى كي راروان دى.

القول الجامع وفى النهر والعمل فى ديارنا على مارجحه الزيلعى.

(رد المحتار باب الصرف ج4 ص342 (1)

ازین معلوم شد که در بیع وفا مشتری راحق بیع ورہن ووقف وغیره نزد کسی حاصل نیست اختلاف فقط درین صورت است که آیا او راحق انتفاع حاصل است یانه کسانیکه این عقد را رہن گویند انتفاع مشتری را جائز قرار نمی دہند (۲) وکسانیکه این عقد رابیع گویند انتفاعش رانیز جائز گویند امابیع ووقف وغیر نزد کسی جائز نیست (۳) پس درین صورت مؤله وقفی که عمرو کرده است درست نه شد واکنون برو لازم است که رقم از زید وصول کده زمین بدو واپس کند ودر حکم هیچ اختلاف نیست زیرا که اگر این عقد موافق قول بعضی فقهاء رہن است پس وقت ادائیگی رقم بر عمرو لازم بود زمین واپس دہد واگر این بر قول بعض فقهاء بیع است این آنرا واپس گردانیدن نزد ایشان هم ضروری است.

الجواب صحيح محمد عاشق الهى بلند شهرى

---

(۱) شامى ج۵ : ص ۲۷۶ (طبع سعيد) وكذا فى البحر الرائق ج ۶ ص۸ (طبع سعيد) وتبيين الحقائق ج۵ ص ۱۸۳.

(۲) ولي چی دمرهون څخه نفع اخستل جائز نه دی

(۳) كما فى البحر الرائق ج۸ ص ۲۳۸ (طبع سعيد) ولا ينتفع المرتهن استخداماً وسكنى ولبساً واجارةً واعارة لان الرهن يقتضى الحبس الى ان يستوفى دينه دون الانتفاع.

وفى ملتقى الابحر مع مجمع الانهر ج ۴ ص۲۷۳ (طبع مكتبه غفاريه كوئته) وليس للمرتهن الانتفاع بالرهن ولا اجارته ولا اعارته.

وفى رد المحتار ج ۶ ص۴۸۲ (طبع سعيد) لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فى الربا....... الخ

فتوى كي موجوده حواله ملاحظه كړی.

والله سبحانه وتعالى اعلم محمد تقى عثمانى عفى عنه ۱٦/ ۲/ ۱۳۸۷

(فتوى نمبر ۱٤۲۸ /۱۸ الف)

احسن الفتاویٰ کي دبيع الثمار قبل بدو الصلاح په صورت کي بيع الازهار په قول دپلورلو حکم

سوال : - بيع الثمار قبل الظهور په سلسله کي په تکملة فتح الملهم ج۱ص۳۸۳ تر۴۰۰ او په درس ترمذی کی چي کوم تفصيلي او محققانه بحث شکوی دهغه له مخي بيع الثمار قبل الظهور په هيڅ ډول جائز نه ده که تعامل ورباندی راغلی وی او که نه وی ، په ځينی شرائط نه موجوديدو په وجه بيع سلم کول هم په کي جائز نه ده ، لکن ددې برعکس ددې صورت دمالکيه ؤ په قول په احسن الفتاویٰ ج٦ ص۴۸٦تر ۴۹۲ کي بيع سلم کي دداخلولو او بيا دجواز فتویٰ ورکړل شوې ده ولي چي دمالکيه په مذهب کي بعض شرائط ضروري نه دی ، بلکه په احسن الفتاویٰ کي دحنفي مذهب درويه قبل بدو الصلاح يعنی صرف دازهارو په صورت کی بيع الازهار بلل شوې او دجواز فتویٰ ورکړل شوې ده ، ولي چي ازهار دبعضو جهتو په وجه قابل انتفاع دی.

۱ : اوس عرض دادی چی دمالکي مذهب درويه فتوی چی په احسن الفتاوی کی راغلې ده ستا سي په نظر هغه صحيح ده چی دعموم بلویٰ په وقت کی مالکی مذهب ته رجوع وشي ؟

۲ : او بيع الازهار په تأويل دقبل بدو الاثر په باره ستاسي محترم رائ څه ده ؟

جواب : - احقر ددې مسئلې په باره کی احسن الفتاویٰ ته رجوع وکړه (۱) په هغه کي دامام مالک رحمه الله مسلک تر دې حده مفيد کيدلای شي ، چي ثمن په درو ورځو کي ادا شي ، يا بلا شرط دهغه تاخير وشي ، لکن تر کومه چی دثمر دجهالت تعلق دی په هغه

---

(۱) ج٦ص۴۸۷ تا ۴۹۰ (طبع سعيد)

کي دهيچا په نزد هم عقد سلم جائز نه دی ، په دې کي نص صريح دی : ، فليسلم فی کيلٍ معلومٍ او وزنٍ معلومٍ (۱) کي هم دمقدار علم او اجل شرط دی ، احسن الفتاوی کي ددې جواب داسي ورکړل شوی دی چی جهالت مفضی ونزاع ته نه دی ، نو په دې قابل تحمل ده ، لکن مقدار دمبيعی دجهالت تر تراضي دطرفين پوري ورکول او قابل تحمل بلل محل دنظر دی ولي چی عقود کي غرر شديد وی هغه په تراضی دطرفين هم جائز نه دی ، شريعت دهر يوه دطرفينو دهغه دجائز مفاد تحفظ کوي ، که هغه ورباندي راضي وي هم ، احقر ته تر اوسه ددې خبري اطمنان نشته چی دغه مقدار مبيع دتعين دمنصوص شرط دپريښودلو

---

(۱) فی جامع الترمذي كتاب البيوع ج۱ ص۲۴۵ (طبع سعيد) عن ابن عباس رضي الله عنه قال قدم رسول الله ﷺ المدينة وهم يسلفون في الثمر فقال : من اسلف فليسلف في كيل معلوم ووزن معلوم الى اجل معلوم وفی الدر المختار ج۵ ص۲۱۴ (طبع سعيد وشرطه بيان جنس ونوع وصفة وقدر واجل واقله شهر ...... الخ وهكذا فى البحر الرائق ج۶ ص۱۶۰

وفی المجلة ج۲ ص۳۹۲ رقم المادة ۳۸۶ يشترط لصحة السلم بيان جنس المبيع مثلا انه حنطة ..... وبيان مقدار الثمن والمبيع .... الخ (وكذا فى عامة كتب الحديث والفقه) .

حکيم الامت حضرت مولانا محمد اشرف علی تهانوی رحمه الله په يو خاص صورت کی (دبيع قبل الازهار په سلم کي شامل) په امداد الفتاویٰ ج۳ ص۱۰۵ کي يې په دې ډول تحرير کړی دی :

په خپله دضرورت عامه دليل مستقل دليل نه دی تر څو چي په کومه کليه شرعيه کي داخل نه وی ، څنګه چي عبارات مذکوره دسوال يوائحی ضرورت دجواز لپاره کافي نه بلل کيږي ، بلکه ضرورت داعي بلل کيږي ، يا دکومي کليه شرعيې لاندي راتلل لکه سلم وغيره او بيع قبل ظهور الثمار کي دغه الحاق نشي کيدلای ، داډول کومه بله کليه هم نه شي کيدلای ، نو يو پر بل نه قياسيږي ، او سلم کي دغه داخل نه کيدل ظاهر دی ، ولي چی اشتراط وجود مسلم فيه من وقت العقد الى حلول الاجل قطع دنظر وکړې او دامام شافعي پر مذهب ولاړشې ، دهغه په نزد يوائحي وجود وقت الحلول کافی دی ، نو هم سلم نه شي کيدلای ولي چی مقدار ثمن متعين نه دی ، او بل اجل معين نه دی ، دريم داچي مشتری بائع څخه مطالب نه دی ، بلکه بائع اول مشتري ته اشجار ورکوی او هغه ورباندي قابض شي ، بيا که ثمر کم وي او که زيات او که بلکل نه وي ، څلورم داچی اکثر عددی متقارب يا وزني متماثل نه وی ، پنځم داچی اکثر پوره ثمن ورکړاندي په يوځل نه اداکوی غرض داچی سلم په هيڅ ډول نه شي کيدای .

لپاره كافي دى ، او علامه شامي رحمه الله دغه سلم نه دى بللى ، بلكه دضرورت دنظير په ډول يې سلم ذكر كړى دى (۱) البته كله چې دازهار ظهور راشي نو دازهار بيع دحيثيت دازهارو ګنجائش شته ، او ددې ذكر په تكملة فتح الملهم ، كې كړل شوې ده ، او احنافو لكه صاحب هدايه وغيره ددې خبري تصريح كړې ده ، پاته شو شرط دترک دمعاملې نو هغه دمتعارف پر بنا جائز بللو ګنجائش شته ، مګر ظهور ازهار څخه وړاندى هغه سلم بلل او هغه ته جائز ويل په هغه سره زما اطمينان نشته ، ولعل الله يحدث بعد ذٰلک أمرًا .

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۵ / ۲ / ۱۴۲۰ (فتوى نمبر ۱۳ / ۳۶۵)

دشركة خليجيه او مجموعة سعودي بن لادن په منځ دمشروع حرمين متعلق عقد استصناع مسئله.

سوال : - نرسل اليک عقدًا تريد شركة خليجية ان تدخل فيه مع شركة سعودى بن لادن لانجاز مشروع الحرمين ، بحيث تطلب شركة سعودى بن لادن صناعة هذا المشروع من شركة خليجية على أساس الاستصناع ثم ان الشركة الخليجية تعقد استصناعًا موازيًا مع شركة محمد بن لادن ، فهل هذا العقد صحيح شرعًا ؟

عصام الطوارى

جواب : - الى الأخ العزيز السيد عصام الطواري حفظه الله

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد :

فقد تسلمت الآوراق المتعلقة بمشروع الحرمين وطالعت فى ضوءها العقود المرسلة من قبل ، فوجدت ان هذا العقد فى صورته الموجودة غير مقبول شرعًا ، والأسباب الأساسية لهذا الحكم هى كالتالى :

(۱) ددې سره رد المحتار على الدر المختار ج ۴ ص ۵۵۶ (طبع سعيد)

۱ : المفروض فى صيغة الاستصناع ان تكون هناک عقد استصناع بين شركة الخليج وبين مجموعة سعودي بن لادن ، فيكون سعودي بن لادن هو المستصنع ، وشركة الخليج هى الصانعة ، ثم اذا شاءت شركة الخليجية فانها تعقد الاستصناع بينها وبين محمد بن لادن بصفة كونه صانعًا ، وينبغي ان يكون هذا العقد منفصلاً كل الانفصال عن العقد الاول ولكن العد المقترح بين الشركة الخليجية وبين سعودي بن لادن يوضح انه عقد وقع هناک عقد مسبق للمقاولة بين سعودي بن لادن ومحمد بن لادن ، وان هذا العقد هو المشار اليه فى بند التعريفات وفى عدة مواضع اخرى من العقد بما يدل بان عقد حقيقة انما وقع بين سعود بن لادن ومحمد بن لادن وان دخول الشركة الخليجية فى هذا العقد ليس الا حيلة مصطنعة للتمويل فقط.

۲ : ان كانت الشركة الخليجية هى الصانعة الحقيقية بازاء سعودي بن لادن ، فينبغي ان تتحمل جميع المسؤليات لتسليم المشروع بجميع صفاته المطلوبة الى سعودي بن لادن ، ولاكن فى بند (۳.۲) فقره B الى F من عقد الشركة مع السعودي بن لادن قد صرحت الشركة بأنها لاتقبل أية مسؤلية تجاه المستصنع في هذا الصدد ، ان هذا البند يجعل الاستصناع فاسدًا لا يمكن ان يقبل من الناحية الشرعية.

۳ : ان تسليم المشروع الى سعودى بن لادن قد جعل العقد متوقفًا على تسليم محمد بن لادن ، للمشروع الى الشركة الخليجية ، وذلک بحكم فقرة (۴.۱) وهذا ايضًا غير جائز شرعًا لان عقد الشركة الخليجية مع سعودى بن لادن يجب ان يكون منفصلاً تمامًا عن العقد مع محمد بن لادن كما ذكرت سابقًا.

هذه هى النكات الأساسية المخالف لاحكام الشرع ، وهذا بنود فرعية ايضًا تحتاج الى تعديل لايمكن ذكرها بالمكاتبة ، ويمكن ان تناقش في الجلسة.

وانتظرت هاتفكم وحيث لم يتصل فانى ارسل رأيي عن طريق الفاكس.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

محمد تقی عثمانی عفی عنه.

دالبلاغ دمیاشتنۍ مجلې دپیشګي ماهانه رقم دادائیګي په بيع استجرار کي دشمول وضاحت.

سوال: - بنده دالبلاغ مجلې لوستلونکی دی په دې اړه دبنده ځه تردد او خلجان دی چي زه يې ليري كول غواړم ، هغه داچي دالبلاغ دطرف څخه دذی الحجة دراتلونکی كال لپاره دچندې مطالبه وكړه ، حالانكه البلاغ لوستونكي هغه خلګ هم دی چی په منځ دكال کی خريدار شي ، تر اوسه دهغه دخريداري مدت پوره نه وي ، نو ايا په داسي صورت كي دذی الحجة دمياشتي لوستونكي خريداري مدت دپوره كيدلو وړاندي دنوي كال دچندې مطالبه شرعًا صحيح ده ؟ داډول دكوم لوستونكی دالبلاغ سره دپوره كال معاهده تر سره شوې وي ، نو په منځ دكال کی مدت دخريداري څخه وړاندي دكاغذ وغيره دګراني په صورت کی البلاغ دزياتي چندې مطالبه جائز ده ؟ داډول دفقهي اعتبار سره ددغې معاملې رقم دكال پر يوه ځای جمع كيږي بيا مياشتنۍ رساله ورته وركول كيږي دا په كوم زمره كي شامليږي؟

جواب:- زما محترا او مكرم ! السلام عليكم ورحمت الله وبركاته.

زما عزيزه ! ستا په خط خوشحاله شوم ، تاچي دكوم ديني مسئلې ته زما توجه واړوله ستا شكر ګذاريم ، دالبلاغ دچندې داضافې مطالبه دهغو خريدارانو څخه شوې ده ، چي دهغو خريداري دذی الحجې په مياشت كي شوې او اوس يې كال پوره شو ، او زموږ سره ډېرو خريدارانو اكثريت په هم دې مياشتي كي دی ، او خريداران په منځ دكال چي وي ، هغه ته هم په محرم كي شمارې ليږل كيږي ، ددې سره كه څوک دغه منظور نه كړي ، او داثناء كال څخه خريداري شروع كړي دهغو تعداد زيات نه دی ، او دهغو څخه

زياتي پيسې هم نه غوښتل كيږي ، هغه ته بې له كوم اضافي روپو رساله ليږل كيږي انشاء الله.

ليكن تر كومه چي دفقهي مسئلې تعلق دی ددې پلوه دكاغذ وغيره قيمته كيدل دخريدارانو څخه په منځ دكال کی هم دزياتو روپو مطالبه كول جائز ده ، ددې وجه داده چي دخريدارانو دالبلاغ سره بيع داستجرار ده (۱) ددې په تعريف كي راځي ، شرعًا چي

---

(۱) وفي مؤطا الامام مالک كتاب البيوع باب جامع بيع الطعام ص۵۹۰ (طبع مير محمد كتب خانه) ولا بأس بان يضع الرجل عند الرجل درهمًا ثم يأخذ منه بثلث اوبربع او بكسر معلوم مسلعة معلومةً ...... الخ

وفی الدر المختار ج۴ ص۵۱۶ (طبع سعيد) ما يستجره الانسان من البياع اذا حاسبه على اثمانها بعد استهلاكها جاز استحسانًا وفی الشامية تحت قوله ما يستجره الانسان .... الخ) ذكر فی البحر ان من شرائط المعقود عليه ان يكون موجودًا فلم ينعقد بيع المعدوم ثم قال ومما تسامحوا فيه واخرجوه عن هذه القاعده ما فی القنية الاشياء التی تؤخذ من البياع على وجه الخرج كما هو العادة من غير بيع كالعدس والملح والزيت ونحوها ثم اشتراها بعد ما انعدمت صح فيجوز بيع المعدوم هنا ...... وخرجها فی النهر على كون المأخوذ من العدس ونحوه بيعًا بالتعاطی وانه لا يحتاج فی مثله الى بيان الثمن لانه معلوم آه.... واعترضه الحموی بان اثمان هذه تختلف فيفضی الى المنازعة قلت ما فی النهر مبنی على ان الثمن معلوم لكنه على هذا لا يكون من بيع المعدوم بل كلما اخذ شيئًا انعقد بيعًا بثمنه المعلوم .... قلت ووجهه ان ثمن الخبز معلوم فاذا انعقد بيعًا بالتعاطی وقت الاخذ مع دفع الثمن قبله فكذا اذا تأخر دفع الثمن بالاولی وهذا ظاهر فيما كان ثمنه معلومًا وقت الاخذ مثل الخبز واللحم اما اذا كان ثمنه مجهولاً فانه وقت الاخذ لا ينعقد بيعًا بالتعاطی لجهالة الثمن فاذا تصرف فيه الآخذ وقد دفعه البياع برضاه بالدفع وبالتصرف فيه على وجه التعويض عنه لم ينعقد بيعًا وان كان على نية البيع لما علمت من ان البيع لا ينعقد بالنية فيكون شبيه القرض المضمون بمثله او بقيمته فاذا توافقا على شيئ بدل المثل او القيمة برئت ذمة الآخذ .... الخ (شاميه ج۴ ص۵۱۶).

وراجع ايضًا الى الشاميه تحت ، مطلب فی بيع الاستجرار ، ج۴ص۵۱۷.

وفى البحر الرائق كتاب البيع ج۵ ص۴۳۴ (طبع رشيديه كوټه) ومما تسامحوا فيه واخرجوه عن هذه
القاعدة ما فى القنية الاشياء التى تؤخذ من البياع على وجه الخرج كما هو العادة من غير بيع كالعدس
والملح والزيت ونحو هاثم اشتراها بعد ما انعدمت صح فيجوز بيع المعدوم هنا .

وفى شرح المجلة (سليم رستم باز) رقم المادة ۱۷۵ ص۸۰ (طبع مكتبه حنفيه كوټه) ويصح ايضًا ولو
كان الاعطاء من احد الجانبين فقط وبه يفتى وصورته ان يتفقا على الثمن ثم يأخذ المشترى المبتاع ويذهب
برضا صاحبه من غير ان يدفع الثمن او ان يدفع المشترى الثمن للبائع ويذهب بدون قبض المبيع فان البيع
لازم على الصحيح .

وكذا فى شرح المجلة للخالد الاتاسي رقم المادة ۱۷۵ ج۲ ص۳۶ (طبع حقانيه پشاور)

وفى بحوث فى قضايا فقهيه معاصرة البيع بالتعاطى والاستجرار ص۶۷ والذى يظهر لى ان هذا المبلغ دفعه
تحت الحساب وهى وان كانت قرضًا فى الاصطلاح الفقهى من حيث انه يجوز للمدفوع له ان يصرفها فى
حوائج نفسه من حيث كونها مضمونة عليه ولكنها قرض يجوز فيه شرط البيع اللاحق وان يتيسر له شراء
الحاجات دون ان يتكلف نقد الثمن فى كل مرة فهذا فرض تعورف فيه شرط البيع والشرط كلما كان
متعارفًا فانه يجوز عند الحنفية وان كان مخالفًا لمقتضى العقد كما فى شراء النعل بشرط ان يحذوه البائع .

داړول حضرت مفتى صاحب په فقه المعاملات اړوند په يوه غير مطبوعه كتاب كى مذكوره مسئلې په
متعلق داسي ويلي : ويتفرع عليه حكم الاشتراک فى الصحف والمجلات الدورية فان العادة فى عصرنا ان
الناس يدفعون بدل الاشتراک السنوى فى بداية كل سنة الى ناشر المجلة وانهم يبعثون لهم نشرة من المجلة
فى كل شهر او فى كل اسبوع وهذا استجرار بثمن مقدم ويقع بيد كل عدد من المجلة عند ما اتصل المجلة
الى المشترى فلو انقطعت المجلة فى اثناء السنة لزم على ناشرها ان يرد ما بقى من بدل الاشتراک ...

داړول امداد الفتاوى ج۳ ص۱۳۲ وګورئ (محمد زبير) (ژباړه مفتى هبة الله المهاجر)

وفي مسند احمد ج۱۲ ص۱۳۰ رقم الحديث ۱۵۲۵۳ عن حكيم بن حزام ﷺ قال قلت يا رسول الله! انى
اشترى بيوعًا فما يحل لى منها وما يحرم على؟ قال : فاذا اشتريت بيعًا فلا تبعه حتى تقبضه

وكذا فى سنن البيهقي ج۵ ص۳۱۳ وراجع ايضا الى جامع الترمذى ابواب البيوع ج۱ ص۲۳۳ (طبع سعيد)

وفى الهداية ج۳ ص۷۸ (طبع مكتبه رحمانيه ومن اشترى شيئًا مما ينقل ويحول لم يجز له بيعه حتى
يقبضه لانه نهى عن بيع مالم يقبض .

وكذا فى شرح المجلة : ج۲ ص۱۷۳ وتكملة فتح الملهم ج۱ ص۳۱۵ وشرح مجلة الاحكام للعلامة سليم
باز، رقم المادة ۳۵۳ ج۱ ص۱۲۸.

كوم شى تر اوسه موجود نه وى دهغه بيع جائز نه ده (۱) لهذا پيشګي روپۍ چنده البلاغ په
وړاندي امانت دى ، ددې امانت چى مالک داستعمال اجازت کړى دى نو هغه قرض
مضمون بلل کيږي (۲) کله چي کومه رساله شائع شي نو هغه وخت بحصه رسيدي بيع
کيږي (۳) دغه امانت ددې لپاره اخستل کيږي ، چي هره مياشت دده دامانت څخه روپۍ
رااخستل کيږي او هغه ته مجله ليږله کيږي ، او په پنځوس روپۍ دولس مياشتي رسالې
وراليږل يوه وعده ده چى دهغه حکم دادى چى که کوم ناګزير عذر راشي نو خريدار ددې
عذر دخبرولو وروسته دا وعده فسخ کيږى (۴) په دې صورت کى که خريدار دزياتو روپو
ورکولو ته اماده وى نو خير دى او که نه وي نو معامله به فسخ شي ، اودده چي څونه
روپۍ پاته دى هغه به ورکول کيږي.

والسلام ۱۴۱۰/۱/۳۰ (فتوى نمبر ۱۹۱/۴۱ الف)

فصل فى البيع بالتقسيط

(په قسطو دخريد او فروخت بيان)

(۱) ايضًا

(۲) ايضًا

(۳) ايضًا

(۴) دوعدې حيثيت او حکم هم دعذر په صورت کى استثناء ګنجايش متعلق دحضرت مفتى صاحب په
خپل تحريرى غير مطبوعه کتاب کي دتفسير ، حديث او ائمه اربعه دکتابو حواله او تفصيل کړى او وايي
:

فهذه الايات والاحاديث بمجموعها لاتدع مجالاً للشک فى ان الوفاء بالوعد واجب وخلافه اثم الا اذا كان
بعد قبول .... وبعد اسطر ..... فالذي يتخلص من القرآن والسنة ان الوعد اذا كان جازما يجب الوفاء به
ديانة ويأثم الانسان بالاخلاف فيه الا اذا كان لعذر مقبول وجاء فى مجلة مجمع الفقه الاسلام قرار رقم ۲ ،
۳ العدد الخامس ۲ک ۱۵۹۹ الوعد يكون ملزمًا للواعد ديانةً الا لعذر ..... الخ

دنقد په نسبت په پور په زيات قيمت دپلورلو حکم

سوال: - يو سړی پر بل سړي باندي تخم پلوري لکن په بازار کي دتخم قيمت في من شپيته روپۍ ده دغه سړی وايي چی ته تخم يوسه کله چی ستا فصل تيار شو هغه وخت به ته ماته في من سل روپۍ قيمت راکوې ، اوس يې زه ارزانه نه درکوم ايا په شريعت کي داډول بيع جائز ده او که يا ؟ ځيني خلک ديته سود وايي او ډير جنګ او جدل ورباندی کيږي ، يعني که اوس روپۍ راته راکوې نو شپيته روپۍ دی او که درسد پر وخت وي نو سل روپۍ دی.

جواب: - که تخم پلورونکی دا ووايي چي قيمت نقد ادا کړه نو شپيته روپۍ دی او په پور سره سل روپۍ دی ، او بيا دا طی شي چي رانيوونکی يې په پور رانيسي نو دغه بيع جائز ده ، (۱) په دې کي سود نشته.

(۱) وفی جامع الترمذي نهی رسول الله ﷺ عن بيعتين فی بيعة وقال الترمذي : وقد فسر بعض اهل العلم قالوا : بيعتين فی بيعة ان يقول : ابيعک هذا الثوب بنقد بعشرة وبنسيئة بعشرين ولا يفارقه علی احد البيعين فاذا فارقه علی احدهما فلا بأس اذا کانت العقدة علی احد منهما (الترمذي کتاب البيوع باب ماجاء في النهی عن بيعتين في بيعة ج۱ص۲۳۳طبع سعيد)

وفي المبسوط للسرخسي ج۱۳ص۸و۹ (طبع غفاريه کوټه) واذا عقد العقد علی انه الی اجل کذا بکذا وبالنقد بکذا او قال الی شهرين بکذا فهو فاسد ... وهذا اذا افترقا علی هذا فان کان يتراضيان بينهما ولم يتفرقا حتی قاطعه علی ثمن معلوم واتما العقد عليه فهو جائز ..... الخ

وفی رد المحتار ج۵ ص۱۴۲ ويزاد فی الثمن لاجله اذا ذکر الاجل بمقابلة زيادة الثمن .... الخ

وکذا فی فتح القدير ج۴ ص ۲۶۲ (طبع مصطفی بابی مصر)

وفی الهداية ج۳ ص۷۸ (طبع مکتبه رحمانيه) لان للاجل شبهًا بالمبيع الا يری انه يزاد فی الثمن لاجل الاجل وفيها ايضا ج۳ ص۲۱ (طبع رحمانيه) ويجوز البيع بثمن حال ومؤجل اذا کان الاجل معلومًا وفی البحر الرائق ج۶ ص۱۱۴ لان للاجل الا ترای انه يزاد فی الثمن لاجل الاجل.

وفی المجلة رقم المادة ۲۴۵ البيع مع تأجيل الثمن وتقسيطه صحيح.

والله سبحانه وتعالی اعلم۲۲ / ۲ / ۱۳۹۸(فتوی نمبر ۲۹/۲۷۳)

په قسطو دخريد او فروخت شرعي حيثيت او دپور په وجه قيمت زياتولو حکم

سوال: - (دسوال خلاصه) زموږ مځکه سيم زده ده دګرمي په موسم کي اوبه ددرو پوفو په اندازه وي او ديخ په موسم کي وچه شي ، نو پر هغه داسي بوټي راپورته شي چي موږ يې په هالو نه شو کښلای او دتلکتور په وسيله يې باسو ، دهغه يو ساعت په لس روپۍ دی ، دهغه دحصول لپاره موږ بينک ته ورځو او دهغه څخه دپنځلس زره روپو تلکتور په اتلس زره روپۍ قسطو راولو مذکوره اقساط په اووه کاله کي ادا کيږي ، اوس که په نقد روپو سره تلکتور رانيسو نو هم په اتلس زره روپو رانيول کيږي ، اوس که موږ دمجبوری په خاطر په اقساط سره تلکتور حاصل کړو نو جائز ده ؟

جواب: - په صورت مسؤله کي که چيري بله دعدم جواز وجه نه وي نو په مذکوره اقساطو رانيول جائز دی ، او په پور سره رانيولو په وجه په قيمت کي بالا کول دفقهاؤ په تصريح سره په معامله کي خرابي نه راځي په دې شرط چی په مجلس دعقد کي دنقد يا دپور يو پلو متعين شي ، لهذا دمعاملې چي په سوال کي کوم صورت بيان شوی دی هغه جائز دی(۱) په دې شرط چي په معامله کي کوم بل شرط دعدم جواز نه وي.

والله سبحانه وتعالی اعلم۳ / ۱۲ /۱۳۸۷(فتوی نمبر ۱۳۸۵ / ۱۸ الف)

وفی بحوث فی قضايا فقهيه معاصرة ص۷ اما الائمة الاربعة وجمهور الفقهاء والمحدثين فقد اجازوا البيع المؤجل باکثر من سعر النقد بشرط ان يبت العاقدان بانه بيع مؤجل بأجل معلوم بثمن متفق عليه عند العقد.

(۱) مخکينی صفحې حاشيه وګورۍ.

په نقد په سل زره او په څلرويشت مياشتو كي په يو سل پنځويشت زره دپلورلو حكم.

سوال: - كه يو مكان يا دكان دنقدو په حساب سل زره او په قسطو په زيات قيمت مثلا يو مكان چي قيمت يې سل زره دی او په څلرويشت مياشتو كي دادا كولو په قسطو سره يو سل پنځويشت زره وي نو دغه مكان په قسطو سره رانيول جائز دی ؟ او كه دغه پنځويشت زره روپۍ سود بلل كيږي ؟

جواب: - دا په دې شرط سره جائز دی چی څه وخت كوم مكان وغيره رانيول كيږي او په عقد مجلس ديو قيمت تعين وشي ، چی قسطو يا په نقدو طی شي ، (١) او بيا هغه قيمت چي دوی طی كړی دی خريدار څخه به په هرحال طلب كيږي او په ادائيگي كه تاخير راشي نو زياتوب به ورباندي نه كيږي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ١٤٠٩/١٢/٢٩ (فتوی نمبر ٢٣٧٦ / ٤٠ و)

دحكومت څخه په قسطو دليلامي مځكي درانيولو حكم

سوال: - حكومت چي كومي مځكي ليلاموي دهغو رانيول په قسطو سره دسود رانيول څنگه دی ؟

جواب: - كه حكومت دا اعلان وكړي چي كه مځكه په نقد روپو سره رانيسي نو قيمت يې كم وي ، او كه په قسطو سره وي نو قيمت يې زيات وی ، نو دا صورت جائز دی ، (١) لكن كه د قسطو صورت كی دا ووايي چي قيمت يې هغه دنقدو دی باقي په سود سره اخستل كيږي نو دا صورت جائزنه دی.

الجواب صحيح / بنده محمد شفيع عفی عنه

---

(١) مخكيني صفحې حاشيه وگوری.

والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ١٣٨٨/٦/٥

(فتوی نمبر ٢٧٧ / ١٩ الف)

په قسطو سره دموټر رانيولو وروسته دموټر دخرابيدو ذمه وار رانيوونكی دی

سوال: - زيد په پنځوس زره روپۍ ټيكسي رانيو او پر بكر يې په اويا زره روپۍ په قسطو وپلورو . چي ماهانه به دوه زره روپۍ وركوي ، او دټيكسی دمرمت كولو ذمه دار دی ، او دټول قسطو دپوره وركولو په صورت كي به زيد ټول مالكانه حقوق بكر ته وركوی ، دقسط داداكولو په صورت كي ټوله نفع به دبكر وی دزيد سره دهغه هيڅ تعلق نشته ايا داسي كول جائز دی ؟

جواب: - مذكوره معامله په دې شرط جائز ده چی ددې معاملې سره ټيكسي دبكر ملكيت شي (٢) او دقبضې وروسته ټولی خرابي بكر ذمه وار دی ، زيد يواځي دقيمت

---

(١) مخكيني صفحې حاشيه وگوری.

(٢) وفي رد المحتار كتاب البيوع ج٤ ص ٥٠٦ (طبع سعيد) وحكمه ثبوت الملک ای فی البدلين لكل منهما فی بدل ..... الخ

وفی الهنديه كتاب البيوع الباب الاول فی تعريف البيع وركنه ..... الخ ج٣ ص٣ (طبع رشيديه كوټه) واما حكمه فثبوت الملک فی المبيع للمشتری وفی الثمن للبايع اذا كان البيع باتًا ... الخ

وفی شرح المجلة ج٢ ص٣٧٣ البيع النافذ ..... الخ يفيد الحكم فی الحال ای ثبوت الملک فی البدلين لكل منهما فی بدل وهذا هو الحكم الاصلی للبيع النافذ ... الخ وفی شرح المجلة للأتاسي ج٢ ص٣٥٧ رقم الماده ٣٦٩ حكم البيع المنعقد الملكيه يعنی صيرورة المشتری مالكًا للمبيع والبائع مالكًا للثمن .. الملكية تثبت بمجرد العقد اذا استجمع البيع شرائط الانعقاد والصحة واللزوم والنفاذ ..... الخ

وفی الهداية ج٣ ص٨ اذا حصل الايجاب والقبول لزم البيع ولا خيار لو احد منهما الا من عيب او عدم رؤية .. الخ

وكذا فی الهندية ج٣ ص٨ (طبع بلوچستان بک ډپو)

دوصولو حق دار دی ، او دقسط دپوره کیدلو وروسته مالکانه حقوق بکر ته نقلول لکه کاغذات وغیره نو په دې کې کوم حرج نشته.

په قسطو دخرید او فروخت حکم

سوال: - یو سړی (الف) دبل سړي (ب) څخه مال راغواړي او هغه مال په لوړ قیمت پلوري او روپۍ روزانه په قسطو ورکوي ، چي روزانه یو مقرر رقم ورته ورکوي مال په یو اندازه روپو خرڅوي او په هغو روپو سره کار کوي ، چي دهغه دنفع څخه دبل پلو هیڅ تعلق نشته نو ایا دغه طریقه صحیح ده ؟

جواب: - دمال دراغوښتلو مطلب دادی چی (ب) ددې خریدار کومک کوي په دې صورت کی که (الف) د(ب) څخه مال رانیسي دهغه قیمت او ادائیګي مدت دواړه په قسطو سره طی شي نو مذکوره طریقه جائز ده دهغه څخه وروسته (الف) چي مال په څو خرڅوي نو دهغه ګټه ورته حلاله ده. (۱)

دقسطو خرید او فروخت او شرائط

سوال: - زید دبجلي پنکه رانیسي په قسطو هغه په زیات قیمت ورکول کیږي او که نقدو یې رانیسي هغه په کم قیمت ورکول کیږي ایا په داسي صورت کي په قسطو رانیول جائز دی ؟

وفی البحر الرائق ج۵ ص۲۶۲ البیع یلزم بایجاب وقبول ای حکم البیع یلزم بهما.
وفی شرح المجلة للتاسي ج۲ ص۱۶۶ رقم المادة ۲۴۵ (طبع مکتبه حبیبیه کوټه) البیع مع تاجیل الثمن وتقسیطه صحیح.
داړول په قسطو دخرید وفروخت دجواز متعلق حوالې لپاره مخکینی حاشیه ملاحظه کړی.
(۱) مخکینی صفحې حاشیه وګوری.

جواب: - په صورت مسؤله کی که بله کومه وجه دبیع فاسد کیدلو نه وی نو په داسي ډول پنکه په قسطو رانیول جائز ده ، ولی چی ددین په صورت کي په زیات قیمت رانیول جائز دی او دا فقهاؤ په تصریح سره ذکر کړی دی. (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷

(فتوی نمبر ۹۲۸ /۱۸ الف)

لکن معامله داړول کول نه دی پکار چی قیمت مثلاً سل روپۍ او سود پنځویشت روپۍ وی بلکه دشروع څخه ددین په وجه ۱۲۵ روپۍ قیمت مقرر ول پکار دی

محمد عاشق الهی عفی عنه.

---

(۱) فی الفتاوی الشامیه ج۵ ص۱۴۲ (طبع سعید) ویزاد فی الثمن لاجله اذا ذکر الاجل بمقابلة زیادة الثمن قصداً.
وفی الهدایة ج۳ ص۷۸ (طبع مکتبه رحمانیه) لان للأجل شبهاً بالمبیع الا یری انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل.
کذافی فتح القدیر ج۶ ص۲۶۲ کتاب البیوع. داړول دمخکینی فتویٰ حاشیه هم وګوری.

فصل في احكام المال الحرام والمخلوط

(دمخلوط او حرام مال احكام)

په مال حرام سره اخستل شوی شی صدقه کول ضروري دی او که په دهغه په اندازه روپۍ ؟

په حرام مال سره دشي رانيولو وروسته دهغه موجوده ماليت صدقه کول ضروري دی او که يواځي حرامي روپۍ ؟

په حرام مال سره درانيول شوی شی دحلال کولو طريقه ؟

سوال: - په حرام مال سره درانيولو شی بذات خود تصدق بهتر دی يا دهغه دقيمت تصدق غوره دی ؟

جواب: که بعينه حرام رقم سره رانيول شوی وی دهغه تصدق کول غوره دی او که حرام مال دحلال سره مخلوط وی او بيا ورباندي شی رانيول شي نو دهغه تصدق ضروري نه دی بلکه دهغه حرامو روپو تصدق لازم دي (۱)

سوال: - حرام روپو سره چي شی راونيول شی دهغه دحلال کولو څه طريقه ده ايا دموجوده ماليت په قدر تصدق لازم دی يا فقط حرام رقم په قدر تصدق لازم دی؟

(۱) وفي رد المحتار كتاب البيوع باب المتفرقات مطلب اذا اكتسب حرامًا ثم اشترى فهو على خمسة اوجه ج۵ ص۲۳۵ (طبع سعيد)
(قوله اكتسب حرامًا) توضيح المسئلة ما فى التتار خانيه حيث قال رجل اكتسب مالاً من حرام ثم اشترى فهذا على خمسة اوجه اما ان دفع تلك الدراهم الى البائع اولاً ثم اشترى منه بها او اشترى قبل الدفع بها ودفعها او اشترى قبل الدفع بها ودفع غيرها او اشترى مطلقًا ودفع تلك الدراهم او اشترى دراهم آخر ودفع تلك الدراهم ...... قال الكرخى فى الوجه الاول والثانى لا يطيب وفى الثلاث الاخيرة يطيب وقال ابو بكر لا يطيب فى الكل لكن الفتوىٰ الآن على قول الكرخي دفعًا للحرج عن الناس آه.
وفى الهداية كتاب الغصب ج۳ ص۳۷۵ و ۳۷۶

جواب: په پورتني صورت کي دموجوده ماليت په قدر ، ورنه فقط دحرامو روپو په اندازه (۱)

سوال: - يو سړي په حرام مال يو شی رانيولو بيا يې هغه پر بل سړي وپلورلو ددوهم سړی دا فکر دی چي دا خو په حرام مال سره رانيول شوی دی ، نو دا به په کومه طريقه حلال کړل شي ؟ ايا دحرامو روپو په اندازه پر بائع تصدق لازم دی او که دمشتری تصدق کول کافي دی ؟ او دمشتری دتصدق په کولو سره دبائع خبرول ضروري ده که نه ؟

محمد عامر استاذ جامعه رشيديه

(۱) مخکينۍ صفحې حاشيه وګورۍ .(طبع رحمانيه) اما فيما لا يتعين كالثمنين فقوله فى الكتاب اشترى بها اشارة الى ان التصدق انما يجب اذا اشترى بها ونقد منها الثمن اما اذا اشار اليها ونقد من غيرها او نقد منها واشار الى غيرها او اطلق اطلاقًا ونقد منها يطيب له وهكذا قال الكرخي لان الاشارة اذا كانت لا تفيد التعين لابد ان يتأكد بالنقد ليتحقق الخبث وقال مشائخنا رحمهم الله تعالى لا يطيب له قبل أن يضمن وكذا بعد الضمان بكل حال وهو المختار لاطلاق الجواب فى الجامعين والمبسوط .
وفى رد المحتار ج۲ ص۲۹۲ (طبع سعيد) ان المراد ليس هو نفس الحرام لانه ملكه بالخلط وانما الحرام التصرف فيه قبل اداء بدله .... نعم لا يباح الانتفاع به قبل اداء البدل في الصحيح من المذهب وكذا فى الطحاوي على الدر المختار ج۴ ص۱۹۲ .
وفى الهندية ج۵ ص۳۴۹ (طبع مكتبه رشيديه) والسبيل في المعاصي ردها وذلك ههنا برد المأخوذ ان تمكن من رده بأن عرف صاحبه .... الخ ، وفى رد المحتار على الدر المختار ج۵ ص۹۹ (طبع سعيد) والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه .. وبعد اسطر ... ومفاده الحرمة وان لم يعلم اربابه وينبغي تقييده بما اذا كان عين الحرام ليوافق ما نقلناه اذ لو اختلط بحيث لا يتميز يملكه ملكًا خبيثًا لكن لا يحل له التصرف فيه مالم يؤد بدله .... الخ .
وفى الدر المختار كتاب الغصب ج۶ ص۱۸۲ (طبع سعيد) ويجب رد عين المغصوب فى مكان غصبه ويبرأ بردها ولو بغير علم المالك ..... اويجب رد مثله ان هلك وهو مثلى .
وفى رد المحتار ج۶ ص۳۸۵ ويردونها على اربابها ان عرفوهم والا تصدقوا بها لان سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه .

جواب : - اصل حكم دادى چى شى خپل مالک ته بيرته وركړي او بيرته روپۍ ځيني واخلي (۱) كه مجبوري وي نو چي بائع يې واپس نه كړي نو پر بائع باندي د تصدق سوال نشته ، نو فقير ته دي تصدق وكړي او بيادى هغه ورڅخه رانيسي (په ثمن مثل سره)

د مال مخلوط نفع حلال ده او كه حرام ؟

(د هدايه او فتح القدير د عباراتو وضاحت)

سوال : - وخدمت ته د شيخ او استاذ مد ظلكم .

په څو مسائلو كي د حضرت مفتى صاحب رائ معلومول غواړم .

۱ : هغه مال چى حلال او حرام سره ګډ شي د هغه څخه كاربار شروع شي نو د هغه منافع حلال دى كه حرام ؟ په فتح القدير كي دلاندينيو عباراتو څخه مطلقًا حلال معلوميږي كه حلال غالب وي او كه حرام .

قال ابن الهمام رحمة الله عليه : والخبث لفساد الملک دون الخبث لعدم الملک فيوجب شبهة الخبث فيما يوجب فيه عدم الملک حقيقة الخبث وهو ما يتعين كالجارية فى

(۱) وفي النتف في الفتواى ص۴۵۴ ولو غصب دراهم او دنانير او غير ذلک من الكيلى والوزنى فاتجر فيه وربح فانه يتصدق بالربح ، وكذا فى فتح القدير ج۸ ص۲۵۵ والمبسوط للسرخسي ج۱۱ ص۷۷ .

وفى بدائع الصنائع ج ۶ ص۱۴۹ اذا غصب الفا فاشترى به جارية فباعها بالفين ثم اشترى بالالفين جارية فباعها بثلاثة آلاف انه يتصدق بجميع الربح .

وفى الهداية ج ۳ ص۳۷۳ (طبع رشيديه كوټه) ومن غصب عبداً فاستغله فنقصته الغلة فعليه النقصان لما بينا ويتصدق بالغلة لانه حصل بسبب خبيث وهو التصرف فى ملک الغير .

وفى الشامية ج ۶ ص۱۸۹ (طبع سعيد) قوله وتصدق اصله ان الغلة للغاصب عندنا لان المنافع لا تتقوم الا بالعقد والعاقد هو الغاصب فهو الذى جعل منافع العبد مالا بعقده فكان هو اولى ببدلها ويومر ان يتصدق بها لاستفادتها ببدل خبيث وهو التصرف فى مال الغير .

مسئلتنا ويتعدى الى بدلها وشبهة الشبهة فيما يوجب فيه عدم الملک الشبهة وهو مالا يتعين وشبهة الشبهة غير معتبرة (فتح القدير ج۶ ص۱۰۴ باب البيع الفاسد فصل فى احكامه)

څو مياشتي وړاندي بنده د دې عبارت په نظر كولو د منافع د حلال يو فتوى وركړه چي پر هغه باندي استاد محترم مفتى ...... صاحب تصديق هم كړى دى لكن اوس مى فكر شو چي د حضرت مفتى صاحب (محمد تقى عثمانى) هم په دې كي لارښودنه تر لاسه كړم

محمد عامر استاذ جامعه الرشيد كراچي .

جواب : - زما عزيز او مكرم ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته .

د فتح القدير مذكوره عبارت على الاطلاق د دې حكم د معلومولو لپاره صحيح نه دى ، چي د هر مخلوط مال ګټه حلال ده ، چي د دې دوې وجي دى يو دا چي د مخلوط مال چي كومه حصه حرامه وي ، كه په دې كي حرمت د عدم ملک دوجي راغلى وى ، مثلاً غصب يا په حكم د غصب كي وى ، يا عقد باطل په وجه وي ، نو خپله په فتح القدير په دې عباراتو كي تصريح شوې ده چي شبهة الخبث په كي پيدا كيږي او هغه معتبر ده ، او د غصب په صورت كي محض شبه نوي وي بلكه حقيقت خبث پيدا كوي ، ولي چي په غصب كي په اتفاق د احنافو دراهم او دنانير متعين كيږيْ (۱) دوهم دا چي حرمت فساد ملک دوجى څخه راغلى وى نو بيله شكه چي په فتح القدير او هدايه كي د دې مسئلې دوجى ربح حلال بلل شوى دى مګر دغه مسئله پر هغه قول مبني ده چى د هغې لمخي دراهم او دنانير په عقودو فاسده ؤ كي هم متعين نه وي ، حالانكه صاحب هدايه دغه اصح بللى دى چى عقود فاسده كي دراهم او دنانير متعين دى ، څنګه چي د دې مسئلې په باره كي صاحب د عنايې ويلي دى :

(۱) د دې نسره فتح القدير ، باب البيع الفاسد فصل فى احكامه ج ۶ ص۱۰۴ .

وهذا انما يستقيم على الرواية الصحيحة وهى انها لا تتعين ، لا على الاصح وهى التى تقدمت انها تتعين فى البيع الفاسد لانها بمنزلة المغصوب. (عنايه ج۶ ص۱۰۴).

اګر چې علامه ابن الهمام اصح عدم تعين بللى دى ، ولي چې دجاريه والا مسئله داصحاب مذاهب څخه منقول ده ، البته دعدم ملک په صورت کي دذبح حلال يا حرام دخل په دې خبره کي نشته چې مال مخلوط کي غالب حلال دى او که حرام بلکه په دواړو صورتو کي دربح هغه حصه ده چې دحرام په مقابل کي وى مثلاً يوه څلورمه حلال وى او درې څلورمي حرام وي نو ربح يو څلورمه حلال او باقي حرام ده ، او دفساد ملک په صورت کي هم احتياط په دې کي دى ، ولي صاحب دهدايې اصح تعيين ددراهم في العقود الفاسده کي بللى شوى.(۱)

والله سبحانه وتعالى اعلم۲۴ / ۳ / ۱۴۲۴ (فتوى نمبر ۳۰ /۲۲۲)

دمال مخلوط دنفع په اړه دمذکوره فتویٰ نور وضاحت او ديو اشکال جواب

سوال:- وخدمت دشيخ او استاذ حفظکم

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

بنده دګذشته علمي خط کی ومحترم مفتی صاحب ته دمال مخلوط مطلقًا دحلت ذکر کړی ، او په دې کي دفتح القدير عبارت پيش کړل شوى دى، چې حضرت مفتى صاحب جواب تحرير شوى چې دفتح القدير مذکوره عبارت على الاطلاق دغه حکم ورڅخه راايستل صحيح نه دى ، چې دهر مخلوط مال ربح حلال ده ، چې دهغه دوې وجې دى يو دا چې دمخلوط مال چې کومه حصه حرام ده ، که په دې کي دحرمت عدم ملک وجه وي.... نو خپله فتح القدير کي ددې عبارت تصريح شوې چې دغه شبهة الخبث پيدا کوي

(۱) وفى الهداية ج۲ ص۶۸ (طبع رحمانيه) .... لانها تتعين فى البيع الفاسد وهو الاصح.

، چې هغه معتبر هم ده ، او که حرمت دفساد دملک دوجې وى نو بې شکه چې فتح القدير او هدايه کي ددې مسئلې دوجې ربح حلال بلل شوې...... البته دعدم ملک په صورت کي ربح حلال يا حرام کي ددې خبري دخل نشته چې مال مخلوط کي غالب حلال دى او که حرام ، بلکه په دواړو صورتو کي دربح هغه حصه حرام ده چې دحرام په مقابل کي ده ... او دفساد ملک په صورت کي هم احتياط په دې کي دى...... والله اعلم.

په دې باره کي تردد دادى چې محترم مفتى صاحب مال مخلوط په دوه ډوله کړى دى چې دهره يوه يې ځانته دربح حکم ذکر کړى ، لکن بنده دشرح التنوير په درج ذيل عبارت په وړاندې کولو سره په فکر کی دى چې مال مخلوط مکمل دخالط ملک ګرزي لکن ملک خبيث دى او خالط دحرام رقم په اندازه ضامن ګرزي.

قال الحصكفي رحمه الله عليه : او اختلط المغصوب بملک الغاصب بحيث يمتنع امتيازه كاختلاط بربيره او يمكن بحرج كبره بشعيره ضمنه وملكه بلاحل انتفاع قبل اداء ضمانه (الدر مع الرد ج۶ ص۱۹۱)

ددې عبارت څخه معلوميږي چې مال مخلوط على الاطلاق مضمون ګرزي او په دې کي فساد دملک دى ، لهذا فتح القدير کي تحقيق مطابق على الاطلاق ربح حلال ګرزول پکار ده.

دحضرت مفتي صاحب څخه دزياتي توجه غوښتنه کيږي.

جواب: - وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته.

دا وخت ما دډير تدقيق وخت پيدا نکړو ، لکن هدايه کي مذکوره مسئله (۱) غصب کي دمال مخلوط مملوک کيدلو مسئله (۲) څخه مذکوره نتيجه را ايستل تر اوسه هم زما په فکر صحيح نه ده ، وجه داده چې اول خو خلط المغصوب بغير المغصوب په

(۱) هدايه ج۳ ص۶۸ او ۶۹ طبع رحمانيه وګورى.

(۲) درالمختار مع الرد المحتار ج۶ ص۱۹۱ طبع سعيد وګورى.

مسئله کي ملکيت التزام الضمان (بلکه نيت داداء الضمان) ښخه راغلی دی، که سړی دضمان بالکل التزام ونه کړي هغه به مالک ښنګه جوړ شي؟ بل داچي تا چي کوم عبارت نقل کړی دی په خپله په هغه کي تصريح ده چي قبل اداء الضمان دهغه انتفاع حلال نه ده، او استرباح دانتفاع اعلی ترين صورت دی، او مسئله دا ډول فرض شوې چي کله ضمان ادا نه شي، او کله چي ضمان ادا شي نو بيا دحلت اشکال نشته، البته نن ورځ دبنک وغيره وملازمينو ته چي موږ وايو که کوم بل صورت دګذارې نه ؤ دالتزام ضمان په نيت او پخه اراده وکړه دغه رقم استعمال کړه يا کار بار کي يې ولګوه، ددې مبنی داده چي هغه غصب نه دی، بلکه دجانب آخر په رضامندي يو ناجائز عقد شوی دی، چي په هغه کي جانب آخر کوم مطالبه هم نلري، لهذا معامله صرف دحق الله پاته شوه، او هغه په توبه سره کيږي او التزام دضمان په صورت کي دهغه وجوب دعلی الفور پر ځای علی التراخی کولو ګنجائش معلوم شو، دضرورت پر وخت ددې ګنجائش ښخه په استفادې سره استغفار کولو مشوره ورکول کيږي.

والله اعلم ۲۰/ ۵/ ۱۴۲۴

مال حرام دحلالولو لپاره دغير مسلم ښخه قرض اخستلو شرعی حيثيت

سوال: - دحرامو روپو دحلالولو لپاره بعض علماء داسي حيله کوي چي دغير مسلم ښخه قرض واخستل شي او دحرامو روپو ښخه ادا کړل شي ايا دغه حيله ستاسي په فکر صحيح ده؟ که چا داسي کړي وي نو اوس څه وکړي؟ محمد عامر.

جواب: - په دې حيله سره حرام نه شي حلال کيدلای (۱) يواځي دومره ضرور کيدلای شي چي په قرضو څه رانيسي او خوري بې نو هغه حلال دی (۲) لکن دحرامو روپو مالکيت او په حرامو روپو قرض ادا کول بيا هم ګناه ګار دی. (۳).

---

(۱) ښنګه چي په امداد الفتاوی کي دی چي حرام دحلالولو لپاره يوه حيله مفيد نه ده، تفصيل لپاره امداد الفتاوی ج۴ ص۱۴۴ طبع دار العلوم کراچی وګوری.

(۲) وفی الهنديه کتاب الکراهية الباب الثانی عشر فی الهدايا والضيافات ج۵ ص۳۴۲ (طبع بلوچستان بک ډپو) وفی شرح حيل الخصاف لشمس الائمة رحمة الله عليه ان الشيخ ابا القاسم الحکيم کان يأخذ جائزة السلطان وکان يستقرض لجميع حوائجه وما يأخذ من الجائزة يقضي بها ديونه والحيلة فی هذه المسائل ان يشتری نسيئة ثم ينقد ثمنه من ای مال شاء، وقال ابو يوسف رحمة الله عليه سألت ابا حنيفة عن الحيلة فی مثل هذا فأجابني بما ذکرنا.

وفي الدر المختار ج۶ ص۳۸۵ وجاز أخذ دين علی کافر من ثمن خمر لصحة بيعه بخلاف دين علی المسلم لبطلانه الا اذا وکل ذميا ببيعه..... الخ

وفی خلاصة الفتاوی کتاب الکراهية الفصل الرابع فی المال من الاهداء والميراث وغير ذلک ج۴ ص۳۴۹ (طبع مکتبة رشيديه) وفی شرح حيل الخصاف لشمس الائمة الحلوانی رحمة الله عليه ان الشيخ الامام ابا القاسم الحکيم کان ممن يأخذ جائزة السلطان وکان يستقرض بجميع حوائجه وما يأخذ من الجائزة کان يقضي به دينه فالحيلة فی مثل هذه المسائل ان يشتري شيئًا ثم ينقد ثمنه من ای مال احب، قال ابو يوسف رحمة الله عليه سألت ابا حنيفة رحمة الله عليه عن الحيلة فی مثل هذا، فأجابني بماذکرناه.... الخ.

وفی السراجية المغنية اذا قضی دينها من کسبها اجبر الطالب علی الأخذ.

وفی الهندية کتاب الحيل الفصل الاول ج۶ ص۳۹۰ (طبع رشيديه کل حيلة يحتال بها الرجل ليتخلص بها عن حرام او ليتوصل بها الی حلال فهی حسنة..... ددې سره امداد المفتين ص۸۰۲ و۸۰۳ او مجموعة الفتاوی ج۲ ص۲۶۷ (طبع سعيد)

(۳) وفی سنن الترمذي ج۱ ح۲۴۹ (طبع مکتبة رحمانيه).... انه لا يربوا لحم بنت من سحت الا کانت النار اولی به وفی صحيح ابن حبان ج۵ ص۹(طبع مؤسسة الرسالة) يا کعب بن عجرة انه لا يدخل الجنة لحم نبت من سحت.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۹/۱۲/۱۴۲۵ هـ

په ناجائز طريقه سره راغلى روپۍ په غلطي استعمال شي نو څه حكم لري ؟

سوال : - په كار بار كى كله چى په غلطي سره ناجائز او حرامي روپۍ راشي او كله استعمال هم شي ، چي وروسته بيا په زړه كي ورباندي پريشانه يم ، او په دې پريشاني كي لمونځ راځخه پاته وي ، شرعًا ددې څه حكم دى ؟ طلعت محمود راولپنډى.

جواب : - كله كه په غلطي سره كوم ناجائزي طريقې سره روپۍ حاصل شي او بيا استعمال شي نو توبه ورباندي كول ضروري ده ، او هغومره روپۍ صدقه كړه (۱) لكن دهغه دوجي لمونځ مه پريږده ولي چي لمونځ په هر وخت كي ضروري دى ، ددې وروسته خو نور په اهتمام لمونځ كول ضروري دى.

وفى مسند احمد بن حنبل رقم الحديث ۵۷۳۲ ج۵ ص۲۱۸ و۲۱۹ (طبع دار الحديث القاهره) عن ابن عمر ﵄ ان رسول الله قال من اشترى ثوبًا بعشرة دراهم وفيه درهم حرام لم يقبل الله تعالى له صلوة مادام عليه .

وفي الصحيح للامام المسلم ﵀ ج۱ ص۳۲۶ (طبع مكتبة الحسن) عن ابي هريرة ﵁ فى حديث ..... ثم ذكر الرجل يطيل السفر اشعث أغبر يمديدى الى السماء يارب ! يارب ! ومطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذى بالحرام فانى يستجاب لذلک . (مسلم)

وفى مسند احمد رحم الحديث ۳۶۷۲ ج۳ ص۵۳۹ (طبع دار الحديث القاهرة) عن عبدالله بن مسعود ﵁ عن رسول الله ﷺ قال لايكسب عبد مالا من حرام فينفق فيه فيبارک له فيه ولا يتصدق به فيتقبل منه ولا يترک خلف ظهره الا كان زاده الى النار ... الحديث (رواه احمد)

(۱) وفى الاختيار لتعليل المختار ج۳ ص۶۱ الملک الخبيث سبيله التصدق به ولو صرف فى حاجة نفسه جاز ثم ان كان غنيًا تصدق بمثله وان كان فقيرًا لا يتصدق .

والله اعلم ۲۸/۴/۱۴۰۵ هـ (۱)

دمور لپاره په حالت دمجبوري كي دزوى حرامي ګټې استعمالولو حكم

سوال : - كه دسړي يو زوى وى هغه دخپلي مور كفيل وى او دده ګټه په حرامه طريقه وي ، نومور ته دده ګټه جائز ده كه نه ؟ او هغه مجبورا دهغه ګټه څخه خوراک كوى او مور هغه حرام مال په سترګو وينى خو خوړلو ته يې ضرورت لرى ولى چي بل كفيل نه لرى داسي ښځي ته څه حكم دى ؟

جواب : حرام مال حرام دى ، په دې صورت كي مور ته پكار ده چى هغه دحلال روزي څخه خوراک وكړي ، او زوى هم دحلالي روزي وګټلو ته تشويق كړي ، ولي چي دا پر مور واجب ده ، تر څو چي دحلال روزي انتظام نه وى نو توبه او استغفار دى وكړي ، دحلال رزق حاصلولو لپاره دي كوشش جاري وساتي . (۲)

---

(۱) دغه فتوى حضرت مفتى صاحب دسائل په جوابي خط كي ليكي ده .

(۲) وفى الشاميه ج۶ ص۱۹۱ وفى جامع الجوامع اشترى الزوج طعامًا او كسوةً من مال خبيث جاز للمرأة اكله ولبسها والاثم على الزوج ..... الخ

وفى رد المحتار ايضًا ج۶ ص۳۸۶ (طبع سعيد) امرأة زوجها فى ارض الجور اذا أكلت من طعامه ولم يكن عينه غصبًا او اشترى طعامًا او كسوة من مال اصله ليس بطيب فهى فى سعة من ذلک والاثم على الزوج .

وكذا فى الخانيه على الهنديه ج۳ ص۴۰۳ .

وفى احكام المال الحرام ص۲۸۹ فاذا كان المال الحرام فى يد الوالد ينفق منه على نفسه وأبنائه لغير حاجة او فقر فان الاب يكون آثمًا بهذا الانفاق اذا وجد المال الحلال او كان قادرًا على تحصيله ... اما الابناء ففي حكم انفاقهم من المال الحرام الذي عند الاب ينبغي التفريق بين الحالتين ، الاولى : ان يكون الابن غير قادر على تحصيل المال الحلال اما لعجزه او لصغر سنه وكانت نفقته واجبة على ابيه او كان طالب علم ليس له مصدر رزق للعيش ودفع نفقات الدراسة الا هذا المال الحرام الذي عند الاب فان حكمه فى الاخذ

والله اعلم ۷/۱۲/۱۳۹۲ھ (فتوی نمبر ۲۷۷۷ / ۲۷ و)

دپلار دطرفه دصدقې لپاره ورکړل شوې حلالي روپۍ په خپله استعمال کړي دمال حرام څخه دصدقې حکم.

سوال :- پلار وزوی ته دحلالو روپو څخه روپۍ ورکړې چي ورشه فلانکی شی رانیسه فلانکی مستحق ته يې ورکړه ، دزوی چی آمدني ناجائزه وه دپلار روپۍ يې په خپل استعمال کي راوستلې او دخپلو روپو څخه يې هغه شی هغه مستحق ته ورکړو نو په دې صورت کی دپلار په ثواب کی فرق راغی که نه ؟ په دې سره خو دپلار ثواب له منځه ولاړ او که نه ؟

طلعت محمود راولپندی.

جواب : - دپلار په ثواب کي انشاء الله فرق نه راځي لکن زوی يې ګناه ګار دی ولی چی ده هغه روپۍ ورنه کړې او دخپلو روپو څخه يې ورکړې چي حرامې وې (۱) ولی چي پلار دپاک صاف شي دورکولو ورته ويلي ؤ او ده دناجائز آمدني څخه شی ورته ورکړو لهذا دده وزوی ته پکار ده چی توبه وباسي او دناجائز کارو بار پريږدی ، بل پلار چي روپۍ دکوم کار لپاره ورکړې دی ، دهغه څخه دي خرڅ وکړي.

من هذا المال حكم المضطر الى دفع الاذى عن نفسه بالميتة فيجوز له ان يأخذ ما ينفقه عليه والده وان ينتفع به مع انكاره فى قلبه لهذا الامر الى ان يصبح قادراً على الاعتماد على نفسه فى تحصيل الكسب الحلال او ان يأتيه مال من مصدر حلال فيستغنى به عما عند والده من مال حرام لانه عند حصول المال الحلال تزول ضرورته الى الانفاق على نفسه من المال الحرام ويكون لازماً عليه ان ينفق على نفسه من هذا المال الحلال ويحرم عليه ان يقبل نفقة والده من المال الحرام .

(۱) دمال حرام حاصل كولو او استعمال په باره كي متعلق احاديث دمخكينۍ فتوى په حاشيه كي وګورۍ.

وانما صح الشراء على قول الكرخي رحمه الله وصحت الصدقة (۱)

---

(۱) وفى الشاميه مطلب اذا اكتسب حراماً ج۵ ص ۲۳۵ (طبع سعيد) مطلب اذا اكتسب حرامًا ثم اشترى فهو على خمسة اوجه قوله (اكتسب حرامًا ... الخ) توضيح المسألة ما فى التاتارخانيه حيث قال رجل اكتسب مالا من حرام ثم اشترى فهذا على خمسة اوجه اما ان دفع تلك الدراهم الى البائع اولا ثم اشترى منه بها او اشترى قبل الدفع بها ودفعها او اشترى قبل الدفع بها ودفع غيرها او اشترى مطلقا ودفع تلك الدراهم او اشترى بدراهم اخر ودفع تلك الدراهم قال ابو نصر يطيب له ولا يجب عليه ان يتصدق الا فى الوجه الاول واليه ذهب الفقيه ابو الليث لكن هذا خلاف ظاهر الرواية فانه نص فى الجامع الصغير اذا غصب الفًا فاشترى بها جارية وباعها بالفين تصدق بالربح وقال الكرخى فى الوجه الاول والثانى لا يطيب وفى الثلاث الاخيرة يطيب .

وقال ابو بكر لا يطيب فى الكل لكن الفتوى الآن على قول الكرخى دفعا للحرج عن الناس . آھ

وفى الولوالجية وقال بعضهم لا يطيب فى الوجوه كلها وهو المختار لكن الفتوى اليوم على قول الكرخى دفعا للحرج لكثرة الحرام . آھ

وفى الهنديه فصل فى الاحتكار ج ۳ ص۲۱۵ (طبع رشيديه كوئته) اكتسب مالا من حرام ثم اشترى شيئًا منه فان دفع تلك الدراهم الى البائع اولا ثم اشترى منه بتلك الدراهم فانه لا يطيب له ويتصدق به وان اشترى قبل الدفع بتلك الدراهم ودفع غيرها او اشترى مطلقا ودفع تلك الدراهم او اشترى بدراهم اخرى ودفع تلك الدراهم قال ابو نصر يطيب ولا يجب عليه ان يتصدق وهو قول الكرخي والمختار قول ابى بكر الا ان اليوم الفتوى على قول الكرخى كذا فى الفتاوى الكبرى

وفى الهنديه فصل فى تملك الغاصب الخ ج۵ ص۱۴۱ (طبع مكتبه رشيديه كوئته) وان كان مما لا يتعين فقد قال الكرخى انه على اربعة اوجه اما ان اشار اليه ونقد منه او اشار اليه ونقد من غيره او اطلق اطلاقا ونقد منه او اشار الى غيره ونقد منه وفى كل ذلك يطيب له الا فى الوجه الاول وهو ما اشار اليه ونقد منه قال مشايخنا لا يطيب له بكل حال ان يتناول منه قبل ان يضمنه وبعد الضمان لا يطيب الربح بكل حال وهو المختار والجواب فى الجامعين والمضاربة يدل على ذلك واختار بعضهم الفتوى على قول الكرخى فى زماننا لكثرة الحرام وهذا كله على قولهما .

وفى العناية شرح الهداية : (اشترى بها اشارة الى ان التصدق انما يجب اذا اشترى بها ونقد منها) قال فخر الاسلام لان ظاهر هذه العبارة يدل على انه اراد بها اذا اشار اليها ونقد منها ، اما اذا اشار اليها ونقد من غيرها

والله اعلم ۲۸ / ۲/۱۴۰۲ھ (۱)

دمال حرام متعلق دحضرت مفتی صاحب یو مهم تحقیق

(وضاحت دمرتب) مال حرام په باره کي عام طور فتواؤ کي دغه خبره کیږي چي بلانیت ثواب بې فقیرته او مستحق زکات ته ورکړي ، یعنی دورکولو سره سره مالکول هم ضروري دی ، ددې سره مطابق په دار الافتاء جامع دار العلوم کراچي څخه فتوی جاري شوې ده مگر وروسته دحضرت مفتی صاحب پر دې خاص تحقیق راغلی چی کسب خبیث واجب التصدق سره سره واجب التملیک هم دی او که نه ؟ یعنی مال حرام صرف صدقه کول ورته کافی دی او که دهغه فقیر مالک جوړول هم ضروري دی ، ددې تحقیق په نتیجه کی حضرت مفتی صاحب رجحان دې طرف ته دی چی دکسب خبیث تصدق واجب دی مگر واجب التملیک نه دی.

حضرت مفتی صاحب دغه تحقیق کړی ده چی صدر دار العلوم مفتی محمد رفیع صاحب ته وړاندي شوی دی چي هغه باندی دمفتی محمد رفیع صاحب پر ځینو مواقعو حاشیه هم کړې ده او وروسته په آخر کي یې خپل رجحان داسي کړی دی:

حضرت مفتی محمد تقی صاحب تحقیق او دحضرت مفتی محمد رفیع صاحب حاشیه درج ذیل ده: (محمد زبیر)

او نقد منها واشار الی غیرها او اطلق اطلاقا ونقد منها یطیب له ، وهذه اربعة اوجه ففی واحد منها لا یطیب وفی الباقي یطیب.

وذکر فی المبسوط وجهًا آخر لا یطیب فیه ایضًا وهو انه اذا دفع الی البائع تلک الدراهم اولا ثم اشتری منه بتلک الدراهم وهذا التفصیل فی الجواب قول الکرخی رحمه الله لان الاشارة اذا کانت لا تفید التعیین کان وجودها وعدمها سواء فلا بد ان یتأکد بالنقد لیتحقق الخبث قالوا: والفتوی الیوم علی قوله لکثرة الحرام دفعا للحرج عن الناس.

(۱) دغه فتوی حضرت مفتی صاحب په خپل جواب دخط لیکلې ده. (محمد زبیر)

په مال حرام کي دتصدق سره سره تملیک ضروري دی که نه ؟

(خط دمفتي صاحب وحضور ته دصدر دارالعلوم کراچي)

محترم صدر صاحب !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

کسب خبیث چي واجب التصدق دی په دې باره کي دډېره وخته تردد دی چی هغه واجب التملیک نه دی ، ولی چی مقصد اصل مالک ته ثواب رسول دی هغه په تملیک کي منحصر نه دی ، وروسته ددې مسئلې دڅه تحقیق نوبت راته ورسیدو او په دې باره کي چي دفقه کتابو څخه مي څه امور په فکر کي راغلل هغه احقر ددې تحریر سره منسلک کړی دی مقصد دادی چی هغو امورو باندی غور وشي او ستا رایه ظاهره شي ، بیا حضرت ناظم صاحب او مولانا محمود اشرف صاحب ته ولیږل شي نو مهرباني به دی وي دغه سطور په عجلت سره ولیکل شول چی اسلام آباد ته روان یم.

والسلام محمد تقی عثماني ۲۷ / ۱۰ / ۱۴۱۹ھ

مولانا محمود اشرف صاحب !

ما خط ولوست پر هغه مي څه ولیکل اوس مي تاته درولیږو ته یې هم وګوره او بیا یې ناظم صاحب ته پیش کړه

والسلام محمد رفیع عثماني ۱۲/۱۱ / ۱۴۱۹ھ

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد !

دچا سره چي مال حرام چي په ناجائز طریقه لاس ته راوړل شوی وی ، او هغه واصل مالک او یا وارث ته رسول ممکن نه وی نو دهغه حکم دادی چی بېله دثواب دنیت څخه دځان خلاصولو لپاره دي صدقه کړل شي عام طور تأثر داده چی صدقه کولو کي هغه ټول شرائط چي

دزكوة لپاره دی هغه دی مراعت کړل شي ولی چی عام طور باندی دا خبره کیږي چي په دې کي هم تمليک ضروري دی او په کوم رفاهي کار کي بې دتمليک څخه خرڅ کول جائز نه دی ، علماء کرامو پر دې باندي فتواوي هم ورکړې دی.

لکه څنګه چي په امداد المفتين ص۴۵۴ کتاب الزكاة ، طبع دار الاشاعت كي راغلی ، البته حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي قدس سره رجحان دې طرف ته دی چي دمال حرام حکم دلقطې دی دلقطې حکم دادی چي هغه داصل مالک دطرف څخه صدقه نافله ده او تمليک ضروري نه دی په دې باره کي په امداد الاحکام دريم جلد کي حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمة الله عليه دمولانا اشرف علی تهانوي رحمة الله عليه دغه رجحان صراحة نقل کړی دی ، او خپله يې هم ديخواته درجحان کولو اشاره کړې ده ، دهغه عبارت په لاندي ډول دی:

(الجواب) دلقطه په باره کي فقهاؤ اقوال دونه ثابت دی چي پرغنی باندي دهغه تصدق واجب ده لکن ددې مطلب دا کول چی دصدقې واجبې حکم لري (حتى يجب فيه التمليک كالصدقات الواجبة) يا ددې مطلب دادی چي يواځي تصدق يې واجب دی دصدقات واجبه په ډول نه دی (كما اذا جمع مالاً من كسب حرام فيجب التصدق به ولا يكون مثل صدقات واجبة حتى يبرأ ذمته بالتصدق على ابنه الكبير الفقير) احقر تر اوسه دصدقات واجبه په ډول بلله ، او حضرت حکیم الامت واجب التصدق په ډول يې بولي دصدقې واجبی په رقم يې نه بولی او تر اوسه په کومي صريحي جزئيه سره دغه اختلاف زما وړاندي پورته شوی هم نه دی ، التبه رجحان دحکیم الامت وقول ته دی ، وروسته بيا جزئيه هم راته پيدا شوه چي په دې کي دواړه قوله شته مګر مشهور تمليک فقراء دی. (امداد الاحکام ج۳ ص۴۷) (۱)

تمة الجواب الاول ، قال فی الدر فی مصرف بيوت المال مانصه

ورابعها الضوائع مثل مالا — يكون له اناس وارثونا

ورابعها فمصرفه جهات — تساوی النفع فيها المسلمونا (۲)

---

(۱) ج۳ ص۴۸ (طبع مكتبه دار العلوم كراچي)

(۲) الدر المختار مع رد المحتار ج۲ ص۳۳۸ (طبع سعيد)

قال الشامي : قوله الضوائع : جمع ضائعة ای اللقطات وقوله مثل ما لا ای مثل تركة لا وارث لها اصلا اولها وارث لا يرد عليه كاحد الزوجين الخ ، وقوله ورابعها فمصرفه جهات الخ ، موافق لما نقله ابن الضياء فی شرح الغزنويه عن البزدوی من انه يصرف الى المرضى والزمنى واللقيط وعمارة القناطر والرباطات والثغور والمساجد وما اشبه ذلک (۱)

په دې باره کی دحضرت حکیم الامت قدس الله سره يو فتوی څخه هم معلوميږي چی هغه دا ډول صدقه واجب التمليک نه بولي ، کتاب الوقف کي ديوه سوال په جواب کي داسي ويلي:

سوال: زيد دبکر څخه يوه دسنګ مرمر ډبره رانيوله دهغه څخه رانيول دمسجد ممبر او مصلی جوړه کړه ، وروسته زيد ته دامعلومه شوه چی هغه ډبره چی ده دبکر څخه رانيولې د هديرې دقبرو څخه رااخستل شوې ده ، او هغه قبرونه دده ملک هم نه دی ، نو پر دې باندی لمونځ کول جائز دی که نه ؟ او هغه ډبره په مسجد کي لګول څنګه ده ؟

جواب: ډبره پر قبر په لګولو سره وقف نه ګرزي بلکي دلګوونکي ملک وي بيا داجنبي بيع صحيح نه ده لکن که دغه لګوونکی معلوم نه وی او دهغه وارث هم موجود نه وی دهغه حکم دلقطې دی (۲) او دلقطې حکم داده چی په يو نيک کار کی صرف شي ، مثلا په مسجد جوړولو کي صرف شي ، البته چاچی بيع کړې ده دهغه لپاره يې قيمت صحيح نه دی او که دهغه مالک يا وارث معلوم وی نو دهغه څخه به سوال کيږي ، که هغه اجازت ورکړي مفت يا يې قيمت واخلي ، او که وارث اجازت رنه کړي له بيخه دی وکښل شي که وارثين زيات وی دټولو څخه داجازت اخستل ضروري دی ، او دنابالغ دصحی قيمت ورکول ضروری دی.

(امداد الفتاوی ج۲ ص۵۸۷ سوال نمبر ۷۰۹ طبع مکتبه دار العلوم کراچي)

---

(۱) ايضاً

(۲) په حکم دلقطې کولو باندی بنده ته دغه سوال پيدا شو چي دډبرو والا چی چير ډبري لګولې دی هغه راضی ؤ نو هغه بيا ولی نه شي لګولی چی بائع بيا دخپلي مرضي مطابق هغه ولګولې ددې اشکال اثر اګرچه زموږ پر زير بحث مسئلې نه دی لګيدلی لکن ضمناً ددې ذکر کول بنده ته مناسب معلوم شو ، (رفيع)

(حاشيه از حضرت مولانا مفتی محمد رفيع عثمانی صاحب)

حضرت مولانا حكيم الامت دلته دهديرې دډېرو حكم دلقطې وبللو ، او په مسجد كي دلګولو اجازت وركړى دى ، او دا يې په صراحت سره ويلي چې دلقطې حكم دادى چي هغه په يونيک كار كي صرف شي او دا هم ظاهره ده چې مسجد كي تمليک نه وي.

حكيم الامت قدس سره ددې رجحان سره په نظر دمسئلې دتحقيق كولو ضرورت محسوسيږي نو حكيم الامت دتائيد سره متعدد دلائل موجود دى چې اهل علم وربانديې غور او فكر لپاره وړاندي كيږي.

ملک خبيث دواجب التمليک كيدل دفقهاؤ دمذهب په كتابو كي دكوم صراحت ځخه بغير په لفظ دتصدق استدلال شوى دى ، او صدقه عمومًا تمليک ورسره وي نو په دې خاطر ملک خبيث ته واجب التمليک ويل شوى ، حالانكى په خاص ډول صدقه نافله كي هم لفظ دصدقه اطلاق شوى دى چې په هغه كي دتمليک ضرورت نشته ، مثلا مشهور حديث دى (اذا مات ابن آدم انقطع عمله الا من ثلاث) (۱) په هغه كي دريم عمل (او صدقة جارية ينتفع بها) بلل شوى دى ، دغه صدقه جاريه په واضح ډول بې دتمليک ځخه وركول كيږي ، هم داډول پر وقف باندى هم دصدقې اطلاق په كتابو داحاديثو كي راغلى مثلا په صحيحينو كي دى چې حضرت عمر ﷺ دخيبر خپلى مځكي په باره كي دنبي كريم ﷺ سره مشوره وكړه ، نو رسول الله ﷺ ورته وويل:

ان شئت حبست اصلها وتصدقت بها (۲) يعني كه ته غواړي چې اصل مځكه دځان سره وساتې او نوره صدقه كړې.

حضرت عمر ﷺ ددې مشورې سره سم عمل وكړو چې الفاظ يې دغه دى:

فتصدق بها عمر انه لا يباع اصلها لا يباع ولايورث ولايوهب قال فتصدق عمر فى الفقراء والقربى هذا لفظ مسلم فى كتاب الوقف.

---

(۱) ددې سره سنن ابن ماجه باب ثواب معلم الناس الخير ص۲۱ طبع سعيد او مشكوة المصابيح كتاب العلم ج۱ ص۳۲ طبع قديمي كتب خانه وګورى.

(۲) الصحيح للبخاري باب الشروط فى الوقف ج۱ ص۳۸۲ والصحيح للمسلم ج۲ ص۴۱ طبع قديمي كتاب خانه)

(تكملة فتح الملهم ج۲ ص۱۱۷ تا ۱۲۰ طبع مكتبه دار العلوم كراچي)

لهذا صدقه نافله كي يوائې لفظ دصدقې پر دې خبره استدلال نه كيږي چي په دې كي تمليک ضروري دى ددې ځخه علاوه فقهائي كرامو دا په صراحت سره ويلي دى چې مال حرام لپاره چي فقهاؤ دصدقې لفظ استعمال كړى دى دهغه ځخه مراد محض تمليكًا صدقه كول نه دى مراد بلكه عام مصارف دخير كي يې صرف كولى شي ، علامه قرافي رحمة الله عليه ليكلى دى:

انما يذكر الاصحاب صدقة فى فتاويهم فى هذه الامور لانه الغالب والا فالامر كما ذكرته لک (الذخيرة للقرافي بحواله احكام المال الحرام ص:۱۹۰) (۱)

اګرچي علامه قرافى رحمة الله عليه مالكي المذهب دى او هغه دخپلو اصحابو دقول تشريح كړې ده لكن ددې ځخه دا خبره په وضاحت سره راووزي چي ددې باوجود صدقه لفظ استعمال كولو مصارف خير كي بې دتمليک ځخه خرڅ كول دفقهاؤ دعباراتو ځخه مراد دى.

۲: فقهائي حنفيه په دې خبره باندى تصريح كړې چې ملک خبيث واجب التصدق هغه من كل الوجوه دزكوة په ډول نه دى بلكه دمتعددو وجوهاتو دزكوة ځخه بيل احكام لرى ، مثلا داخبره تقريبًا ټولو فقهاؤ حنفيه ؤ كړې ده چې دغه مال متصدق خپل اولاد او ښځي ته هم وركولى شي(۲) ، څنګه چې علامه حموي رحمة الله عليه ليكلى دى:

لو كان غنيا لم يحل له ذلک بل يتصدق على الفقير اجنبيا ولو زوجة او قريبًا ولو اصلا او فرعًا كما فى التنوير آه....

---

(۱) احكام المال الحرام ص۲۸۹ طبع ماريه اكيډمي)

(۲) ددې وجه بنده ته ښكاره نشوه چې مال واجب التصدق صدقه داصل مالک دطرف ځخه وى او دمتصدق ښځي او اولاد دده ځخه اجنبي دى (رفيع) (حاشيه از حضرت مولانا مفتى محمد رفيع عثماني صاحب

(حاشيه الاشباه للحموی كتاب الصيد والذبائح ج۲ ص۱۰۶ طبع ادارة القرآن ومثله في الدر المختار (۴ص۲۷۸ تا ۲۸۰) والا تصدق بها على فقير ولو على اصله وفرعه وعرسه .... الخ)

ددې سره دا هم دی چې اصل مالک طرف ته دصدقې نافله حکم لري په دې دحنفيه دظاهر الرواية سره سره وبني هاشمو ته هم ورکول کيدلای شي ، الدر المختار کي راغلي:

جازت التطوعات من الصدقات وغلة الاوقاف لهم ای لبني هاشم سواء سماهم الواقف اولا ... الخ. (ج۲ص۳۵ طبع سعيد)

ددې سره علامه شامی ليکلی دی:

نقل في البحر عن عدة كتب ان النفل جائز لهم اجماعًا وذكر انه المذهب وانه لافرق بين التطوع والوقف كما في المحيط وكافي النسفي ...(رد المحتار ج۲ ص۳۵۱ كتاب الزكاة باب المصرف طبع سعيد)

لکن ددې شخه وروسته علامه شامي رحمه الله دزيلعي په حواله مختلف فيه بللې او ويلي يې دی چې علامه ابن همام رحمه الله په فتح القدير کي ددليل په اعتبار سره دا خبره قوي بللې ده چې بني هاشم لپاره صدقات واجبه او نافله دواړه جائز نه دی لکن علامه ابن نجيم رحمه الله صدقه نافله دجواز قول دډيرو احنافو شخه نقل کړی دی او هغه يې دمذهب صحی قول بللی ، او پر دې خبره يې دفقهائي مذهب داجماع دعوا هم کړې ده ، اود علامه ابن همام دځينو دلائلو ترديد يې هم کړی ده او دجواز وجه يې دا بللې ده چې زکاة دتطهير نفس موجب دی او هغه يې اوساخ الناس سره تشبيه ورکړې ده لکن صدقه نافله تبرع محض ده او هغه داوساخو الناس سره هيڅ ډول تشبيه نه لري ، (۱) ددې شخه دا خبره معلومه شوه چې بني هاشم لپاره صدقات نافله جائز دی

(۱) دفرق وجه ماته معلومه نه شوه ولی چې صدقه واجبه په ډول دغه هم دکفاره سئيات او موجوب رفع درجات وي (رفيع) حاشيه از مولانا مفتی محمد رفيع عثماني صاحب دامت بركاتهم العاليه .

چنانچه علامه شمس الائمة سرخسی رحمه الله دحضرت علی رضي الله عنه شخه دلقطې دمبينه انتفاع توجيه کړې ده فرمايي:

الا ان الصدقة الواجبة كانت لا تحل لهم وهذا لم يكن من تلك الجملة فلهذا استجاز علی رضي الله عنه الشراء بها لحاجته . (المبسوط للسرخسي ج۱۱ ص۸ كتاب اللقطة طبع مطبعه السعادة مصر ۱۳۲۴هـ)

غالبًا دا وجه کيدلی شي چې زموږ بزرگانو دصاحب بحر قول اختيار کړی شنگه چې حضرت علامه انور شاه صاحب کشميري رحمه الله دلقطې په باب کي فرمايي :

ونقول انه صدقه نافلة وهی جائزة لاهل البيت عند اكثرنا وان تردد فيه فخر الدين الزيلعي وابن همام ولذا قلنا يجوز للقطة على الفروع (۱) والاصول فافترق الزكاة والتصدق باللقطة .

(العرف الشذي كتاب اللقطة ص۲۵۷ طبع ايج ايم سعيد (۲)

همدا ډول علامه ظفر احمد صاحب عثماني رحمه الله ليکلی دی :

وايضًا فان بني هاشم انما لا تحل لهم الزكوة والعشر وصدقة الفطر واما ما عدا ذلک من الصدقات النافلة فتحل لهم باتفاق ائمتنا واللقطة ان

(۱) دبنده په وړاندې دغه تعليل هم صحی نه دی ، ولي چې دجواز دلقطې پر فروعو اواصولو کي کومه ظاهر وجه نه لري چې دغه صدقه نافله بلکه بنده ته دا وجه ښکاره ده چې د اصل مالک دطرف شخه صدقه ده او ملتقط اصول او فروع داصل مالک اصول او فروع نه دی بلل لهذا اصل مالک دطرف شخه پر هغو باندی صدقه جائز ده شنگه چې دهغه دطرفه زكوة هم ورکول جائز دی (رفيع) حاشيه از حضرت مولانا مفتی محمد رفيع عثماني صاحب

(۲) ص۴۱۳ (طبع مكتبه رحيميه سهارنپور)

كانت واجبة التصدق ليست من لصدقت الواجب بل مصرفها مصارف الصدقة النافلة حيث جاز ان يتصدق بها على فقير ذمى (اعلاء السنن ج۱۳ ص۲۶ طبع ادارة القرآن)

علامه خليل احمد سهارنپوري رحمه الله دمبسوط سرخسي ددې قول په بنياددا توجيه اختيار کړې ده چې صدقه نافله بني هاشم ته جائز ده (بذل المجهود ص۲۸۵)(۱) دادول زکاة ذمي ته نه ورکول کيږي لکن واجب التصدق مال ذمي ته هم ورکول کيدلی شي ، څنګه چې په درمختار او شامی کی بغير دکوم اختلاف دنقل کولو ذکر شوی دی ، (شامی ج۴ ص۳۵۱)

دې څخه دا خبره ښکاره شوه چې واجب التصدق مال دمصرف من کل الوجوه دزکات په دول بلل صحی نه دی(۲)

۳ : دا خبره تقريبا مسلمه ده چې کسب خبيث واجب التصدق دی په دې چي ددې صحی مالک يا معلوم نه دی يا تر هغه مال رسول متعذر دی ، لهذا هغه دلقطې حکم لري او دلقطې حکم دادی چې هغه واجب التصدق دی ، او چونکه فقهاء حنفيه دبيت المال مصارفو کي لقطه يوائي دفقيرانو حق بولي ، ددې څخه داخبره ښکاره شوه چې دزکوة په دول ددې هم تمليک ضروري دی لکن دا استنباط محل دنظر دی.

او خو بعض فقهاء حنفيه لقطه يوائي دفقراؤ سره نه ده خاص کړې بلکه هغه يې دټول عامه مصالحو دمسلمانانو لپاره صحيح بللی ، علامه شامی دعلامه بزدوی څخه نقل کړی دی:

(۱) ايضاً ج۲ ص۵۰ طبع معهد الخليل وفی طبع دار الريان للتراث قاهره ج۸ ص۱۹۵ واما آل النبي ﷺ فقال اكثر الحنفية ..... انها تجوز لهم صدقة التطوع دون الفرض قالوا لان المحرم عليهم انما هو اوساخ الناس وذلک هو الزكوة لا صدقة التطوع ... الخ

(۲) اوفی الدر المختار ج۲ ص۳۵۱ (طبع سعيد) ولا تدفع الى ذمی وجاز دفع غيرها.
څنګه چې مصرف کي دغه فرق وو چي په صدقه واجبه هغه په صدقه نافله کي هم دی (رفيع)
حاشيه از حضرت مولانا مفتی محمد رفيع عثماني صاحب

انه يصرف الى المرضى والزمنى واللقيط وعمارة القناطر والرباطات والثغور والمساجد وما اشبه ذلک (۱)

الدرالمختار کي علامه ابن الشحنه څخه دمصارف دبيت المال په اړه چي کوم اشعار منقول دی په هغه کي هم دغه موقف اختيار کړل شوی دی ، البته علامه شامی رحمه الله مخته پر دې داسي اعتراض کړی چې په عامو کتابو کی دلقطې مصرف فقراء بلل شوی دی علامه شامی ليکلي دی:

واما الرابع فمصرفه المشهور هو اللقيط الفقير والفقراء الذين لا اولياء لهم فيعطى منه نفقتهم وادويتهم وكفنهم (۲) وعقل جنايتهم (رد المحتار ج۲ ص۲۲۸ طبع سعيد)

په بيت المال کي دلقطې دمصرف په باره کي په متعددو کتابو کي دا عبارت موجود دی ليکن ددې عبارت په غور کولو سره داخبره راوزي چې که فقهاء فقراء دلقطې مصرف وبولي بيا هم ددې تمليک ضروري نه دی چې دهغه واضح دليل دادی چې فقير اموات هم دلقطې په مصرف کي داخل شوی دی ، حالانکه ميت تمليک نه شي کولی چنانچه دا خبره دزکوة په باب کی په اکثرو متونو کی په صراحت سره ذکر شوې ده ، چې دغه په تکفين ميت کي نه شي صرف کيدلی الدر المختار کی راغلی:

ويشترط ان يكون الصرف (اى الزكوة) تمليكاً لا اباحة كما مر لا يصرف الى بناء نحو مسجد ولا الى كفن ميت.

علامه شامي رحمه الله الى كفن ميت لاندي ليکلی دی:

لعدم صحة تمليک منه (رد المحتار ج۲ ص۳۴۴ طبع سعيد)

(۱) ردالمحتار ج۲ ص۳۳۸ (طبع سعيد)

(۲) علامه شامی په کلام کی دکفن لپاره جواز دعلامت علامه شامی په وړاندي دهغه تمليک واجب نه دی لهذا عماره القناطير ونحو ذلک هم ددې مصرف کيدلای شي . (رفيع)

ددې څخه دا خبره ښکاره شوه چې فقهائي كرامو تكفين الميت تمليک نه دی بللی ددې باوجود دلقطې مصارفو كي تكفين هم شامل شوی دی نو معلومه شوه چې لقطه تمليک څخه بغير پر فقيرانو صرف كيدلی شي.

۴ : دلقطې او كسب خبيث په مصارفو كي يواځي دفقراؤ تخصيص دائمه اربعه څخه يواځي داحنافو په نزد دی ، نور ائمه كرام دغه تخصيص نه كوي بلكه په عامو مصالحو دمسلمانانو كي خرڅ كولو اجازت شوی دی ددغه لاندي عبارت څخه په څرګنده را معلوميږي:

(وفي المعيار المعرب ج۶ ص۱۴۶)(۱) وسئل بعض الفقهاء عمن تاب وبيده مال حرام لا يعرف اربابه وليس معه غيره هل يأخذ منه ما يقتات منه ام لا ؟ فأجاب قال الدودی : توبته تزيل ما بيده اما للمساكين او للمساكين او ما فيه صلاح المسلمين ..... الخ

وفی الذخيرة للقرافی (۲) بحواله احكام المال الحرام ص ۲۹۰ (۳)

اموال المحرمة من الغصوب وغيره اذا علمت اربابها ردت اليهم والا فهی من اموال بيت المال تصرف فی مصارفه الاولی فالاولی من الابواب والاشخاص على ما يقتضيه نظر الصارف من الامام او نوابه او من حصل ذلک عنده من المسلمين فلا تتعين الصدقة قد يكون الغزو اولی فی وقت او بناء جامع او قنطرم فتحرة الصدقة لتعيين غيره من المصالح .

حاشيه از حضرت مولانا مفتی محمد رفيع عثمانی صاحب

(۱) طبع دار المغرب الاسلامي بيروت

(۲) كتاب القراض باب الاول ج۵ ص۱۶۷ (طبع دار الكتب العلميه)

(۳) ص۲۸۹ (طبع ماريه اكيډمي)

وفی المجموع شرح المهذب (۹ ص ۳۵۱)(۱) فرع : قال الغزالی اذا كان معه مال حرام واراد التوبة والبراءة منه فان كان له مالک معين وجب صرف اليه او الی وكيله فان كان ميتاً وجب دفعه الی وارثه وان كان لمالک لا يعرفه ويئس من معرفته فينبغي ان يصرفه فی مصالح المسلمين العامة كالقناطر ، والربط والمساجد ومصالح طريق مكة ، ونحو ذلک مما يشترک المسلمون فيه والا فيتصدق به علی الفقراء .

وفی نهاية المحتاج الی شرح المنهاج (ج۵ ص۱۸۵) (۲) امامع جهلهم فان لم يحصل الياس من معرفتهم وجب اعطاؤها للامام ليمسكها او ثمنها لوجود ملاكها وله اقتراضها لبيت المال ، وان ايس منها ای عادة كماهو ظاهر صارت من اموال بيت المال فلمتوليه التصرف فيها بالبيع واعطاؤها لمستحق شيئ من بيت المال (كذا فی تحفة المحتاج بشرح المنهاج ج۶ ص۴۵) (۳)

وفی الانصاف للمرداوی (ج۱۱ ص۲۱۳)(۴) قوله واختار الشيخ تقی الدين رحمه الله فيمن كسب مالا محرما يرضی الدافع ، ثم تاب كثمن خمر ومهر بغی ، وحلوان كاهن ، الی قوله فی مال مكتسب من خمر

(۱) ج۱۰ ص۲۵۰ (طبع دار الكتب العلميه بيروت)

(۲) طبع دار احياء التراث العربي بيروت

(۳) تحفه المحتاج علی صدر حوشی الشيروان فصل فيما يطرأ علی المغصوب

(۴) طبع دار احياء التراث العربي بيروت

ونحو يتصدق به فاذا تصدق به فللفقير اكله ولولى الامر ان يعطيه المسلمين وله مع حاجته أخذ كفايته .

(هكذا فى كتاب الفروع لابن مفلح ص۴۴۹) (۱)

بنده محمد تقى عثمانى عفى عنه
۱۴۱۹/۱۰/۲۷هـ

اضافه از مولانا محمد افتخار بیگ:

حضرت مفتی کفایت الله دهلوی صاحب په کفایت المفتی کي ديو سوال په جواب کي ليکلی دی (سوال په مسجد کي دبنک جمع شده روپو دلګولو په اړه دی)

جواب: کومي روپۍ چي په بنک کي جمع شوی دی دهغه سود دبنک څخه دی وصول کړل شي ولي چي دهغو روپو په وسیله دمسحی مذهب تبلیغ او دمسلمانانو دمرتد کیدلو اعانت ګناه رامنځ ته نه شي ، دوصولولو وروسته دی هغه روپۍ درفاه عام په خیریه کارو کي ولګول شي یا دی فقراء او مساکینو ته درفع حاجات لپاره ورکول شي ، مثلا دیتیمانو ، مساکینو او طلباء لپاره دی مدارس اسلامیه ته او ددوی کتابو لپاره صرف کړل شي ، یا دی دمسافر خانې ، څاه او دسرک رغولو لپاره صرف کړل شي ، دا ټول صورتونه جائز دی البته په مسجد کي خرڅ کول دتقدس سره منافی دی والله اعلم وعلمه اتم.

جواب از حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله: اول خو دمسجد روپۍ په بنک کی جمع کول چي کوم بله وجه دحفظ يې موجوده وی داحتیاط خلاف کار دی ، که په غلطی او یا دمجبوري په وجه دا کار وشي نو نو هغه وخت دی دوصول کولو پر وخت هغه عمل دی ورسره وشي کوم مجیب ورته اینبولی دی ، البته دجزء اخیر یعنی مصارف مذکوره کي صرف کول په هغه کي دترمیم ضرورت شته هغه دا چي په مسجد کي صرف کول چي تقدس خلاف دی ، او بل ځای دمسجد ملک په غیر مسجد کي صرف کول ، دا ددواړه محذورو څخه دخلاصیدلو

(۱) ج۶ص۴۴۸ (طبع عالم الکتب بیروت)

صورت دادی چي دومره روپۍ دی دبل چا څخه قرض واخستل شي او بیا دی دسود په روپو باندی هغه قرضه ادا کړل شي ، او دا ثابت ده چی دمسجد په نیت سره کوم قرض اخستل شوی دی دهغه دمسجد دآمدني څخه ادا کول جائز دی

کتبه اشرف علی عفی عنه ۱۱/ذیقعده ۱۳۵۴ھ

الجواب الثاني صحيح: بنده محمد شفيع عفى الله عنه
مسعود احمد عفى الله عنه
نائب مفتی دار العلوم دیوبند ۱۴ ذیقعده ۱۴۵۴ھ
کفایت المفتی ج۷ ص۱۰۴ (۱)

ددې څخه هم معلومه شوه چی حضرت حکیم الامت داموال خبیثه دتصدق علی الفقراء تملیکًا قائل نه دی ولي چی حضرت دغه روپۍ دمسجد ملکیت بللي دی البته په مسجد کي یا په کوم بل ځای کي صرف کول په نورو وجوهاتو سره صحیح نه دی بللی ، ددې پر ځای يې صرف علی المسجد لپاره حیله بیان کړې ده ، او دلقطې په باره کي دحضرت خپل موقف په تفصیل سره په ابتداء کي تیر شوی دی. والله اعلم بالصواب

دحضرت مولانا مفتی محمد رفیع عثماني صاحب رائ

دبنده رجحان ددیره وخته دې طرف ته وه چی کسب خبیث (اموال واجبة التصدق) په تصدق کي تملیک واجب نه دی ، ولی چی صدقه داصل مالک دطرفه څخه په طور دصدقې نافلې سره ده او صدقات نافله کي صدقات جاریه هم داخل دی چی په هغه کی تملیک نه وي.

کله چی مي دغه تحریر ولید نو زما په رجحان کي نور هم زیاتوب راغی البته کومو علماء کرامو چي تملیک ورته شرط یا واجب بللي په تحریر هذا کي یو اخي ورته دغه دلیل ویل شوی دی چی فقهاء کرامو صدقه بللي ده او دهغه څخه يې دا را استنباط کړی ده چی په دې کي هم دصدقات واجبه په ډول تملیک واجب دی که دغه دلیل وی نو داحقر مذکوره رجحان کي

(۱) ج۷ ص۱۰۵ و ۱۰۶ (طبع الاشاعت)

كمي نه ده واقع شوې، او كه كوم بل دليل رامنځ ته شو نو هغه وخت به بيا ورته ګورو او هغه وخت به خپل رائ ظاهره كړم.

والله اعلم

محمد رفيع عثمانی عفی الله عنه

١٤١٩/١٢/١١ھ

(فصل فی بيع الصرف واحكام الحلی والاوراق النقدية)

دبيع صرف، زيوراتو دپلورلو اورانيولو دمروجو نوټو احكام

دكاغذي روپو په خپل منځ كي تبادله (بيع الصرف) نه ده

(دحضرت مفتي صاحب تفصيلي موقف)

سوال: سره زر يا سپين زرد پاكستانيو روپو يا ملايشايي روپو سره تبادله كول بيع صرف ده او كه نه؟ يعنی په دې بيع كي تقابض فی المجلس ضروري دی او كه نه؟ ولي نن ورځ عموما كار بار په نوټو سره كيږي دا په دې شول چی دحضرت مفتی صاحب تحقيق (كاغذي نوټ او دروپو حكم) شخه دا خبره رامعلومه شوه چي نوټ دسرو او سپينو زرو په ډول نه دی ځنګه چي په صفحه ٤٠ كي راغلی دی بيا ديوه ملك دروپو تر منځ په تبادله كی اګركه كمي او زياتي جائز نه ده لكن دا بيع صرف هم نه ده، ولي چي نوټ خلقي اثمان نه دی، بلكه عرفی اصطلاحي ثمن دی، دنوټو دزكوة په باره كي په صفحه ٢٣ كي علامه احمد ساعاتي دعبارت په نقلولو سره راغلی دی:

فالذی أراه حقًا وادين الله عليه ان حكم الورق المالی كحكم النقدين ... الخ

زما په نزد چي پر كوم شي باندي دالله په حضور كي جوابده يم هغه دا چي زكوة هم دسرو او سپينو زرو په ډول دی او ددوارو حكم يو دی چونكه دا مسئله دبنده شخه څو ځلي وپوښتل شوه نو بنده دخپلو استادانو خاص بيا مفتی عبداللطيف صاحب دار العلوم سرحد پشاور داسي معلومه كړې وه چي دغه معامله بيع صرف ده نو په هغه كي پور جائز نه دی حتی چي زموږ خلګ چي په ملايشاكي دسرو او سپينو زرو كار بار كوي نو حتی الوسع هغه ددې كار بار شخه ما منع كړل او ډير يې رامنع شول لكن كله چی دحضرت مفتي صاحب مقاله مي مطالعه كړه نو تردد راته پيدا شو نو بنده دخپل استاد محترم مفتی عبداللطيف ته په دې باره كي رجوع وكړه حضرت استاذ محترم دمذكوره مسئلې په باره وويل: چي دا معامله دبيع صرف ده، لهذا بې دتقابض في المجلس شخه جائز نه ده، دا ډول بنده دبنوري ټاون شخه جواب طلب شو ذهغه جواب هم داؤ

چې مذکوره معامله دبيع صرف ده لهذا بې دتقابض جائز نه ده لهذا بنده مسئله تاسي ته راجع کړه چې دروپو دنوټ په باره کې چې ثمن عرفي دی يو دبل سره تبادلې څه حکم دی ايا تقابض ضروری دی او که ؟ ديو دبدلينو قبض کفايت کوی او که نه دا دحضرت ذاتی رای ده يا دعصر حاضر دفقهاؤ کرامو او علمائي عظامو موافقت ورسره شامل دی ؟ ولی چې مسئله دحلال او حرام ده او بيا عمل هم ستاسي محترم درائ سره سم روان دی ولي چي پر اصولو ډيري تفريع ګاني کيږي.

والسلام بنده شيرمحمد ، فاضل دار العلوم سرحد پشاور

مدرسه عربيه مسجد بلال بونيز

جواب: زما محترم او مکرم زيد مجد کم السامي ، السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !

ستاخط راته ورسيدلو دمختلف جنس کاغذي روپو يو دبل سره تبادلې په باره کی داحقر موقف دادی چې بيع صرف نه ده ، لهذا تقابض فی المجلس ضروري نه دی ، پر بدلينو تقابض کفايت کوی او دمختلف جنس نوټو دتبادلې په صورت کی تفاضل هم جائز دی او نسيئه هم په کي جائز ده البته نسيئه دربا دجواز لپاره يوه حيله ګرزول شوې ده لهذا دنسيئه په صورت کی دا ضروري ده چې دنسيئه په صورت کي په قيمت کي اضافتوب نه کيږي بلکه پر ثمن مثل بيع کيږي.

بل تا ددې خبري سوال کړې ده چې نور علماء ددې رائ سره موافقت لري او که نه ؟ ددې جواب دادی چې داحقر دغه رائ دهندوستان مولانا مجاهد الاسلام صاحب هلته ډيرو مفتيانو حضراتو ته ليږلې وه چې دهغو څخه ډيرو مفتيانو حضراتو ورسره اتفاق کړی دی ، او تا ددوو علماؤ په باره کي ليکلی دی چې دهغو فتوی ددې څخه مختلف ده ، نو هغه معلومه نه ده چې داحقر دلائل دهغو حضراتو مختي راغلی او که نه ؟ البته دعرب ممالک اکثر علماء په دې معامله کي داحقر دفتوی سره اختلاف لري او علامه احمد ساعاتي رحمه الله (1) چې احقر دهغه عبارت په دې فتوی کي نقل کړی دی هغه صرف دوجوب زکوة تر حده دی دمبادلې دصرف کيدلو

(1) شرح الفتح الرباني للساعاتي آخر باب زكوة الذهب والفضة ج٨ ص٢٥١ .

او نه کيدلو په اړه څه کوم بحث نه دی کړی ، دهغه خبره داده چې اوس دغه نوټ ټول دسرو او سپينو زرو قائم مقام دی ، لهذا پر هغو باندی دبيع صرف حکم کول کيږي ، احقر ته تر اوسه هم پر دې خبر اطمنان نشته چې دهغه لاندي وجوهات دغه دی.

١: دروپو نوټونه اوس ثمن ګرزيدلي دی ، لکن دا خبره دغور ده چې ايا دغه ثمن خلقي دی او که ثمن اعتباري او عرفي دی ؟ ظاهره خبره ده چې دېته ثمن خلقي ويل ګرانه خبره ده ، لازمًا هغه ثمن عرفي ، يا ثمن اعتباري دی لهذا دهغو حکم دفلوسو دی ، ولي چې هغه هم ثمن اعتباري دی بلکه نوټونه ثمن اعتباري بلل ډير ښکاره ده ولي چي دهغو ذاتي قيمت دفلوسو څخه هم کم دی ، دهغو ثمن بلل بې له اصطلاح او اعتبار څخه بل هيڅ هم نه دی او دفلوسو په باره کي دفقهاؤ تصريح ده چې دهغو په خپل منځ کي تبادله کول بيع صرف نه ده او نه هم په مجلس کي تقابض شرط دی (1)

٢: که دنوټونو په خپل منځ کي تبادلې ته بيع صرف وويل شي نو به په هغه شيانو کي هم بايد صرف جاري شي چې په هغه کي يو بل څه زيات شول يعنی نصوص څخه يواځي سره او سپين زر کي صرف ثابت دی اوس په نوټو کي صرف راغی (ما يجري فيه الصرف) او دغه اضافتوب کوم نص يا کلام دفقهاؤ څخه نه معلوميږي.

٣: په دغه خبره چې دنوټونو په خپل ځای کي وضاحت وکړم چې نوټونو نه پر شا نه کومه سره او نه هم سپين زر دی ، لهذا هغه دسرو يا سپينو زرو قائم مقام ګرزول او هغه باندی بيع الصرف احکام جاري کول مشکل دی.

۴: که په هغه کي صرف جاري کړل شي او ورسره په سرو او سپينو زرو کي هم صرف په هغه ډول وبلل شي نو دا سوال پيدا کيږي چې نوټونه سره دسرو او سپينو زرو صرف وبلل شي او که نه ؟ که وبلل شي نو عجيبه به دا وی چې غالب الغش سکو کي دسپينو يا سرو زرو په تبادله

(1) راجع للتفصيل الدر المختار ج٥ ص١٧٩ وفتح القدير ج٦ ص١٦٢ والعناية للبابرتي ج٦ ص١٦٢ وتكملة فتح الملهم ج١ ص٥٨٧ الى ٥٩٠ .

كي دبيع صرف احكام نه جاري كيږي (۱) او په هغه غالب الغش سكو كي څه ناڅه سره يا سپين زر ګډ وي بيا هم دبيع صرف احكام نه په كي جاري كيږي او يوائي دزرو په اندازه تقابض په كي شرط دى په زيات كي نه دى او په نوټو كي چي هيڅ زر په كي ګډ نه دى او په هغه كي دصرف احكام جاري كوي.

ددې ټولو وجوه څخه تر اوسه احقر ته دبيع صرف احكام په كي جاری كولو اطمينان نشته او كه ددې اشكالاتو كوم واضح جواب وشي نو احقر به كوم اصرار ونه كړي لكن تر اوسه چي ما دكومو علماء كرامو سره په دې اړه مجلسونه كړي دى نو دهغو له طرفه ددې اشكالاتو ماته كوم واضح جواب نه دى شوى ، دعربو علماؤ بنيادي نكته يا خو داده چي ذهب وفضه كى دصرف احكام جاري كول ثمنيت دى (۲) او دمالكيهؤ دمسلك سره سم ثمنيت عرفيه هم په كبي شامل دى (۳) او په نوټو كي دغه عرفي ثمنيت موجود دى او داحنافو په نزد نه ثمنيت خلقي علت دى (۱) او نه ثمنيت عرفيه په ټولو احكام كي ثمنيت خلقيه كي مساوي دى يا به دوى دا وايي چي كه تقابض شرط وبلل شي او نسيئه په كي جائز شى نو ربا ته به حيله اسان شي چي په قرض وركولو كي كوم غير ملكي روپۍ دثمن مثل څخه زياتي په پور كي ادا كړل شي ، لكن داحقر په نزد ددې حل عرض كړى دى چي دنسيئې دوجي په قيمت كي اضافتوب كول ممنوع وبلل شوى او نسيئه په صورت كي دتبادلې ثمن مثلي ضروري دى او دكوم محظور څخه دځان ساتلو لپاره دثمن مثل پابندي فقهائي

(۱) راجع البحر ج۶ ص۳۳۴ (طبع رشيديه) ورد المحتار ج۵ ص۲۶۵ و۲۶۶ (طبع سعيد) ومجمع الانهر ج۳ ص۱۷۶ (طبع غفاريه) والهنديه ج۳ ص۲۱۹ وراجع للتفصيل الى تكملة فتح الملهم ج۱ ص۵۸۶.

(۲) لان الثمنية علة عند المالكية لتحريم ربا الفضل سواء كانت الثمنية حقيقية او عرفية وجاء فى المدونة الكبرى للامام مالک ج۳ ص۵ (طبع دار الكتب العلمية بيروت) ولو ان الناس اجازوا بينهم الجلود حتى تكون لها سكة وعين لكرهتها ان تباع بالذهب والورق نظرة ..... لان مالكًا قال : لا يجوز فلس بفلسين ولا تجوز الفلوس بالذهب والفضة ولا بالدنانير نظرة ... الخ

(۳) وراجع للتفصيل الى تكملة فتح الملهم ج۱ ص۵۸۷ الى ص ۵۹۰.

كرامو په متعدد مسائلو كي ضروري بللې ده ، مثلا بيع العينه (۲) كي او كتابت او اجرت كي (۳) لهذا ددې محظور ددفع لپاره سد باب په آساني ممكن دى.

بله خبره داده چي عرب علماء دنوټونو بيع په خپل منځ كي تبادله كول صرف بللې ده ددې سره يې ددې خبري هم قائلين دى چي تقابض لپاره ددواړه له طرف يوائي پر چيک باندی قبضه كول كافي دى چي هغه بيا داحقر په نزد سخت محل داشكال دى ، او ځني بيا ددوى څخه دنوټو حكم دزرو بولي او دهغه وروسته سره او سپين زر دعروض تجارت كيدلو قائل دى ، چي په هغه كي ورسره تفاضل او نسيه جائز بولي چي بلكل دنصوص خلاف ده.

تر كومه چي دهند سره دعلماء تعلق دى چي دنوټو بيع صرف بولي (او دهغه تعداد بلكل كم دى) او داحقر دځينو سره مجلسونه هم شوى دى نو دهغو اكثر نقطه نظر داد چي نوټونونه پر پشت سره يا سپين زر وي ، لهذا پر دې باندی دزرو احكام بايد جاري شي لكن دغه خبره دموجوده حالاتو بالكل دواقع خلاف ده څنګه چي احقر هغه په خپله مقاله كي واضح كړې ده.

بهر كيف ! دا داحقر دخپل فكر خلاصه ده ، كه بيا هم داحقر په دغه تحرير او مقاله هغو علماؤ ته وړاندي شي كومو چي دغه معامله صرف بللې ده (تر څو چي داحقر دلائل ددوى مخي ته راشي) نو اميد دى الله تعالى يې مفيد وګرزوي او كه هغه علماء داحقر داشكالاتو جواب وكړي

(۱) دتفصيل لپاره تكملة ج۱ ص۵۸۷ تر ۵۹۰ او فقهى مقالات ج۱ ص۳۳ ملاحظه كړى.

(۲) وفى فتح القدير ج۶ ص۶۸ (ومن باع جارية بألف درهم حالة او نيسئة فقبضها ثم باعها من البائع قبل نقد الثمن) بمثل الثمن او اكثر جاز وان باعها من البائع بأقل لايجوز عندنا .

وفى البحر الرائق ج۵ ص۷۴ ومجمع الانهر ج۳ ص۸۸ وخلاصة الفتاوى ج۳ ص۵۰ والكفاية ج۶ ص۳۲۳.

(۳) وفى الدر المختار كتاب الاجارة مسائل شتى ج۶ ص۹۲ (طبع سعيد) ويستحق القاضى الاجر على كتب الوثائق قدر ما يجوز بغيره كالمفتى فانه يستحق اجر المثل على كتابة الفتوى لان الواجب عليه الجواب باللسان دون الكتابة بالبنان ..... الخ

وكذا فى البزازية على الهندية ج۵ ص۴۹ وخلاصة الفتاوى ۴ ص۴۸ (طبع امجد اكيدمي لاهود)

نو براه كرم احقر دي ورباندي خبر كړي كه داحقر په فكر كي بيا هم دغو جواب صحيح شول نو دوباره به اعلان كوم مسئله دحلال او حرام ده ، نو دې كي تثبت ضروري دى.

اللهم ارنا الحق حقًا وارزقنا اتباعه وارنا الباطل باطلاً وارزقنا اجتنابه .

والسلام ١٩/٥/١٤١٢هـ (فتوى نمبر ٢٩/١٩٩)

ديو ملک روپي په خپل منځ سره تبادله كولو په صورت كي تفاضل دحرام كيدلو بنيادي وجه (عربي فتوى)

سوال : يعلم من مؤلفاتكم ،- تكملة فتح الملهم والمقالات الفقهية - ان بيع الدولار بالروبيات الباكستانية نساءً يجوز ، مع انكم رجحتم مذهب الامام محمد لئلا يفتح باب الربوا فاذا كان كذلک فلا سبيل الى جواز البيع المذكور لانه اذا حرم التفاضل حرم النساء بدليل توقف حرمة التفاضل على وجود جزئي العلة (القدر والجنس) وتوقف حرمة النساء على وجود احدهما فبينهما عموم وخصوص من وجه وان كنتم تحكمون فى حرمة بمذهب الامام محمد وفى جواز البيع المذكور بمذهب الشيخين فهذا عند الاحقر تلفيق ارجو من سماحتكم ان تبينوا و توجروا . والسلام محمد حقاني ١٤/ شوال / ١٤١٧هـ

جواب : لاشک ان التفاضل الذي يحرم بوجود القدر والجنس يتلازم مع حرمة النسيئة ولكن التفاضل الذي يحرم فى الفلوس ليس نتيجة لوجود القدر لان الفلوس عددية بالاجماع وليست وزنية ، وانما حرمة التفاضل فيها عند اتحاد الجنس ناتجة عن كونها امثالا متساوية قطعًا (١) فيؤدى التفاضل فيه الى الفضل

(١) قال البابرتي رحمة الله عليه فى العناية على فتح القدير (ج٦ص١٦٢ طبع مكتبه رشيديه كوئته) بيع الفلس بجنسه متفاضلا على اوجه اربعة بيع فلس بغير عينه بفلسين بغير اعيانهما وبيع فلس بعينه بفلسين بغير اعيانهما وبيع فلس بغير عينه بفلسين بأعيانهما وبيع فلس بعينه بفلسين باعيانهما والكل فاسد سوى الوجه الرابع اما الاول فلان الفلوس الرائجة امثال متساوية قطعا لاصطلاح الناس على اهدار قيمة الجودة منها فيكون احد الفلسين فضلا خاليًا عن العوض مشروطًا فى العقد وهو الربا واما الثاني فلانه لو جاز

الخالى عن العوض ، وهذا المعنى صرح به السرخسى فى المبسوط (١) ولبابرتي فى العناية (٢) ولعلي نقلت عباراتهما فى بحثي على هذا الموضوع وحرمة التفاضل فى مثله لا تتلازم مع حرمة النسيئة ولهذا صرح العلامه ابن عابدين وغيره ان الفلس بالفلسين لايجوز عند محمد رحمة الله عليه (٣) والفلس بالفلس جائز بشرط ان يقبض احد البدلين فى المجلس (٤) وهذا يدل على انه ان

امسک البائع الفلس المعين وطلب الاخر وهو فضل خال عن العوض واما الثالث فلانه لو جاز قبض البائع الفلسين ورد اليه احدهما مكان ما استوجبه فى ذمته فيبقى الاخر له بلاعوض آه

وفى تكملة فتح الملهم ج١ ص٥٨٧ بيع فلوس غير معينة بالتفاضل كبيع الفلس الواحد بالفلسين اذا لم يعين المتعاقدان ان احد البدلين فانه لايجوز باتفاق العلماء الحنفية اما اذا كان البدلان غير متعينين فلان الفلوس الرائجة امثال متساوية قطعًا لاصطلاح الناس على اهدار قيمة الجودة منها ، فيكون احد الفلسين فضلا خاليًا عن العوض مشروطًا فى العقد وهو الربا ، واما اذا كان الفلس الواحد متعينًا بعينه والآخر ان بغير اعيانهما ، فلانه لو جاز امسک البائع الفلس المعين وطلب الآخر وهو فضل خال عن العوض ، واما اذا كان الفلس الواحد غير متعين والاخران متعينين فلانه لو جاز قبض البائع الفلسين ورد اليه احدهما مكان ما استوجبه فى ذمته فيبقى الاخر له بلا عوض آه

وفى الدر المختار ج٥ ص١٧٩ باع فلوسًا بمثلها او بدراهم او بدنانير فان نقد احدهما جاز وان تفرقا بلا قبض احدهما لم يجز .

وفى التكملة ج١ ص٥٨٧ بيع الفلوس بمثلها كالفلس الواحد بالفلس الواحد الاخر وهذا انما يجوز اذا تحقق القبض فى احد البدلين فى المجلس قبل ان يفترق المتبائعان فان تفرقا ولم يقبض احد شيئًا فسد العقد لان الفلوس لا تتعين فصارت دينا على كل احد والافتراق عن دين بدين لا يجوز .

(٢) ايضًا

(٣) ايضًا

(١) وفى المبسوط للسرخسي ج١٢ ص٢٢٠ (طبع مكتبه غفاريه كوئته) .... لان الفلوس الرائجة امثال متساوية قطعًا لاصطلاح الناس على سقوط قيمة الجودة فيها ليكون احد الفلسين فضلا خاليًا عن العوض .

(٤) راجع الى رد المحتار ج٥ ص١٧٩ وص١٨٠ (طبع سعيد)

قبض احد البدلین فی المجلس واجل البدل الآخر فان ذلک یجوز فهو تصریح باباحة النساء مع حرمة التفاضل عند محمد رحمة الله علیه فی المتعینین وعند کل من الائمة الثلاثة اذا کانت بغیر اعیانهما (۱) فلیس هناک تلفیق .

هذا ما ظهر لی ۲۵ / ۱۱ / ۱۴۱۷ (فتوی نمبر ۲۵۷۱۰۰)

دسلو روپو نوټ په څلویښتو یا په پنځوسو روپو پلورلو حکم دیوه ملک روپۍ دبل ملک دروپو سره تبادله کول دکمي اوزیادت سره

دډالرو درانیولو اوپلورلو حکم

سوال ۱ : زموږ برمي حکومت په برما کی داستعمال لپاره دسلو نوټ رائج کړو اوس په ۳ دنومبر د۱۹۸۵ م اعلان وشو چی دنن څخه دسلو نوټ منسوخه شو لهذا دنن څخه په پوله برما کی ددې نوټ استعمال څوک نه شي کولی په دې خاطر که دچا سره دغه دسلو روپو نوټ موجود وي نو هغه د۳۱ دنومبر څخه وړاندي بینکو ته مراجعه وکړي او خپل نوټونه دی بدل کړي ، ددې اعلان څخه دوې ورځ وروسته بیا اعلان وشو چی دیوې کورنۍ یواځي یو سړی یو ځل بنک ته داخلیدلی شی چي څونه روپۍ راوړي نو پنځه زره روپو پورې به ورته تبدل کړل شي او دپنځه زره څخه که زیات وي نو پنځوس فیصله فوراً ورکول کیږي او نور پنځوس فیصده به وروسته دتحقیق او تفتیش که قابل دتبدیل وو نو وربه کړل شي ، او که نه نو هغه به ضبط شي ، ددې اعلان څخه وروسته دسلو نوټ دخرید او فروخت سلسله شروع شوه داډول دسلو نوټ په څلویښت یا په پنځوس باندی پلورل کیدلو ولی چی هغه خلګو چی په سلهاؤ زره سلونه یې درلودل نو دهغو سره خطره پیدا شوه چي که ددوی روپۍ زیاتي جمع شي نو ددوی روپۍ به

---

(۱) فی الهدایة ج۳ ص۸۵ (طبع رحمانیه) ویجوز بیع الفلس بالفلسین باعیانها عند ابي حنیفة وابی یوسف وقال محمد لا یجوز لان الثمنیة تثبت باصطلاح الکل فلا تبطل باصطلاحهما واذا بقیت اثماناً لا تتعین فصار کما اذا کان بغیر اعیانهما ..... الخ

قانوني ددوی څخه ضبط شي ، اوس سوال دادی چی دغه ډول دسلو روپو نوټ په کمي او زیاتوب پلورل او رانیول جائز دی او که ؟

سوال ۲ : دیو ملک مروجه روپۍ دبل ملک دمروجه روپو سره په کمي او بیشي سره تبادله کول جائز دی او که نه ؟ مثلا یو سړی پاکستاني روپۍ دبل سړی دبرماوي روپو تبادله کوی نو په کمي او بیشي سره جائز دی او که نه ؟

سوال ۳: ډیر خلګ دډالرو کاربار کوي شرعًا دهغه څه حکم دی ؟

جواب۱ : دسلو روپو نوټ په څلویښتو یا پنځوسو روپو پلورل جائز نه دی (۱) ولي چي نن صبا دغه نوټ دفلوسو حکم لري او بیع الفلس بالفلسین امام محمد رحمة الله علیه دقول سره مطلقا او دشیخینو دقول دغیر معین په صورت کی جائز نه ده(۲) او فتوی دامام محمد رحمة الله علیه پر قول ده (۳) لهذا دنوټو تبادله په کمي او بیشي سره جائز نه ده ، او کوم حضراتو چي نوټونه دفلوسو پر ځای دین رسید بللی دی دهغو دقول سره سم هم بیع الکالي بالکالي پر بناء ناجائز ده لهذا سوال کي چي کومه معامله مذکوره ده هغه په هیڅ حالت جائز نه ده

البته که دخپل مالیت دنقصان څخه ځان ساتی نو خپل دسلو روپو نوټ دکوم داسي شخص په لاس وپلوری چی دهغه څخه دپنځه زره څخه کمي روپۍ وي ، چي هغه دغه نوټ په خپله په بنک کي داخل کړي او متبادل نوټ درته وصول کړي .

جواب۲ : دمختلفو ملکو دروپو په کمي او بیشي سره تبادله جائز ده په دې شرط چي کم ازکم یو فریق روپۍ په مجلس کي قبض کړي ، لئلا یکون افتراقا عن دین بدین .

---

(۱) ایضًا

(۲) ایضًا

(۳) وفی المستدرک للحاکم ج۲ ص۶۵ و۶۶ (طبع دار الکتب العلمیة بیروت) عن ابن عمر رضی الله عنهما ان النبي صلی الله علیه وسلم نهی عن بیع الکالی بالکالی رقم : ۲۳۴۲ عن ابن عمر رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم انه نهی عن بیع الکالی بالکالی هو النسیئة بالنسیئة رقم ۲۳۴۳ والله اعلم

جواب ۳ : د ډالرو خرید او فروخت هم دغه حکم دی چی که ډالر په ډالره بدلوي نو مساوات په کی ضروري دی ، او که دکوم بل ملک په روپو یې رانیسي نو کمي او زیاتوب په کي جائز دی په دې شرط چي یو فریق احد العوضین په مجلس کي قبضه کړي.
که دمختلفو ملکو روپی دحکومتي سطح دمقرره نرخ مطابق فروخت شي دنمبر ۲ او ۳ جواب دتفصیل سره سم بیع جائز ده لیکن که دهغه نرخ څخه په کمي یا زیاتوب پلورل کیږي نو بیا تفصیل دادی چی که چیري داسي ملک وی چی هلته په حکومتي سطح دمقرره نرخ څخه مخالفت جائز نه وی نو هلته ددې نرخ څخه په کمي او بیشي سره تبادله کول اگرچي سود نه دی لکن دملکي قوانینو دمخالفت په وجه ځان وخطر ته اچولو پر بنا جائز نه دی (۱)

والله اعلم ۵/۲/۱۴۰۲هـ (فتوی نمبر ۳۷/۲۷۰ ب)

دمختلفو ممالکو روپی په خپل منځ کي سره تبادله کولو حکم

سوال: دیو ملک روپی دبل ملک دروپو سره دتبادله کولو په باره کی شرعي حکم څه دی؟

جواب دیو ملک روپی دبل ملک دروپو سره تبادله جائز ده او ددواړو تر منځ چي کوم شرح دتبادلې په رضامندي سره طی شی دهغه خرید او فروخت جائز دی.

والله اعلم ۱۴۱۲/۱/۸هـ

په چیک سره دسرو او سپینو زرو خرید او فروخت سره متعلق دتکملة فتح الملهم دیو عبارت توضیح او تصحیح

سوال : من العبد عبدالقادر العارفی عفی عنه الی سماحة استاذی وشیخی العلامه العثمانی حفظه الله ورعاه ، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

(۱) یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِی الْاَمْرِ مِنْکُمْ (سورة النساء آیت ۵۹ ددې سره ص ۹۰ حاشیه ۳ هم وګوری.
وفي القرآن الکریم وَلَا تُلْقُوْا بِاَیْدِیْکُمْ اِلَی التَّهْلُکَةِ (سورة البقرة آیت ۱۵۹)

ارجو الله العلی القدیر لکم الصحة والعافیة الدائمة التامة کما ادعوه تعالی ان یبقیکم ذخراً للاسلام والمسلمین ویرزقکم صحة وعافیة دائمة وانا بخیر والحمد لله .

استاذی الموقر ! انا تلمیذکم من ایران قد زرتکم بدار العلوم قبل خمسة ایام بعد العصر ثم فی یوم الاربعاء صاحبتکم لصلاة الظهر بخارج دار العلوم فی معمل یقع امام باب دار العلوم وتکلمت حول بعض المسائل ومنها شراء الذهب والفضة نسیئة وایضاً شراء الذهب والفضة ودفع الشیک المصرفی بدل ثمنها؟ فاجبتمونی بان هاتین المسئلتین جائزتان ولا غبار علی جوازهما ولکم جاء فی التکملة ۱/ ۵۱۵ فی مبحث الشیک المصرفی هکذا ولا یجوز اشتراء الذهب والفضة به لفقدان التقابض فی المجلس .

ارجو منکم الافادة ولکم الشکر الجزیل والتمس منکم الدعاء
تلمیذکم عبد القادر العارفی / جامعه دار العلوم اهل السنة
خیابان خیام مسجد مکي زاهدان بلوچستان ایران

جواب: عزیز گرامی قدر مولانا عبد القادر عارفی صاحب !
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

ستاخط راته ورسیدو واقعتًا چی تا ډېر صحیح خبري نشاني کړې ده ، دتکملة فتح الملهم ج۱ ص ۵۱۵ کي چي ما لیکلي دی ولایجوز اشتراء الذهب والفضة به لفقدان التقابض فی المجلس په دې کي احقر څخه غلطي شوې ده په اصل کي دغه حکم هغه وقت دی چی نوټ یاسکه کي سره یا سپین زرو نمائندګي کوله ، لکن اوس چي سکه زره ده او نه نوټ باندي دزرو کوم څه شته او چیک دنوټ دجاري کولو لپاره دی ، او زرو خرید او فروخت دنوټ په وسیله کیږي نو په چیک دزرو خرید او فروخت جائز دی ولی چی هغه بیع صرف نه ده او تقابض په کي شرط نه دی کما اوضحته فی احکام الاوراق النقدیة (۱)

(۱) ایضًا

چنانچہ تکملۂ فتح الملہم (۱) کی تصحیح ہم شوی دہ. جزاکم اللہ تعالی خیرا

والسلام ۱۴۱۹/۱/۹ھ (فتوی نمبر ۳۰۹/۵۱)

دزرگري كاربار کي اهم نوع مختلف سوالات او جوابات

(عربي فتوى)

سوال: صاحب الفضيلة الشيخ مولانا محمد تقى العثمانى حفظه الله وادام ثوابه

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد!

اسأل الله سبحانه وتعالى ان يديم عليكم نعمة العفو والعافية وان يحفظكم وآل بيتكم من كل سوء ومكروه وان يجزيكم عنا وعن الاسلام والمسلمين خير الجزاء انه سميع مجيب.

صاحب الفضيلة: سبب كتابتي هذه الرسالة الى فضيلتكم كثرة السؤال عن بعض المعلاملات التجارية فى مجال بيع الذهب والفضة ولا يخفى ما لفضيلتكم من باع طويل من الدراسات الفقهية لا سيما الاقتصادية منها فأجبت ان افيد نفسى وغيرى ناهلا من عذبكم الفياض مسترشداً بآرائكم القيمة آملا عظيم الاجر لكم عند الله، راجيًا ان يعين ذلك السائلين على السير على الصراط المستقيم.

صاحب الفضيلة من المعاملات التى كثر عنها السؤال ما يأتي:

۱: زيد تاجر ذهب فى المدينة المنورة يصنع مصوغاته لدى مصنع فى جدة فيحتاج الى شراء سبائك من الذهب بوزن (۱۰۰۰) جم فيتصل بالبنك او بتاجر جملة للذهب (بكر) لشراء الذهب فيخبر بأن سعر الكيلو يساوي (۴۲۰۰۰) ريال فيطلب زيد من بكر ان يحجز له كمية من الذهب بالسعر المذكور ثم يبعث بالقيمة عن طريق الحوالة (بالكمبيوتر) فاذا استلم البائع المبلغ سلم الذهب للمصنع.

(۱) ايضًا

۲: المعاملة الاخرى والتى تسمى بـ(الشراء على السعر المفتوح) وصورتها كالتالى زيد المريد شراء الذهب عندما راد شراءه وكان يتوقع سعر الكيلو يساوى (۴۲۰۰۰) ريال وجد ان سعر الذهب ارتفع الجاءة الى (۴۴۰۰۰) ريال وهو يتوقع نزول السعر عما قريب لكنه بحاجة الى الذهب فيتفق مع بكر على او يشترى منه الذهب ويرسل له المبلغ وقدره (۴۲۰۰۰) ريال على ان يبقى السعر مفتوحا فاذا نزل السعر بعد فترة قفل السعر وهنا يرد احتمالان:

الاحتمال الاول ان يرتفع السعر اكثر، ولنفترض انه وصل الى (۴۵۰۰۰) ريال فيطلب البائع فرق السعر فيضطر المشترى الى الدفع وهو بعد ذلك بالخيار بين ان يقفل السعر بالسعر الحالى او ينتظر نزول السعر ويستمر على تلك الحالة

الاحتمال الثانى: ان ينزل السعر الى ادنى من ۴۲۰۰۰ ريال ولنفترض انه وصل الى (۴۱۰۰۰) ريال فيطلب المشترى من البائع قفل السعر فيقفل البائع السعر ويرد له المبلغ المتبقى.

۳: يتعامل بعض الناس (بالشراء على المفتوح) السابق الذكر لا لقصد شراء الذهب نفسه ولكن يقصد الاستثمار، وقصدهم من ذلك ان يشتروا الذهب بسعر يومه ولنفترض انه (۴۲۰۰۰) ريال ثم اذا ارتفع السعر باعوه لكن هذه المعاملة تبقى من حيث البيع والشراء الفعلى على الورق فقط، اذلايكون فيه استلام ولا تسليم لانه غير مقصود بذاته، بل المقصود هو الاستثمار فقط وان كان البائع يلتزم بالبيع الفعلى وتسليم الذهب للمشترى لو طلب منه ذلك وفى هذه المعاملة أمر آخر كذلك وهو ان البائع يتيح الفرصة للمستثمرين باستثمار كمية كبيرة من الذهب بمبلغ قليل وعلى سبيل المثال: يمكن للمستثمر ان يشترى ۱۰ كيلو جرام من الذهب والذى يبلغ قيمته افتراضًا (۴۲۰۰۰) ريال على ان لا يدفع سوى ۲۰٪ من قيمة الصفقة ويبقى التعامل كما سبق ذكر فى الصورة السابقة وواضح ان البائع لن يسلم الذهب للمشترى لانه لم يستلم كامل القيمة بل يتولى بنفسه بيعها ليأخذ قيمتها ويدفع المكسب للمشترى الاول ان كان هناك مكسب فان حصلت الخسارة فى البيع أخذه من المشترى لانه بمثابة الوكيل له.

٤: وضمن هذه الصورة صورة اخرى وهى ان يقوم بكر ببيع كمية من الذهب لزيد دون ان يكون زيد قد اشترى شيئاً ولنفترض ان بكر باع لزيد كيلو ذهب بسعر (٤٢٠٠٠) ريال رغم ان زيداً لا يملك شيئاً من هذا الذهب ولكن بكراً باع هذا من عنده له ، والقصد من هذا البيع ان لو نزل السعر فيما بعد فان زيداً يشترى الذهب ويرده لبكر فاذا زاد السعر خلاف المتوقع فان زيداً سيخسر فرق السعر وان نزل السعر كسب بقدره .

ويبقى ان اوضح لفضيلتكم ان بكراً يستفيد من عمليتى البيع والشراء دلالة وانه يحتفظ بمبلغ من المال اكثر من المنصرف فى البيع والشراء تحاشياً للخسارة فى حالة ما اذا تقاعس زيد عن تحمل الخسارة ان وجدت خلال عمليتى البيع والشراء .

٥: بيع آخر وهو ان يحتاج المرء لشراء الذهب عندما يكون السعر ٤٠٠٠٠ (اربعين الف) ريال فيبيع عليه تاجر الجملة بسعر ٤٥٠٠٠ (خمسة اربعين الف) ريال على ان يسدد له المبلغ بعد مدة قد تطول الى سنة .

هذا وارجو من فضيلتكم التفضل بالاجابة عليها مدعماً بالادلة ولو لا يقيننى بوقف حياتكم الكريمة فى خدمة الاسلام والمسلمين لما تجرأت بالكتابة الى فضيلتكم لما اعلم من كثرة مشاغلكم والمسؤليات المنوطة بفضيلتكم الا ان شدة حاجة الناس الى ايجاد حل شرعى لهذه المعاملات التى هم واقعون فيها شجعنى الى الكتابة اليكم فأرجو قبول عذرى فى الكتابة وقبول رجائي فى الاجابة .

اثابكم الله على ما تقومون به من خدمات الجليلة للاسلام والمسلمين ، وجعل ذلك فى ميزان حسناتكم يوم الدين ويوفقنى واياكم للعمل على نهج سيد المرسلين .

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته .

تلميذكم / محمد يعقوب محمد يوسف الدهلوى

٢١ صفر ١٤١٨ هـ المدينة المنورة

الجواب : الى الاخ العزيز فى الله السيد محمد يعقوب محمد يوسف الدهلوي حفظه الله تعالى .

انى احمد اليكم الله الذى لا اله الا هو ، واصلى واسلم على نبيه الكريم الهادى الامين وعلى آله واصحابه اجمعين وبعد :

فلا ادرى كيف اعبر عن ندمى فى التأخير فى الاجابة على اسئلتكم الكريمة وليس لى الا ان اطلب منكم العفو والمعذرة فى ذلك ، ارجوكم ان تعذرونى بسبب ازدحام الاشغال وتتابع الاسفار الذى اعانيه كل حين .

واليكم الجواب عن الاسئلة :

١: هذا الطريق للتعامل فى شراء الذهب سليم من الناحية الشرعية فان الاتصال بتاجر الذهب بجدة وطلب حجز كمية من الذهب بجدة كمية من الذهب ليس الا مساومة والحجز التزام او وعد من قبل التاجر بانه سيبيع هذا الذهب عندما يتسلم ثمنه ، اما عقد البيع فانه يقع بعد ما يحول زيد ثمن الذهب الى حساب التاجر وفى الوقت نفسه يسلم التاجر الذهب الى المصنع ولئن كان هناك فصل بين تسلم الثمن و تسليم الذهب فالثمن يكون امانة بيد التاجر الى ان يسلم الذهب الى المصنع وحين يسلم الذهب اليه فان الامانة تنقلب ثمناً وبهذا تصح المعاملة حتى على قول من يشترط التقابض فى المجلس فى مبادلة الذهب بالاوراق النقدية (١) اما على قول من يقول : ان مبادلة الذهب بالنقود الورقية ليست صرفاً (٢) ولا يشترط فيها التقابض فلا اشكال اصلا وان هذا القول هو الراجح (٣) عندى وعند اغلبية علماء الهند وباكستان .

٢: الشراء على السعر المفتوح كما شرحتموه فى السؤال الثانى لا يجوز اصلا لان هذا البيع فيه غرر بجهالة الثمن عند العقد ولا يقاس جوازه على جواز البيع بما ينعقد عليه السعر (كما اجازه الحنابلة وبعض الحنفية) لان المراد من السعر هناك سعر السوق يوم العقد اما فى صورتنا المسؤل عنها فان المراد من السعر ليس السعر يوم العقد وانما المراد

---

(١) راجع لتفصيل هذين المسلكين ودلائلهما الى فتوى حول بيع الصرف واحكامه السابقة مع حواشيها

(٢) .

(٣) ايضاً

السعر الذى تنتهى اليه السوق بعد العقد الى مدة مجهولة فلا شک فى ان هذه الجهالة مفسدة للعقد ولا يجوز البيع بهذا الطريق .

۳ : ان هذه الصورة اشد حرمة لانه قد ازداد فيها محظور آخر غير الجهالة والغرر وهو انه ليس هناک بيع حقيقى يراد به التسليم والتسلم ، وانما المقصود دفع فروق الثمن فهو اشبه بالمضاربة القمارية الرائجة فى البرصات ولا يجوز بحال .

اما الصورة الاخرى التى ذكر تموها فى هذا السؤال وهو ان البائع يتيح الفرصة للمستثمرين باستثمار كمية كبيرة من الذهب بمبلغ قليل ... الخ فان كان هذا على اساس السعر المفتوح فهو غير جائز كما بينا اما اذا كان السعر معلوما متعينًا عند الشراء ولكن انما يدفع المشترى ۲۰٪ من الثمن فقط فلا يجوز عند من يشترط التقابض فى شراء الذهب بالنقود الورقية اما على القول الآخر وهو عدم اشتراط التقابض فى مبادلة الذهب بالنقود الورقية وهو الراجح عندى ، فانما تجوز هذه المعاملة بشروط تالية :

الف : ان يقع البيع باتًا ويكون الثمن متعينا غير مذبذب .

ب : ان يخلى البائع بين الذهب والمشترى ، بحيث يمكن للمشترى ان يقبض الذهب المبيع متى شاء

ج : ان يوكل المشتر ينفس البائع ببيع ذلک الذهب نيابة عنه بعد التخلية ويجب ان لا يكون هذا التوكيل مشروطًا فى عقد البيع .

د : ان يكون الذهب المبيع مفصولاً عن غير المبيع ويكون فى ضمان المشتري بحيث ان هلک او سرق فانه يهلک من مال المشترى وليس من مال البائع .

وانما تشترط هذه الشروط فى ۸۰٪ من المبيع الذى لم يدفع المشترى ثمنه لئلا يكون بيع الكالى بالكالى اما ۲۰٪ من الذهب المبيع الذى دفع ثمنه فيصح فيه التوكيل وان لم يقع الفصل والتخلية لانه لا يشترط قيام الاثمان فى ملک البائع او فى قبضه عند العقد كما فى مبسوط السرخسي ج ۱۴ ص ۲۴)

۴ : الظاهر من قولكم : لو نزل السعر فيما بعدفان زيدًا يشترى الذهب ويرده لبكر) ان الذهب الذى يبيعه بكر لزيد فكأنما يقرض بكر زيدًا هذا القدر من الذهب ثم يوكله زيد

ببيعه نيابة عنه ، فان كان هذا هو المقصود فان ذلک جائز بشرط ان يلتزم زيد انه يرد عن ذلک المقدار الى بكر سواء انزل السعر ام ارتفع فمثلا يستقرض ۱۰۰۰ غرام من الذهب من بكر ويلتزم رد ۱۰۰۰ غرام من الذهب على سبيل القرض (دون البيع) ثم يوكله ببيع هذا الذهب نيابة عنه دون ان يشترط التوكيل فى عقد الاقراض وفى النهاية يرد على بكر الف غرام من الذهب سواء انزل السعر ام ارتفع وفى هذه العمولة مساوية لاجر مثل هذه الخدمات فى السوق ولا يزاد على اجر المثل لئلا يكون قرضًا جر نفعًا وما ذكرتم من ان (بكر ستفيد من عمليتى البيع والشراء دلالة... الخ) ان كان المقصود منه انه يتقاضى اجرة السمسرة فى عمليتى البيع والشراء فقد ذكرت ان اجرة السمسرة انما تجوز على عملية البيع بالنيابة عن زيد اما اقراض الذهب كما ذكرت او بيع الذهب الى بكر فلا يجوز تقاضى الاجر عليه وان كان المقصود غير ذلک فالمرجو الايضاح فانى لم افهم كلامكم هذا حق الفهم .

۵ : هذا لا يجوز عند من يشترط التقابض فى مبادلة الذهب بالعملة الورقية ولكن يجوز عند من لا يشترط ذلک وهو الراجح عندى بشرط ان تكون مدة التسديد معلومة عند العقد اما الادلة فقد بسطتها فى كتاب (احكام الاوراق النقدية) والخلاصة ان النقود والورقية ليست اثمانا خلقية وانما هى اثمان اعتبارية فهى بمنزلة الفلوس فيجرى فيها حرمة التفاضل فيما بينها اذا كانت من جنس واحد ولكن لا تجري احكام الصرف فى مبادلة الذهب بها كما انها لا تجرى فى مبادلة الفلوس بالذهب والله سبحانه وتعالى اعلم وعلمه اتم واحكم ،

وأرجو ان فى هذا الجواب كفاية فان كان لديكم مزيد من الاستيضاحات فالمرجو الاستفسار مرة ثانية .

والله تعالى هو الموفق ۲۷ / ۳ / ۱۴۱۸ هـ (فتوىٰ نمبر ۲۷۶/۴۲)

عالمي ماركيټ كي دروپو دتبادلې او دهغه شرعي حيثيت

(دكمپنۍ په وسيله دډالرو دمخصوص مقدار په لاټ سره دروپو خريد او فروخت شرعي حيثيت)

سوال: عرض داده چې زه دروپو كاربار كوم چې هغه نوعيت داډول دى چې دامريكا څخه دټولي دنيا مختلف ممالک دروپو دنوټو قيمت اجراء كوي، موږ په لاهور كي ناست يو دسټيلائټ په وسيله دكمپوټر پر پرده هغه قيمتونه وصول كوو قيمتونه دملكي حالاتو سره سم كميږي يا زياتيږي موږ دهغه قيمتونه سره سم خريد او فروخت كوو، چي هغه طريقه داډول ده چي موږ براه راست خريد او فروخت نه شو كولى بلكه ديوې كمپنۍ په وسيله كاربار كوو، هغې كمپنۍ دااصول وضع كړي دى، هغه دا چې دوه سوه زره ډالرو يو لاټ وړاندي كوى چا چې رانيول نو هغه يې بيا پلورلى شي لكن په دې كي موږ پنځه فيصده كمپنۍ ته وركوو چې يوائې زر ډالره كيږي، په زر ډالره خپل اكاونټ خلاص كړي، اوس نو موږ ددې قابل شو چې په جهاني ماركيټ كى يو لاټ رانيسو زموږ څخه بقايا رقم بطور زر ضمانت كمپنۍ جمع كوى، داډول په ظاهره زر ډالره سرمايه كاري شوې وى، لكن كاربار ديو لک ډالرو كوو، يعنى موږ ددوو لكو ډالرو روپۍ رانيولى شو، اوس زموږ نفع يا نقصان څنګه ده؟ په دې صورت كى چې موږ دكمپيوټر پرده پر دنيا كي مختلف بينكونه دطرفه څخه اينبوول كيږي او پر هغه باندى دقيمتوو وړاندوينه كيږى دنوټو ماهرين رائ وركوي چې ايا دغه نوټونه آئنده قيمت پورته كوى او كه كښته راځي ستاسي په علم كي دي داخبره وى، بهر حال كه زيات دكومي خبري وضاحت غواړى نوزه حاضر يم لكن په دې خط او كتابت كي وقت لګيږي، موږ ته دلاندينيو سوالاتو څخه جواب راكړه:

۱: ايا دا ټول كاروبار ناجائز دى او كه كوم جزئيات يې ناجائز دى؟

۲: كه كوم جزئيات يې ناجائز وى نو دهغو مختصر وضاحت وكړه؟

۳: په كومه طريقه دغه كاربار بايد وكړل شي؟

ددې څخه علاوه موږ ته دنوټو په اړه دمختلفو ملكو خبرونه هم رسيږي او دكمپيوټر په وسيله هغه موږ دمختلفو نوټو دصورت حال څخه خبروي چې آئنده به دنوټو څه صورت حال وى، نو دهغو ټولو قرائنو په وسيله موږ يوه پريكړه كوو او هغه رانيسو، مثلا پر پرده باندى موږ ته داسټرليا دپاؤنډ قيمت ۱.۲۷۰۰ چى كله په نظر راشي نو موږ دكمپنۍ څخه دټيليفون په وسيله دهغه دقيمت تصديق كوو چې ايا ستاسي قيمت فروخت دغه ډول دى؟ نو هغه موږ ته ددې قيمت په معمولي فرق سره قيمت راشيي، ددې تصديق څخه وروسته موږ دهغه سره زباني معاهده كوو چې يو لاټ موږ رانيولو، بيا ددې معاهدې تحرير دفكس په وسيله هغه ته رسوو، اوس دغه لاټ موږ رانيولو، او هغه زموږ شو، نو دهغه نفع او نقصان دواړه زموږ دى، پر دې خريداري خو حسي قبضه نه راغله، او نه دا ممكن ده، يوائې دهغو روپو ضمان موږ ته راغى، كله چې دهغو روپو قيمت لوړ شي، نو په هغه ډول په وسيله دټيليفون موږ ورسره معاهده كوو نو كله چې موږ لس(۱۰) اعشاريه نفع ورسيږي نو دهغه نفع يو سل پنځه ويشت (۱۲۵) ډالره وى، هغه داډول چې هغو ديوه پوائنټ (فيصد) قيمت ۱۲.۵۰ ډالره طى شي نو دلسو (۱۰) پوائنټو كي ۱۲.۵۰ + ۱۰=۱۲۵ سره برابر وى چې هغه زموږ نفع وى او كه دروپو قيمت راولويږي نو هغومره موږ ته نقصان رسيږي، دقبضې په صورت كي چې كومه حواله ماتاته درعرض كړه هغه ستا دكتاب (دكپمنۍ دحصصو دخريد اوفروخت) څخه ما اخذ كړل او ومي ليكل.

دكمپنۍ مفاد: كمپنۍ موږ ته داټول سهوليات ميسر كوي ۱: دټيليفون په وسيله رابطه ۲: دماركيټ كاربار چيري چي وي، ۳: دانټرنيټ سسټم ۴: دوه لكه ډالره زر ضمانت، ددې څخه علاوه څور نور سهوليتونه برابر وي دهغو ټولو سهولياتو علاوه يو ټريډ (يعنى يو ځل دروپو دخريد او فروخت كولو وروسته زموږ حق مكمل كيږي) پر دغه يوه ټريډ كپمنۍ زموږ څخه ۶۰ ډالره كميشن وصول كوى دې ټريډ كي كه زموږ نقصان وى او كه فائده وي، كمپنۍ زموږ څخه ۶۰ ډالره غواړي، دا په هغه صورت كي چې كه موږ هغه ورځ خريد يا فروخت وكړو، او كه زموږ نن ورځ دخريد او فروخت وي او موږ دقيمت مناسب نه شو، نو بيا يوه يا څو ورځي وروسته خريد كوو، نو كمپنۍ ۶۰ ډالرو څخه

علاوه ۲۰ ډالره نور هم زموږ څخه وصول کوی ، ولي چي د کمپنۍ دوه لکه زر ضمانت کي جمع دی یا په استعمال کي دی ، پر هغه باندی کمپنۍ ۲۰ ډالره یومیه وصول کوی ، او که موږ په یوه ورځ کي خرید او فروخت مکمل کړو نو یواځي ۲۰ ډالره په کمیشن کي وړي ، ددې څخه علاوه نور څه نه وی. په دې اړه راته جواب راکړه.

جواب: دروپو دنوټو کاربار کي چی کوم تفصیل تا په خپل خط کي کړی دی ددې تفصیل سره سم دغه کاربار جائز نه دی چي د هغه وجوهات په لاندي ډول دی:

۱: ترکومه چی موږ ته معلومه ده په داسي کاربار کی چی کله کوم لاټ رانیول شي نو هغه دی خریدار متعین او راځانته کولو وړاندی بل ته نه شي حواله کولی (۱) بلکه په اکاونټ کي دي تحریر کړل شي بیا چي غواړي هلته دی وپلوري نو په دې وخت کي که نفع وي نو هغه یواځي نفع واپس کولی شي او که نقصان وی نو هغه نقصان طلب کولی شي ، خلاصه دا چی پوره خرید کړل شوی لاټ نه شي حوالهکی نه ورکول جائز بلکه په کاغذي طور به یې دې اکاؤنټ ته نقل کوی او په آخر کي به نفع یا نقصان سره جلا کوی چی دا دستې یو ډول دی.

۲: دا خبره دی واضح وی چی په روپو کي حکمي قبضه کافي نه ده په دې سره دروپو کنبته یا پورته تلل د متعلقه شخص سره اړوند دی بلکه د قبضې لپاره ضروري ده چی رانیول شوی شی دروپو د هغه شي څخه چي رانیول شوی نه وي بالکل ممتاز وی (۲) او خریدار دی یا په خپله قبضه وکړي او یا دی کوم وکیل دده د طرفو څخه هغه په تحویل کي راولي که هغه متعینه روپۍ وسوځل شي یا غلا شي نو د نقصان به خریدار ذمه وار وی

(۱) وفی الهندیه ج۳ ص۱۶ ویعتبر فی التسلیم ان یکون المبیع مفرزا غیر مشغول بحق غیره هکذا فی الوجیز للکردری واجمعوا علی ان التخلیة فی البیع الجائز تکون قبضاً .... الخ
وفی البدائع ج۵ ص۲۴۴ فالتسلیم والقبض عندنا هو التخلیة والتخلی وهو ان یخلی البائع بین المبیع وبین المشتری برفع الحائل بینهما علی وجه یتمکن المشتري من التصرف فیه فیجعل البائع مسلماً للمبیع والمشتری قابضاً له آه
(۲) ایضاً

(۱) ظاهر ده چی دا صورت په کاربارکی نشته چی روپۍ دی ځانته شي او خریدار یا د هغه نمائنده ته دي تحویل شي.

دا خبره دي واضح وي چی په شرعي اعتبار سره روپۍ او د نورو اجناسو په تعین کی دا فرق دی چی نور اجناس په اشاره یا په علامو سره متعین کیدلی شي لیکن روپۍ په دې وقت کي متعین نه دی ترڅو چي په خپله یا کوم نمائنده په وسیله قبض نه شي. (۲)

۳: تا چي کومه طریقه کار لیکلې ده نو په هغه کي خریدار یواځي زر ډالره ورکوي نور نه ورته ورکوی ، اگرچی بقایا رقم کمپنۍ په ضمانت سره جمع کوي ، مگر هغه رقم په حقیقت کي د خریدار په ذمه کي دی.

دوهم طرف دروپو پلورونکی هم خریدار ته شرعي قبضه نه ورکوي کوم چي په دریم جواب کی ذکر کړل شوه د کوم چي نتیجه داده چی د دواړو طرف دین وی لهذا دغه بیع د کالي بالکالي ده جائز نه ده (۳).

(۱) وفی البدائع ج۵ ص۲۱۸ (طبع سعید) ان الدراهم والدنانیر وان کانت لا تتعین بالعقد ولکنها تتعین بالقبض وقبضها واجب.
وفیه ایضاً ج۵ ص۲۱۹ ان الدراهم والدنانیر لا تتعین بالتعیین وانما تتعین بالقبض فشرطنا التقابض للتعیین لا للقبض وفی فتح القدیر ج۶ ص۱۶۰ (طبع رشیدیه کوټه) فان الدراهم والدنانیر لا تتعین مملوکة بالعقد الا بالقبض الخ
وفی المحیط البرهاني ج۸ ص۷۵ و ۷۶ (طبع رشیدیه کوټه) ان الدراهم والدنانیر ان کانا لا یتعینان فی عقود المعاوضات یتعینان عند القبض فینعقد العقد فیما بین المتعاقدین فی الحال مفیداً الملک عند التعیین بالقبض ... الخ.
(۲) عن ابن عمر رضي الله عنه ان النبي ﷺ نهی عن بیع الکالی بالکالی هو النسیئة النسیئة (مستدرک للحاکم ۲ ص۶۵ و۶۶ طبع دار الکتب العلمیة بیروت) رقم الحدیث ۲۳۴۲ و ۲۳۴۳) وشرح معانی الاثار ج۴ ص۲۱.
(۳) وفی المبسوط للسرخسي ج۱۴ ص۲۵ وان اشتری خاتم فضة او خاتم ذهب فیه فص او لیس فیه فص بکذا فلوساً ولیست الفلوس عنده فهو جائز ان تقابضا قبل التفرق او لم یتقابضا لان هذا بیع ولیس بصرف فانما افترقا عن عین بدین لان الختام یتعین بالتعیین بخلاف ما سبق فان الدراهم والدنانیر لا یتعین بالتعیین فلهذا شرط هناک قبض احد البدلین فی المجلس ولم یشترط هنا.

۴: درمياني كمپنى چى كميشن وصول كوى دا به يا دضمانت فيس وى او يا به ددې رقم معاوضه وي كوم چى هغه يې دخريدار دطرف څخه ادا كوى ، په اول صورت كي اجرت على الكفالة دى او دوهم صورت كى دغه قرض باندى سود دى او دواړي طريقي جائز نه دى.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲/۲/۱۴۲۰ هـ (فتوى نمبر ۶/۳۶۳)

دروپو دنوټ شرعي حيثيت سره متعلق حضرت مفتى صاحب رائ او دنوټ په بدله كى دزرو سره په نقد او پور سره دخريد او فروخت حكم.

سوال: الى فضيلة الاستاذ القاضى مولانا محمد تقى العثمانى حفظه الله تعالى ورعاه.

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ، نتمنّى ان تكونوا بالصحة والعافية وان يجعلكم الله تعالى على الخير فى الدارين وبعد :

استاذنا الفاضل: نشتغل بتجارة بضاعة الزينة مصنوع من الفضة بيعًا وشراءً فى بلدنا اكثر التجارة يدور بالشيک والسند موقوتًا وغير موقوت واحيانًا دون الشيک اى يدفع فى المستقبل بدون تعيين الوقت فى اثناء البيع هكذا كنا نستمر بالتجارة الى ان نسمع ان بيع الفضة والذهب او بضاعة الزينة مصنوع من الفضة والذهب لا يجوز بالشيک والسند موقوتًا لا بد من دفع النقود فى اثناء القبض فنحن المسلمون ينبغى علينا ان نعيش باحكام الشرعية فى امورنا الدنيوية من اجل ذلک ذهبنا الى علمائنا الاتراک وسألنا عن المسئلة بعضهم اجابوا الجواز لان الفضة فقدت كيفية النقد وكأنها

وفى الهندية ج ۳ ص ۲۲۴ وان اشترى خاتم فضة او خاتم ذهب فيه فص او ليس فيه فص بكذا فلسًا وليست الفلوس عنده فهو جائز تقابضا قبل التفرق او لم يتقابضا لان هذا بيع وليس بصرف . وكذا فى رد المحتار ج ۷ ص ۴۱۴ .
وفى البحر الرائق ج ۶ ص ۱۹۴ (طبع سعيد) وقيد بالذهب والفضة لانه لو باع فضة بفلوس او ذهبًا بفلوس او ذهبًا بفلوس فانه يشترط قبض احد البدلين قبل الافتراق لا قبضهما كذا فى الذخيرة .
وفى الهندية ج ۳ ص ۲۲۴ ولو باع تبر فضة بفلوس بغير اعيانها وتفرقا قبل ان يتقابضا فو جائز .

صارت كالبضاعة والسلعة والآخرون قالوا لا يجوز بيع الموقوت ولو كان بالشيک والسند لان فيه نص يحرمه

بين هذين جوابين تحيرنا وتعجبنا حتى بعض منّا بدأنا ان نغير عملنا ونبحث عن عمل جديد لنجتنب عن الشبهات من كسبنا وانا منهم.

الرجاء من فضيلتكم توضيح مشكلتنا وتبيين الحقيقة عند الشرع ، لو فضلتم جوابكم بالفاكس سريعًا احسن.

بارک الله فيكم وجزاكم الله خير الجزاء فى الدارين بمناسبة شهر رمضان والعيد المبارک كل عام وانتم بخير تقبل الله طاعتنا فى امان الله والسلام عليكم.

جواب: الى الاخ العزيز الاستاذ خير الدين شاهين ، السلام عليكم ورحمة الله وبركاته !

اما الذهب سواء كان تبرًا او مصوغًا فقد اجمع الائمة الاربعة على انه لا يعامل معاملة البضائع وانما يعمل احكام النقود فى جميع الامور لكن ،الاوراق النقدية ، قد وقع فيه خلاف بين العلماء المعاصرين وان كثيرًا من علماء البلاد العربية جعلوها فى حكم الذهب سواء بسواء ، ولكن خالفتهم فى رسالتي احكام الاوراق النقدية ، وذكرت انها ليست قائمة مقام الذهب فى جميع الامور فلا تجري فيها احكام الصرف ولذلک يجوز عندى ان يشترى الذهب او الفضة بالنقود ويجوز ايضًا ان يشترى الذهب نسيئةً بالاوراق النقدية ولكن يجب ان يكون تقابض احد البدلين فى المجلس اذا كان ذهبا خالصا وان يعرف الاجل عند العقد وقد قبل هذا الموقف معظم علماء الهند وكثير من باكستان والتفصيل فى رسالتي (احكام الاوراق النقدية) (۱)

---

(۱) راجع للتفصيل اليه ص ۱۵۵ الى ۱۵۹ .

اما كون الذهب والفضة فقدا صفة النقدية فهذا غير مسلم حتى الآن ، والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته ، محمد تقى العثمانى ، بقلم عبدالله ميمن ۲۴ / ۹ / ۱۴۲۱ ھ (فتوى نمبر ۴۸ / ۴۵۹)

دزرو دزيوراتو دپلورلو پر وخت دزرو وغيره اجزاؤ جلا جلا دقيمت لګولو حکم

سوال: دزرګرانو ګټه حلاله ده که حرامه ؟ ولي چي دهغو اصول په لاندي ډول دی: ۱ سره او سپين زر اصلي لګول ۲: ډير دغور خبره داده چی زرګر چي کله کوم زيور تياروي نو په هغه کي ټانکې لګوي هغه هم په سونا ورکوي ، چي هغه ډير خراب وي بې دهغه څخه نه سره راځي څنګه چي موټر وغيره ته ټانکه لګيږي ، ددې ټانکې حساب هم داصل سره برابر اخستل کيږي او کله چی ګراک بيرته هغه مال راوړي نو موږ هغه ټانکې ورڅخه ليري کوو په اصل کي يې نه شمارو يوازې داصل زرو قيمت ورکوو.

جواب: خرڅوونکی ته دخرڅلاؤ په وخت کی اختيار دی چی هغه خپل مملوک شی چي په کوم قيمت پلوري پلورلی يې شي ، لهذا که کوم زرګر دزرو سره ټانکه ورکړی هغه جائز ده په دې شرط چي تلبيس (دوکه) په کي نه وی (۱) يعني هغه ته وويل شي چي په دې شي کي ټانکه هم شوې ده.

---

(۱) وفى الهداية ج۴ ص۴۷۱ (طبع مكتبه شركت علميه وفى طبع مكتبه رحمانيه ج۴ ص۴۷۲) لان الثمن حق العاقد فاليه تقديره فلا ينبغي للامام ان يتعرض لحقه الا اذا تعلق به دفع ضرر العامة ...... الخ وكذافى الدر المختار ج۶ ص۲۹۹ (طبع سعيد) وبدائع الصنائع ج۵ ص۱۲۹.
وفى البحوث فى قضايا فقهيه معاصره ص۸ وللبائع ان يبيع بضاعته بماشاء من ثمن ولا يجب عليه ان يبيعه بسعر السوق دائمًا وللتجار ملاحظ مختلفة فى تعيين الاثمان وتقديرها...... الخ
وفى شرح المجلة لسليم رستم باز رقم المادة ۱۱۹۲ ص۶۵۴ (طبع حنفيه كوټه) كل يتصرف فى ملكه كيف شاء وفى المبسوط للسرخسي ج۲ ص۲۴ وان اشترى خاتم فضة او خاتم ذهب فيه فص او ليس فيه فص بكذا فلوسًا وليست الفلوس عنده فهو جائز ان تقابضا قبل التفرق او لم يتقابضا . وكذا فى الهندية ج ۳ ص ۲۲۴ وفتح القدير ج۴ ص۲۷۸

والله سبحانه وتعالى اعلم / احقر محمد تقى عثمانى عفى عنه ۱۳۸۸/۲/۲ ھ (فتوى نمبر ۱۹/۲۲۳ الف)

الجواب صحيح بنده محمد شفيع ۱۳۸۸/۲/۷ ھ

فصل فی احکام السندات المالیة والصکوک والاوراق المالیة

(د مختلفو مالي دستاویزاتو او باندړ (اقرارنامو) چیک وغیره بیان)

د فارن ایکسچینج بئیرر سرټیفکټ د خرید او د نفع حاصلولو حکم

سوال: عرض دا دی چې حکومت هغه خلګو ته چې بهرنیو ممالکو ته تللي دی او د هغه ځای څخه زرمبادله راوړي د هغو لپاره د فارن ایکسچینج بئیرر سرټیفکټ (د بهرنیو ممالیکو څخه د زر مبادلې سند) په نام یو سکیم جاري کړی دی چې د هغه په وسیله د بل ملک څخه راوړل شوې روپو په عوض د غه سند جاري کیږي، او د دې حامل ته اسټاک ایکسچینج (هغه ځای چې هلته د روپو خرید او فروخت کیږی) کي فائده کوي، او خپله په پاکستان کي هم ورته په وخت تیریدلو مثلا په یو کال کي ۱۴/۱ روپۍ نوره نفع کوي، او دوه کاله وروسته ۳۱ او په درو کالو کی ۵۲ روپۍ سود ورکوی او که غواړي نو روپۍ هم ورباندي نقدي کولی شي، نو د دې سرټیفکټ رانیول او نفع ورباندي حاصلول جائز دی او که نه؟

ګل رشید، ابو ظبی امارات

جواب: د فارن ایکسچینج بئیرر سرټیفکټ په باره کی تحقیق دا جوته کوي چې کوم خلګ د پاکستان څخه د باندي د مزدوري لپاره ځي، هغه که زرمبادله و پاکستان ته راوړي نو د حکومت قانون دا دی چې هغه به زر مبادله اسټېټ بینک (دولتي بینک) کي جمع کوي او د دې په مقابل کي د حکومت وضع شوی قانون سره سم به دوی ته پاکستانی روپۍ ورکول کیږي کیږي، په پاکستان کي چې څوک اوسي نو د هغو لپاره هم قانونا جائز نه ده چې دوی بهرنۍ زرمبادله د ځان سره وساتي او کله چې یو ځل زرمبادله په اسټېټ بینک کي جمع کړي نو هغه وروسته په هیڅ ډول د دغه بینک څخه قانونا نه شي ایستلی، اوس چې حکومت د فارن ایکسچینج بئیرر سرټیفکټ جاري کړی دی دا د دې مقصد لپاره دی چې کوم شخص زرمبادله د بهر څخه راوړی نو د هغه په بدله کی سند ورته ورکوي نو د هغه درې فوائد دی، یو دا چې دا سند چې چیرته دی غواړی د کوم بل ملک زرمبادله

ورباندی رانیسي نو د هغې ورځي په قیمت یې رانیولی شي، بل دا چې که کوم شخص یو کال دغه سند د خپل ځان سره وساتي نو هغه ته به دوولس نیم فیصده نفع ورکړل شي، بل دا دی چې که دی وغواړي د کال څخه وړاندی په بازار کي په اسټاک ایکسچینج کي یې وپلوري نو چې خوښه یې وي په هغه قیمت یې پلورلی شي.

چونکه په دې سند هغه ته دا حق حاصلیږي چې هغه دی په دې سند سره زرمبادله حاصل کړي، په دې وجه یې خلګ په بازار کي په زیات قیمت رانیسي مثلاً د سلو روپو سند په یو سل لس روپۍ رانیسي.

د سند او د اړوند مطبوعه معلوماتو سره سم د غه سند د بهرنیو هیوادو د زر مبادلې سند نه دی بلکه هغه د پاکستاني روپو سند دی چې د بهرنیو هیوادو د روپو په تبادله کي ورته لاسته راغلی دی، فرق یواځي دونه دی چې د عام پاکستاني روپو یا د هغه د نمائندګي کوونکی تمسکاتو پر بنیاد د زر مبادله حاصلولو لپاره کوم استحقاق نه دی، لکن د دغه سرټیفکټ (سند) حامل کولی شي چې دغه استحقاق حاصل کړي، ، لهذا په فقهی اعتبار سره د دې صورت دا دی چې د بهرنیو هیوادو څخه که څوک پاکستان ته زر مبادله راوړي نو د هغه په عوض کي دغه سند رانیسي چې دا سند د هغه پاکستاني روپو د دین ذمه ادا کوي، او د ده توثیق کوي او د دې سند و حامل ته دا اختیار دی چې که هغه غواړی نو دین د اصلي پاکستاني روپو ورباندي حاصل کړي او که غواړي نو د ادائیګي د ورځي د قیمت سره دی سم زرمبادله په شکل کي وپلوري.

خلاصه دا ده چې د دغه سند لرونکی ته د پاکستاني روپو وثیقه لاسته راغله چې هغه د حکومت د دین ذمه ادا کوي، اوس که حکومت یو کال وروسته د غه د روپو وثیقه په یو سل دوولس نیمي روپۍ رانیسي نو د دې معنی دا ده چې هغه دین یې په دوولس نیمي روپو بالا ادا کړو چې شرعًا دا سود دی دا ډول که دغه وثیقه په بازار کي په زیات قیمت وپلوري نو د دې معنی هم دا ده چې هغه خپل دین په زیات قیمت وپلورو او دا معامله د سود ده جائز نه ده.

دلته دی دغه شبه و نه شي چې دغه سند خو د غیر ملکي زر مبادله رسید دی او هغه باید د پاکستاني روپې په مقابل کي چې غواړي په هغه قیمت دی وپلورل شي جائز

ده ځکه چې دغه دغیر ملکی زر مبادله رسید نه دی ، چې ددې یو دلیل دادی چې دغه سند دغیر ملکي زر مبادله پر ځای دپاکستاني روپو په نوم ورته ورکړل شوی دی او پر غیر هغه باندی دپاکستاني روپۍ نوم هم لیکل شوې دی.

دوهمه وجه داده چې ددغه سند په وسیله چې کله زرمبادله حاصل کړل شي نو دغه زر مبادله نه ورته ورکول کیږی دکوم په بدله کي چې دغه سند ورته ورکړل شوی دی ، بلکه په تبادله کی یې دهغې ورځي دغیرملکي زر مبادله دنرخ سره سم روپۍ ورکول کیږي ، مثلا که یو سړی پنځویشت سعودي ریال ورکړي نو هغه ته دسلو روپو سند ورکول کیږي کله چې دسعودي ریال شپږ میاشتي وروسته قیمت شي نو هغه دومره سعودي ریال ورکول کیږي څومره چې نن ورځ دسلو پاکستاني روپو په اندازه ورکول کیږي ، مثلا نن زر مبادله دشرح مبادله ۲۳ ریال دی نو هغه سند په وسیله ۲۳ ریال ورکول کیږي نو دا یو واضح دلیل دی چې دغه سند دسعودی ریال وثیقه نه ده ، بلکه دپاکستاني روپو وثیقه ده ، لهذا دغه سند په دې بنا رانیول چې هغه په زیات قیمت استاک ایکسچینج (صرافي) کي وپلوري یا یو کال وروسته حکومت هغه ته دوولس نیمي روپي زیاتي ورکړي هغه سودي معامله ده قطعًا جائز نه ده ، البته که کوم شخص په دې غرض سرټیفکیټ (سند) رانیسي چې په وقت دضرورت کي ددې په وسیله زرمبادله حاصل کړي ، یا یې په صرافي کي وپلوري یا دحکومت څخه وربانديي منافع حاصل کړي ددې اراده نه لری نو په دې غرض درانیولو ګنجائشت دی لکن دپلورلو پر وقت وروسته به زیات قیمت نه باندی اخلي او نه به دحکومت څخه منافع وربانديي اخلي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۴۰۸/۸/۲۴ ه (فتوی نمبر ۱۷۳۴/۳۹ و)

دانکم ټیکس (دولتي محصول) څخه دځان ساتني په غرض دفارن ایکسچینج بئیرر سرټیفکیټ درانیولو حکم

سوال: جناب مولانا محمد تقی عثمانی صاحب! السلام علیکم...

ستا مضمون دفارن ایکسچینج بئیرر سرټیفکیټ (دبهرنیو ممالیکو څخه دزر مبادلې سند) په باب دنظر څخه تیر شو ، په دې مضمون کي په صفحه نمبر ۴ کي درې فوائد ذکر

شوې دی چې دهغه یو مهم مقصد داهم دی چې دهغه سند لرونکی هغه کیش (نقد) ګولو وروسته په هر کار کي لګولی شي ، نو په هغه روپو بیا کومه سوال هم نه کیږي ، او دولتي محصولاتو څخه به هم خلاص شي ، دغه سند دا فائده هم لری نو په دې وجه هم په صرافي کي په زیات قیمت پلورل کیږي ، ولي چې خلګ د Black money په White سره اړوي او په هر کار کي یې لګولی شي.

۱: اوس سوال داده چې دغه سند په صرافي کي په زیات قیمت پلورل جائز دی که نه ؟ولي چې ددولت دمحصول قوانین زیات پیچلي دی چې دهغه څخه دځان ساتلو لپاره white (دخالص) رقم ضرورت وي چې په دې سند سره ترلاسه کیدلی شي.

۲: اکثر حضرات دغه سندونه دبهرنیو هیوادو څخه راغواړي لکن ددوی په کار بار کي دلګولو لپاره یو کال وروسته نوبت راځي او کله چې کیش (نقد) کړي نو حکومت دوولس نیمي فیصده منافع هم ورکوي ، اوس موږ هغه منافع به څه کړو ؟ولي بعض اوقات دحالاتو سره دوه کاله وربانديي ولګیږی او دلته دا خبره قابل ذکر ده چې زموږ نیت یواځي white کول دی ، منافع زموږ مقصد نه دی لکن منافع هغه موږ ته خپله دولت راکوي اوس موږ هغه منافع چیرته صرف کړو ؟

جواب: محترمي ومکرمي ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

دفارن ایکسچینج بئیرر سرټیفکیټ (دبهرنیو ممالیکو څخه دزر مبادلې سند) په باره عرض داده چې څنګه چې په البلاغ مجله کی فتوی ورکړل شوې ده چې صرافي په زیات قیمت پلورل جائز نه ده او دهغه رانیول هم جائز نه دی لهذا دملکي محصولاتو څخه دځان ژغورلو لپاره که هغه رانیول شي نو دهغه درانیولو یواځي دوه صورتونه دی یو داچې کوم سړی واقعةً دبهرني هیواد څخه زر مبادله راوړی او دهغه په عوض کی دغه سرټیفکټ (سند) حاصل کړي بل دا چې که کوم سړی دغه سند په اصل قیمت ورکولو راضي شي نو برابر برابر رقم به په هغه سره حاصل وي نو دا شرعًا بیع نه بلکه حواله ده ، مثلا که پنځه سوه روپۍ سند وی نو هغه به په پنځه سوه روپۍ رانیسي او ددې مطلب دادی چې دا سړی یواځي پنځه سوه روپۍ نقد قرض ورکوي او هغه دقرض حواله دحکومت ورکړه او دهغې حوالې دتوثیق لپاره یې سند درکړو ، (دغه تشریح ځکه

ضروري ده چې شرعًا ددين خريد او فروخت جائز نه دی کوم چې فقهاؤ بيع الدين من غير من عليه الدين ورته وايي) (۱)

مذكوره بالا ددوو طريقو په وسيله كه سند ترلاسه شي او هغه بيا نقد كړل شي او دنقد حكومت زياتي روپۍ وركړي اول خو دی زياتي روپۍ نه وصولوي لكن كه په كومه وجه سره يې راوړي نو څونه چې زياتي روپۍ يې اخستې دي هغه دي دځانه څخه ليري كړي كوم مستحق دزكوة ته دي صدقه وركړي

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۲/ ۱۰/ ۱۴۰۸ هـ (فتوى نمبر ۲۰۹۱/ ۳۹ ز)

دفارن ايكسچينج بيئرر سرټيفكيټ شرعي حكم

څو شبهات او دهغو جوابات

سوال: معظم ومحترم جناب مولانا محمد تقى عثمانى صاحب السلام عليكم

شوال المكرم ۱۴۰۸ هـ يعنى جون ۱۹۸۸ م په البلاغ مجله كی دفارن كرنسي سرټيفكيټ په باره كی دمفتى صاحب تحقيق او رائی ګرامي دنظر څخه تيره شوه او په دې سلسله كي څه معروضات پيش خدمت دی:

۱: دا مفروضه دهر پاكستاني ده چې كله وطن ته راځی نو هغه به فارن ايكسچينج دحكومت سره جمع كوی صحی نه ده عرصه دراز حكومت پاكستان دا اجازت وركړی دی چې پاكستان ته راتلونكی تر شپږ مياشتو پوري غير ملكی زر مبادله دخپل ځان سره فارن كرنسی اكاؤنټ اينبوولی شي ، بيا يې په ۱۹۸۵ م په آخر كي دغه مده تر درو كلو پوري اوږده كړه ددې مطلب دادی چې ګذشته كال چې فارن كرنسي سرټيفكيټ جاري

(۱) وفى بدائع الصنائع ج۵ ص۱۴۸ (طبع سعيد) ولا ينعقد بيع الدين من غير من عليه الدين لان الدين اما ان يكون عبارة عن مال حكمى فى الذمة واما ان يكون عبارة عن فعل تمليك المال وتسليمه وكل ذلك غير مقدور التسليم فى حق البائع ولو شرط التسليم على المديون لا يصح ايضًا لانه شرط التسليم على غير البائع فيكون شرطًا فاسدًا فيفسد البيع آه
وراجع للتفصيل الى الشامية ج۴ ص۵۱۷ (طبع سعيد) وتكملة فتح الملهم ج ۱ ص۳۶۳ وبحوث فى قضايا فقهيه معاصرة ص۲۱ (طبع مكتبه دار العلوم كراچي)

شي دا وقت رانيوونكي ټول حضرات يا بيشتر حضرات قانونا ددې خبري مجاز دی چې حكومت ته دی زر مبادله نه وركوي او دخپل ځان سره دي كښيږدی او څوك چې دغه سند واخلی دهغه نظر يا خو دنور ځايو دمنافعو حاصلول وي ، يا هغه په سند په اسټاك ايكسچينج كي فروخت كوی حكومت ته مقرره شرح تبادلې څخه زيات وصولي كول غواړي.

۲: تر كومه چې ددې خبري تعلق ده چې دسند لرونكی كه غواړی چې دكوم ملك دروپو سره تبادله وكړي نو هغه دهغې ورځي دقيمت په اعتبار سره وصول كولی شي ، دا تر څه حده صحيح ده ، ولي چې سندلرونكی ته دپاكستان څخه بهر لاسته راوړل كيږي ، او كه هغه په پاكستان دفارن كرنسي اكاؤنټ خلاصول غواړی نو هغه ته ددې اجازت نه وركول كيږي ، التبه سند لرونكی كه وړاندي دغه فارن كرنسي اكاؤنټ ولري هغه سند په دې اكاونټ كي جمع كولی شي.

۳: ګواكي دا خبره صحيح ده چې حكومت دبهر څخه راتلونكی زر مبادله دپاكستاني روپو په عوض چي كله رانيسي نو هغه دسمدستي دوركولو پر ځای دهغه په خپله ذمه كي دين ګرزوي ، لكن پلورونكی يوائې ددې حال پر ځای مستقبل دروپو (چې دافراط زر په وجه ورځ تر بلي وړاندي ځي) او دحقيقي شرح تبادله څخه كم ته تيار وي چې هغه په مستقبل كي زر مبادله داستحقاق بر قرار كولو لپاره دماهرين اقتصاد مطابق يوائې او يوائې floating rate دروپو حقيقي قيمت دتبادلې وي كه دحكومت لخوا دمقرره قيمت دروپو صحيح worth يعنى intensie value ته retlect نه كوي ، اوس كه حكومت مصنوعى طور باندی دبهر څخه دراتلو روپو په بدله كي قيمت وركړي نو په بازار كي پر هغه باندی premium زيات وی دمثال په طور كه نن حكومت زوروكړي سره كښته راشي او دډالر قيمت لس روپي وټاكي نو په ماركيټ كي به ډالر لس فيصد (موجوده) premium پر ځای نوي يا سل فيصد پروميم باندي پلورل كيږي ، چې دهغه صحيح قيمت دی ، زه ديوې بلي خبري يادونه كوم چې دنن څخه تقريبًا پنځلس كاله څخه زيات حكومت دډالر قيمت ۴.۷۵ مقرر كړی دی اوډالر په بازار كي په څوارلس روپو پلورل كيږي او حكومت خپله هم بلاواسطه دبونس داؤ چراسكيم په وسيله support كوي

، نو مختلف روپۍ یو د بل په مقابله کي کښته او پورته کیږي چي په هغو ممالکو افراط
زر او شرح سود یو فنکشن شته ، لکن په هغه ملکو کی دروپو پر نقل او حرکت کومه
پابندي نشته یا هغه په خپله دروپو مصنوعي شرح تبادله نه ټاکي ، هلته دمارکېټ او
دحکومت په شرح تبادله کي فرق نه راځي ولي چي دواړي شرح دمقامي روپو یو قیمت په
ګوته کوي ، په دې سلسله کي دا سوال پیدا کیږي چي په فقهي نقطه نظر سره کوم
حکومت (چي اسلامي حکومت هم نه ده) هغه ته څه حق ورکول کیږي چي عوامو ته
دبهرنیو هیوادو څخه دروپو قیمت ورکړي (حال دا چي کستم ،پولیس ، عدالت ، انکم
ټیکس ، غرض دا چي ټولي اداري دخلګو دلوټولو لپاره تیار دی) که هغه کم قیمت
ورکړي ، نو عوامو ته به اختیار نه وی چي هغه دی خپل روپۍ څخه په صحیح قیمت تر
لاسه کړي ، خاص بیا چي حکومت دغه زر مبادله په بازار کي په قانوني پلورو خلګ
مجبور ګني ؟

۴: دتحقیق په دوران کي به دمفتي صاحب دا خبره ضرور په فکر کي وي چي
حکومت پاکستان دهنډي (حواله) په کاربار کي هر کال په لسهاؤ ملینه روپۍ نقصان
پورته کوي ، ولي چي خلګ دحکومت دمصنوعي شرح پریږدي او دپرائیویټ (شخصي)
ادارو په وسیله خپلي روپۍ لیږدوي ، بیئرر فارن ایکسچینج سرټیفکیټ جاري کوي او
هغه په اسټاک ایکسچینج (صرافي) کي پلوري په اصل کي حکومت دترسیل او حوالې
پر کاربار ضرب لګولی دی ،او ددې خبري موقع یې ورکړې ده چي خلګ زر مبادله کي
صحیح قیمت حاصل کړي ، لهذا دترسیل دکاربار په سلسله کي دفقهي نقطه نظر څخه
موږ آګاه کړی ؟

ددې بیان په وړاندي کولو سره ویل کیږي چي دغه سند په باره کي دپلورلو
وروسته چي لس یا دوولس فیصده منافع ورکول کیږي هغه ددغه فارن دروپو حقیقي
قیمت په وجه دی ؟ بلکل داسي ده لکه چي دکمپنۍ حصې وغیره چي په بازار کي په
زیات یا کم قیمت پلورل کیږي ، البته ددې خبري سره مکمل اتفاق کیږي چي دکال
تیریدلو وروسته حکومت دطرف څخه چي دوولس نیم فیصد منافع ورباندي ورکول کیږي
هغه سودي معامله ده جائز نه ده.

۵: په آخري فقره کي جناب مفتی صاحب اجازت ورکړی دی که کوم شخص په دې
غرض دغه سند تر لاسه کړي چي په وقت دضروت کي ددې په وسیله زرمبادله حاصل
کړي نو درانیولو ګنجائش سته ، دغه ګنجائش هم دعامو خلګو لپاره مسائلي جوړوي ،
مثلا که کوم سړی پاکستان ته په راستنیدو سره یواځي په دې غرض دغه سند ترلاسه
کړي نو په وقت دضروت کي په دې سره زرمبادله حاصلولی شی لکن که پر هغه باندی
درې کاله تیر شي او بیا دی غواړي چي زر مبادله ورباندی رانیسی نو دسلوزرو سند یو
سل دوپنځوس رزو ته رسیږي او ددې سړي سره دبچت کوم صورت هم نه وي ، حکومت
ورته دغه رقم په زبردستي ورکوي ، په داسي صورت کې به دغه سړی ګناه ګار نه وي ؟او
په حالت دمجبوري کي ایا هغه دوپنځوس زره روپۍ خیرات کړی یا یواځي هغه روپۍ
چي ده ته زیاتي ورکړل شوې ؟لکن په دې صورت کي دروپو قیمت دکمي سود پوره
کیدلی شي ؟

جواب: محترمي ومکرمي جناب منتسم مسعود صاحب ، حفظه الله تعالی.
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ، ستا خط راته ورسید و دجواب لپاره دڅه
ګوښتوب ضرورت وی هغه تیرو ورځو کي موجود نه ؤ ، په دې په جواب کي څه تاخیر
واقع شو ، زهیریم او معذرت غواړم.

تا چي کوم په تفصیل سره دمذکوره فارن ایکسچیج بیرر سرټیفکیټ تفصیل
کړی زه ستا دزړه دکومي شکر ګذاریم ، دبهرنیو هیوادو څخه زر مبادله پاکستان ته
منتقل کوونکي باندي چي کومي پابندیاني قانونا عائد شوی ، او دکومو دوجي چي هغه
دمشکلات شکار شوی دهغه څه اندازه وړاندي هم ؤ ستا په تفصیل نور هم تشریح شول ،
لکن دهغو ټولو خبرو څخه چي په دغه سند کي موجود وی په شرعي حیثیت کوم فرق نه
راځي دهغو ټولو مشکلاتو اصل حل په دې کي دی چي حکومت زرمبادله په بازاری نرخ
حاصل کړي یا شرعًا ددې خبري هم ګنجائش شته چي حکومت هغه سند دپاکستاني روپو
نه بلکه دزر مبادله نمائنده وبولي کوم چي حکومت ته حواله شوی ، که دغه سند دزر
مبادله نمائنده وبلل شي نو ددې مطلب به داوی چي دحکومت په ذمه کي زر مبادله دین
دی دهغه وروسته په هره مرحله کي چي غواړي په رضامندي سره یې په قیمت رانیسي ،

او دغه قیمت دبازاري قیمت څخه زیات هم کیدلی شي ، په دې شرط چې زیات قیمت دوړاندي څخه نه وي مقرر شوی بلکه دخریداري په وقت کي طی شي ، او متبادل دا هم ممکن دی چی سند لرونکی په بازار کي يې په طور دحوالې ورکړي او دهغه په واسطه زیاتي روپۍ تر لاسه کړي.

لکن شرعًا دا مشکل شته چی دغه سند دزر مبادلې پر ځای د پاکستاني روپو سند وبلل شي ، چې دهغه مطلب به داوي چې حکومت دغه زر مبادله په سرکاري نرخ په پاکستانیو روپو رانیول او دهغه پاکستاني روپو په مقابل کي يې سند جاري کړی دی اوس زر مبادله ددغه سړي په ملک کي نه بلل کیږي چې ددې پر بنیاد دغه بیع ممکن کیدلی شي.

پاته شوه دا خبره چي په موجوده صورت کی چي په صرافي کي لس یا دوولس فیصده زیاتي منافع ورکول هغه دزر مبادله دحقیقي قیمت پر بنا باید جائز شي ، نو دغه توجیه ددوو وجو څخه ممکن نه ده ، اول دا چی دغه زر مبادله نه بلکه دپاکستاني روپو قیمت دی ، ولي چي سند دپاکستاني روپو وثیقه ده ، دهم جنس روپو په تبادله کي کمي او بیشي جائز نه ده ، بله وجه داده چي دغه سند په بازار کي په لس یا دوولس فیصده منافع سره پیدا کیږي نه هغه کلیتًا زر مبادله دسرکاري او بازاري نرخو پر فرق باندي بنا وي ، او نه په دې فرق سره مساوي وي ، که دغه منافع لس یا دوولس فیصده دسرکاري او بازاري نرخو نه عمومًا ددې څخه کم وي دا وجه ده چې دغه سند په بازار کي سند لرونکي ته دحوالې په وسیله دزر مبادله دپلورلو څخه زیاته ګټه لري ، په دې لحاظ دجناب دغه فرموده داحقر په نزد صحیح نه دی چی دحکومت دطرف څخه په بازار کي ددغه سند پلورلو اجازت په بازار کي دصحیح قیمت دحاصلو داجازت سره مرادف دی ، ددې برخلاف صورت حال دادی چي حکومت په بازار کي زرمبادله او هغه په بازاري قیمت پلورل منع کوي ، لکن ددې خبري اجازت يې کړی دی چی زرمبادله دسرکار په کم قیمت سره فروخت کړی او په دې سره سودي معامله کول دغه خپل نقصاني تلافي کوي.

دا خبره پر خپل ځای درست ده چې غیر ملکي روپۍ دسرکاري نرخ دبازاري نرخ څخه په ډیر کم قیمت مقررول په داسي حال کي چي دغه زرمبادله پلورل قانونًا منع دی یو

ډول ظلم دی ، چي دهغه په عامو حالاتو کي شرعًا اجازت نشته ، لکن که حکومت غلط کار کوي نو په هغه سره سودي معاملې کوم شرعي اثر نه اچوي ، بلکه هغه پر هغه ډول ناجائز دی.

البته چونکه حکومت ددغه سند لرونکي مجبوره کوي چي په کم قیمت يې رانیسي نو که حکومت په دغه کال کي پر دغه سند دوولس فیصده زیات ورکړي نو اګر که سود دی لکن دهغو مره روپۍ دابېښوول شرعًا ګنجائش معلومیږي ، کوم چي دسند دترلاسه کولو پر وخت يې ورڅخه په سرکاري نرخ او بازاري نرخ کي فرق درلود مثلا کوم شخص سل ډالره ورکړي او هغه ورته ۱۷۰۰ پاکستاني روپو سند ورکړو ، او په بازار کي ددغه ډالرو قیمت ۱۷۵۰ روپۍ وي نو چي ده ته ۵۰ روپۍ په سرکاري نرخ کي تاوان رسیدلی او هغه جبري دی ، دی ورباندی راضی نه دی که حکومت په کال تیریدلو سره ۲۰۴۰ روپۍ دهغه سند په مقابل کي ورکړي ، نو دهغو څخه ۵۰ روپو کوم چي ده ته نقصان رسیدلی ؤ هغه وصول کړی نو شرعًا ګنجائش معلومیږي ، لکن دنورو روپو داستعمال اجازه بیا هم نه ورکول کیږي.

لکن که په صرافي کی دغه سند وپلوري او دوولس فیصده نفع ورباندي حاصل کړي نو هغه څخه دغه پنځوس روپۍ وصول کول هم جائز نه دی ، وجه داده چي مخکني صورت کي هغه پنځوس روپۍ دهغه چا څخه وصول شوې کوم چي ده ته يې نقصان ورکړی ؤ ، په دوهم صورت کي هغه فریق نه دی چی ده ته يې نقصان ورکړی ؤ.

ددې مثال داده چی که (الف) په ناجائز طریقه د (ب) څخه ۵۰ روپۍ غصب کړي او بیا (الف) دسود په نامه دغه ۵۰ روپۍ ادا کړی نو (ب) لپاره دغه ۵۰ روپۍ بحیثیت سود نه بلکه بحیثیت دتلافی دنقصان دپورته کولو ګنجائش شته ، لکن که (ج) ده ته دکوم قرض ۵۰ روپۍ سود ورکړی دهغه استعمال ورته جائز نه دی ولي چي (الف) ده ته پنځوس روپۍ نقصان رسولی دی.

په دې تفصیل سره ستا دآخرني سوال جواب هم وشو ، هغه دا چی که څوک وغواړي چی دخپل زرمبادله دوصولي لپاره دغه سند تر لاسه کړي او حکومت ورته دکال تیریدلو په صورت کي سود ورکړي نو هغه ورباندي څه وکړي؟ ددې جواب دادی چی هغه

دی د سند اصلي قيمت په استعمال کي راوستلی شي ، او ددې څخه دزياتو روپو اخستلو هم ګنجائش شته کوم چی د سند درانيولو په ورځ (نه د منافع دوصولي دورځي قيمت) دهغه ادا کړل شوی زرمبادله چي دبازاري او سرکاري قيمت نرخونه يو وي ، لکن ددې څخه چي زياتي روپۍ دحکومت لخوا ورکړل شوې دی هغه يقينا سود دی او هغه ذاتي استعمال کي راوستل جائز نه دی ، بلکه دهغه څخه دی خپل ځان خلاص کړي او هغه دی صدقه کړي.

دلته دا خبره دی هم واضح وی چی تا ليکلی دی چي په حالت دمجبوري کي ايا هغه دوپنځوس زره روپۍ خيرات کړي ، يا دونه چی هغه ددغه سند چي ده حکومت ته ورکړې وې ، دونه دی واخلي او نوري دی خيرات کړي ؟ په دې باره کي عرض داده چی څونه ده ددغه سند په ترلاسه کولو کي حکومت ته ورکړې دی دونه اخستل درست نه دی بلکه څونه چي ده ددغه سند لپاره ورکولو په وخت کي دبازاري قيمت سره سم دسند اصلي قيمتؤ يواځي دومره وصول کولو ګنجائش دی ، ددې څخه دزياتو نه ، او احتياط خو بلا شبه په دې کي دی چی يواځي اصلي قيمت راوګرزوي او بقايا خيرات کړي.

يوه بله خبره په آخر کي قابل ذکر ده هغه دا چی تا يو ځای دافراط زر په بنياد په قيمت کي دکمي راتلو په باره کي کړې ده ، دهغه څخه داسي معلومېږي چي دادائيګي پروخت دروپو قيمت کي دکمي هم لحاظ کيږي ، نو شرعي نقطه نظر دقرض او دنورو واجباتو او ددیونو په راکړي ورکړي کي دافراط زر کي دتبديلي اعتبار نه کيږي ، نو په دې دادائيګي پر وخت دغه طرف ته نه کتل کيږي ، ددې مسئلې مکمل تحقيق احقر په يوه مفصله مقاله کي کړي چي انشاء الله عنقريب به په البلاغ کي نشر شي.

په دعاؤ کي مي ياد ساته

والسلام ۳ / ۱۲ / ۱۴۰۸

(فتوی نمبر ۲۵۳۶ / ۳۹ح)

دفارن ايکسچينج بئيرر سرټيفکيټ (دبهرنيو مماليکو څخه دزر مبادلې سند)

سوال: محترم مولانا مفتی صاحب: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !

اوس خبره پر تليفون وشوه د FCBC دسکيم (قرارداد) تفصيل ارسال شول موږ ته خپله رايه ظاهره کړه ، به صورت ديګر تجويز وکړه چي په دې باره څه ترامیم دجواز لپاره ضروري دی او په دې سکيم کي اصل زر او نفع دواړه په ډالره سره کيږي.

په دې باره دشريعت څه حکم دی:

چي حکومت دفروري ۱۹۹۸م کي نوی سند جاري کړو دغه سند دامريکي ډالر او برطانوي پونډ دی ، ددې سکيم مدت درې کاله دی او کم ازکم ماليت يې زر ډالره پونډه دی حکومت په دې سکيم کي دلاندينيو فائدو ذکر کړی دی:-

۱- داصل زر او منافعو په حکومت پاکستان کي ضمانت.

۲- درې کاله مختصره دتکميل مده.

۳- دمحصول وغيره څخه مستثنی.

۴- دخريداري مدت محدود.

۵- دزياتي مدې لپاره خريداري کولو باندي زياتي منافع.

۶- دمعلومي مدې لپاره کيش (نقد) کولو په صورت کي بې له کوم نقصان او کمي.

۷- په صرافي کي قابل خريد او فروخت.

۸- دمجاز دپلورونکی سند دجوړولو سهولت.

دسټيټ بينک (تر ټولولوی بانک) دغه اعلان کړی چی دسند دکيش کولو پر وقت سند لرونکی اختيار لری چی هغه سند دسند مطابق په روپو سره تبديل کړی ، يعنی دونه مقدار روپۍ يوسي څونه چي په سند کي دی ، او منافع هم په دې شکل وصول کړی يا دهغې ورځي سره سم پاکستانی روپۍ وصول کړي.

واضح دی وی چی پر دغه سند فارن کرنسي ليکل شوی دی ، دپاکستان روپۍ نه دی ، يعنی يو زر امريکي ډالر په ورکولو سره بينک چي کوم سند درکوی په هغه کي زر ډالره مذکور وي په کومه ورځ چي دغه سند جاري شوی دی دهغې ورځي دنرخ سره سم پاکستانی روپۍ په هغه کي ذکر شوې نه دی ، دغه سند چي اسټيټ بينک جاري کړی دی دهغه سوال سره منسلک دی (سائل ددې استفتاء سره هغه انګريزي متن ددغه

اسكيم هم دفوټو كاپي په شكل كی منسلک کړی دی) دغه سند رانيول او پر دې سند منافع حاصلول او نفع په پاكستاني روپو يا نورو سره پلورل څنګه دی جائز دی كه نه ؟
(المستفتي ارشد سعيد)

جواب: دغه نوی فارن كرنسی بيئرر سرټيفكيټ (دبهرنيو مماليكو څخه دزر مبادلې سند) چي صورت حال په سوال كي ذكر دی ددې مطابق ددې حكم دادی چی دغه سند حاصلول په اصل كي حكومت ته قرض وركول دی او سرټيفكټ دهغه سند دی ، پر قرض نفع حاصلول حرام دی (۱) اودقرض حواله كول جائز دی ، لهذا دغه سند باندی نفع حاصلولو په نيت رانيول جائز نه دی ، او دغه نفع حاصلول دسود په حكم كي دی ، البته دمحصول څخه ځان ژغورلو په نيت ددغه قانونی سهولت څخه ګټه اخستلی شي ، يا دروپو دحفظ په نيت يادقرض په نيت كه كوم شخص دغه سند ترلاسه كولی شي ، خو دمنافعو دحاصلولو به يې اراده نه وی ، نو په دغه نيت كه وي درانيولو ګنجائش شته ، په دې شرط چي كه منافع ورته وركول كيږي نو هغه به نه اخلی ، او كه دخپل اختياره بغير منافع ورته وركړل شي نو هغه به بيله نيته دثوابه مستحق دزكوة ته وركوي.

تركومه چی ددغه سند په بازار كي دفروخت تعلق دی ، نو ددې حكم دادی چی كه په دې سره ډالر رانيول شي نو همدومره ډالره اخستل جائز دی دڅونه چی دغه سند دی ددې څخه په كم يا په زيات سره پلورل سود دی ، كه پاكستاني روپو باندی وپلورل شي نو دتبادلې شرح دهغې ورځی دقيمت سره مطابق كول ضروري دی ، البته په سركاري شرح تبادله سره پلورل ضروري نه دی ، بلكه مجازي پلورونكي چي په كومه ورځ ډالر رانيسي په دې شرح سره سند پلورلی شي ، مثلا سند دزرو ډالرو وی او دتبادله په ورځ دعام بازاري نرخ شپږ څلويښت روپۍ في ډالر قيمت وی ، نو دغه سند دشپږ څلويښتو زره باندي پلورلی شي ، دشپږ څلويښت څخه په زيات قيمت پلورل جائز نه دی ، وجه يې داده چی فقهی اعتبار سره سرټيفكيټ (سند) دفروخت مطلب دادی چی نقد پاكستانی روپۍ په عوض ډالر نسيئه فروخت شو بيا چي ډالر واجب الذمه دی دهغه په حواله كي

---

(۱) وفی الدر المختار ج۵ ص۱۶۶ وفی الاشباه كل قرض جر نفعًا حرام (كتاب المداينات ص۱۴۴ طبع سعيد كراچي)

سند ورته وركړو (يعنی حكومت) كوم علماء چي دنوټو تبادله صرف بولي دهغو په نزد بالكل نسيئه ناجائز ده ، او داحقر په نزد اګر چي صرف نه دی ، نو په دې وجه تقابض په كي شرط نه دی ، لكن نسيه په صورت كي په ثمن مثل باندي پلورل ضروري دی ولي چي دربا وسيله جوړه نه شي. او دغه سند چي په اصل كي سودی دی نو په دې دغه سند دبازاري نرخ څخه په زيات پلورلو تر هغه وقته نه شي پلورلی تر څو چي دده اراده دغه سند باندی دسود انتفاع نه وی ، لهذا دغه سند په معامله كی بطور خاص ثمن مثل شرط مراعات كول ضروری دی ، البته ثمن مثل سركاري قيمت نه دی بلكه هغه بازاري قيمت دی چي مجاز پلورونكی يې معروف كوي.

خلاصه داده چی دنفع حاصلولو په غرض دغه سند رانيول جائز نه دی ، البته دنفع دنه حاصلولو په نيت كه يې دټيكس دقانوني مراعات په غرض يا دخپل ماليت دحفظان په غرض يا دروپو كښته پورته كيدلو په صورت كي دخپل ملكيت دمستحكم كيدلو په غرض ، يا دحكومت ته بلاسود قرضه وركولو په غرض رانيول شي نو ګنجائش شته ، لكن كله چی دغه سند ترلاسه كړی كه حكومت ته بيرته يې وركړی يا يې په بازار كی وپلوري په دواړو صورتو كي دبازاري شرح تبادلې په مطابق به پلورل كيږي ، دهغه څخه په زيات قيمت پلورل جائز نه دی. والله سبحانه وتعالی اعلم ، ۵ / ۱۱ / ۱۴۱۸هـ (فتوی نمر ۲۲/ ۳۲۱)

په نيشنل ډيفنس سيونګ سرټيفكيټ (عامه تحفظ وركولو سند) سره دمنافع حكم

سوال: مسئله داده چي په په نيشنل ډيفنس سيونګ سرټيفكيټ (عامه تحفظ وركولو سند) كي سرمايه كاري كول څنګه دی او پر هغه باندی چي منافع وركول كيږي هغه حلال دی كه حرام ؟

جواب: په نيشنل ډيفنس سيونګ سرټيفكيټ (عامه تحفظ وركولو سند) چي منافع وركول كيږي هغه شرعًا سود دی او دهغه اخستل حرام دی. والله سبحانه وتعالی اعلم ، ۱/ ۱۱ / ۱۴۰۸هـ (فتوی نمبر ۲۲۵۱ /۳۹ز)

انعامي بونډ (قرضه) شرعي حيثيت

سوال: انعامي بونډ شرعي حيثيت څه دی؟ دهغه خريد او فروخت جائز دی که نه؟
جواب: انعامي بانډ رانيول شرعًا جائز نه دی (۱) په هغه کي سود هم دی او قمار هم دی. والله اعلم ۱۸/۷/۱۴۰۲هـ.

دپرائز (انعامي) بانډ (قرضې) دخريد او فروخت او انعام شرعي حکم

(په دې سلسله کي دحضرت مفتي صاحب دسپريم کورټ (ستري محکمې) يوې فيصلې حقيقت او قانوني نکتې وضاحت)

(سائل موصوف استفتاء څخه وړاندي دمفتي صاحب څخه دخط په وسيله په لاندي ډول سوال کړی وه)

وخدمت ته دمحترم او مکرم جناب حضرت مولانا تقی عثماني صاحب ! زاد مجدکم

السلام عليکم، حضرت مفتي ! يوه مسئله چي اختلاف په کي راغلی دی، هغه دا چي انعامي قرضې فلان چي حکومت پاکستان جاري کړی دی په هغه کي روپۍ لګول او دغه انعامي بانډ رانيول يا پلورل، او دانعام دراوتلو په صورت کي دغه انعام حلال دی که حرام؟ زموږ علماء ورته سود او قمار وايي، او څه نور علماء يې حلال او جائز بولي. هغه چي جائز يې بولي هغه ستا فيصله بنياد ګڼي چي حلال او جائز ورته ويل شوی هغه و شريعت اپيلټ بنچ تر فيصلې لاندی PLD۱۹۹۲ SC۱۵۳ کي ستا او مرحوم پيرشاه صاحب او بل جج صاحب مندرجاتو پر بنياد جوړ شوی او حلال ورته ويل شوي دی، دا تاسي واضح کولی شی. دفيصلې دنقل فوټو کاپي ددې خط سره يوځاي تاسي ته

(۱) ربا دحرمت متعلق فتوی او دحوالې لپاره دجواهر الفقه ج۲ ص۳۳۹ رساله احکام القمار ملاحظه کړی.

دروليږل شوي په دې مسئله کي فتوی صادر کړې، چي ابهام او اختلاف رفع شي. نياز مند کفايت الله بودله کالونی شجاع آباد.

استفتاء

سوال: څه حکم دی په دې مسئله کي چي پاکستان کي جاري کړل شوی انعامي اسکيم چي هغه ته انعامي بانډ (Prize Bond) ويل کيږي چي په قرعه (هسکه) سره بعض نمبرونه باندي انعامات ورکول کيږي چي چاته چي انعام ورسيږي يا ونه رسيږي دهغه اصل رقم په هر حال کي محفوظ وي، ايا ددې بانډ رانيول او په دې کار کي سرمايه کاري کول او دهغه څخه انعام حاصلول حلال او جائز دی او که حرام او يا قمار دی؟ PLD ۱۹۹۲ SC۱۵۳ په روشنی کي بينوا توجروا (سائل کفايت الله بودله شجاع آباد ملتان)

جواب: محترم ومکرم! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

ستا خط راته ورسيدو دپرائز بانډ په باره کي بنده فتوی داول څخه داده چي دهغه خريداری او پر هغه باندي انعام شرعًا جائز نه دی (۱) زما دفيصلې چي تاسي حواله ورکړې ده په هغه کي دانه دي ويل شوی چي پرائز بانډ جائز دی، بلکه دا ويل شوی دی چي کوم وقت فيډرل شريعت کورټ (مرکزي شرعي محکمې) هغه ناجائز بللې، په هغه وخت کي هغه لره يې مالياتي معاملاتو کي هغه لره يې دحتمي فيصلې اختيار نه ؤ، دغه موقف دشفيع الرحمن صاحب دفيصلې هم ؤ، دهغه مقصد داؤ چي پرائز بانډ دحلت او حرمت مسئلې سپريم کورټ (ستري محکمې) دطرف څخه دآئنده لپاره خلاص شي، البته پير کرم شاه صاحب مرحوم پرائز بانډ دجواز قائل ؤ، په دې وجه هغه صراحة جائز بلله، لکن زما او دشفيع الرحمن صاحب په فيصله کي دجواز يا عدم جواز بحث څخه سوا پردې بنا اپيل مسترد کړل شو چي فيډرل شريعت کورټ په دې وقت کي دحتمي فيصلې ورکولو اختيار نه ؤ، په هغه کی دغه مفهوم په قانوني طور باندي پنهان ؤ چي کله فيډرل شريعت کورټ په مالي امورو کي فيصلې ورکولو حق دی، په دې وقت کې حتمي فيصله جاري کولی شي، لهذا زما ددې فيصلې سره سم پرائز بانډ دجواز دليل پيشول صحيح نه

(۱) ددې تفصيل پر راتلونکې فتوی کي وګوری.

دی ، ددې پر عدم جواز زما فتوی جاري شوې ده (١) لکن چونکه دغي فیصلې د عدم جواز حکم ورکولو هیڅ قانوني حیثیت نشته ، او په آئنده کي ددې عدالتي فیصلې لاره بندیدلو امکان ؤ ، نو په دې ما پر دې جملې اکتفاء وکړه چي نتائج بحث تر عنوان لاندي فقره نمبر ۳ کي درج ده.

والسلام / بنده محمد تقی عثماني ۷/۲/۱۴۲۵ (فتوی نمبر ۵۲/۷۲۰)

دپرائز بانډ او پر هغه باندي دانعام حکم

سوال: انعامي (پرائز) بانډ مسئله درپیش ده پر هغه باندي دانعام راوتلو دهغو داستعمال جواز شته که نه ؟ او په کومو کارو کي خرڅ کیدلی شي ؟

جواب: مروجه انعامي بانډ باندي چي کوم انعام ورکول کیږي دهغه د تحقیق څخه معلومیږي چي هغه روپۍ د سود او قمار په وسیله تقسیمیږي لهذا هغه انعام وصول کول شرعًا حرام دی البته که کوم رقم په غلطي سره وصول شي چي نو هغه دي بیله نیت د ثواب صدقه کړل شي ، او دغه صدقه داسي ده چي خپل خپلوانو ته هم ورکول کیږي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۱/۱۰/۱۳۹۲ ه (فتوی نمبر ۲۴۳۷/۲۷ د)

پرائز بانډ باندي دانعامي رقم حکم

سوال: پرائز بانډ چي کوم انعامات ورکوي هغه شرعًا جائز دی که نه ؟

جواب: مروجه انعامي بانډ کي چي سود او قمار کولو په وجه انعام تقسیمیږي هغه انعام وصول کول شرعًا حرام دی

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۲/۱۱/۱۳۹۲ (فتوی نمبر ۲۷۱۰/۲۷ و)

انعامي بانډ او دهغه پر روپو دزکوة او حج کولو حکم

سوال: زما دمور کفالت زما پر ذمه دی ددې څخه علاوه دهغې درو کچنیانو ته تعلیم قرآن هم ورکوي پر هغه چي هدیه ورکول کیږي هغه ددې دذاتي مصرف څخه علاوه دی ، قرباني ، زکوة خیرات کي استعمالیږي ، په دې روپو سره والدې انعامي بانډ هم رانیولی

(١) دغه فتوی وراندي په تفصیل سره راروانه ده.

دی چي دضرورت پر وقت به په ښه راشي ، دقدرت کارونه ؤ دهغې ۵۰۰۰ روپۍ په انعام کي ووتلې کله چي دغه روپۍ یې وصول کړې نو زکاة واجب ؤ هغه یې ادا کړي او څه یې دکور په خرڅ کي ولګولې ، نوري یې دځان سره محفوظ کړې ، دوالدې خواهش دی چي په دې روپو حج هم تر سره کړي ایا هغه په دې روپو حج کولی شي ؟

جواب: پر انعامي بانډ باندې چي کومې روپۍ په انعام کي ورکول کیږي دقواعدو او ضوابطو څخه معلومیږي چي هغه سود او قمار پر طریقه تقسیمیږي لهذا دهغه اخستل جائز نه دی (١) او که دغه روپۍ په غلطي سره واخلي نو دثواب د نیت څخه علاوه دي هغه صدقه کړل شي ، دغه روپۍ د حلال آمدني په زکوة کي ورکولی شي او نه حج ورباندي کړای شي ، او نه هم په ذاتي استعمال کي یې استعمالولی شي ، لهذا هغې چي کومي روپۍ په زکاة کي ورکړې دي او هغه دهغه حلالو روپو زکاة ؤ هغه نه دی ادا شوی ، هغه زکاة دی دوهم ځل وباسي ، او که ددغو انعامي روپو زکاة یې ورکړی وي نو هغه دوهم ځل نه ورکوي ، او څونه چي یې په کور کي استعمال کړې دي هغه دی صدقه کړي.

الجواب صحیح / بنده محمد شفیع

والله سبحانه وتعالی اعلم ، احقر محمد تقی عثماني عفی عنه ۲۳/۵/۱۳۸۸ ه (فتوی نمر ۵۹۷/۱۹الف)

دانعامي بانډ حکم

سوال: دانعامي بانډ شرعي حیثیت څه دی ؟ که ناجائز دی نو ولي ؟

جواب: د تحقیق څخه معلوم شوې چي هر بونډ (سودي قرضه) درانیوونکي پر نامه یو معین مقدار سود لګول کیږي لکن بیا ددې پر ځای چي د هر یوه پر حصه ځانته سود مقرر کړي دټولو افرادو سود مجموعي رقم قرعه اندازي کوي یو اخي یې پر هغه

(١) دانعامي بانډ د صفحې حاشیه وګوري.

خلګو تقسیم کوي کوم چي په قرعه کي يې نوم راووزي ددې نتيجه داده چې انعامي رقم سود او قمار دی په دې وجه ددغو روپو اخستل حرام دی (۱) والسلام (۲)

(۱) د۱۷۳ صحفې حاشيه ددې سره وګورئ.

(۲) دغه فتوی دالبلاغ څخه رااخستل شوې ده.

فصل في احكام الاسهم

(د شرکت د حصو احکام)

د حلال کاربار کوونکی شرکت حصې رانيول جائز دی

سوال: حصې رانيول او د کوم شرکت حصه دار جوړيدل او نفع ورڅخه حاصلول جائز دی که نه؟ بکر وايي چې جائز دی ما د مفتی رشيد احمد او مولانا ظفر احمد تهانوي صاحب څخه فتوی ترلاسه کړې وه.

جواب که کمپنی کار وبار خلاف د شرع نه وی نو حصې رانيول يې کوم حرج نه لري

والله اعلم ۵/۱۲/۱۳۹۲ هـ (فتوی نمبر ۲۷۸/۲۷ و)

د کوم شرکت د حصو خريد او فروخت جائز دی؟

د صرافانو د کميشن اخستلو څه حکم دی؟

سوال د کوم شرکت حصې رانيول جائز دی؟ او که په کوم حال کي يعني چي شرکت کوم حال ته ورسيږي د هغه حصې رانيول جائز دی؟ او د صرافي د کاربارېانو د کميشن يعني چي پر دلالي کميشن وصول کوي جائز دی که نه؟

جواب که کمپنی يا شرکت حرام کاربار کی ملوث نه وي نو د هغه څه حصی وجود ته راغلې وي نو د هغه حصې رانيول جائز دی (۱) او صرافانو ته د صرافي کميشن ورکول هم جائز دی لکن کومه کمپنی چي په حرام کاروبار ملوث وي د هغه حصې رانيول جائز نه دی او د کومي کمپنی چي تر اوسه حصې وجود ته راغلې نه وي بلکه يوازې اثاثې نقد

(۱) ددې مسئلو د تفصيل لپاره د حضرت مفتي صاحب کتاب اسلام او جديد معيشيت و تجارت ملاحظه کړی.

روپو په شكل كي وی دهغو حصو داصل قيمت څخه په كم يا زيات قيمت رانيول او پلورل حرام دی .

والله اعلم ۸ / ۱۴۱۲۱ھ (فتوی نمبر ۵۸ / ۳۵۷)

په صرافي كی دحصو دخريد او فروخت او پر حصو دقبضې متعلق شرعي تحقيق

سوال: دعلماء كرامو څه رايه ده په دې مسئله چي نن ورځ دشركت دحصو خريد او فروخت په كثرت سره كيږي ، دعلماؤ دطرف څخه ويل كيږي چي دغه حصې دقبضې څخه وړاندي پلورل جائز نه دی ، په صرافي كی دمروجه صورت حال سره سم پر حصو باندي څه ډول قبضه كيدلی شي ؟او پر حصو قبضه څه وخت راځي ؟او څه وخت دحصې پلورل جائز دی ؟براه كرم په دې باره كي دشريعت په رڼا كي تفصيلی جواب راته وښايه.

سائل: عبدالله ، كورنګي

جواب: الحمد لله رب العالمين ، والصلوة والسلام على رسوله الكريم وعلى آله واصحابه اجمعين وعلى كل من تبعهم باحسان الى يوم الدين.

نن ورځ دكمپنيو دحصو دبيع او شراء چي كومي طريقې دی دهغو دشرعي حيثيت په باره كي ډير سوالات پيدا شوي ، او پوښتني هم كيږي . چي دهغه شرعي حكم معلومولو دهغه دصحيح طريقه كار څخه واقف شي ، چي په دغه بيع او شراء كي اختيارول كيږي دا خبره دی واضح وی چي دغه وخت دهغو كمپنيو خبره كيږي چي هغو كاربار شرعًا حلال وی او دهغو دحصو دخريداري حضرت حكيم الامت مولانا تهانوی قدس سره فتوی (القصص السني في حصص الكمبني) درويه جائز دی.

ددې دپوره تفصيل لپاره ددار العلوم كراچي دار الافتاء څخه داهل علم يو جماعت دكراچي صرافه بازار ته ورغلی دصرافيانو دصورت حال دمعلومولو او دهغو دقواعدو اوضوابطو دمطالعه كولو وروسته دې تحقيق ته رسيدلي دی چی صورت حال واضح شو نو دغه لاندي امور يې په ګوته كړي دی:

بنيادي طور باندی قابل تحقيق دغه مندرجه ذيل اشياء دی:

۱: ډې ټريډنګ يعني په يوه ورځ كي دحصې رانيول او بيا پلورل.

۲: دمستقبل سوداوي (Forward)

۳: دبدل معاملات.

ډې ټريډنګ مطلب دادی چي يو سړی په يوه ورځ كي حصې رانيسي او په هغه ورځ كي يې پر بل سړي وپلوري دغه ته ډې ټريډنګ (Spot Transactions) دغه فوري سوداؤ كي وي ، او دمستقبل په سوداؤ كي (Forward Trading) هم وي ، اول موږ دفوري سوداؤ خبره كوو .

دفوري سودا طريقه داده چي كله كوم سړی دكمپنۍ حصې رانيسي نو دهغې سودا اندراج فوري په KAT كي كيږي ، چي په صرافي كي دغه سودا دكمپوټر په وسيله ريكارډ كيږي او په صرافي كي ددې سوداؤ ذمه اخستل كيږي ، دې سوداؤ ته حاضره سودا هم ويل كيږي دفوري سودا دهری سودا په درو ورځو كي قيمت ادا كول ضروري وی ، او پلورونكی ته به دپلورل شوې حصې ډيلوري وركول ضروري وی دډيلوري مطلب داوي چي دحصې په بيع كي دكمپنۍ دحصې پلورل او دهغې كمپنۍ په ريكارډ كي سي ډي سي په وسيله دهغې حصې منتقلي ودوهم خريدار ته كيږي.

دفقهي نقطه نظر قابل غور خبره داده چي كه كوم شخص يو شی رانسي نو دهغه لپاره ضروري ده چي اول پر هغه شي باندي قبضه حاصل كړي او بيا يې پر چا وپلوري دقبضې څخه وړاندي بيع جائز نه ده ، اوس دحصو په صورت حال كي ډيليوري خريدار ته درې ورځي وروسته نقل كيږي ، سوال داده چي دخريداري او ډيليوري په منځ كي چي دغه درې ورځي مدت دی ايا دخريدار لپاره داجائز ده چي ددې درو ورځو تر منځ يې پر بل سړي وپلوري ؟

كه ډيليوري شرعي قبضه بلل كيږي نو ډيليوري څخه وړاندي پلورل وړاندي تر قبض بلل كيږي او ناجائز ده ، لكن دوهم احتمال داده چي ډيليوري څخه وړاندي پلورل دشرعي قبضې څخه عبارت نه ده بلكه په كمپنۍ كي دحصو دخريدار پر نامه اندراج ته ډيليوري ويل كيږي ، ورنه چيري پلورل شوې حصې دټول منافع او نقصانات تعلق دی ، هغه دخريدار و طرف ته منتقل كيږي يعني كه دخريداري او ډيليوري په منځ كي په مدت كي

کمپنۍ کوم نقصان سره مخ شي نو هغه نقصان به دخريدار وي ، او که کمپنۍ نفع حاصل کړي نو هغه نفع به هم دخريدار وي.

دا خبره واضح کول ضروري دی چې دحصې دبيع مطلب داده چې دکمپنۍ حصې مشاع بيع ده ، لهذا دغه بيع المشاع کي حسي قبضه ممکن نه ده ، بل طرف ته بيع قبل القبض دممانعت علت دادی چې کله مشتری مبيع باندی قبضه نه وي کړې يا کم ازکم بائع تخليه ونه کړي نو مبيع دبائع په ضمان کي وي يعنی که په دې دوران کي هغه هلاک شي نو بيع فسخ کيږي ، لهذا که قبضه ونه شي نو به مشتري مبيع پر کوم بل چا هم فروخت کړي ، او په وروسته کي به هغه دبائع اصلي په قبضه کي هلاک شي نو اوله بيع به فسخ شي نو ددې په نتيجه کي دوهمه بيع هم فسخ شي ، لهذا دغه دوهمه بيع دشروع څخه دغرر دوجه فسخ کيږي.

علامه کاساني رحمه الله بيع قبل القبض دممانعت وجه داسي بيانوي هغه ليکي

ولانه بيع فيه غرر الانفساخ بهلاک المعقود عليه لانه اذا هلک المعقود عليه قبل القبض يبطل البيع الاول فينفسخ الثاني. (بـدائع الصـنائع ج۴ ص۳۹۴ موسسه التاريخ العربي) ([1])

دبيع قبل القبض واضح علت داهم دی چې ربح مالم يضمن لازميږي ، ولي چې دقبضې څخه وړاندي ضمان دمشتري وطرف ته نه منتقليږي ، اوس که هغه وړاندي يې پلوري او په هغه کي نفع کوي نو دغه ربح مالم يضمن راغله ، دکوم چي ممانعت دلاندينو وجوه په حديث شريف کي راغلی دی:

لا يحل سلف وبيع ولا شرطان فی بيع ولا ربح مالم تضمن. (سنن ابی داؤد ج۳ص۲۸۳ کتاب البيوع باب فی الرجل يبيع ماليس عنده) ([2])

په جامع ترمذي کي دغه حديث دې الفاظ مروي دی:

لا يحل سلف وبيع ولا شرطان فی بيع ولا ربح مالم يضمن (جامع الترمذي ج۳ ص۵۳۵ باب ماجاء في كراهية بيع ماليس عنده) ([1])

([1]) ج۵ ص۱۸۰ (طبع سعيد)

([2]) سنن ابي داؤد ج۲ ص۱۳۹ (طبع مكتبه رحمانيه)

ددې حديث شريف په تشريح کي علامه ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دی:

يريد به الربح الحاصل من بيع ما اشتراه قبل ان يقبضه وينتقل من ضمان البائع الى ضمانه ، فان بيعه فاسد ، فی شرح السنة: قيل: معناه ان الربح فی كل شيئ انما يحل ان لو كان الخسران عليه ، فان لم يكن الخسران عليه كالبيع قبل القبض اذا تلف فان ضمانه على البائع (مرقاة المفاتيح ج۶ ص۸۹) ([2])

او علامه طيبي رحمه الله وايي:

وربح مالم يضمن يريد به الحاصل من بيع ما اشتراه قبل ان يقبضه وينتقل من ضمان البائع الى ضمانه فان بيعه فاسد (شرح الطيبي ج۶ ص۸۲) ([3])

او علامه سندهي رحمه الله ليکلي دی:

وربح مالم يضمن) هو ربح مبيع اشتراه فباعه قبل ان ينتقل من ضمان البائع الاول الى ضمانه بالقبض. (حاشيه السندي على المجتبى للنسائي ج۷ ص۲۹۵)

او حضرت مولانا خليل احمد سهارنپوري قدس سره ليکلي دی:

ولا ربح مالم تضمن ای لا يحل ربح شيئ لم يدخل فی ضمانه وهو ربح مبيع اشتراه فباعه قبل ان ينتقل عن ضمان البائع الاول الى ضمانه بالقبض (بذل المجهود ج۱۵ ص۱۸۰ کتاب البيوع باب فی الرجل يبيع ماليس عنده) ([4])

حاصل داده چې دشی بيع قبل القبض ددې وجی ناجائز دی چې دقبضې څخه بغير دهغه ضمان مشتری وطرف ته نه منتقليږي ، لهذا که غواړي چي وړاندي يې په نفع سره وپلوري نو ربح مالم يضمن کي داخل شو ، هم داډول څنګه چي صاحب دبدائع ليکلي دی: دقبضې څخه وړاندي که مبيع هلاک شي نو دبائع په ضمان کي په بناء دغه بيع فسخ کيږي او ددې په نتيجه کي راتلونکې بيع هم فسخ کيږي ، لهذا راتلونکي بيع دشروع څخه دغرر انفساخ وجه پيدا کيږي.

([1]) ابواب البيوع ج۱ ص۲۳۳ (طبع سعيد)

([2]) ج۶ ص۸۲ (طبع امداديه ملتان)

([3]) (طبع ادارة القران كراچي)

([4]) ج۲ ص۲۲۶ (طبع مكتبة الحسن)

لکن که ضمان حسي او حقیقي قبضې څخه سوا دتخلیی په وسیله دمشتری وطرف ته منتقل شي نو بیا چونکه نه دربح مالم یضمن اندیښنه شته اونه دغرر انفساخ ، نو مشتری لپاره پلورل جائز دی ، په دې وجه فقهائي کرامو تخلیه دقبضې قائم مقام بللې ، په فتاوی عالمگیري کي دی:

واجمعوا علی ان التخلیة فی البیع الجائز تکون قبضاً وفي البیع الفاسد روایتان والصحیح انها قبض ...... رجل باع خلا فی دنّ فی بیته فخلی بینه وبین المشتری فختم المشتری علی الدنّ وترکه فی بیت البائع فهلک بعد ذلک فانه یهلک من مال المشتری فی قول محمد وعلیه الفتوی . (فتاوی عالمگیریه ج۳ ص۱۶ کتاب البیع باب ۴ فصل ۲) (۱)

اوس دیته کتل کیږي چی دمشاع بیع کي قبضه څنګه متحقق کیږي ؟ ددې په جواب کي هم فقهائي کرامو ویلي دی چی دمشاع بیع کي تسلیم او قبض تحقق په تخلیه سره راځي ، علامه سرخسي رحمة الله علیه اجارة المشاع (چی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد جائز نه ده) دبیع المشاع په منځ کي فرق بیانوي لیکي:

وهذا بخلاف البیع لان التسلیم هناک بالتخلیة یتم وذلک فی الجزء الشائع یتم (مبسوط السرخسي ج۱۵ ص۱۴۶ کتاب الاجارة) (۲)

او صاحب هدایه رحمة الله علیه هم دغه فرق داسي بیان کړی دی :

ولابي حنیفة انه آجر مالا یقدر علی تسلیمه فلا یجوز وهذا لان تسلیم المشاع وحده لا یتصور والتخلیة اعتبرت تسلیماً لوقوعه

---

(۱) کتاب الاجارة ج۴ ص۲۸۷ و۲۸۸ (طبع معهد الخلیل الاسلامي)

(۲) طبع رشیدیه کوټه .

تمکیناً وهو الفعل الذي یحصل به التمکن ولا تمکن فی المشاع بخلاف البیع لحصول التمکن فیه . (۱)

ددې مطلب دادی چی اجاره کی مقصود یوائي انتفاع ده ، ملک نه ده او حصه مشاعه کي تمکین انتفاع نه راځي نو په هغه کي تخلیه متصور ندی ، ددې په خلاف بیع کی مقصود ملک دی لهذا دتخلیی په واسطه په هغه تمکین راځي ، څنګه چی صاحب عنایه ددې په شرح کي وایي:

بخلاف البیع فان المقصود به لیس الانتفاع بل الرقبة ولهذا جاز بیع الجحش فکان التمکن بالتخلیة فیه حاصلاً (۲)

او صاحب کفایه ددې په وضاحت کی لیکلی دی:

ان التخلیة اعتبرت تسلیماً اذا کان تمکیناً من الانتفاع وانما یکون تمکیناً اذا حصل بها التمکن والتمکن لا یحصل به فلا یعتبر فعله تمکینا بخلاف البیع لحصول التمکن ثمه من البیع والاعتاق وغیر ذلک . (فتح القدیر مع العنایة والکفایة ج۸ ص۴۱ و۴۲ باب الاجارة الفاسدة) (۳)

---

(۱) باب اجارة الدور والبیوت ج۱۵ ص۱۶۳ (طبع غفاریة کوټه)

(۲) هدایة کتاب الاجارات ج۳ ص۳۰۶ (طبع مکتبه رحمانیه) دلته دا خبره شته چی دهدایې په مذکوره نسخه کی دی : انه آجر ما یقدر علی تسلیمه ، الفاظ په ظاهر دکتابت غلطی ده ولی چی په دې صورت کي دامام صاحب رحمة الله علیه دلیل نه جوړیږي ، صحیح الفاظ دادی چی حضرت مفتی صاحب لوړ ذکر کړه یعنی : انه آجر مالا یقدر علی تسلیمه ، او په فتح القدیر ج۸ ص۴۱ (طبع رشیدیه کوئټه) او مکتبه شرکت علمیه ملتان په طبع شده نسخه هدایه ج۳ ص۳۰۳ او مکتبه البشری کراچي په طبع شده هدایه کی ج۶ ص۲۹۸ په نسخه کي هم داډول راغلی دی .

(۳) عنایة علی فتح القدیر ج۸ ص۴۱ (طبع رشیدیه)

صاحب کفایه په مخکیني عبارت سره دمشاع دحسي قبضه څخه بغیر تخلیه دقبضې قائم مقام بولي او دمشتری لپاره په هغه کي دملک تصرفات کول جائز بولي په کوم کي چي مخته پلورل هم شامل دی.

علامه طوري رحمة الله علیه هم په تکمله البحر الرائق کي ددې فرق وضاحت دصاحب هدایې او دصاحب دعنایې په ډول کړی دی (تکملة البحر ج۸ ص۳۶ باب الاجارة الفاسدة) (۱)

ددې تصریحاتو څخه دا خبره واضح شوه چي دمشاع بیع کي حسي قبضه خو ممکن نه ده لکن تخلیه او تمکین دقبضې څخه مقصود حاصلوي، او مشتری لپاره تخلیه یا تمکین څخه وروسته ددغه مشاع وړاندي پلورل هم جائز دی.

اوس دحصو بیع کي بائع وطرف ته دتمکین او تخلیه تحقق راځي او که نه؟ اګرچي دصرافي ذمه داران پر دې خبره متفق دی چي دسودا دترسره کولو سره سم دحصې ټول حقوق او ذمه داري دخریدار وطرفته منتقل کیږي، ګویا حصه دخریدار په ضمان کي راغله، (او په دې لحاظ که خریدار یې وړاندي وپلوري نو دغه ربح مالم یضمن لازم نه راځي) لکن دصرافي قواعد او ضوابط دمطالعې وروسته دا خبره واضح ده چي قبضه شرعي دتحقق لپاره ډیلیوري څخه وړاندي نه راځي چي هغه دلائل په لاندي ډول دی:

۱: دا خبره په فقه اسلامي کی طی شوې ده چي قبض کل شئ بحسبه (۲) یعنی دهر شي قبضه دهغه شي دنوعیت په لحاظ عرفًا مختلف کیږي، دحصو په باره کي عرف عام داده چي دسودا پر وخت یواځي دصرافي فوري اندراج قبضه نه بلل کیږي چی ډیلیوري درې ورځي وروسته ورکول کیږي، دډیلیوري معنی دقبضې ده لهذا عرف هغه قبضه بللې ده.

۲: په صرافي کي بیع مالا یملک الانسان (Short Sale) رواج عام دی کله چي موږ دصرافي دوره وکړه هغه وخت موږ ته دا وویل شول چی دحاضرو سوداؤ یعني دفوري

( ) طبع رشیدیه

( ) کمافي البحر الرائق ج۵ ص۲۴۸ (طبع سعید) قبض کل شئ وتسلیمه یکون بحسب ما یلیق به وفیه بعداسطر قبض کل شئ یکون بما یلیق به.

سوداؤ چي شارټ سیل ممنوع بلل شوې دی لکن دقواعدو او ضوابطو څخه معلومه شوه چي وروسته بیا دصرافانو مشرهم تصدیق کړه چي کوم شی منع شوی دی، هغه بلینک سیل (Blank Sale) دی یعنی داسی بیع چي په هغه کي نه ملکیتوي او نه هغه دحصې خریداري لپاره دقرض معاهده کړې وي، لکن په حاضرو سوداؤ کي شارټ سیل ددې شرط سره اجازت ورکړی دی چي پلورونکي ته ووایي چي شارټ سیل باندي یې پلوري او دا چي دغه وقت دحصو ډیلیوري (پرچې) لپاره یې دقرض انتظام کړی دی (۱) ددې څخه معلومه شوه دحاضره سوداؤکي شارټ سیل امکان موجود دی او که بالفرض قواعدو ته وکتل شي شارټ سیل منع هم وی نو دغه خبره دضمانت نه ده هغه به ددې خبری خلاف ورزي نه کوي.

اوس دا خبره ښکاره ده چي که کوم سړی شارټ سیل کوي یعنی حصه دهغه ملک نه وی، بیا یې هم پلوري نو یواځي دا نه چي (بیع مالا یملک) پر بنا دغه بیع شرعًا باطل ده، بلکه دا هم واضح ده چي څوک دا وایي چي په دې سودا دحصې حقوق او التزامات ټول وخریدار ته منتقلیږي یا دخریدار په ضمان کي راځي هغه دا خبره په شرعي مفهوم کي نه کوي ولي چي دغه خبره دشارټ سیل په صورت کي هم کیږي، حالانکه شرعي مفهوم کي شارټ سیل په صورت کي ضمان دمنتقل کیدلو هیڅ سوال نه پیدا کیږي، کله چي حصه دبائع په ملکیت کي نه وی نو هلته به خریدار ته تمکین او تخلیه څنګه ورکړل شي؟ او په دې کي دشرعي مفهوم سره سم ضمان څنګه منتقل شي؟

۳: دکراچي دصرافه بازار دطرف څخه موږ ته چي کوم ضوابط او قواعد راکړل شوي دی په هغه کي دحاضرو سوداؤ قواعد او ضوابط څخه وړاندي یوه ماده کي ویل شوی دی چي ټولي حاضره سوداوي به آئنده هفته دسې شنبې په ورځ مکمل کیږي یعني په دغه ورځ بائع به دحصې ډیلیوري ورته سپاري، او خریدار به یې قیمت ادا کوي، لکن ددغي مادې په یوه شق کي ویل شوي دی چي که بائع دمقرره وقت پوري ډیلیوري ورنه کړه نو خریدار دا حق لري چي دشرکت چي څونه حصه ده دغه بائع څخه رانیولې ده هغه دی دبازار څخه رانیسي (کوم ته چي په صرافي کي (Buy in) ویل کیږي، او په دې شق کي دا

( ) Regugations For Short selling under Ready Market ۲۰۰۲ Clause.

هم ويل شوي دی چي په داسي صورت کي که خريدار دبازار څخه خريداري کي نقصان وکړي (مثلا هغه حصه دبازار څخه په زيات قيمت تر لاسه کړي) نو بائع مکلف دی چي دخريدار دنقصان تلافي وکړي.

دغه قاعده په واضح طور سره ددې خبري اعتراف کړی چی دسودا په وقت کي قبضه نه ده شوې، ولي چی بائع دطرف څخه ډيليوري نه ده ورکړل شوې، دا په دوو صورتو کي ممکن ده يا خو بائع دشارټ سيل کړې وه، يعني حصه يې دملکيت څخه وتلو بغير فروخت کړې، په دې صورت بطلان دنمبر ۲ کي تير شو، يا بيا ددغه شارټ سيل نه کړی، مګر خريدار دسودا کولو وروسته خپله فيصله بدله کړې ولي چی هغه په خپله دځان سره دساتلو ياپر کوم بل چا دپلورلو فيصله کړې کله چی ده رائ بدله شوه چي حصه به دخپل ځان سره ږدي يا يې پلوري نو دا به څنګه ممکن شي چي دسودا پر وقت چي دی خريدار ته تمکين ورکړي يا دهغه دحق تخليه وکړي ؟او دا هم ده چي په دې صورت کي دصرافي قواعد دانه دي چي چا حصه وپلورله نو بائع دي دډيليوري پر ورکولو مجبور کړي، بلکه خريدار ته دا حق ورکوي چی ډيليوري باندي داجبار پر ځای دبازار څخه ددغي شرکت دغه مقدار کي بله حصه رانيسي، او که په دې خريداري کي هغه ته نقصان ورسيږي نو بائع پر تلافي کولو مجبور کړي، چي ددې حاصل دادی چی اوله بيع په يک طرفه طور فسخ کړي او دکوم دريم سړي سره نوې بيع وکړي.

۴-صرافيان دا هم وايي چی په حاضره سوداؤ کي علاوه دفارورډ سوداؤ کي هم حقوق او التزامات فورا منتقل کيږي، صرف شرکت په ريکارډ کي نوم دبدليدلو لپاره وخت لګيږي، حالانکه فارورډ سوداؤ کي شارټ سيل رواج دحاضره سوداؤ په مقابله کي څه چنده زيات وي ددې څخه معلومه شوه چي دغه خلک چي دحقوقو او التزاماتو خبره دمنتقلي خبره کوي هغه په شرعي مفهوم کي دضمان منتقلي نه ده، او ددې ټولي مجموعې څخه چي کومه خبره واضح شوه هغه داده: چی کوم شي ته په صرافي کي حاضره سودا وايي، په هغه کي دسودا پر وقت دشرعي مفهوم سره سم قبضه نه راځي، او څوک چي وايي چي سودا دتر سره کيدلو سره سم ټول حقوق او التزامات دخريدار طرف ته منتقل شي، هغه په دې معنی وايي چی په صرافي کي معامله پائ ته ورسيږي او دحصې

قيمت دلوړيدلو يا کښته کيدلو سره سره به بائع په دغه قيمت دهغې حصې ډيليوري ادا کوي، او خريدار هم دهغه قيمت داادائيګي پابند دی، او که کوم فريق خپله ذمه واري پوره نه کړي او خريدار دعدم ادائيګي په صورت کي بائع به په بازار کي خريدار ته دبازار څخه حصه درانيولو چي نقصان ورسيږي نو دوهم فريق به ددې تلافي ذمه وار وي.

دمذکوره بالا دلائلو سره سم شرعي حکم دادی چی دحصې دخريدار لپاره تر هغه دحصې پلورل جائز نه دی تر څو چي ډيليوري يې نه وي تر لاسه کړې، که پلورونکي دشارټ سيل وي نو دحصې په ملک دراوړلو وړاندي بيع باطل ده، او که حصه دبائع ملک وي، او عقد بيع ارکان متحقق وي نو دغه بيع درست ده، دې ته بيع الکالي بالکالي ([1]) نه ويل کيږي ولي چي دشرکت حصه دبائع په ملکيت کي ده او بيع حال ده، او تأخير تسليم محض رسمي داجرا دآلاتو څخه ده، يا حبس المبيع لاستيفاء الثمن ده ([2]) او مبيع عين دين نه ده، لکن خريدار لپاره پلورل هغه وقت جائز ده کله چی هغه ته ډيليوري لاسته راشي لهذا څنګه هغه وقت دی تريډنګ کيږي(په کوم کي چي وړاندي حصه پلورل کيږي) شرعًا جائز نه ده.

دمستقبل سودا (Futuers)

مذکوره تفصيل يواځي دحاضره سوداؤ په باره کي ؤ کوم ته چي (Spot sales) يا (Ready contracts) ويل کيدل، کله چي په حاضره سوداؤ کي صورت داؤ نو په مستقبل سوداؤ کي کوم چي ورته (Forward يا Future) ويل کيږي، بطريق اولی دغه حکم ده چي ډيليوري بغير دحصې وړاندي پلورل جائز نه دی، ولي چی په داسي سوداؤ کي شارټ سيل رواج دحاضره سوداؤ په مقابل کي څو چنده زيات دی، او شارټ سيل کي چي کومي پابندياني په حاضر سوداؤ کي وي، دمستقبل په سوداؤ کي دونه پابنده نه وي.

دصرافي ددورې په دوران کي موږ ته داسي هم وويل شول: چي په حاضره سوداؤ او مستبل سوداؤ کي بل فرق نشته يواځي دا چي دحاضر سوداؤ کي ډيليوري سم دستي

([1]) مستدرک حاکم ج۲ ص۶۵و۶۶ (طبع دار الکتب العلميه بيروت)

([2]) في الهداية ج۳ ص۴۸ (طبع مکتبه رحمانيه) .... فصار کحبس المبيع لما تعلق زواله باستيفاء الثمن لا يزول دون قبض جميعه.

وركول كيږي او په مستقبل سوداؤ كى وروسته وركول كيږي لكن درانيول شوي شي حقوق او التزامات فورا منتقل كيږي ، لكن دهغه كسانو بيان ددې خبرې دليل دى چې حقوق او التزامات دمنتقلي لفظ دشرعي مفهوم سره سم نه استعماليږي ، بلكه دهغه معنى داده چې دحصې قيمت چې دډيليورۍ دسپارلو وړاندې پورته يا كښته شي په صورت كې بائع دطى شده قيمت سره به ډيليوري وركولو او خريدار دطى شده قيمت داداكولو باندې مجبور دى.

دې صورت حال ته په كتلو دمستقبل دسوداؤ حكم دادى:

۱- چې كه دپلورونكي په ملكيت كې حصه نه وي نو هغه په شارټ سيل يا بلينك سيل كوي نو دابيع مالا يملك دوجې جائز نه ده باطل ده.

۲- كه پلورونكي په ملكيت كې هغه حصه وي او ده هغه ډيليوري هم تر لاسه كړې وي ، او آينده كې تاريخ لپاره نن ايجاب او قبول په وسيله دبيع تكميل وكړي كوم ته چې (Forward Sale) ويل كيږي ، يعنى بيع نن وكړي لكن بيع دآئنده تاريخ لپاره ، ي ، نو دغه بيع مضاف الى المستقبل پر بنا جائز نه ده.

۳- كه دپلورونكي په ملكيت او قبضه كې حصه وي (يعني هغه ددې حصې ډيليوري لاس ته راوړې وى) او بيع دآئنده تاريخ لپاره نه وي ، بلكه دنن تاريخ وي ، البته قيمت يې دين وي چې خريدار به قيمت په آئنده تاريخ كې ادا كوي نو په دې صورت كې دحصې ډيليوري خريدار ته وركول كيږي ، او دقيمت دوصولي بغير دډيليوري وركولو بغير حصه په قبضه كې نه وركول كيږي ، ولې چې دغه بيع مؤجل ده او په بيع موجل كې حبس المبيع لاستيفاء الثمن جائز نه دى.

په فتاوى عالمگيريه كې دى:

قال اصحابنا رحمهم الله تعالى : للبائع حق حبس المبيع لاستيفاء الثمن اذا كان حالاً كذا فى المحيط وان كان مؤجلا فليس للبائع ان يحبس المبيع قبل حلول الاجل ولا بعده ، كذا فى المبسوط . (فتاوى عالمگيريه ج ۳ ص ۱۵ باب ۴ من كتاب البيوع) (۱)

(۱) (طبع مكتبه رشيديه)

۴- كه پلورونكي په ملك او قبضه حصه وي او هغه يې دنن په تاريخ وپلوري او ډيليوري هم خريدار ته وركړي ، لكن قيمت آينده تاريخ لپاره په پور وي او خريدار ته دډيليوري وركولو وروسته بيا هغه حصه (كوم چې خريدار پر نوم شوې ده) دځان سره په گروي كښيږدي نو دغه صورت جائز دى.

علامه حصكفي رحمه الله په درمختار كې فرمايي:

ولو كان ذلك الشئ الذي قال له المشتري: امسكه ، هو المبيع الذي اشتراه بعينه لو بعد قبضه ، لانه حينئذ يصلح ان يكون رهنًا بثمنه ولو قبله لا يكون رهنًا لانه محبوس بالثمن (۱)

علامه ابن عابدين شامي رحمه الله تر دې لاندې ليكلي دى:

قوله لانه حينئذ يصلح... الخ اى لتعيين ملكه فيه حتى لو هلك يهلك على المشترى ولا ينفسخ العقد قوله لانه محبوس بالثمن: اى وضمانه يخالف ضمان الرهن ، فلا يكون مضمونًا بضمانين مختلفين الخ. (رد المحتار ، كتاب الرهن ج۶ ص۴۹۷) (۲)

صورت نمبر ۳ او صورت نمبر ۴ فرق علامه ابن عابدين رحمه الله ددې عبارت څخه ښه پرتله كيدلى شي ، او ددې پوره وضاحت دبنده په كتاب بحوث في قضايا فقهيه معاصره كې شوى دى (ص۱۲ تا ۱۸ طبع دار القلم دمشق) ملاحظه يې كړې.

۵- پنځم صورته دا هم ممكن ده چې پلورونكى دقبضې او ملك سره بيع سم دستي نه كوي بلكه په خاص قيمت سره دپلورلو وعده وكړي ، خريدار هم يواځي درانيولو وعده وكړي بيع تر اوسه مكمل شوې نه وي دمعاصرو علماء يوه ډله (په كوم كې چې مجمع الفقه الاسلامي جده هم ده) دوطرفه وعده هم دعقد په حكم كې بولي او ناجائز يې بولي ، او دكوم فقهاؤ څخه چې بعض معاملات (مثلا بيع بالوفاء) كې وعده ملزم جائز بولي هغه هم په حاجت عامه پوري مشروط بولي ، څنگه چې په فتاوى قاضي خان كې دى:

(۱) الدر المختار ج۶ ص ۴۹۷ (طبع سعيد)

(۲) (طبع رشيديه)

لان المواعدة قد تکون لازمة فتجعل لازمة لحاجة الناس (فتاوی الخانیة ج۲ ص۱۲۵) ([1])

په مذکوره صورت کي کوم حاجت هم په نظر نه راځي د کوم په وجه چي حرج عام لازمیږي، بلکه په صرافي کي دسته بازي ښخه رابندلو په غرض ضرور معلومیږي چي دلته وعده غیر ملزم وبلل شي ([2]) لهذا که دواړه فریق وعد غیر ملزم کړي نو بیا جائز ده، په دې صورت کي که کوم فریق وعده پوره نه کړي نو دیانة ګناه ګار ده، لکن په قضاء کي مجبور نه ده.

په صرافي کي دبدلې په معاملاتو کي بعض اوقات یو شخص ډیري حصې رانیسي، مګر دقیمت دادا کولو ورسره روپۍ موجودي نه وي په دې صورت کي رانیول شوي حصې پر کوم دریم سړي په دې شرط پلوري چي هغه په کوم طی شده مدت وروسته خریدار هغه حصې په زیات قیمت رانیسي، مثلا الف دب ښخه په اول اپریل دیو لک روپو لس زره حصې رانیسي، لکن دده سره یو لک روپۍ موجود نه وي، لهذا هغه دغه لس زره حصې پرج په دې شرط پلوري چي هغه پر ۱۳ اپریل دغه حصې دیو لک دو زره روپو کي بیرته پلورونکي ته ورکړي.

په دې طریقه کار کي دشرعي اعتبار سره دوې خرابیاني دی یو دا چي دغه عمومًا دډیلیوري دوصولي ښخه وړاندي کیږي، کوم چي وړاندې بیان وشو، چي دغه بیع قبل القبض دوجي جائز نه ده، بله دا چې ج ته چي حصې ورکول کیږي هغه دزیات قیمت په شرط سره بیرته ورکوي دغه شرط فاسد دی چي بیع فاسد کوي او په حقیقت کي ددې مقصد دادی چي یو لک روپۍ اخلي او بیا یو لک دوه زره روپۍ ادا کوي چي دغه دسود شکل دی کوم ته چي دغه بیع فاسد بهانه جوړه شوې ده، نو په دې وجه دبدلې دغه معاملات شرعًا جائز نه دی.

([1]) (طبع رشیدیه)

([2]) (موجوده قانون او طریق کار کي دغه وعده ملزم وي، لهذا دغه صورت جائز نه دی (حاشیه ازحضرت مفتي صاحب)

والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واحکم / بنده محمد تقی عثمانی عفی عنه ۲۱ صفر ۱۴۲۲ھ ۲ اپریل ۲۰۰۵ (فتوی نمبر ۴۷ / ۸۰۳)

الجواب صحیح / محمد رفیع عثمان عفی الله عنه ۲۲ / ۵ / ۱۴۲۲ ھ

یادونه: ددار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي په مجلس تحقیق مسائل حاضره اجلاس دسیشنبې په ورځ په تاریخ ۲۲ جمادی الاولی ۱۴۲۲ھ) مطابق ۴ جولائي ۲۰۰۵م منعقد شو، چي دغه مذکوره تحریر یې لفظًا باللفظ ولوست او دمناقشې وروسته ټول مجلس ورباندي متفق شو، په دې مجلس کي دغه لاندي مذکور علماء شریک ؤ:

حضرت مولانا مفتي محمود اشرف عثماني صاحب (نائب مفتي جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا مفتي عبدالرؤف سکهروي صاحب (نائب مفتي جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا مفتي عبدالله صاحب (استاذ جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا مفتي عبدالمنان صاحب (نائب مفتي جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا مفتي اصغر علي رباني صاحب (رفیق دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا عصمت الله صاحب (رفیق دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا محفوظ احمد صاحب (استاذ جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا زبیر اشرف عثماني صاحب (استاذ جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا مفتي محمود اشرف عثماني صاحب (نائب مفتي جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا محمد عمران اشرف عثماني صاحب (استاذ جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب (رفیق دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا محمد افتخار بیګ صاحب (رفیق دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا خلیل احمد اعظمي صاحب (استاذ جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا احسان کلیم صاحب (استاذ جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا محمد زبیر حق نواز صاحب (رفیق دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي)
حضرت مولانا اعجاز احمد صمداني صاحب (استاذ جامعه دار العلوم کراچي)

۱- دډیلیوري ښخه وړاندي دحصو پلورلو حکم

۲- دیوې میاشتي په وعده دحصې پلورلو حکم

۳- دحصو دپلورلو وروسته دوصولي رقم په ضمانت کې دحصې ګروي اېښوول

محترم جناب حضرت مفتي صاحب حفظه الله ، السلام عليكم ورحمة الله وبركاته !

دحصو په اړه چې تا ويلي په هغه کې يوه خبره زما په پوهه کې رانغله زه يې درته په تفصيل وړاندې کوم.

سوال: په دې مسئله دعلماء کرامو څه رائه ده چې دحصو دپلورلو لپاره چې کوم ايجنټ (دلال) په معرفت پلورل غواړم دډيليوري يعنی (CDC) دوې ورځې وروسته لاسته راځي.

جواب: مکرم بنده ، السلام عليكم ورحة الله وبركاته

دډيليوري وړاندې پلورل جائز نه دی (١)

سوال: ما حصې رانيولې او دېوې مياشتې په وعده مې وپلورلې دهغه ايجنټ په معرفت کوم چې ما ورځخه رانيولې وې ، البته ددائيګی کولو وروسته دهغه ډيليوري ورکول کېږي ، لکن تاچې فرمايلي دی چې ددې ضمانت په طور زه اېښوولی شم دا خبره مې په پوهه کې رانغله برائی مهرباني وضاحت يې راته وکړه. والسلام طالب دعا / الطاف حسين برخوردار يه.

جواب: مطلب دادی چې کوم شخص دېوې مياشتې په وعده فروخت غواړي په هغه کې دوې خبرې ضروري دی يو دا چې ته به اول دانيول شوې حصې ډيليوري لاسته راوړې او بيا به يې پلورې ، دوهمه خبره داده چې يوه مياشت وروسته سودا کول صحيح نه ده(٢) مګر داسې کيدلی شي چې نن يې وپلورې او ډيليوري هم ورته ورکړې (٣

(١) دتفصيل لپاره تر دې وړاندې فتوی ملاحظه کړی
(٢) دتفصيل لپاره ص ۱۷۸ تر ۱۹۰ پوري فتوی ملاحظه کړی
(٣) دتفصيل لپاره دمفتي صاحب کتاب (اسلام او جديد معيشت وتجارت) ص۸۵ تا ۸۹ ملاحظه کړی

) لکن وروسته بيا هغه حصه په ګروي دځان سره کنبيږدي ، تر څو چې هغه رقم ادا کړي ، هغه حصه به په ضمانت کې ستا سره پرته وي .

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۵/ ۲/ ۱۴۲۲ھ

١: دحصې دنفع په غرض رانيول

٢: په کاروبار کې سودي رقم شاملولو والا شرکت دحصې خريد او فروخت کولو حکم

٣: دتجارت په غرض دحصو دخريد او فروخت حکم

سوال: Join Stock Companies دحصو خريد او دهغه Dividind په وسيله آمدني جوړول ، دحصې Ordinary يعنی نفع ونقصان په ضمانت سره بې له نفع او نقصان دفيصد تعين بغير کيږي ، او Companies جائز تجارت او صنعت کار بار کوي Capital Financing هم بې له سود کوي (جائز دی که نه ؟).

٢: دپورتني صورت ددې فرق سره چې Financig لپاره په سود رقم حاصل کړي.

٣: داول صورت سره دحصې خريد Dividend پر ځای کليتًا ددې حصې خريد او فروخت کوي ، يعني آمدني په صورت کې اوس Capital Gain باندې منحصر وي نه Dividend پر آمدني

۴: د٢ نمبر صورت سره سم مګر دحصې خريداري يواځې Capital Gain لپاره وي.

جواب: ١- په دې صورت کې دحصې رانيول جائز نه دی (١)

٢- په دې صورت کې دحصې درانيولو ګنجائش شته (١) البته شرکت ته دې دا وليکل شي چې دسود لين دين باندې مونږ راضي نه يو ، او دشرکت په سالانه اجتماع کې دې هم ددې خبرې اظهار وشي بيا که عمل ورباندې ونه کړي هم

(١) دتفصيل او حوالو لپاره امداد الفتاوی ج ۳ ص۴۹۱ (طبع مکتبه دارالعلوم کراچي) او اسلام او جديد معيشيت وتجارت) ص۸۷ و۸۸ ملاحظه کړی.

۳ او ۴ - كي د خريد او فروخت په غرض د حصې رانيولو كي هم كوم حرج نشته (۲) البته سوال نمبر ۳ په صورت كى هم د سودي معاملې سره د عدم رضامندي اظهار كول پكار دى، څنګه چې په ۲ كي ذكر شو، بل دا چې ډيليوري څخه وړاندي فروخت كول جائز نه دى.

والله اعلم / ۲۹ / ۱۲ / ۱۴۰۹ هـ (فتوى نمبر ۲۳ ۷۵ / ۴۰ و)

د اسلامي بينكاري او د حصې په باره كي د حضرت مفتي صاحب رائ

د اسلامي بينكاري او حصې سره اړوند خط او كتابت

په لندن كي يو عالم مولانا موسى كرماډى صاحب د يو خط په وسيله د مفتي صاحب څخه د شركت د حصو په اړه سوال كړى، لكن هغه خط د ډاک په ريكاډ كي پيدا نه سو نو مفتي صاحب د فكس په وسيله هغه جواب كي د اسلامي بينكاري په اړه خپله رايه ظاهره كړه، بيا د سائل د طرفه هغه خط دوهم ځل راوليږل شو، چي په حقيقت كي د حصو په باره سوال شوى ؤ، بيا حضرت مفتي صاحب په تفصيل د هغه جواب وروليږلو، هغه خط لاندي ذكر شوى.

سوال: محترم المقام حضرت مولانا مفتي محمد تقى عثماني صاحب! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

بعده: اميد دى چى په خير او عافيت سره به يې، څلور هفتې وړاندي الحاج الطاف حسين برخورداريه صاحب په معرفت سره يو تفصيلي مراسله ليږل شوې، چي د نه رسيدلو په وجه بيا ما فكس كړه، سخت انتظار دى اميد چى حضرت مفتي صاحب به د مصروفياتو سره سره څه وقت فارغ كړي او د جواب څخه به مو خبر كړي. فقط

والسلام / موسى كرماډي، لندن.

(۱) د حصو سره اړوند د علماؤ مختلف آراء او تفصيل لپاره د حضرت مفتي صاحب كتاب اسلام اور جديد معيشت وتجارت) ص ۸۹ تا ۹۲ ملاحظه كړى (محمد زبير)

(۲) د غه مراسله چي د حصو په اړه پوښتني شوې وې وړاندي راروانه ده.

جواب: ګرامي قدر مكرم جناب مولانا موسى كرماډي صاحب! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

ستاسي خط د محترم الطاف برخورداريه صاحب په معرفت په داسي ډول راته ورسيده چي د هغه جواب په ډاک كي شامل نه شو، او د كارو د هجوم د وجي په ذهن څخه هم ووت او س ستاسي براه راست فكس راته ورسيدو او هغه خط هم نه پيدا كيږي، بيا هم تر كومه چي په ياد كي پاته ده، تاسي داسي سوال كړې وه چي په ايا په اسلامي بينكاري په باره زما رائه بدله شوې ده؟ د دې جواب په اړه عرض داده چي د اسلامي بينک كاري په اړه چي بنده په خپل كتاب (اسلام اور جديد معشيت وتجارت) څه ليكلي دى يا په انګريزي كتاب (انټروډكشن ټو اسلامک فائنانس) كي څه ليكلي دى، د څو جزوي معاملاتو څخه علاوه د بنده رايه تر اوسه هم نه ده بدله شوې، پر دې چي كومي تنقيدونه شوي دى او زما تر نظر كومي رسالې تيري شوې دي د هغو څخه پر يوه چي د آنجناب تقريظ دى، د هغې د مطالعې وروسته هم د بنده رايه هغه ده كوم چي كتابو كي، البته د دې خبري ذكر ما په متعدد كتابو كي كړى دى، چى زه په دې موضوع كي د ضروت د وجي داخل شوى يم، دا زما ذاتي دلچسپي موضوع نه ده، بله دا وجه هم چى د اسلامي ماليـاتي ادارو مرابحـه، اجاره وغيـره بانـدي د قـانع كـول پكـار دى، بلكـه شـركت او مضاربت پيش قدمي پكار ده، بل زه دا هم غواړم چي د نورو علمي منصوبو باندي كار وكړم په دې وجه د دې ادارو د شرعيه بورډ د ركنيت څخه په سوكه سوكه ځان راباسم، اميد دى چى د دې وضاحت څخه به د بنده موقف تاسي ته واضح شوى وى، كه د نور تفصيل ضرورت ؤ نو بيا به يې د بنده څخه براه راست رابطه وكړى.

والسلام بنده محمد تقى عثماني ۱۸ / ۱۲ / ۱۴۲۷هـ

۱: د حصو خريد او فروخت كي د امت څه مجبوري او اضطرار دى؟ (په (امداد الفتاوى) او په (اسلام اور جديد معشيت وتجارت) كي د جواز فتوى د اضطرار او مجبوري مفهوم او درجې وضاحت)

۲: د حصو د جواز فتوى او (انعام الباري) د عبارت وضاحت.

محترم المقام جناب حضرت مولانا مفتي تقي عثماني صاحب ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

بعده ! اميد دی چي په خير او عافيت کي به يې ، دا چي ستا ارسال کړه فکس راورسيد ، زما مخکنی خط که ستا مخته پروت وای نو کيدلائ شي دجواب به تړې نه پاتيدلو ، بهر حال ددې خط کاپی يواري بيا حاضر خدمت ده ، ددې څخه علاوه دمکتبه دار العلوم کراچي څخه دشائع کړه کتاب (امداد الفتاوی ج۳ ص ۴۹۹) نقل هم دروا ستل شو ، په کوم کي چي حضرت تهانوي رحمة الله عليه په مخکينيو لسو صفحو کي په عربي سره تبصره کړې ده په اخير کي يې ليکلي دی يقول اشرف على ان هذا التوسع كله فی امثال هذه المعاملات لمن ابتلى بها او اضطر اليه واما غيره فالتوقى الورع ، ددې عبارت څخه حضرت په صافو الفاظو کي ويلی چی وړاندني ټول سهوليتونه يوائې داضطرار يا مجبوري په حالت کي دی.

په دې بنا آنجناب په (اسلام او جديد معيشت او تجارت ص۸۷ او ۸۸) کي دجواز صورت راايستلی دی ، په دې کي امت ته حصو په رانيولو کي کومه مجبوري ده ، دا زما په ناقص فکر کي نه راځي بلکه په (انعام الباري ج۶) حصې ته مثل سټه ، سرمايه دارانه نظام او عجيب وغريب قسم بازار بلل شوی ماته دغه قرين قياس معلوميږي لهذا :

۱-دحصې خريد او فروخت دجواز دامت لپاره مجبوري او اضطرار ستا په نزد څه دی ؟ څه وضاحت که وکړی نو ښه به وي ، نيز

۲-دحصې دجواز او جلد ۶ کي سټه بلل تضاد خو نه دی ؟ يا ما غلط فهمي کړې ؟ برائي مهرباني که تکليف نه وي مطمئن مي کړه ؟ فقط / موسی کرماډي ، لندن

محترم جناب حضرت مولانامفتي محمد تقی عثماني صاحب ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

بعده ! اميد دی چی آنجناب به په خير او عافيت کي بياست ، ستاسي داطلاع لپاره عرض دی چی تقريبًا دوه کاله دمحنت وروسته دهند پاک او برطانيه مختلف مفتيان کرامو مطبوعه او غير مطبوعه فتاوا او دموجوده زمانې پيچيده مسائل په کافي

تعداد زما سره موجود دی ، دکوم چي اولس سوه صفحات په درو جلدو کي تيار شوی دی ، ددې کتاب نوم دعصر حاضر پيچيده مسائل او دهغه حل ، تجويز شوی.

په دې درو جلدو کي دآنجناب هم حسب منشاء مختلف فتواوي شامل دی دهغه يوه فتوی په صرافي کي دحصو دخريد او فروخت او پر هغه باندي دقبضې دشرعي حکم ده او بله دحصو دخريد او فروخت شامل ده.

دغه درې جلدونه دکتب او تصحيح وغيره کار مکمل شوی دی چی دطباعت لپاره يې دکراچي سفر په نظر کي ؤ چی په دې مابين کي ددار العلوم لندن مهتمم حضرت مولانا مفتي محمد مصطفی صاحب يو تفصيلي فتوی په نامه دشيرز (حصو)په متعلق يو استفتاء او دهغه جواب .... هغه صاحب ماته راکړه چي په هغه کي ستا فتوی دحصصو په اړه پر جواز دعدم اتفاق اظهار شوی (چي کاپي ارسال خدمت ده)

ددې څخه علاوه مکتبه حبيبيه کراچي څخه دشائع شوې رسائل په نامه (دتکملة الرد الفقهي على جستس(قاضي القضات) مفتي محمد تقي عثماني) هم ولوستله ، دغه رساله ډيره دبرطانيې علماؤ ته رسيدلې ده ، ددې دمقدمې په صفحه ۶ باندي حضرت مفتي حبيب الله صاحب شيخ الحديث وصدر مفتي جامعه کلفتن کراچي کي ستا په متعلق ليکلي دی:

څنګه چي مفتي صاحب په خپل کتاب انعام الباري شرح صحيح البخاري جلد ۶ صفحه ۲۵۱ کي په وضاحت سره دصرافي دغه دحصو دخريد او فروخت په اړه ليکلي دی چی دحصو دخريد او فروخت په صرافي کي په سټه سره سرمايه دارانه نظام دی ، او عجيب وغريب قسم بازار دی ، په حواله دماهنامه ندائي شاهي مراد آباد ، او وړاندي صفحه کي دمکې مکرمې کي ديوې علمي مجلس ستا فرمان نقل کوي وايي : دغه يوه حيله خلکو جوړ کړې ده ، ددې په حيله کي کومه شبه نشته ، رفته رفته ددې معاملاتو څخه هم ځانګوښه کوي ، په دې خاطر ډير کار شوی نو پر دې باندي ټول وخت لګول نه دي پکار.

وړاندي په صفحه ۷ کي چي مفتي حبيب الله صاحب ستا سره دصرافه بازار دوره کړې ، دهغه په اړه يې ليکلي دی ، چي هلته کوم معلومات ترلاسه شوه ، نو دهغه ټولي

طريقې ناجائز او حرام سود او باطل وبلل شوې ، پر کوم چي ستا او دمفتي محمد رفيع صاحب عثماني علاوه ددارالعلوم کراچي نورو مفتيانو هم دسخطونه کړي دی.

ورانډي په صفحه ۷ او ۸ کي مفتي حبيب الله صاحب چي دکومي درد او کرب سره مايوس کن صورت حال ذکر دلاندیني عنوان سره کړي ليکلي يې دي چي ډيره دتوجه وړ ده:

حضرت مفتی صاحب ! چونکه زه دعصر حاضر دپيچيده مسائلو او دهغه دحل لپاره ستا دغه دوې فتوی شاملوم ، او په دې کي دحصو دخريد او فروخت دحلت او جواز فتوی موجوده ده ، او دحضرت مفتی حبيب الله او دمذکوره عبارت سره سم دحصو خريد او فروخت دستې پر بنا حرام و ناجائز او باطل ويل شوی دی او بيا ستا دتصديق او دستخط څخه زه په ډير کشمکش کي مبتلايم ، زما دناقص علم مطابق ماته په دې کی دتضاد بيان شبه کيږي ، که مهرباني وکړې په اول فرصت کي به اطلاع راکړې:

الف: ايا ستا دحصو په راکړه ورکړه کي دفتوی څخه رجوع کړې ؟ څنګه چي مفتي صاحب دانعام الباري په حواله نقل کړی دی.

که تا رجوع کړي نو په صاف الفاظو کي وضاحت راته وکړه ، او که ته پر مخکيني تحقيق قائم يې نو دمذکوره عباراتو تبصرې سره موږ آګاه کړه ، اميد چي موږ مطمئن کړې.

يادونه: شايد چي تا به زه پيژندلی يم ، تير کال په برطانيه کي چي کله يوه ورځ ته تشريف فرماوي او هلته پر اوقاتو دلمانځه دمجلس لپاره مولانا يعقوب مفتاحي صاحب سيکرټري حزب العلماء (يو ، کې) سره بنده هم حاضر خدمت ؤ. فقط والسلام / احقر موسی کرماډي ، لندن ۲/۱۱/۱۴۲۲ هـ

ګرامي قدر مکرم جناب مولانا موسی سليمان کرماډي صاحب زيد مجدکم السامي ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

ستا خط دفکس په وسيله راته ورسيد او ورسره هغه مخکينی خط هم پيدا شو ، تا چي کوم خبره دامداد الفتاوی ص۴۹۹ عبارت نقل کړی دی چي په هغه کي حضرت تهانوي رحمه الله صاف ويلي مخکيني ټول سهوليتونه يوائې په اضطراري او دمجبوري په

حالت کي دی... دامت په وړاندي دحصو دخريد لپاره څه مجبوري ده ؟ په دې اړه عرض دادی چي حضرت اول خو دغه عبارت دمال مخلوط په سلسله کي ليکلي ؤ بل دا چي حضرت خپله دشيرز (حصو) خريداري سره دشروطو جائز بللې ده ، که ده اجازت يوائې په اضطرار حالت کي وبولو نو دغه سوال دحضرت پر ليکنه هم کيږي ، چي دامت لپاره دحصو په رانيولو کي کومه مجبوري ده ؟ حقيقت دادی چي دحضرت مقصد داصطلاحي اضطرار نه دی په کوم کي چي دميتته خوراک حلال بلل شوی ، بلکه په کارباري حاجت او ابتلائي عامه سره ، څنګه چي خپله حضرت په ص۴۹۵ کي ليکلي دی (پس ابتلائي عام په وجه دا مسئله دنورو ائمهؤ پر قول فتوی ورکړل شوه چي شرکت مذکوره دجواز فتوی ورکول کيږي ، هم داډول چي کوم عبارت چي حضرت په ص ۴۹۹ کي ليکلی دی ، په هغه کي فالتوقي الورع الفاظ واضع ورسره اينبوول شوي دی چي دا کار کول دورع او تقوی خبره ترکومه چي دفتوی او تعلق دی فتوی دجواز ورکول کيږي.

دوهم: چی تا دانعام الباري جلد ۲ خبره دحصو په اړه ده او هغه ته سټه او سرمايه دارانه نظام ويل شوي دی ، په دې سلسله کي عرض دادی چي بنده يوائې په انعام الباري کي نه بلکه په نورو متعدد ليکنو کي هم داډول ليکلي دی چي دحصو دخريد او فروخت کي که احکام شرعيه مراعات نه شي نو سټه بازي دروازه به خلاصه شي ، لکن که احکام شرعيهؤ لحاظ وشي نو سټه بازي نه بلل کيږي مثلاً دشريعت حکم دادی چي که دکوم شی بيع قبل القبض وشي نو دابيع جائز نه ده که تنها دغه حکم پر صرافي نافذ شي نو دسټه بازي دروازه به بنده شي ،، ولي چي دستې کاربار ټول پر بيع قبل القبض او بيع المضاف الی المستقبل باندي بنا ده ، که دغه دواړه شيان ختم شي لکن دحصو خريد او فروخت دحاضره سوداؤ وشي ، او دقبضې څخه وړاندي ونه پلورل شي ، نو په هغه کي دستې کوم احتمال نشته نه دسرمايه دارانه نظام کومه خرابي راځي ، دا داسي ده څنګه چي په اوسپنه ، غنمو او نورو شيانو کي دستې احتمال شته ، لکن دا هغه وخت چي بيع قبل القبض يا بيع المضاف الی المستقبل ته وی ، ددې محظوراتو شرعيهؤ څخه که ددې اجناسو په بيع کي کوم محظور نه وي نو دستې احتمال نشته ، او نه هغه شرعًا ناجائز ده.

موږ د دار العلوم د علماؤ سره یو ځای د صرافي دوره وکړه د کومي معاملي چي تحقیق وشو هغه داؤ چي د حصو قبضه څه ډول کیږي؟ د دې په نتیجه کي دا خبره واضحه شوه چي قبضه د خریداري فورًا نه راځي، بلکه څه وقت په لګیږي، لهذا موږ داسي فتوی جاري کړه (۱) چي په کومه ورځ خریداري وشي که په هغه ورځ قبضه رانه شي (څنګه چي په پاکستان کي دغه صورت دی) نو تر قبضې وړاندي پلورل جائز نه دی، بلکه د قبضې وروسته پلورل جائز دی، او په صرافي کي چي کومي سوداوي د نام بدلي کیږي هغه شرعًا جائز نه دی، زموږ دغه لیکنه په البلاغ مجله کي هم شائع شوې ده، لکن د دې مطلب دا نه دی چي که د قبضې وغیره شرعي شرائط پوره شي بیا دغه خرید او فروخت جائز نه دی.

په مکه مکرمه کي بنده چي کوم مجلس کړی او تاسي یې حواله ورکړې ده، په هغه کي ما د حصو د خرید او فروخت حیله نه بیان کړې بلکه د صحیح سیاق او سباق د اسلامي بینکاري بعضي طریقو په اړه مجلس کړی چي حقیقت یې ما تاسي ته په خط کي څرګند کړي دی.

امید چي د مذکوره بالا ګذارشاتو څخه به شیرز (حصو) په اړه د بنده موقف واضح شوی وي.

اللهم ارنا الحق حقًا وارزقنا اتباعه، وارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه.

والسلام

بنده محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۱/ محرم الحرام ۱۴۲۸ هـ (فتوی نمبر ۱۲/ ۹۳۶)

Vested Stock د حصو د خرید او فروخت حکم

سوال: محترم مفتی تقي عثماني صاحب! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ستا د خط څخه مننه، امید چي په خیر سره به یې د دې خط سره د دوؤ امورو کاغذات منسلک دی

(۱) دغه فتوی په دې فصل فی احکام الاسهم کي ملاحظه کړی.

۱: Stock Opteons باندي د زکوة مسئله، ستا د ارشاد تعمیل په وجه ما د شرکت د ذمه دار افراد څخه وپوښتل چي د اسټاک د شروع څخه د چا ملکیت وي. او Lssued Capital حصه پکي شته او که نه؟ د شرکت خلګو ما ته تسلی بخش جواب رانکړو، او دوی را ته د Tax Advesor سره د مشوري وویل، ما د نورو مسلمانانو ورونو څخه وپوښتل کوم چي په دې شرکت کي یې کار کولو، د دوی په نزد اسټاک اول د شرکت ملکیت وي، او وروسته بیا ملازم ته ورکول کیږي، د دې خط او کتابت نقل هم منسلک دی، اوس د دې سره سم داسي لار راوښیه چي په هغه کي شک او شبه نه وي او که زکوة ورباندي کیږي نو د هغه هم لاره راوښیه، پوره تفصیل یې د دوهم کاغذ سره منسلک دی، والسلام

جواب: محترم ومکرم! السلام علیکم ورحة الله وبرکاته.

Vested Stoct په باره کي ستا سوال دوهم ځل راورسید و کوم جوابات چي تا منسلک کړی د هغه څخه صورت سم واضح نه شو، لکن د هغو سوالاتو اصل مقصد داؤ چي Vested Stock په حق کي استعمال کړي او د حصې په Face Vlaue د رانیول د جواز پر هغو سوالاتو پر جواب موقوف ؤ، لهذا د هغو سوالاتو واضح جواب بغیر زه نشم ویلای چي د داسي حصو رانیول جائز دی یا نه؟ لکن تر کومه چي ستا د سوال تعلق دی، چي کوم شخص خپل حق تر اوسه نوي استعمال کړی، یعنی حصه نوي وړې، پر هغه باندي زکاة فرض دی که یا؟ د دې سوال جواب واضح دی چي تر څو یې حصه عملاً نه وي وړې، نو پر هغه باندي زکاة نشته.

والسلام ۱۴۱۹/۸/۲ هـ (فتوی نمبر ۹۱/ ۳۳۹)

فصل في القرض والدين

(دقرض او دين اړوند مسائل)

قرض حسن څه ته وايي ؟ او قرض حسن دبيرته وركولو اطميناني طريقه

سوال: يوه كونډه ښځه په خپلو روپو درانيول شوې مځكې دذاتي كور جوړولو لپاره ديو بډايه شخص څخه بلاسود قرض حسن غواړي ، او هره مياشت قسط واره قرض اداكوي ، هغه سړى دبينك دتحفظ سره پر قرض وركولو تيار دى نو كه په قسط كې تاخير يا ناغه راځي نو بينك به يې دعدالت په وسيله ورڅخه وصولوي ، دقرض حسن لپاره دمعرض دعدالتي مروجه قوانين ضروري دي او كه نه ؟ شرعًا قرض حسن دواپسي لپاره اطمنان څه ډول وشي ؟ ددې ښځې ذاتي كور هم نشته دقريبانو سره اوسيږي.

جواب: دقرض حسن څخه مراد هغه قرض دى چې پر هغه باندې سود نه اخستل كيږي ، البته قرض دواپسي داطمنان لپاره كومه انتظامي معامله كول دقرض حسن سره منافي نه ده ، مثلا كه كوم شخص كفالت طلب وى (١) يا كوم شى په ګروي ورڅخه كښيږدي (٢) (په دې شرط چې ددې رهن څخه قرض وركوونكى فائده وانخلي) (٣)

(١) وفي الهدايه كتاب الكفاله ج٣ ص١٢٢ (طبع مكتبه رحمانيه) واما الكفالة بالمال فجائزة معلومًا كان المكفول به او مجهولا اذا كان دينًا صحيحًا.

(٢) وفي صحيح البخاري ج١ ص٢٩٣ (طبع قديمي كتب خانه) عن الاعمش قال ذكرنا عند ابراهيم الرهن فى السلف فقال لا بأس به ... الخ.

وفى الهدايه كتاب الرهن ج٤ ص٥١٨ (طبع رحمانيه) ولا يصح الرهن الا بدين مضمون لان حكمه ثبوت يد الاستيفاء والاستيفاء يتلو الوجوب ... الخ

(٣) فى الدر المختار كتاب الرهن ج٦ ص٤٨٢ (طبع سعيد) لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فى الربا لانه يستوفى دينه كاملا فتبقى له المنفعة فضلا فيكون ربا وهذا امر عظيم.

وكذا فى البحر الرائق ج٦ ص٤٣٨ (طبع رشيديه) وملتقى الابحر مع مجمع الانهر ج٤ ص٢٧٣ (طبع مكتبه غفاريه كوټه)

نو شرعًا جائز ده ، او داډول دقرض وركوونكي څخه كوم تحريري ضمانت واخستل شي چې دهغه په وسيله په عدالت كې پر قرض وصولولو باندې مجبور كړل شى صحيح ده ، تا چې دبينك په باره كې سوال كړې ده ، دهغه پوره صورت واضح نه دى ، دهغه دمعاملې تفصيل وليكه نو بيا به يې حكم درته واضح كړل شي ، البته مذكوره بالا صورتو كې چې كوم صورت اختيار كړل شوى جائز دى او په دې سره دمقروض امداد دثواب باعث دى ان شاء الله.

والله سبحانه اعلم ١١/٢/١٣٩٧هـ (فتوى نمبر ٢١٤/٢٨ الف)

په سودي قرضې دكور جوړلو او بيا دبينك دملازمت په پنشن دقرضې اداكولو حكم

سوال: يو شخص په سودي بينك كې ملازم ؤ هغه په دې دوران كې قرضه يووړه او خپل كور يې ورباندې ورغاؤ ، وروسته دغه سړى ريټاير (تقاعد) شو نو ايا كه دغه سړى پنشن واخلي او بيا يې دقرض په اداكولو كې وركړي نو دا جائز ده ؟ (مولانا محمد عامر)

جواب: دسودي بينك څخه قرضه چې كومه قرضه وړې وه هغه صحيح ده (١) اګر كه په سودي معامله كولو سخت ګناه ګار دى ، ددې اصل قرض وركول دحلال مال څخه واجب ده (١) لهذا كه نوكري حرام وي نو ددې پنشن څخه قرض اداكول جائز نه ده (٢)

(١) وفي بدائع الصنائع ج٧ ص٣٩٦ (طبع سعيد) واما حكم القرض فهو ثبوت الملك للمستقرض فى القرض للحال وثبوت مثله في ذمة المستقرض ... الخ

وفي الدر المختار ج٥ ص١٦٤ (طبع سعيد) ويملك المستقرض القرض بنفس القبض عندهما ... الخ

او دبينك څخه قرض وړل اګر چه دواپسي پر وقت دسود وركولو شرط وي ، مګر ددې سره سره قرض معامله درست ده ولي چې قرض په هغه معاملاتو كې شامل ده چې دشرط لكولو باندې فاسد نه ګرزي ، بلكه شرط خپله باطل ده.

دوالدين څخه قرضه اخستل دوالدينو دانتقال وروسته ددوی پر ورثه ؤ تقسيمول لازم ده ، اووالدين او پر ورونو خوندو باندي خرڅ کړل شوي قرضه شمارل کيږي يا نه ؟

سوال: مکرم ومحترم ! السلام عليکم براه کرم مندرجه مسئلې په اړه موږ ته جواب راوليږه ، زما عمر دا وقت تقريبًا ۷۰ کاله دی زما پنځه ورونه او دوې خوندي دی قبله ګاه صاحب مرحوم ددولت ملازم ؤ او پر اعلی عهده فائز ؤ ۱۹۳۵م کي يې پنشن اخستی ؤ په ۱۹۲۸ م زما صحت خراب شو نو په دې وجه ماته داعلی تعليم زمينه مساعده نشوه ، ډيره پريشانوم ، کله چی والد صاحب تقاعد شو نو زما پريشاني نوره اضافه شوه

وفي الدر المختار ج۵ ص ۱۶۵ (طبع سعيد) القرض لا يتعلق بالجائز من الشروط فالفاسد منها لا يبطله ولكنه يلغو شرط وفيه ايضًا ج۵ ص۲۴۹ وما يصح ولا يبطل بالشرط الفاسد ... سبعة وعشرون .... القرض ... الخ .

وفي الشامية ما يصح اى فى نفسه ويلغو الشرط ، ددې سره دامداد الفتاوی ج ۳ ص۱۶۹ وګورئ .

(۱) وفي الهنديه باب ۲۷ ج۵ ص۳۶۷ (طبع رشيديه) ولو كان الدين لمسلم على مسلم فباع المسلم خمرًا واخذ ثمنها وقضاه صاحب الدين كره له ان يقبض ذلک من دينه كذا فى السراج الوهاج .

وفى الدر المختار ج۶ص۳۸۵ (طبع سعيد) وجاز اخذ دين على كافر من ثمن خمر لصحة بيعه بخلاف دين على المسلم لبطلانه ... بخلاف المسلم لعدم تقومها فى حقه فبقى الثمن على ملک المشترى .

وفى البحر الرائق ج۸ ص ۲۰۱ (طبع سعيد) اذا كان لشخص مسلم دين على مسلم فباع الذي عليه الدين خمرًا وأخذ ثمنها وقض الدين لا يحل للمدين ان يأخذ ذلک بدينه ... الخ .

(۲) وفى ملتقى البحر مع مجمع الانهر كتاب الكراهية فصل فى البيع ج ۴ ص۲۱۴ (طبع مكتبه غفاريه كوته) ولو باع مسلم خمرًا واوفى دينه من ثمنها كره لرب الدين اخذه وان كان المديون ذميًا لا يكره .

وكذا فى الدر المنتقى على مجمع الانهر ج ۴ ص۲۱۴ (طبع غفاريه)

وفى الهدايه كتاب الكراهية ج ۴ ص۴۶۸ (طبع امداديه ملتان)

وفى تبيين الحقائق كتاب الكراهية ، فصل فى البيع ج ۷ ص ۶۰ (طبع دار الكتب العلميه بيروت) محمد زبير حق نواز

، ولي چی زما سره پر خپلو پښو دريدلو فکر ؤ ، لهذا ما خپله دمعاش وسيله تجارت غوره کړ ، چي پر دې باندي والد صاحب ناراض ؤ ، او ما خپله دکان داري شروع کړه ، والد صاحب هميشه دمذهبي فکر خاوند ؤ او دتبليغ په کار کي يې زياته دلچسپي درلوده دپنشن ډيره حصه يې په داسي کارو کي لګوله لهذا داخراجاتو زياته حصه زما پر اوږو وه ، په دې وخت کي زما مشر او کشران ورونه او خوندي په تعليم بوخت ولو ، په دکان کي کمه اندازه سرمايه کاري شوې وه آمدنی ډيره کمه او اخراجات زيات ؤ ، دنور شيانو علاوه دپنځلس تنو خرچه وه ، ما دا فکر وکړ چي په دې ډول به آخر دکان ډيوالي شي ، لهذا دکور زيورات مي وپلورل او دنور خلګو څخه مي قرض واخستل په تجارت کي مي ولګول او شپه ورځ مي محنت شروع کړو ، ډاکټرانو راته دآب هوا دتبديلي مشوره راکوله ، مګر دکور حالاتو او دورونو او خوندو تعليم راته اجازه نه راکوله ، او دخپل صحت مي هم پر واونه ساتله ، الله ﷻ راباندي فضل او کرم وکړ ټولو ورونو او خوندو مي تعليم پوره کړ ، او روزګار يې هم ترلاسه کړ ، په ۱۹۴۷ م کي پاکستان جوړ شو ، په هندوستان کي موږ ټول يوځای اوسيدلو ، مګر په ۱۹۴۷م پاکستان دراتلو وروسته پر دوه ځايه تقسيم شو ، چونکه زما لپاره په فلاټ کي ګنجائش نه ؤ په دې وجه والدين دنورو ورونو سره اوسيدل ، والده صاحبه چي کله دلته حالات وليدل نو زما څخه يې داخراجاتو ورکولو فرمائش وکړ ، دهغه هم ما تعميل وکړ ، چونکه دلته دتجارت ابتداء وه او نورو ورونو ماته چل راکړ ، نو زما مال حالت ډير ژر خراب شو ، زه قرض داره شوم ما دهغه نورو ورونو څخه کومک وغوښت مګر هغه څه ونکړل بيا مي دوالدينو څخه به طور قرض څه روپۍ يوورې ، دنورو هم تر اوسه مقروضه يم په هندوستان کي هم ډير په پريشانيو کي اوس په پاکستان کي تر هغه زيات پريشان يم و په ۱۹۵۷م کي والد صاحب دوالدې سره مشهوره وکړه ماته يې يو خط وليکه په هغه کي داسي ليکلي دی چی دا ټول ستا کوشش او جانفشاني وه چي ستا ورونو تعليم حاصل کړو ورنه زما په پنشن باندي خو څه نه ترلاسه کيدل ، دا ټول دالله ﷻ مهرباني وه ، والد صاحب به اکثر والدې ته داخبره هم کوله چي دعبدالقيوم سره ډيره بې انصافي کيږي ، او هم ورسره ظلم کيږي ، دوالدينو انتقال په اول کي لا راغی ، زه دا معلومول غواړم چی دوالدينو څخه چي ما کوم

قرض اخستی ؤ دهغه به څه دمذکوره حالاتو سره څه ډول کیږي؟ دزکوة حساب به یې کیږي نو په دې خاطر ماته ژر تر ژره جواب راولیږه نو ستا مهرباني به وي.

جواب: تاچي دوالدینو څخه قرض وړی ؤ ، که هغو په ژوندکي کي قرض تاته بخشلی نه وی نو دهغه ادائیګي پر تا واجب ده ، که موقع درته ورسیده هغه دوالدینو په ترکه کي شامل کړه ، هغه دنوري ترکي په ډول پر ورثاؤ تقسیم کړه چي په هغو کي ته هم شامل یې ، یعني ځونه حصه چي تاته رسیږي هغه پریږده او باقي روپۍ نورو ورثاؤ ته ورکړه ترهغه مخکي چي تا پر ورونو او خوندو څه مصرف کړی دی که هغه وقت په تصریح سره تاورباندي کړی وي چي دغه ته ودوی ته قرض ورکوې نو هغه ته بیرته ورڅخه اخستلی شې ، لکن که دخرچ کولو پر وقت تا ورته تصریح نه وي کړې ، نو هغه ستا دطرف څخه هدیه بلل کیږي ، جس دهغه تاته انشاء الله ثواب رسیږي ، لکن ته ورڅخه غوښتلو مطالبه نه شې کولی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ، ۱۴ / ۹ / ۱۳۹۹ هـ (فتوی نمبر ۱۲۰۸ / ۳۰ ج)

دقرض په اخستلو کي دتحریر یا شاهدي اهتمام ښه کار دی ضروري نه دی

سوال: دقرابت په صورت کي ددوهم شخص څخه روپۍ وړل چي دهغه ورکول بیرته ضروري وي شاهدانو په موجودګي تحریر لیکل ضروري که نه؟

۲: دشاهدانو دموجودګي په صورت کي چاته داسي روپۍ ورکړل شي چي دهغه بیرته وړل ضروري وي او تحریر ونه لیکل شي نو ایا دروپو ورکوونکی ګناه ګار دی؟

جواب ۱: دقرض په معامله کي بهتر داده چي تحریر وشي او دوه شاهدان موجود وي په قرآن شریف کي (۱) ددیونو په سلسله کي ددې طریقې تعلیم ورکړل شوی دی ، لکن که ددې بغیر قرض ورکړل شي نو ګناه نشته.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۷ / ۲ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۲۲۴ / ۲۸ ب)

---

(۱) قال الله تعالی فی کلامه المجید : (یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا تَدَایَنتُم بِدَیْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ) سورة البقرة (۲۸۲)

په حواله کي دمحتال له (قرض خواه) درضامندي ضروري ده او قرض دحوالې او مقاصه کي یو مخصوص صورت

سوال: عرض دادی چي زه عبدالمجید ولد نورمحمد داسي حلفیه بیان درته لیکم چي زما سودا دسیکورټي آفسر شکیل احمد سره دیو کواټر په باره کي په لس زره داسي وشوه ، دکواټر سودا کي په اتفاق سره دامان ګل دکان دار په وړاندي وشوه ، امان ګل په وړاندي شکیل احمد وویل: چي موږ کواټر په اته زره رانیولی دوه زره روپۍ منافع اخلم ، سودا دډول وشوه چي دوه زره روپۍ نقد پاته زر زر ماهانه په قسط سره ورکوم ، په دې سره امان ګل دکان دار وویل: چي زما پر شکیل احمد پنځلس سوه پور دی او پاته پنځه سوه روپۍ ما دامان ګل دکان دار څخه په قرض واخستلې او شکیل احمد ته مي ورکړې ، وروسته ماشکیل احمد ته دکواټر دقبضې دراکولو لپاره وویل ، او دکواټر کاغذات راولیکه کله چي زه او شکیل احمد عدالت ته ولاړو ، او شکیل احمد کاغذات راولیکل ، وروسته ما پنځلس سوه قرض راوړه او شکیل احمد ته مي ورکړه ، کله چي دکواټر دقبضې لپاره ورغلم نو اصل مالک راغی زه او شکیل احمد یې تانې ته راوغوښتلو هلته چي ورغلو نو معلومه شوه چي شکیل احمد فراډي دی جعلی کارونه کوی زه او شکیل احمد دامان ګل سره تهانې ته راغلو او دده دفراډیتوب ټول حالات مو بیان کړل بیا موږ دامان ګل سره تهانې ته راتللو چي امان ګل وویل چي شکیل احمد فراډی سړی لهذا دکان ونه پلورل شو ، پنځلس سوه روپۍ دهغه څخه واخله زه دهغو روپو ذمه وار نه یم ، او اوس لا شکیل احمد موجود دی دهغه څخه یې واخله ، ذما ذمه داري ختم شوه ، ته پوشوې او شکیل احمد پوشو ، زما ذمه داري نشته ، تر وروسته شکیل احمد درې یا څلور میاشتي دلته ؤ ، بیا ددې ځای څخه ولاړ ، ددې صورت حالت شرعي حکم بیان کړه.

جواب: ددې معاملې حقیقت داده چي عبدالمجید چي دامان ګل دکان څخه کومي دوه زره روپۍ وړې دی او شکیل احمد ته یې دکور لپاره ورکړې وې دهغو څخه یې پنځه سوه نقدي وصول کړې وې او پنځلس سوه یې دشکیل احمد پوره مقاصه کړی ؤ بهر صورت ! پر عبدالمجید باندی دامان ګل دوه زره روپۍ قرض واجب شوې ، ددې معاملې

دكواتړ څخه هيڅ تعلق نشته ، كوم چي دعبد المجيد او دشكيل احمد ترمنځ تر سره شوى ، عبد المجيد باندى واجب ده چي دامان ګل پوره قرض ادا كړي او شكيل احمد چې كومه دوكه كړې ده هغه دى دشكيل احمد سره سپينه كړي ، دشكيل څخه دروپو وصول كول دامان ګل ذمه واري نه ده ، ولي چي امان ګل هغه حواله نه قبوله كړې ، هغه شرعًا صحيح نه ده [1] امان ګل دعبد المجيد ددوو زرو روپو دمطالبې حق په جانب دى.

والله اعلم ۳ / ۸ / ۱۴۰۸هـ (فتوى نمبر ۱۵۵۷ / ۳۹و)

دزكوة او دسرسايې دروپو څخه مسجد ته قرض وركول ،او دمسجد څخه دداسي قرضو وصولي.

سوال: محترم ومكرم جناب مفتى تقى عثماني صاحب ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

بحواله جناب فتوى مورخه ۲۹ ربيع الاول ۱۴۱۷هـ دكومي چي نقل منسلک دى ، دزيات وضاحت لپاره عرض دادى:

---

[1] وفى الدر المختار كتاب الحواله ج۵ ص۳۴۱ (طبع سعيد الحوالة شرط لصحتها رضا الكل بلا خلاف وفى الشامية تحت (قوله رضا الكل) اما رضا المحتال فلان فيها انتقال تحت الى ذمة اخرى والذمم متفاوتة ... الخ

وفي البحر الرائق ج۶ ص ۲۴۷ (طبع سعيد كراتشي) وتصح فى الدين لا فى العين ... برضا المحتال والمحال عليه لان المحتال هو صاحب الحق وتختلف عليه الذمم فلا بد من رضاه لاختلاف الناس فى الايفاء .

وفى الهنديه ج۳ ص ۲۹۵ و۲۹۶ (طبع رشيديه كوئته) واما شرائطها ... وبعضها يرجع الى المحتال له ... واما الذي يرجع الى المحتال له ... ومنه الرضا .

وفى البدائع ج۶ ص۱۶ (طبع سعيد كراتشي) واما الشرائط .. وبعضها يرجع الى المحال ... واما الذي يرجع الى المحال عليه فانواع ... ومنها الرضا .

وفى الهداية كتاب الحواله ج۳ ص۱۳۶ (طبع رحمانيه) وتصح الحواله برضاء المحيل والمحتال والمحتال عليه.

۱: ستاسي جناب دفتوى نقل دسابقه كميټۍ دټولو ممبرانو ددې استدعاء سره وليږل شو ، چي حسب فتوى دسرسايو دراټولولو بندبست وكړى او موجوده كميټۍ تعاون ته حاضر ده جوابًا مكمل خاموش دى.

۲: خلګ ته ددې ښه علم شته ، چي مذكوره رقم دمسجد په اخراجاتو كي بې ځايه كارشوى دى ، چاچي دا كار كړى دى هغه ددې ذمه دار دى ، قرض دادا كولو لپاره دچندې وركول ضروري دى ، خبره وړاندي دتلو په نظر نه راځي داوو كالو څخه په امريكا كي دمسجد تعمير دمسلمانو لپاره باعث ننګ او عار دى او زموږ دبدو اعمالو مظهر هم دى.

۳: موجوده كميټۍ په اول اجلاس كي عام اعلان كړى دى ، چي هغه ديو مد رقم په بل مد كي نه لګوي ، پر دې اصولو سخت كار بندي ده.

اوس چي خلګو چنده دمسجد دتعمير لپاره وركړې ده ددې اعتماد پر بنياد يې وركړې ده چي دهغو رقم به دمسجد په تعمير كي ولګيږي ، كه دغه رقم دقرض په ادائيګي كي صرف شي ، نو دچندې دوركوونكو سره به وعده خلافي نه وي او ددوى دعدم اعتماد باعث به نه ګرځي ، دكوم چي وړاندي تجربه هم شوې ده ، دموصوله رقم ، چيک ، ډرافټ څخه علاوه دنامعلوم مسلمانو نقد رقم هم دى په كوم كي چي دقرض دادا كولو اجازت محال دى ، دمندرجه بالا حالاتو ته په پيش نظر از روى فتوى خو نه فى الحال قرض مذكوره ادائيګي ممكن ده او نه دتعمير مسجد ، دواړه كارونه فى الحال مفلوج دى ، دتعمير كار دجاري ساتلو سره دقرض مذكور وطرف ته دخلګو توجه را اوړي ، نو اميد چي په دې مد كي به ابتداء وكړي ، په داسي حال كى چي كومي روپۍ دمسجد پر تعمير خرچ شوې دى وكتل شي نو اطمينان به حاصل شي.

اوس دلاندينو مسئلو په اړه سوال كيږي:

الف: ايا دشريعت دنګاه دا ډول ممكن ده ؟ چي دمسجد تعمير په مد كي جمع شده رقم صرف كړل شي يعنى دتعمير كار وربانـدي وړاندي ولاړ شي ، كوم چي دريدلى دى.

ب: په دې اثناء د قرض، فطره په مد کي چي کوم رقم وصول شوی دی په هغه مد کي دي خرڅ کړل شي. بينوا توجروا!

جواب: زکوة او د فطرې چي رقم د داسي مد لپاره قرض ورکول جائز نه دی چي د هغه څخه وصول کول يقيني نه وي، د مسجد لپاره چنده کول هم داسي ده چي د هغه وصولي يقيني نه ده، لهذا مسجد ته قرض ورکول اول انتظاميې ته جائز نه ؤ، لکن اوس چي دغه رقم د مسجد په ذمه کي قرض ورکړل شوې دی نو د مسجد د چندې څخه يې ادا کول ضروري دی، اول انتظاميه د دې خبري ذمه دار دی چي هغه د خلکو څخه مسجد د قرض لپاره چنده جمع کړي او د هغه څخه د زکوة او فطرې پر مستحقينو يې تقسيم کړي د مسجد اوسنۍ انتظاميې لپاره هم په کار ده چي د دوې سره تعاون وکړي او د مسجد ذمه فارغه کړي، چونکه د قرض څخه د مسجد اخراجات پوره شوي دی نو هغه خلک چي مسجد ته چنده ورکوي ان شاء الله هغو ته بيا هم د مسجد د تعمير ثواب رسيږي، ترڅو چي دغه قرضه ادا شوې نه وی نو د مسجد د تعمير کار دي نه کيږي، او د قرضو د ادا کولو وروسته د تعمير کار دی شروع کړل شي، البته په دې مسجد کي لمونځ بې له شکه جائز دی.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۹ / ربيع الاول ۱۴۱۷ھ (فتوى نمبر ۷۰ / ۲۴۷)

۱: د راشي څخه وړل شوې قرضې د ورکولو حکم
۲: د بينک د سودي رقم څخه د قرضې ادا کولو حکم

سوال ۱: (د سوال خلاصه) د کوم افسر د رشوت روپۍ پر يو شخص باندی قرض دی، که مقروض د دې افسر قرضه ادا نه کړي څنګه چې د سود روپۍ ورکول ضروري نه دی، داډول په رشوت سره لاسته راوړل شوې روپو قرضه که ادا نه شي، ايا ګناه ګار ده؟ د توبې ضرورت شته او که نه؟

سوال ۲: که د بينک څخه په سود واخلي او قرضه ورباندي ادا کړي کوم بلا سود قرضه ده نو دغه بلا سود قرضه په هغه سود والا قرضه ادا کيږي او که نه؟

جواب ۱: د رشوت معامله کول د سره ناجائز ده پر دې ګناه استغفار کول پکار دی ([۱]) که ده تر اوسه دغه روپۍ رشوت خور افسر ته نوي ورکړې نو هغه د خپل ځان سره ايښوولی شي، لکن معامله د رشوت باندی توبه استغفار کول جائز نه دی او که افسر رشوت روپۍ د بل چا څخه وصول کړې وي بيا يې ده ته قرض ورکړې وي نو د هغه ادا ئيګي ضروري ده.

جواب ۲: د کوم سړي چې قرضه ادا کيږي که هغه مستحق صدقه وی (که څه هم د قرض د وجي وي) نو داسي کول جائز دی، چې د سود رقم هغه ته ورکړي بيا دی هغه خپل قرض ور څخه ادا کړی مګر خپله بله قرضه د دې روپو څخه ادا کول جائز نه ده، او بهر صورت ښه دا ده چې د بينک څخه سود نه واخستل شي.

الجواب صحيح، محمد عاشق الهی بلند شهري

والله اعلم، احقر محمد تقی عثماني عفی الله عنه. ۱۴ / ۱۲ / ۱۳۸۷ھ (فتوى نمبر ۱۴۲۵ / ۱۸الف)

په سودي قرضه د کار بار کولو حکم

سوال ۱: د شپاړس کلو څخه په يوه شرکت کي بحيثيت تقسيم کار کار کوم، تير کال خو سرمايه کافي وه، مګر د کار د خرابي په وجه سرمايه بالکل قليل ده، شرکاؤ د مجبوري په خاطر د بينک په وسيله او د ډرافټ څخه قرضه شروع کړه، چي سود به هم باندی اخلي، د داسي کار په شريعت کي څه حکم دی؟

۲: پورتنی کار څه ډول جائز ګرزي؟

۳: که پورتنی کار ناجائز دی نو موږ خپله حلاله ګټه څنګه جدا کړو؟

۴: په استغفار او توبه سره دغه ګناه معافيږي او که نه؟

([۱]) وفي المشكوة كتاب الامارة والقضاء ج۱ ص۳۳۷ (طبع مكتبه رحمانيه) عن عبدالله بن عمرو قال لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي والمرتشي.

جواب ۱ او ۲: د كار بار لپاره په سود سره قرض اخستل بالكل حرام دی، د هغه څخه په هر صورت ځان ژغورل واجب دی، (۱) اوس لاره داده چې د آينده لپاره سودي قرضه عزم مه كوه، او پر تيره گناه توبه او استغفار وكړه، آينده د كار بار د چلولو لپاره د سود د قرضې پر ځای كوم صاحب ثروت په كار كي شريک كړه.

۳: په سود قرضه اخستلو معامله حرام او ناجائز ده لكن په آمدني چونكه د سود روپۍ شاملي نه دی، نو د توبې او استغفار وروسته آمدني استعمالوی شي.

۴: توبه او استغفار په خلوص د زړه سره او د آدابو او د شرائطو به ملحوظولو سره هره گناه معاف كيدلی شي.

الجواب صحيح محمد عاشق الهی بلند شهری

والله سبحانه اعلم احقر محمد تقي عثماني عفی عنه ۵/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ (فتوی نمبر ۱۴۱۲/ ۱۸ الف)

د كوم چا مقروض څخه رقم واخستل شي او د ده قرض خواه ته دوركولو سره د قرض ادا كيدلو يو مخصوص صورت او د هغه حكم

سوال: (خلاصه) زيد د عمر څخه يوه بوری غنم په قيمت سره رانيول، زيد بيا د عمر د وروربكر څخه يو راديو رانيوله، مگر د مذكوره اشياؤ قيمت يوه هم ادا نكړو، څه زمانه وروسته زيد يوه غوا وپلورله، نو عمر د خالد څخه (چي د بكر او عمر ماما او د زيد د خاله خاوند دی) غوښتنه وكړه چې زيد سره روپۍ شته او زما روپو ته چي پر ده د اگمانؤ چي زيد به روپۍ وركړي نو بيا د راديو د غنمو په منځ كي قطع وكړي.

(۱) في الشامية ج۵ ص۱۶۶ كتاب البيوع كل قرض جر نفعًا.. الخ فهو حرام كذا فی الاشباه والنظائر الفن الثاني ص۲۵۷ (طبع قديمي) كذا في تكملة الملهم ج۱ ص۵۷۵ كتاب المساقات (طبع دار العلوم)

خالد چې كله زيد د روپو وويل: چي ستا سره روپۍ شته؟ هغه وويل: هو! روپۍ شته، خالد ورته وويل: دوه سوه روپۍ ماته راكړه، هغه هم ورته وركړې، هغه خپل د خور زوی عمر ته سم دستي هغه روپۍ وركړې، څه وخت وروسته د خالد د عمر او بكر تر منځ ناراضگي راغله خو د زيد او د عمر بكر تر منځ اړيكي ښې وې، په يوه فيصله كي عمر خالد ته وويل: تاچې د زيد څخه دوه سوه روپۍ وړې وې هغه وركړه، پر هغه باندي خالد وويل: هغه ما تاته دركړې دی ته پوه شوې او زيد پوه شو، لكن عمر دوو سوو روپو څخه بالكل انكار وكړ، خالد د عمر د مشر ورور بكر ته وويل: ما دوه سوه روپۍ د زيد څخه راوړې او عمر ته مي وركړې او د هغه څخه سل روپۍ عمل د ستا د راديو ادا كړې ايا دا صحيح ده؟ هغه وويل: چي عمر ورته سل روپۍ وركړې دی، مگر عمر انكار كوی ما د عمر له طرفه د خپل ځان څخه سل روپۍ وركړې، يوه دريم چي د غه خبري اوريدلې ويې ويل: تاته روپۍ رسيدلې دی، ته دروغ وايې، بل دريم پر دې اصرار كاؤ: چي خالد د زيد څخه د عمر په شاهدي روپۍ وړې دی لهذا ته به دوه سوه روپۍ وركوې، په دې اړه د شريعت څه حكم دی؟

جواب: كه خالد زيد ته ويلي وي چي د غه روپۍ د عمر د واجب الادا قرضې دی او عمر وصول كړې وي نو پر خالد كوم تاوان نشته، د عمر د انكار حل دادی چي خالد دې پر دې شاهدي پيش كړي، چي هغه و عمر ته روپۍ وركړې دی، كه دوه سړي يا يو سړی او دوې ښځې شاهداني تيرشوې نو فيصله حق ده، كه شاهدان نه وی نو به عمر قسم كوي، چي ده ته خالد روپۍ نه دي وركړې، كه هغه قسم ونكړي نو بيا خالد په حق كي فيصله صحيح ده كه عمر قسم وكړي نو فيصله د ده په حق كي كيږي، (۱) او خالد به هغه روپۍ

(۱) وفی مشكوة المصابيح باب الاقضية والشهادات ج۲ ح۳۳۸ (طبع مكتبه رحمانيه عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان النبي ﷺ قال البينة على المدعى واليمين على المدعى عليه (رواه الترمذي ج۱ ص۳۸۱ طبع مكتبه رحمانيه).

ورکوي لکن که عمر د دروغو قسم وکړي نو په دنيا او آخرت کي به ګناه ګار وي (۱) لهذا هغه دي د مرګ او آخرت وګوري.

والله سبحانه اعلم ۲۱/۱/۱۳۹۷ (فتوی نمبر ۱۳۷/ ۲۸ الف)

د پور او په قسطو د رانيولو حکم د حج او عمرې لپاره د قرض حکم

سوال: په دې ورځو کي په پور يا په قسطو سره خريداري رواج دی، سوال دا دی چي د قرض او د پور معامله د شريعت له رويه څنګه ده؟ او د حج و د عمرې لپاره قرض يا د پور معامله څنګه ده؟

جواب: د سود څخه بغير قرض کول اګر که جائز دی کله چي د ادا کولو نيت ولري، لکن د احاديثو څخه دا خبره ظاهريږي چي څان قرض داره کول ښه خبره نه ده، تر څو چي کوم واقعي حاجت در پيش نوي نو حتی الامکان څان ور څخه ساتل پکار دی، ولي چي رسول الله ﷺ د مقروض کيدلو څخه د الله ﷻ پناه غوښتي ده، حضرت عائشه ام المؤمنين ؓ وايي رسول الله ﷺ وويل:

ان رسول الله ﷺ كان يدعو فى الصلاة ويقول اللهم اني اعوذبک من المأثم والمغرم، فقال له قائل: ما أكثر ما تستعيذ يا رسول الله من المغرم، قال: ان الرجل اذا غرم حدث فكذب ووعد فأخلف. (صحيح البخاری، كتاب الاستقراض، باب من استعاذ من الدين ۲۳۹۷ طبع دار السلام)

ترجمه: رسول الله ﷺ به په لمانځه کي داسي دعا کوله، يا الله! زه د ګناه څخه او د مقروض کيدلو څخه ستا پناه غواړم، چا ور څخه سوال وکړه يا رسول الله! ته په کثرت

(۱) وفى صحيح المسلم ج۲ ص۳۲۶ (طبع قديمي) قال رسول الله ﷺ: عليكم بالصدق فان الصدق يهدي الى البر وان البر يهدي الى الجنة .... واياكم والكذب! فان الكذب يهدي الى فجور وان الفجور يهدى الى النار....آه (رقم الحديث ۴۷۲۱ باب قبح الكذب وحسن الصدق وفضله)

سره د مقروض کيدلو څخه پناه غواړې څه وجه ده؟ رسول الله ﷺ وويل: کله چي سړی پور داره شي د خبرو پر وقت دروغ وايي او د وعدې خلاف ورزي کوي.

او په رواياتو کي چي کله به د رسول الله ﷺ مخته داسي جنازه تيريدله چي پر هغه به پور باندي ؤ او د هغه په ترکه کي به د دونه مال نه ؤ چي په هغه سره د ده قرضه ادا شي، نو رسول الله ﷺ به د دې پر ځای چي خپله د جنازې لمونځ ورباندي ادا کړي کوم بل صحابي ته به يې د جنازې د ورکولو امر کاؤ، څنګه چي په صحيح البخاري کي راغلي دي حضرت ابوهريرة ؓ وايي:

ان رسول الله ﷺ كان يؤتى بالرجل المتوفى عليه الدين فيسأل: هل ترك لدينه فضلاً؟ فان حدث انه ترك لدينه وفاء صلى والا قال للمسلمين: صلوا على صاحبكم. (صحيح البخاري كتاب الكفال حديث ۲۲۹۸) (۱)

دا ډول يو ځل رسول الله ﷺ د يوې جنازې د کولو څخه انکار وکړ، لکن کله چي يوه صحابي (حضرت ابو قتاده ؓ) د هغه د پور ذمه واري واخستله، نو بيا رسول الله ﷺ ورباندي د جنازې لمونځ ادا کړو حضرت سلمه بن اکوع ؓ وايي:

ان النبي ﷺ اتى بجنازة ليصلى عليها فقال هل عليه من دين؟ قالوا: لا فصلى عليه، ثم اتى بجنازة اخرى فقال: هل عليه من دين؟ قالوا: نعم، قال فصلوا على صاحبكم قال ابو قتادة: عليّ دينه يا رسول الله! فصل عليه (ايضا حديث: ۲۲۹۵) (۲)

په مستدرک حاکم کي ورباندي دا اضافه ده، چي کله ابو قتاده د هغه قرض ادا کړو، نو رسول الله ﷺ وويل: الآن بردت عليه جلدته، (رواه الحاكم فى كتاب البيوع حديث ۲۳۶ وقال صحيح واقره عليه الذهبي، طبع دار الكتب العلميه)

او حضرت عقبه بن عامر ؓ نبي کريم ﷺ څخه داسي روايت کوي:

(۱) ج۱ ص۳۰۸ (طبع سعيد)

(۲) الصحيح البخاري ج۱ ۳۰۶ (طبع سعيد)

لا تخيفوا انفسكم بعد أمنها ، قالوا : وماذاک يا رسول الله ؟ قال : الدين (مسند احمد مسند عقبه بن عامر ﷜ حديث ۷۳۲۰ طبع مؤسسة الرسالة)

ترجمه: تاسي تر امن حاصلولو وروسته ځان په ابتلاء كي مه اچوی ، صحابه كرامو سوال وكړه يارسول الله ﷺ ! هغه دخوف خبره څه ده ؟ رسول الله ﷺ قرض داره كيدل.

ددې ټولو رواياتو څخه داخبره ظاهره شوه چې مقروض كيدل بې دكومه حاجته پكارنه دی ، البته بعض صحابه كرامو څخه منقول دی چې ځان مقروض كول يې ښه بلل ، حضرت ميمونه ﷜ په باره ويل شوی دي.

كانت ميمونه تدان فتكثر ، فقال لها اهلها فی ذلک ولاموها ووجدوا عليها فقالت لا اترک الدين ، وقد سمعت خليلي وصفيي ﷺ يقول : مامن احد يدان دينا فعلم الله عزوجل انه يريد قضاءه الا ادی الله عز وجل عنه فی الدنيا . (السنن الكبری للنسائي كتاب البيوع حديث ۶۲۸۵) (۱)

ترجمه: حضرت ميمونه ﷜ به ډير قرض كولو كله چې دكوروالا وربانديي بدی ويله او ملامتولې به يې او دناراضګي اظهار به يې وربانديي كاؤ ، نو حضرت ميمونه ﷜ به ويل: زه به قرض پرينږدم ولي چې ما دخپل محبوب ﷺ څخه اوريدلی دی چې هغه ويل: كوم څوک چې قرض په دې نيت واخلي چې ادا يې كړي نو الله ﷻ به يې دهغه دطرف څخه په دنيا كي لا ادا كړي.

دغه حديث امام بيهقي ﷫ هم روايت كړی دی دهغه الفاظ دادی:

عن ميمونة انها كانت تداين فقيل لها : انک تداينين فتكثرين وانت موسرة ؟ فقالت : اني سمعت رسول الله ﷺ يقول من ادان دينًا

(۱) طبع مكتبه الحسن

ينوي قضاءه كان معه عون من الله علی ذلک فأنا التمس ذلک العون (السنن الكبری للبيهقي ، كتاب البيوع ، باب ماجاء في جواز الاستقراض وحسن النية ج۵ ص۳۵۴ طبع شرح السنة ملتان)

ددې څخه معلومه شوه چې حضرت ميمونه ﷜ په مالي اعتبار سره ښه وه دهغه سره سره يې هم دقرض معامله كوله دحديث مطابق يې دغه قرض دالله دكومک وسيله ګرزوله.

دا ډول دحضرت عائشي ﷜ په اړه روايت:

انها كانت تداين فقيل لها : مالک والدين وليس عندک قضاء ؟ فقالت سمعت رسول الله ﷺ يقول : ما من عبد كانت له نية فی اداء دينه الا كان له من الله عون فأنا التمس ذلک العون . (السنن الكبری للبيهقی ، كتاب البيوع ج۵ ص۳۵ طبع شرح السنة ملتان)

ترجمه: هغې به پور كاؤ كله چې ددې څخه سوال وشوه: ته ولي پور كوې ،او ته تنګدسته يې ؟ ددې وويل: ما درسول الله ﷺ اوريدلی دی: چې دچا دانيت وي چې پور ادا كړي او قرض وكړي ، نو دالله ﷻ دطرفه دهغه كومک كيږي ، نو زه دالله ﷻ كومک غواړم.

امام طحاوی ﷫ دا روايت په تفصيل رانقل كړی:

كان عمر بن الخطاب ﷜ اذا صلی الصبح يمر علی ابواب ازواج النبي ﷺ فرأی علی باب عائشة رجلاً جالسًا فقال مالي اراک جالسًا ههنا؟ قال دين لی أطلب به ام المؤمنين ، فبعث اليها عمر : ياام المؤمنين! اما لک في سبعة آلاف درهم أبعث بها اليک في كل سنة كفاية ؟ فقالت : بلی ! ولكن علينا فيها حقوق وقد سمعت النبي ﷺ يقول : من ادّان دينًا ينوي قضاءه كان معه من الله عزّ وجلّ حارس ،

فأنا احب ان يكون معي من الله عزّ وجلّ حارس (شرح مشكل الآثار للطحاوي حديث ٤٢٨٩ طبع مؤسسة الرسالة)

ترجمه: حضرت عمر ؓ چې په كله د سهر لمونځ ادا كړو نو دنبي كريم ﷺ دازواجو مهراتو پر حجرو به تيريدو ، هلته يې يو سړی وليد چې دعائشې ؓ دحجرې ددروازې سره ناست دی ، ورته ويل: څه خبره چې دلته ناست يې ؟ هغه وويل: چې زما قرض چې پر ام المؤمنين ؓ باندی دی دهغه لپاره ناست يم ، حضرت عمر ؓ هغې ته پيغام وليږو ورته يې وويل: يا ام المؤمنين ! زه هر كال تاته اووه زره درهم دركوم ايا هغه تاته كفايت نه كوي ؟ ام المؤمنين ورته جواب راوليږو چې بې شكه هغه ماته كفايت كوي لكن په هغه كې پر موږ ډير حقونه دی ، او ما دنبي كريم ﷺ څخه اوريدلی دی چې هغه وويل: چې څوک قرض وكړي او دادا كولو يې اراده وي ، نو الله ﷻ به دهغه سره يو حفاظت كوونكی ملګری كړي ، لهذا زه دا غواړم چې دالله ﷻ له طرفه زما سره حفاظت كوونكی ملګری وي.

ددې احاديثو څخه په ظاهره قرض نه بلل شوی ، او دا دهغو احاديثو سره متعارض دی كوم چې وړاندی تير شول ، ددې ظاهري تعارض دحل كولو لپاره امام طحاوي ؒ مفصل بحث كړی دی ، چې هغه خلاصه په دې ډول ده ، چې ناجائز او مذموم قرض هغه دی چې په هغه كې دادا كولو نيت نه وی او دغفلت په وجه هغه قرض پر هغه باندی سپور وي ، او دهغه خوف پر هغه باندی مسلط وي ، څنګه چې دغه حديث دهغه په اړه راغلی دی:

عن عبدالله بن عمر و بن العاص قال : قال رسول الله ﷺ الغفلة في ثلاث : الغفلة عن ذكر الله عز وجل ، ومن لدن ان يصلي صلاة الصبح حتى تطلع الشمس وان يغفل الرجل عن نفسه في الدين حتى يركبه (شرح مشكل الآثار للطحاوي حديث ٤٢٨٥)(١)

(١) طبع مؤسسة الرسالة.

څنګه چې حضرت عقبه بن عامر ؓ په حديث كې لا تخيفوا انفسكم راغلی او ددې وروسته طحاوي ؒ وايي:

فتأملنا هذا الحديث لنقف على المراد به ما هو ان شاء الله فوجدنا النهى الذي فيه مقصودا به الى اخافة الانفس بالديون معقولاً انه لا يخيف الانفس الا ما غلب عليها حتى صارت بذلك خائفة منه وكان ذلك كمثل ما قد روى عن رسول الله ص غير هذا الحديث.

ددې وروسته حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ؓ دحديث روايت شوی امام طحاوی ؒ وايي:

وكان ما كان من الديون التى لا تركب من هى عليه العمل فى خلاصه منها وبرائته منها الى اهلها بخلاف الديون التى يغفل من هى عليه عن برائته منها والخروج منها الى اهلها فمن كان من اهل هذه المنزلة الثانية كان مذموماً وكان مخيفاً لنفسه من الدين الذي عليه سوء العاقبة فى الدنيا بسوء المطالبة وفي الآخرة بما هو اغلظ من ذلك فاما ما كان من الدين الذي هو عليه على الحال الاول من هاتين الحالتين فغير خائف على نفسه ما يخافه على نفسه من كان على الحال الاخرى فى الدين الذي عليه بل من كان على الحال المحمودة من هاتين الحاتين فى الدين الذي عليه مرجوا له الثواب فيما هو عليه من ذلك والعون من الله عز وجل اياه على ما هو عليه فيه كما روى عن رسول الله ﷺ فيه . (شرح مشكل الآثار للطحاوي باب ٦٦٤ ج١١ ص ٦٧ الى ٦٩ طبع مؤسسة الرسالة)

امام طحاوی ؒ دتطبيق خلاصه داده چې كله انسان په غفلت سره قرض واخلي ، او دهغه دادائيګي اهتمام نه وي نو ناجائز او مذموم دی ، او حضرت ميمونه او حضرت

عائشة ؓ واقعات ددې غفلت په دین کي داخل نه دی ، بلکه چونکه دوی په دې غفلت
کي داخل نه وی ، او دهغه اسباب هم ددوی سره موجود ؤ نو په دې ددوی مدیون کیدل
جائز ؤ ، او دا خبره هم ظاهره ده چې دغه قرض دوی دضرورت په وجه اخستی ؤ ، نو ځکه
امام طحاوي ؒ دهغه وجه نه ده ذکر کړې ، او ددوی نیت دالله ﷻ مدد حاصلول ؤ ، نو
کراهت هم نه ؤ ، بلکه هغه موجب ثواب دی ، لکن نور خلک دامهات المؤمنین په ډول نه
دی ، نو نور چي کله قرض اخلی ددغه غفلت خوف او نورو مذموم حالات په احادیثو کي
ذکر دی ،نو ددې شیانو احتمال موجود وي ، په دې وجه فقهائي کرامو استقراض جواز تر
حاجت پوري مشروط کړی دی ، دکوم چي ماخذ حدیث دی چي صدقه او افضلیت ورته
ویل شوی دی په هغه کي الفاظ دادی:

فقلت : یاجبریل ! ما بال القرض افضل من الصدقة ؟ قال : ان
السائل قد یسئل وعنده والمستقرض لا یستقرض الا من حاجة .
(سنن ابن ماجة ابواب الصدقات حدیث : ۲۴۳۱ طبع دار السلام)

دغه حدیث اگر که دیوه راوي خالد بن یزید په وجه ضعیف دی (کمافی مصباح
الزجاجة) لکن دونه خبره ده چی مستقرض دکوم حاجت په وجه قرض اخستلی شي
داحادیثو دمجموعې څخه دا خبره واضح ده ، ځکه چی فقهائي کرام دحاجت په وقت کی
دجواز لپاره لا بأس څخه تعبیر کوي دکوم چي تقاضا داده چی حتی الامکان پرهیز کول
بهتر دی ، ځنگه چی په فتاوی عالمگیره کي دی:

لا بأس بان یستدین الرجل اذا کانت له حاجة لا بد منها ، وهو یرید
قضاءها .(عالمگیریه ، کتاب الکراهیة ج۵ ص۳۶۶)(۱)

البته په حاجت کي دنیوي او دیني دواړه داخل دی او په تعین کي یې اختلاف رایه
هم معتبر دی ، دامهات المؤمنین چي کوم عمل ذکر شوی دی ، په هغه کي دا خبره واضح
ده ده ، چی دهغو دقرض اخستلو ضرورت په دې نه وو چی دهغو دخوراک او څښاک
انتظام دبیت المال څخه کیدلو ، دعائشې او دعمر ؓ دسوال او جواب څخه ډا خبره

(۱) طبع رشیدیه وبلوچستان بک ډپو

واضح ده ، او عائشې ؓ وربانديي اعتراف هم کړی دی ، چی دې ته چی عمر ؓ څه
ورکوي هغه ددې لپاره دکال کفایت کوي ، لکن هغې څه نور حقوق ذکر کړل ، او دنورو
روایاتو څخه دا ثابته چی حضرت عایشې ؓ به په کثرت صدقات او خیرات کولو ،
ځنگه چي په بخاري کي راغلی دی:

وکانت لا تمسک شیئًا مما جاءها من رزق الله الا تصدقت . (صحیح
البخاري مناقب قریش حدیث ۳۵۰۵)(۱)

لهذا ظاهر داده چی هغو ضرورت دصدقاتو او خیراتو راتلو ، او ددوی طبیعت ؤ
چی دضرورت مند ضرورتونه به یې پوره کوی او هغه به یې خالي لاس نه پریښود که څه
هم پر دوی به تنگي راتله ، ددې څخه معلومه شوه چی دیني او دنیاوي دواړه ضرورتونه
دقرض کولو گنجائش لري.

داحادیث مذکوره او دصحابه کرامو ؓ دآثارو او دفقهاؤ دتصریحاتو څخه په
لاندي ډول احکام مستنبط کیږي.

۱: که دقرض داخستلو پر وقت دادائیگي نیت نه وي داسي قرض اخستل حرام دی
، ځنگه چي په فتاوی عالگیریه کي دی: ولو استدان دینا وقصد ان لا یقضیه فهوا آکل
السحت. (۲)

۲: که دکوم دیني یادنیوي حاجت لپاره قرض واخستل شي ، او دادائیگي نیت هم
لري ، او دادائیگي ظاهري اسباب هم موجود وي نو داسي قرض بلا کراهت جائز دی.

۳ : که کوم قرض دحاجت پوره کولو لپاره واخستل شي ، او دادائیگي نیت هم
ولري ، لکن اسباب میسر نه وي نو په هغه کي وقت کي قرض اخستل په عامو حالاتو کي
مکروه دی ، مگر دا چی دضرورت درجې ته ورسیږي.

(۱) الصحیح للبخاری ج۱ ص۴۹۷ (طبع سعید)
(۲) ج۵ ص۳۶۶ (طبع بلوچستان بک ډپو ورشیدیه)

۴: که د قرض اخستلو لپاره کوم حقيقي دنيوي يا ديني ضرورت نه وی، که دادائيگي نيت وي او که نه وي او اسباب هم موجود وي نو داسي صورت کي قرض اخستل کم از کم مکروه دی.

دې اصولو ته په کتلو سره نن ورځ چې په قرض سره خريد کول کوم چې عام رجحان ورته کيږي، هغه ته کتل پکار دی کوم شی چې په قرض رانيول کيږي، ايا په هغه کی واقعي حاجت شته؟ که واقعي دداسي حاجت پر بنا چی هغه دمتوسط ژوندکي لپاره عرفاضروري بلل کيږي، مثلا هغه دکورني سامان چې دمتوسط درجې دکورني سره وي، نو بې شکه دقرض يا قسط گنجائش شته، په دې شرط چې دقرض دادائيگي نيت وي، مگر يوائې دتعيش لپاره ځان قرض داره کول دکراهت څخه خالي نه دی؟

ترکومه چې دديني حاجتو تعلق دی، دهغه په باب فقهائي کرامو پې ددې مسئلې په اړه بحث کړی دی، که پر کوم شخص باندی حج يا زکوة فرض شوی وي، او دهغه دادائيگي لپاره دهغه سره مال نه وی نو ايا دهغه دقرض لپاره حج او زکوة ادا کولی شي؟

په دې سلسله کي حضرت طارق بن عبد الرحمن رحمه الله څخه روايت دی، هغه وايي:

سمعت ابن ابي اوفى يُسئل عن الرجل يستقرض ويحج قال: يسترزق الله، ولا يستقرض، قال: وكنا نقول: لا يستقرض الا ان يكون له وفاء (السنن الكبرى للبيهقي، كتاب الحج، باب الاستسلاف للحج ج۴ ص۳۳۳) (۱)

واضح دي وي چې معرفة السنن والآثار (كتاب الحج حديث ۲۷۲۴) (۲) او كتاب الام كي دا شبه شوې لکن په ظاهر سنن کبری کی ددې روايت حضرت عبد الله بن ابی اوفى رضي الله عنه باندي موقوف کيدل زيات واضح دی.

( ) ص۵۴۴ (طبع دار الكتب العلميه بيروت.

( ) باب الاستسلاف للحج ج۷ ص۳۶۳ (طبع موقع جامع الحديث)

لکن فقهائي کرامو دتصريحاتو په روښني کي ددې مطلب وجوب استقراض نفی ده، دجواز نفی نه ده، څنگه چی حضرت امام شافعي رحمه الله ددې حديث دنقل کولو وروسته وايي:

ومن لم يكن في ماله سعة يحج بها من غير ان يستقرض فهو لا يجد السبيل، ولكن اذا كان ذا عرض كثير فعليه ان يبيع بعض عرض او الاستدانة فيه حتى يحج (كتاب الام للشافعی ج۵ ص۳۵ طبع دار قتيبه)

او دحنفيه ؤ څخه دامام ابويوسف رحمه الله څخه روايت دی چی پر هغه باندي واجب دی چی قرض واخلي، لکن نور فقهاء وايي واجب نه دی، لکن که دهغه غالب گمان داوی چي هغه به کوشش وکړي او قرض به ادا کړي، نو دهغه لپاره افضل دی، چی قرض واخلي او فرض زکوة اوحج ورباندي ادا کړي، لکن که غالب گمان دده دادائيگي نيت نه وی نو افضل دادی چی قرض وانه خلي څنگه چې په در المختار کي دی:

وقالوا: لو لم يحج حتى اتلف ماله وسعه ان يستقرض ويحج ولو غير قادر على وفاءه، ويرجي ان لا يؤاخذه الله بذلك، اى لو ناويا وفاء اذا قدر كما قيده فى الظهرية.

ددې لاندي علامه شامي ليکلی دی:

قوله وسعه ان يستقرض: اى جاز له ذلک وقيل: يلزمه الاستقراض كما فى لباب المناسک قال ملا علی القاري في شرحه عليه: وهو رواية عن ابي يوسف، وضعفه ظاهر، فان تحمل حقوق الله تعالى اخف من ثقل حقوق العباد، انتهى، قلت وهذا يرد على القول الاول ايضًا ان كان المراد بقوله، ولو غير قادر على وفاءه، ان يعلم انه ليس له جهة وفاء اصلا اما لو علم انه غير قادر في الحال

وغلب علی ظنه انه لو اجتهد قدر علی الوفاء فلایرد والظاهر ان هذا هو المراد اخذاً مما ذکره في الظهیریة ایضاً في الزکوة حیث قال ان لم یکن عنده مال واراد ان یستقرض لاداء الزکوة فان کان في اکبر رأیه انه اذا اجتهد بقضاء دینه قدر کان الافضل ان یستقرض فان استقرض وأدی ولم یقدر علی قضاءه حتی مات یرجی ان یقضی الله تبارک وتعالی دینه في الآخرة وان کان اکبر رأیه انه لو استقرض لا یقدر علی قضاءه کان الافضل له عدمه ، انتهی ، واذا کان هذا فی الزکوة المتعلق بها حق الفقراء ففی الحج اولی .

دا ټول بحث دحج فرض په اړه دی ، چی دهغه حاصل دادی چی که چیري حج فرض شوی وی ، او دادائیگي انتظام نه وي ، نو دهغه لپاره یواځي دانه چي قرض کول جائز دی بلکه که دهغه دادائیگي غالب گمان وي نو کوشش دي وکړي چی قرض وکړي او قرض کول ورته افضل دی.

دعمرې په اړه مذهب راجح دادی چی کم از کم یو ځل عمره کول سنت مؤکده ده او دهغه وروسته مستحب ده ، په در المختار کي کي دی:

والعمرة في العمر سنة مؤکدة علی المذهب وصحح في الجوهرة وجوبها . (شامي ج۲ ص۴۷۲)(۱)

چونکه عمره واجب نه ده ، نو که دچا سره فوري انتظام نه وی نو دهغه لپاره دعمرې په خاطر قرض اخستل په ظاهر مکروه دی ، که فوري دروپو انتظام نه وي لکن دذرائع آمدني په لحاظ امید وي چي عنقریب به هغومره درقم انتظام کیږي ، چي دعمرې اخراجات په پوره کړي نو دهغه لپاره افضل داده چی انتظار وکړي ، یعنی دقرض پر ځای انتظار وکړي کله چی زمینه مساعده شوه او عمره وکړي تر هغه وړاندي خلاف الاولی ده ، ولي چي فقهاؤ دحج کوونکی لپاره مستحب بللې ده ، او که پر ده باندي قرض وي هغه

(۱) طبع سعید.

دي هم وړاندي تر تلو خلاص کړي ، که هغه دین معجل وی دهغه ادائیگي دحج څخه وړاندي واجب ده ، که مؤجل وی نو افضل ده چی اول قرضه خلاص کړي بیا ولاړ شي ، څنگه په غنیة المناسک کی دی:

وکذا مدیون لا مال له یقضی فانه یکره له الخروج الی الحج والغزو الا باذن الغریم ... هذا في الدین الحال اما فی المؤجل فله ان یسافر قبل حلول الاجل ... ولکن یستحب ان لا یخرج حتی یوکل من یقضی عنه عند حلوله ... ولو کان له مال فیه وفاء للدین یقضی الدین اولاً وجوبًا اذا کان معجلا ، وان کان مؤجلا فالافضل ان یقضی الدین. (غنیة المناسک ص۳۵)(۱)

او دوړاندي لا چي واجب دین مؤجل وی هلته هم افضل داده چی اول هغه دین ادا کړي او بیا حج نفل یا عمره نفلي وکړي ددین څخه وړاندي خلاف الاولی کار دی.

لکن بعض صورتونه داسي دی چی کله دهغه دا خیال چی انتظام وشي نو هغه وقت بیا په عملي لحاظ عمره ممکن نه وي ، مثلا دا هغه وقت چی ویزه نه پیدا کیږي ، یا کومه ښځه وي چي بیا محرم نه وي ، یا دکومو خاصو ملگرو سره سفر وي ، هغه بیا میسر نه وی ، یا هغه ته ددې وقت علاوه بل وقت دسفر زمینه مساعده نه وي ، نو امید دی چی انشاء الله چي دهغه لپاره قرض کول یا په قسطو داخراجاتو ادائیگي کول خلاف الاولی نه دی ، ولي چی حج فرض لپاره ادائیگي انتظام دنه وجود په وقت کی قرض کول افضل دی ، نو حج نفل یا عمرې لپاره که دادائیگي انتظام کولو شرط سره وي بې له کراهت جائز دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم.

دلته دا خبره واضح کول مناسب ده چی قرض مکروه او مذموم هلته دی چي ده ته په عرف مقروض ویل کیږي بعض مرتبه ددوو کسانو یا تاجرانو په منځ کي معامله روانه وي چی هغه دمال دکمي په وجه نه وي بلکه عملي سهولت لپاره په مختصر مدت کی دقرض معاملات کوي ، او وروسته بیا په کوم قریبي تاریخ ادائیگي کوي ، مثلا بیع استجرار یا ددې سره مشابه معاملات کوي ، دا که څه هم استقراض دی ولي په عرف عام کي دېته قرض نه ویل کیږي ، ولي چی هروخت چی وغواړي مقاصه کولی یې شي ، دغه

(۱) (طبع ادارة القرآن)

استقراض دكومي مالي كمي په وجه نه وي ، بلكه دمعاملاتو دكثرت په وجه دهر ځل پر ځاى يوځل ادائيګي كوي ، چې دا داوسايني لپاره وي ، او په دې بنياد كار كوي ، لهذا په ظاهر كي كومه دكراهت خبره نه وي ، او فقهاؤ كرامو بيع بالاستجرار بې له كراهته جائز بللې ده هغه ددې دليل ده.

والله سبحانه وتعالى اعلم ، محمد تقى عثماني ، دار الافتاء دار العلوم كراچي ، ۱۳ ، شعبان ۱۴۳۰ھ

فصل فى المسائل الجديدة والمتفرقة المتعلقة بالبيع

(دخريد او فروخت اړوند جديد متفرق مسائل

۱: دسي آئي ايف معاهدې شرعي حيثيت او تر پورټ پورې تر رسيدلو وړاندې داول بائع ملكيت دى.

۲: ايف او بي معاهده او دهغه دشرائطو شرعي حكم.

سوال: قابل احترام جستس (قاضي القضات) مولانا تقي عثماني صاحب ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

اميد دى چې په خير او عافيت سره به ياست ، ما يو كتاب (اسلام كا قانون معاهده) ليكلى دى دا په انګريزي ژبه ده دهغه عنوان (Islamic law of Contract) دى دځو عنواناتو په اړه دكافي كوشش باوجود مواد پيدا نشول ، براه كرم ماته يې دفتوى په شكل كي جواب مهيا كړه ، جواب په اردو كي راكړه ، زه يې په انګريزي ترجمه كوم ، كه جواب په عربي كي راكړې نو ډيره به ښه وي ، چې زه يې په من عن سره شائع كړم ، كتاب مذكور په آخري مراحلو كي دى او انشاء الله ژر به نشر ته وسپارل شي ، كله چې شائع شې نو يوه كاپي به يې تاسي ته هم درولېږم ، ددې سوالاتو چې په دوهم مخكي راځي جواب طلبه دى (۱)

(۱) دا سوالات په رجستر كي نشته نو ځكه په تفصيل سره ندي ذكر شوي ، دجواباتو څخه معلوم شول سوالات دسى آئي ايف دانشورنس دشرط څخه علاوه چې داسي شرط طى كړل شي ، چې دبائع له طرفه تر اوګوټ رسول كيږي نو دبائع په ملك كي دى ، او دايف او بى په معاهده كي بيا داسي شرطونه وضع شوى دى چې پورټ ته په رسيدلو سره دبائع ذمه ختم شوه او پورټ واكدارانو درانيوونكى وكيل بلل كيږي ، بهر دلته خريدار قبضه څه وقت متحقق كيږي ؟ او دپورټ څخه دهلاكيدلو ذمه پر چا عائد كيږي

جواب: دسي آئي ایف چي کوم شرائط بیان شوی دی دهغو څخه دانشورنش (بیمه ، دامان) شرط صحیح نه دی ، ولي چي دانشورنش مروجه طریقه عمومًا سود یا قمار باندی مشتمل وی ، (۱) باقي تمام شرائط درست دی ، او دهغه اثر به داوی چی کله مال پورته ونه رسیږي ، تر کومه ځای چي طی شوی وی او مال تراوسه دلیږونکی په تحویل کی دی دخریدار په قبضه کي نه دی ، لهذا که دلته مال ضائع یا خراب شي نو نقصان به پر لیږونکي وي (۲) او تر څو مال تر پورته پوري نه وي رسیدلی نو خریدار هغه وړاندي نه شي پلورلی ، (۳) ددې څخه علاوه که انشورنس اسلامي اصولو مطابق تر سره

؟ او دپورته څخه وړاندي دمال پلورل خریدار کولی شي یا نه ؟ مفتي صاحب ددې دواړو صورتو ځانته ځانته جوابات ورکړي دی ، دسوالاتو تفصیل دجواباتو څخه هم ښه سرگندیږي . (محمد زبیر)

(۱) دتفصیل لپاره دمفتی اعظم پاکستان مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه رساله ملاحظه کړی .

(۲) وفی خلاصة الفتاوی ج ۳ ص۹۰ (طبع مکتبه رشیدیه کوټه) هلاک المعقود علیه قبل القبض ان کان بآفة سماویة او بفعل البائع او بفعل المعقود علیه بأن کان المعقود علیه حیوانًا فقتل نفسه فان البیع یبطل فی هذا کله اما اذا کان الهلاک بآفة سماویة او بفعل المعقود علیه فلا یشکل وکذلک اذا کان بفعل البائع لان المبیع فی یده مضمون بالثمن قبل القبض بدلالة انه لو هلک سقط ثمنه من المشتری ولا یجوز ان یکون مضمونًا بالقیمة ... الخ .

وفی الشامیة ج۴ ص۵۶۰ (طبع سعید) لو هلک المبیع بفعل البائع او بفعل المبیع او بأمر سماوی بطل البیع ویرجع بالثمن لو مقبوضًا ... الخ . وکذا فی الفتح القدیر ج۵ ص۴۹۶ (طبع رشیدیه)

(۳) ولي چي په داسي صورت کي دغه بیع قبل القبض ده جائز نه ده .

وفی مسند احمد ج ۳ ص۴۰۲ عن حکیم بن حزام رضي الله عنه قال قلت یا رسول الله ! اني اشتری بیوعًا فما یحل لي منها وما یحرم علی ؟ قال فاذا اشتریت بیعًا فلا تبعه حتی تقبضه .

وفی سنن الترمذي رقم الحدیث ۱۱۵۵ وسنن ابی داؤد رقم الحدیث ۳۰۴۱ وسنن النسائي رقم الحدیث ۴۵۵۱ عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لا یحل سلف وبیع ولا شرطان فی بیع ولا ربح مالم یضمن ولا بیع مالیس عندک (بحواله مشکوة المصابیح ص۲۴۸)

وفی الهدایة ج۳ ص۷۸ و۷۹ (طبع مکتبه رحمانیه) ومن اشتری شیئًا مما ینقل ویحول لم یجز له بیعه حتی یقبضه لانه نهی عن بیع مالم یقبض ولان فیه غرر انفساخ العقد علی اعتبار الهلاک آه .

شي نو دمال تر ضائع کیدلو وروسته دنقصان دعویدار درانیوونکی پر ځای یواځي پلورونکی لره ده .

۲ : دایف او بي معاهدې چي کوم شرائط ذکر شوی دی دهغه درویه دغه معاهده شرعًا صحیح ده دادی چی دکوم جهاز په واسطه سامان راغوښتل کیږي ، شرکت ته باید وویل شي چی دوی دخریدار څخه وکیل او مال قبض کړي ، ددوی دشرکت په کشتی وغیره کي چي کله مال پورته شي گواکي دبائع دملکیت څخه ووت او دخریدار په ملک کي داخل شو ، اوس که مال ضائع یا خراب شي نو نقصان به دخریدار په ملک کي کیږي ، (۱) او دخریدار لپاره به دا هم جائز شي چی کله هغه ته اطلاع ورسیږي چي مال شرکت ته وسپارل شو وروسته یې وړاندي وپلوري .

والله سبحانه وتعالی اعلم ، ۱۴۰۹/۲/۱ھ (فتوی نمبر ۲۳۹ / ۴۰ الف)

وفی فتح القدیر ج۵ ص۲۶۶ قال ابوحنیفة وابو یوسف رحمهما الله یمتنع البیع قبل القبض فی سائر المنقولات ویجوز فی العقار الذي لا یخشی هلاکه آه .

وفی المبسوط للامام السرخسي ج ۱۳ ص۸ قال ومن اشتری شیئًا فلا یجوز له ان یبیعه قبل ان یقبضه ولا یولیه احدًا ولا یشرک فیه ... لیس لمشتری الطعام ان یبیعه قبل ان یقبضه لما روی ان النبي صلی الله علیه وسلم نهی عن بیع الطعام قبل ان یقبض وکذلک ما سوی الطعام من المنقولات لا یجوز بیعه قبل القبض عندنا آه .

وفی البدائع ج۵ ص۱۴۷ (فلا) یصح ... بیع منقول قبل قبضه ولو من بائعه . آه .

وفی البدائع ج۵ ص۱۴۶ (ومنها) وهو شرط انعقاد البیع للبائع ان یکون مملوکًا للبائع عند البیع فان لم یکن لا ینعقد وان ملکه بعد ذلک بوجه من الوجوه الا السلم خاصة وهذا بیع مالیس عنده ونهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن بیع مالیس عند الانسان ورخص فی السلم آه .

وفی تکملة فتح الملهم ج۱ ص۳۵۱ (طبع مکتبه دار العلوم) قال ابو حنیفة وابویوسف یمتنع الیع قبل القبض فی سائر المنقولات ، ویجوز فی العقار لا یخشی هلاکه .

(۱) وفي الهدایه ج ۳ : ص۱۹۰ باب الوکالة بالبیع والشراء (طبع مکتبه رحمانیه) فان هلک المبیع فی یده قبل حبسه هلک من مال المؤکل ولم یسقط الثمن لان یده کید المؤکل فاذا لم یحبسه یصیر المؤکل قابضًا بیده ، وکذا فی البحر الرائق ج ۷ ص۱۵۶ باب الوکالة بالبیع والشراء (طبع سعید) فلو هلک فی یده قبل حبسه هلک من مال المؤکل ولم یسقط الثمن لان یده کید المؤکل فاذا لم یحبس یصیر المؤکل قابضًا بیده وکذا فی خلاصة الفتاوی ج ۴ ص۱۵۸ الفصل الخامس فی الوکالة بالشراء .

ددارالافتاء جامعه دار العلوم کراچي دبزناس پر فتوی دډاکټر عبدالواحد صاحب اشکال او دهغه جواب

سوال: بخدمت گرامي حضرت مولانا تقی عثماني صاحب مدظله العالي.
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

څه وقت وړاندي ددار العلوم ددارالافتاء څخه څو فتواوي ورکړل شوې وې چي پر هغه باندي تعجب دی، په دې خیال چي توثیق او تصحیح څخه وړاندی به دجناب پر هغه دسم نظر فرصت نوی پیدا شوی، دا هم احتمال لری چي هغه دی ما سم صحیح نه وي فهمولي، او ما به دکتابو څخه سم صحیح نتیجه نوي ترلاسه کړې، بهر حال ماته یقینا باعث تشویش جوړ شو، ولي چي دجناب او بیا ددار العلوم حیثیت په عامو خلگو کي دیو سند دی، خلگ ستاسی نوم دمعارضې په ډول پیشوی، نو څه ویل ډیر مشکل دی، په فوری ډول څو مسائل په لاندي ډول دی:

۱: د Biznas په باره کي فتوی په دې اړه چي ما څه لیکلی دی دهغه یوه کاپی ورسره ملفوف ده، ددار العلوم څخه شائع ۲۰/۶/۱۴۲۳ھ چي کومه فتوی لیکل شوې ده، په دې کي اول خو داخبره په فهم کي رانغله، که په دوهم صورت کي چیري Product کي قیمت دبازاري قیمت څخه زیات اخستل شوی وی، نو واضح قمار دی، دشرکت په حق کي خو درشوت خبره صحیح ده، قمار نه دی، والله اعلم، بهر حال داخبره لا ډیره دپریشاني نه ده، لکن ددې وروسته چي څه لیکلی دی،: اوس پاته شوه داخبره چي دغه فیس زیات یا برابر یا کم دی، دهغه تحقیق دمفتي ذمه واري نه ده، بلکه څوک چي غواړي چي په دې شرکت کي ځان داخل کړی هغه دی په خپله تحقیق وکړي که دتحقیق پر وخت دهغه په زړه کي داخبره کښیني ددغه پروډکټ چي کوم فیس دی هغه ادا کړي او هغه واقعة دبازار سره برابر دی نو په هغه کي دی شمولیت اختیار کړي، ورنه اجتناب دی وکړي.

حالانکه عام خلگ به څه تحقیق وکړي؟ ددار العلوم مفتیان صاحبان دی په خپله دا ړونده خلگو څخه تحقیق وکړي او دا آسانه ده، ځان ته دې معلومه کړي او حتمي

فیصله دي وکړي، دخلگو لپاره به سهولت وی، که موږ دشرکت دخلگو څخه سوال وکړو نو هغه حتمي راته دبرابر یاکم قیمت یقین راکوي.

دریم صورت کي لیکلی دی: که پروډکټ کي دبازاري قیمت سره برابر هم وي بیا هم دپروډکټ دمقصود نه کیدلو دوجې دقمار مشابه دی، هم ددې سره دکمیشن ایجنسي پروډکټ کي دخریداري سره مشروط خرابي هم ده، لهذا ددې څخه اجتناب کول پکار دی، دشریکان اکثریت دغه دریم ډول دی، ددې حقیقت او نفس الامري واقع یې نظر انداز کړې، داګر په لفظ یې تعبیر کول ډیر عجیب دی، بیا یې وړاندي په یوه بله خبره باندي نوره هم کمزوره کړې ده یعني: داوکالت پروډکټ په معاملې سره مشروط دی... الخ بیا چي یې دکوم اشکال جواب کړی دی هغه هم ناقابل فهم دی، شاید چي اصل صورت حال په ذهن کي مستحضر نهٔ، دا ما په خپل جواب کي په خاص وضاحت سره لیکلی دی نتیجه داده چي بزناس شرکت والا هریو په وړاندي ستا فتوی دخپل حق سره پیشیږي.

والسلام علیکم، عبدالواحد غفرله، ۱۳/رمضان المبارک؟ ۱۴۲۳ھ.

دمذکوره استفتاء سره دډاکټر عبدالواحد صاحب خپله درج ذیل مضمون هم ددې سره ارسال کړی دی.

بزناس یا ددین ودنیا ناس

متوجې اوسی
(حضرت مولانا مفتی ډاکټر عبدالواحد صاحب جامعه مدنیه لاهور)

څه وقت وړاندي دبزناس (Biznas) په نامه یو شرکت کار کوي، په کراچي او اسلام آباد څخه وروسته اوس په لاهور کي یې هم زور نیولی دی دغه شرکت پر انټرنیټ باندي کار کوي داویا ډالرو په فیس سره شریک ته دکمپیوټر څه کورسونه او ویب پاڼي وړاندي کوي، تر دې حده معامله سمه په نظر راځي، ولي چي دچا ددې پیشکش سره دلچسپي وي نو هغه فیس ورکوي دا جائزده.

لکن ددې شرکت دکار دعامولو راز په بل ډول دی ، هغه دا چي کله څوک دغه اویا ډالره فیس ورکړي شرکت شریک ته دنوري ګټي پیشکش کوي ، که دغه شریک دوه نور شریکان پیدا کړي او هغه بیا وړاندي هغه نور دوه پیدا کړي تر دې چي کله نه کسان پوره شي نو اول شریک ته په شرکت کي حصه ورکول کیږي.

اول شریک زید

بکر

خالد

عمر

عثمان

حامد

شاهد

غالب

طالب

ثاقب

چپ طرف ته درې او راسته طرف ته شپږ شریکان دی

دشرکت خلګ وایي: کله چي ټول شریکان څوارلس شي نو شرکت تاته پنځوس ډالره درکوي ، او کله چي ټول دیرش شي نو هغه تاته سل ډالره درکوي ، بلاواسطه مزید شریکان پیدا کولو پر هر شریک تاته پنځه ډالره درکول کیږي.

حکم: دغه کار په مکمل ډول جائز نه دی ، ولي چي دهغه تر ټولو لویه وجه داده چي دا اګرکه ددلالي صورت دی ، لکن په دې کي ددلالي شرائط مفقود دی ، دلال (Broker) ته پر خپل کوشش باندی اجرت ورکول کیږي ، لکن دبزناس په شرکت پر خپل کوشش اول خو هیڅ نه وي ، او که اجرت ورکول کیږي هغه دبل چا پر کوشش ورکول کیږي ، مثلا دپورتنی نقشې سره سم زید دخپل کوشش دوه شریکان جوړ کړي دی یعنی بکر او خالد ، لکن فقط دهغه پر کوشش چي هغه شریکان جوړ کړی دی زید ته اجرت نه ورکول کیږي ، که زید وړاندی نور کوشش ونکړي او صرف بکر او خالد کوشش کوي ، او شریکان جوړ کړی ، هغه نور شریکان جوړ کړي تر دې چي دنقشې مطابق کم ازکم نه شریکان جوړ شي ، نو اوس زید ته کمیشن ورکول کیږي او دا دټولو شریکانو په تناسب

وی ، اوس که بکر او خالد نور وړاندی کوشش ونکړی نو زید ته هم څه نه ورکول کیږي ، حاصل دا چی په دې معامله کي په لاندي ډول خرابیاني دی:

۱: دزید خپل کوشش تردې شرط پوري مشروط دی چي وړاندي اووه نور شریکان جوړ کړي ، هغه هم هغه اووه شریکان چي نورو جوړ کړي وي ، داجرت لپاره دا ډول شرط په خپله معامله فاسدوي.

۲: که زید ددوو شریکانو څخه وروسته بالکل کوشش ونکړي ، هغه دده جوړ کړل شوی شریکان کوشش کوي که سلسله نوره درازه کړي ، نو دنورو دکوشش په وجه زید ته معاوضه ورکول کیږي ، ولي چی زید ته په یو خاص عدد دشریکانو اجرت ورکول کیږي ، چي پر نه شریکانو ورته پنځوس او پر دیرش شریکانو ورته سل ډالره ورکول کیږي ، دا هم جائز نه دی.

په عام ډول دا مغالطه ورکول کیږي ، چی وړاندی چي کوم کوشش کیږي دا ټول دزید کوشش بلل شوی ، که زید بکر او خالد شریکان نه وای جوړ کړي نو وړاندي به څنګه سلسله روانه وای ؟ علاوه که زید نور دترغیب کوشش وی ، ددې مغالطې جواب دادی چی خالص دمحنت ترغیب ورکول په خپله محنت نه دي دکوم چي عوض مقرر شي ، مګر که څوک پر دې کار وګمارل شي ، او بل ته دکار کولو وترغیب ته دلالي نه ویل کیږي پدې وجه زید یوائي دخپل کوشش په عوض کي داجرت حق دار بلل کیږي ، په دې وجه زید یوائي دخپل کوشش داجرت حق دار دی ، ددې پر بنیاد چي وړاندي نور خلګ کار کوي دهغه په محنت کي دی شریک نه دی.

تنبیه: دشریعت ضابطه ده (الامور بمقاصدها) یعنی هر کار او معامله تر مقصده ده ، کله چی دبزناس شرکت کار ته وکتل شي نو دهغه دوې حصې دی یوه حصه چي هغه ته پروډکټ ویل کیږي ، یعنی دکمپیوټر دټریننګ کورس او ویب سائټ خدمات ، دوهم حصه یې مارکیټینګ ورته ویل کیږي ، یعنی نور شریکان پیدا کول ، او هغه په خپله آمدني کي شریک کول ، ددې دوو حصو څخه دشرکت چي کوم اصل مقصد دی ، هغه مارکیټنګ ده او پروډکټ یې یوائي داشاعت کار کوي ، په واقع کی تجارتي بنیادو باندی کار کول دی ، زموږ پر دغه دعوا باندی مشاهده کافي دلیل دی چی ددې شرکت

څوک شريک جوړ شي ، دهغو سره داکثرو سره دکمپيوټر سهولت هم نشته ، او ددوی دکمپيوټر سره دالف ، ب ، واقفيت هم نشته ، او نه ددوی دکمپيوټر دويب سائټ او کورسو سره دهغو دلچسپي شته ، يا ددې سره دهغو کوم مفاد تړلی دی ، غرض دا چې دشرکت اصل مقصد يواځي مارکيټنګ دی ، دهغه دطريقه کار موږ په وضاحت سره بيان کړی دی ، چې هغه دسره څخه جائز نه ده ، په اصل کې دا خبره ده چې دا په خپله يو نوی شی نه دی بلکې دډېره وخته داسي طريقې چليږي دا په حقيقت کې دلوټ ماري يوه طريقه ده ، البته دلته دډير حکمت پر بنياد دغه لوټ ماري کيږي چې نور هم ورسره شريک کړي او خپل جرم ددوی ظاهر نه شي ، او دوی په خپله په لالچ سره دخلګو مالونه دډير نه ډير راجمع کړي.

عبدالواحد / جامعه مدنيه لاهور.

جواب : ګرامي قدر مکرم جناب مولانا ډاکټر عبدالواحد صاحب ، زيد مجدکم السامي.

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !

زه په ډير انتهائي ندامت سره ستا دخط جواب په تاخير سره ليکم ، چې غالبًا ماته په شوال کې رسيدلی ؤ ، او په هغه کې ددارالعلوم څخه دجاري شوې درو فتواؤ ([1]) په باره کې توجه راګرزولې ده ، چې خطوطو ته مراجعت غور او فکر غواړي ، دهغه زما سره ځانته ترتيب وي ، اوس صورت حال داسي شوی دی ، چې هر وقت يو نه يو فوري تقاضا مسلط شي ، دراتلونکو کثرت ، دفوري ډاک او اسفارو سلسله ، دهغه دوجي قابل مراجعت امور وروسته کيږي ، ستا په مکتوب چونکه درې مسائل وې ، دځه وقت لپاره ديوې مسئلې باندي غور او مراجعت وقت پيدا شو مګر بيا يو عارض رامخته شو ، ددې باوجود چې هغه مکتوب زما پر ميز هره ورځ پروت وي ، لکن دجواب دليکلو په موقع کې نه وم ، تردې چې دغه وقت راغی ، بهرحال ! پر تاخير دزړه دکومې معذرت خوايم ، او ورسره شکرګزار يم چې تا ودې امورو ته توجه راوګرزوله.

([1]) دمزيد سوالات او دهغه جوابات په متعلقه باب کې راروان دی انشاء الله (محمد زبير)

تا ليکلی دی: چې دتوثيق او تصحيح وړاندی کيدلی شي چې تا فرصت نه وی پيدا کړی ، واقعه داده چې تر خپله وسه دا کوشش کوم چې دنورو فتواوي بنه په فکر او غور سره وګورم ، چنانچه په داسي وقت کې دنورو فتواوي منع کوی تر څوچې ذهن فارغ نه وی ، لکن دفتوی کار هم داسي دی چې هر وقت دغلطي ويره وي ، بالخصوص په داسي مسائلو کې چې هلته صريح جزئيه موجوده نه وي دالله څخه خواست کوم چې هغه زموږ حفاظت وکړي.

اوس درته دهغه درو مسائلو په اړه ګذارشات وړاندي کوم

۱: اوله مسئله دبزناس ده ، بنده ستا پر ارشاداتو باربار غور وکړو ، په دې اړه تا درې خبري کړي دی: اوله خبره داده چې که پروډکټ قيمت دبازار دقيمت څخه زيات اخستل شوی وي نو دکمپنۍ په حق کی رشوت کيدل خو ظاهر دی قمار نه دی ، دبنده په ناقص فکر کی ددې قمار اړخ دادی چې کوم قيمت زيات ورکول کيږي هغه پر دې موهوم اميد باندی داؤ لګوي ، چې مارکيټنګ سسټم په نتيجه کې هغه ته څو چنده زيات رقم حاصليږي ، او داډول تعليق التمليک علی الخطر موجود شو والبته که هغه ته دې طرف ته وکتل شي ، دغه زائد قيمت دلالي دعقد څخه ورکول کيږي ، نو ددغه درشوت کيدل هم ظاهر دی بهر صورت حرام دی.

تا بله داخبره ذکر کړې ده: چې دپروډکټ قيمت زيات يا کم معلومول دعامو خلګو پر ځای بايد په خپله تحقيق وشي او حکم يې وليکل شي ، نو واقعه داده چې موږ دمعدد اشخاصو څخه تحقيق کړی دی نو معلومه شوه چې دپروډکټ قيمت يا فيس دبازار څخه زيات نه دی ، لکن موږ دتکنيکي باريکيو څخه زيات خبر نه يو ، نو په دې خاطر احتياط داوبلل شو چې مناسب داده چې خپله متعلقه افراد ددې پابنده شي چې هغه په خپله تحقيق وکړي.

دريمه خبره تا دا ليکلې ده: چې دلال ته پر خپل محنت باندی دلالی ورکول کيږي ، لکن په بزناس کې اولاً پر خپل محنت خو اجرت نه وي که اجرت ورکول کيږي نو دنورو دمحنت په شرط ورکول کيږي دا ډير مهمه خبره ده ، او دفتوی ليکلو څخه وړاندي بنده په خپله دفتوی ليکلو والا متنبه کړو ، لکن کله چې هغه دمتعلقه افرادو څخه تحقيق

وکړی هغو صراحة ورته ويلي دي چې هر سړی چې اول خل دوه شريکان مومي نو هغه ته شپيته روپۍ د هر شريک پر سر ورکول کيږي ، څنگه چې دهغه بيان او استفتاء په صفحه ۴ او ۵ کې ذکر ده ، بنده پر دې بنياد دهغه فتوی توثيق کړی دی ، ستا دارشاد وروسته بنده بيا مکرر ددې اړخ تصديق لپاره ويلي دي ، هغو بيا تصديق کړی ، لکن که واقعةً صورت حال هغه وي چې تا بيان کړی دی او پر خپل محنت څه نه ورکول کيږي ، بلکه کميشن د نورو پر محنت موقوف وي ، او دغه خبره ثابت وي نو بنده ددې فتوی څخه يقيناً رجوع کوي ، او که دغه خبره يقيني تا ته په درجه دثبوت کې رسيدلې وي نو ما ته ضرور اطلاع راکړه

او که دغه ثابت هم نه شي بيا هم چونکه دا دول فلانو نه يو په بل پسې وړاندې راروان دی ، نو په دې کې داجتماعي غور وفکر مناسب دی ، او بنده دخپلې دار الافتاء حضراتو ته ويلي دي ، چې هغه داهل فتوی يو مجلس راوغواړي او پر دې باندې اجتماعي غور او فکر وکړي.

والسلام ۲۰/۷/۱۴۲۱ھ (فتوی نمبر ۱۸/۲۴۱)

دحضرت مفتي صاحب کتاب (فقهي مقالات جلد اول) کې دقسطو پر خريد او فروخت ، مرابحه مؤجله ، حقوق مجرده دخريد او فروخت وغيره اړوند مسائلو شبهات او دهغه جوابات.

وضاحت: ددار العلوم حقانيه اکوړي خټک مفتي غلام قادر نعماني صاحب ، دبيع بالتقسيط ، مرابحه مؤجله او دبينکو کې داجر قرض ، حقوق مجرده دخريد او فروخت او مروجه پگړي سره اړوند مفتي صاحب پر مقالو څه اشکالات تحرير کړي دي ، او مفتي صاحب ته يې خط ليکلی دی ، او دهغه سره هغه خپل مطبوعه تحرير هم راليږلی دی ، بيا حضرت مفتي صاحب دهغه جوابي خط او اشکالاتو جواباتو باندې مشتمل فتوی لاندې پيش کړی) (مرتب عفی عنه)

خط از مفتي غلام قادر نعماني صاحب

گرامي قدر محترم المقام جناب شيخ الاسلام حضرت مولانا مفتي محمد تقي صاحب عثماني مدظله العالی ، دمسنونه سلام څخه وروسته ، اميد دی چې صحت به دې ښه وي ، گذارش دادی چې بنده ، فقهي مقالات، جلد اول څه سرسري مطالعه کړی ، په هغه کې يې څه اشکالات وړاندې کړي ، هغه ارسال خدمت دی ، اميد دی چې موږ به دهغه دجوابو څخه مطمئن کړې.

والسلام اخوکم فی الله ، غلام قادر عفی عنه ، دار العلوم حقانيه اکوړي خټک

پر شبهاتو مشتمل تحرير

ددور حاضر محقق او دجديد معاشياتو ماهر شيخ الاسلام حضرت مولانا مفتي محمد تقي صاحب عثماني فقهي خدمت قابل تعريف دی و مولانا عثماني صاحب ددې دور نو وارېد جديد مسائل دحل لاره پلټلې ده ، دعلماء امت لپاره يې داکثرو مسائلو راهنمائي کړې او دتحقيق لاريې ورته اسانه کړې ده ، علماء خصوصًا او عوام عمومًا دده دتحقيق څخه مستفيد شوی دی ، لکن دا هم ظاهره خبره ده ، چې دقديم زماني څخه دعلماؤ په اکثر مسائلو کې اختلاف رائ راروان دی ، او ددې اختلاف رائ پر بنسټ اختلاف دمذاهبو راغلی دی ، او هغه امت مسلمه تسليم کړی دی ، بنده دجناب مفتي صاحب دقدر تصنيف (فقهي مقالات) جلد اول مطالعه کړې ده ، په دې تصنيف کې مصنف صاحب خپله رايه قائم کړې ده ، او په دې رايه کې څه اشکالات دي لهذا مصنف صاحب پر اراؤ باندې دنظر ثاني ضرورت دی ، ترڅو ددې کتاب اشکالات زائل شي او دکتاب تنقيح وشي ، او چونکه دغه کتاب اوس عام شوی دی لهذا مناسب ده چې دغه تحرير نشر کړل شي ، ترڅو دلوستونکو شبهات رفع شي ، ترتيب دادی چې موږ اول هغه مسائل ليکو په کوم کې چې مصنف خپله رايه قائم کړې وي ، او بيا دمصنف صاحب رايه ذکر کوو ، او بيا وربانديې اشکال ذکر کوو.

اشکال۱: مسئله داده که څوک وغواړي چې خپل مال دنفع سره په قرض سره وپلوري نو دهغه دوه صورتونه دي ، اول صورت دادی چې بائع دنفع مقدار ونه ښيي او مال وپلوري ، دوهم صورت دادی چې مقدار معلوم کړي ، مثلا داسې ووايي چې تر

لسو میاشتو به قرض وي ، او د اصل قيمت څخه علاوه زر روپۍ نفع دی ، په فقه کي اول صورت ته مساومه ویل کیږي ، او دوهم صورت ته مرابحه مؤجله ویل کیږي ، اوس په دواړو صورتو کي که بائع مشتري ته ووایي که ته د قرض د مدې څخه وړاندي روپۍ راکړې ، نو زه ددې مدت په عوض کي تا ته دونه روپۍ درمعاف کوم ، نو دغه مدت په مقابله کي نفع د معافي او کمي سره بیع مساومه جائز نه ده ، او په مرابحه مؤجلې په صورت کي ددې تعجيل د وجی په نفع کي کمي او کول جائز ده ، بلکه فقهاؤ تصريح کړې ده ، چي کله دائن د مدیون څخه د دین د تعجيل مطالبه کوي ، نو ددې تعجيل په صورت کي بقدر تعجيل مدت دائن د مدیون څخه د نفع کمي کولی شی ، مثلا بائع د لسو میاشتو په مده د زر روپو په نفع مرابحه مؤجله وکړه ، اوس بائع پنځه میاشتي وړاندي د روپو مطالبه کوي ، نو ددې مطالبې په صورت کي مدیون د پنځه میاشتو د حساب د کمي نفع غوښتنه کوي ، نو زرو روپو نفع پنځه سوه ته راکمه شوه ، پنځه سوه نفع به وصول کوي ، مصنف صاحب ددې مسئلې د توثيق لپاره په کتاب (فقهي مقالات) ج۱ ص۱۱۲ باندی د متعدد کتابو حوالې پیش کړی دی هغه لیکلی دی: (رد المحتار لابن عابدين ج۶ ص۷۵۷ آخر الحظر والاباحة) دغه مسئله يې په كتاب البيوع فصل فی القرض کي هم ذکر کړې ده ، هلته يې دا هم لیکلی دی چی علامه حانوتي ، علامه نجم الدين او علامه ابو السعود هم پر دې فتوی ورکړې ده ، وګوری شامی ج۵ ص۱۲۰ او دغه مسئله حاشيه الطحطاوي على الدر کي هم ذکر ده ، وګوری ج۳ ص۱۰ وج۴ ص۳۲۳ بعينه دغه مسئله تنقيح الفتاوى الحامديه کي هم مذکور ده ، ددې حوالو څخه علاوه جناب مصنف صاحب عبارت کي ص۱۱۷ باندی ددې مسئلې پر فتاوى الانقروي ، التنوير او شرح المجلة للاتاسي حواله هم ورکړل شوې ده ، مصنف صاحب د حوالو خلاصه داده چی په دې کتابو کي پر دغه فتوی ده ، چی تعجيل دين په صورت کی مرابحه مؤجله کي بائع د نفع کمي کولی شي.

د مصنف صاحب رائ او اشکال: اشکال دادی چی څونه غټو غټو علماء کرامو (کوم چي په مذکوره حواله کي ذکر شول) د بيع مساومې او بیع مرابحې حکم کي فرق کړی دی او مصنف صاحب وایي چی بیع مرابحه کوم فرق نه لري ، د فقهائي کرامو د فرق

څخه انکار کول محل تأمل دی ، هغه دادی چی د بيع مساومې په بیع کي د مدت په مقابل کي د قیمت زیاتوب نه وی ، او په مرابحه کي د مدت په مقابله کی د قیمت زیاتوب وي ، بل فرق دادی چی فقهائي کرامو چي چیرته د نفع د کمي او زیاتوب ته نا جائز ویلي دی ، هغه مشروط ده ، او چیرته چی فقهائي کرامو د نفع د کمي قول کړی دی په هغه صورت کی چي د اول څخه کمي او زیاتوب مشروط نه وي ، او مصنف صاحب وایي: چی هغه معاملات چي په اسلامي بینکو کي مروج دی ، په هغه کي په لاندني فتوی عمل کول مناسب نه دی ، نو تر کومه چی د بینک د معاملاتو تعلق دی نو عدم جواز په هغه صورت کی دی ، چي د بینک په سامان په اصل قیمت کي تردد یا تعین اجل کي تردد وي ، او که هغه مرابحه مؤجله کي سامان قیمت متعین وي او اجل هم متعین وي ، نو په هغه صورت کي جائز ده ، او مصنف صاحب په دې صورت کي د جواز قول پر صفحه ۸۳ کي کړی دی ، او ددې پر جواز يې دائمه اربعهؤ او د جمهورو فقهاؤ مسلک نقل کړی دی ، لهذا د فقهاؤ فتوی مطلقًا غیر مناسب بلل جائز نه ده ، بلکه مناسب د مسئلې تفصيل دی ، تر څو د مسئلې نوعیت هم واضح شی او د فقهائي کرامو فتوی هم مجروح نه شي ، مصنف صاحب د خپلي رائي د توثيق لپاره دا وجه بیان کړې ده که پر مندرجه بالا فتوی عمل وشي ، نو په دې صورت کي به د بیع مرابحې او قسطو باندی د بیع د هغه سودي معاملاتو سره زیات مشابهت راشي کوم چي د مختلف مدتو سره ارتباط د وجي د اصل واجب رقم کي شک کول کیږي چي هغه کم شي یا زیات ، مصنف صاحب د خپل رائی د توثيق لپاره چي کومه وجه بیان کړې ده هغه انتهائي کمزوری ده ، ددې وجي د فقهائي کرامو پر فتوی د عمل کولو لپاره سودی معاملاتو مشابهت کیږي لکن د دغه مشابهت نقصان دِه نه دی ، ددې وجي فقهائي کرامو د مرابحه مؤجله د قلت نفع قول کړی دی ، او په سودی معاملاتو کي پر زیادت نفع باندی اصرار کول کیږي ، لهذا قلت نفع باندی د قول کولو سودی معاملات سره مشابهت کمیږي ، او په زیاتوب د نفع باندی د قول کولو سره سودی معاملات سره مشابهت زیاتیږي ، څنګه چي د مصنف رایه ده ، لهذا فقهائي کرام رائي راجح ده او د مصنف رایه مرجوح ده.

اشکال ۲: مسئله داده چی که قرض په ادائیګي کي مدت دپوره کیدلو څخه وړاندي مدیون انتقال راشي نو ایا دین داول په څیر مؤجل دی، یا هغه دین فی الفور واجب الاداء دی، او دائن دمدیون دوثاؤ څخه دین فی الفور مطالبه کولی شي؟ په دي مسئله کي دفقهائي کرامو مختلف اقوال دی، حنفیه، شافعیه او مالکیه دجمهور فقهائي کرامو مسلک دادی چی مدیون دموت سره سم دین موجل في الفور ته راګرزي، او امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه څخه هم دایو روایت دی، لکن دحنابله په نزد مختار قول دادی چی که چیری مدیون ورثاء ددی دین توثیق وکړي او ددي دین دادائیګي اطمنان ورکړي نو دغه صورت کي هغه دین مدیون دموت سره في الفور واجب الاداء نه دی بلکه هغه ډول مؤجل دی.

دمصنف صاحب رایه: مصنف صاحب په مذکوره مسئلې کي دخپلې رائي په قائمولو سره په (فقهي مقالاتو) ج۱ ص۱۳۷ کي لیکلی دی: زما په نزد ددي مسئلې حل دادی اګر که دجمهورو فقهاؤ مسلک دادی چی مدیون دموت سره دین فی الفور واجب الاداء ګرزي، لکن بیع بالتقسیط او مرابحه مؤجله په کوم کي چي دثمن څه حصه دمدت په مقابله کي وي، که په هغه کي موږ دفوري واجب الاداء قول اختیار کړو، یا خو دمتأخرین حنفیهؤ قول واخستل شي چي دادائي دین څونه مدت متفق علیهؤ ددې په راتلو سره چي څونه وقت باقي دی ددې وقت په مقابله کي چي څونه ثمن راځي هغه ساقط کړل شي، لهذا دمدیون دترکې څخه صرف ایام ګزشته په مقابل کی چی څونه روپی وصول شي، یا دحنابله قول اختیار شي چي څنګه چي دین مؤجلؤ هغه ډول مؤجل دی،، البته ددې شرط دادی چی مدیون ورثاء دکومي قابل اعتماد وسیلې سره ددین توثیق وکړي، شاید دحنابلهؤ دغه قول ډیر بهتر وي ولي چي دمدتو داختلاف په وجه ثمن کي چي تذبذب وي، او دکومي وجي څخه چي صورة سودي معاملات سره مشابهت وي هغه تذبذب په دې صورت کي نشته.

دمصنف صاحب رایه باندي اشکال: پر دې رایه دوه ډول اشکال دی:

۱: یو دا چی خپل مذهب ترکول او بل مذهب اختیارول هغه جائز نه دی چی کوم ضرورت شدیده درپیش نه وي، او کله چی کوم ضرورت شدیده نه وی نو بل مذهب

اختیارول یا ترجیح ورکول داصول افتاء خلاف ده او دتقلید منافی ده، مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه فرمایي: ان اختیار مذهب الغیر فی بعض المسائل والافتاء به یجوز للمجتهد فلا یجوز الا بشرائط او په آخر کي ددې بحث وایي: فلا یجوز الا بشرط الضرورة الشدیدة وعموم البلوی والاضطرار (جواهر الفقه ج۱ ص۱۲۲).

۲: دحنابلهؤ وقول ته ترجیح ورکولو کي دا اشکال دی که ترکه تقسیم نه شي، او تر مدت دقرض پوري موقوف شي نو دیتیمانو او کونډو حقوقو کي به تأخیر راشي، چي دترکې دمیت څخه اړوند دي او که ترکه تقسیم کړل شي یعنی دین ادا نه شي نو ددې ترکې سره دین متعلق دی، او ددین څخه وړاندي دترکې تقسیم دارشاد خداوندي څخه خلاف ده، ارشاد خداوندي دی: مِنۡۢ بَعۡدِ وَصِیَّةٍ یُّوۡصِیۡ بِهَاۤ اَوۡ دَیۡنٍ.

۳: مصنف صاحب ددې وړاندي دبیع بالتقسیط دجواز قول کړی دی ددې قول وروسته مرابحه مؤجله کي تاویلاتو څه ضرورت دی، ولی چی بیع بالتقسیط او مرابحه مؤجله حکم یو دی.

۳ اشکال: مسئله داده چی که دچا حق دشرب وی، یعني دکومي چینې یا ویالې څخه داوبه خور حق وی، نو ددې حق شرب بیع جائز ده یا نه؟ په دې حق دشرب کي دعلماء احنافو اقوال مختلف دی، چنانچه دحنفي مذهب روایت دادی: چی دحق دشرب بیع جائز نه ده، او بعض فقهاؤ دعرف په بنیاد حق شرب بیع جائز بللې ده، لکن جمهورو مسلک دادی چي دحق شرب بیع جائز نه ده، په رد المحتار، مبسوط السرخسي، فتح القدیر، عنایه کي دعدم جواز فتوی ده.

دمصنف صاحب رایه: جناب مصنف صاحب په (فقهي مقالات) ج۱ ص۱۸۷ کی دمسئلې تحقیق کړی دی، او خپله رایه یې صراحة نه ده بیان کړې، لکن دهغه دهغه دتحقیق څخه څرګندیږي چي دمصنف صاحب رایه دحق شرب دبیع جواز ده، دمصنف صاحب الفاظ په دې ډول دی: دحنفي مسلک ظاهر روایت دادی چی حق شرب بیع جائز نه ده، بیا ډیرو مشائخو دعرف پر بنیاد دحق شرب بیع جائز بللې ده (ددې وروسته یې لیکلی دی) لکن دنظر غائر څخه دا خبره ظاهریږي چي کومو فقهاؤ دحق شرب بیع جائز بللو سره هم منع کړې ده، دغه حضراتو دغرر او جهالت په وجه منع کړې ده، ددې وجي

څخه نه چي حق شرب مال نه دی ، او په ص ۱۹۸ کی ليکلی دی: امام سرخسی دغه مسئله په كتاب المزارعه کي په ډير تفصيل سره ليکلې ده ، او په آخر کي يې دحق شرب دبيع دجواز دعرف دوجهد ډيرو مشائخو متأخرينو په قول ذكر کړی دی او دهغو پر قول يې تنقيد هم نه دی کړی ، او ددې صفحې په آخر کي يې ليکلی دی: بعض متأخرينو احنافو ليکلی دی ، دكومو حقوقو چې بيع جائز نه ده ، مثلاً حق تعلی ، حق مسيل ، حق شرب ، دهغه عوض اخستل په طريقه دبيع جائز نه دی ، لكن په صلح سره دهغه عوض اخستل جائز دی ، علامه خالد اتاسي دمال په بدل کي دوظائفو څخه دسبردار كيدل مسئله ذكر كولو وروسته ليکلی دی: اقول وعلى ما ذكروه من جواز الاعتياض عن الحقوق المجردة بمال ينبغى ان يجوز الاعتياض عن حق التعلى وعن حق الشرب وعن حق المسيل بمال... الخ جناب مصنف صاحب په ص ۱۹۲ کي دغه عبارت پر دې خبره نشاندهي کړی دی چې جناب مصنف صاحب دحق شرب بيع دجواز طرف ته رجحان ورکړی دی

مصنف صاحب پر رايه اشكال: مصنف صاحب په ۱۸۷ کي ليکلی دی چی ظاهر الروايت دادی چی حق شرب بيع جائز نه ده ، بيا يې دډيرو مشائخو دعرف پر بنياد دحق شرب بيع جائز بللې ده ، دمصنف صاحب دغه دعوی صحيح نه ده ، چې ډيرو مشائخو دحق شرب بيع جائز بللې ده ، ولی چي مصنف صاحب دحق شرب دبيع پر جواز دوې حوالې پيش کړې دی ، او خپله مصنف صاحب پر عدم جواز څلور حوالې پيش کړې دی ، او عدم جواز دظاهر روايت قول دی ، اوجواز دبعض متأخرينو قول دی ، بيا دا قول به څنګه صحيح شي چي دډيرو مشائخو دجواز قول کړی دی ، بلکه خبره داده چی مصنف صاحب دخپلې رائي داثبات لپاره دمبسوط حواله ورکړې ده ، او دا محل تأمل دی ، ولي چی صاحب مبسوط دحق شرب عدم جواز صراحة ذكر کړی دی ، او دجواز نقل يې ضمناً کړی دی ، او بيا يې پر جواز باندی رد هم کړی دی ، او مصنف په ص ۱۸۹ کي ليکلی دی ، امام سرخسي دغه مسئله دوهم ځل په كتاب المزارعه کي په تفصيل ذكر کړې ده ، او په آخر کي يې دبيع حق دجواز قول دډيرو مشائخو متأخرينو په قول نقل کړی دی او دهغه پر قول يې كوم تنقيد هم نه دی کړی: وبعض المأخرين من مشائخنا ... الخ مصنف صاحب داهتمام سره دمبسوط حواله نقل کړې ده ، او ددې نسبت يې مشائخ متأخرينو ته کړې ده

، حالانکه په دې ځای کي تصريح ده چی جمهور متأخرين نه بلکه بعض متأخرين مراد دی ، او دبعض متأخرينو مصداق يواځې دصاحب مبسوط يو شيخ دی و صاحب مبسوط ليکلی دی: وكان شيخنا الاسلام يحكى عن استاذه انه كان يفتى بجواز بيع الشرب... الخ بيا ديو شيخ څخه په ډيرو شيوخو سره تعبير كول بې ځايه ده ، او مصنف صاحب په ص ۱۸۹ کي خپله رايه داثبات لپاره بعض متأخرين قول يې نقل کړی دی ، او دجمهورو دقول څخه چشم پوشي کړې ده ، او دانصاف تقاضا داوه چی دواړه اقوال يې نقل کړی وائ او دجمهور په مقابله کی دبعض متأخرينو قول ته ترجيح وركول داصول افتاء خلاف ده ، مصنف صاحب په ص ۱۸۹ کي ليکی چي بعض متأخرين احناف ليکلی دی چی حق شرب بيع جائز نه ده ، لكن دصلح په عوض کي جائز ده.

مصنف صاحب ددې تحرير وروسته دعلامه خالد اتاسي قول نقل کړی دی ، دلته هم دا وهم كيږی ، چی متأخرين احناف يو جماعت دی ، حالانکه مصنف صاحب ديو عالم خالد اتاسی قول نقل کړی دی ، او خالد اتاسي فتوی هم نه ده ورکړې ، هغه يو تجويز پيش کړی ، هغه ليکلی دی: اقول وعلى ما ذكروه من جواز الاعتياض عن الحقوق المجردة بمال ينبغى ان يجوز الاعتياض عن حق التعلى وعن حق الشرب وعن حق المسيل بما .... الخ او مصنف صاحب دعلامه خالد اتاسي تجويز پر جواز ور حمل کړی دی ، متأخرين احناف ته يې منسوب کړی ، مطلقًا متأخرين احنافو ته دجواز نسبت صحيح نه دی.

۴ اشكال: مسئله داده چی حقوق مجرده يعنی چی حقوق اعيان نه وی ، په هغو کي حق داسبقيت دی ، حق داسبقيت دادی چی مباح الاصل شی ته وړاندنی قابض ته دملک نسبت او دهغه سره خصوصيت وركول دی ، دې ته حق اسبقيت ويل كيږي ، مثلا دلرګو دراټولولو په کي اول سبقيت معتبر دی.

دمصنف صاحب رايه: مصنف صاحب په ص ۱۹۷ کی ليکلی دی ، دفقهائي احنافو او مالكيهؤ په كتابو کي ماته نشوه څرګنده چي چا حق داسبقيت بيع مسئله چيړلې ده ، فقهائي احناف او مالكيهؤ دا ذكر کړی دی چي پر خورو ورو لرګيو باندی نښانه كول هغه ته دهغې مځکي داستعمال اول حق دی ، لكن ماته ددې حق دبيع بحث دهغه فقهاؤ په نزد

معلوم نه شو ، دقیاس تقاضا داده چې دهغو په نزد هم حق داسبقیت بیع جائز نه شي ، مګر
دا چې دغه دستبردار په ډول وي.

خلاصه داده اګرچې بعض فقهاؤ ددې بیع دجواز قول کړی دی ، لکن فقهاؤ
یولویي ډلي رایه دعدم جواز ده ، البته حق اسبقیت څخه دستبردار کیدل دصلح په
صورت کي دفقهاؤ په نزد جائز ده.

دمصنف صاحب پر رایه اشکال: مصنف صاحب اول ویلي دي: چې فقهاء احناف
او مالکیه په کتابو کي ماته معلومه نشوه چې چا داسبقیت بیع دمسئلې څخه بحث کړی
دی ، وروسته بیا وایي: البته حق اسبقیت څخه دصلح په صورت کي دستبرداره کیدل
دفقهاؤ په نزد جائز ده.

۱: دمصنف صاحب په کلام کي تعارض ده ولی چې اول ده اوویل چې داحنافو او
مالکیه په کتابو کي ماته معلومه نشوه ، او وروسته بیا وایي: دحق اسبقیت څخه
دستبرداره کیدل دصلح په صورت کي دفقهاؤ په نزد جائز ده و چې دمصنف صاحب ته اول
دغه مسئله په کتابو کي ملاؤ نه شوه او بیا دفقهاؤ په نزد جواز دکمه ثابت شو ؟لهذا
فقهائی احناف طرف ته نسبت دجواز درست نه دی.

۲: مصنف صاحب دحق اسبقیت دمسئلې داحنافو په نزد دجواز کوم دلیل هم نه
دی پیش کړی ، محض قیاس آرائي باندي یې مسئله حمل کړې ده ، آخر ددې قیاس آرائي
څه ضرورت دی ؟ راجح داده چې حق اسبقیت کي بیع هم ناجائز ده څنګه چې فقهاؤ کرامو
وربانديي تصریح کړې ده ، او دحق اسبقیت څخه دستبردار کول دصلح په صورت کي هم
ناجائز ده ، ولی که دجواز فتوی ورکړل شي ، نو ډیر خلک به دسرکاري مځکو دنښانه
کولو وروسته دبیع او ددستبرداري په صورت صلح وربانديي کوي او په دې ډول به دمال
په وصولولو مصروف شي.

۵ اشکال: مصنف صاحب په ص ۲۱۷ کي لیکلي دي: زموږ دزمانې موجوده پګړي
کوم چې مالک یې دکرایه دار څخه اخلي جائز نه ده ، پګړي په نامه باندي رقم په شریعت
کي دکومې قاعدې سره منطبق نه دی ، لهذا دغه رقم رشوت او حرام دی ، البته پګړي
مروجه نظام کي مندرجه ذیل تبدیلیاني ممکن دي:

۱: مالک دمکان او دکان لپاره جائز ده چې هغه کرایه دار په کوم خاص مقدار
یکمشت رقم واخلي کوم چې متعینه مدت پیشګي کرایه بلل کیږي ، دغه یکمشت رقم
دسالانه او ماهانه کرایې څخه علاوه وي ، دغه په یکمشت رقم کي داجارې ټول احکام
جاري کیږي ، دلته مصنف صاحب مروجه پګړي کي متبدل صورت ویلی دی ، او په دې
متبادل صورت کی مروجه پګړي ته نور فروغ ورکول کیږي ، ولی چې مصنف صاحب
وایي: یکمشت رقم دسالانه او ماهانه کرایې څخه علاوه وي ، کله چې یکمشت رقم
دسالانه او ماهانه کرایې څخه علاوه وي نو بیا هغه پګړۍ شوه وړاندی شي یې حرمت
بیان شوی ؤ لهذا عبارت هذا وضاحت دي وشي.

۲ اشکال: مصنف صاحب دکان او مکان داجارې دمسئلې په وضاحت ص ۲۱۷
و۲۱۸ کي لیکی: که اجاره متعین مدت لپاره وي نو مالک مکان او دکان لپاره جائز نه ده
چې هغه دشرعي بغیر اجاره فسخ کړي ، که مالک عذر شرعي بغیر په متعین مدت کي
اجاره فسخ کړي کول غواړي دکرایه دار لپاره جائز ده چې دده څخه دعوض مطالبه وکړي
، او ددغه دغه اقدام بالعوض دخپل حق څخه ددستبرداري ده ، دغه عوض دهغه څخه به
علاوه وي ، کوم چې کرایه دار یکمشت هغه ته ورکړی دی دهغه څخه داجارې دباقي
مدت دحساب حق دار دی ، (مجمع الفقه الاسلامي جده) په خپل څلورم اجلاس منعقد
۱۴۰۸ه کي دغه فیصله کړې ده.

دمصنف صاحب رایه: مصنف صاحب وړاندي په ص ۲۱۹ کي لیکلی دی: داحنافو
په نزد راجح داده چې دحق وظیفه بیع جائز نه ده ، لکن مال په بدله کي دستبرداری جائز ده
، داډول دمکان یا دکان دحق کرایه داری بیع جائز نه ده لکن مالی معاوضه کي
دستبرداري جائز ده.

دمصنف صاحب پر رایه اشکال: مصنف صاحب دحق وظیفه دستبرداري په
صورت کي دمال معاوضې او داډول حق کرایه داری څخه ددستبرداري په صورت کي
مالي معاوضه جائز بللې ده ، او ددې جواز نسبت یې دفقهائي احناف وطرف ته کړی دی ،
ددغه جواز نسبت فقهائي احناف وطرف ته صحیح نه دی ، (یعنی حق کرایه داری
دمعاوضې نسبت) ولي چې مکان یا دکان څخه ددستبرداري په صورت کي مالي

معاوضه تر لاسه کول داحنافو ملک نه دی ، او نه مصنف صاحب پر دې باندی داحنافو کوم دليل پيش کړی ، بلکه دا دمصنف صاحب قياس دی کوم چي مصنف په ص ۲۱۷ کي قائم کړی دی ، البته که دې ته دعلمائي جده فيصله ووېل شي نو درست ده ، څنګه چي مصنف يې په ص ۲۱۸ کي تصريح کړې ده.

دمفتي صاحب (محمد تقی عثماني) دطرف دخط جواب

محترم قدرمن جناب مفتی غلام قادر صاحب مد ظلهم العالي

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته !

ستا خط په مورخه ۹ دسمبر ۲۰۰۰ م راته ورسيد ، ستا ددې مضمون سره کوم چي تا داحقر دفقهي مقالات په باره کي کوم اشکالات ذکر کړی دی ، ما دهغه جوابات په هغه وخت کي شروع کړل ، لکن دځينو مسائلو دمراجعت ضرورت ؤ نو نور مسائل په منځ کي حائل شول ، او ما جواب مکمل نه کړو ، اتفاقي مولانا محمد زاهد صاحب څه وړاندي تشريف راوړ او احقر ستا تحرير هغه ته ورښکاره کړو ، زما مقصد داؤ چي هغه پر دې باندي غور وکړي هغه دباقي حصې په باره کي خپل رايه په خپله وليکله ، کله چي ماوليدل نو ما ته صحيح معلوم شول اوس دغه تحرير چي تقريبًا نصف يې ما ليکلی دی او نور يې مولانا محمد زاهد صاحب (چي داحقر ورسره اتفاق دی) ستا خدمت ته پيشيږي او پر تاخير باندی شرمنده او معذرت خواه يم.

والسلام محمد تقی عثماني ۱۴۲۲/۷/۲ھ

(داشکالاتو جوابونه دحضرت مفتی صاحب)

محترم دقدر وړ جناب مفتی غلام قادر صاحب مد ظلهم العالي ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

ستا خط او دهغه سر منسلک تحرير موصول شو ، تا چي کوم په دقت سره داحقر دفقهي مقالاتو مطالعه کړې او په دې سلسله کي دي خپله رايه ظاهر کړې په دې سره زه ستا څخه دزړه دکومي شکر ګذار يم ، داحقر چي کوم فقهي تحرير داهل علم تر نظر تيريږي نو احقر درباندي خوشحاليږي ، ددې خبري توقع کيږي چي پر دې تحرير به دنظر

ثاني موقع پيدا شي ، په کوم سره چي دغلطيو اصلاح راځي ، چونکه تا خپله تبصره ارسال کړې ده ، او احقر هم رد عمل درباندي کړی نو ځو ګذارشات درباندي پيش خدمت دی.

۱- دمرابحه مؤجله په اړه چي احقر دعلامه شامي رحمه الله متعلقه عبارتونه (۱) نقل کولو باوجود چي ما کوم خيال ظاهر کړی دی ، چي مصارف اسلاميه ته پر دې باندي عمل کول نه ښايي ، ددې وجوهات په لاندي ډول دی:

الف: دمرابحه په سلسله کي چي کومه فتوی علامه ابن عابدين او علامه نجم الدين وغيره ورکړې ده ، دا داصحاب مذهب څخه منقول نه ده ، داصحاب مذهب قول (ضع وتعجل) په سلسله کي معروف دی ، کوم چي احقر هم نقل کړی ، په دې کي داصحاب مذهب قول دمرابحه او غير مرابحه په اړه تفريق نه دی شوی ، (۲) لهذا دغه دعلماء متأخرينو فتوی ده ، کومه چي نه واصحاب مذهب ته منسوبد کيدلی شي او نه ددې درجې قوت لري ، کوم چي اصحاب مذهب اقوالو ته کيږي.

ب: دا صحيح ده چي مرابحه مؤجله کي قيمت څه حصه داجل په مقابل کي وي لکن اجل په مقابله عوض څه حصه اينبوول هغه وقت جائز دی کله دغه معاوضه دبيع په ضمن کي وي ، څنګه چي اعتياض عن الاجل جائز بلل شوی ، ددې څخه مراد داده چي اصل بيع دبل شي ده ، او په ضمن کي اجل دوجي ددې مبيع قيمت زيات شو ، دې ته دهدايه په دې الفاظو بيان شوی دی: الا ترى ان الثمن يزاد لاجل الاجل (۳) لکن اجل په خپله مقصد ګرځول او معاوضه درباندي اخستل جائز نه ده ، کوم ته چي صاحب هدايي:

---

(۱) رد المحتار ج ۶ ص ۷۵۷ قبيل کتاب الفرائض ، ج ۵ ص ۱۶۰ وحاشيه الطحطاوى على الدر المختار ج ۳ ص ۱۰۴ وج ۴ ص ۳۶۳.

(۲) وفى شرح السير الكبير للسرخسى رحمه الله رقم ۲۷۳۸ ج ۴ ص ۱۴۱۲ ضعوا وتعجلوا ومعلوم ان مثل هذه المعامله لا يجوز بين المسلمين فان من كان له على غيره دين الى اجل فوضع عنه بعضه بشرط ان يعجل بعضه لم يجز كره ذلک عمر وزيد بن ثابت وابن عمر رضي الله عنهم ، ددې سره دفقهي مقالاتو ج ۱ ص ۱۰۰ تا ۱۱۴ وګورى.

(۳) وفي الهدايه کتاب البيوع ج ۳ ص ۷۸ (طبع مكتبه رحمانيه) الا يرى انه يزاد فى الثمن لاجل الاجل.

الاعتياض عن الاجل حرام (۱)، ويلي دی لهذا که اصل مرابحه کي اجل دوجي مبيع ګران
شي نو دغه اعتياض عن الاجل ضمني دی، بلکه دغه ته اعتياض عن الاجل نه ويل کيږي
، بلکه پوره ثمن دمبيع دی، البته ددې دتعين وقت اجل ملحوظ کړل شوی دی.

لکن که دمتأخرينو پر مذکوره بالا فتوی باندی عمل وشي، او دا وويل شي که
مشتري داجل څخه وړاندي ادا وکړي، نو دهغه قيمت بايد کم شي، نو په دې صورت کي
اعتياض عن الاجل ضمنی نه دی، بلکه مقصود دی، ولي چي قيمت کي کمي په وقت
سوا داجل بل شي نه شي کيدلی.

ج: دا خبره چي چونکه دثمن زياتوب داجل دوجي راغلی دی و لهذا تعجيل په
وقت کي هغه زياتوب ساقط کول ضروري دی، نو دغه هم محل دنظر دی، ولی دغه
استدلال هغه وقت صحيح دی، کله چي بائع دخپل طرف څخه مشتري پر تعجيل مجبور
کړي، لکن کله چي مشتري په خپله ثمن داجل څخه وړاندي راوړي، بائع دمشتری څخه
کومه مطالبه هم نه وي کړې، نو دغه استدلال درست نه دی، ولی چي اجل دمشتری حق
دی، او دا حق بائع هغه ته ورکړی دی بيا يې مشتري مستعملوي او که نه، ددې پر عقد
مؤجل کيدلو هيڅ فرق نه راوړي، يعني بائع اوس هم دې خبري ته تيار دی چی هغه اجل
استعمال کړي، لهذا دخپل ځانه دتعجيل په صورت کي ثمن دکمي مطالبه صحيح نه ده.

د: دمصارف اسلاميه ؤ حالات پيش نظر ګرزول زما ذاتي تجربه ده، که هلته پر
فتوی عمل وشي نو مآل کار دسود هغه ميټر شروع کيږي.

اشکال نمبر ۲: مرابحه مؤجله او بيع بالتقسيط کي دحنابله قول (۲) په اختيار
کولو تجويز ورکړل شوی دی که دمديون دموت په صورت کي که ورثه دين درهن يا
کفيل وغيره په وسيله توثيق وکړي نو دين په هغه ډول موجل دی (۳) دموت دوجی حال
داسي نه دی، پر دې باندی دا اشکال شوی دی، چی دا افتاء بمذهب الغير ده چی بلا

(۱) وفي الهدايه کتاب الصح باب الصلح فی الدين ج ۳ ص ۲۵۷ (طبع مکتبه رحمانيه) وذلک اعتياض
عن الاجل وهو حرام.

(۲) المغنی لابن قدامه کتاب المفلس ج ۴ ص ۴۸۶ وګوری.

(۳) ايضاً

ضرورت شديده جائز نه ده، نو ددې په اړه عرض دادی چی عام مسائلو کي بالعموم او په
معاملاتو ماليه کي بالخصوص دضرورت شديده پر ځای محض حاجت عامه يا ابتلائي
عام دوجه هم داکابرو څخه افتاء بمذهب الغير منقول ده، حضرت ګنګوهي رحمه الله حکيم
الامت ته دا نصيحت کړی ؤ (۱) او په امداد الفتاوی دريم جلد کی هم ددې متعدد مثالونه
دی (۲) لهذا هغه بزرګانو چي ددې ضرورت شديده لفظ استعمال کړی دی، دهغو مراد
هم دضرورت څخه حاجت دی، او دفقهائی کرامو په کلامو کي دحاجت پر لفظ دضرورت
اطلاق ډير شوی دی، (۳) دلته چي دکوم حاجت دوجي يا مشقت او ضرر څخه دساتني په
غرض دغه تجويز شوی دی ددې ذکر په مذکوره مقاله کی، په قسطو دخريد او فروخت
کي موجود دی، بيا ددې خبري داډول کوم حاجت او مشقت متحقق دی يا نه نو ددې تعلق
دامر واقعې سره دی، چي په هغه بيا دذوق يا تجربې يا مشاهدې داختلاف دوجې کومه
بعيده خبره نه ده، مذکوره مقاله په اصل کي دمالياتي ادارو په معاملاتو کي ليکل شوې
ده، او دمالياتي ادارو په معاملاتو کي دمديون دموت سره سم دين حال ګرزولو سره ډير
مشکلات پيدا کيږي، دهغه اندازه دهغه ادارو سره دتعامل درلودنکی ته ښه کيږي، بيا
هم که دغه مشکل په کوم ډول حل شي نو يقينا دين حال ګرزول راجح دی.

(۱) داهم ده چی حضرت ګنګوهي په يوه فتوی کي ليکلی دی: چي دضرورت په وقت کي پر روايت
غير مفتی بها او پر مذهب غير کولو درست دی، اګر که اولی نه دی خصوصاً داضطرار او عموم بلوی په
وخت کي، کذافی رد المحتار، فتاوی رشيديه ص ۱۹۸ (طبع قديم ايچ ايم سعيد)

(۲) څنګه چي حکيم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله په امداد الفتاوی ج ۳ ص ۱۰۶ کي دسلم په
يوه مسئله (وقت ميعاد پوري دمبيع برابر پيدا کولو کي دضرورت پر بنا دامام شافعي رحمه الله پر مسلک او
په ج ۳ ص ۴۹۵ کي دشرکت په يوه مسئله کي (عروض کي شرکت) دابتلاء عام پر بنا دامام مالک رحمه الله
پر مسلک فتوی ورکړې ده، داډول نور مثالونه هم شته.

(۳) ومنها ما جاء فی تبيين الحقائق للزيلعي رحمه الله کتاب الکراهية ج ۷ ص ۲۷ (طبع سعيد) ولا يقبل قول
الکافر فی الديانات وانما يقبل قوله فی المعاملات خاصة للضرورة ... والحاجة ماسة الی قبول قوله لکثرة
وقوع المعاملات ولا يقبل فی الديانات لعدم الحاجة ... الخ.

وفی الاشباه والنظائر لابن نجيم رحمه الله ج ۱ ص ۱۲۶ الحاجة تنزل منزلة الضرورة عامة کانت او خاصة.

پاته شوه دا خبره چي په دې صورت کې دین که مؤجل کړل شي او ترکه تر حلول اجل وړاندي تقسیم شي نو ددې آیت: مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِينَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖ.(النساء ۱۲) خلاف به واقع شي نو ددې په اړه ګذارش داده چي ددغه آیت مقصد دادی چي دانفاذ وصیت او ادائي دین وروسته چي څه پاته شي هغه دورثهٔ حق دی ، ددې مقصد دانه دی چي عملاً هم تر څو چي دین ادا نه شي نو تر دې وقت پوري دورثهٔ خپله حصه اخستل ناجائز ده ، آخر دین حال بلل کي هم دا ممکن ده چي دائن په خپله ورثهٔ ته مهلت ورکړي ، ظاهر ده چي په دې صورت کي دغه دمده مهلت په دوران کي ورثه ترکه تقسیم کولی شي ، نو فقه حنفی درویه هم ناجائز نده.

اشکال نمبر ۳: ددې اشکال څخه وړاندي بطور تمهید دا عرض کول مناسب دی ، چي رساله دحقوق مجرده خرید اوفروخت ، اصل مقصود (څنګه چي ددې رسالې په تمهید کي هم ذکر شول) حق مرور ، حق تعلی ، حق تسییل او حق شرب وغیره ددې ډول حقوقو تحقیق نه دی ، کوم چي یې فقهاء په کلام کي صراحة مذکور دی ، بلکه اصل مقصود په دې دور کي نو پیدا حقوق دکوم چي خرید او فروخت چي نن په کثرت روان دی ، دهغه دحکم دپیژندلو کوشش کول دی ، نو ظاهر ده چي دحقوق قدیم اقسام په باره کي دفقهاؤ عبارات او دلائل باندي دغور کولو څخه دهغه اصول استنباط کیږي ، دکوم په بنیاد چي فقهاء دغه احکام ذکر کوي ، او دهغو اصولو په رڼا کي دحقوق جدید اقسام بیع یا نزول په عوض حکم معلومیدلی شي.

حق شرب په باره کي چي څه په رساله مذکوره کی لیکلی شوی دی ، دهغه مقصود بذات خود حق شرب بیع دجواز او عدم جواز په باره فیصله کول نه دی ، دا یوه مستقله مسئله ده ، اصل مقصود په دې مسئلې کی دفقهاؤ دعبارات څخه یو عمومي ضابطه استنباط کول دی ، او لب لباب ددې بحث دادی چي بعض فقهاؤ دحق شرب دبیع جواز دعرف دوجي کړی دی ، او ځني حضراتو چي دعرف باوجود ناجائز بللی دی ، دهغه وجه هم دانه ده چي عرف او تعامل باوجود قابل بیع نه دی ، بلکه ناجائز کیدلو اصل وجه دهغه فقهاؤ په نزد غرر او جهالت دی ، او دغه خبره ثابتولو متعدد عباراتو حواله ورکړل شوې ده ، او په آخر کي چي کومه نتیجه راایستل شوې ده ، دهغه الفاظ دادی:

فقهاء احناف دبیع شرب په باره کي چي څه لیکلی دی ددې څخه دحقوقو مسئله بعینه هغه څه خبري ورڅخه معلومیږي کوم چي دحق مرور او حق تسییل دبیع په مسئله کي دهغه بحثو څخه معلوم شول ، ددې خلاصه داده: چي حق که دعین مال سره متعلق وي ، نو دهغه بیع جائز ده ، په دې شرط چي هلته کوم مانع مثلاً غرر او جهالت وغیره نه وي (۱)

دجناب دا اشکال په غور سره دمطالعې کولو باوجود په دې کي کوم داسي خبره پیدا نشوه چي په رساله کي ذکر دمذاهب او عبارات څخه ددې قاعدې استنباط مانع وي.

پاته شوه دجناب دا خبره ، چي دبیع شرب په اړه یې صراحة خپله رایه نه ده قائم کړې ، لکن دمصنف دتحقیق څخه معلومیږي ، چي هغه دجواز قائل دی ، نو دصریح رائي دنه ذکر کولو معنی هم داده چي کومه وړاندي په تمهید کي ذکر شوه ، چي بذات خود ددې مسئلې تحقیق مقصود نه دی بلکه مقصود اصولو استنباط دی ، دمصنف رایه چي دپوره بحث څخه په فکر کي راځي هغه دمطلقا جواز نه ده ، بلکه پوره خبره چي په فکر کي ورڅخه راځي ، هغه داده چي دحق شرب بیع دغرر او جهالت په وجه ناجائز ده ، ددې وجه نه ده چي هغه دعرف او تعامل باوجود قابل بیع بذات خود صلاحیت نه لری ، لهذا که چیري دغه عرف وي او غرر او جهالت هم نه وي (مثلا جدید آلاتو سره داوبو دپیمائش ممکن وي) نو دفقهاء کرامو دعباراتو درویه څخه دغه بیع جائز ده ، او دغه محض دیو فقیه رایه نه ده ، بلکه په رساله کي چي ذکر کرده تمام عبارات څخه دغه خبره راوزي.

اشکال نمبر ۴: جناب دغه اشکال کړی چي وړاندي لیکل شوی دی ، چي فقهاء مالکیه او حنفیه په نزد دا سبقیت دبیع حکم په کتابو کي پیدا نه شو ، او بیا یې څه وړاندي حکم هم لیکلی دی ، په دې دواړو خبرو کي تضاد دی ، نو عرض داده چي دحکم دلیکلو په وخت کي دا دعوا نه ده شوې چي دغه حکم په کتابو کي مصرح دی ، بلکه داسي ویل شوی دی چي دغه حکم ورڅخه معلومیږي ، او دغه قواعد په رساله کي وړاندي په تفصیل سره بیان شوی دی ، جناب لیکلی دی ، آخر ددې قیاس آرائي څه

(۱) فقهي مقالات ج۱ ص۱۸۹ (طبع میمن اسلامک پبلشرز)

ضرورت دی؟ راجح دادی چی دحق اسبقیت بیع هم جائز نه ده، مذکوره رسالې کې هم دعدم جواز ته دقیاس تقاضا ویل شوی ده، البته که دغه خبره دقیاس آرائي بغیر په کومه صریح جزئیه کي ثابت شي نو امید دی چی جناب مورږهم ددې څخه مطلع کړي.

پاته شو حق اسبقیت څخه نزول په عوض سره دغه خبره وړاندي په صفحه ۱۲۲ کي دبیري، شامي په ص ۱۹۰ باندي داتاسي په حواله لیکل شوې ده، چي کوم حق اصالة ثابت وی، ددفع ضرر په ډول نه وی، صلح وربانديکول او عوض اخستل جائز دی، دیادوني وړ ده چي اتاسي دغه خبره دخپلي رايي څخه نه ده کړې، بلکه دنورو فقهاؤ څخه نقل کړی دی، چنانچه ددوی عبارات په دې لفظو سره شروع کړی دی: اقول وعلی ما ذکروه من جواز الاعتیاض عن الحقوق المجردة بمال... الخ (۱)

اشکال نمبر ۵ و ۲: ددې اشکال حاصل په ظاهر دا معلومیږي چی دپګړې مروجه شکل چي کوم متبادل پیش کړل شوی دی په هغه کي هم دپګړې اجازت ورکړل شوی دی دغه اشتباه په ظاهر دلاندینیو امورو دنه فهم په وجه پیدا شوې ده.

۱: په مروجه پګړې کي رقم شرعًا کوم قابل اعتیاض شي عوض نه دی بلکه دلته پیشګي اخستل شوی رقم داجرت حصه ده چي هغه یکمشت دماهانه یا سالانه کرایې څخه علاوه ادا شوی دی، ددې دا مطلب نه دی چی دغه دکرایه حصه بلکل نه ده، بلکه ددې مطلب دادی چی کرایه پر دوو حصو تقسیم شوې ده یوه حصه یکمشت پیشګي وصول شوی ده، او بله حصه یې ماهانه یا سالانه وصول شوې ده، دغه وجه ده که دکوم عذر په وجه اجاره فسخ شي نو یکمشت رقم څخه دباقي مدت په اندازه چي کوم رقم دی هغه په مؤجر مستأجر ته واپس کوي، داډول که مالک مکان یا دکان مستأجر دمقرره مدت څخه وړاندی ایستل غواړی او بېله شرعي عذر اجاره کول غواړي او مستأجر دعوض دمطالبې بغیر رضامندي باندی اجاره فسخ کړي نو وروسته دعوض مطالبه نه شي کولی یواځي دباقي مانده مدت رقم وصول کولی شي.

۲: مکان یا دکان دمقرره مدت څخه وړاندی خالي کولو په صورت کي مستأجر چي دپګړي رقم بیرته اخلي، هغه دمروجه پګړي کي دکوم ثابت شده حق عوض نه دی، او

(۱) فقهي مقالات ج۱ ص۱۹۰ (طبع میمن اسلامک پبلشرز)

دلته دمقرره مدت پوري اجازه کولو ددغه قراره حق حاصل شو، کوم چي تر یو عین حق پوري متعلق ؤ، او دشفعه په ډول یواځي دفع ضرر لپاره مشروع نه دی، نو که ددې بیع جائز هم نه شي بیا هم دوړاندي ثابت شده قاعدې مطابق نزول په عوض سره جائز دی، دلته مستأجر ته اصل حق رقم وصول کولو نه ورسیدو و بلکه دقرار حق ورسیدو، لهذا هغه ته اول اختیار دغه ده چی هغه انکار وکړي او دمقرره مدت څخه وړاندي نه ووزي، معاوضه واخلي او بیا دستبردار شي چي دا دصلح یو شکل دی.

جناب دا خبره کړې ده چي حق کرایه داري عوض وړلو جواز نسبت فقهائي حنفیه ؤ طرف ته کول درست نه دی، بلکه دا محض دمصنف قیاس او دعلمائي جده یوه رایه ده، نو اصل خبره داده چی دغه مسئله په کتب فقه کي صراحة خو مذکور نه ده، څنګه چي جواز مصرح نه دی، داډول عدم جواز هم مصرح نه دی، په داسي صورت کي دنورو فقهي نظائرو او قاعدو څخه حکم راایستل کیږي، دلته هم داسي ده چي وړاندي په تفصیل سره دذکر کرده قواعد او نظائر په رڼاکي حکم راایستل شوی دی (۱)

دحکومت له طرفه څخه دورکړل شوی شی چي تر حاجت زیات وی خرڅول جائز دی

سوال: زه کار بار کوم چی هغه لپاره دبوري ضرورت وی او ماته دحکومت له طرفه نیم من بوره راکول کیږي، کله چي کار کم وي هغه بوره زیاته شي، ایا هغه بوره زه په مناسب نفع سره پلورلی شم؟

جواب: هو پلورلی یې شې.

والله سبحانه وتعالی ۱/۲/۱۳۹۷ھ

کله چی مکان جوړ شی او بیا په کرایه یا په اپن، آئي، ټي یونټ کي په شرکت سره ورکړل شي کوم صورت بهتر دی؟

سوال: دزید سره رقم دی دهغه په ذهن کي دآمدني څو صورتونه دی، تاسي ددې فیصله وکړی، یو دادی چی هغه مکان جوړ کړي او په کرایه یې وکړي دوهم دا چي دسرکار له طرفه دجاري کرده این، آئي، ټي په یونټ کي شرکت دی او بعض نور تجارتي مکان جوړول ښه نه بولي.

جواب کور جوړول او په کرایه ورکول بلا شبه جائز دی، او په دې کار کي روپۍ لګیدلی شي، البته داین، آئي، ټي موږ ته پوره تحقیق نشته، دهغه مفصل طریقه کار ولیکه او موږ ته یې راولیږه نو بیا به جواب درکړل شي، په خاص ډول لاندینۍ خبري معلومي کړه، ۱: په دې کي نفع په کوم معلوم شرح سره تقسیمیږي او که په تناسب سره ورکول کیږي؟ ۲: دیونټ رانیوونکی دنقصان په صورت کي نقصان برداشوي که یا؟ دعوامو روپۍ په کوم کار کي لګول کیږي؟

والله اعلم ۲۲/ ۵/ ۱۳۸۸ھ (فتوی نمبر ۲۱۸/ ۱۹ الف)

حکومت لپاره داشیاؤ قیمتو باندی دکنټرول حکم

سوال: هغه شیان چی کمپنۍ دطرف څخه قیمت وربانذی لیکل کیږي، دهغه څخه یې په زائد قیمت پلورونکي پلورلی شي؟ او په هغه شیانو چي حکومت وربانذی مقرر قیمت لګولی وی دهغه څخه په زیات قیمت پلورلی شي؟

جواب: کله چی خلګو ته دضرر رسید و اندیښنه وي نو حکومت ته داشیاؤ دنرخ مقررول جائز ګڼه، په داسي صورت کي دمتعین قیمت څخه په زیات قیمت پلورل جائز نه دی.

درمختار کی دی: اذا تعدی لارباب غیر القوتین وظلموا علی العامة فیسعر علیهم الحاکم بناء علی ما قال ابو یوسف رحمه الله ینبغي ان یجوز (۲) او علامه شامی لیکلی دی: ان الامام یری الحجر اذا عم الضرر کما فی المفتی الماجن والمکاری المفلس

(۱) دتفصیل لپاره دفقهي مقالاتو ج۱ ص۲۱۷ او ۲۱۸ (طبع میمن اسلامک پبلشرز) ملاحظه کړی (محمد زبیر)

(۲) الدر المختار ج۶ ص۴۰۰ کتاب الحظر والاباحة، فصل فی البیع (طبع سعید)

والطبیب الجاهل وهذه قضیة عامة فتدخل مسئلتنا فیها لان التسعیر الحجر معنی لانه منع عن البیع بزیادة فاحشة وعلیه فلا یکون مبنیًا علی قول ابی یوسف رحمه الله فقط (شامي ج۵ ص۳۵۳ (۱)

والله اعلم محمد تقی عثماني عفی عنه ۴/۱۱/۱۳۸۷ھ (فتوی نمبر ۱۴۰۱/۱۸ الف)

الجواب صحیح بنده محمد شفیع عفی عنه ۴/۱۱/۱۳۸۷ھ

ددکان دار زوی دخپل پلار ددکان څخه مال دچاپه لاس په کم قیمت فروخت کول

سوال: یو سړی دکان دار دی دهغه درې زامن دی دوه یې دپلار سره په دکان کی کار کوی، یو یې تعلیم کوي، ددې سړی غټ زوی غوښتل چی زما سره تعاون وکړی، هغه وایي چی ستا وروکی دکان دی، غریب سړی دی، ته زما څخه سامان په قیمت سره اخله زه درسره رعایت کوم، په دې شرط چي زما پلار او زما کشر ورور نه وي خبر، ولي چي هغه ناراضه کیږي، ته راته فتوی راکړه چی ماته جائزده؟

جواب: که هغه غټ زوی یې په حیث دملازم هلته کار کوی، نو هغه لره دپلار داجازې څخه بغیر جائز نه ده چي تاته په رعایت شی دی کړی، (۲) په داسي صورت کي دهغه څخه سامان رانیول هم جائز نه شو (۳) او که هغه په دکان کی حصه دار دی بیا هم

(۱) رد المحتار علی الدر المختار ج۶ ص۴۰۱ وکذا فی البحر الرائق ج۸ ص۳۷۰ کتاب الکراهیة (طبع رشیدیه) کذافی المحیط البرهاني ج۸ ص۲۶۸ (طبع مکتبه غفاریه)

(۲) فی مشکوة المصابیح ج۱ ص۲۶۱ (طبع رحمانیه) قال رسول الله ﷺ الا لا تظلموا، الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه.

فی الدرج۶ ص۲۰۰ لا یجوز التصرف فی مال غیره بلا اذنه ولا ولایته ...آه

(۳) فی الدر المختار ج۵ ص۹۸ (طبع سعید) الحرمة تتعدد مع العلم بها وقال الشامي تحته، اما لو رأی المکاس مثلا یأخذ من احد شیئًا من المکس ثم یعطیه آخر ثم یأخذ من ذلک الآخر فهو حرام.

وفیه ایضًا قبل ذلک وما نقل عن بعض الحنفیة من ان الحرام لا یتعدی ذمتین سألت عنه الشهاب بن الشلبی فقال: هو محمول علی ما اذا لم یعلم بذلک.

دغه حکم دی چې د نورو شريکانو د مرضی علاوه په رعايت سره سامان ورکول هغه ته جائز نه دی ، کوم چې په عام طور باندې په دې رعايت نه ورکول کيږي (١) هو که دد کان مالک هغه وي او پلار او کشر ورور ورسره بحيث ملازم يا تبرعًا کار کوی نو په دې صورت کې د هغه رعايت جائز دی (٢) او تاته هم د دې رعايت سره سامان رانيول جائز دی.

والله سبحانه اعلم ۲۱/۱۰/۱۴۰۱ هـ (فتوی نمبر ۱۵۹۸/۳۲ ج)

د Sky Biz ۲۰۰۰ ويب سائټ رانيول او دهغې کمپنۍ شريک جوړيدل تعليم حاصلول

وفى الاشباه الحظر والاباحة ص۸۸ الحرمة تتعدى مع الاموال مع العلم الا فى حق الوارث ... الخ.

(١) وفى شرح المجلة لسليم رستم باز ص۶۵۴ رقم المادة ۱۱۹۲ (طبع حنفيه كوټه) كل يتصرف فى ملكه كيف يشاء وكذا فى شرح المجلة للأتاسي ج۴ ص۱۳۲ (طبع مكتبه حبيبيه كوټه)

وفى بدائع الصنائع كتاب الشرب ۶ ص۱۶۰ (طبع سعيد) وحق الكل متعلق بالماء ولا سبيل الى التصرف فى الملك والمشترك والحق المشترك الا برضاء الشركاء.

وفى تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق كتاب الشركة ج۴ ص ۲۳۵ (طبع سعيد) وكل اجنبي فى قسط صاحبه اى وكل واحد منهما اجنبي فى نصيب صاحبه حتى لا يجوز له ان يتصرف فيه الا باذنه كما لغيره من الاجانب ... الخ

وفى مجمع الانهر شرح ملتقى البحر اوائل كتاب الشركة (الشركة ضربان) وكل منهما : اى كل واحد من الشريكين او الشركاء شركة ملك اجنبي فى نصيب الاخر حتى لا يجوز له التصرف فيه الا باذن الاخر كغير الشريك لعدم تضمنها الوكالة ... الخ.

(٢) وفى الهداية باب الكراهية فصل فى البيع ج۴ ص۴۷۲ (طبع رحمانيه) ولان الثمن حق العاقد فاليه تقديره .. الخ

وفى الهنديه ج۳ ص۱۷۳ حط بعض الثمن صحيح ويلتحق بأصل العقد عندنا كالزيادة ... الخ

وفى الهداية ج۳ ص۸۰ (طبع رحمانية) ويجوز للمشترى ان يزيد البايع فى الثمن ويجوز للبائع ان يزيد للمشترى فى المبيع ويجوز ان يحط عن الثمن ويتعلق الاستحقاق بجميع ذلك ... الخ

وكذا فى الدر المختار فصل فى التصرف فى المبيع والثمن قبل القبض والزيادة والحط فيها ج۵ ص۱۵۴.

سوال: محترم ومکرم عالی جناب حضرت مفتی محمد تقی صاحب زاد کم الله علمًا وشرفًا

وروسته تر مسنونه ، د امريکې په تلسا او کلا نومي ځای د دسمبر ۱۹۹۸م کې ديوه شرکت ابتداء وشوه د دې شرکت نوم اسکائي بيز ۲۰۰۰ دی د دې شرکت کار ملټي ليول مارکيټنګ (Multy Level Marketing) ده.

۱ سوال: دادی چې زه د دې شرکت د ويب سائټ خريدار يم چې د هغه په ذريعه زه خپل کار بار ټوله دنياته رسولی شم ، که د اخبار اتو په وسيله د غه اشتهار خپريږي نو تر کومه ځايه چې غه اخبار رسيږي نو تر هغه ځايه د خپل کار بار پبلسټي (Publicity) رسيږي) کيږي ، لکن ويب سائټ په وسيله ټول عام ته پبلسټي کيږي د دې شرکت د شريک کيدلو بله فائده داده چې د غه کمپنۍ د انټرنيټ په وسيله مختلف تعليمات ورکوي ، مثلاً د غه شرکت حسب ذيل تعليم خپلو شريکانو ته ورکوي.

ونډوز ۹۵ ، ونډوز ۹۸ ، ونډوز ۱.۳ ، انټرنيټ ايجوکيشن ، ويب سائټ ايجوکيشن ، ويب بلډر ، لنک سرچنګ ، هوم بيزک بزنس وغيره.

که مذکوره تعليمات زه او زما د کورني افراد حاصلول غواړو نو د ټولو فيس به زه جلا جلا ورکوم دوهم داده چې زه د دې کلاسو باندې کوم ، او د شرکت څخه د ويب سائټ رانيولو وروسته په يو فيس زه او زما د کور ټول افراد د فرصت په وقت کې مذکوره تعليمات حاصلولی شو ، په کوم کې چې ظاهر ده چې د روپو هم بچت وی او د وقت هم پابندي نه غواړي.

۲ : دې شرکت ته چې څوک شپږ زره سل روپۍ ورکړي ويب سائټ رانيسي يا د دې شرکت شريک شي او علم حاصلوي ، نو شرکت هغه ته د کار بار موقع هم ورکوي ، چې په هغه کې د شرکت له طرفه د غه شرط دی چې هغه به نور شريکان پيدا کوي چې په هغه کې چپ او راست وي ، يو طرف ته نه پوره نه وي ، بلکه يو طرف ته به څلور او بل طرف ته به پنځه وي ، يا يو طرف شپږ او بل طرف ته درې ، په دې طريقې سره ويب سائټ د خريدارانو د تيارولو په عوض شرکت او يا ډالره نمائنده ته ورکوي ، دا ډول د غه سلسله وړاندې روانه وي ، مثلا پر نه خريدارانو او يا ډالره ، بيا پر اتلس باندی ۳۵ ډالره بيا پر ۲۷ باندې

۳۵ ډالره بيا پر ۴۲ باندې ۷۰ ډالره على هذا القياس ، داډول شركت خپل نمائنده ته كميشن وركوي.

۳ : دغه كمپنۍ سافټ وير ، هارډ وير ، او داغوستلو جامې وغيره جوړوي ، نو په دې طريقه سره دويب سائټ رانيولو او بيا ايجنټ جوړيدلو باندې دكاربار چې كوم تفصيل وړاندې تير شو ، او موږ ته دويب سائټ خريدار په پيدا كولو كې وقت لګيږي ، خپل موټر ، خپل تليفون استعماليږي ، يعني دښه كوشش وروسته خريدار پيدا كيږي ، پر كوم چې شركت راته كميشن راكوي ، شركت دنفع څخه موږ ته كميشن راكوي ، كوم چې يې وړاندې تفصيل تير شو .

اوس سوال داده چې زه غواړم چې ددې شركت سره كار وكړم او خپل كار بار په عالمي سطح جوړول غواړم ، او هم مذكوره تعليمات حاصلوم ، او هم نمائنده كوشش كوي چې دشركت لپاره نور دويب سائټ رانيوونكي پيدا كړي ، او ددې په عوض كې دشركت څخه كميشن وصول كړي ، نو زما دغه كميشن څنګه دى ؟ ايا شرعًا ماته ددې اجازت شته يا نه ؟ اميد دى چې دجواب څخه مو خبر كړې.

والسلام محمد على سيرګر ، نګينه محل ، رانديرسورت

عارف حسن عثماني ، خادم دار الافتاء دار العلوم اشرفيه رانديرمحمد اكرام الدين غفرله ، خادم دار الافتاء اشرفيه رانديرمحمد كليم لوهاري ، خادم دار الافتاء اشرفيه.

جواب په صورت مسؤله كې دويب سائټ رانيول او ددې شركت سره كار كول او تعليم حاصلول او ددې كمپنۍ ايجنټ (نمائندګي) كول او ورباندې كميشن اخستل جائز دى ، البته دغه ټول معاملات ځانته ځانته كول پكار دي يعنى دشركت سره كار كول ، تعليم حاصلول دنمائندګي سره مشروط نه وي بلكه تمام معاملات يو دبل څخه ځانته كول جائز دى (۱)

والله سبحانه اعلم ۲۵/ ۱۲/ ۱۴۱۲هـ (فتوى نمبر ۳۸ / ۴۸۰)

(۱) دحواله لپاره ص ۷۸ دحاشيې نمبر ص ۵۷ حاشيه ۱ و ۲.

دكمپيوټر مختلف سافټويرونه رانيول (كله چې سړى ورباندې خبروي چې ځنې يې دغلا دى)

سوال : دكمپيوټر سائنس دپوهنتون شاګرد يم ، او زموږ دكمپيوټر دسافټ ويرو ضرورت وي ، او دنويو څخه نويو ته ضرورت وى ، ولى چې موږ دكمپيوټر په علم كې دنور سره برابر ولاړ شو ، ددې ضرورت په پيش نظر موږ څو طلبهٔ يو ځاى تر يو فلان لاندې كار شروع كړو ، چې موږ به دكالج يا دطلبهٔ په روپو سافټ ويرونه رانيسو او طلبهٔ ته به يې مفت تقسيم كوو ، ولې چې يو طالب دغه سافټ ويرونه نه شي رانيولى ددې لپاره موږ ته كالج اجازت او سرمايه راكړه ، مګر څو كسانو وويل چې په پاكستان كې چې كوم سافټ ويرونه مستعمليږي هغه اكثر دغلا وي ، او بيا خلګ ددې څخه نور نقلونه كوي او تقسيموي يې ايا دتعليم او فلاح لپاره دغه ډول سافټ ويرونه رانيول جائز دى ؟

جواب : مكرم بنده السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

په كلي ډول باندې دا خبره ممكن نه ده چې په پاكستان كې استعمال والا ټول سافټ ويرونه دغلا دى ، لهذا په دې مفروضه سره درانيولو بالكليه ناجائز نه دى ، كوم څوك چې سافټ وير پلورې هغه ددې خبرې ذمه وار دى چې هغه په خپله ووايې چې دا ده په څه ډول لاس ته راوړى دى ؟ تر څو چې موږ ته په متعين ډول معلوم نه وى چې دغه سافټ وير دغلا دى نو دهغه رانيول جائز دى. (۱)

(۱) وفى فيض القدير رقم الحديث ۸۴۴۳ ج۱۱ ص ۵۶۵۴ (طبع مكتبه مصطفى الباز ، الرياض) من اشترى سرقةً وهو يعلم انها سرقة فقد شرك فى عارها واثمها .

وفى الشاميه ج۵ ص۹۸ نقل الحموى عن سيدي عبدالوهاب الشعرانى انه قال فى كتابه المنن ، ومانقل عن بعض الحنفيه من ان الحرام لا يتعدى ذمتين سألت عنه الشهاب بن الشلبى فقال هو محمول على ما اذا لم يعلم بذلك اما لو رأى المكاس مثلاً يأخذ من احد شيأمن المكس ثم يعطيه آخر ثم يأخذ من ذلك الآخر فهو حرام .

والسلام ۲۵/۹/۱۴۲۰ھ

داخبار دبل ایډوانس ورکولو په صورت کي داخبار داداري دطرف څخه په رعایت او خریدار ته انشورنش کولو حکم

سوال: زه دلته دشائع کرده انګریزي اخبار روزانه رانیسم ددې د Payment په صورت کي لاندیني طریقي کیدلی شی:

دهره میاشت پر آخر کي دی بل ورکړل شي.

دهرو درو میاشتو ایډوانس دي ورکړل شي

دهرو ۶ میاشتو ایډوانس دی ورکړل شي.

دپوره یوه کال ایډوانس دی ورکړل شي.

په دې درو صورتو کي اخبار دطرف څخه دوه سهولیتونه ورکول کیږي، ۱: اخبار په مجموعي طور هرزانه پریوزي، ۲: داخبار والا څه اضافي رقم وړلو داخبار په ایډوانس کي تردې مدې پوري انشورنس ورکول کیږي، یعنی که په کوم حادثه کي موت واقع شي نو داخبار دطرف څخه لواحقینو ته مخصوص رقم ورکول کیږي، دغه طریقه داخبار والاؤ داخبار دسیل پورته کیدلو لپاره کړې ده، ایا دا انشورنس کول جائز دی؟ دکوم چي بل اضافي پیومنټ نشته.

ډاکټر ظهور احمد بمعرفت مولانا خلیل احمد صاحب (ابوظبی، متحده عرب امارات)

وفی احکام المال الحرام ص۲۳۳ فمن علمت انه سرقة او خانه فی امانة ... لم یجز ان اخذه منه لا بطریق الهبة ولا بطریق المعاوضة ... الخ.

وفی الدر المختار ج۵ ص۹۸ الحرمة تتعدد مع العلم بها الا فی حق الوارث ... الخ.

وفی الهندیه ج۵ ص ۳۹۴ کل عین قائمة یغلب علی ظنه انهم اخذوها من الغیر بالظلم وباعوها فی السوق فانه لا ینبغی ان یشتری ذلک وان تداولتها الایدي.

وفی خلاصة الفتاوی ج۴ ص ۳۵۴ رجل علم بجاریة انها لرجل فرأی یبیعها ویقول وکلنی صاحبها یبیعها وسعه ان یبتاعها منه. هم داډول دغلا مال سره متعلق فتاوی رشیدیه ص۴۹۹ وګوری.

جواب: داخبار بل دایډوانس ورکولو په صورت کي چي کوم رعایت ورکول کیږي، دهغه دوه حیثیته دی یو دا چی دخریداري رقم قرض ورکړل شي او ددوی دقرض په مقابله کي رعایت کوي، او ددې تقاضا داده چی دغه قرض جائز نه دی ولي چی دا پر قرض نفع اخستل دی لکن دوهم حیثیت یې دادی چی رعایت دقرض په وجه نه وي، بلکه دخریدار دمستقلی خریداري په وجه وي او چونکه دا دتاجرانو طریقه کارده چی دخپل مستقل خریدار ته رعایت ورکوي نو هغه رعایت ورکوي او هغه پیشکي دروپو مطالبه داطمنان لپاره وی چی دغه شخص واقعةً تر مقرره مدت پوري اخبار رانیسي، په دغه ډول رعایت شرعًا جائز دی او په مذکوره معامله کی احقر ته دغه صورت راجح معلومیږي، دتاجرانو عرف و دعلمائي عصر تعامل هم ددې تائید کوی (۱) لهذا احقر په نزد دغه راجح دی، چی دغه رعایت شرعًا جائز دی، او پاته انشورنس مسئله شوه! نو دانشورنس دغه رقم اخباري اداره په خپله ادا کوي، او دا کومي بیمه کمپنی څخه نه وصولیږي نو مذکوره صورت کي دغه ډول معامله ګنجائش لري، ولی چی دانشورنس لپاره دغه اداره کوم اضافی رقم نه غواړي، دا یو طرفه انعام دی، دا داډول مثال لري څنګه چی تاجر دخپلو مصنوعاتو دفروغ لپاره یو طرفه مختلف انعامات ورکوي

---

(۱) وفی الشامیه ج۴ ص۵۱۶ ولو اعطاه دراهم وجعل یأخذ منه کل یوم خمسة امناء ولم یقل فی الابتداء اشتریت منک یجوز وهذا حلال وان کانت نیته وقت الدفع الشراء لانه بمجرد النیة لا ینعقد البیع وانما ینعقد البیع الآن بالتعاطی الآن البیع معلوم فینعقد البیع صحیحاً قلت ووجهه ان ثمن الخبز معلوم فاذا انعقد بیعاً بالتعاطی وقت الأخذ مع دفع الثمن قبله ... الخ. او کله چی دغه رقم اخباراتو ثمن وی نو په ثمن کي رعایت شرعًا درست دی.

وفی الهندیه ج۳ ص۱۷۱ (طبع رشیدیه) الزیادة فی الثمن والمثمن جائزة حال قیامهما ... الخ (الباب السادس عشر فی الزیادة فی الثمن والمثمن والحط والابراء عن الثمن)

وفی الهدایة ج۳ ص۸۰ (طبع رحمانیه) ویجوز للبائع ان یزید للمشتری فی المبیع ویجوز ان یحط عن الثمن ویتعلق الاستحقاق بجمیع ذلک، وفی حاشیته لان الزیادة لما التحقت باصل العقد صارت کالموجودة عند العقد.

وخريدار ته دخپل رقم پوره پوره معاوضه درانيولو شي په صورت کي ورته ورکول کيږي ،او رانيوونکي ته ورسره انعام هم ورکول کيږي (۱)

البته که دغه رقم دانشورنش کمپنۍ دطرف ځخه ورکول کيږي نو دا بيا دوو وجو ځخه ناجائز ده ، اول دا چې په دغه صورت کي داخبار اداره ضرور کوم انشورنس کمپنۍ ته اضافي رقم ورکوي چي دهغه حاصل دادی دغه کمپنۍ دسود او قمار معامله تر سره کوي ، او دغه رقم دسود او دقمار په نتيجه کي لاس ته راځي ، بل داچې دانشورنس کمپنۍ اکثرآمدنی به سود او قمار مشتمل وی ، نو ددغه ځخه رقم اخستل هم جائز نه دی . والسلام ۲۲ / ۱۱ / ۱۴۱۴هـ

ايا دنفعي شرعًا کوم متعين حد شته يا نه ؟

سوال: ايا کار بار کي نفع شرعًا حدلري ؟که دشرعي نقطه نظر ځخه کوم شخص زيات نفع واخلي نو درسته ده ؟ طلعت محمود ، راولپنډی

جواب: په کاربار کي شرعًا دنفع کوم مقرر حد نشته البته دوکا به نوي او بيا دخپلو حالاتو سره سم چي ځونه نفع اخلی په هغه کي شرعًا پابندي نشته (۲) والسلام ۲۸ / ۲ / ۱۴۱۱هـ

( ) وفى الهنديه ج ۳ ص ۱۷۳ حط بعض الثمن صحيح ويلتحق بأصل العقد عندنا كالزيادة ... الخ
وفى شرح المجلة لخالد الأتاسي ج۲ ص۱۸۲ رقم الماده ۲۵۶ حط البائع مقدار من الثمن المسمى بعد العقد صحيح ومعتبر وكذا حط جميعه ... وبعد اسطر ... وهذا اذا كان بلفظ الحط ومثله وكذا فى شرح المجلة وكذا فى الدر المختار ج ۵ ص ۱۵۴ فصل فى التصرف فى المبيع والثمن قبل القبض والزيادة والحط فيها ... الخ وكذا فى مجمع الانهر شرح ملتقى الأبحر ج ۴ ص ۱۱۶ .
( ) وفى سنن ابن ماجه باب من كره ان يسعر ص۱۵۹ (طبع قديمى كتب خانه) عن انس بن مالك ﷺ قال : غلا السعر على عهد رسول الله ﷺ فقالوا : يا رسول الله ! قد غلا السعر فسعرلنا ، فقال ان الله هو المسعر القابض الباسط الرازق .
وفى الهنديه ج ۳ ص ۱۳۱ (طبع رشيديه) من اشترى شيئًا واغلى فى ثمنه جاز ... الخ

دتجارتي انعامي سکيمو شرعي حکم

حضرت مولانا مفتی عبدالواحد صاحب دتجارتي انعامی سکيمو په اړه لاندی مضمون ليکلی او حضرت مفتی صاحب ته يې درائي دطلب لپاره راليږلی (مرتب)

انعام دې ته وايي چې دمطلوب وصف په حوصله افزائي کي ورکول کيږي ، مثلا په امتحان کي به اول دوهم باندی انعام ورکول کيږي ، تر ځوچي په علم حاصلولو کي چي مطلوب وصف دی حوصله افزائي (رغبت) راشي په مسابقه کي که ځوک اول دوهم راشي نو هغه ته انعام ورکول کيږي ، ولي چې مسابقه دجهاد لپاره دتربيت حاصلولو وصف مطلوب دی ، وغيره .

ولا بأس بالمسابقة فى الرمى والفرس والبغل والحمار والابل وعلى الاقدام لانه من اسباب الجهاد فكان مندوبًا وعند الثلاثة لا يجوز فى الاقدام اى بالجعل اما بدونه فيباح فى كل الملاعب (درمختار ج ۵ ص ۲۸۵)

(قوله فيباح فى كل الملاعب) اى التى تعلم الفروسة وتعين على الجهاد لان جواز الجعل فيما مر انما ثبت بالحديث على خلاف القياس فيجوز ما عداها بدون الجعل وفى القهستاني عن الملتقط من لعب بالصولجان يريد الفروسية يجوز وعن الجواهر قد جاء الاثر فى رخصة المصارعة لتحصيل القدرة على المقاتلة دون التلهى فانه مكروه (رد المحتار ج ٦ ص ۴۰۲)

حل الجعل وطاب ... ان شرط المال فى المسابقة من جانب واحد وحرم لو شرط فيهامن الجانبين لانه يصير قمارًا الا اذا ادخلا ثلاثًا محللاً بينهما بفرس كفؤ لفرسيهما

وفى الهدايه ج ۴ ص ۷۲ (طبع مكتبه رحمانيه ولا ينبغى للسلطان ان يسعر على الناس لقوله عليه السلام لا تسعروا فان الله هو المسعر القابض الباسط الرازق ولان الثمن حق العاقد فاليه تقديره فلا ينبغى للامام ان يتعرض لحقه الا اذا تعلق به دفع ضرر العامة
وكذا فى بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۲۹ والدر المختار ج ٦ ص ۳۹۹ (طبع سعيد)
وفى البحوث فى قضايا فقهيه معاصره ص ۸ وللبائع ان يبيع بضاعته بما شاء من ثمن ولا يجب عليه ان يبيعه بسعر السوق دائمًا وللتجار ملاحظ مختلفة فى تعيين الاثمان وتقديرها ... الخ .

يتوهم ان يسبقهما والا لم يجز... وكذا الحكم فى المتفقهة فاذا شرط لمن معه الصواب صح (در مختار ج۶ ص۴۰۳) وان شرطاه لكل على صاحبه لا والمصارعة ليست ببدعة الا للتلهى فتكره... واما السباق بلا جعل فيجوز فى كل شيئ (اى مما يعلم الفروسية ويعين على الجهاد بلا قصد التلهى... (در المختار ورد المحتار ج۶ ص۴۰۴)

دمذکوره عباراتو خلاصه داده چې مسابقه په علم دمهارت حاصلولو په خاطر جائزه يواځې په هغو کارو چې هغه دجهاد دتربيت لپاره وي ، او هغه هم چې دجهاد په نيت سره وي ، که محض لوبه وي ، نو هغه که بغير دانعام وي هم مکروه ده ، دجهاد تربيت دومره اهميت لري ، چې په هغه کې دوطرفه انعام شرطول هم جائز دی ، مګر دقمار څخه دراايستلو لپاره محلل په کې داخل شو.

اوس موږ کار باري انعام ته راځو:

۱: اول دا خبره ده چې زياته خريداري اګر که ددکان دار وی يا دکوم بل صارف وی ، دا کوم وصف مطلوب نه دی په دې کې نه دجهاد تربيت شته ، نه په دې کې علمي مهارت شته ، او نه کوم بل نښه خلق مثلا خدمت خلق وغيره حاصليدلی شی ، لهذا په دې مسابقه کې دترغيب ورکولو په اصولی ډول غلطه خبره ده.

۲: دوهمه خبره داده: چې دغه بائع په کوم مبيع اضافتوب راولي که هغه دانعام په نامه وی هغه داصل مبيع حصه بلل کيږي ، او مشتري چې په کوم نامه قيمت زيات ورکوي هغه داصل قيمت څخه بلل کيږي.

وصح الزيادة فى المبيع ولزم البائع دفعها ان فى غير سلم زيلعي وقبل المشتري وتلتحق ايضا بالعقد ، فلو هلكت الزيادة سقط حصتها من الثمن وكذا لو زاد فى الثمن عرضا فهلك قبل تسليمه انفسخ العقد بقدره (در مختار ج۴ ص۱۸۷)

کله چې دا خبره واضح شوه دمزعومه انعام صورت په حقيقت کې دمبيع يا ثمن کې دکمي بيشي وي ، نو په دې سره دلاندينو شرائطو مراعت کول ضروري دی

۱: انعام به داسې شی وی چې هغه مبيع او ثمن کيدلی شي.

۲: ددې په وجود کې به دخطر انديښنه نه وی چې وبه شي او که نه؟

۳: ددې په مقدار کې به تردد او جهالت نه وي.

که داسې صورت وي چې په هغه کې دغه درې شرطونه موجود وي نو هغه انعام صحيح دی او که داسې صورت وي چې په هغه کې يو شرط يا درې واړه مفقود شي نو هغه انعام صحيح نه دی.

دانعام صحيح صورتونه:

دلپټن چاي په بند ډبې کې يو وړوکی پاکټ دبسکوټو وي او داډول دغاښو دکريم سره برش ورکول کيږي ، يا دغوړيو په معلوم مقدار کې يو اندازه غوړي زيات ورکول کيږي نو دا ټول صحيح دی ، ولې چې دغه اشياء مبيع کيدلی شي ، او دهغه په وجود او مقدار کې کوم قسم جهالت نشته.

دانعام ناسم صورتونه:

۱: چې اول شرط مفقود وي ، چې دکوم شرکت مالکان داووايي چې که چا زموږ څخه دونه اندازه سامان رانيولو په هغه باندی به دوی عمره وکړي ، يا دموټروان سره به موټر ورته ورکړي چې هغه کولی شي چې تر فلان ځای پورې په کې سير وکړي ، په دې صورتو کې شرکت ورته منافع ورکوي کوم چې په اجاره سره نيول کيږي ، ددې شيانو بيع نه کيږي ، لهذا هغه دبيع صلاحيت نه لري ، نو دغه انعام درست نه دی.

۲: چې دوهم شرط په کې مفقود وی: که کوم شرکت يا بائع داووايي: چې څوک ددوي څخه دومره اندازه سامان رانيسي نو دوی به هغه ته کوفن ورکړي او ددوی تر منځ به هسکه کيږي چې يواځې هغه چاته به ورکول کيږي چې نوم يې وخيږي نو په دې صورت کې معلومه نه ده چې دزيد نوم به وخيږي او که يا؟

۳: دريم شرط چې مفقود وی: که کوم شرکت ووايي چې څوک ددوی څخه دومره سامان رانيسي نو موږ دوی ته دومره انعام ورکوو ، لکن دوی ته په هسکه سره زيات او کم مال ورکول کيږي.

۴: کله چې درې واړه شرطونه مفقود وی: ددې مثال دادی چې کوم شرکت ووايي که زموږ څخه څوک دومره سامان ددوی څخه رانيسي هغه ته موږ کوپن ورکوو او بيا هسکه ورباندې کوو ، دچانوم چې راووت په هغه باندې موږ عمره کوو ، ددې مطلب

دادی چې موږ هغه سعودي ته بیایو او هلته ورته دهستونګي ځای ورکوو، لکن هغه ته ټکټ نه ورکوو.

۳: دریم داده چې انعام همیشه مشروط وي او په بعضي صورتو کي شرط فاسد وي نو په دې سره سودا هم فاسدیږي.

۱: دشرکت داعلان سره خریدار دسامان درانیولو سره داورته ووایي چې که ما دونه سامان رانیولو نو تاسي به ما عمرې ته بیایی، یا به په ما دفلان ځای سیر کوی، چونکه دغه شرط دسودا دتقاضا خلاف دی او په دې کي دخریدار فائده هم ده، لهذا دا شرط فاسد دی، او ددې په وجه تو له سودا فاسدیږي، بائع او خریدار دواړه ګناهګار دی، پر دواړو لازم ده چې دغه سودا ختم کړي، او دسره دی نوې سوداو کړي.

۲: انعامي سکیم دادی چې څوک دومره سودا وکړي نو هغه په هسکه کي شریک دی، چاچي ددې انعامي سکیم مطابق سودا وکړه او کوپن یې ورکړو نو څنګه چې موږ وړاندي وویل کارهم دمبیع حصه جوړیږي، لکن دا معلومه نه ده چې هغه به لاس ته ورشي او که نه، نو دمبیع مقدار هم مجهول ده، او په دې کي دقمار په وجه بیع هم فاسد ده.

تنبیهات ۱: بعض اوقات دشرکت ملازمین خریدارته وایي: که ستاسي په دې سکیم کي تردد دی نو زموږ دطرف څخه کوپن په خپله ډک کړی، او په دې هسکه کي یې شامل کړی.

دشرکت دملازم په دغه کار سره قباحت نه کمیږي، کله چې هغه ووایي چې موږ په خپله هم کوپن ډک کوو، نو هغه دخریدار وکیل شو، او دوکیل تصرف دمؤکل وی، دوهمه خبره داده چې کله یو منکر وی نو هغه وخت ملازمینو ته خاموشي نه ده پکار بلکه نهی کول واجب ده.

۲: کمپنیو والاچي دومره بیش قیمته انعامات دکان دارانو ته ورکوي، دا دسرمایه دارانه نظام طریقه ده، اصل همدردي خو دصارف سره کول پکار ده، ورنه دکاندارانو ته دانعام ورکولو بوج هم پر صارفینو باندي لویږي، ولي چې په عام ډول باندي انعام هم داخراجاتو څخه شمار کوي او داشیاؤ په قیمت یې داخلوي.

۳: بعض اوقات دشرکت والا دخپلو مصنوعاتو په یوه یا څو پاکټو کي انعامي پرچې وغیره ږدي، څو چې خلګ ددې انعام په طمع زیاته خریداري وکړي چونکه دغه انعام دیوه یا څو کسانو راووزي او نور په خطره کی دی او دقمار په معنی کی داخبره شاملیږی چې ددې وجې او خریدار ددې موهوم انعام په لالچ کی هغه سامان رانیسي او هغه په بل طرف کي قمار کوي.

حضرت مولانامفتی محمد شفیع صاحب ﷫ دغه په مثل یو صورت بیان کوی دی وایي: دمختلفو شیانو په نمایش کي دداخلیدو د لپاره ټکټ ورکول کیږي او دنمائش منتظمین دا اعلان کوی چې څوک دلسو روپو ټکټ رانیسي هغه په دغه ټکټ سره دعامو خلګو په ډول په نمائش کي داخلیدلی شي او په هغو نمائشو کي په هسکه کولو سره څه اندازه انعام ورکول کیږي دچاچي نمبر راووزي هغه ته به انعام ورکول کیږي.

دغه صورت صریح قمار دی ولي چې ټکټ رانیوونکی ته ددې ټکټ معاوضه په صورت داخله دنمائش کي ورکول کیږي، او مدار یې پر نیت باندی دی، څوک چې ددغه موهوم انعام په غرض دغه ټکټ اخلی ګواکي هغه دقمار مرتکب کیږي. (جواهر الفقه ج۲ص۳۵۱)

څوک چې داسي شی رانیسی او دهغه دانعام پرچی راووزي او ده ته دپرچې دسکیم علم هم وي او که علم نوي ده دخپل ضرورت په خاطر رانیولی وی، دانعام طمع یې نه وی، په دې صورت کي هم دغه شخص ته انعام اخستل جائز نه دی، ولی یو په دې کي ددغه سکیم سره تعاون او شراکت دی او بل نیت مخفی شی دی لهذا حکم پر هغه باندی نه کیږي بلکه پر ظاهر باندی کیږي، ظاهر داده چې څوک دغه انعام وصول کوي نو دهغه شي خریداری کوي. والله اعلم عبدالواحد.

دحضرت مفتی صاحب جواب،

جواب: ګرامي قدر مکرم جناب مولانا مفتی عبدالواحد صاحب زید مجدکم السامي

ستا مضمون (دتجارتي انعامي سکیمو شرعي حکم) ددارالافتاء په توسط بنده ته موصول شو، چونکه تا فرمائش کړی چې دې باندي دخپلي رائي اظهار وکړه، نو

عرض داده چی دبنده په خیال دغه انعام زیادة في المبیع نه دی ، بلکه یو هبه مبتدأه یوه وعده ده دبائع او مشتري څخه یو هم یې زیادة فی المبیع نه بولي ، نه عرف عام دغه زیادة فی المبیع بولي او شرعًا هم دا ضروري نه ده ، چې دبیع تام وروسته چې بائع ومشتري ته کوم شی بلاقیمت ورکړي نو هغه زیادة في المبیع ده ، بل دا ضروري نه ده چی انعام به همیشه مسابقت باندی ورکول کیږي نه دا ضروري ده چی هبه دانعام په نامه چې څه ورکول کیږي هغه دمسابقت مشروعه دصوروتو سره منسلک دی (۱)

(۱) دانعامي مسابقت يا مسابقت مشروعه سره منسلک کیدل ضروري نه دی څنګه چی دانعام په درج ذیل عبارات واضح دی .

في مجموعة قواعد الفقه ص۱۹۴ والانعام بالكسر عرفًا الارض التى اعطاها السلطان او نائبه .

فی تاج العروص ج۴ ص۱۹ الجائزة العطية من اجاز يجيز اذا اعطاه واصلها ان اميراً وافق عدواً بينهما نهر فقال من جاز هذا النهر فله كذا ، فكلما جاز منهم واحداً اخذ جائزة ، وقال ابو بكر فى قولهم اجاز السلطان فلانًا بجائزة ، اصل الجائزة ان يعطى الرجل الرجل ماء ويحيره ليذهب لوجهه فيقول الرجل اذا ورد ماء لقيم الماء اى اعطنى ماء حتى اذهب لوجهى وأجوز عندثم كثر هذا حتى العطية جائزة فقال الجوهري اجازه بجائزة سنية اى بعطاء .... ومن المجاز الجائزة التحفة واللطف .. ومثله فى جمهرة اللغة .

فى القاموس المحيط ج۴ ص۲۵۶ انعمهما الله عليه وانعم بها ونعيم الله تعالى عطيته ونعم الله تعالى بک كسمع ونعمک وانعم بک عينًا اقربک عين من تحبه او اقر عينک بمن تحبه وفيه ج۲ ص۲۴۳ الجائزة العطية والتحفة واللطف ومقام الساقي من البئر .

فى روح المعاني ج۱ ص۲۵۷ والانعام ايصال الاحسان الى الغير من العقلاء كما قاله الراغب فلا يقال انعم على فرسه ولذا قيل ان النعمة نفع الانسان من دونه بغير عوض .

فى البيضاوى ج۱ ص۴۰ (طبع رحمانيه) والانعام ايصال النعمة وهى فى الاصل الحالة اللتى يستلذه الانسان فأطلقت لما يستلذها من النعمة وهى اللين .

فى البحوث لشيخنا العثماني حفظه الله ورعاه ج۲ ص۲۲۹ وان مثل هذه الجوائز اللتى تمنح على اساس عمل عمله احد لا تخرج عن كونه تبرعًا وهبة لانها ليس لها مقابل وان العمل الذي عمله الموهوب له لم يكن على اساس الاجارة والجعالة حتى يقال ان الجائزة اجرة لعمله وانما كان على اساس الهبة للتشجيع وجاء فى الموسوعة الفقهية (الكويتية) الاصل اباحة الجائزة على عمل مشروع سواء كان دينيًا او دنيويًا لانه من باب الحث على الخير والاعانة عليه بالمال وهو من قبيل الهبة

تاچې دجواهر الفقه عبارت باندی اشکال کړی دی چې نیت یو مخفی شی لهذا حکم باید پر هغه باندی ونه شي ، په دې باره عرض دادی چی دقضا حکم واقعي اکثر پر نیت باندی نه کیږي ، لکن دیانةً ډیر احکام پر نیت باندی موقوف دی کما لا یخفی علیکم ، مثلا یو شی چې دمعصیت او غیر معصیت لپاره استعمالیږي هغه په نیت دمعصیت رانیول جائز نه دی ، او په نیت دنه معصیت جائز دی(۱) او دجواهر الفقه حکم پر دیانت شوی پر قضا نه دی.

لهذا ستا تحریر دمکرر لوستلو او غور کولو سره سره دا خبره صحیح معلومیږي چې دحضرت والد صاحب قدس سره دجواهر الفقه خبره صحیح ده.

والله سبحانه وتعالی اعلم ، محمد تقی عثماني ، دار الافتاء دار العلوم کراچي ۲۱، ۴/ ۱۴۲۸هـ (فتوی نمبر ۳۷ / ۹۶۱)

دفروخت لپاره سامان دوکیل څخه غلا شي نو نقصان دوکیل یا دمالک دی ؟

سوال: زید دلس زره روپو شکره دبازار څخه رانیوله ددلال بکر په دکان کې یې جمع کړی او بکر ته یې وویل: کله چې ګرانه شي نو یې خرڅه کړه زه تا ته کمیشن درکوم ، ددکان کلي یې هم بکر ته ورکړه اوس چې ددلال ددکان څخه تقریبًا اته بوری شکره غلا شوې ده ، نو ددې تاوان پر زید او که پر بکر دی؟ توله شکره دبکر په قبضه کې وه ، دبازار قانون دادی ددلال په قبضه کې چې کوم شی ورک شی نو دهغه ذمه وار دلال دی ، شرعًا څنګه دی ؟

دنور تفصیل لپاره دمفتی صاحب کتاب بحوث فی قضایا فقهیه معاصره کې رساله احکام الجوائز ج۲ ص۲۳۳ تا ۲۴۴ پورې ملاحظه کړی .

(۱) وفی قاضی خان ج۲ ص۲۸۱ ویکره ان يبيع المكعب المفضض من الرجال اذا علم انه يشترى ليلبس .. الخ

جواب: په صورت مسؤله کی که غلا دبکر په بې احتياطی په وجه نوي راغلې نو دنقصان ذمه وار زيد دی، که بکر بې احتياطی کړې وي نو دغلا ذمه وار بکر دی ولي چی هغه وکيل بالبيع دی او دوکيل قبض دامانت وی (۱) او که په بازار کي دشکري قلت وی نو داډول ذخيره اندوزي کول سخت ګناه ده (۲).

والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۴ / ۱۱ / ۱۳۸۷ھ
(فتوی نمبر ۱۳۵۷ / ۱۸الف)

الجواب صحيح بنده محمد شفيع عفی عنه

دکار بار خرڅولو وروسته دمشتري دطرف څخه دمقرره مدې څخه دثمن وروسته کولو په صورت کي دبيع فسخ کولو يا نه کولو حکم؟

سوال: که يو سړی دبل څخه کار بار رانيسي لکن مشتری ترمقرره وخت پوري ثمن ادا نکړي يا څه حصه ادا نکړي، او هغه مفلس هم نه وي، نو څنګه چي مشتری معاهده ماته کړې ده نو بائع ته دا حق حق حاصل دی چی بيع فسخ کړي او کار بار بيرته ورڅخه واخلی او دثمن چي يې څه حصه ادا کړې ده هغه بيرته مشتری ته ورکړي؟ دمثال په ډول که بائع يو کروړ روپۍ کاربار وپلوري او مشتری پر هغه باندي قبضه هم وکړي لکن دمقرره مدت پوري ثمن ادا نکړي او هغه ديوالي (مفلس) هم نه وی، نو څنګه چي

---

(۱) دحوالي لپاره شرح المجلة لسليم رستم باز ص۴۷۸ رقم الماده ۱۴۶۳ او ص ۴۳۶ رقم الماده ۷۸۷ (طبع مکتبه حنفيه کوټه) وګوری.

(۲) وفی شعب الايمان للبيهقي ج۱۳ ص۵۱۱ رقم الحديث ۱۰۷۰۲ عن معاذ بن جبل ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ بئس العبد المحتکر اذا رخص الله الاسعار حزن واذا غلی فرح.
وفی المستدرک علی الصحيحين للحاکم ج۲ ص۱۴ کتاب البيوع رقم الحديث ۲۱۶۴ قال رسول الله ﷺ المحتکر ملعون وکذا فی مصنف عبدالرزاق باب الحکرة ج۸ ص۲۰۴ رقم الحديث ۱۴۸۹۳
وفی الدر المختار ج۶ ص۳۹۸ وکره احتکار قوت البشر کتين وعنب ولوز والبهائم فی بلد يضر بأهله وفی الهداية ج۴ ص۳۹۸ ويکره الاحتکار فی اقوات الآدميين والبهائم اذا کان ذلک فی بلد يضر الاحتکار بأهله وکذا فی البدائع للکاساني ج۵ ص۱۲۹ وخلاصة الفتاوی ج۴ ص۳۵۳ والبحر الرائق ج۸ ص۲۰۲.

مشتری تر مقرر مدې پوري ثمن ادا نه کړې ايا بائع کولی شي چی بيع فسخ کړي، او مبيع بيرته دمشتری څخه واخلی او څونه روپۍ چي يې ورکړي دی هغه بيرته ورکړي؟ ماته ددې دجواز په عبارت دفقهاؤ کي معلوم نه شو ولي چي بيع مکمل شوه، او بائع حق صرف په ثمن کي پاته دی، او کار بار دده دملکيت څخه هم وتلی دی، لهذا بائع لپاره بيرته کار بار وړو جواز نشته، برائي مهرباني وضاحت يې وکړه چي داسي کول بائع لره جائز دی؟

المستفتی: ايم ايس، عمر ايډوکيټ، ډربن جنوبي افريقه.

جواب: که دکوم شي دپلورلو پر وقت په عقد کي دا شرط ولګيږی که خريدار دمقرره مدت پوري روپۍ ادا نه کړي يا دهغه څه حصه ادا نه کړي نو بيع په خپله ختميږي، نو دا صورت دخيار نقد دی او په بيع کي دا شرط لګول صحيح دی، او دا شرط پر خپل وقت موثر هم وی، چنانچه فقهائي کرامو وايي: که مشتری تر مقرره مدت پوري کل رقم يا څه حصه ادا نکړي نو دغه بيع فاسد ده (۱) او مشتری او بائع باندی واجب ده چی دغه بيع فسخ کړي، لهذا که په داسي صورت حال کی مبيع پر خپل حال وی نو بائع ته دا حق حاصل ده چی هغه مبيع دخريدار څخه بيرته يوسي او ثمن چي څه ورکړل شوی دی هغه هم بيرته ورکړي.

که په بيع کي دخيار النقد شرط نه وايښوول شوی نو په دې صورت بيا بائع يک طرفه دبيع فسخ او مبيع دمشتری څخه نه شي وړلای، ولی چی کله دطرفينو په رضا سره ايجاب او قبول وشو نو دفريقينو څخه يو طرف سره بيع نه شي فسخ کيدلای، بلکه په دې صورت کي مبيع دمشتری ملک دی او دبائع يواځي ثمن حق دی، بائع کولی شي چی مشتری مجبور کړی چي ثمن ادا کړي، هغه که ثمن ادا نکړي په دې صورت کي بائع اختيار لري:

۱: خريدار راضی کړي او په اصل ثمن اقاله وکړي

۲: دثمن دوصولي لپاره دعوه دائر کړی.

---

(۱) کتاب ادب القاضی ج۳ ص۱۵۳ (طبع مکتبه رحمانيه)

البته حضرت مولانا رشید احمد صاحب رحمه الله په احسن الفتاوی ج۲ ص۵۳۳ کي لیکلي دي: بلکه بدون شرط کله چې د مشتری څخه د ثمن وصولي متعذر شي نو بائع ته دفسخ بیع حق حاصل دی ، د هغه دفتوی بنیاد د صاحب هدایه علامه مرغیناني رحمه الله مذکوره عبارت دی:

ولانه لما تعذر استیفاء الثمن من المشتري فات رضا البائع فیستبد بفسخه. (هدایه ج۳ ص۱۱۵)

ترجمه: کله چې د مشتری څخه د ثمن وصولی متعذر شي نو د بائع رضامندي فوت شوه او هغه کولی شي چې بیع فسخ کړي.

لکن په حقیقت کی د صاحب هدایه مذکوره عبارت پر مذکوره مسئله استدلال کولو کي تسامح معلومیږي ، ولي چې د صاحب هدایه عبارت خاص په هغه صورت کی دی کله چې مشتری انکار کوی چې هغه د بائع څخه مبیع رانیولی دی ، چې د دي مطلب دادی چې بیع دوړاندي څخه مشتری تسلیم کړې نه ده ، لهذا که بائع د ثمن د وصولي لپاره بیع فسخ کړي نو دغه بیع د فریقین د طرف څخه فسخ کیږي ، لکن یک طرفه بیع فسخ کول د صاحب هدایه په نزد هم جائز نه ده ، څنګه چې هغه په دغه صفحه کي وړاندي لیکلی دی ، کله چې بیع یو ځل مکمل شي نو بائع او مشتری دواړه څخه یک طرفه بیع نه شي فسخ کولی ، عبارت په لاندي ډول دی:

لان احد المتعاقدین لا یتفرد بالفسخ کما لایتفرد بالعقد (هدایه ج۳ ص۱۱۵) (۱)

ترجمه: د متعاقدین څخه یو هم یک طرفه د بیع د فسخ کولو حق نه لری څنګه چي دواړو یک طرفه د بیع عقد حق نه درلود .

د دي برخلاف تاچي په سوال کي څه لیکلی دی هغه بالکل مختلف دی ، په دې کي نه مشتری کاربار د بائع څخه د رانیولو انکار کوی او نه بائع د بیع د فسخ کولو کوشش کوي ، بلکه صرف د مقرر وقت د ثمن دادا کولو خبره ده ، په دې صورت کی بائع ته د بیع دفسخ حق نشته ، الا که بیع کولو په وقت کی دوی دا شرط کړې وي چې وړاندي په تفصیل سره تیر شول:

(۱) کتاب ادب القاضی ج۲ ص۱۵۴ (مکتبه رحمانیه)

في شرح المجلة ج۲ ص ۲۵۷ ، المادة ۳۱۳ اذا تبایعا علی ان یؤدی المشتری الثمن فی وقت کذا وان لم یؤده فلا بیع بینهما صح البیع وهذا یقال له خیار النقد (الی قوله) وان بین المدة اکثر من ثلاثة ایام ، قال ابوحنیفة رحمه الله البیع فاسد ، وقال محمد رحمه الله البیع جائز وفی البحر عن غایة البیان ان ابا یوسف مع الامام فی قوله الاول والذی رجع الیه انه مع محمد وقد اختارت جمعیة المجلة قول محمد رحمه الله مراعاة لمصلحة الناس فی هذا الزمان کما صرحت بذلک فی تقریرها المتقدم للمرحوم عالی باشا الصدر الاعظم (۱)

وفی شرح المجلة لسلیم رستم باز ص ۱۶۶ المادة ۳۱۴ اذا لم یؤد المشتری الثمن فی المدة المعینة کان البیع الذي فیه خیار النقد فاسداً (۲) ولکل من العاقدین فسخه اذا بقی المبیع علی حاله وفی الکفایة بهامش فتح القدیر ج۶ ص۴۲۱ والعلامه النسفي ذکر فی الکافي اشکالاً فی هذا الموضع فقال ذکر فی الهدایة لان احد المتعاقدین لا یتفرد بالفسخ کما لا یتفرد بالعقد لانه حقهما فبقی العقد فعمل التصدیق وذکر قبله ولانه لما تعذر استیفاء الثمن من المشتری فات رضا البائع فیستبد بفسخه ، والتوفیق بین کلامیه صعب ، قلت لا تناقض بین کلامیه فیحتاج الی التوفیق لان مراده بقوله لان احد المتعاقدین لا یتفرد بالفسخ فیما اذا کان الآخر علی العقد معترفاً به کما اذا قال احدهما اشتریت وانکر الآخر لا یکون انکاره فسخاً للعقد اذ لا یتم به الفسخ وفیما اذا قال اشتریت مني هذه الجاریة وانکر

(۱) رقم المادة ۳۱۳ ج۲ص۲۵۷ (طبع مکتبه حبیبیه کوټه)

(۲) شرح المجلة للاتاسي رقم المادة ۳۱۴ ج۲ ص۲۵۸ (طبع مکتبه حبیبیه کوټه)

فالمدعى للعقد هو البائع والمشترى ينكر العقد والبائع بانفراده على العقد فيستبد بفسخه ايضاً (۱)

وفى بدائع الصنائع ج۵ ص۶۰۳، واما بيان ما يرفع حكم البيع فنقول وبالله التوفيق حكم البيع نوعان، نوع يرتفع بالفسخ وهو الذى يقوم برفعه احد العاقدين وهو حكم كل بيع غير لازم كالبيع الذى فيه احد الخيارات الاربع والبيع الفاسد ونوع لا يرتفع الا بالاقالة وهو حكم كل بيع لازم وهو البيع الصحيح الخالى عن الخيار (۲).

والله سبحانه وتعالى اعلم ۳/۵/۱۴۲۷ هـ (فتوى نمبر ۴۹/۸۷۳)

دهاؤس بلډنګ فنانس کارپوريشن شخه دجائيداد درانيولو حکم

سوال: مولانا مفتى عبدالواحد صاحب دحضرت مفتي صاحب خدمت ته يو سوال راليږلی چي په هغه يې دهاؤس بلډنګ فنانس کارپوريشن تفصيلي طريقه کار ذکر کړی دحضرت مفتي صاحب رايه يې طلب کړې، دغه سوال په ريکارډ کي موجود نه ؤ، مګر دجواب شخه دسوال وضاحت کيدلی شی، چی خلاصه يې داده چي (H,B,F,C) دتفصيلي کار په رڼا کي ددې شرکت شخه دجائداد رانيول او جوړول جائز دی که نه؟ دحضرت مفتي صاحب جواب په لاندې ډول دی: (ازمرتب)

جواب: دهاؤس بلډنګ فنانس کارپوريشن په کومه طريقه چي عمل کوی دې ته دکتلو وروسته ددارالعلوم او داحقر دطرف شخه فتوا جاري شوه چي دغه بحيثيت مجموعي جائز نه ده.

(۱) طبع رشيديه کوټه.
(۲) طبع سعيد.

تاچي کومي مسئلې راپورته کړې دی، دهغه شخه دوې مسئلې داسې دی چې دهغه شرعًا هيڅ جواز نشته، يو داچې دشريک شخه په ابتداء کې فيس وصول کول، او بل دعدم ادائيګي دنوټس قيمت په تناسب مقرر کول.

البته: ترکومه چې دمعدوم اجاره ده يا دمعدوم بيع ده، ددې په اړه چې زما په فکر کې کوم صورت ؤ هغه داؤ چې شرکت ملک (نه شرکت عقد) وبلل شي دشرکت اجاره او بيع درې واړه ځانته ځانته پر خپل وقت وشي، البته په شروع کې دفريقنو په منځ کې يوه معاهده لاسليک شي چې پر فلاني تاريخ به شرکت ملک منعقد کيږي، او بيا به پر فلان تاريخ يا پر فلان مرحلې ددې اجاره کيږي، او پر فلان تاريخ يا پر فلان مرحلې به بيع بالاقساط کيږي بيا دهغو شخه هر عقد پر خپل وقت باندې سرته رسيږي، دمعاهدې په حيثيت کې پر فريقينو لازم ده چې هغه پر معينه اوقاتو باندې دهغو عقودو انشاء وکړي، پر دې صورت باندې ډيرو علماؤ او مفتيانو مشوره کړې ده. لکن دغه سکيم نافذ سی نو دغه شرائط هم نه ملحوظ کيږي، چنانچه ددې سکيمو داجراء وروسته احقر دمالياتي ادارو په يوه اجتماع کی چي په هغه کي ايچ بي ايف سربراه هم موجود ؤ دغه مسئلې يې راپورته کړې، لکن کوم طريقې چي غلطي وې هغه يې بدلې کړې، احقر ډيرو کلو شخه په دې کوشش کي دی چی دغه مالياتي ادارې طريق کار سم شي، لکن تر اوسه زه نه يم کامياب شوی. (۱)

کوم صورت چي احقر وړاندې ليکلی دی پر هغه باندې دخپلې رائي شخه هم موږ خبر کړه او که دايچ ايف بي سی کومه بله بهتر طريقه باندې چليدلی شي نو موږ دخپلي رائي شخه خبر کړه، احقر چونکه هميش په دغه مسائلو باندې بوخت وی ستا رايه به هم داحقر راهنمائي وکړي.

جزاکم الله تعالى. والسلام ۲۰/ربيع الاول ۱۴۰۷ هـ

(۱) دتيرې صفحې حاشيه ملاحظه کړی.

كتاب الربوٰ والقمار والتأمين

(دسود ، قمار او انشورنس وغيره سره اړوند مسائل)

فصل فى الربوا وأحكام ربوا البنوك والمؤسسات المالية الحديثة

(دسود احكام او دمختلفو بينكو او دجديد مالياتي ادارو سره اړوند مسائل)

۱: دحربي او ذمي كافرانو څخه سود ورل.

۲: دحفاظت په غرض په بينک كي روپۍ جمع كولو حكم

۳: او په دې صورت دسود اخستل حكم

سوال۱: ايا دحربي يا ذمي كافرانو څخه سود ورل جائز دى يا نه ؟

۲ په بعض بينكو كي دروپۍ دجمع كولو دحفاظت په غرض او پر هغه باندى دسود اخستل جائز دى كه نه ؟

۳: بعض علماء كرام وايي چې دبينک څخه سود واخله او بيا يې غريبانو ته وركړه نو په دې كي كوم حرج شته او كه نه ؟

جواب: سود په قرآن او سنت سره په صراحت سره حرام قطعي دى ، دسود وركول او اخستل دواړه حرام دى ، ([1]) دمسلمان او ذمي څخه پر سود اخستلو خو اجماع ده ([2])

([1]) قال الله تعالى (وَأَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا) (بقره ۲۵۷)
(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ) (بقره ۲۷۸)
(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً) (آل عمران ۱۳۰)
وفى صحيح المسلم لعن رسول الله ﷺ آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهيده ، وقال هم سواء ج۲ص۱۱۷ (طبع مكتبه امداديه ملتان)

([2]) وفى الدر المختار ج۵ ص ۱۸۶ (طبع سعيد) ولا ربوا بين حربي ومسلم وفى رد المحتار احترز بالحربي عن المسلم الاصلى والذمى وكذا عن المسلم الحربي ، ددې سره امداد الفتاوى ج۳ ص۱۵۷ وګورى.

البته: په دار الحرب کی د کافرانو څخه سود ورل بعض فقهاؤ جائز بللی دی نور فقهاؤ هغه هم ناجائز بولي او فتوی هم دغه باندي ده (۱)

۲: په بینک کي د حفاظت په غرض روپی اینبوول تر ټولو ښه صورت دادی چي په لاکر کي یې کښیږدي البته د کرنټ اکاونټ کي دا اینبوولو هم گنجائش شته ، پر کوم چي سود نه کیږي ، او پر کومو مداتو چی سود کیږي مثلاً سیونگ اکاؤنټ یا فکسډ ډپازټ په هغه کي روپی اینبوول جائز نه دی.

۳: سود د بینک څخه ورل جائز نه دی که په غلطی سره وصول شي نو صدقه کول پکار دی ولی چی وصول کول باندي صدقه کول داسي دی لکه یو ځل چي گناه وکړي او بیا کفاره ورکوي ، د دې څخه بهتر داده چی د شروع څخه گناه ونه شي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸/ ۲/ ۱۳۹۸ھ (فتوی نمبر ۱۹۲/ ۲۹ الف)

د دې فتوی د دریم نمبر جواب متعلق مفتی صاحب یو اهم وضاحت کړی دی چی په لاندي ډول دی:

(۱) وفی الدر المختار کتاب البیوع باب الربا ج۵ ص۱۸۶ (طبع سعید) ولا ربا بین حربی ومسلم ثمه لان ماله ثمه مباح فیحل برضاه مطلقاً بلا عذر ... الخ.

وفی البحر الرائق باب الربا ج۶ ص۱۳۵ (طبع سعید) لا ربا بینهما فی دار الحرب عندهما خلافاً لابي یوسف ... الخ

وراجع ایضاً هدایه باب الربا ج۳ ص۸۷ (طبع رشیدیه کوټه) وتبیین الحقائق ج۴ ص۴۷۲ وفتح القدیر ج۶ ص۱۷۸ واعلاء السنن ج۱۴ ص۳۴۵ واحکام القرآن للتهانوی ج۱ ص۶۷۴.

په اصل کي جمهور فقهاء لکه امام مالک ، امام احمد بن حنبل ، امام شافعی او د علماء احناف څخه امام ابویوسف رحمهم الله په نزد په دار الحرب کي د کفارو څخه سود اخستل جائز نه دی ، او امام ابوحنیفه او امام محمد رحمهما الله په نزد گنجائش دی بیا د احتیاط تقاضا داده چی مطلقاً احتراز وشي ، څنگه چی مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله په فتاوی دار العلوم کي لیکلی دی د تفصیل لپاره امداد المفتین ص۸۴۹ بیا تر ۸۵۱ پورې او امداد الفتاویٰ ج۳ ص۱۵۸ ملاحظه کړی د حضرت مفتی صاحب کتاب بحوث فی قضایا فقهیه معاصره ج۱ ص۳۵۶ (طبع دار القلم) مطالعه کړی.

دغه په راتلونکو متعدد فتواؤ کی دغه موقف اختیار کړل شوی دی چی د بینکو څخه سود ورل جائز نه دی ، او عام حالات کی دغه موقف د احتیاط تقاضا ده ، لکن وروسته بعض علماء کرامو بالخصوص حضرت مفتی عبد الرحیم صاحب لاجپوري رحمه الله د توجه راارولو سره په دې موقف کی یې هم وزن معلوم شو چی د سود رقم د ورلو وروسته بیله نیت د ثواب صدقه کړل شي ، چنانچه دا د ډیرو علماؤ فتوی ده. او خاص بیا په غیر مسلم ممالکو کی د اینبوولو شویو روپو په باره کي اوس د بنده هم دغه رجحان دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم / بنده محمد تقی عثمانی ۱۰/ ۵/ ۱۴۳۱ھ

په غیر مسلم ممالکو کي د بینک څخه د سود اخستلو حکم (عربي فتوی)

سوال: فضیلة الشیخ حضرة مولانا محمد تقی عثمانی حفظه الله ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ، وبعد !

فانی اعرض الی سماحتکم ان یفتینی بما اشکل علی اولاً اعرفکم بما اشکل علی نحن نسکن فی سنکیانغ کاشغر فیض آباد (الصین الشعبیه) کما تعرف احوالنا والناس یضع الفلوس فی البنک للدولة والدولة کافرة وسیاستهم وقانونهم الشیوعیة ، اذا یضع الفلوس یرجع مع الربح اذا اخذ الفلوس یرجع مع الربح هل یجوز ربح البنک ام لا؟ والمسئلة فی الهدایة لا ربا بین المسلم والکافر أفتونی بما نزل والحدیث والاجماع والقیاس والواضح لانکم عندي افقه الأمة فی هذا العصر .

جواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ، وبعد!

تسلمت رسالتکم والیکم جواب الاسئلة التی قد ارسلتموها الیّ:

۱: ان الربح او الفائدة التی تعطیها البنوک الیوم داخلة فی الربا قطعاً ، وقد افتی معظم الحنفیة بان الربا حرام فی دار الحرب ایضاً وما ذکرتم من المسئلة المذکورة فی الهدایة (۱)

(۱) هدایه باب الربا ج۳ ص۸۷ (طبع رشیدیه)

من انه لا ربا بين المسلم والحربي فان ذلک قول مرجوح لم يأخذ به الفقهاء المحققون وان ادلة ذلک مبسوطة فی المجلد الثالث من امداد الفتاوی للشيخ اشرف علی التهانوی رحمة الله عليه

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ۲۹ / ۶ / ۱۴۱۴ھ (فتوی نمبر ۴۸/ ۱۲۳)

دبينک څخه دسود ورلو او په بينک کي دا کاؤنټ خلاصولو او ملازمت کولو حکم

سوال: بينک څخه سود ورل او په بينک کي اکاونټ خلاصول جائز دی که يا؟ او دبينک دملازمت څه حکم دی؟

جواب: بينک څخه سود ورل او ورکول حرام دی دضرورت شديده په صورت کی په کرنټ اکانټ کي کنبيږده او تصريح ورته وکړه چی پر دې روپو به سود نه ورکول کيږي ، په بينکو کي چونکه اکثر دسود کاروبار کيږي نو دهغه ملازمت جائز نه دی (۱)

والله اعلم ۴ / ۱۲ / ۱۳۸۷ھ (فتوی نمبر ۱۴۰۰/ ۱۸الف)

دبينک دطرف څخه دترلاسه شويو منافع مختلف صورتونه او دهغه استعمال

سوال: زما عمر تقريبًا ۶۵ کاله دی ، ډيرو کلو څخه ناروغ يم ، لمونځ په مسجد کي په جماعت سره نه شم ادا کولی ، په کور کي هم دفرض لمانځه سوا نور لمنځونه په ناسته ادا کوم زه ددې قابل نه يم چی چيرته تجارت يا ملازمت وغيره وکړم ، نه داسي کومه اداره شته چی هلته دروپو اينبوولو څخه کومه انديښنه نه وی ، زما سره چي کومي روپۍ وې هغه ما کال په کال زکاة ورڅخه ادا کړی دی ، دبينک څخه چي سود ترلاسه

(۱) دادبينک دهغه ملازمت حکم دی ، په کوم کي چي براه راست سودي معاملات تر سره کيږي ، او په کوم کي چي دسودي معاملاتو تعلق نه وی ، نو دبينک ملازمت دوه ډوله دی دهغه دمکمل تفصيل لپاره راتلونکی فتواوی مطالعه کړی .

شوی هغه مي پر خپل ځان نه دی مصرف کړې ، ضرورتمندو او حاجتمندوته مي ورکړې دي ، ولي ماته دا معلومه وه چی په بينک کي دسود روپۍ چی پاته شي هغه په ناجائزو کارو مصرفيږي ، دمئی په مياشتي په ۱۹۷۵م کي ما خپل مکان وپلورو ، چي څه روپۍ وې هغه مي خپل زوی ته چی په لاهور کي په بينک کي ملازم دی ورته راوړې ، کله چی دلته راورسيدم نو ډير زيات ناروغه شوم ، او له کومه وخته چی په حکيمانو او ډاکټرانو باندی علاج کوم په هغه کي ډير زياتي روپۍ مصرف شوې ، زما زوی هغه روپۍ په بينک کي جمع کړې ، چي ددې څخه کال پر کال کومي منافع حاصليږي هغه به خرڅ کوو ، چنانچه ما هم دا ورسره ومنله ، دپنځو کالو کي څه روپۍ جمع شوې دهغو څخه څه روپۍ مصرف شوې او نوري پاتي دی ، دوهم ماته دا مشوره راکول کيږي چی زه بل ځای ته ولاړ شم ، مګر اوس ماته دضروري اخراجات لپاره هم روپۍ نشته ، او نه يې دبينک څخه تر پنځو کالو پورې راايستلی شم ، اوس زه دا کولی شم چی ۱ اکتوبر ۱۹۷۶م کی څه منافع راکول کيږي دخپل مذکوره اخراجاتو لپاره خرڅ کړم؟ او پنځه کاله وروسته چي اصل رقم ماته لاسته راسي دهغه څخه کوم مستحق ته ورکړم. ۲: چی بلاسودی قرضه واخلم او بيا يې دسودي منافع څخه ادا کړم؟ ۳: يا کله چی اصل رقم ماته بيرته راکړي هغه ټول حساب وکړم او بيا يې وباسم ، که مذکوره صورتونه جائز نه وی نو بيا کوم صورت جائز کيدلی شی؟

جواب: دبينک دمنافع په عنوان چی څه ورکول کيږي هغه شرعًا سود دی قطعًا حرام دی ، دهغه اخستل ، خوړل او بل ته ورکول ټول حرام دی په قرآن او حديث کي سخت سخت وعيدونه راغلی دی (۱) ديوه حديث درويه دسود خوری ادنی درجه داسي ده څنګه چی دخپلی مور سره زنا کوي (۲) نو په مذکوره صورتو کي سود اخستل جائز نه دی ،

(۱) دحوالو لپاره ص ۲۶۷ حاشيه وګورئ

(۲) وفی مشکوة المصابيح باب الربوا الفصل الثالث ج ۱ ص ۲۴۶ (طبع قديمي کتب خانه)

عن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الربوا سبعون جزأ ايسرها ان ينکح الرجل امه . وفی المرقاة ج ۶ ص ۶۵ ان ينکح الرجل امه ای يطأها وفی رواية الربا ثلاثة وسبعون بابًا ايسرها مثل ان ينکح الرجل امه ... وفی رواية الربا اثنان وسبعون بابًا ادناها مثل اتيان الرجل امه .... الخ .

بلکه د سود وړلو په نیت روپۍ جمع کول هم صحیح نه دی، که په بینک کي روپۍ ایښوول وی نو په داسي اکاونټ کي یې جمع کړی چی هلته سود نه ورکول کیږي لکه په کرنټ اکاؤنټ، او لاکر وغیره، او پر موجوده جمع شوې روپو که بینک سود ورکړی نو هغه وصولول جائز نه دی یوائي خپل جمع شده رقم وړلی شي، د غرباء په نیت هم سود نه شي اخستلی، البته که په غلطی سره وصول شي نو دغه حرام مال څخه ځان ژغورلو په نیت هغه غریب او محتاج ته ورکړه مذکوره صورتو نه جائز نه دی.

که ستا ښځه او نابالغ اولاد نه وی او داسي عزیزان هم نه وی چی د هغه نفقه پر تاسي واجب وي، نو پر تا د مذکوره بالغ اولاد او د هغه د میرمن نفقه پر تا واجب نه ده، نو پر تا یوائي خپله نفقه واجب ده چي د هغه څخه ته خپله نفقه وکړې، که بالفرض هغه رقم ختم شي، او ته د کټي جوګه نه یې نو شرعًا ستا نفقه ستا پر بالغ اولاد فرض ده، هغه به یې برداشت کوي، بهر حال د حرام د استعمال کومه لاره نسته، البته کوم صورت چي تا ذکر کړی دی چی بینک اوس در ته کوم د منافع په نامه روپۍ درکوي، هغه وصول کړه بیا یې مصرف کړه کله چی هغه خپلي روپۍ در ته راووتلې نو د اصل رقم څخه په مقدار صدقه وکړه شرعًا د دې ګنجائش معلومیږي، کله چی په اکتوبر کي بینک څه منافع درکړي نو هغه ته په دې نیت وصول کړه چی ته دغه د اصل قرض رقم څخه ادا کوې، کله چی تا اصل رقم وصول کړې نو هغه رقم صدقه کړه، ولی چی بینک کي د روپو ایښوولو معامله شرعًا قرض دی او پر قرض ورکولو والا اختیار دی چی هغه کله وغواړي نو د خپلو روپو مطالبه کولی شي، اګر که قرض مؤجل ورکړل شوی وي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ / ۹ / ۱۳۹۶هـ (فتوی نمبر ۲۳۱۹ / ۲۷ هـ)

د بینکو د سود وصول کولو سره صدقه کول یا نه وصول کړل شي؟

سوال: د بینک کي د جمع شده رقم که موږ سود حاصل نه کړ نو بینک ور څخه د خلاف شرع کارو کي خرڅ کوي، د خلاف شرع د کارو څخه پر ځای که موږ دغه رقم

وصول کړي او بیا یې پر غریب طالب العلم یا کونډې او یتیمانو ته ورکړو نو دا جائز ده که نه؟

جواب: اول په دې خبره ځان پوه کړی چی په بینک کي پر جمع شده روپو باندی سود تاسي ته درکول کیږي نو هغه ستاسي ملکیت نه دی، او هغه روپۍ چي ستاسي ملکیت نه وی، نو هغه روپۍ چی ستاسي ملکیت نه وي نو هغه تاسي ته جائز نه دی چی تاسي یې بل ته صدقه او هبه کړۍ، دا خبره صحیح ده چی دغه رقم هغه په ناجائز کارو کي لګوي، مګر که کوم سړی حرام مال راوړي نو هغه د هغه خپل کار دی، ته هغه ته دا نصیحت کولی شې مګر د هغه څخه په ناجائز طریقه سره مال راوړل او بیا غریبانو نه شې ورکولی.

پاته شوه دا خبره چی د سود رقم که په بینکو کي پاته شی نو هغه په ناجائز کارو کي اعانت دی، نو دا ډول اعانت خو محض په بینک ذروپو په جمع کولو سره هم تر سره کیږي، نو د علماؤ وینا ده چی په بینک کي روپۍ که د جمع کولو ضرورت وی نو په چالو کاته (Current Accout) باید جمع کړل شي، په هغه چونکه د ګردش احتمال کم وی نو په هغه کي د سود معامله نه تر سره کیږي.

خلاصه داده چی د سود رقم په خپله اخستل جائز نه دی، که اتفاقًا په کومه وجه سود ستا لاس ته ورسید و نو مجبورًا د دې لار دغه ده چی هغه غریبانو ته ورکړل شی. (۱)

والله اعلم ۵ / ۳ / ۱۳۸۷هـ (۱)

د بینک د کرنټ اکاونټ حکم او په غلطي سره په سودي اکاؤنټ د روپو جمع کولو په صورت کي د سود اخستلو حکم.

(۱) د دې سره ملاحظه د مفتی فتوی په ص ۲۶۸ او د دې سره ۱۲۰ او ۱۲۱ حواشي او ص ۲۴۸ حاشیه نمبر ۴ مطالعه کړۍ د نور تفصیل لپاره ص ۱۲۹ فتوی ملاحظه کړۍ.

سوال: په بينک کي دروپو پر جمع کولو څه سود هم ورکول کيږي که سود دبينک څخه نه واخستل شي نو دبينک عمله دسود رقم په خپلو مصارفو کي لګوي که دبينک څخه واخستل نو بيا په به يې مصرف څه وي ؟

جواب: که بينک کي اکاونټ خلاصول غواړی نو په کرنټ يا لاکر اکاونټ کي يې خلاص کړی ، پر کوم چی سود نه کيږي ، که په غلطي سره په کوم بل اکاونټ کي خلاص شي او پر هغه باندی سود ورکړل شي نو بيا دغه سود رقم کوم غير صاحب نصاب ته ورکړی ، لکن په ابتداء کي په خپل اختيار سره په سودي اکاونټ کي روپۍ جمع کړل شی او پر هغه باندی سود اخستل جائز نه دی.

والله اعلم ۲/۱/ ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۱۳ / ۲۷الف)

دحفاظت په غرض په بينک کي داکاونټ خلاصولو حکم

سوال: ايا په بينک کي دحفاظت په غرض اکاونټ خلاصول جائز دی که نه ؟

جواب: بينک کي دحفاظت په غرض که رقم جمع کړل او پر هغه باندی سود نه اخستل کيږي نو شرعًا جواز لري.

والله اعلم ۱۳/ ۹ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۹۵۰ / ۲۸)

دبينک څخه دسود وصولولو او بيا پر غريبانو دتقسيمولو حکم

سوال: که سود واخستل شي او بيا پر غريبانو باندي تقسيم شي ، بعض خلګ وايي چی دا دحکومتي قانون خلاف ده ، دشريعت څه حکم دی ؟

جواب دبينکو څخه سود داخستلو تحقيق دادی چی وصول نه شي البته که په کومه وجه وصول شي نو بيا وغريبانو ته ورکول کيږي .

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه ۱۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ (فتوی نمبر ۱۴۳۸ / ۱۸الف ،)

دغه فتوی په البلاغ شماره ربيع الثانی ۱۳۸۷ھ کي ورکړل شوې ده

الجواب صحيح ، محمد عاشق الهی عفی عنه

۱: په ډاک خانه کي جمع کړل شويو روپو باندي داضافی رقم ورکولو حکم

۲: پراويډنټ فنډ باندي دسود په نامه ورکول شوی اضافی رقم حکم

سوال: موږ څو کسان ديوې اداري ملازمين يو زموږ څه رقم په ضمانت کي دډير مدې څخه دغې محکمې زموږ دتنخواؤ څخه وضع کړی او په پوسټ آفس کي جمع کړې دی ، اوس موږ هغه روپۍ سره دسود وصول کړی دی چی موږ ته داصل سره سود هم راکړل شو ، وروسته موږ اصل رقم صرف کړې او سود يې پاته دی ، اوس موږ دغه سود کوم مستحق ته بې له دثواب دنيت ورکړو جائز دی ؟

جواب ۱: تاسي ته چی کوم سود درکړل شوی دی ، تاسي يې بې له نيته دثواب کوم غير صاحب نصاب ته ورکړی ولي چی دغه معامله دپراويډنټ فنډ څخه مختلف ده.

سوال ۲: دجي پي فنډ څخه رقم بمع سود وصول کول جائز دی که نه ؟ (يعنی دحکومت دطرف چی کوم رقم دتنخوا څخه وضع کيږي او بيا وروسته دسود سره ورکول کيږي. ([1])

جواب ۲: دپراويډنټ فنډ جي کومي زياتي روپۍ دسود په نامه ورکول کيږي هغه په حقيقت کی سود نه دی ، لهذا هغه حاصلول او بيا استعمالول جائز دی. ([2])

([1]) دحوالو لپاره دمفتی صاحب فتوی او اهم تحقيق کتاب البيوع فصل فی احکام المال الحرام والمخلوط ص۱۲۹ تا ۱۴۰ پوری وګوری

([2]) دتفصيل لپاره رساله پراويډنټ فنډ باندی زکوة او سود مسئله دمفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفيع رحمة الله عليه او امداد الفتاوی ج ۳ ص ۱۵۲ (طبع مکتبه دار العلوم کراچي) کی مطالعه کړی

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۰/ ۲/ ۱۳۸۸ھ (فتوی نمبر ۲۳۳/ ۱۹الف)

الجواب صحیح محمد عاشق الهی عفی عنه

په بینک کی پر جمع شویو روپو باندی د سود حکم

سوال: کوم رقم چی په بینک کی جمع شوی او پر هغه باندی منافع ورکول کیږي ایا هغه سود دی؟

۲: که هغه سود وی نو د هغه مصرف څه دی؟

۳: که په بینک کي په دې شرط رقم جمع کړل شي چي پر دې به سود نه اخستل کیږي نو جائز دی؟

جواب: ۱ هو! هغه سود دی.

۲: هغه باید وصول نه شي (۱) که وصول شي نو هغه باید غریبانو ته بې له نیته د ثواب ورکړل شي نو دا د سود کولو کفاره ګرزي.

۳: کله چی د حفاظت بله لاره نه وی نو په دې شرط سره په بینک روپۍ ایښوول جائز دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹/ ۸/ ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۷۹۶/ ۲۸ج)

د بینک د سود حکم

سوال: د بینک څخه حاصل شوی سود څه حکم دی؟

جواب د بینک څخه سود اخستل جائز نه دی، بلکه روپۍ په کرنټ اکاونټ کښیږدی پر کوم چی سود نه ورکول کیږي که په غلطي سره سود وصول شي نو بیا یې فقیر ته بې له نیته د ثواب ورکړی.

والله اعلم ۱۸/ ۹/ ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۹۷۰/ ۲۸ج)

د سود روپۍ و مستحق زکوة ته دور کولو حکم

سوال: زما سره څه د سود روپۍ دی، چونکه زه په خپله د سود روپۍ نه اخلم په دې وجه ما هغه سودي روپۍ یوې قریبي ښځي ته ورکړې ایا اوس زه بریئ ذمه شوم؟

جواب: هغه قریبي ښځي ته چي تا کومي روپۍ ورکړې دی، که هغه مستحق د زکوة وي نو ستا د غه کار صحیح دی د دې وروسته پر تا کومه ذمه داري نشته، هغې ته دا ویل ضروري نه چی د غه د سود روپۍ دی.

والله اعلم محمد تقی عثماني عفی عنه ۶/ ۷/ ۱۳۸۸ھ (فتوی نمبر ۷۷۶/ ۱۹الف)

الجواب صحیح بنده محمد عفی الله عنه

په بینک کی د روپو ایښوولو او د کرنټ اکاونټ حکم

سوال: مکرم و محترم عالی جناب مفتی صاحب! څه فتوی ورکوي مفتیان د دین او شرعي په دې مسئله کي، زید ته اتفاقي د غه کال د بینک د طرف څخه ۶۵۰ روپۍ په سود کي ورکړل شوې، د دې څخه وړاندي داسي نه دی شوي، زید د غه روپۍ نه غواړي، او که په بینک کي پاته شي نو هغه خلګ ورڅخه خورد برد کوی، او که د غه رقم کوم غریب، یتیم، مسکین، محتاج، ناروغ ته ورکړل شي یا کومي بیوزلی کونډې ته د ګنډلو ماشین وربandی رانیول؟ چی هغه ورباندی خپل حاجت پوره کړي او که د نقدو په صورت کي ضرورتمندو ته ورکړل شي چي هغه خپل کار ورباندي وکړي، د جواب څخه مو خبر کړۍ. موږ انتظار یو

جواب: که مجبوراً په بینک کي روپۍ ږدۍ نو په کرنټ اکاونټ کي یې کښیږدۍ چي پر هغه باندی سود نه ورکول کیږي، او یا د خپل اکاونټ د خلاصولو سره تحریري بینک ته ولیکۍ چی زموږ پر اکاونټ دی سود نه کیږي، په دې دوو صورتو کي یو صورت اختیار کړۍ، البته اوس چي ستاسي په اکاونټ کي د سود روپۍ جمع شوې دی، هغه غریبانو ته صدقه ورکړۍ، او نیت به یو اځي د حرام مال څخه ځان خلاصول وي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۷/ ۹/ ۱۳۹۹ھ (فتوی نمبر ۱۵۸۹/ ۳۰ج)

---

(۱) د حوالو لپاره مخکیني فتواوی وګوری.

په فکسډ ډپازټ (ميعادي حساب) کي د روپو ايښوولو او پر هغه باندي داضافي حکم

سوال: په فکسډ اکاونټ کي د خيريه موسسې روپۍ که د مسلم بينک په ذمه کي داصول تمليک په ډول عمل تر سره شي او هغه يې په شکل چنده کومي ديني اداري ته ورکړي نو دغه روپۍ په ديني ادارو کي مستعملول جائز دي که نه؟

جواب: په فکسډ اکاونټ کي چونکه سود ورکول کيږي نو په هغه کي روپۍ ايښوول جائز نه دي، د روپو د حفاظت لپاره که ضروري وي نو په کرنټ اکاونټ کي دي کښيښوول شي، پر کوم چي سود نه ورکول کيږي، لکن که په غلطي په فکسډ ډپازټ کي کښيښوول شي نو پر هغه چي سود ورکول کيږي، نو هغه بيله نيت د ثواب صدقه کول ضروري دي، البته چاته چي صدقه ورکول کيږي هغه چي کله مالک مختار شي نو دهغه د رضاء سره سم که ديني اداري ته په چنده کي ورکړل شي نو هغې ديني اداري ته يې استعمال جائز دي.

والله سبحانه وتعالى ۲۹/ ۵/ ۱۳۹۸ھ (فتوى نمبر ۵۵۸/ ۲۹ب)

د بينکو د سود او پراويډنټ فنډ حکم

سوال ۱: د بينک سود ۲: پراويډنټ فنډ رقم سود قابل قبول او قابل استعمال دي که يا؟ او که هغه د مذکوره اداره سره پاته شي؟

جواب ۱: په بينکو کي چي د کوم سود راکړه ورکړه کيږي هغه بلاشبه سود دی او د ربا په تعريف کی داخل ده او د هغه کار بار حرام او ګناه کبيره ده، لما فی الجامع الصغير من الحديث المرفوع او الموقوف: کل قرض جر منفعة فهو ربًا، لهذا که په بينک کي د روپو د ساتلو ضرورت وي نو په کرنټ اکاؤنټ کي يې وساتي، پر هغه باندي سود نه ورکول کيږي، او که په لاعلمي سره په سودي اکاؤنټ کي جمع شوې نو سود مه وصولوی ياچي وصول شي نو سمدستي يې غريبانو ته ورکړي.

۲: پراويډنټ فنډ که جبري وی نو زياتي روپۍ چي ورکول کيږي هغه شرعًا د سود په تعريف کي داخل نه دی، لهذا هغه اخستلی شي (۱) البته احتياط دغه دی چي زياتي روپۍ صدقه کړل شي.

والله سبحانه وتعالى اعلم وعلمه اتم واحکم احقر محمد تقى عثمانى عفى عنه ۲۲/ ۱/ ۱۳۸۷ھ (فتوى نمبر ۱۳۲۱/ ۱۸الف)

الجواب صحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه ۲۷/ ۱/ ۱۳۸۷ھ

پراويډنټ فنډ باندي د زائد رقم حکم

سوال: پراويډنټ فنډ باندی چي سود ورکول کيږي هغه اخستل جائز دی که نه؟

جواب: احتياط دادی چي پراويډنټ فنډ کي چي رقم ملازم په خپل اختيار سره کاټ کړې دی پر هغه باندی زياتی رقم صدقه کړل شي لکن په شرعي نقطه نظر سره دغه زياتي رقم د سود په حکم کي نه دی، نو په استعمال کي د راوستلو ګنجائش شته. (۲)

والله اعلم ۲۲/ ۵/ ۱۳۸۸ھ (فتوى نمبر ۲۱۸/ ۱۱۹الف)

د بينک سود او د جبري پراويډنټ فنډ حکم

سوال: زه په محکمه زراعت کی ملازم يم زما د تنخوا څخه د جي پي فنډ مبلغ پنځه سوه روپۍ ماهانه وضع کيږي، او پر دې روپو باندي حکومت سالانه سود ادا کوي، ما هغو ته ليکلي ورکړي دی، چي زه پر دې روپو باندي سود نه وصولوم، او د اصل رقم حق داريم، دا ډول په بينک او په ډاک خانه کي هم روپۍ جمع دی، ايا زه ماته جائز ده چي زه هغه سود وصول کړم او بيا يې کوم غريب او مسکين ته ورکړم؟

جواب: تر کومه چي د بينک د سود تعلق دی نو هغه ناجائز او حرام دی، بهتره داده چي بلکل سود وانه اخستل شي، چي اول لا په کرنټ اکاونټ کي جمع شي، هو که په

(۱) د تفصيل لپاره د مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفيع صاحب رحمه الله رساله پراويډنټ فنډ باندی زکوة او د سود مسئله وګوری.

(۲) ايضًا

غلطي سره سود درکړل شو نو بې دنیت دثواب هغه کوم غریب او مسکین ته ورکړی ، او دجبري پراویډنټ فنډ باندی چی زیادت دمحکمې له طرفه ورکول کیږي ، هغه شرعًا دسود په حکم کي نه دی ،دهغه وصولول صحیح دی ، او که دتقوی او داحتیاط په غرض صدقه کړل شي نو ډیر ښه ده ، او دغه صدقه کول پر ښځه او لاد او نورو قریبانو باندي هم صرف کیدلی شي.

والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی الله عنه. ۲۴ / ۵ / ۱۳۹۱ھ (فتوی نمبر ۲۸۲ / ۲۲ب)

الجواب صحیح بنده محمد شفیع عفی الله عنه.

دبینک دسود دصدقه کولو صورت

سوال: زه د څه موده څخه دپاکستان په بینکو کي روپۍ جمع کوم ، په دې دوران کي دبینک دطرف څخه زما پر جمع شده رقم کي سود هم شامل دی ، سود چي څونه دی هغه بینک ورباندي خبر دی اوس سوال داده چی دغه سودي رقم که کوم فقیر یا کونډي او نادار شخص ته ورکړل شي ؟ یا هغه پر خپل ځای پاته شي ؟

جواب: دبینک څخه دسود اخستل جائز نه دی بلکه که دغه رقم په بینک کی ږدی نو په کرنټ اکاونټ کي یې ږدی چي پر هغه باندي سود نه ورکول کیږي ، بیا هم که په غلطی سره سود وصول کړل شی نو ددې روپو څخه دخلاصون لپاره یې کوم مسکین ته ورکړی او په دې کي مالک ګرزول هم ضروري دی دتعمیر وغیره لپاره دغه رقم استعمالول جائز نه دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۷ / ۷ / ۱۳۹۸ (فتوی نمبر ۸۰۱ / ۲۹ ب)

دبینک دسود حکم

سوال: موږ دبینک څخه سود وصول کوو بیا یې صدقه کړو او که یې په کوم عامه خدمت کي ولګوو او که سود دسره څخه وصول نه کړو ؟

جواب: اول خو په بینک کي روپۍ په کرنټ اکاونټ کي ږدی چي پر هغه باندي عمومًا سود نه ورکول کیږي ، او که دبینک دطرف څخه پر هغه باندي سود ولګول شي ،

نو بهتر داده چی هلته یې پرینږدی وایې خلی او بیا یې صدقه کړی دصدقې مطلب دادی چي ګناه وشوه اوس یې کفاره ورکړی ، او دنه اخستلو مطلب دادی چی ګناه له سره ترسره نه شي ، ظاهر ده چی دوهم صورت افضل دی ، موده بینک په عام ډول دغه روپۍ په رفاهي کاروکي لګوي ، نو ددې روپو پریاینښوول قومي نقصان هم نه دی (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقی عثماني عفی عنه ۲/۹ / ۱۳۸۸ھ (فتوی نمبر ۲۷۸ / ۱۹ الف)

الجواب صحیح بنده محمد شفیع عفی عنه

دیوه اکاونټ څخه سود اخستل او دبل اکاونټ سود ورباندي دادا کولو حکم

سوال: که دیوه بینک اکاونټ سود واخستل شي او دبل بینک دسودي اکاونټ سود ورباندي خلاص شي ، یعنی اخستل او ورکول دواړه دبینک سره ترسره شي ، نو دغه صورت کی سود په سود سره ادا کول جائز دی ؟

جواب: په بینک کي سودي اکاونټ هم جائز نه دی ، که ضرورت وي نو روپۍ په کرنټ اکاونټ کي ږدی ، او دبینک څخه سودي قرضه اخستل هم جائز نه ده ، لهذا دبینک څخه سود اخستل او بیا بینک ته دهغه سود څخه سود ورکول هم جائز نه دی ، البته که په غلطي سره سودي اکاونټ کي روپۍ جمع شوې وي او سودي روپۍ واخستل شوې نو په دې ډول یې تصفیه کولی شی ، چی دیوه اکاونټ څخه یې واخلی اوبیا یې هغه بل ته ورکړی په دې شرط چي سود اخستل دسود ورکولو څخه زیات نه وی ، برابر وی لیکن دآئنده لپاره دادول سلسله بالکل بندول په کار دی.

والله اعلم ۵ / ۹ ۱۴۰۹ھ (فتوی نمبر ۱۵۵۲ / ۴۰و)

د بینک څخه دسودي وصول شده رقم حکم

---

(۱) دحوالولپاره وړاندي فتواوی مطالعه کړی.

سوال: که زيد په بينک کې روپۍ يږدي نو دسود وصول کول حرام دی او که پريښودی يې متعلقه افرادو ته دحرامو دخوړلو موقع ورکول دی ، اوس څه کول په کار پريايښوول شي او که واخستل شی ؟ايا دا روپۍ په خيريه کارو کې لګيدلی شي ؟

جواب: په بينک دروپو دايښوولو لپاره کرنټ اکاونټ غوره کول پکاردی چې پر هغه باندی سود نه ورکول کيږي ، او که په غلطي سره په کوم بل اکاونټ کې کښيايښوول شي نو سود اخستل وربانديی جائز نه دی او که بيا واخستل شي نو کوم غير صاحب نصاب ته دی دبغير دثواب دنيت څخه ورکړل شي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۸ / ۲ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۱۷۴ / ۱۲۸الف)

دډاک خانې دډپازټ سرټيفکيټ باندی دآمدني حکم

سوال: زما سره دډاک خانې خاص دډپازټ سرټيفکيټ دی ، پر هغه باندی هر کال يوولسم نيم فيصده منافع ورکول کيږي ايا هغه ماته حلال دی ؟

۲: که دغه منافع جائز وی او سود حرام وی نوفرق يې څه دی ؟ايا دغه رقم دسود په زمره کې راځي ؟

جواب: دډاک خانې دډپازټ سرټيفکيټ باندي چې څه منافع ورکول کيږي که هغه ته منافع ويل کيږي او که سود شرعًا هغه سود دی او هغه وصولول جائز نه دی. که په غلطي سره وصول شي نو بيله نيت دثواب هغه صدقه کول ضروري دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۴ / ۱۰ / ۱۳۹۲هـ (فتوی نمبر ۲۴۲۴ / ۲۷ه)

دبينک سود وصول کول او بيا صدقه کړل شي او که بالکل وصول نه شي ؟

سوال: په بينک کې دحفاظت په غرض که روپۍ کښيايښوول شی ، نو دبينک دطرف څخه چې سود ورکول کيږي ، نو زما په حساب کې چې څه دسود رقم جمع کيږي زه يې فورًا بې له نيت دثواب غريبانو ته ورکوم ، زياته حصه يې مدارس دينيه ته ديتيمانو او بيوزلانو دخرڅ لپاره ورکوم ، مفتی اعظم صاحب ته مې هم يو ځل دزکوة او دسود رقم

ورليږلې وو ، رسيد هم راته ورسيدلو په دې مسئله کې دجناب مفتي صاحب دلارښودني ضرورت دی.

جواب: اصل مسئله داده چې دسود روپۍ چې وصول نه شي دا ښه ده بلکه داول څخه بايد په داسي اکاونټ کې روپۍ جمع شي چې پر هغه باندي سود نه ورکول کيږي ، ولي چې دسود معامله کول بذات خود ګناه ده ، غريبانو ته بيله نيت دثواب ورکول ددې ګناه کفاره ده ، بهتره داده چې داول څخه ګناه ونه شي ، لهذا ته له سره مه اخله دحضرت مفتي اعظم رحمة الله عليه هم دا فتوا وه.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۱/ ۱ / ۱۳۹۷هـ (فتوی نمبر ۱۵۱ / ۲۸ الف)

په بينک کې دروپو دايښوولو او دکرنټ او سيونګ اکاؤنټ حکم

سوال:۱: په بينک روپۍ ايښوول څنګه دی ؟

۲: ددې څخه په سيونګ اکاونټ کې سودل ورکول کيږي ، هغه سود واخستل شي او که په بينک کې پريايښوول شي يا واخستل شي او بيا خيرات کړل شي ؟

جواب: بهتر داده چې دروپو دحفاظت لپاره په خپله انتظام وکړل شي او که په بينک يې ږدی نو نو په بينک کې لاکر (قلف) په کرايه ونيول شي او هلته دې روپۍ خوندي کړل شي ، که دغه دواړه صورتونه دکوم مشکل سره مخ شي نو بيا دې په داسي اکاونټ کې روپۍ کښيايښوول شي چې پر هغه باندي سود نه ورکول کيږي ، لکه کرنټ اکاونټ.

۲: په سيونګ اکاونټ کې چونکه سود ورکول کيږي ، نو په هغه کې روپۍ خوندي کول جائز نه دی ، که په غلطي سره کښيښوول شي نو بيا دی سود نه وصولوي که په غلطي سره سود وصول شي نو هغه صدقه کول پکار دی.

والله اعلم ۸ / ۵ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۴۵۲ / ۲۸ ب)

دمسلمانو ملکو لپاره په غير مسلم ممالکو بينکو کي روپۍ اېښوول او بيا پر هغه باندي دسود اخستلو حکم

سوال: اکثره دا اوريدل کيږي چی دمسلمانو هيوادو بډايه خلک خپله زياته سرمايه په امريکا، اروپايي هيوادو په بينکو کي جمع کوي يا په سودي کاربار کي جمع کوي، ولي چي اوس ددوی وسائل دومره نه دی چی په خپلو ملکو کي يې ټوله سرمايه صرف شي، او ډير بډايه داسي هم کوي چي دغه سودي رقم دخپلو مسلمانو هيواد پر غريبانو او دخپلو هيوادو لپاره داسلحې درانيولو او دداسي نورو ضروریاتو لپاره صرف کوي؟

جواب: که ستا سوال داوی چی په غير مسلم هيوادو په بينکو کي دروپو اېښوولو او پر هغه باندي سود اخستل څنګه دی؟ نو ددې جواب دادی فقهاء کرامو په دارالحرب کي دکفارو څخه دسود معامله کي ګنجائش کړی، مسلما هيوادونه دی دضرورت په مواقع کي غريبو باندی سود رقم خرڅ کړي او بلاضرورت دهغه څخه احتراز کول واجب دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱/ ۷/ ۱۳۹۷ھ (فتوا نمبر ۲۸۳/ ۲۸ب)

دسيونګ اکاونټ دسودی منافع اړوند دجامع ازهر دشيخ طنطاوي رحمة الله عليه دفتوی حيثيت

سوال: عرض داده چی زما سره څه نقد روپۍ دی، زما ذهن کاربارى نه دی چی په دې سره کوم جائز کاربار وکړای شم او نه هم ماته دمځکو دعوو چل راځي چی زه يې په دې روپو سره رانيسم او بيا يې وپلورم، لهذا زه دغه روپو دحکومت پاکستان دقومي سرمايې (نيشنل سيونګ) کي ساتل غواړم چي په دې سره زه منافع هم ځانته حاصلي کړم، او په دې اړه څه مده وړاندي دجامع ازهر قاهره مصر څخه يوه فتوا شائع شوې وه چی په هغه کي دروپو ساتل دقومی سرمايې په بينکو کي اېښوول او منافع وربانده اخستل

دشريعت دنګاه څخه جائز بلل شوي ستاسي څخه غوښتنه کيږي چي په دې اړه راته فتوا راکړې، جوابي لفافه موجود ده او فتوا راته سمدستي راوليږه، شکريه والسلام.

جواب: دمذکوره سيونګ اسکيم باندي چي منافع ورکول کيږي هغه سود دی دهغه اخستل او په استعمال راوستل شرعًا حرام دی، دجامع ازهر شيخ طنطاوي چي فتوا ورکړې هغه دعالم اسلام تقريبًا ټولو علماء تر سخت تنقيد لاندي راوستلې ده، او هغه فتوا دقرآن او سنت دنګاه څخه صحيح نه ده.

والله سبحانه اعلم ۷/ ۹/ ۱۴۱۸ھ (فتوی نمبر ۳/ ۲۹۲)

پر سيونک اکاونټ دمنافع اخستلو حکم، او دحکومت دبينکو دزکوة اخستلو حکم

سوال: زيد دبينک کيشير (خزانچي) دی هغه پر ۲۷ جون دبکر دسودي حساب داصل رقم يو زر روپو سره سالانه ۷۵ روپۍ په حساب داوو روپو فی صد ورکړې بيا يې ۵ جولای دټولو روپو څخه ۷۵ روپو دزکوة وايستلې ليکن دا وضاحت يې نه دی کړی چي داصل روپو څخه زکوة واخستل شو او که دټولو روپو څخه، په مذکوره صورت کي زکوة ادا شو او که نه؟ او که دټول څخه په سرکاري طور سره واخستل شی، نو په حيثيت دمشاورتي کونسل دنوټس سره سم دا خبره دبنده په فکر ده چي دهغه سره چي دسود آميزش دی چي شرعًا قابل مؤاخذه دی.

جواب: څرنګه چی سيونګ اکاونټ سودی اکاونټ دی نو په هغه کی دروپو اېښوول جائز نه دی، بلکه که بينک دروپو اېښوولو ضرورت وی نو په کرنټ اکاونټ کي کښيږدی، چی پر هغه باندی سود نه ورکول کيږي، او تا چی په سيونګ اکاونټ کي روپۍ اېښې وې نو دهغه څخه چی دحکومت دطرفه دزکوة روپۍ کاټيږي هغه شرعًا ادا شو، په اصل کي ستاسی پر روپو باندی زکوة واجب ؤ دهغه څخه زکوة وضع شو، او کومي ۷۵ روپۍ چي تاسي ته دسود په نام درکړل شوې دی ستاسي پر ذمه واجب ؤ چی هغه تاسي نه وای اخستې، او يا يې صدقه کړی، او دهغه څخه چی څه ستاسي دزکوة په

فنډ کي تللي دی نو دهغه ستاسي دزکوة پر ادائیگي کوم اغیزه نه کوي (۱) په هر صورت ستاسي زکوة ادا شو ، آئنده خپلی روپی په کرنټ اکاونټ کي ږدی چی پر هغه باندی سود نه ورکول کیږي یا په خپله سیونگ اکاونټ کي لیکلی ورکړی چی سود به نه ورباندی ورکول کیږي.

والله اعلم بالصواب ۱۵/۱۱/۱۴۰۱ هـ (فتوی نمبر ۱۷۰۲/۳۲ج)

پر سیونگ او ډپازټ سرټیفکیټ چی د اصل رقم څخه زیات رقم ورکول کیږي هغه سود ده

سوال: دحکومت پاکستان دطرف چی دسرمایه کاري ډیر اسکیمونه (فلانونه) دی په هغه کی

۱: ډیفنس سیونگ سرټیفکیټس ده ۲: نیشنل سیونگ سرټیفکیټ ده ۳: خاص ډپازټ سرټیفکیټس ده وغیره وغیره ایا دهغه دخریداري وروسته دمقرره نفع وصول کول جائز دی ؟

جواب: دسیونگ سرټیفکیټ او ډپازټ سرټیفکیټ باندی چی زیادت رقم دانټرسټ په نامه چی ورکول کیږی هغه شرعًا سود دی (۲) او دهغه وصول کول حلال نه دی که په غلطی سره وصول شي نو کوم غریب او مسکین ته یې صدقه کړی.

(۱) دبینک دزکوة په اړه دحضرت مفتی صاحب مقاله (بینکوں اور مالیاتی اداروں سے متعلق) او هغه باندی مفتی تازه اهم یاداشتونه په فتاوی عثماني ۲ ص ۸۰ او ۱۲۵ کی مطالعه کړی .

(۲) ولی چی هغه قرض دی او پر قرض زیادت ورکول سود دی .

وفی کنز العمال رقم الحدیث ۱۵۵۱۶ ج ۶ ص ۲۳۸ کل قرض جر منفعة فهو ربا وکذا فی الجامع الصغیر ج۶ ص۹۴ .

وفی اعلاء السنن ج۱۴ ص۴۹۸ (باب کل قرض جر منفعة) عن علی امیر المؤمنین رضی الله عنه مرفوعًا کل قرض جر منفعة فهو ربا ، واخرجه البیهقي ج۵ ص ۳۵۰ وکذا فی المرقاة ج ۶ ص ۶۷ و۶۸ وارواء الغلیل

وفی الدر المختار ج۵ ص ۱۶۶ وفی الاشباه کل قرض جر نفعًا فهو حرام .

والله سبحانه اعلم ۸/۲/۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۵۲۱/۲۸ ب)

د ضرورت دوجی د بینک څخه د سود قرض اخستلو حکم

سوال: ایا دبینک څخه سودي قرض دضرورت له مخي جائز دی ؟

جواب: دبینک څخه سودي قرض اخستل جائز نه دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه (فتوی نمبر ۲۷۷/۱۹ الف)

الجواب صحیح بنده محمد شفیع عفی عنه ۴/۱۱/۱۳۸۷ هـ

په بینک دروپو ایښوولو حکم

سوال: په بینک دروپو ایښوول جائز دی که یا ؟

جواب: په بینک کی دروپو ایښوول که ضرورت وی نو په کرنټ اکاونټ کی دی کښیا ایښوول شي چی پر هغه باندی سود نه ورکول کیږي.

والله سبحانه اعلم ۸/۲/۱۳۹۸ هـ (فتوی نمبر ۱۲۳/۲۹ الف)

د مستحق لپاره سودی رقم دهر ډول ضرورت لپاره استعمالول جائز دی

وفی بدائع الصنائع ج۷ ص۳۹۵ واما الذی یرجع الی نفس القرض فهو ان لایکون فیه جر منفعة فان کان لم یجز کان ... اقرضه وشرط شرطًا له فیه منفعة .

وفی المبسوط للسرخسي ج۱۴ ص۳۵ ان المنفعة اذا کانت مشروطة فی الاقراض فهو قرض منفعة .

وفی البحر الرائق ج ۶ ص ۱۲۱ ولا یجوز قرض جر نفعًا وکذا فی الهندیه ج۳ ص۲۰۲ وشرح المجلة ج۲ ص۴۵۴ اشارة الی هذا وقال شمس الائمة الحلواني انه حرام لانه قرض جر منفعةً . داډول دامداد الفتاوا ج۳ ص۱۵۵ کی دحضرت حکیم الامت رحمه الله رساله (رافع الضنک عن منافع البنک) او امداد المفتین ص ۸۴۹ تا ۸۵۱ ، او دمفتی صاحب رساله (پی ایل ایس اکاونټ مطالعه کړی . (محمد زبیر حق نواز)

سوال: يو سړی د سود رقم يو فقير ته ورکړل ، هغه د غه د سود رقم د خوړلو او چښلو څخه علاوه په کرايه وغيره کي استعمال کړل ايا هغه ته يې استعمالول جائز دی ؟ هغه يې د خوړلو لپاره نه مستعملوي اګرچې فقير دی هغه تقوی کوی د مجبوري په وجه يې په نورو مصارفو کي مستعملوی ايا داسي کول جائز دی ؟ او که د کوم سړي په اکاونټ کی د سود روپۍ ورکړل شي ، او هغه يې په رفاهي کارو کي ولګوی داسي جائز ده ؟ او يا يې د مسجد يا مدرسې غسل خاني او بيت الخلاوي وربانډی جوړي کړي ؟ ايا سودی کاروبار کولو والا هديه فقير ته چې صاحب تقوی عالم وی جائز ده ؟

جواب: د سود رقم که واصل مالک ته واپس کول ممکن نه وي نو بغير د ثواب د نيته د هغه صدقه کول واجب دی ، په دې صورت کي که وه فقير ته ورکول کيږي نو د هغه لپاره يې استعمالول جائز دی ، که خوړل يا چښل وی يا په کرايه کي ورکول وی ، بيا هم که کوم فقير د تقوی په خاطر ورڅخه ډډه کوي نو دې کي کوم حرج نشته ، په دې مسئله کی د عالم او د غير عالم هم فرق نشته هو که د کوم عالم د سود د رقم څخه فکرمند وی چې بيا به د خلګو د فکر څخه د سود د کبيري ګناه کمي راشي نو په دې صورت کي بهتر ده چې د سود رقم وانخلي.

والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب ۱۴۱۲/۱/۱۲ھ

پر قرضو باندی د منافع حاصلولو دوه صورته

سوال ۱: اسلامي ورونو ! السلام عليکم... بعد: عرض دادی چې په دې مسئله کي د شريعت څخه حکم دی محمد حسين نامی شخص دروپو سخت ضرورت لري ، هغه ډير وګرځيدو چې پنځلس سوه روپۍ ماته په قرض راکړي ، مګر چا ورته ورنکړې ، يوه سړي چې نوم يې سردار دی ووېل: چې زه درته پنځلس سوه روپۍ درکوم مګر په دې شرط چې ته راته هغه فلانکۍ مځکه چې ته يې لرې د هغه د فصل نصف ماته راکوې ، او هغه زما روپۍ په بيرته راکوې ، يا هغه روپۍ او پنځه جريبه مځکه به راکوې ، د غه مځکه چې محمد حسين وراندی لا په بزګري ورکړې وه ، د دې نصف فصل محمد حسين اخستل ؤ په دې وخت کي محمد حسين د غه شرط قبول کړو ، او پنځلس سوه روپۍ قرض وصول

کړې ، اوس د غه رقم حلال دی که يا ؟ که حرام وی نو سود دی که يا ؟ د کتاب او سنت په رڼا کي راته جواب راکړئ . شکريه

۲: يو سړی پنځلس جريبه مځکه په دې شرط ورکوي چې هغه ته به دوه زره روپۍ په قرض ورکوي ، ترڅو چې پوره نوي ادا شوی نو هغه مځکه به کري ، د دې مځکه څخه چې څونه فصل کيږی هغه به نصف ديوه او نصف به د بل وی ، کله چې قرض ادا شو نو مځکه به بيرته ورکوي ايا داسي کول جائز دی ؟ د غه ناروغي په دې علاقه کي زياته ده ، که ژر جواب راته راکړې نو مهرباني به دی وي.

جواب ۱: مذکوره معامله بلا شبه سودی ده او د معامله کول د فريقين لپاره حرام ده د غه معامله فوراً ختم کول واجب ده.

۲: د غه معامله هم ناجائز ده ، ولي چې دوه زره روپۍ چې قرض دی ، او د دې سره مځکه په کښت ورکولو شرط جائز نه دی ولي (کل قرض جر منفعة) کي داخل ده ، او بل طرف ته که د دې معاملې دا توجيه وشي چې د مځکي د کښت لپاره د غه دوه زره روپۍ قرض ورکړې د دې سره دا شرط ولګيږي نو د غه ډول کښت کول فاسد دی لهذا د غه معامله د شريعت د نګاه څخه جائز نه ده.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳۹۹/۱۰/۵ھ (فتوی نمبر ۱۷۳۷/۳۰ د)

د مسجد چنده په سودی اکاونټ کي جمع کول او د هغه څخه سود وصول کولو حکم

سوال: د ضياء المساجد کميټي چې د نواب شاه سکهر اعانت په سلسله کي وصول شوې چنده په بينک کي جمع کړې بينک والاؤ د غه رقم باندي د سود اخستلو لپاره د شرعي حکم معلوماتو خواهش کړی دی اميد دی چې حکم به راکړی.

جواب: مذکوره سود دی د بينک څخه نه وصولوي که په غلطي سره وصول شي نو پر غريبانو دی صدقه کړل شي پر مسجد دی نه مصرف کول کيږي ، آيند لپاره که د مسجد روپۍ په بينک کي ږدی نو په کرنټ اکاونټ کي يې ږدی چې پر هغه باندي سود نه ورکول کيږي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳ / ۱۱ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۱۱۷۹ / ۲۸ ج)

دایل، سي دخلاصون په وقت کي دټولو روپو دنه جمع کولو په صورت کي ددو خرابیانو په وجه معامله جائز نه ده

سوال: دامپورټ ایکسپورټ کار بار چی دنورو وجو جائز وي خو د L/C په وجه داخراجاتو په وجه دقلیل عنصر سود شامل شي، دمثال په ډول په کومه ورځ چي Retire Documents لپاره Advice ورکوي، په دې ورځ هم کاغذات Retire کولو باندی دیوې ورځي Interest کول ضروري وي، ایا دغه مجبوري اضطرار بلل کیږي؟ او دا ډول دغه آمدني جائز وبلل شي؟

جواب: که ایل سي دخلاصون پر وخت پوره روپۍ جمع نه کړي نو په دې کي یواځي دغه خرابي نه چی تاسي ذکر کړې ده، بلکه په دې یوه بله خرابي هم ده او هغه دا چی بینک دګارنټۍ فیس هم ورکوي چی هغه شرعًا جائز نه دی لهذا شرعًا جائز طریقه داده چي ایل سي دخلاصولو پر وخت پوره روپۍ جمع کړل شي (۱) یا ددا سي بینک سره معامله کول پکار ده چی داسلامي اصولو سره سم وي

والله اعلم ۲۹ / ۱۲ / ۱۴۰۹ هـ (فتوی نمبر ۲۳۷۵ / ۴۰ د)

بینک چي دکومي کمپنۍ څخه ډالر پر جمع کولو ایل سي خلاصه کړي بیا اداشده ډالر دقیمت څخه زیات وصولي وکړي

سوال: مسئله داده چی که چیري موږ یوه ډله دپاکستان څخه بهرته مال صادرول غواړو نو دهغه لپاره ایل سي خلاصول ضروري دی، فرضًا که موږ دیوه ډالر په حساب

(۱) دتفصیل لپاره دمفتي صاحب کتاب (اسلام او جدید معیشت وتجارت) ص۱۱۹ بیا تر ۱۲۲ پوري مطالعه کړۍ (محمدزبیر)

باندی کوم شی ددرو میاشتو لپاره په ادائیګي سره لیږو نو بینک دا سهولیت راکوي چي موږ سمدستي دبینک څخه ادائیګي وکړو او بینک زموږ دډلي پر ځای دري میاشتي وروسته په خپله وصولي کوي په دې کي یوه مسئله داده چی کله بینک موږ ته اداینه کوي نو په هغه وخت کي دډالر دقیمت سره سم یې کوي، او په دې کي زیات ګمان دډالر دقیمت دپورته کیدلو وي، نو ایا په دې ډول خو دسود په زمره کي نه راځي؟

ددې نور وضاحت په دې ډول دی چی کله خریدار DA۹۰ ددواړو ایل سي خلاصوي نو بینک زموږ دجمع کولو (ډسکاونټ) نرخ دستي ورکوي، په دې شرط چي پر موږ باندي صحي باور ورکړي، ددې طریقه داده چی بینک موږ ته دډالر ډسکاونټ ریټ راکوي که حاضر د۱۹.۷۵ ډالر نرخ وي نو بینک زموږ څخه دډسکاونټ رانیسي چی هغه یې زموږ حخه په ۱۹.۲۵ باندی اداکوي، او کله چی په مقرره وخت کي بینک ادائیګي وصولوي نو دهغه وخت دحالاتو موافق چي څخه دبینک ریټ وي نو هغه موږ ته راکوي، که هغه ۲۰.۵۰ وي او که بل څه. دهغه سره زموږ کار او کتار نشته، په دې اړه راته جواب راکړۍ.

جواب: محترم او مکرم! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

ستاسي خط راته ورسیدو، تاسي چي کوم صورت لیکلی دی هغه په یو ډول جائز کیدلی شي هغه دا چی دخریدار پر ذمه کوم قیمت واجب شي خریدار هغه دبینک په حواله دډالرو په شکل کي ورکړي او بینک هم دغه حواله قبول کړي، بیا که بینک دقانوني مجبوري په وجه دډالرو پر ځای دډالرو ددې ورځي قیمت دلحاظ پاکستانی روپۍ درکړي او وروسته بیا داصل خریدار څخه ډالر وصول کړي یا دډالرو ددې ورځي دقیمت په اندازه کومه بله سکه وصول کړي نو جائز دی، لکه داخبره دی واضح دي وي چی دحوالې په معامله کي دډالرو دقیمت ادائیګي دطی کیدلو دمعاملې دصحت لپاره ضروري ده. (۱)

(۱) فی الهدایه کتاب الحواله ج۳ ص ۱۳۶ (طبع رحمانیه) وتصح الحواله برضاء المحیل والمحتال والمحتال علیه.

دبنه وضاحت په غرض څونه ډالر چې حواله کړل شي ، نو دهغه ډالرو اندازه تاسې
ته درکول ضروري دی ، په هغه کې کمې زیادت جائز نه دی ، لهذا دبلانو چې دډسکاونټ
کومه طریقه مروج ده (۱) هغه سود ده او بل چې تاسې ته پاکستاني روپۍ درکول کیږي ،
هغه دډالر دمارکیټ دقیمت یا دبینک دقیمت باندې ورکول ضروري ده ،(لقوله علیه
السلام لا بأس ان تأخذها بسعر یومها (رواه ابوداؤد)(۲) دمارکیټ او دبینک څخه دونه
کمي یا زیاتوب چې په هغه سود مقدار پوره شي جائز نه ده ، هو !که ډالر په بازاري قیمت
کې په درو میاشتو کې دننه کوم فرق راځي هغه دبینک منافع کیدلی شي.

والله اعلم ۱۴۰۹/۹/۵ (فتوی نمبر ۱۵۵۷/۴۰ د)

پراویډنټ فنډ باندې دنفع اخستلو حکم

سوال: دیوه ملازم تنخواه چې دمیاشتنی تنخوا څخه جمع کیږي کله چې دهغه
ملازمت وخت پوره شي نو دتقاعد سره سم څونه روپۍ چې جمع شوې وي دهغه دوه برابر
روپۍ ورکول کیږي ایا دغه روپۍ وړل جائز دی ؟

جواب: پر جبري پراویډنټ فنډ باندې چې اداره زیاتي روپۍ ورکوي هغه سود نه
دی نو دهغه اخستل جائز دي (۳)

والله سبحانه اعلم ۱۳۸۸/۲/۲۹ هـ(فتوی نمر ۱۹/۳۳۱ الف)

دبینک دسود حکم او په بینک کې په کوم اکاونټ کې روپۍ اینښوول جائز دی ؟

(۱) دتفصیل دمفتي صاحب کتاب بحوث فی قضایا فقهیه معاصره ج۲ ص۹۸ تر ص ۱۲۶ پورې مطالعه کړه.

(۲) ج۲ ص۱۲۰ (طبع مکتبه امدادیه ملتان)

(۳) دتفصیل لپاره رساله دپراویډنټ فنډ باندې زکاة او سود مسئله مطالعه کړی.

دبینک دسود څه حکم دی ؟ هغه جائز دی که یا ؟ که واخستل شي څه حکم یې دی
؟

۲: ددار العلوم یا دبل رفاهي اداري لپاره په بینک کې روپۍ اینښوول څنګه دی او
په کوم اکاونټ کې جمع کول پکار دی ؟ او دسودي روپو مصرف څه دی ؟

جواب: دبینک څخه سود اخستل جائز نه دی که په غلطی سره واخستل شي نو
بې له نیت ثواب دی صدقه کړل شي او ملازمانو ته هم ورکول جائز دی په دې شرط چې په
اجرت کې نه ورکړل شي.

۲: روپۍ په کرنټ اکاونټ کې اینښوول په کار دی چې پر هغه باندې سود نه ورکول
کیږي او داسې کول دټولو لپاره یوشان دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۳۹۷/۱۰/۵ هـ

پراویډنټ فنډ باندې دسود په نام باندې دروپو حکم

سوال: زه په یوه کمپنۍ کې ملازم یم هلته زما دتنخوا څخه هره میاشت څخه
روپۍ ګرزول کیږي دهغو روپو سره کمپنۍ دخپل طرف څخه هغومره نوري روپۍ هم
جمع کوي ایا شرعًا هغه سود دی که نه ؟ دهغه اخستل جائز دی که نه ؟ ایا هغه سود بلل
کیږي ؟

جواب: دغه صورت دپراویډنټ فنډ دی دهغه اخستل جائز دی ، او په دې نامه
چې هغه روپۍ جمع کیږي هغه شرعًا سود نه دی ، دهغه اخستل جائز دی په دې مسئله کې
دمفتي شفیع صاحب رحمه الله رساله پراویډنټ فنډ مطالعه کړی (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳۹۷/۴/۲ هـ (فتوی نمبر ۱۳۲/ ۲۸ ب)

دهاؤسنګ سوسائټي څخه دکور رانیولو حکم

(۱) في الشامیه ج۵ ص۹۹ (طبع سعید) لایحل اذا علم عین الغاصب مثلاً وان لم یعلم مالکه لما فی البزازیه اخذ مورثه رشوة او ظلماً ان علم ذلک بعینه لا یحل له اخذه والا فله اخذه حکماً اما فی الدیانة فیتصدق به بنیة ارضاء الخصماء اه.

سوال: ديوه شخص سره چي دكور دجوړولو روپۍ نشته په كرايه اوسيږي ، ايا هغه دهاؤسنگ سكيم څخه قرض اخستلى شي كه يا ؟

جواب: په سود باندى قرض اخستل جائز نه دى البته چي سوسائتي كور پلوري دهغه څخه چي پر كوم قيمت باندى معامله وشي هغه كولى شي كه په اقساط سره وي او دهغه كور قيمت زيات هم په دې ډول دمعاملې گنجائش شته.

والله سبحانه وتعالى اعلم ، ۱۱/۱۰/۱۳۹۷هـ

داين ، آئي ، ټي يونټ نوى صورت حال او دهغه شرعي جائزه

سوال: N, I, T يونټ چي په دولتى ادارو كي شماريږي دهغه شرعي پوهيدل غوارم ، دمشرقي پاكستان دجلاكيدلو وروسته چي پر بازارو باندى كساد راغلى نو دپاكستان حكومت دبازاري قيمتو بيا له سره داعتبارور كولو لپاره قيمت او نفع مقرر كړل ، په داسي صورت كي دسود په تعريف كي خو دغه صورت نه راځي ؟ هغه پر قريبانو او حاجتمندانو باندى خرڅ كولى شي كه نه ؟

جواب: ددې نوى صورت حال پر بناء داين آئي ټي يونټ مسئله مشتبه او قابل غور ده ، په دې اړه زموږ لپاره ددغه يونټ پوره مطالعه كول پكار ده ، لهذا داسمبلى له طرفه چي دغه سكيم جاري شوى دى ، براه كرم دهغه يوه كاپي موږ ته راوليږئ ، ولي چي موږ پر هغه باندى دغور كولو وروسته جواب دركولى شو ، او ددغه سكيم چي كوم اسپكټس وركول كيږي هغه زموږ سره موجود دى ، مگر دهغه څخه موږ ته پوره واضحه نه شوه ، لهذا ددې سكيم دمادې يوه كاپي موږ راوليږئ.

والله اعلم ۲۸/۱۱/۱۳۹۲ (فتوى نمبر ۲۷۳۰/۲۷و)

دمذكوره اين آئي ټي دكار بار پوره تفصيل او دهغه حكم

سوال: ستاسي خط په تاريخ ۱۷/۳/۱۳۹۸هـ راورسيدو ستاسي دخط په لوستلو سره زه زيات حيران شوم غالبًا تيرخل ما دخپل مافي الضمير پوره وضاحت نه ؤ كړى.

ستا په مايه ناز تصنيف كي ماته دغه خبره محل نظر معلوميږي چي تا داين آئى ټي كار بار جائز بللى دى ، په دې ضمن كي ما داخبره عرض كړې ده چي دا هم ددولت په كنټرول كي يوه اداره ده ، چي دهغه كار بار په دې ډول ده ، چي سرمايه كار كمپنۍ دحصصو په رانيولو باندى بوخت وي ، او دولت ته چي په دې ډول كومه نفع او سود حاصليږي هغه په يو خاص ډول باندى تقسيميږي اصل سرمايه محفوظ وي او سرمايه باندى دمنافعو ضمانت وركول كيږي.

تا په وضاحت سره دا ويلي چي دا په هر حال باندى سود نه دى او جائز ده نو زه دا خبره ومنم او كه ستادا خبره چي جائز نه ده.

تا چي خط ليكلى او دهغه څخه كوم صورت حال جوړيږي هغه داده:

ستا په خبره چي هغه وخت داين آئي ټي دنفع ضمانت نه ؤ ، بلكه اصول داډول ؤ چي يونټ وال په نفع او نقصان سره شريك وى ، په دې وخت بيا دغه كار بار بلا شبه جائز ده ، او په نفع او نقصان كي شركت يواځي يو سمبول دى ، حكومت په دې كي حصه شته ، دغه رقم چي په دې اداره كي جمع وي نو دهغه سودي وغيره كاربار په غير شرعي طريقه سره كيږي.

نو په دې دواړو شقو سره ددې كار بار بلا شبه جائز بلل ددوهم لپاره غور كول غواړي.

كله چي دولت خلكو ته ضمانت ددونيم فيصده سود وركول اطمينان وركوي ددې لپاره چي خلكو په كي پانگونه وكړي ، تاسي ته به دا معلوموي چي ديونټ رانيولو باندى دانكم ټيكس كي كمي وركول كيږي.

دهغه وخت دذكر كولو سره تا ليكلى دى:

ددې په شرعي جواز كي شك پيدا شو ليكن وروسته بيا دعلماؤ په مجلس كي په يوه مسئله غور شوى نو ددې اداري دذمه دارانو سره رابطه وشوه ،

معلومه شوه چې دغه اداره د خالص شخصي شرکت سره اړه لري ، دولت د دې څه حصې رانیولې دی مګر د دې تناسب په مجموعي طور سره ډېر کم دی ، نو په دې اړه علماؤ او اهل فتوی دا فیصله کړې ده چې دغه په څو شرائطو سره جائز کیدلی شي:

۱: دا چې د دولت په دې کې حصه نه وي ۲: هغه رقم چې په دې اداره کې جمع کیږي په هغه سره به سود او کوم بل نا روا کار نه کیږي بلکه په هغه سره به تجارت کول کیږي ، د دې دوو شرطو سره که حکومت فریق ثالث په حیث د دونیم فیصده منافع ضمانت وکړي نو دغه سود نه دی.

عرض دادی چې ایا دا دوه شرطونه که ومنل شي او دغه کار بار شرعي شي او که حکومت دغه دوه شرطونه ومني نو دغه کار بار به غیر شرعي شي ظاهره ده چې هغه یې نه مني نو غیر شرعي شو او په غیر شرعي بللو تاسي ته څه تکلف دی ؟

دا هم یوه عجوبه ده یو طرف ته تاسي د حکومت د نه حصه دار بللو وایی او بل طرف ته یې د فریق ثالث مني.

د دې پر ځای د پرائیوټ سکټر د حکومت په کنټرول کې بللو سره ایا تاسي یو مثال ورکولی شی او د پرائیوټ سکټر په کار بار کې همیش سربراه حکومت بلل کیږي ، ستاسي به یادی وی چې څو کاله وړاندې هم د دې سر براه قرني C.SP آفیسر ؤ.

د زید او عمر چې تاسي مشترکه کار بار چې تاسي کوم مثال ورکړی دی هغه پر این آئي ټي باندې منطبق نه دی ، ولې چې په دې د شراکت سوال نشته ، د این آئي ټي یونټ په خپله پلورل کیږي ، د هغه قیمت په خپله خرید او فروخت مقرره وي ، په دې کې د شراکت مفهوم نشته ، قرض وړي او سود ادا کوي.

ته یو عالم یې ، زه ستا خبره منم ، کله چې یو سړی د بل څخه روپۍ واخلي او په تجارت کې یې ولګوي ، او هغه ته یقین ورکړي چې ستا سرمایه محفوظ ده ، په نقصان کې ته شریک نه یې ، یوازې په منافعو کې شریک یې ، او د سود په

اړه چې ما څه لوستلي دي هغه هم داشي دی ، ولې چې که په نفع او نقصان کې شریک شي نو بیا خو جائز ده ، او که یوازې په نفع کې شریک وي نو جائز نه دی هغه سود دی.

که تکلیف نه وی نو زما سوال راجواب کړه ، چې ایا دغه این آئي ټي کار بار کې روپۍ لګول جائز دی که یا ؟ او زما په خیال دغه سود او ناجائز دی.

جواب: د این آئي ټي یونټ چې کله حکومت ورته د دونیم فیصده نفع ضمانت نه ؤ ورکړی تر هغه پورې د دې کار بار اصل نوعیت د شرع سره برابر ؤ ، او کله چې حکومت ورته د دونیم فیصده نفع ضمانت ورکړی ، نو دغه شبه پیدا شوه چې اول چې کله په شرکت او مضاربت کې نفع نه وي نو کوم حق واجب نه وی ، او د ضمانت او کفالت لپاره شرط دادی چې حق مضمون حق واجب وي:

لما في العالمگیریه: ولا تجوز الکفالة بالامانات کالودائع واموال المضاربات والشرکات لان هذه الاشیاء غیر مضمونة لا عینها ولا تسلیمها (هندیه ج۳ ص۲۵۴) (۱)

وفي الفتاوی انقرویة : وفیما کان امانة فان کان غیر واجب التسلیم کالودیعة ومال المضاربة والشرکة لا تجوز الکفالة بتسلیمه (الفتاوی الانقرویه ج۱ ص۳۱۸) (۲)

وفي فتح القدیر : وضمان الخسران باطل ، لان الضمان لا یکون الا بمضمون والخسران غیر مضمون علی احد حتی لو قال بایع في السوق علی ان کل خسران یلحقک فعلي" ، او قال لمشتري

---

(۱) (طبع رشیدیه کوټه) وفي فتح القدیر ج۶ ص۳۱۲ (طبع رشیدیه) ... ولا بما کان امانة کالودیعة والمستعار والمستأجر ومال المضاربة والشرکة ... الخ
وفیه تحته : الکفالة بالامانة غیر واجب التسلیم کالودیعة ومال المضاربة والشرکة لا تصح اصلاً ... الخ
(۲) طبع قدیم

العبد ان ابق عبدک هذا فعليّ لايصح ، (فتح القدير ج ۵ ص ۴۲۴) (۱)

وهذا الاصل مسلم عند الفقهاء الاربعة راجع المجموع شرح المهذب ج ۱۳ ص ۴۵۹) (۲) والمقنع لابن قدامة ج ۲ ص ۱۵۵ (۳) والشرح الصغير على اقرب المسالک ج ۳ ص ۴۳۲) (۴)

لکن که موږ غور او فکر وکړو نو دا ډول کفالت که دفريق ثالث له طرفه وي ، نو دهغه دنه صحت مطلب به داوي چې هغه قضاءً نافذ نه دی ، لکن که دوه کسان عقد سره کوي او دريم شخص دا وعده وکړي که تاسي ته کوم نقصان ورسيږي يا نفع نه وی نو دهغه ضامن زه يم ، نو دا صرف يوه وعده ده او پر هغه باندي اخلاقًا او ديانتًا وفا کول هم لازم ده ، مگر که کوم عذر ورته پيښ شي نو پروا نشته ، نو که هغه ورباندی وفا وکړي نو دا خستونکي لپاره دوعدې سره سم ورل جائز ده .

لهذا حکومت دفريق ثالث په حيث که دونيم فيصده دنفع ضمانت وکړي نو قانونًا دضمانت ورکول صحيح نه دی لکه دوعدې په ډول صحيح ده چې پر هغه باندي قضاءً مجبور نه کړل شي ، لکن که هغه وفا وکړي نو ديونټ ګراکانو ته اخستل جائز ده .

---

(۱) فتح القدير کتاب الکفالة ج ۶ ص ۳۲۳ (طبع رشيديه کوټه)

(۲) وفی کتاب المجموع شرح المهذب للشيرازي کتاب الضمان ج ۱۳ ص ۱۲۲ (طبع دار احياء التراث العربي بيرت لبنان) ويشترط فی المال المکفول به ان يکون دينًا فلا تصح الکفالة فی الامانات کالعين المستعارة والعين المودعة وکذا مال المضاربة والشرکة فاذا استعار احد سلعة من آخر واتی له بضامن يضمنه فی رد تلک السلعة فانه لا تصح وکذا اذا اودع عند آخر وديعة او مالا يعمل به مضاربة ... الخ .

وفيه ايضًا ج ۱۳ ص ۱۲۲ (طبع مذکور) القسم الرابع يرجع الی المضمون به سواء کان دينًا او عينًا او نفسًا فيشترط فی الدين ان يکون لازمًا فی الحال او المال ومثال الدين اللازم فی الحال القرض ، وثمن السلعة المبيعة ونحو ذلک ... الخ .

(۳) طبع المطبعة السلفيه .

(۴) طبع دار المعارف مصر .

البته : پر دې باندی دغه اشکال کيدلی شي چې په صورت مسؤله کی دحکومت دفريق کيدل صحيح نه دی ولی چې هغه په کار بار کي شريک ده ، ولي چې په اين آئي ټي کي هغه په خپله شريک ده ، لهذا هغه دمضمون لهم په خپله هم عقد مضاربت کوي او بيا دنفع ضمانت ورکوي ، نو دغه عقد بيا ربا شو .

لکن دغور او فکر کولو وروسته ددغي شبې جواب هم ممکن دی ، هغه دا چې دغه اداره دټولو ګراکانو لپاره مضارب ده ، او په دې اداره کي ډېر شريکان دی ، چې دهغو څخه يو حکومت هم دی لهذا مضارب يو رکن نه دی بلکه دارکانو پوره جماعت دی او دضمانت ورکولو والا يوائي حکومت دی ، چې يوائي يو رکن دی ، لهذا نو موږ دا نه شو ويلای چې مضارب دنفع ضمانت ورکړی دی ، بلکه واقعه داده چې دمضاربينو دجماعت څخه يوائي يوه رکن په شخصي ډول ضمانت کړی دی ، ددې حکم فريق ثالث ګواکي کړی دی .

پر دې باندی دا شبه هم کيدلی شي چې مضاربين دغه جماعت يودبل لپاره په کاربار کي شريک بلل کيږي ، او هر شريک دهغه بل لپاره وکيل بلل کيږي نو ديوه شريک فعل ټولو ته منسوب کيږي ، ددې جواب دادی چې دشريک هغه فعل ټولو شريکانو ته منسوب کيږي ، چې هغه يې په حيث دشريک وکړي ، او دلته يې حکومت په حيث دشريک نه کوي ، بلکه هغه په خپله شخصي حيثيت سره ضمانت کوي ، نو دحکومت دغه فعل ټولو ته منسوب نه دی ، نو دا دمضارب ضمانت نه شو ، ولي چې مضارب تنها حکومت نه دی ، بلکه ارکان اداره يو جماعت دی من حيث المجموع .

دمذکوره تفصيل څخه خبره واضحه شوه چې دحکومت دونيم فيصده ضمانت ورکړی هغه شرعًا کفالت پر شرائط باندي پوره نه راځي لهذا هغه قضاء پر حکومت باندي وفا واجب نه ده ، البته يوه وعده ده که حکومت ورباندی وفا وکړي نو خريدارانو لپاره يې اخستل جائز ده .

البته چونکه ددې مسئلې صراحت دفقهاؤ په کتاب و کي نشته ، بلکه مذکوره حکم دقواعدو پر بنياد شوی ، او په دې کي دسود سره مشابهت لري ، نو

احتياط په دې کي دی چي کله د این آئي ټي کاربار کي نفع نه وی او حکومت د دې تلافي وکړي نو هغه دی یا خو بلکل ترک کړل شي یا دی صدقه کړل شي ، ولي که بالفرض د حکومت د غه وعده هم د ضمانت په حيث هم فاسد وي نو هغه حلال نه ده نو بیا د غه ضمانت فاسد ده ، او د این آئي ټي سره بیا هم عقد کول باطل نه ده.

لما في البدائع : وكذالك لو شرط عليه ان الوضيعة علي وعليك فهذه مضاربة والربح بينهما والوضيعة على رب المال لان شرط الوضيعة على المضارب شرط فاسد ، فيبطل الشرط وتبقى المضاربة (بدائع الصنائع ج ۶ ص ۸۰) (۱)

البته د غه تمام تفصيل په هغه صورت کی ده چی کله این آئي ټي اداره رقم وصول کړي او بیا یې په کوم جائز کار بار کي ولګوي ، لکن دا معلومه شوې ده چی د غه اداره بعض سودي قرضې هم ورکوي او سودي کار بار مجموعي تناسب په مختلفو کلو کي کښته او پورته ځي لهذا مذکوره جواز په هغه صورت کي دی چي د دغي اداره اکثره سرمایه په جائز کار بار کي ولګول شي ، او که په کوم کال کي دا معلومه شي چي د دغه اداري اکثره سرمایه په ناجائز او سودي کار بار کي لګول شوې ده نو بیا د نفع اخستل جائز نه ده ، او که اکثر سرمایه په جائز کار بار کي ولګول شي او څه حصه یې په ناجائز کار بار کي لګول کیږي نو په هغه کي هم خریدار ته په کار ده چی د غه اداري ته لیکلي ورکړي چي زما سرمایه په سودي کار بار کي نه لګول کیږي ، نو بیا که د غه اداره یې په سودي کار بار کي ولګوي نو هغه به په خپله ذمه واره وي ، دیونټ پر خریدار به یې ګناه نه وي ، چنانچه په امداد الفتاوی کي د غه طریقه اینبوولہ شوې ده (امداد الفتاوی ج ۳ ص ۴۹۱)

خلاصه داده : چي د غه یونټ په دې شرط سره جائز ده چي د کار بار اکثر حصه په حرام کاربار کي ونه لګول شي ، او د دې شرط په موجودګي کي که کاربار واقعة د دونیم فیصده څخه زیات نفع کوي نو هغه نفع بلا شبه جائز ده ، البته په کوم صورت کي کار بار

(۱) طبع سعيد

دونیم فیصده نفع نه کوي ، او حکومت د تلافي کولو په طور د خپله ځانه د غه دونیم فیصده پوره کړي نو څونه رقم چي حکومت د ځانه ادا کړي دی د احتیاط تقاضا داده چي هغه وصول نه شي ، بیا د پوره نفع اخستلو ګنجائش شته.

والله سبحانه وتعالى اعلم / محمد تقي عثماني ۱۲ / ۴ / ۱۳۹۸ھ (فتوی نمبر ۵۳۹ / ۲۹ ب)

ولی حسن دار الافتاء مدرسه عربيه اسلاميه کراچي

عبد الرزاق اسکندر ۱۲ / ۴ / ۱۳۹۸ھ

رشید احمد عفی الله عنه ۱۲ / ۴ / ۱۳۹۸ ھ

د این آئي ټي د نوي صورت حکم (تفصيلي فتوی)

سوال : د شرعي مبارک څه حکم دی په لاندني مسئله : یو سړي چي این آئي ټي یونټ یې رانیولو او بیا دیني اداره ته ورکړ چي منافع به یې د همدې اداري په ګټه وي ، ایا د غه منافع جائز دی او که یا ؟ د قرآن او سنت په رڼا کي راته جواب راکړي.

جواب : الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى ، اما بعد !

دنیشنل انوستمنټ ټرسټ (این آئي ټي) په نام چي کومه سرمایه کار اداره د څه وقت څخه قائم شوې ده نو په ابتداء کي د هغې طریقه کار د سود په ډول ؤ ، لکن په ۱۹۷۹ م کي د اسلامي نظریاتي کونسل په سفارش سره د اسی هدایت وشو چي د دې اداري څخه دي د سود عنصر ختم شي او هغه د اسلامي احکامو سره سم روان شي ، اسلامي نظریاتي کونسل ورته متبادل طریق کار هم تجویز کړی ؤ.

چنانچه ۱۹۷۹ م وروسته د دې اداري د طریق کار بدلون ومومند ، حکومت د هغه څخه خپله حصه بیرته واخستله ، او اداري چي د کومو غیر شرعي کمپنیو څخه حصص رانیولي وې هغه یې په کرار کرار وایستلې او یوازې د هغو کمپنیو سره کار وتاړو چي هغه په بنیادي ډول جائز وې ، تر دې چي یو ځل د اسي وشول چي د اداري ذمه وارو څخه د ا خبره په تحقیق سره معلومه شوه په دې کار بار کي یوازې هغه د هغو کمپنیو سره خرید او فروخت کیږي چي په بنیادي ډول باندي جائز دي او پر دې یونټو باندی نفع اخستل جائز

او حلال ده البته مستفتی حضراتو ته دا ويل كيږي چې هغه دی هر كال د خپل بيلنس دشيټ اخستلو پوری ددې خبري پوره اطمنان كوي چې كوم غير شرعي كار بار حصص خو شامل نه دي.

لكن څه وخت وړاندي احقر ته دا معلومه شوه چې د اين آئي ټي د كمپنيو حصص درانيولو علاوه د (مارك اپ) (پي ټي سي) په بنياد هم براه راست د كار باري افرادو ته سرمايه وركول شروع شوې ده ، چونكه د مار اپ ، او پي ټي سي او ټي ايف سي د سرمايه كارى لاندي راوستل او بيا د هغه د تفصيلي طريق كار معلومولو باندی موقوف ده ، او په دې ملك كي په دې نامو سره اكثر د غير شرعي كارو راكړه وركړه كيږي ، نو احقر ددې اطلاع وروسته د اين آئي ټي په باره كي د ټولو راغلو سوالات درولي دی ، او مستفتيانو ته يې ليكلی دی چې اوس په دې اداره كي د بعض تبديليانو علم موږ ته شوی دی ، چې د هغه تحقيق كول كيږي ، لهذا د تحقيق تر كولو پوري د جواز او عدم جواز حتمي فيصله نه شي كيدلی ، كله چې تحقيق وشي نو هلته به بيا معلومه شي چې د هغه وروسته څه حكم وركول كيږي

په دې دوران كي احقر د اين ائي ټي د سرپرست سره په دې اړه د تفصيل كار تفصيل د طلب كوشش وكړ لكن د څو ځله وخت وركولو سره سره احقر د سفر يا د مصروفيت پر بناء او كله د كوم بله عذر پر بناء ملاقات ميسر نه شو.

اوس څه مده وروسته احقر ته د اين آئي ټي دفتر دورتلو او هلته د دوی د كار د څرنګوالي په ليدلو سره او د هغه د حقيقت حال په پوهيدلو سره موقع په لاس راغله ، ددې تحقيق په نتيجه كي دا خبره واضحه شوه چې د مارك اپ ، يا پي ټي سي ، يا ټي ايف سي ، د نومو د سرمايه وركولو باندی هغه په شرعي اعتبار سره يقينًا ناجائز ده ، او هغه ته په هيڅ تاويل سره حلال نه ويل كيږي ، د مارك اپ اصل تصور داؤ چې (اور اسټيټ بينك په هدايت نامه كي هم د هغه ذكر شوی) چې اداره كوم شی رانيسي د پلورلو څخه وړاندي كارباري افرادو ته رقم مهيا كوي ، او هغه په دې رقم سره كوم شي غواړي راينسي او محض په كاغذي ډول باندي دا فرض كول كيږي ، چې د غه شيان اين آئي ټي پر هغوی باندي په نفع سره پلورلي دی ، حالانكه اين آئي ټي ته د هغه شيانو درانيولو علم هم نه وی

، څه چې هغه د دوی په قبضه او ملك كي راغلی دی ، لهذا د غه كار بار بلا شبه سود دی ، او د سود نوم مارك اپ په اينبوولو يا په كاغذي كاروايي سره د معاملې حقيقت نه شي بدلولی ، او دا صورت په ټي ايف سي كي هم دی.

تر كومه چې د پي ټي سي (پارټي اسپيشن ټرم سرټيفكيټ) تعلق دی اصلاً د غه معامله د شركت يا مضاربت په بنياد كول پكاروه ، او د هغه اصل تصور هم داؤ لكن د موجوده طريق كار لاندي ډير شرائط يې د شريعت خلاف دی ، د كوم په وجه چې د غه معامله هم د شريعت خلاف ده ، او اوس د غه اداري د پي ټي سي ، هم د ټي ايف سي باندي تبديل كول شروع كړې دی ، لهذا خلاصه دا شوه چې د مارك اپ ، او د پي ټي سي ، او ټي ايف سي ، په نام چې كوم كار بار كيږي هغه د شريعت څخه بالكل خلاف دی او د هغو څخه نفع لاس ته راوړل حرام ده.

ددې وروسته د اداري د بيلنس د شيټ د ليدلو وروسته معلومه شوه چې د اداري لويه سرمايه په درو ځايو كي پانګونه كيږي چې د هغه تفصيل د جون ۱۹۸۲ م د عمل موافق ده:

۱: مارك اپ: - ۱۲،۲۲ ۲: پي ټي سي: - ۲،۵۴ فيصد

۳: ټي ايف سي: - ۹۵،

ددې څخه علاوه د بينكو او سودي مالياتي ادارو حصص هم په دې اداره كي د ۲۷،۱ فيصد رقم جمع دی.

ددې څخه معلومه شوه چې د اين آئي ټي رقم ۲۱،۳۸ فيصد حصه د هغه په ناجائز كارو كي لګيږي ، او مزيد ۲،۲۸ فيصده سرمايه كاري آئي سي پي په فنډ كي لګول شوې ، چې د هغه د بيلنس شيټ معلومه شوه چې ددې بينكو حصص كي هم سرمايه كاري شوې ده ، دا ډول د سرمايه كاري ۲۴،۶ فيصده ناجائز او مشكوك دی ، وروسته بيا معلومه شوه چې د جون ۱۹۸۷م پوري مارك اپ ته وركړل شوې سرمايه نوره هم زياته شوه چې تقريبًا ۳۸ فيصده شوه ، دا ډول د جون ۱۹۸۷م په آخر كي په ناجائز مداتو كي لګول شوې سرمايه تناسب تقريبًا ۴۸ فيصده ته رسيدلی دی.

لهذا ددې معلوماتو دترلاسه کولو وروسته شرعي حکم دادی چی داین آئي ټي یونټ رانیول شرعًا جائز نه دی.

اوس سوال دادی چی هغه چاچي ددې فتوی وړاندي یا داداري داعلاناتو مطابق داین آئي ټي دیونټ دجائز بللو په فکر دغه یونټ رانیولی او هغه ورځخه سالانه منافع هم تقسیم کړي وي ایا هغه ته دمنافع څه حکم دی؟

نو ددې سوال جواب دادی چی داحتیاط تقاضا داده چی ددې اداري دغه خبره معلوم کړل شي چی دهغه سالانه منافع څو فیصده دی او دهغو درو مداتو ځخه حاصل شوې ده او بیا دمنافعو هغومره فیصد حصه کوم مستحق زکوة ته صدقه کړل شي.

واضحه دی وی چي دغه رقم پلار زوی یا میړه او ماینې ته هم ورکولی شي، په دې شرط چي هغه مستحق دزکوة وي، مثلاً داداري ځخه معلومه شوه چي کل منافع ۳۰ فیصده حصه په ناجائز مدات سره لاس ته راوړل شوې ده، نو خریدار دی هم د۳۰ فیصد رقم صدقه وکړي، دجون ۱۹۸۷م په آخر کي داحقر په نزد محتاط اندازه داده چی دمنافع ۳۰ فیصده حصه په شرعي اعتبار ناجائز حاصل شوې ده نو دهر یونټ خریدار دی ۳۰ فیصده حصه صدقه کړي.

لکن تر اوسه این آئي ټي منافع اکثر حصه جائز حصص په وسیله راځي او جائز منافع مقدار دناجائز حصې په مقابله کي زیاته ده، نو چا چي داین آئي ټي پر اعلاناتو اعتماد کړی وی او په هغه کي یې سرمایه کاري کړې وي دهغه طرف ځخه اداره دده سرمایه په ناجائز کار کي دلګولو اجازت نشته هغه ته چی کومي منافع رسیدلی دی هغه دپوره استعمالولو هم ګنجائش شته ولی چی مذکوره صورت کی دناجائز کار بار ذمه دار داین آئي ټي منتظمین دی، البته آئنده هغه لره په کار ده چی هغه خپلي روپۍ واپس واخلی.

په فتاوی عالمګیره کي دی:

اذا دفع المسلم الی النصرانی مالاً مضاربة بالنصف فهو جائز (ای فی القضاء کما صرح به فی امداد الفتاوی عن المبسوط ج ۳ ص ۴۲۱) الا انه مکروه فان اتجر فی الخمر والخنزیر فربح جاز علی

المضاربة فی قول ابی حنیفة وینبغی للمسلم ان یتصدق بحصته من الربح وعندهما .... لا یجوز علی المضاربة .... وان اربی فاشتری در همین بدرهم کان البیع فاسداً ولکن لا یصیر ضامناً لمال المضاربة والربح بینهما علی الشرط (عالمګیریه ج ۴ ص ۳۳۳ کتاب المضاربة باب ۲۲) (۱)

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه تر دې عبارت لاندي لیکلی دی:

قلنا: قوله ینبغي للمسلم ان یتصدق بحصته محمول علی الورع کما هو الظاهر وان حمل علی الوجوب فهو اذا کان قد اتجر فی الخمر والخنزیر ولم یتجر فی غیرهما والا فحمله ما سیجئ فی المخلوط.

ددې وروسته حضرت تهانوي رحمة الله علیه دمال مخلوط احکام یې دفتاوی قاضی خان ځخه نقل کړی چی په هغه دا جزئیه هم لیکل شوې ده:

لو ان فقیراً یأخذ جائزة السلطان مع علمه ان السلطان یأخذها غصباً ایحل له ذلک؟ قال: ان کان السلطان خلط الدراهم بعضها ببعض فانه لا بأس به وان وضع عین الغصب من غیر خلط لم یجز أخذه، قال الفقیه ابو اللیث: هذا الجواب یستقیم علی قول ابي حنیفة رحمة الله علیه لان عنده اذا غصب الدراهم من قوم وخلط بعضها ببعض یملکها الغاصب اما علی ابي یوسف ومحمد رحمهما الله انه لا یملکها

(۱) (طبع رشیدیه)

الغاصب ويكون على ملک صاحبها . (قاضی خان ج ۴ ص ۳۶۳ و ۳۶۴)(۱)

ددې عبارت دنقل څخه وروسته حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره لیکلی دی:

فاذا خلط الوكيل دراهم الربا ببعض الدراهم التي اخذها من حلال يجوز اخذ الربح منها لكون الخلط مستهلكًا عند الامام لا سيما اذا كان الوكيل كافرًا ، لا سيمًا والتقسيم مطهر عندنا كما اذا بال البقر فی الحنطة وقت الدياسة فاقتسمها الملاک حل لکل واحد اكلها مع التيقن بكون الحنطة مختلطة بالطاهر والنجس ، ولكن القسمة اورثت احتمالاً فی حصة كل واحد من الشركاء فحكمنا بطهارة نصيب كل واحد منهم فكذا ههنا اذا اربى الوكيل بالتجارة وخلط الدراهم بعضها ببعض ثم قسمها على الشركاء يحكم بحل نصيب كل واحد منهم والله تعالى اعلم (امداد الفتاوی ج ۳ ص ۴۳۲ رساله القصص السني)(۲)

ددې عباراتو مذکوره بالاحکم واضح کیږي.

دلته دا واضح کول پکار ده چی داین ائي ټي پر موجوده طریق کار باندي مبنی ده ، این آئي ټي دذمه دار حضراتو سره یو ځای به دا کوشش کیږي چي دناجائز کار بار حصه بالکل ختم شي ، که دغه کوشش کامیاب شي او حالات تبدیل شول نو حکم هم ورسره بدلیدلای شي په هغه وخت به انشاء الله بیا درته اعلام وشي.

(۱) المطبع العالی الواقع فی لکنو

(۲) ج ۳ ص ۴۸۶ (طبع جدید جمادی الاولی ۱۴۲۴ هـ طبع مکتبه دار العلوم کراچي)

والله سبحانه وتعالى اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب / احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۱ / ۲ / ۱۴۰۸ هـ (فتوی نمبر ۱۱۲۲ / ۲۹ د).

الجواب صحيح محمد رفيع عثمانی عفا الله عنه.

الجواب صحيح بنده عبد الرؤف سکهروی.

الجواب صحيح بنده محمد عبد الله عفی عنه.

داین آئي ټي نوی صورت حال

وضاحت از مرتب

حضرت مفتی صاحب دمذکوره فتوی چي داین آئي ټي په اړه یې دعدم جواز کړې وه دهغه سره سره یې ددې اداري دذمه دارانو سره دخبرو ذکر هم کړی څنګه چی ددې فتوی وروسته اکابر علماء دطرف څخه مسلسل مجلسونه کولو وروسته په صورت حال کي تبدیلی راغله نو حضرت مفتی صاحب هم دنوی صورت حال مطابق حکم په البلاغ مجله کي شائع کړو ، په این آئي ټي کي هم مسلسل تبدیلي روانه وه نو دترتیب زماني په اعتبار سره احکام دپوره تسلسل سره داحکام دزده کړي لړۍ هم ورسره روانه وه چی په البلاغ کي جاري کیدله حضرت مفتی دمذکوره فتوی وروسته په البلاغ کي په شماره رمضان المبارک ۱۴۰۹ کي شائع کړه.

دالبلاغ رجب المرجب ۱۴۰۸ هـ مارچ ۱۰۸۸ ء په شماره کي دنیشنل انوستمنټ ټرسټ (این آئي ټي) دکار بار په اړه یو تحریر شائع کړی دی چی دهغه خلاصه په دې ډول ده چي په دې اداره کي دسرمایه یو لویه حصه په داسي مداتو کي لګول شوې ده چي دهغه آمدني په شرعي اعتبار سره درست نه ده ، لهذا دهغه شرعي حکم داؤ چی دحالاتو دموجوده این آئي ټي یونټ رانیول جائز نه دی ، او چا چي لا له وړاندي څخه رانیولی ؤ دهغه په باره کي ویل شوی ؤ چی هغه څخه لاسته راوړل شوې منافع دیرش فیصده بغیر دنیت دثواب دی صدقه کړل شي.

ددې فتوی داشاعت سره سره په آخر کي داويل شوی ؤ چې که داين آئي ټي ذمه دار حضراتو سره دګفت شنيد سره دا اصلاح کوشش روان دی ، او که په صورت حال کي کومه تبديلي راسي نو ان شاء الله بيا به اعلان کړل شي.

او ددې سره سره داين آئي ټي دذمه دارانو سره مشوره روانه وه ، بفضل الهی هغو يواځي دانه چې زموږ دمشورو سره سم يې غير شرعي سرمايه کاري ليري کړه ، بلکه په دې اړه يې دعملي تعاون ثبوت ورکړو ، ددې نتيجه داده چې تقريبًا دلسو مياشتو دکوشش څخه وروسته بحمد الله داداري په طريق کار کي پوره تبديلي څرګنده شوه ، داداري دطرف څخه پر ټولو معاهدو باندي علماء کرامو يواري بيا دسره غور وکړو ، او هغه يې دشرعي دلحاظه تثبيت کړه ، نو يواري بيا داين آئي ټي دنوي صورت حال سره سم دشرعي حکم دبيانولو ضرورت راغی.

څنګه چې موږ په پخواني تحرير کي عرض کړې وه چې داين آئي ټي دسرمايه کاري دناجائز مداتو څخه ده نو دهغه ډيره حصه دمارک اپ يا پي ټي سي يا ټي ايف سي باندی مشتمل ده.

ددې درو مداتو څخه اين آئي ټي دپي ټي سی طريق کار بالکل ختم کړو ، او دمارک اپ او ټي ايف سي دکار دختمولو سره يې دمرابحه مؤجله کي تبديل کړ.

په سابقه طريق کار او په نوي طريق کار کي فرق داراغی چې وړاندي به چې کله کوم شخص يا اداري ته پيداواري قرضه ورکيدله نو نو هغه به داين آئي ټي دطرف څخه مارک اپ باندی روپۍ ورکيدلې لکن دا يواځي دتعبير تر حده ويل کيدل چې داين آئي ټي دطرف څخه هغه سامان دنفع باندی فروخت کول کيږی کوم چې قرض وړونکی په دغه رقم باندي رانيول کيږي حالانکه هغه سامان نه اين آئي ټي په ملکيت کي راتلو نه قبضه وه ، لهذا هغه محض يو فرضي کاروائي وه ، او حقيقت داؤ چې روپۍ ورکيدلې او پر هغه باندي نفع اخستل کيدله کوم چې په حقيقت کي سود دی ، دا هغه طريق کارؤ کوم چې د ملک په زياتو بينکو کي رائج ده.

لکن اوس دمارک اپ پر ځای دمرابحه مؤجله عقد کول کيږي چې دهغه خلاصه په دې ډول ده ، چې دچا دکوم کار لپاره قرض په کار وي ، نو داين آئي ټي اداره هغه ته دروپو

ورکولو پر ځای مال ورته رانيسي او پر هغه باندي يې په نفع باندي پلوري ، او قيمت يې وروسته ورڅخه اخلي ، په دې نوي صورت کي مال اول داداري په ملک او قبضه کي داخليږي ولي چې که دغه مال په دې حالت کي هلاک شي نو نقصان به يې داداري وي ، دهغه وروسته يې اداره په نفع پر خپل ګراک باندي پلوري ، په دې کي ددې خبري هم ګنجائش شته چې اداره ګراک خپل وکيل جوړ کړي لکن تر څو چې ګراک وکيل وي په دې وخت کي ټوله ذمه داداري پر غاړه ده ، وکيل بيا دخريدار پوړ وروسته داداري سره نوی عقد تر سره کوي.

دمارک اپ او دټي ايف سي ، ټوله معاهدات دمذکوره طريق کار سره مطابق تبديل کړل شول ، او په دې ډول دغه معاملات دجواز شرعي په حدودو کي داخل شول.

دمرابحه مؤجله سره سره اين آئي ټي داجارې معاملات هم شروع کړل ، يعنی هغه مشينان وغيره خپلو ګراکانو ته رانيسي او په معلومه کرايه يې ورته ورکوي ، دعقد اجارې لپاره هم مستقل معاهدات دشرعي شرائطو سره سم تيار کړی دی ، او دګراکانو سره دهغه سره سم معاهدات کوي.

نو اوس داين آئي ټي ډيره سرمايه دجائز کاربار دکمپنيو په حصصو رانيولو او په مرابحه مؤجله او عقد اجاره کي لګول شوې ده ، او دغه درې واړه صورتونه په فقهي اعتبار سره دجواز په حدودو کي داخل دی ، نو اوس ډيره حصه دسرمايه کاري په جائز کاربار کي لګول شوې ده.

البته يو مدی داسي شته چې دهغه پر تبديلي باندی اداره قادر نه شوه ، هغه دا چې په بعض اوقاتو کي دغه اداره خپل رقم په عام تجارتي بينکو کي په پي ايل ايس اکاونټ کي ږدي او دا خبره په البلاغ کي څو ځله ذکر شوې ده چې دپي ايل ايس (يانفع او نقصان کي شراکت) په نامه چې کوم کاربار مروج دی په بينکو کي ، هغه شرعًا درست نه دی ، لهذا دهغه آمدنی شرعًا حلال نه ده ، دغه اداره ددغه مد څخه دروپو پر راايستلو قادر نه شوه ، لهذا دغه مد اوس هم شرعًا درست نه دی او ددې مد څخه دامدني راتلل حلال نه ده.

لکن اداره اوس هم دخپل ګراکانو لپاره چي کوم نوې معاهدې کوي په هغه کي بې ديوې خانې اضافه کړې ده چي په هغه کي بې ګراک ته ددې اختيار ورکړی دی ، چي هغه ووايي چي زه ددغي ادارې دفلان فلان مد آمدني نه غواړم ، که په دې خانه کي وليکل شي چي زه پي ايل ايس امدني نه غواړم نو په دې صورت کي ديونټ ګراک ته دپي ايل ايس آمدني نه ورکول کيږي ، او يواځي به دهغه درو مداتو څخه نفع ورکول کيږي.

داين ائي ټي ذمه دارانو ددې خبري وعده کړې ده چي اګرکه دهر ګراک سرمايه عليحده لګول ممکن نه ده ، لکن څونه چي خلک په فارم کي دپي ايل ايس دآمدني دنه غوښتلو اعلان وکړي نو دهغو به په مجموعي رقومو کي دهغه رقم دکوم بل مد څخه لګول کيږي ، لکن داسي هيڅ کله نه شي کيدلی چي دهغه رقم دی دمجموعي رقم دمقدار څخه کم شي ، چاچي دپي ايل ايس آمدني دنه غوښتلو اظهار کړی وي.

چونکه پي ايل ايس څخه حاصل شوې آمدني تناسب دادارې مجموعي امدني په مقابله کي ډير کم ده ، او دمذکوره فارم په ذريعه دآمدني څخه دبچ کيدلو لار هم دادارې دطرف څخه ورکول شوې ده ، نو اوس داين آئي ټي يونټ رانيول شرعًا دا حکم دی:

په اين آئي ټي يونټ کي دروپو لګول په شرط جائز دي چي دادارې دطرف څخه په شائع شوی فارم کي وليکل شی چي زه دپي ايل ايس څخه دحاصل شوې آمدني غوښتونکی نه يم نو ددې تحرير وروسته چي دادارې دطرف څخه ورکول کيږي نو هغه ده ته په ذاتي استعمال کي لګول جائز ده.

لکن دا وضاحت يواري بيا کيږي چي دغه حکم داين آئي ټي دموجوده طريق کار سره شوی دی ، چونکه ددغه ادارې دطريق سره سم سرمايه کاری په مختلفو اوقاتو کي بدليږي او انتظاميه او دهغه پاليسی بدليږي ، نو آئنده بيا طريق کار کي دتبديلي امکان موجود دی ، لهذا ددې ادارې ګراکانو ته پکار ده چي هر کال ددغي ادارې دسرمايه کاري لپاره دمداتو يا په خپله جائزه واخلي ، يا دادارې دسالانه بيلنس شيټ موږ ته راوليږي او دتازه صورت حال په اړه استفتاء طلب کړي.

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه ۴ / ۸ / ۱۴۰۹ ھ.

په بينک کي دکرنټ اکاونټ او انعامي بانډ حکم

سوال: زما مځکه وه چي ما وپلورله او دهغه روپی په بينک کي جمع کول غواړم ، ولي چي زه دڅه وخت لپاره بهر ته ځم ، پر واپسي باندي يقينا پر هغه باندي سود ورکول کيږي ايا هغه سود يتيم خانې ته ورکولی شم ؟ ولي چي زه سود نه خوښوم او هغه ګناه بولم ، يا زه په دې سره په سود سره مکان رانيسم او هغه سود وربانديي ادا کړم ؟ ايا داړول سود اخستل خو به ګناه نه وی ؟ دانعامي بانډ رانيول څنګه دی ؟

جواب: ته خپلي روپی په کرنټ اکاونټ کي جمع کړه ، پر هغه باندي سود نه ورکول کيږي او که په غلطي سره په کوم بل اکاونټ کي جمع کړل شي او پر هغه باندی سود ورکړل شي نو مستحق زکاة ته بې ورکړه او دبينک څخه سود دی قرضه اخستلو څخه هم جائز نه ده ، دداسي قرضو اخستل سم دستي دلاس رانيولو فکرمند شه ، او دانعامي بانډ چي روپی ورکول کيږي هغه سود او قمار باندی مشتمل دی جائز نه دی دهغه وصولول حرام دی ، که باندی رانيول شي نو يواځي خپلي روپی وصول کولی شي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ / ۸ / ۱۳۹۷ ھ (فتوی نمبر ۸۹۵ / ۲۸ ج)

جبري پراويډنټ فنډ باندي زياتوب ورکول سود نه دی

سوال: پراويډنټ فنډ باندي چي دملازمينو دهري مياشتي دتنخوا څخه څه وضع کيږي او په بينک کي جمع کيږي نو پر هغه باندي سود هم ورکول کيږي اوس ځني خلک وايي چي دپراويډنټ فنډ اجباري دی که بينک پر هغه باندی سود ورکوي نو دا هم مجبوري ده چي دبينک والا وربانديي سود ورکوي موږ چي رقم سره له سود بيرته اخلو نو دهغه څخه به اصل رقم ورو او نور به واپس کوو يا به بې کوم مجبور شخص ته ورکوو ايا دا شرعًا جائز ده ؟

جواب: جبري پراويډنټ فنډ باندي چي داصل رقم څخه زياتوب ورکول کيږي هغه شرعًا سود نه دی دهغه وصول کول جائز دی.

والله اعلم وعلمه اتم واحکم / احقر محمد تقی عثماني عفی عنه ۲۸ / ۱۰ / ۱۳۸۷ ھ

(فتوی نمبر ۱۳۳۶ / ۱۸ الف)

الجواب صحيح بنده محمد شفيع عفی عنه ۲۹ / ۱۰ / ۱۳۸۷ ھ

په مغربي ممالكو كي د سودي قرضو په وسيله د كور رانيولو طريقه او د هغه حكم

سوال: په آئرلينډ وغيره ملكو كي د كور رانيول مشكل نوي محض ٥٪ قيمت چي وركړې نو په قرض وركول كيږي، چي هغه كه انټرسټ په ماهانه ادا كول غواړي نو عمومًا هغه ددې كور د كرايې وغيره څخه په كمه وي، او كله چي پنځه يا شپږ كاله تير شي نو نو ددې ځاى څخه ځې كور پلورل كيږي داډول ماهانه كرايه ضائع كيږي او د هغه سره د پراپرټي په كار كي هم استعماليږي او كوم چي يې قيمت لوړ شوى وي نو هغه يې بله فائده ده، نو خلك ډير ورته مائل دى، مګر ترټولو غټه خبره د سود ده په دې اړه زما په لاندې ډول پوښتني دى اميد دى چي جوابونه به يې راكړې:

ايا دغه مذكوره لين دين جائز دى؟

ايا په لين دين كي چي په كومو خاصو حالاتو كي جائز دى مثلًا داسي ملك وي چي هلته خريد او فروخت په څه ډول وي؟

ستا د كتاب دلوستلو وروسته او د نورو معلوماتو څخه راته څرګنده شوه چي د هغه د څه ترامیمو وروسته جائز كيدلاى سي، مثلًا كه د كور اصل قيمت خريد يو لك وي مګر په پنځويشت كلو سره په اجل يو نيم لك نو داول څخه د كور قيمت يو نيم لك شي او هغه دى په مذكوره كلو باندى تقسيم شي، او قسط واره دي ادا كړل شي ايا داډول كول جائز دى؟ زما د ناقص علم سره سم دغه كار د شكوكو څخه خالي نه دى ولي چي دلته څو سوالونه راپورته كيږي چي د هغه حل اسانه نه دى، نو ددې لپاره ستا د جانبه ددې جواباتو انتظار كيږي، په دې ډول د پنځويشت كاله په وعده رانيولو وروسته كه موږ وغواړو چي دغه سراى خرڅ كړو نو ايا بيا به موږ دغه يو نيم لك پورى ټولي يو ځايي وركوو، او كه به هغه يو لك پورى وركوو چي حقيقتا قرض دى؟ فرض كړه چي ستا سوال نمبر ۴ كي وليكې چي يو نيم لك روپى به وركوى سراى كه هر وخت وپلورل شي، نو بيا سوال دادى چي كه بينك په خوښي سره خپل پور وروسته كول غواړي، مثلًا د كور اصل قيمت يو لك وي، په پنځويشت كاله په اجل سره په يو نيم لك وي يعني د هر شلو

زرو په عوض ديرش زره په دې حساب سره په هرو پنځو كالو كي شل زره، اوس كه پر دې موقع باندى كور وپلورل شى كه بينك په خوښي سره ووايي چي د كور قيمت ديو نيم لك څخه راكښته كړي يو لك لس زره يې كړي ايا داسي كول جائز دي؟.

جواب: محترم ومكرم جناب عديل صديقي صاحب السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ستاخط راته ورسيدو په مغربي ملكو كي سودي قرض په وسيله چي كور رانيول رائج دى هغه سود دى حرام دى، البته كه د كور مالك سره داسي معامله وشي چي د كور قيت د بازاري قيمت څخه زيات مقرر شي، او بيا د هغه ادائيګي قسط واره وركول كيږي نو جائز دى، كه دغه معامله د بينك يا مالياتى ادارې په وسيله تر سره كيږي نو هغه به يو ځل هغه كور په خپله رانيسي او هغه باندي قبضه وكړي او بيا يې پر قرض وپلوري او هغه د پور په لحاظ كه د بازاري قيمت څخه زيات وى نو جائز ده (١) لكن په معامله كي دا طى كول ضروري ده چي ټول قيمت يې معلوم كړل شي او په څو قسطو باندي به ادا كول كيږي، كه په دې ډول سره قيمت مقرر شي نو بيا يو بل فريق د هر وقت وړاندي مجبوره كول جائز نه دى، لهذا كه خريدار آخري ادائيګي څخه وړاندي هغه كور وپلوري او رقم پيشګي ادا كول غواړي نو دى د هغه ادارې څخه د كم قيمت مطالبه نه شي كولى، كه هغه اداره په خپله خوښه قيمت كم واخلي نو صحيح ده.

والسلام (حضرت مولانا) محمد تقى عثماني (مدظلهم) بقلم محمد عبد الله ميمن ٢٨ / ١٢ / ١٤٢٠ هـ

د بينك يا هاؤس بلډنګ فائنانس (د كور جوړولو اداره) په وسيله د كور رانيولو حكم

(١) د مذكوره معاملې متعلق حوالې په لاندې ډول دى:

وفي اعلاء السنن ج١٤ ص١٧٣ (طبع اداره القرآن كراچي) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: نهى النبي ﷺ عن بيعتين في بيعة.

سوال: په متحده اماراتو يا په پاکستان يا دنړۍ په کوم بل هيواد کې زما ذاتي کور نشته زه په يو وړوکي کلي کي وسيږم چې هلته زما دپلار يو وړوکی زوړ کور دی هغه زما او زما دورونو او خوندو تر منځ شريک دی زما څلور واړه زامن دی، دخلګو په څير زما هم دکور رانيولو بنيادي ضرورت دی، نن که زما نوکري ختم شي نو زه به بيرته پاکستان ته راځم او زه بيا هلته په خپل کلي کي ګذاره نه شم کولی لازمًا به کوم ښار ته مخه کوم، هر چيرته دکور دخپلولو لويه سرمايه او تکيه وي، او په موجوده وخت کي زه دومره روپۍ دتنخوا څخه هم نه شم زياتولی چې په هغه سره کور رانيسم، نو زه به حتمي دچا څخه قرض تر لاسه کوم، هغه که کوم شخص (چي ناممکن دی) او که کوم بينک يا دکور جوړلو اداره وی، که زه ددغو ادارو څخه قرض تر لاسه کړم او په هغه سره کور جوړ کړم يا کور رانيسم نو هغه قرض په کرار کرار ورکوم څنګه چې نور خلګ ادا کوي، ولي څونه چي وروسته کيږي نو کورنه نور هم قيمته کيږي زه ورځ تر بلي ورځي نور پريشانه کيږم، ايا زه ددې حالاتو په نظر کي نيولو سره دکوم بينک يا ادارې څخه قرض تر لاسه کولی شم؟ څنګه چې تاسي ته معلومه ده چې دغه ادارې دقرض په ورکولو کي سود هم اخلي که په شريعت ماته جواز نه وي نو ماته دحل لاره راوښيه چي زه کور جوړ کړم.

جواب: په پاکستان کي کور جوړلو اداره چي کوم طريقه کار چي دځو کالو څخه دوی غور کړی دی نو په هغه کي صراحة دسود نوم نشته، لکن تر اوسه هم ددوی متعدد کارونه دشريعت څخه خلاف دی، نو ددوی په وسيله دکور جوړولو مشوره نه درکوم، څوک چي داډول بې کوره وي چي هغه دوی سره معامله ونه کړي او دهغه دسرپناه ځای هم نه وي نو هغه ته ګنجائش شته لکن چاته چي دسرپناه ځای وي که دکرايې وي هم يا درانيولو وس ولري هغه لره پکار نه دی، البته ددې خبري کوشش ضروري دی چي ددوي طريق درست شي، بعض ادارې داسي سيکمونه جاري کوي لکن حتمي خبره نه کول کيږي في الحال داسي کومه اداره موجوده نشته چي هغه په اړه رجوع وشي.
والسلام (حضرت مولانا مفتي) محمد تقی عثماني (صاحب مد ظلهم) بقلم محمد عبدالله ميمن ۲۲/۱۱/۱۴۱۴)

وفيه ايضاً ج ۴ ص ۱۷۵ و ۱۷۶ (طبع مذكور) عن عبدالله

دبينک آف خيبر دطرف څخه دفوډ ډپارټمنټ (دخوړو اداره) سره دمرابحې منسوخ کيدلو په صورت کي دبينک دطرف څخه دتحفې په ډول دلاسته راغلو روپو حکم

سوال: جناب حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثماني صاحب! السلام عليکم، اميد چي صحت به دی ښه وي.

په لاندنيو مسائلو کي دلارښوني غوښتنه کيږي:

بينک آف خيبر چي ۲۰۰۶ کي دفوډ ډپارټمنټ صوبه سرحد سره دغنمو دخريداري په سلسله کي دمرابحې عقد کړی دی، په دې فلانکي بينک آف خيبر دپاسکو څخه غنم هم رانيولي ؤ په اړه بينک خپل نمائنده هم مقرر کړی ؤ او رقم يې هم هغه ته ورکړې ؤ لکن وروسته ظاهره شوه دفوډ ډپارټمنټ دپاسکو سره ددې معاملې څخه وړاندي خبره کړې وه (په دې اړه معاهدې خط منسلک دی)

په دې وجه دشريعه ايډوائزر لخوا څخه دغه مرابحه ناممکن وبلل شوه نو بينک آف خيبر دخط په وسيله دفوډ ډپارټمنټ څخه اصل رقم مطالبه وکړه (خط ورسره منسلک دی)

فوډ ډپارټمنټ هغه رقم درې مياشتي وروسته ورکړل، دهغه سره يې څه زياتي روپۍ هم ورکړې تر اوسه هغه استعمال شوې نه دی، ولي بينک په هغه کاته کي ايشې وي چي په هغه سره کار بار نه کول کيږي، کله چي موږ دخوړو دادارې دمشرانو څخه خبره وشوه نو هغوی راته وويل چي دغه روپۍ راته په تحفه کي راکول شوې دی او دوی دا هم وويل: چي موږ به په ګډو سره داسی يو خط تيار کړو چي بينک ته قابل قبول وی.

په دې اړه په لاندې ډول تجويزونه پيش خدمت دی:

الف: بينک دغه رقم دډپارټمنټ دچيف منسټر په وسيله بيرته ورو ليږي.

ب: بينک دغه رقم دتحفې په ډول دفوډ ډپارټمنټ په خوښه قبول کړي او په خپلو منافعو کي شامل کړي او خپلو سرمايه کارانو ته تقسيم کړي.

امید دی چي په دې اړه به لارښونه راته وکړې ، په دې اړه هم راته په څرګنده ووايه چي په مستقبل کي دغه کار په څه ډول پرمخ یووړل شي. (محمد اسد)

جواب: محترم مکرم محمد اسد صاحب داسلامک بینکنک مشر بینک آف خیبر ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

دفوډ ډپارټمنټ څخه دمنسوخ شده مرابحې وروسته چي ۵ ملينه روپۍ په تحفه کي ورکړل شوې دي هغه دهغه په اړه ستاسي دپوښتني خط راته ورسيدو ، په دې اړه عرض دادی چي كه دبینک دطرف څخه دغه زائد رقم مطالبه صراحة ، اشارة یا کنایة مطالبه شوې وي ، که هغه دتحفې په نامه وي نو دهغه روپو راګرزول بالکل جائز نه دی ، دا دسود په حکم کي ده او بیرته ورکول ضروري ده.

او که دغه دبینک دطرف څخه مطالبه نه وی هم كه دتحفې په ډول فرد دطرف څخه نو بیا بله خبره ده لکن فوډ ډپارټمنټ سرکاري محکمه ده چي هغه لره دا اختیار نشته چي هغه فرد یا اداره ته ۵ ملینه روپۍ په تحفه کي ورکړي ، لهذا ظاهره داده چي دغه ۲۰۰ ملین روپو باندي دنفع دترلاسه کولو په غرض ورکړل شوې دی ، او غالبًا چي دا دفوډ ډپارټمنټ دحسابات‌و کي درج کول کیږي نو دا دبینک په آمدني کي شاملول درست نه دی.

والله سبحانه اعلم ۲۵ / ۴ / ۱۴۲۸ھ

فصل في القمار والتأمين

(دقمار او انشورنس بیان)

دژوند ، کور او مال وغیره دانشورنس حکم

سوال ایا انشورنس جائز دی؟ مثلا دژوند ، کور مال وغیره

جواب: انشورنس چي پر سود او قمار باندي مشتمل دی بالکل حرام دی ، البته که انشورنس دحکومت دطرف څخه لازمي وي مثلا دموټر وغیره بیمه کول نو مجبورًا یې کولی شې ، مګر کله چي روپۍ درکړل شي نو هغه یوازې دومره روپۍ ورڅخه اخستلی شې چي څونه تا داخل کړې وي ، ددې څخه زیاتي نه.

والله اعلم ۱۳ / ۲ / ۱۳۹۸ھ (فتوی نمبر ۲۰۷ / ۲۹ ب)

مروجه انشورنس متبادل تکافل

(وضاحت از مرتب) په ۱۴۲۳ھ کي مجلس تحقیق مسائل حاضره یو اهم اجلاس په جامعه دار العلوم کراچي کي دمروجه انشورنس دمتبادل غور فکر په بنیاد منعقد شو چي په هغه کي دپاکستان دمفتیان کرام څخه علاوه دبنګله دیش او شام دعلماؤ هم شرکت کړی ؤ ، داجلاس څخه وړاندي مفتي تقی عثماني صاحب ، شرکات التکافل پر چند اشکالات په عنوان سره یو تحریک شرکاء اجلاس ته ارسال کړل شو وروسته چي دغه اجلاس دوې ورځي نور جاري ؤ په اجلاس کي دتبرع یا وقف پر بنیاد دانشورنس متبادل نظام باندی دغور او فکر وسو ، دمجلس دابتدائي اکابر څخه مفتی اعظم پاکستان مفتی محمد شفیع صاحب ، مولانا محمد یوسف بنوری صاحب ، مولانا مفتی ولی حسن ټونکي صاحب رحمهم الله چي لا له وړاندي دانشورنس متبادل باندی دتفصیل غور او فکر لپاره دوقف او مضاربت پر بنیاد قائم کړی ؤ چنانچه دغه اکابرينو دمتبادل لاري لپاره یو متفقه قرار منظور کړی ؤ ، چي پر هغه باندي دمفتي لخوا څخه څه

اشکالات تحریر کړل شوي ؤ ددې څخه وروسته مجلس د طرف څخه د هغه اشکالاتو لپاره
جواب اکابرو یو قرار دار پیش کړی دی (محمد زبیر)

شرکات التکافل باندې اشکالات

(ازحضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب)

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدنا ومولانا محمد النبی
الامین وعلی آله واصحابه اجمعین، وعلی کل من تبعهم باحسان الی یوم الدین امابعد:

نن ورځ چې په دنیا کي د مختلفو شیانو د بیمې کاربار د انشورنس په نام روان دی
هغه معاصر علمائې اسلام اکثریت د غرر او قمار د مشتمل کیدلو پر بناء ناجائز او حرام
بللی نو پدې خاطر د شرق الاوسط مسلمانانو د خپلي علاقې د علماؤ کرامو په مشوره
د شرکات التکافل په نام کمپنۍ جوړکړې دي چې د بیمې مقاصد د شرعي اصولو ماتحت
کولو مدعی دی.

دد واړو قسمو د کمپنیانو طریقه کار کي فرق په دې ډول دی چې هغه د انشورنس
کمپنیاني چې د شریعت پابنده نه دی د خلګو سره باقاعده تجارتي معاهدې کوي چې
د هغه پر بنیاد بیمه دار ماهانه یا سالانه یو څه اندازه رقم ورکوي چې هغه ته پریمیم ویل
کیږي او ددې په مقابل کي کمپنۍ ددې التزام کوي چې کله هغه بیمه شوی شی هلاک
شي نو دوی به یې نقصان تلافي کوي دغه کمپنیاني په یو خاص حساب سره پریمیم ټاکي
چې د هغه لپاره دیو مستقل فن چې ایکچوري ورته وایي په نام سره مشهور ده، په دې
حساب سره هغه دا اندازه لګوي چې هغوی ته اوسطاً د کال څونه نقصاناتو د تلافي کول
پکار ده، او پر دې به څونه خرڅ راځي څونه چې خرڅ راځي د هغه په اندازه دوی پریمیم
ټاکي او د هغه سره د خپل نفع اندازه هم مقرر وي د کال اخراجات د دوی د توقع بر خلاف
راشي نو کله چې د دی سره د نقصان اندېښنه وي نو دوی د کومي بلې کمپنۍ سره خپله هم
بیمه وکړي چې هغه ته ري انشورنش (Re-insurance) وایي او په عربي کي ورته اعادة
التأمین ویل کیږي د مروجه انشورنس کمپناني اعادة التأمین د پاره په خپله هم پریمیم
ورکوي.

بل طرف شرکات التکافل دی چې په شرق الاوسط کي د انشورنس متبادل قائم
شوې دی، هغه د تجارتي معاهدې پر ځای د تبرع د اصولو سره سم کار کوي، هغې
کمپنیو چې مختلف افراد رقم ورکوي د هغو په باره کي داطی شوې وي چې دغه
دورکوونکیو د طرف څخه تبرع ده او دغه رقم ورکوونکیو ته حملة الوثائق ویل کیږي،
هغه روپۍ په کاربار کي هم لګول کیږي او کومي روپۍ چې جمع شي هغه د هغو ټولو
چنده ورکوونکیو د نقصاناتو تلافي ورباندې کیږي، که په کال کي د هغه نقصاناتو تلاف
وشي او د هغه څخه څه رقم زیات شي هغه د کمپنۍ منافع نه وي بلکه هغه هم حملة الوثائق
باندې تقسیمیږي کومو چې په ابتدا کي دغه رقم ورکړي وي.

د شرکات التکافل بنیادي تصور خو دغه دی لکن عملا په دغه تصور کي مندرجه
ذیل مسائل پیدا کیږي.

۱- چونکه د تکافل کار د دنیا د هر ملک په قانون بیله کمپنۍ قائمولو بغیر ممکن
نه دی نو په دې وجه څه خلګ په ابتدائي کي خپله سرمایه لګوي او کمپنۍ جوړه کړي،
هغو خلګو ته شیرز هولډر یا حامل حصص ویل کیږي؛ څنګه چې مروجه انشورنس
کمپنیاني دی دغه خلګ د نقصاناتو څخه د پاته رقم حق دار نه بلل کیږي نو د دوی آمدني
یواځي پر هغه لګول شوې سرمایه تر تجارتي نفع پورې محدود ده، او د تکافل د فنډ څخه
دوی ته هیڅ نه ورکول کیږي، البته بعض شرکات التکافل د هغو د تکافل د فنډ څخه
انتظام او انصرام اجرت ادا کوي، او ملیشیا کي د تکافل کمپنیان هغو ته تکافل د فنډ
څخه د زیات شوی رقم یو مخصوص فیصد ادا کوي، د غور طلب سوال دادی چې ایا
کمپنۍ مؤسسینو ته دغه ادائیګي جائز ده که یا؟ که جائز وي نو پر کوم بنیاد باندې؟

۲: اګر که د تکافل فنډ د تبرع پر بنیاد قائم شوی دی، لکن ددې فنډ متبرع هم
د نقصان په صورت کي مستفید کیږي، بلکه تکافل فنډ کي خلګ د نقصانات د تلافي
هغو ته هغه د تبرع د مقدار پر بنیاد ورکوي، یعني څونه چې د هغه حصه وي په هغه اندازه
د هغه د نقصان تلافي کیږي په نور الفاظو کي تبرع رقم هغه تعین د هغه د شي د قیمت سره
سم اندازه کیږي او د نقصان تلافي هم په هغه اندازه وي.

كه دهغه شخص دسوزكي موټر دنقصان تلافي كيږي نو هغه به كمه اندازه تبرع
كوي او كه دمرسډيز موټر دنقصان تلافي كوي نو هغه به زياته تبرع كوي ، سوال دادى
چې ايا په دې صورت كې چې متبرع په دې نقطه نظر سره ددې رقم دمقدار تعين كول
كيږي ، چې دهغه دنقصان دتلافي مقصود وي نو واقعة ايا دا تبرع ده ؟ يا دا چې دعقد
معاوضه په درشل كې داخل شي ؟ دشرق اوسط هغه حضرات ى دغه تبرع بولي او اجازت
يې وركړى دى ، دهغه وينا داده چې څه رقم كوم شخص وركوي هغه تكافل فنډ حصه
جوړيږي ، ددې تكافل فنډ قواعد او ضوابط په خپله دفنډ قائمونكي چې دوى كې هر
متبرع داخل دى مقرر كوي چې چا دومري اندازه تبرع وكړه دهغه حساب سره به سم ددې
فنډ څخه دهغه دنقصان تلافي كيږي ، او كوم فنډ چې په باهمي تعاون او تبرع په بنياد
قائم شي ، دهغه قواعد او ضوابط دفنډ دتمام شركاء په رضامندي سره مقرر كيږي ، لهذا
كه دغه قاعده مقرر كړل شي چې خلگ به دنقصاناتو تلافي دتبرعات په اندازه كوي نو پر
دې فنډ دتبرع به كوم اثر نه اچوي لكن سوال دلته دادى چې ايا شرعًا هم دغه نقطه نظر
درست ده ؟

۳ - څنگه چې وړاندې ذكر شو چې مروجه انشورنس كمپنياني دنقصان څخه
دځان ساتلو په غرض رى انشورنس يا اعادة التأمين كوى ، نو شركات التكافل ته هم دغه
خطر موجود دى چې دتكافل فنډ رقم دنقصانات دتلافي لپاره ناكافي شي .

اگرچې يو يا دوه ځايه مسلمانانو داعادة التكافل كمپنياني قائم كړې دى مگر
دهغو صلاحيت ډېر محدود دى ، نو دعرب علماؤ ددې خبري هم اجازت وركړى دى چې
ترڅو شرعي بنياد باندى اعادة التكافل نظام مستحكم نه وي تر هغه پورې په درجه
دمجبوري مروجه رې انشورنس يا اعادة التأمين كولى شي ، ددوى موقف دادى چې دغه
تأمين حرمت ربا او قمار په وجه نه دى ، بلكه دعقد غرر په وجه دى ، چونكه دانشورنس
كمپنۍ دنقصان په صورت كې دنقصاناتو تلافي محض دروپو دوركړې پر بنياد نه
وركوي چې هغه مبادلة النقود بالنقود لازم شي بلكه دنقصان تلافي دذمه داري اخستلو
پر بنياد ده ، مثلا كار تباشي نو دهغه پر ځاى بل كار وربرابروي ، كور خراب شي نو بل
كور ورته وركوي ، لهذا دغه عقد ربا يا قمار نه دى بلكه عقد غرر دى ، او غرر دحاجت

عامه پر بنا كولى شي ، سوال دادى چې ايا دغه موقف درست دى ؟ او كه نه دى نو په دې
صورت حال كې كومه بله متبادله لاره شته او كه نه ؟

دمجلس دطرف څخه دمذكوره اشكالاتو جوابونه او دتكافل په اړه داكابرو علماؤ قرارداد

نحمده ونصلي على رسوله الكريم سيدنا محمد وآله وصحبه اجمعين

امابعد ! دجامعه دار العلوم كراچي دشعبه مركز الاقتصاد الاسلامي په دعوت
دپاكستان ، بنگله ديش او دشام اهل علم او اهل فتوي حضرات اهم اجتماع چې ۲۱ او ۲۲
دشوال په ۱۴۲۳هـ په ورځ دجمعرات او جمعې چې مطابق ۲۶ او ۲۷ ددسمبر د۲۰۰۲م په
جامعه دار العلوم كراچي ددار الافتاء په انگر كې دبيمه په متبادل نظام تكافل باندى
دغور او فكر كولو په بنياد منعقد شوه .

دمجلس علمائي كرامو دمروجه انشورنس په متبادل نظام شركة التكافل باندې
غور وكړ چې په هغه كې عملي صورت بنگله ديش ، شرق الاوسط او دملايشيا بعض
كمپنيو اختيار كړى دى ، پر دې طريقه كار مفتي محمد تقي عثماني صاحب د(شركات
التكافل پر چند اشكالات) په نام تحرير داهل علم مطالعې ته سپارلى دى په دې مجلس
كې به ويل كيږي او بيا به دهغه جائزه اخستل كيږي .

دمجلس آغاز مهمان عرب عالم دين او دمتعدد مالياتى ادارو دشرعي امور
دنگران جناب شيخ عبد الستار ابوغده دمغربي بيمه كمپنيو تاريخ په لنډه جائزه
واخستلهٔ ، او اوس چې په اسلامي ممالكو كې تكافل كمپنياني كار كوي دهغه پر طريق
كارېې په تفصيل رڼا واچوله ، وروسته بيا بعض سوالات او شبهات جوابات وكړل .

ددې وروسته دمتعدد اهل مجلس دخپلو خيالاتو داظهار سره ډطويل بحث
وروسته مجلس دا وپتيېله چې دا وقت داسلامي ممالكو كې درائج تكافل كمپنيان
داسلامي اصولو مطابق كار كوي يا غواړي چې په اسلامي طريقه سره يې وكړي دهغه
ټولو بنياد دحملة الوثائق دطرف څخه دتبرع پر بنياد دى ، او ددې تبرع په بنياد هغه
دخپل متوقع مالي خطراتو ازاله كوي ، مجلس دا خبره محسوس كړه چې دوقف بغير

دتبرع پر بنياد دتكافل دكمپنيانو قيام تر متعدد اشكالاتو لاندي راځي ، شيخ عبدالستار ابو غده او نورو دعربو علماؤ اگرچي ددې اشكالاتو جوابونه وكړل لكن مجلس دا خيال وكړی چی په دې مسئله كي دمزيد تحقيق ضرورت شته ، اگر فی الحال ترجيحا هغه كمپنياني دتبرع پر ځای وقف غوره كړي نو ددغه قسم سوالاتو څخه به حفاظت ومومي.

ددې څخه لوړ دا خبره ده چی په ١٣٨٤هـ كي مجلس تحقيق مسائل حاضره دحضرت مولانا مفتی محمد شفيع ، حضرت مولانا محمد يوسف بنوري ، او حضرت مولانا ولی حسن رحمهم الله او دنور اكابرو په سرپرستی كي دژوند بيمه كولو متبادل وقف او مضاربت گرزولی شوی ؤ (دتفصيل لپاره .. بيمه زندگي .. مؤلفه حضرت مولانا مفتی محمد شفيع صاحب ص٢٥ وگوری)

ددې اكابرينو تجويز كرده بنياد وقف دی ، كه تكافل كمپنی پر دې بنياد كار وكړي نو نسبة به اشكالات را كم شي ، لهذا مجلس دتبرع په مقابله كي وقف ته ترجيح وكړه ، چي په هغه كي اولاً مساهمين دا صولو سره سم داموال غير منقوله يا نقود يا ددواړو دشرعي اصولو موافق وكړي چي هغه به محفوظ وي او دهغو لپاره آخري جهت قربت يعنی فقراؤ ته تصدق كول بيا حملة الوثائق چي څه رقم وركړي وي هغه ټول دوقف مملوك دی او وقف دوقف دطی شده اصولو او ضوابطو سره سم دمملوكاتو او منافع كي تصرف كولو مكمل اختيار دی.

ددې اصول دطی كولو وروسته حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب پر درو اشكالاتو غور وشو جوابات يې په ډول طی شول:

(١) الف: مساهمين تكافل فنډ څخه دفنډ انتظام او انصرام اجرت په لاندي شرائطو سره ممكن ده:

١: دغه اجرت دفنډ څخه ادا كول كيږي ولي چي دغه خلگ دفنډ اجير دی نه دحملة الوثائق.

٢: ددی اجرت تعين كول ضروری دی هغه كه رقم وی يا حصه متناسبه وي.

٣: دا هم ضروري ده چی دغه اجرت داعمال مضاربت څخه خارج دبل عمل وركړل شي.

(ب): كه دوقف متولين په شرعي حدودو كي دوقف لپاره دمضاربت خدمات تر سره كړي نو هغه مضاربت په ډول چي نفع حاصليږي هغه په متناسب متعين حصو حق دار گرزي مگر دهغه لپاره دوه شرطونه دی:

١: مضارب او اجارې حدود به ځانته ځانته واضح متعين وی ولي اجاره په ډول هغه صرف متعين داجرت حق دار دی او دمضاربت په ډول هغه دنفع حصه په متناسب ډول حق دار دی.

٢: هيئة الرقابة الشرعية دی دمضاربت باقاعده اجازت واخستل شي.

(٢) حملة الوثائق چی دتبرع پر بنياد وقف كړې وي په هغه كی كمی يا زياتوب په بنياد كم يا زيات دنقصان تلافی كه حملة الوثائق قانونی حق نه وی ، بلكه وقف دطرف څخه محض يوه وعده وی نو په دې كی شبه نشته ، كه تبرع كي كمي يا زياتوب په بنياد دنقصان تلافي كي كمي يا زياتوب دحملة الوثائق قانونی حق وی نو بيا ددې مجلس بعض شركاؤ دا رايه وه چی دغه صورت جائز نه دی ولی چی دغه صورت دعقد په معاوضه كي داخل دی ، او دا بعينه هغه صورت چی دبيمه دكمپنيو رائج الوقت دی ، لكن مجلس كي اكثر شركاء بيا رايه داوه چی دغه دوی دقانوني حق دوه صورتونه دی يو دا چی حامل الوثيقه په دې بنياد وی چی قانونی حق دعوا ولري چی دغه په فلان وقت كی وقف ته دونه رقم وركړي دی چی ده ته به دنقصان دتلافي وعده وركړل شوې ده ، لهذا كه دغه نقصان تلافی كول دوقف سره لازم وی دغه صورت جائز نه دی ولی چی دغه عقد معاوضه بلل كيږي چي سود او غرر ور سره لازم دی.

بل دا صورت دی چی حامل وثيقه خپل سابقه تبرع دنقصان دتلافی لپاره دعوی نه لری بلكه وقف دطی شده قواعدو او ضوابطو سره ددې خبري دعوا لری چی دغه قواعد او ضوابط سره دوقف طرف څخه دنقصان تلافی حق داريم ، نو دمجلس اكثر شركاء رايه داوه چی حامل وثيقه شرعًا خپل حق استعمال كولی شي ، او دا ددغه قانونی حق دعقد معاوضه كی داخل نه دی ، حضرت مولانا مفتی محمد شفيع صاحب قدس سره په كتاب

اسلام کا نظام اراضی (ص ۱۴۶، ۱۴۷) د مطالعې څخه معلومیږي چې عطاء مستقل سابقه ضرر پر بنیاد ورکولی شي.

ددې سره بعض حضراتو ته یو اشکال او جواب چې حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب تحریر کړی وړاندی راروان دی.

(۳) درائج الوقت اعادة التأمين چې هلته د پوره پريمم د تلو خطره وی، هلته د غرر علاوه د قمار خرابی هم شته، او هلته چې د پريمم د تلو خطره نه وی هلته د غرر معلوم وی او هم فاحش وی لهذا محض اعادة التأمين د خاطره جائز نه بلل کیږي، البته په لاندی متبادل صورتو کی اختیار کول کیږي:

۱: اعادة التکافل کمپنیاني هم پر شرعي اصول برابر شي.

۲: تبرع کوونکی د زیاتي تبرع غوښتنه ورڅخه وشي.

۳: تبرع کوونکی څخه قرض اخستل دستی ددې ادائي کول یا د دوی څخه بطور مضابت روپی اخستل سرمایه کاری ته وړل او حاصل کولو والا څخه نفع دده یا مضاربت وکړي او نفع دده په نقصان تلافي کی ورکړل شي.

۴: احتیاطا رقم زیات ورکړي.

۵: وقف کي د نقصان تلافي ذمه داری نسبت کم شی.

۶: د اسلامي تکافل کمپنیانو په خپل منځ کي اعادة التکافل خدمات تر سره شي.

ملحوظه:

۱: اهل مجلس کي شریک علمائي کرامو دا خبره طی کړه چې هر تکافل کمپنی کي دی مستند علمائي کرام او اهل فتوی حضراتو باندی مشتمل یو هیئت الرقابة الشریعة لازمي چې د کمپنی ټول معاهدات او جملة قابل ذکر امور د شریعت سره سم روان کړی.

۲: مجلس دا سفارش هم پیش کړو چې د مجلس طی شده تکافل نظام تبرع پر ځای دی د وقف پر بنیاد قائم شي، نو د بیمه کمپنیو قدیم اصطلاحات کي دی تبدیل شي هغه دی هم د اسلامي فقي سره مطابق کړل شي.

یو اشکال او د هغه جواب

کله چې یو سړی پریمیم جمع کوي نو په دې نیت به یې کوي چې پر وقت د نقصان به ماته زیاتوب راکول کیږي او زیاتوب لپاره هغه کمپنی هم مجبور کولی شي، نو ددې توجیه حضرت په دې ډول وکړه چې ورکول محض تبرع دی او د نقصان تلافي یو اخې د صندوق له قوانینو سره سم کیږي.

د حضرت دغه توجیه چې دغه عقد صریح یا قمار څخه خو را ووتله لکن په دې کي یوه شبه شته هغه دا چې درکړي پر وقت د هغه نیت دادی چې ماته د نقصان پر وقت زیات څه راکړل شي او حکم دا دی (وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ) وقال ابن عباس لا تعط عطية تلتمس بها افضل منها (۱) په دې وجه نیو ته ناجائز ویل کیږي حالانکه په هغه کي هم دا ویل ممکن دی چې ورکول عطیه ده او دوهم چې یې ورکوي نو هغه بیا خانته عطیه لکن نیت دور کوونکی دوړلو وي، علامه ابن عابدین دغه په قرض کي داخل کړی دی:

فی التتارخانية: وفي الفتاوى الخيرية سئل فيما يرسله الشخص الى غيره فی الاعراس ونحوها هل يكون حكمه حكم القرض فيلزمه الوفاء به ام لا؟ اجاب: ان كان العرف بأنهم يدفعونه على وجه البدل يلزم الوفاء به مثليًا فبمثله وان قيميا فبقيمته وان كان العرف خلاف ذلك بان كانوا يدفعونه على وجه الهبة ولا ينظرون فی ذلك الى اعطاء البدل فحكمه حكم الهبة... والاصل فيه ان المعروف عرفًا كالمشروط شرطًا آه.

قلت والعرف فی بلادنا مشترك نعم فی بعض القرى يعدونه قرضًا حتى انهم فی كل وليمة يحضرون الخطيب يكتب لهم ما يهدى فاذا جعل المهدى وليمة يراجع المهدى الدفتر فيهدى الاول الى الثانی مثل ما اهدى اليه. (۲)

لهذا دلته چې ورکول په دې غرض وی چې بیرته به یې راکوي او هغه به هم زیات وی نو دا ددې آیت کریمه په وعید کی داخل دی، او کم از کم ضرور دی، او بل د علامه ابن عابدین رحمه الله توجیه سره سم په قرض کي داخلیږي، او زیادت د سود سره مشابه دی او سود په اړه حکم دادی: فدعوا الربا والريبه... ، نو ایا دا په ریبه کي داخل نه دی؟

(۱) تفسیر قرطبی ج۱۹ ص۶۷ (طبع دار احیاء التراث العربی بیروت) وج۱۹ ص۶۳ (طبع مکتبه حقانیه پشاور)

(۲) رد المحتار ج۵ ص۶۹۶ (طبع سعید)

عن الحسين قال: سمعت ابا معاذ يقول: اخبرنا عبيد قال: سمعت الضحاک يقول فی قوله: وما آتيتم من ربًا لِيربو فی اموال الناس، فهو ما يتعاطی الناس بينهم ويتهادون يعطی الرجل العطية ليصيب منه افضل منها وهذا للناس [illegible]امة وأما قوله: ولا تمنن تستكثر فهذا للنبی خاصة لم يكن له ان يعطی الا لله ولم يكن ليعطي اكثر منه. (قرطبی ج۲۱ ص۴۶) (۱)

لکن د حاضرينو اکثريت د [illegible] اشکال داسی ورکړو چی پر دې خبره د ټولو علماؤ اتفاق دی چی واقف د وقف کولو پر وخت د نفع نيت وکړی بلکه په وقف کی د خپلي نفع شرط ولګوي نو هم د دې اجازت دی چی هغه [illegible] شه حديث معروف دی (يكون دلوه فيها كدلاء المسلين. (۲)

د دې څخه معلومه شوه چی د وقف احکام انفرادی هدایاؤ څخه مختلف دی، او د دې وجه هم واضح ده چی وقف موضوع له موقوف عليهم ته فائده رسول دی، لهذا که واقف وقف څخه د فائدې اخستلو نيت وکړی نو هغه وقف له موضوع له څخه نه باسي لکه د وقف د ورکولو پر وقت چی د هغه څخه فائده واخلی که په وقف کی د قواعد سره سم مستحق ونه بلل شي نو فائده نه ور څخه اخستل کيږي.

په نيوته (د واده په مراسمو) کی وقف له سره وی نه بلکه مهدی له موضوع له هم نه وی او هغه نورو ته هديه هم نه وی هغه يواځې د دوو افراد تر منځ معامله چی په هغه هديه غوښتل له جانبينو څخه وی ولي چی معروف كالمشروط وی نو په دې د عقد معاوضې سوا بل هيڅ احتمال نه وی، او په وقف کی چنده ورکول يو مستقل معامله ده او وقف

(۱) تفسير طبری باب ۳۷ ج۲۰ ص۱۰۵ (طبع مجمع الملک فهد)

(۲) صحيح البخاری کتاب المساقات باب فی الشرب ج۱ ص۳۱۶ (طبع قديمی کتب خانه ايضًا فيه کتاب الوصايا باب اذا وقف ارضًا او بئرًا واشترط لنفسه مثل دلاء المسلمين.
وفی جامع الترمذی، ابواب المناقب باب مناقب عثمان بن عفان فيجعل دلوه مع دلاء المسلمين
كذا فی النسائي، کتاب الاحباس باب وقف المساجد
وفی مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۵ فيكون دلوه كدلئ المسلمين.

د قواعدو سره سم چنده ورکوونکی استحقاق انتفاع بالکل د و همه معامله ده نو د وقف مسئله پر نيوته باندي نه قياسيږي.

د دې مجلس شرکاء نومونه او د هغو دستخطونه په لاندي ډول دی

۱. حضرت مولانا مفتی رفيع عثمانی صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط
۲. حضرت مولانا عبد الستار ابو غده حفظه الله شام
۳. حضرت مولانا مفتی عبيد الحق صاحب بنګله ديش دستخط
۴. حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط
۵. حضرت مولانا مفتی اظهار الاسلام صاحب بنګله ديش دستخط
۶. حضرت مولانا مفتی عبد الرحمن صاحب بنګله ديش دستخط
۷. حضرت مولانا مفتی نظام الدين شامزئي صاحب علامه بنوری ټاؤن کراچي دستخط
۸. حضرت مولانا مفتی عبد الستار صاحب جامعه خير المدارس ملتان دستخط

بنده په اجتماع کي شرکت وکړ

۹. حضرت مولانا مفتی محمود اشرف عثمانی صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط
۱۰. حضرت مولانا مفتی عبد الرؤف سکهروي صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط
۱۱. حضرت مولانا مفتی عبد الرحيم صاحب دار الافتاء والارشاد کراچي دستخط
۱۲. حضرت مولانا مفتی عبد الله صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط
۱۳. حضرت مولانا مفتی ابولبابه صاحب ضر مومن کراچي دستخط
۱۴. حضرت مولانا مفتی اصغر علی ربانی صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط
۱۵. حضرت مولانا مفتی عبد القدوس ترمذی صاحب جامعه حقانيه ساهيوال دستخط
۱۶. حضرت مولانا مفتی عبد الحميد صاحب جامعه اشرف المدارس کراچي دستخط
۱۷. حضرت مولانا مفتی عبد الباری صاحب جامعه فاروقيه کراچي دستخط
۱۸. حضرت مولانا مفتی رضوان احمد صاحب اداره غفران اسلام آباد
۱۹. حضرت مولانا مفتی عبد المنان صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط
۲۰. حضرت مولانا مفتی محمد صاحب دار الافتار والارشاد کراچي

د سودی بيمه شرعی متبادل لپاره د غه تحرير ابتدائی خاکې درجه لری نور شرائط او تفاصيل او عمل نفاذ باندی فقهی مشکلات او پر هغه باندی کار کول باقی دی دستخط

۲۱. حضرت مولانا مفتی مخلص الرحمن صاحب بنګله ديش دستخط
۲۲. حضرت مولانا مفتی ميزان الرحمن صاحب بنګله ديش دستخط
۲۳. حضرت مولانا مفتی کمال الدين ظفری صاحب بنګله ديش دستخط

۲۴. حضرت مولانامفتی عزیز الرحمن صاحب جامعه دار العلوم کراچی دستخط
۲۵. حضرت مولانامفتی زبیر اشرف عثمانی صاحب جامعه دار العلوم کراچی دستخط
۲۶. حضرت مولانامفتی عمران اشرف عثمانی صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط
۲۷. حضرت مولانامفتی زبیر اشرف صاحب جامعه دار العلوم کراچي دستخط

دمروجه انشورنس متبادل تکافل طریقه کار او جائزه او دهغه دبعضو پوره وضاحت

سوال: محترم دقدر وړ حضرت مفتی محمد تقی عثماني صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ، امید دی چی په خیر او عافیت کي به یې. جناب عالي !

دلته په شمالي افریقا کي دمروجه انشورنس په مقابل کی تکافل په نامه یو اداره خلاصه شوې ده ددې مقصد دادی چی په جائز طریقه سره دانشورنس مقصد حاصل شي ، بنده دهغه دماهیت او وضع په متعلق پوره تفصیل لیکلی دی چی تاسي ته مي درولیږی ، عرض چي دهغه مطالعه وکړې او خپله رائه راته څرګنده کړې ، او دغلطي اصلاح وکړې دالله تعالی څخه ستاسی خیر او سوکالي غواړو.

دتکافل نظام په شمالي افریقا کي

په دنیا کی درائج انشورنس په مقابل کي چي نن په شمالي افریقا کي دڅو مسلمانو یو اداره قائم کړي چي دهغه مقصد دادی چی دشرعي او جائز طریقه څخه درائج انشورنس فوائد او مقاصد حاصل کړی ددې ادارې نوم تکافل دی دغه لفظ چي په معنی دضمانت سره دی بلکه ددې څخه مراد تعاون او تناصر دی ، ددنیا په مختلفو ممالکو کي ددې غرض لپاره ادارې قائم دی تکافل دشمالي افریقه په دې ډول دی:

۱: څو محدود افراد په دې نیت سره محدود رقم وقفکړی یو فنډ یې قائم کړی چي څوک ددې فنډ غړی وی که پر هغه کومه حادثه یا نقصان ورته عارض شي نو دطی شده قواعدو او شرائطو څخه سم به دهغه غړی کومک کیږي او دهغه سره دمحدود نسبت سره سم څه رقم فقراؤ ته هم ورکول کیږي.

۲: دغه وقف په جائز او اسلامي سرمایه کاري سره پر مخ بوول کیږي ، څوک چی ددې وقف غړی شي دهغه څخه ددې فنډ لپاره چنده اخستل کیږي ، دغه چنده دوقف فنډ دمنافع په حکم کی وی ، دغه چنده وقف په حکم کي نه وی ، څنګه چی دمسجد عمارت وقف وی او دهغه لپاره چی چنده کیږي هغه منافع وی او دغه منافع دمسجد دمصالح لپاره وي (والتفصیل فی امداد الاحکام ۳ ص۲۲۰)

۳: څوک چی وقف فند ته چنده ورکوي هغه به دوقف فنډ مقاصد دپوره کولو په نیت چنده ورکوي ، او هغه به ددې چندی مالک نه بلل کیږي بلکه هغه به دچنده وقف فنډ په ملک کي وی.

۴: ددې وقف فنډ غړي چی کله په کومه حادثه کی زیانمند شي هغه لره دنقصان دتلافی کولو حق شته که دوقف متولي دهغه دنقصان تلافي څخه انکار وکړي نو هغه قضا ته هم رجوع کولی شي ولي چی دوقف اصل مالک الله تعالی دی ددې متولي ددغه وقف دفنډ دمقاصدو سره چلولو ذمه دار ده ، لکن دی په کي کوتاهی کوی، لهذا قضا دهغه څخه سوال کوي ، ګویا دا دحقوق الله څخه شو ، څنګه چی مال غنیمت دتقسیم څخه وړاندي دکوم مجاهد حق نه دی ، او هر مجاهد په دې مکلف دی چی څه دلاس دکافرانو څخه ورځي هغه امیر ته راوړي جمع یې کړي ، نه به یې په خپله غلاکوي او نه به بل ته موقع ورکوي چي هغه غلا کړي ، ولي چي په حدیث کي دی چي: ومن یکتم غالاً فانه مثله ... (رواه ابوداؤد ، مشکوة ص۳۵۱)

او بل دا چی په جهاد کي دهر مجاهد نیت په ابتداء کي دمال حاصلولو نه وي ، حتی چی بعض دفعه امیر دا اعلان کوي ، من قتل قتیلاً فله سلبه ، ددې لپاره چي مجاهد ته ترغیب ورکړي او په ځان کي سستي پیدا نکړي ، ددې وروسته چي کله مال غنیمت تقسیم شي و نو هر مجاهد کولی شی غنیمت او انعام دکوم چی اعلان شوی ؤ دعوی وکړي ، په غزوه حنین کی کله فتح راغله نو نبي کریم ﷺ اعلان وکړو ، من قتل قتیلاً له علیه بینة فله سلبه (مشکوة ص۳۴۸) نو یوه صحابی حضرت ابو قتاده انصاري ولاړ شو ویل یې: من یشهد لی ، مګر څوک ولاړ نه شو بیا هغه کښیناست نبي کریم ﷺ بیا اعلان وکړو دغه صحابي بیا ولاړ شو بیا هغه الفاظ وویل لکن بیا دهغه شاهد پیدا نه شو ، نو

هغه بيا كښېناست دريم ځل چې بيا هغسې اعلان وشو نو هغه صحابي بيا ولاړ شو نو نبي كريم ﷺ دابو قتاده څخه سوال وكړه: چې څه خبره ده؟ هغه خپله قصه بيان كړه چې ما يو كافر قتل كړو بيا بل صحابي چې دهغه سره ددې مقتول اسلحه وه حضرت دابو قتاده تصديق وكړو او دا خواهش يې ظاهر كړو چې هغه مقتول اسلحه ماته راكړه چې زه ابوقتاده راضي كړم مگر ابوقتاده راضي نه شو لهذا هغه دمقتول سامان او اسلحه وركړل شوه، متفق عليه

ددې حديث شريف څخه ثابته شوه چې دتبرع په نيت سره چې څه وشي (په جهاد كي تلل خپل ځان او مال باندې تبرع كول) كه دكوم شي استحاق ورته ثابت شي دهغه لپاره دعوى هم كول جائز دى، او دا موقوف عليه هم ده، لهذا مستحق په وجه دعوى كولى شي. (در مختار ج ۳ ص ۴۴۰ و ۴۴۱)

۵: دا هم طې شوه (متوليان دطرف څخه) چې فنډ دشريعت مطابق وچلوي او دهغه نگراني كولو لپاره شريعت بورډ (دشرعي امور اداره) قائم كړي او دهغه په هدايت سره فنډ پرمخ بوزي، كه دغه ثابت شي چې دغه فنډ دشريعت مطابق نه دى او دائمه اربعه په نزد صحيح نه دى يا دغه فنډ دخپلو مقاصدو لپاره پرمخ نه بوول كيږي نو دفنډ ټول رقم او جائيداد به پر مسكينانو او غريبانو تقسيم كوي او فنډ به ختموي.

۶: دوقف فنډ منافع سالانه حساب به كول كيږي او اصل وقف چې زائد رقم وي هغه به پر ممبرانو تقسيميږي.

۷: هغه رقم چې وقف شي په هغه كي به كمي نه كيږي، تقسيم به يواځي دمنافعو وقف كيږي كه كوم وقت دعواوي زياتي شي او منافع يې تكميل نه كړای شي نو وقف فنډ به بلا سودي قرض وركوي او دهغه وروسته چې منافع راځي دهغه څخه به ادائيگي كيږي

۸: چونكه دشمالي افريقا دتكافل اداره يو نوى كمپنۍ يا اداره ده او هغه سره كافي رقم نشته او دحكومتي قانون سره سم دداسي كمپنيانو لپاره دلائسنس ضرورت وي او تكافل كمپنۍ سره دلائسنس حاصلولو لپاره رقم نشته، او ددوى تكنيكى اوپيشه ور مهارت هم نشته، ددې ضرورت دپوره كولو لپاره تكافل سره افريقه كي يو

مروجه انشورنس كمپنۍ سره معاهده كړې ده چې تكافل كمپنۍ دغه انشورنس كمپنۍ ته طې شده اجرت ادا كړي.

۹: هغه چا چې دغه شركت ته رقم وقف كړي دى هغه ددې شركت متوليان دى، هغه به ددې كمپنۍ دپرمخ بيولو او ددې انتظام كولو وكيل بلل كيږي، او هغو ته به متعين اجرت وركول كيږي، دغه اجرت به دتمام ملازمينو تنخواوى او انتظامي اخراجاتو كي شامل وي.

۱۰: دغه شركت سره افريقه كي ری انشورنس معامله نه شي كولی.

دغه شركت دځرنگوالي دغه مذكوره امور دى، دهغو امورو پر بنياد دغه شركت پرمخ بوول كيږي په دې اړه كه كوم سوال وي بې پروا يې پوښتلی شی، برائی كرم ددغه شركت شرعي حيثيت راته څرگند كړی.

فقط والسلام / محمد اشرف اسپرنگز ساؤتهافريقا ۲۵ / جمادی الاولی ۱۴۲۵ هـ
۱۴ جولای ۲۰۰۴ م.

جواب: محترم مكرم مولانا محمد اشرف خان صاحب ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ستاسی خط راته ورسيدو او تكافل په اړه تحرير هم راته ورسيدو په هغه كي نمبر ۱ بيا تر نمبر ۷ پوري تجاويز تقريبًا هغه دی چې په دارالعلوم كي په منعقد مجلس دعلماء طې شول، لهذا هغه دشريعت سره سم دی، يواځې ۶ نمبر په اړه عرض دادی چې زائد رقم چې پر شركاؤ تقسيميږي هغه ضروري نه دی، ولې چې دا دوقف ملك گرزيدلی دی نو هغه په وقف كي هم محفوظ كولی شي، چې آينده كال دخلگو دنقصان تلافي وربندی وشي، او دغه صورت بنده ته زيات غوره معلوميږي.

البته ۸ نمبر كي چې تجويز وركړل شوی دی چې تكافل به دمروجه انشورنس كمپنۍ لائسنس استعمالوي او دهغو څخه پيشه ورانه كومك حاصل كړي ددې په اړه اوس څه ويل مشكل دی، تر څو چې دمروجه انشورنس كمپنۍ او تكافل كمپنۍ معاهده پيش نه شي.

والسلام / بنده محمد تقی عثماني ۲ / ۸ / ۱۴۲۵ هـ (فتوى نمبر ۵ / ۷۳۶)

دمروجه انشورنس مختلف اقسام او د انشورنس دجواز قائل علماء درايو شرعي حيثيت

سوال: زما مسئله دژوند دبيمه په اړه دپاکستان دسټيټ لائف مشر زما دوست دی هغه به ماته دانشورنس په اړه داډول ويل ، لکن ما ددې ويرې په خاطر تراوسه انشورنس نه دی کړی چې دا يو غير اسلامي کار دی ، زما دوست راته ډير څه راکړل چې په هغه ددنيا ډيرو علماء کرامو رايه وه ددوی په نزد انشورنس غير اسلامي نه دی ، په هغو علماء کرامو کي دمصر ، ابوظبی او سعودی عرب علماء دی ، او تقريبًا دري هفتې وړاندي دابوظبی دمذهبي امورو مشير بيان ورکړی چې دلته هم په اخبارو کي شائع شو هغه هم موجوده انشورنس دا سلام منافی ونه بللو ، ايا دهغه په خبره زه انشورنس کولی شم ؟ برائی مهرباني جواب مفصل راته راکړی.

جواب: انشورنس چي کومي طريقه کار مروج دی هغه ټول پر سود او قمار مشتمل دی هغه حرام دی مختلف انشورنس کمپنياني چی بعض علماء په بياناتو سره شائع شوې دی هغه دوه قسمه دی بعض مرتبه دهغو علماء طرف ته غلط بيانات منسوب کوي ، او بعض مرتبه علماؤ دطرف څخه دبياناتو نسبت غلط نه وی ، لکن هغه علماء چی دموجوده انشورنس ته جائز ويلي دی ، دهغه خبره په مجموع عالم اسلام کی علماء نه قبلوي ، لهذا هغه شاذ اقوالو حيثيت لری او دهغو دلائل هم نهايت کمزور وی ، په مجمع الفقه السلامي جده کي دټولو اسلامي نړی علماء سره راجمع شول او پر دې مسئله يې مفصل بحث وکړو ، او بالآخر يې دانشورنس مروجه طريقې دحرمت فتوی صادره کړه ، او بعض علماؤ اقوال شاذ او باطل وبلل شول ، په دې اجتماع کی ۴۵ هيوادو تقريبًا ۱۵۰ علماء شريک ؤ دغه تنظيم په ټول اسلامي نړی کی يو اسلامي تنظيم دی ، خاص طور بيمه زندګي په اړه دحرمت دلائل زما دوالد حضرت مفتی محمد شفيع صاحب رحمه الله رساله بيمه زندګي کي په تفصيل سره بيان شوی دی.

والسلام ۲۲ / ۱۱ / ۱۴۱۴ ھ

۱ : دانشورنس او دهغه دټولو اقسامو حکم

۲ : بغير دسود څخه دانشورنس دناجائز کيدلو وجه

۳ : انشورنس دحرمت دلائل او دهغه دجواز په اړه دمولانا ابوالکلام ازاد مرحوم او دبعض نورو علماء کرامو درائی حقيقت.

سوال ۱: ايا انشورنس جائز دی ؟

جواب ۱: دانشورنس چي څونه صورتونه زمونږ په زمانه کي رائج دی هغه ټول نا جائز دی ولي چی هغه کي سود او قمار مشتمل دی (۱)

سوال ۲: بغير دسود دانشورنس فتوی څه ده ؟

جواب ۲: بغير دسود څخه انشورنس دقمار په وجه جائز نه دی.

سوال ۳: په خپله فتوی کی دقرآني آياتو او احاديثو څخه استنباط څنګه دی؟

جواب: ربا او قمار پر حرمت ټول آيتونه او احاديث دانشورنس پر حرام دليل دی.

سوال ۴: ايا مولانا ابوالکلام ازاد يا دنورو علماء کرامو چی په دې حق کي فيصله کړې په دې اړه ستا خيال څه دی ؟

جواب ۴: مستند علماؤ څخه يوه هم دانشورنس دجواز فتوی نه ده ورکړې بعض علماء طرف ته دغلط فتوی نسبت کيږي ، مولانا ابوالکلام ازاد په باره کي ماته تحقيق نشته چی ايا هغه دغه فتوی ورکړې ده او هغه داهل فتوی علماؤ څخه هم نه دی.

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی ۲۳ / ۵ / ۱۳۸۸ ھ (فتوی نمبر ۵۹۲ / ۱۹ الف)

الجواب صحيح بنده محمد شفيع

---

(۱) دتفصيل لپاره دامداد الفتاوی ج۳ ص۱۶۰ او امداد المفتيين ص۸۵۲ او حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله رساله بيمه زندګي او دحضرت مفتی صاحب اسلام او جديد معشيت او تجارت ص۱۵۹ تر ۱۶۳ پوري وګوری.

د سختي مجبوري په وجه د انشورنس رقم بطور قرض د استعمال حکم

سوال: محترم مرشد حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته امید چی په خیر او عافیت کي به یې.

بعد ! گذارش دادی چی ماته د انشورنس کمپنۍ له طرف شپیته یا اویا زره روپۍ راکول کیږي که څه هم زه د اصل رقم مالک یم او س زما مجبوري ده ، ایا زه هغه بطور قرض د خپل ځان سره اینښوولی شم ؟ کله چی زما سره خپلې روپۍ جمع شي نو خپلې روپۍ به ور څخه مستثنی کړم باقي به پر فقیرانو تقسیم کړم - ان شاء الله تعالی - ایا زه داسی کولی شم ؟ امید چی جواب به راته مهیا کړې.

ستاسی د دعاؤ محتاج طلعت محمود راولپنډۍ.

جواب: محترم ومکرم ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

دانشورنس کمپنۍ چي اصل رقم درکړي نو دهغه استعمال جائز دی البته پر هغه باندی چي سود درکړل شی نو هغه صدقه کړه ، البته د شدید انتهائی مجبوري په صورت کي په دې نیت سره هغه استعمالولی شي چی هغه به وروسته صدقه کړې ، لکن په دې صورت کی د خپل ځان سره حساب وکړه کله چی ضرورت رفع شي نو هغه وقت د غه رقم صدقه کړه ، الاختیار کي دی:

والملک الخبیث سبیله التصدق به ولو صرفه فی حاجة نفسه جاز ثم ان کان غنیًا تصدق بمثله وان کان فقیرًا لا یتصدق (الاختیار لتعلیل المختار ج ٣ ص ٦١ اوائل کتاب الغصب.

والسلام محمد عبد الله میمن / بحکم حضرت مولانا محمد تقی عثماني صاحب
١٢/١١/١٩٩٩م

د ژوند د بیمه کولو حکم

سوال: د بیمه بونس چی هر کال مختلف وی ایا هغه سود دی ؟ او د ژوند د اختتام څخه چی څه روپۍ ورکول کیږي هغه ناجائز دی ؟ ایا په منځ کي چی د میعاد تر ختمیدلو وړاندی اموات په حالت کی رقم ورثاء ته کمپنۍ ورکوي هغه ناجائز دی ؟ په دې اړه راته جواب په پوره تفصیل سره بیان کړې.

جواب: د بیمه زندګي چی کوم صورتونه نن رائج دی هغه په ټولو کی د زیات رقم ورکول کیږي هغه حرام دی که ناواقفیت په وجه واخستل شي نو د اصل رقم څخه زیادت بیرته ورکړي ، او زائد رقم دی نه وصول کوي ، دلائل یې او س نه شي درج کیدلی (١) مختصر داده چی بیمه په موجوده صورت کي سود او قمار څخه مرکب ده او هغه دواړه قطعی حرام دی.

والله سبحانه اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ٢٤/١٢/١٣٨٧ھ (فتوی نمبر ١٤٦٢/١٨الف)

الجواب صحیح محمد عاشق الهی بلند شهری

د مشترک مال تجارت داوګوټ د غرقیدو په صورت کی د انشورنس کمپنۍ څخه یا د شریک څخه د مال د نقصان د تلافی کولو حکم

سوال: موږ د چین څخه مال راوغوښت په دې مال کي زمونږ سره شریک هم ؤ چی نفع او نقصان به سره نیمایي وی په مال راغوښتلو کي ټولې روپۍ موږ ولګولې ، ولي چی زموږ او د هغه تر منځ داډول معامله همیش کیدله کله به موږ مال راوغوښت او کله به بیا ده راوغوښت کله موږ ورته روپۍ وروسته ورکړې او کله به هغه راته روپۍ وروسته راکړې یو پر بل باندی پوره اعتماد ؤ د خارج څخه چی کله مال راوړې نو حتمي به دهغه

(١) دلائل لپاره د حضرت مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله رساله بیمه زندګي وګوره.

انشورنس هم کوي ، انشورنس دادی چی کله ټول مال هلاک شي نو هغه ورته دمال ضیاع ذمه داروی که انشورنس ونشي نو هغه ذمه دار نه دی ، دپوره نقصان په صورت کی انشورنس والا دمال پوره رقم بلکه دهغه څخه لا څه زائد رقم ادا کوی دغه مال چی په اوګوټ کي راتلودالله په امر هغه ټول ډوب شو ، انشورنس والا مونږ ته دهغه پوره رقم راکړې چی داصل څخه لا هم څه زیات ؤ اوس سوال دادی:

۱: دانشورنس څخه چي کومي روپۍ لاس ته راغلې دهغه اخستل جائز دی ؟

۲: که جائز نه دی نو داصل سرمایې څخه چي څونه روپۍ زیاتي وصول شوې دی هغه هم جائز نه دی ؟

۳: که ټول رقم یا زیاده رقم ناجائز وی نو مونږ په دې روپو باندي څه وکړو ؟ ایا صدقه یې کړو؟

۴: که ټولي یا زیاتوب روپۍ جائز نه دی نو ایا مونږ چي روپۍ په دې کي لګولې دی دهغه نصف مونږ دخپل شریک څخه اخستلی شو ؟

۵: که مونږ دغه رقم دخپل شریک څخه واخلو نو کومي روپۍ چي مونږ دانشورنس څخه اخستې دی هغه هم شریک ته ورنیمایي کړو ، مونږ به خپله حصه او هغه به خپله حصه صدقه کړي ، او دمال اصل نیمایي حصه دهغه څخه واخلو .

جواب: دانشورنس چی څونه مروجه طریقې دی هغه ټولي غیر شرعي دی په هغه کي سود او قمار دی لهذا دانشورنس څخه یواځي دومره روپۍ اخستل جائز دی څونه چي تاسي کمپنۍ ته ورکړې دی او کومي روپۍ چي داصل سرمایې څخه زیاتي درکړل شوې دی هغه په طریقه اولی سره جائز نه دی.

۲: اصل حکم دادی چی دانشورنس څخه دی دغه زائد رقم وصول نه شي که په غلطی سره وصول شي نو هغه بی له نیته دثواب څخه صدقه کول واجب دی.

۳: که ستاسي دشریک سره دا سي معاهده شوې وی زباني یا تحریري چی مال به په مشترکه سره راغواړو او په نقصان او نفع کي به دواړه یو برابر یو نو تاسي دخپل شریک څخه هغه نیمایي حصه اخستلی شی او پر هغه باندی ادائیګي واجب ده.

کما یفهم من رد المحتار فی قوله دفع الی رجل الفًا وقال اشتربها بینی وبینک نصفین والربح لنا والوضیعة علینا ، فهلک المال قبل الشراء ویضمن وبعده ضمن المشتری النصف بحر عن الذخیره ، قلت : ووجهه انه لما امره بالشراء نصفین صار مشتریًا للنصف وکالة عن الآمر وللنصف اصالة عن نفسه وقد اوفی الثمن من مال الامر فیضمن حصة نفسه (رد المحتار ج ۳ ص ۳۴۰) (۱)

قلت: والصورة المسؤلة عکسه ولا فرق فی العلة

لکن په دې صورت کي چي کله معاهده زباني یا تحریری شوې وی، که ستاسی شریک ته دمال راغوښتلو علم نه وی یا هغه ته تاسي دمال دراغوښتلو نه وی ویلي او تاسي محض دماضی دتعلقاتو داعتماد پر بنسټ مال راغوښتی وی نو بیا پوره نقصان ستاسي ذمه داري ده بیا شریک ذمه وار نه دی.

۴: څنګه چی وړاندي ذکر شول اصل حکم دادی چی دغه رقم نه وصولوي که په غلطی سره وصول شوي وی نو هغه دی صدقه کړل شي ، که تاسي ټول صدقه کړی او که نیمایي صدقه کړی او نیمایي شریک صدقه کړي.

۵: ددې مفصل جواب په ۳ نمبر کی وشو .

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۴/۱/۱۳۹۷ھ.

دغیر ملکی سفر لپاره دژوند بیمه کول قانونی پابندي او دهغه څخه دخلاصون صورت

سوال: هغه خلګ چی غواړی سعودي عرب ، متحده عرب امارات یا کویټ ته ولاړشی نو داول ځل لپاره چی ویزه لګوي نو حکومت پاکستان لخوا څخه دبیمه کیږي ، چی یو لک روپۍ وي ، هغه په بینک کي ۲۵۰۰ روپۍ جمع کوي که په یو کال کی هغه

(۱) الدر المختار مع ردالمحتار کتاب الشرکة ج ۴ ص ۳۱۱ (طبع سعید کراچي)

هلته وفات شي نو دبيمه کمپنۍ هغه ته یو لک روپۍ یا څه کم زیاتي ورکوي ، بعض داسې غریب وي چې دا نه ورکوی نو په ټریول ایجنسي والا ایئرپورټ سره خبره وکړي دهغه څخه روپۍ واخلي نو دخپل ځان لپاره هلته کنښېږدي ، ایا داسې کول دټریول ایجنسۍ لپاره دشریعت درویه حلال دی که حرام ؟

جواب: بيمه شرعًا جائز نه ده ، که په کوم سفر تلل ضروري وي او قانونًا سفر دبيمه بغير ممکن نه وي نو بیمه کولی شي ، مګر دهلاک په صورت کې يواځي خپلې روپۍ دکمپنۍ څخه وصول کړي لهذا که کوم سرکاري افسر سره خبره وشي چې هغه دبغير بيمه دسفر لار پيدا کړي که ګنجائش وي په دې شرط چې هغه ته رشوت ورنه کړل شي دهغه داجرت اخستلو هم ګنجائش شته. والله اعلم ۲ /۱ /۱۴۲۱ھ

دګروپ انشورنس او دپراویډنټ فند شرعي حکم

سوال: په ټولو سرکاري دفاترو کې حکومت دانشورنس سکيم په نام یو سکيم لازمي طور باندې شروع کړې چې تر هغه لاندې سرکار هر ملازم باندې دا لازم کړې ده یو فیصد ماهانه دخپلې تنخواه څخه کاټ کړي ، دهغه وروسته که يو ملازم دنوکرۍ په دوران کې مړ شي ، دهغه مړي کورنۍ که دهغه اصل تنخوا يو نيم سل وي دهغه نامزد کرده وارث ته حکومت دوه زره روپۍ ورکوي ، په دې ډول که تنخواه پنځه سوه وي نو پنځه زره ورکوي او که اووه سوه وي نو لس زره ورکوي ، او که ملازم دنوکرۍ په دوران مړنه شو ، بلکه دریټار کيدلو وړاندې مړ شي يعنی تر شپيتو کلو نوی رسيدلی نو دهغه وارث ماهوار رقم ورکوي که دهغه اصل تنخوا ماهوار يو سل وه نو دهغه نامزد وارث ته ۵۰ روپۍ ورکوي که دوسوه وه نو پنځه اويا روپۍ ورکوي ، او که درې سوه وي نو سل او که څلور سوه وي نو يو سل پنځه اويا ورکوي ، په بل صورت يعنی که نه هغه دنوکرۍ په دوران کې مړ شي او نه هم دريټار کيدلو څخه وړاندې مړ شي نو هغه ته حکومت هيڅ هم نه ورکوي او نه هغه ته ماهوار يو فيصد دحساب څخه چې لازمي طور کاټيدل ده دپوره نوکرۍ په دوران کې هغه بيرته نه ورکوي ، يعنی هغه کاټ شوې روپۍ بيرته نه ورکوي ايا دا جائز دی ؟

سوال ۲: حکومت دهر ملازم څخه دجي پي فنډ په نامه کم از کم ۱۰ روپۍ یا دهغه څخه ځونه چې هغه غواړي کاټوي او بیا کله چې نوکري ختم شي نو هغه ملازم ته يوځای ټولي روپۍ بمع سود ورکوی ايا دغه سود دی او که نفع يا انعام ؟او جائز دی که يا ؟

جواب: ګروپ انشورنس چې کوم صورت تاسې ليکلی دی او دهغه کوم قواعد او ضوابط دی ددې څخه دغه لاندې خبرې معلومیږي:

۱ هر ملازم دتنخوا څخه څه رقم جبري طور باندې وضع کيږي.

۲: کله چې دغه رقم وضع شي حکومت يو فنډ قائم کړي چې هغه رقوم په نفعمند کارو کې ولګوي.

۳: دملازم دفات وروسته ددمقرره وصی ته دهغه متعين رقم ورکول کيږي کوم چې وضع شوي ؤ پر دې معاملې دغور کولو وروسته دا په صورت شرعًا دجبري پراویډنټ فند څخه مختلف نه دی او پراویډنټ فنډ په اړه دا خبره ثابته شوې ده ، چې پر هغه باندې چې کم ، زيادت ورکول کيږي هغه سود نه دی ، دهغه اخستل دملازم لپاره جائز دی ، دا ډول ګروپ انشورنس ددين ضعيف سره دمشابهت په وجه دملازم مملوک تام نه دی لهذا حکومت يا محکمه چې کوم تصرف کوی هغه يې زيات کړی هغه تصرف دملازم دملکيت سره نه دی ، او نه ملازم سره دهغه کومه معامله شوې ده ، اوس که حکومت هغه حاصل شده منافع څه حصه خپله ملازم ته ورکوي نو هغه شرعًا دانعام و دتبرع په حکم ده ، دسود په تعريف کې داخل نه دی او ملازم لپاره جائزده ، البته چونکه دغه دحاصل شده منافع بعض داسې معاملات دی چې شرعًا جائز نه دی نو احتياط په دې کې چې تنخوا څخه څونه روپۍ وضع شوې دی خود دی واخلي او باقی رقم دی پر غريبانو صدقه کړي ، او دغه رقم فريب رشته دارانو ته هم ورکولی شي پر کچنيانو يې هم مصرف کولی شي ، دغه جواب دشرعي قواعدو درويه ليکل شوی دی ، لکن جونکه په کتب فقه کې ددې صراحت نشته نو بهتر به داوی چې دنورو علماؤ څخه په دې اړه سوال وشي.

جواب۲: پراویډنټ فنډ حکم په سوال۱: کي جواب وشو پر هغه باندی چي زیاتوب ورکول کیږي هغه دسود په حکم کي نه دی او دهغه اخستل ملازم ته جائز ده، که کوم شخص احتیاط وکړي نو ښه خبره ده.

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی ۲۵/۵/۱۳۹۱ھ (فتوی نمبر ۲۸۶/۲۲ ب)

الجواب صحیح بنده محمد شفیع

دګروپ انشورنس حکم

سوال: دسرکاري ملازمینو لپاره چی دګروپ انشورنس په نامه اجتماعي بیمه کیږي دهغه لپاره رقم ادا کول او په وقت دحادثې کي دهغه وصول کول څنګه دی؟ مثلاً زید اولس نیم سوه روپۍ په کال کي ورکړې که هغه ته په کال کي حادثه ورسیږي نو دهغه ورثاؤ ته اووه زره روپۍ ورکول کیږي، که حادثه پیشه نه شي نو دکال په اختتام کي دغه اوولس نیم سوه روپۍ ختم شي او دنوی کال نوې معاهده کول کیږي.

جواب: ګروپ انشورنس قواعد او ضوابطو ته په کتو سره کوم چی دملازمینو دتنخوا څخه څه روپۍ وضع کیږي اګرچي حکومت لره داسي کول جائز نه دی لکن دکومو ملازمینو دتنخوا څخه چي جبرًا وضع کیږي هغه که دې ملازم ته بیرته ورنه کړل شي نو دا دحکومت دطرف څخه غصب بلل کیږي، او که په کومه حادثه کي دخپلو ورکړل شوو روپو څخه زیاتي ورکړل شي نو دا دپراویډنټ فند په حکم دی سود نه بلل کیږي، ولي دین ضعیف باندی زیاتي روپۍ ورکول کیږي هغه دمرحوم ورثاؤ لره وصول کولو کي ګنجائش شته، لکن احتیاط په دې کي چي اصل رقم وصول شي او زائد یا خو وصول نه شي یا پر غریبانو تقسیم کړل شي که هغه رشته دار وی او که غیر رشته دار.

والله سبحانه وتعالی اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۶/۷/۱۳۹۱ھ (فتوی نمبر ۸۵۴/۲۲ ب)

الجواب صحیح بنده محمد شفیع عفی عنه

۱: دمختلفو معموګانو په وسیله دحاصل شده انعام حکم

۲: دژوند دانشورنس مختلف مروجه صورتو حکم

سوال: ایا دمعموګانو په وسیله دانعام حاصل شوې روپۍ حرام دی؟ که حرامي دی نو ولي؟

جواب: معمی دحل لپاره که کوم فیس مقرر شوی وی نو هغه دقمار په وجه حرام ده.

سوال: دخپل ځان دانشورنس کول جائز ده؟ که جائز نه وي نو ولي.

جواب دژوند انشورنس کولو چي کوم صورتونه رائج دی هغه ټول دمذکوره بالاوجه څخه ناجائز دی.

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۶/۲/۱۳۸۸ھ (فتوی نمبر ۱۹۳/۱۹ الف)

الجواب صحیح محمد عاشق الهی.

دانشورنس دمروجه صورتو او دمسجد دانشورنس کولو حکم

سوال: حضرت مولانا مفتی تقی عثمانی صاحب مدظله العالی! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، دنیوزی لینډ څخه دخلیل احمد سلام عرض خدمت دی

یو سوال عرض خدمت دی، لکن وړاندی ددې ځای حالات عرض کول غواړم

دلته په نیوزي لینډ کي تقریبًا شل زره مسلمان هستوګن دی چي دمختلفو ممالکو څخه راغلی دی او زیات یې په تیرو لسو کالو کي راغلی دی چی اکثر یې په دکانو او کارخانو کي کار کوی، څه بیا مهاجر دی چی دعربو او صومالیا څخه راغلی چی بیوزلي هم دی، او دلته په ټول ملک یو اځي پنځه مسجدونه او څو عبادت ګاوي دی، چي دملک په مختلفو ښاروکي دی، او في الحال په آکلینډ ښار کي دوه مسجدونه او یوه مدرسه باندی کار روان دی، او ډیره چنده یې مسلمانو جمع کړې ده، دلته ډالر چلیږي یو ډالر دپاکستانیو په دوویشت باندی چلیږي، دلته قانون دبرتانیې په څیر دی، اوس سوال داده چی دلته خلګو دمسجد انشورنس کړی دی او یو مسجد چی څلور میاشتي وړاندی تیارشو، دې مسجد ته چا په ۶ اګست ۱۹۹۸م په سهار اور ورته کړو او داور لګولو څخه وړاندي یې قیمتي شیان ور څخه غلا کړل تر اوسه مجرم نه دی نیول شوی، اوس په دې حالاتو کي څه کول پکار ده؟ ایا دمسجد انشورنس اخستلی شي یا نه؟

که انشورنس صحیح نه دی نو په دې صورتو کي څه حکم دی ؟ برائی کرم جواب راته راکړه ، چی عندالله مأجور شي.

فقط والسلام محتاج دعا / بنده خلیل احمد آکلینډ نیوزی لینډ ورځ سه شنبه ۱۰ / اګست ۱۹۹۸ء

جواب: مکرم محترم ! السلام ورحمة الله وبرکاته.

ستا خط دفاکس په وسیله راته ورسید دانشورنس ټول مروجه صورتونه دسود یا قمار باندی دمشتمل کیدو په وجه جائز نه دی ، لهذا مسجد ونه باید انشورنس نه شي ، لکن اوس چي تاسی انشورنس کړی دی ، نو دحادثې په صورت کي دکمپنۍ څخه رقم وصول کړی بیا څونه رقم چی تر اوسه دمسجد دطرف څخه ورکړل شوی دی هغه رقم دمسجد په مرمت براه راست لګولی شي. باقي رقم مستحق دزکوة ته صد نه کړی بیا که هغه په خپله خوښه دغه رقم په مسجد کي به طور چنده ورکړي نو هغه هم استعمالولی شي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۳ / ۴ / ۱۴۱۹هـ (فتوی نمبر ۸۷ / ۳۲۴)

دانعاماتو دتقسیم لپاره دهسکي کولو حکم

سوال: عالمګیر ویلفیئر موسسه هغه کوچنیانو ته چی ددوی سره داختري دپوستو په راجمع کولو کي مرسته کړې وه ددوی دحوصله افزائي لپاره يې پر دوی انعامات تقسیم کړی زموږ څخه څه انعام اضافه شو . نو موږ دا اعلان وکړ چی دغه اضافي شیان به پر دغو کچنیانو په هسکه کولو سره تقسیمیږي ، لکن یو صاحب متوجه کړو چی دغه عمل جائز نه دی او دقمار په حکم کی دی ، موږ په اړه لارښونه وکړی.

جواب: که دکوچنیانو څخه ددې انعام په ورکولو کي کوم فیس نه وي اخستل شوی نو بیا قمار نه دی او هسکه کول دتقسیم انعامات لپاره جائز ده (۱)

(۱) وفی رد المحتار کتاب الحظر والاباحة ج۶ ص۴۰۳ لان القمار الذی یزداد تارة وینقص اخری وسمی القمار قماراً لان کل واحد من المقامرین ممن یجوز ان یذهب ماله الی صاحب ویجوز ان یستفید مال صاحبه وهو حرام بالنص ... الخ

وفی المبسوط للامام السرخسي رحمة الله علیه ج۱۵ ص۷ استعمال القرعة فی مثل هذا الموضع جائز عند العلماء اجمع رحمهم الله بهذا الحدیث قلنا اذا تزوج اربع نسوة فله ان یقرع بینهن لابدائه بالقسم لان له ان یبدأ بهن من شاء منهم فیقرع بینهم تطییباً لقلوبهن آه هکذا فی فتح القدیر ج۴ ص۳۸۵ معارف القرآن ج۷ ص۴۷۸.

والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب ۵ / ۱ / ۱۴۱۸هـ (فتوی نمبر ۲۲ / ۲۶۳)

فصل فی احکام البنوک

(دمختلفو بینکو احکام)

دحبیب بینک او دنورو بینکو دنفع او نقصان اکاؤنټ کي دسرمایه کاري حکم

سوال: دحبیب بینک د P.L.S اکاونټ چی دسود څخه پاک په نفع او نقصان سره دشراکت لپاره شروع کړی دی ، په دې اکاونټ کي زما والد صاحب اکاونټ خلاص کړی دی ، ستاسي دمعلوماتو سره سم ایا دبینک دغه شراکت پر شرعي اصولو برابر دی ؟

جواب: دحبیب بینک یا دکوم بل بینک چی په پاکستان کی دنفع او نقصان اکاونټ کي خلګو ته دسرمایه کاري موقع ورکوي هغه پر شرعي اصولو برابر نه دی ولي چی هغه ددغو روپو استعمال په سودی کارو کي مستعملوي ، اګرچي په نامه يې بدل وي ، لهذا ددې اکاونټ څخه خپلي روپۍ وباسه دهغه نفع استعمالول جائز نه دی (١) تر جواب وړاندي چي نفع حاصل شوې ده هغه بیله دنیت دثواب صدقه کړه.

والسلام ۴ / ۱۱ / ۱۴۱۹ھ (فتوی نمبر ۷ / ۳۵۲)

دفیصل اسلامک بینک طریقه کار او دهغه مختلفو بناخو حکم

سوال: عرض دادی چی دحضرت مفتی صاحب څخه معلومه شوه چی دفیصل اسلامک بینک آف بحرین P.L.S اکاونټ دجواز په درجه کي ، او دعام بینکو P.L.S اکاونټ کي رقم ایښوول او پر هغه باندی منافع حاصلول جائز نه دی ، براه کرم موږ ته

(١) وفی المشکوة ج١ ص۲۴۴ (طبع قدیمی کتب خانه) عن جابر رضي الله عنه لعن رسول الله ﷺ آکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (رواه مسلم)

پوره معلومات راکړه چی دفیصل اسلامک بینک په مذکوره اکاونټ کي روپۍ ایښوول څنګه دی ایا دهغه منافع حاصلول جائز دی که یا ؟

۲: زموږ سره په دفتر ملازمینو یو شخصي اداره په خپله خوښه قائم کړې چي دهغه نوم KEBF ده دغه اداره شرعي وقف ده ، ددې مقصد دملازمینو څخه کوم چي ددغي اداري شریک وي دهغه دانتقال پر وخت لواحقینو ته دفوري کومک چاري تر سره کوي ، کله چی څوک انتقال شي ، نو دهغه دمالي حالت دمعلومولو بغیره هغه ته یوه اندازه روپۍ ورکول کیږي ددې اداري ډیري روپۍ په این آئي ټي کي پرتې وي ، مګر داین آئي ټي په باب دعدم جواز فتوی شائع شوې ده نو دهغه څخه روپۍ موږ راباسو ، اوس سوال داده چی دتیرو کلو نفع چی موږ داین آئي ټي څخه تر لاسه کړې ده دهغه دیرش فیصده تقریبًا ۱۵ زره کیږي ، او دفنډ ټولي جمع شده روپۍ دوه لکه دی ، دمذکوره حقائقو سره سم ایا پر موږ لازم ده چی دتیرو کلو دمنافع ۳۰ فیصده صدقه کړو یا هغه دخاص صورت (چي موږ ته وړاندي ددې دعدم جواز معلومات نه و) دغه رقم فنډ کي وساتل شي ؟

جواب: دفیصل اسلامک بینک چی کوم شاخونه په کراچي کي کار کوی ، دهغه دطریق کار او معاملاتو چي څه قدر تحقیق احقر کړی دی دهغه درویه ددې اداري معاملات دجواز شرعي په حدودو کي دی ، لکن دوه وضاحته ضروري دی ، یو دا چی دغه حکم صرف دکراچي تر شاخو پوري دی ، په بحرین ، سعودی عرب کي چی ددې بینک کوم طریقه کار دی ، په هغه کي بعض امور خلاف شرعي دی ، چی دهغه داصلاح کوشش روان دی ، بله خبره چی دغه حکم دبینک تر موجوده طریق کار پوري دی ، که دبینک په طریق کار کي کومه تبدیلي راشي نو دهغه تبدیلي سره سم به حکم هم بدلیږي (١) لهذا وقتًا فوقتًا دمستند معلوماتو حاصلول پکار دی.

۲: داین آئي ټي منافع کي چی دیرش فیصده منافع په ناجائز طریقه سره حاصل شوی دی ، دهغه اصل حکم خو دادی چی هغه دی هغه خلګو یا اداري ته ورکړل شي ، دکوم چا څخه چي اخستل شی دی ، لکن که هغه معلومول مشکل وی څنګه چی ظاهر ده ،

(١) وروسته بیا ددې بینکو حالات تبدیل شول ، او دهغه سره معامله جائز نه ده .

نو بیا دغه رقم صدقه کول ضروری دی ، ددې فنډ حصه گرزول جائز نه ده ، که هغه ددې اداري دملازمینو فنډ وی او که نه وی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸ / ۱۰ / ۱۴۰۸ هـ (فتوی نمبر ۲۱۳۷ / ۳۹ ز)

داسلامي امارت دقیام وروسته په افغانستان کي داسلامي بینکو لپاره دخلگو څخه دتیرو قرضو وصول کول جائز دی که یا ؟

سوال: ماذا رأی علماء الامة فی المسئلة التالیة ؟ وهی ان البنوک الاسلامیه الافغانیة بعد قیام الامارة الاسلامیة فی افغانستان واجهت مشكلة كبيرة وهی ان البنوک الافغانیة قبل الامارة الاسلامیة فی النظام الربوی لها دیون علی الآخرین وکذا علیها دیون للآخرین ، ولکن قروض البنوک الافغانیة علی الآخرین کثیرة ووفیرة جداً یمکن بها تجهیز المملکة بأسرها التی سقط اقتصادها کل السقوط ، فهل یمکن حصول تلک القروض الربویه لاستحکام الامارة الاسلامیة فی ضوء القرآن والسنة ام لا؟ وهل یجوز اعطاء تلک الدیون الربویه علی البنوک للدائنین أم لا؟

جواب: لا یجوز للبنوک الأفغانیة اخذ الفوائد علی قروضها ولها الحق فی استرداد اصل القرض وکذالک یجوز لها ان تصالح مدیونیها علی اساس المضاربة الشرعیة فتشارکهم فی ارباحهم التی حصلوا علیها من استخدام مبالغ هذه القروض وذلک اقتداء بفعل سیدنا عمر بن الخطاب ؓ حیث جعل قرض ابنه الذی اقترضه من بیت المال قراضًا کما رواه مالک فی الموطا (۱) اما قروضها التی اقترضتها من غیرها فلا یجوز دفع الفائدة علیها الا اذا اضطرت الیه لسبب من الاسباب.

(۱) وفی المؤطا للامام مالک رحمه الله کتاب القراض ص۱۶۹ (طبع نشر جمعیة احیاء التراث اسدی) وفی طبع مکتبه قدیمی کتب خانه ص۶۱۶ و۶۱۷.

والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واحکم ، محمد تقی العثمانی عفا الله عنه
۲۸ / شعبان ۱۴۱۸ هـ (فتوی نمبر ۲۷ / ۲۹۴)

په البنک الأهلي التجاري کي دسرمایه کاري حکم

سوال: دسعودی عرب یو بینک په نامه دالبنک الأهلي التجاري کي والد صاحب اکاونټ خلاص کړی دی ، چی هلته دحصص کار دډالرو په شکل کي کیږي ، ددې سره پراسپکټس هم شته ، چي په هغه کي اصول او قواعد درج دی ، والد صاحب هم حصه په کي رانیولې وه ، ایا په دې بینک کي دحصې راکړه ورکړه جائز ده ؟

جواب: البنک الاهلي التجاري دفنډ چي په پراسپکټس کي کومه طریقه بیان شوې هغه پر مرابحه مبنی ده ، او په شرعی اعتبار سره اصولاً جائز او درست ده ، لکن عملاً دډیر بینکو سره دمعاملې کولو کي شرعًا دشرائطو پوره پابندي نه کیږي او بعض یې پوره لحاظ کوي ، ددې خبرې دمعلومولو لپاره دمعاملات پوره کتني ته ضرورت شته ، چونکه ددغه بینک دعوی دشرعي اصولو مطابق دبیع او شراء ده ، نو دیو عام سړي لپاره په دې بینک کي دسرمایه کاري گنجائش شته ، که ددې پراسپکټس کي دصحیح اصولو داعلان وروسته داداري منتظمین غلطی کوي نو دا دهغو ذمه داري ده ، لکن

عن زید بن اسلم عن ابیه انه قال خرج عبد الله وعبید الله ابنا عمر بن الخطاب فی جیش الی العراق فلما قفلا مرا علی ابی موسی الاشعری وهو امیر البصرة فرحب بهما وسهل ثم قال : لو اقدر لکما علی امر انفعکما به لفعلت ، ثم قال بلی ههنا مال من مال الله ارید ان أبعث به الی امیر المؤمنین فأسلفکما فتبتاعان به متاعاً من متاع العراق ثم تبیعانه بالمدینة فتؤدیان رأس المال الی امیر المؤمنین فیکون لکما الربح ، فقالا : وددنا ففعل وکتب الی عمر بن الخطاب ان یأخذ منهما المال ، فلما قدما باعا فاربحا فلمّا دفعا ذلک الی عمر بن الخطاب قال : أکل الجیش أسلفه مثل ما اسلفکما قال لا ، فقال عمر بن الخطاب : ابنا امیر المؤمنین فأسلفکما ادیا المال وربحه فأما عبدالله فسکت واما عبید الله فقال ما ینبغی لک یا امیر المؤمنین هذا لو نقص المال او هلک لضمناه فقال : ادیاه فسکت عبدالله وراجعه عبیدالله ، فقال رجل من جلساء عمر : یا امیر المؤمنین ! لو جعلته قراضاً فقال عمر ، جعلته قراضاً فأخذ عمر رأس المال ونصف ربحه وأخذ عبدالله وعبید الله نصف ربح المال .

داحتياط تقاضا داده چي تر څو چي کوم عالم دبينک دغه دبيع او شراء معاهده تنقيدي جائزه ونه ګوري تر هغه احتراز کول پکاري دی.

والسلام ۴/ ۱۱/ ۱۴۱۹ ھ (فتوی نمبر ۳۲۵/۷)

دسعودی عرب دوې مالياتي اداري - دار المال الاسلامي - او - الشركة الاسلاميه للاستثمار الخليجی حکم.

سوال: ستا مضمون دغير سودی کاونټر په ماهنامه - البينات - کی دجمادی الاولی ۱۴۰۱ھ کی ولوست زه تاته ددار المال الاسلامی او الشركة الاسلاميه للاستثمار الخليجی داعيانه کاغذات درلېږم دهغو دواړو حلال يا مشکوک په اړه ستا مخلصی رائ راته راوليږه زه ستا جواب ته شديد منتظر يم.

جواب: احقر هغه راليږل شوې کتابچه مطالعه کړه په هغه کی دې خبري واضح نه دي يو دا چی که په کاربار کی نقصان وشي نو پر کوم تناسب به هغه وی؟ بل دا چی دمضاربت کمپنی دغه رقم په څه ډول کاربار کی لګول کيږي او دسود څخه دپاک والي څه انتظام شته؟ تر څو چي ددغه دوو خبرو معلومات نه وي شوی نو تر هغه ددې مسئلې حل ممکن نه دی لهذا ته ددې خبري معلومات وکړه او ددې دوو سوالو جواب راوليږه، نو تر هغه وروسته به جواب درولیږم.

والله تعالی اعلم ۲/ ۱۲/ ۱۴۰۱ ھ (فتوی نمبر ۱۷۹۱/ ۳۲ج)

په دبئی اسلامي بينک او په فيصل اسلامک بينک کي دسرمايه کاري حکم

سوال محترم مفتی صاحب! السلام عليکم، زه دغه خط په ابوظبی کي مقيم دمولانا خليل احمد صاحب په وساطت درته ليکم، ماته څه داسي مسئلې راپيښي دی چي دهغو تعلق دموجوده دور د Economics سره دی په بدقسمتی سره ماته داسي کوم عالم په لاس رانغلو چي هغه دموجوده ماهرن اکانمک آفرز باندی دسترس ولري مولانا خليل صاحب زما نژدې دوست دی او کله چي مي دهغه سره په دې اړه مجلس وکړو نو هغه راته

ستا سره درابطې کولو ووېل، زه دلته دپنځلسو کالو څخه په يوه اداره کي کار کوم، زما دآمدني وسيله يواځي زما تنخواه ده، ددې څخه علاوه نه امارات او نه هم پاکستان څه راکوي، دا زه ددې لپاره درته ليکم چي ته زما دحالاتو په رڼا کي راته جواب راکړې.

دمتحده عرب امارات يو بينک چي په دبئ اسلامي بينک سره شهرت لري، مولانا خليل صاحب دنظر سره سم په دغه بينک سرمايه کاري کول جائز دی، په دې وخت چي يو ممتاز عالم دين دلته تشريف راوړی زما دهغه سره دې اړه خبره وشوه نو هغه راته پريکنده فيصله واوروله چي په اسلامی بينک يا فيصل اسلامی بينک يا په پاکستان کي دکوم اسلامي بينک په نامه ټول غلط دی او دهغه منافع په مکمل طور سره سود دی، ستا څخه غوښتنه کوم چي راته په دې اړه لارښوونه وکړې او په اصلي مسئله مي پوه کړې.

بله خبره داده چي دلته دعدالت شرعيه دغه بينکو کي سرمايه کاري کول جائز بللې دی، ايا دهغو دفيصلې احترام کافی دی او دغلطي په صورت کی هم زه بري الذمه يم؟ او که به زه په دې اړه دنورو علماؤ څخه هم سوال کوم؟ او که دوه عالمان يا مفتيان په يوه مسئله کي دوه ډوله رايه راکړي نو دکوم يوه خبره به زياته معتبره وی؟

ما څه روپۍ په دوبئی اسلامک بينک کي ايښې دی، بلکه په دې بينک کی مي انوسټ کړې دی، ايا دهغه منافع ماته حلال دی او که نه؟

جواب محترم ومکرم جناب ډاکټر ظهور احمد صاحب! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

ستا دسوالو جوابونه په لاندي ډول دی:

احقر ته ددبئی داسلامک بينک په اړه مفصل طريق کار علم نشته، نو احقر دهغه په اړه حتمی خبره نه شي کولی، په دې بينک کي يو شرعي مشاورتي بورډ دی، ته دهغه بورډ دارکانو علماؤ ته رجوع وکړه، په دې شرط چي هغه علماء ستا په فکر قابل اعتماد وی، که بيا هغه په دغه کي دنفع بخش اکاونټ دروپو دجمع کولو مشهوره درکړي نو تاته په ظاهر ګنجائش شته، او څوک چي دبينک دفصيلي کار په اړه معلومات ونه لري، نو دهغه دجائز يا ناجائز ويلو باندي مدار نشته.

ترکومه چې دفيصل اسلامک بينک تعلق دی زه دهغه دشريعه امورو دبورډ رکن يم ، دهغه معاملات ګډ وډ دی ، او تر اوسه هغه دغير شرعی معاملاتو څخه بالکليه پاک نه دی نو زه په خپله دوستانو ته هغه دنفع بخش اکاونټو په اړه دروپو داېښوولو او دنفع دوصولولو مشوره نه ورکوم.

پاته شوه دا مسئله چي تا ته دوه مفتيان مخلف رای پيش کړی نو دکوم يوه خبره تاته معتبر ده ؟ ددې جواب دادی چې کوم مفتی دعلم او تقوی په لحاظ تاته دباور وړوی نو په هغه باندی عمل وکړه.

والله سبحانه اعلم ۲۲ / ۱۱ / ۱۴۱۴ھ

دټيکس اتارټي تعامل داسلامي بينک دتمويل څخه دټيکس داستثناء لپاره کافي ده

سوال: بخدمت جناب مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم ! السلام عليکم ورحمة الله.

اميد دی چې ته او ستا ټول دوستان به په خير او عافيت سره وي ، ستا دشديد مصروفيت دعلم سره سره زحمت درکوم او پر زحمت باندی معذرت خواه يم.

يوه مسئله چي تقريبًا دشپږ کاله څخه يې راقم الحروف او داکثر اسلامي بينکو داصحاب حل وعقد خصوصًا دميزان بينک دسرکرده اصحابو په منځ کي متنازع ده ، هغه دمرابحې معاملې دمحصولات لګول دی ، دهغه ادائيګي يا حکومت په اجازت دهغه عدم اطلاق دی.

په اصلاحی خطبات جلد نمبر ۱۱ کی تا دهغه ټولو حکومتي قوانينو چی شريعت دکوم قانون سره متصادم نه وی ، دپاسداري په اړه اظهار خيال کړی ، دهغه په رڼا کي راقم الحروف په فکر دغه خريد او فروخت معاملات باندی واجب ټول محصولات اطلاق بجنسه مرابحه پر معاملات باندی هم کيږي ، کوم چي په اسلامي بينکو کي رائج دی ، تر څو چي حکومت يا ددې مجاز اداره ، بورډ اسلامي بينکو کي درائج مرابحه څخه مستثنی وبلل شي ، زما رائ په دې بنياد ده:

۱: مرابحه فی الواقع دخريد او فروخت معامله ده ، او دقيمت ادائيګي مؤخروی بينکود تاجر حضرات ته دهغه دين دادا کولو ذريعه ده.

۲: دخريد او فروخت تمام معاملات ، که دبينکو وی هم ، دمحصولاتو دقوانينو سره سمول پکار دی ، کوم چی حکومت پاکستان جوړ کړي دی ، کوم چی دشريعت سره متصادم هم نه دی.

۳: دهغو قوانينو څخه بعض ۱۹۷۹ م او بعض يې په ۱۹۹۰م کي رائج شوی دی ، چي په پاکستان کی کوم بينک (ما سوا دفيصل بينک څخه کوم چی دمرابحې اصلاح کاروي استعمالوي لکن دغه هم دشرعی تقاضاوي نه شي پوره کولی) اسلامي بينکاري نه کوی ، ۱۹۷۹م کی دانکم ټيکس قانون په ۲۰۰۱ م کي نوی شکل غوره کړ ، او اوس په ۲۰۰۱ م کي دقوانينو کي سره دتبديلي بيا هغه قانون مروج دی ، په ۲۰۰۱ م کی هم دشريعت مطلوب معيار کي کوم پاکستان بينک پاسداری نه ده کړې.

۴: ددې قوانينو دزمانه اطلاق په پيش نظر سره دهغه الفاظ په رڼا کي دا خبره بلاخوف ترديد کيږي چی دهغو څخه کوم قانون مقصد اسلامی بينکو لپاره مشکلات يا پيچيدګياني نه پيدا کوي ، يا ديده ودانسته دغه قوانين اسلامی بينکاری څخه دمخ نيوي کوشش دی.

۵: ۲۰۰۰ م دآخر څخه تراوسه بعض افراد دبينک دولت پاکستان Institute ICAP چي کوم کوشش کړی ، دهغه باعث اسلامي بينکو کي رائج مرابحه معاملات بعض محصولات ختم شوی دی ، که تمام اسلامی بينک خصوصًا هغه بينکونه چی اوس ډير مشهور دی ، سره يو شي او کوشش وکړي نو کومه وجه به نوي چي په بقيه قوانينو کي دی هم تبديلي رانشي ، او په دې کي دحکومت کوم مال نقصان هم نشته.

۶: ICAP چي Accounting Standar چي معروف په (IFAS-۱) سره ده وضع کړی دی په دې وجه دمرابحه کولو والا بينکولپاره لازمی ده چی سامان دخريد او فروخت اندراج په کتابو کي وکړي او Invoice وصول کړي ولی چی وروسته دآډټ کولو والا ته اطمينان حاصل شي ، چی مرابحه دهر معامله کوونکی سامان لپاره واقعی (دريم فريق لپاره) دخريد او بيا دبينک دجانب څخه پر فروخت مبنی ده ، که IFAS-I باندی کما حقه

عمل وشي نو ان شاء الله مرابحې په معاملاتو کی به تولي خرابی ختم شي ، خصوصًا
د Rollover جړ به وباسي.

۷: بحیثیت بینکر احقر ته ښه اندازه ده چي د ټیکس قوانین کي تبدیلیاني بغیر د
IFAS-1 باندي دعمل کولو یواځي دا نه چي سخت دی بلکه د محصولاتو دادائیګي په
سبب یا خو اسلامی بینکونه د شرح منافع ناقابل برداشت تر حده متأثر وی ، یا د کستمر
د سودي بینکو په مقابل کی به دزیاتو اخراجاتو سره مخ شي او هغه په موجوده ماحول کي
بعید او زقیاس معلومیږي.

۸: که ستا رایه د مرابحې په اړه د ټیکس قوانین اطلاق نه وی ، نو د سودي بینکو
په بیع عینه (Buy-Back) په معامله کي په دې ډول تر سره کیږي ، یا حکومت پاکستان
د ټیکس قوانینو خلاف ورزي خلاف شرعی نه ده ، نو براه کرم په خپله تحریري رائ سره
مطلع کړه ، تر څو چي موږ مطمئن شو چي دهغو قوانین په ظاهره دخلاف ورزي باوجود
هم دکومي ګناه ارتکاب نه دی ، تر څو د الله په نزد مأخوذ نه شي.

والسلام علیکم ورحمة الله / طالب دعائي خیر انوار احمد مینائي.

جواب: مکرم بنده ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

دهر ټیکس څخه استثناء دصریح عبارت څخه هم کیدلی شي او متواتر عمل هم
دی ، حکومت ا ټیکس اتارتي څخه هم دا خبره مخفی نه ده ، چي مرابحه یو بیع ده ، هغه
په دې هم پوهیږي چي بیع یوه آله د تمویل په ډول مستعملیږي ، او کومه وجه نشته چي پر
سودي تمویل ټیکس نه وی ، او شرعي تمویل باندی ټیکس عائد وي ، نو دهغو متواتر
تعامل دادی چی د اسلامي بینک څخه دسیلز ټیکس مطالبه ونه شي ، لهذا د دې ټیکس
څخه مستثنی کول کم از کم کومه دشواري بنده ته نه ښکاري.

والسلام بنده محمد تقی عثمانی ۱۸ / ۱۲ / ۱۴۲۷هـ

فصل فی البطاقات واحکامها

(د کریډیټ کارډ او دهغه د مختلفو قسمو احکام)

د کریډیټ کارډ حکم

(د بنوري ټاؤن ، جنګ اخبار او د حضرت مفتی صاحب فتوی)

سوال: کریډیټ کارډ سوال ده ، ایا دهغه استعمال جائز دی که نه ؟ زما معلومات
دادي چي د کریډیټ کارډ سالانه دوه زره روپۍ فیس دی کریډیټ کارډ په ملک او دملک
څخه دباندی استعمالیږي که په یو میاشت کي هغه رقم واپس کړل شي نو سود نه اخستل
کیږي ، که یوه میاشت وروسته رقم ورته وکړې نو بیا پر هغه باندی سود اخستل کیږي ،
دا دملک څخه دباندی هم کار کوي ، د رقم وړل د ځان سره ضرورت نشته.

یادونه: د دې سره د دوو جوابو فوټو کاپي هم درلیږم د واړو جوابونه مختلف دی
جناب مفتی جمیل صاحب (جنګ اخبار) چی ستا حواله یې ورکړې ده مهربانی وکړه
د پوره تفصیل څخه مو خبر کړه.

دجنګ اخبار جواب:

جواب: په یوه میاشت کي رقم ادا شي نو جائز دی وروسته سود ورباندی ورکول
جائز نه دی.

دجامعة العلوم الاسلامیه ، بنوری ټاؤن جواب:

په صورت مسؤله کي په دوه زره چی کریډیټ کار رانیول شوی دی ، هغه درسید
حیثیت لري ، في نفسه دهغه کوم حیثیت نشته بلکه دقرضې د حاصلولو اجازت نامه ده ،
چی دهغه په وجه قرضه اخستونکی دیوې میاشتی پوري بغیر د سود ورکولو د قرضې
دروپو څخه استفاده کولی شي ، او دغه سهولت صرف تر یو کال پوري وی ، چی د دې
مطلب دادی چی مذکوره کریډیټ کارډ حاصلوونکی تر یوې میاشتي یو کال چی دی
قرض د دې ادارې څخه حاصلوي دهغه پیشګي د سود مبلغ دوه زره روپۍ ادارې وار لمخه
لا د کریډیټ کارډ فیس په شکل کي وصول کړې دی ، دا د سودي قرضې یو ترقي یافته

شکل دی ، ځنګه چې خلګ نوي نوي شیان ایجاد کوی ، دا ډول دغه هم یو دسود جدید شکل دی ، نو ددې څخه اجتناب کول ضروري دی ، خلګو ته پکار ده چې په دوکه کې رانه شي.

والله اعلم / کتبه محمد عبد القادر ۵/ ۵/ ۱۴۱۷ھ

الجواب صحیح / محمد عبد السلام عفا الله عنه

الجواب صحیح / سعید احمد جلال پوري (دار الافتاء ختم نبوت کراچي

دمفتي صاحب جواب:

جواب: داحقر په نزد دجنګ اخبار جواب درست دی ، سالانه فیس قرض سره تعلق نه لري ، په اصل کې دکارډ جاري کولو اداره ، نور هم ډیر خدمات فراهم کوي ، چې په هغه کې دکارډ اجراء ، ددې حامل ته دمختلفو سفرو سهولیات ، ددنیا په هره خطه کې دکارډ دګمشدګي په صورت کې دنوي کارډ ورکول ، دکارډ حامل دپوره حساب ساتل ، دهغه تمام خدمات په دې دوه زره پوره کال ورکول کیږي ، که څوک په دې کارډ سره خریداري وکړي او که نه ، قرض وصول کړي او که نه ، لهذا ددې فیس په وجه دکارډ شریک جوړیدل ناجائز نه دی ، البته کله چې کارډ استعمال کړي نو دمقرره مدت دپوره کیدلو وړاندی ادائیګي ضروري ده ، ولې چې سود ورباندي رانه شي ، او ددې لپاره بهتر طریقه داده چې دډ کرېډ ډیبټ طریقه اختیار شي ، یعني دکارډ والا براه راست ستا دبینک څخه دبل رقم وصول کړي ، ترڅو چې په غیر ارادي طور باندی هم دتاخیر دوجې سود عائد نه شي. (۱)

(۱) کارډونه دري ډول دی ۱ : ډیبټ کارډ ، ۲ : چارج کارډ ، ۳ : او کریډټ کارډ ، دوواولو حکم هم دادی ، او هغه دوو ته هم کریډټ کارډ ویل کیږي ، په اصل کې کریډټ کارډ ددېدوو کارډو دنه میسر کیدلو په صورت کې دهغه دشرائطو سره جائز دی ، ددې درو کارډو تعارف په لاندي فتوی کې مذکور دی :

سوال : محترم جناب حضرت مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

جناب ګذارش دادی چې دکریډټ کارډ په باره کې تفصیلي حکم راته راکړه ایا دمذکوره کارډ استعمال جائز دی که نه ؟ جزاکم الله خیرا

نن ورځ رائج کارډونه په دې ډول دی :

۱ : ډیبټ کارډ ۲ : چارج کارډ ۳ : کریډټ کارډ .

ډیبټ کارډ :

دغه کارډ هغه چاته چې وړاندي یې اکاونټ جمع وي ورکول کیږي ، چې داستعمال په صورت کې دده اکاونټ څخه ادائیګي کوي ، په دې کې دقرض سهولیت نه وی ، بلکه صرف تر هغه ورخته چې دده په اکاونټ کې روپۍ موجود وي نو ددې کارډ استعمال کولی شي .

اداره ددې کارډ فیس وصول کوي ، ددې کارډ استعمالول بلاشبه جائز دی ، ولې چې په صورت کې قرض نشته ، خپله حامل بطاقه ددې ذمه دار دی چې دغه کارډ په غیر شرعي امور کې استعمال نه کړي .

چارج کارډ :

دغه کارډ هغه چا ته ورکول کیږي چې وړاندي اکاونټ نه لری ، بلکه اداره هغه ته قرض ورکوي ، چې هغه تر یوه معلومه وخته پوري وي ، چې پر خپله وخت به قرض ادا کوي ، که پر وخت پور ادا نکړي نو سود ورباندي اچوي .

اداره ددې کارډ فیس وصول کوي ، ددې کارډ شرائط په لاندي ډول دی :

۱ : حامل بطاقه به قرض دوخت تر پوره کیدلو وړاندی ادا کوي ، او هر وقت دسود دعائد کیدلو کوم امکان باقي نه دی .

۲ : حامل بطاقه ددې ذمه دار دی چې دغه کارډ په غیر شرعي کې کارو کې استعمال نه کړي .

۳ : که ضرورت دډیبټ کارډ څخه پوره شي نو بهتر داده چې کارډ استعمال نه کړي .

کریډټ کارډ :

ددې کارډ دحامل هم اکاونټ نه وی بلکه دغه له سره معاهده دقرضو پر سود باندی کوی ، په دې معاهده کې اګرچې اداره یو متعین مدت ورکوي چې په هغه کې که حامل بطاقه ادائیګي وکړي نو دهغه څخه سود نه وصول کیږي لکن اصلاً معاهده پر سود باندی کیږي ، او دهغه ادائیګي په وعده سره وي ، ددې علاوه دتجدید مدت سهولیت هم ورکوي ، چې دهغه څخه دادائیګي مدت نور هم زیاتیږي ، البته ددې سره سره دسود شرح هم اضافه کیږي ، او بض صورتو کې اضافی رقم وصول کوي .

ددې حکم دادی چې دغه کارډ استعمال جائز نه دی ، الا داچې ډیبټ کارډ یا چارج کارډ مخانته مهیا نه وی او دا ډیبټ کارډ یا چارج کارډ په ډول په مذکوره بالا شرائطو سره استعمالیږي .

دې ټولو کارډو ته کریډټ کارډ ویل کیږي ، لکن په اصل کې کریډټ کارډ استعمال جائز نه دی البته کریډټ کارډ اطلاق پر مذکوره بالا دواړو قسمو باندی هم کیږي .

ددې شخه علاوه دکارډ یو بل قسم هم شته چې هغه ATM کارډ ویل کیږي دا دروپو دراایستلو کارډ دی ، بعض اوقات دغه ته هم مذکور نوم ورکول کیږي ، یا دا چې په ډیبټ کارډ کې هم دغه سهولیت موجود وي .

ددې کارډ حکم دادی چې ددې استعمال کولو باندی متعین رقم مشین داستعمال اجرت اداره وصول کوی چې دمقدار رقم شخه قطع نظر وي نو جائز دی لکن که اداره رقم پر بنیاد شه وصول کوی نو جائز نه دی ، بلکه هغه سود دی ، البته اداره کارډ جاري کولو کې فیس وصول کولی شي .

فی المعاییر الشرعیه :

خصائص بطاقة الحسم الفوري

١ : تصدر هذه البطاقة من المؤسسة لمن له رصيد فى حسابه .

٢ : تخول هذه البطاقة لحاملها السحب او تسديد اثمان السلع والخدمات بقدر رصيد المتاح ، ويتم الحسم منه فوراً ولا تخوله الحصول على ائتمان .

٣ : لا يتحمل العميل رسوماً مقابل استخدامه هذه البطاقة غالباً الا فى حال سحب العميل نقداً او شرائه عملته اخرى عن طريق مؤسسة اخرى غير المؤسسة المصدرة للبطاقة .

٤ : تصدر هذه البطاقة برسم اوبدونه .

خصائص بطاقة الائتمان والحسم الآجل :

١ : هذه بطاقة اداة ائتمان فى حدود سقف معين لفترة محددة وهى اداة وفاء ايضاً .

٢ : تستعمل هذه البطاقة فى تسديد اثمان السلع الخدمات وفى الحصول على النقد .

٣ : لا يتيح نظام هذه البطاقة تسهيلات ائتمانية متجددة لحامله حيث يتعين عليه المادرة بسداد ثمن مشترياته خلال الفترة المحددة عند تسلمه الكشوف المرسلة اليه من المؤسسة .

٤ : اذا تأخر حامل البطاقة فى تسديد ما عليه بعد الفترة المسموح بها يترتب عليه فوائد ربويه اما المؤسسات فلا ترتب فوائد ربويه .

خصائص بطاقة الائتمان المتجدد :

١ : هذه البطاقة اداة ائتمان فى حدود سقف متجدد على فترات يحددها مصدر البطاقة ، وهى اداة وفاء ايضاً .

٢ : يستطيع حاملها تسديد اثمان السلع والخدمات ، والسحب نقداً فى حدود سقف الائتمان الممنوح .

٣ : فى حالة الشراء للسلع او الحصول على الخدمات يمنح حاملها فترة سماح يسدد خلالها المستحق عليه بدون فوائد كما تسمح له بتأجيل السداد خلال فترة محددة مع ترتب فوائد عليه اما فى حالة السحب النقدى فلا يمنح حاملها فترة سماح .

حكم الشرعى لانواع البطاقات

بطاقة الحسم الفوري :

يجوز للمؤسسات اصدار بطاقة الحسم الفورى ما دام حاملها يسحب من رصيده ولا يترتب على التعامل بها فائدة ربوية .

بطاقة الائتمان والحسب الآجل :

يجوز اصدار بطاقة الائتمان والحسم الآجل بالشروط الآتية :

١ : الا يشترط على حامل البطاقة فوائد ربويه فى حال تأخيره عن سداد المبالغ المستحقة عيه .

٢ : ان تشترط المؤسسة على حامل البطاقة عدم التعامل بها فيما حرمه الشريعة وانه يحق للمؤسسة سحب البطاقة فى تلك الحالة .

بطاقة الائتمان المتجدد :

لايجوز للمؤسسات اصدار بطاقات الائتمان ذات الدين المتجدد الذي يسدده حامل البطاقة على اقساط آجلة بفوائد ربوية .

والله اعلم وعلمه اتم عبدالله صديقى غفر الله له ٢٨ / ١ / ١٤٢٧ (فتوى نمبر ٨٦١ / ٥١)

الجواب صحيح / محمد تقى عثمانى

الجواب صحيح / بنده محمود اشرف غفر الله له

الجواب صحيح / بنده عبدالرؤف سكهروى

الجواب صحيح / محمد عبدالله عفى عنه

الجواب صحيح / محمد عبدالمنان عفى عنه

د کریډټ کارډ او دهغه د مختلفو اقسامو حکم.

سوال: الى حضرة الشيخ العلامه مولانا محمد تقى العثمانى حفظه الله تعالى!
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

اسئل الله ان تصلكم رسالتي هذه وانتم فى خير حال وعافية، الحمد لله ان وفقنى لقرائة بعض كتبك بالعربية (قضايا فقهيه معاصرة) ثم اطلعت على بعض كتبك مترجمة بالانجليزية فأردت التنبيه الى ان الترجمة فيها شيئ من الضعف فهى اقرب للغة العوام منها الى اللغة الاكاديمية.

ومما قرأته كذلك ان صح فهمى هو فتواك بجواز التعامل ببطاقات الائتمان (Credit Card) اذا كان المشترى بها يثق انه سيسدد الدين قبل حلول موعد اضافة الفائدة للدين، والسؤال هل يجوز الاقدام على عقد يتضمن شرطا محرما كالربا هنا ولو كان المتعاقد يعلم انه لن يقع تحت طائلة لاشرط؟ ومعلوم ان عقد الحصول على (Credit Card) يتضمن شرطا ربويًا وليس الحكم على عقد بأنه حرام وباطل مانعًا من الاقدام عليه الا لضرورة او لحاجة تنزل منزلتها ولو ترك باب العقود المحرمة مفتوحًا اعتمادًا على ثقة المتعاملين فيها بعدم الوقوع فى الشرط او البند المحرم او الباطل لا نفتح باب شر وفتنة على الناس، والله هو المحافظ، ولو سؤال هل تمت ترجمة كتابكم قضايا فقهية معاصرة الى الانجليزية او بحث بيع الحقوق المجردة فاني احتاج اليه فهل لكم ان تدلونى على ذلك.

وختامًا ارجو المسامحة فى التطويل عليكم واسئل الله دوام العافية وتمام النعمة وثبوت البركة والأجر.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته / محبكم وتلميذكم / محمد على احداش طالب علم على الفقه المالكى، لندن ۹ ربيع الاول ۱۴۲۴ھ ۱۰ مايو ۲۰۰۳م

جواب: الى سيادة الأخ الكريم محمد على احداش، حفظه الله تعالى السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد!

فشكرًا لك على رسالتك والتنبيه على ان بعض كتبي المترجمة بالانجليزية يوجد فيها بعض الضعف ولعل تفصيل مواضع الضعف يصعب عليك ولكن لو اخبرتني ما هى الكتب التى وجدت فيها ذلك، فانى اخبربه نشرة هذا الكتب، فان كثيرًا منهم تناولو ترجمة ما شاءوا من مؤلفاتى وفوضوا ذلك الى مترجمين ثم لم تقع منى مراجعة ذلك لازدحام اشغالى.

اما بالنسبة لما ذكرت من جواز استخدام بطاقة الائتمان، فالذى أفتى به ان الطريق الافضل ان تستخدم هذه البطاقة على اساس التسديد المباشر (Direct Debit) بأن تستخدم البطاقة فى حدود الغطاء الموجود عند البنك مصدر البطاقة حتى لا يكون هناك احتمال وجوب دفع الفائدة اما اذا لم يتيسر ذلك، فيجوز استخدام بطاقة الائتمان، ان كان حاملها على يقين انه سيسدد الفاتورة قبل ان توضع عليها فائدة (۱)

اما كون العقد مشتملاً على شرط لزوم الفائدة عند التأخير فى السداد فان مثل هذه الشروط موجوده اليوم فى كثير من التعاقدات مثل عقود استخدام الكهرباء والتليفون، والجوال والضرائب الحكومية وما الى ذلك فلا يمكن اليوم استخدام الكهرباء الا بالتوقيع على العقد الذى يشترط فوائد التأخير. ولكن بما ان هذه شروط غير معتبرة فى الشرع فما دام الانسان مطمئنًا بأنها لا تطبق عمليًا وذلك بالتزام السداد فى حينه، فانه يمكن ان يتسامح فيها لعموم البلوى، وقد يستأنس فى ذلك، (ولا اقول: يستدل) بحديث شراء عائشة ام المؤمنين لبريرة ﵂ بعقد فيه شرط لان يكون الولاء للبائع واجاز رسول الله ﷺ اشتراط ذلك (۲) مع كونه شرطًا ممنوعًا فى الشرع لكونه على يقين بأنه لا يطبق، والله سبحانه تعالى اعلم.

وأرجو ان لا تنسونى فى ادعيتكم الصالحة، والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته
اخوكم / محمد تقى العثمانى كراتشى ۲۹ / ۳ / ۱۴۲۴ھ

---

(۱) دتفصیل لپاره سابقه فتاوی وګورئ.

(۲) جامع الترمذى ابواب الولاء والهبة ج۲ ص۳۳ (طبع سعيد)

كتاب الاجارة

(كرايه داری سره اړوند مسائل)

فصل فی نفس الاجارة

(اجاره ، كرايه داری ، اړوند مسائل)

دپټواري پيشه او نظام شرعي حيثيت

سوال: زموږ په علاقه کي دبزدار بلوچ قوم څو زره خلک هستوګن دی چی هلته دانګريزانو دوخت څخه تر اوسه دفتواري انتظام نشته دغه علاقه چی بارانی ده زيات حاصلات نه کوی ، داسلحې هر ډول ازادی ده ، او پر مځکه دخلګو دتنازعاتو په وجه دخلګو زياتي ويني تويږي ، نو حکومت پاکستان اوس دافيصله کړې ده ، چي هلته دفتواريانو انتظام وکړي ، لکن قوم اجتماعي مشوره سره دا طی کړه او ځينو خولا پر قرآن شريف لاس ايښی چی دغه فيصله به نه منع کوي ، او بعض علماؤ دا فتوی ورکړې چی دغه مدافعت جهاد او مقتول شهيد دی ، ددې قوم څه نوري مطالبې هم شته ، او دحکومت ذمه داران لکه کمشنر صاحب قوم ته يقين ورکوي ، چی موږ به ستاسي مطالبې دحکومت څخه پوره کوو ، لکن قوم وربانديې باور نه کوي ، نو قوم مسلح دی او جنګ ته تيار دی ، ځيني وختونه خو لا له وړاندی جنګونه تر سره شوی حکومت هم مقابلې ته تيار دی ، اوس قابل دريافت سوالونه په لاندې ډول دی:

۱: دفتواري نظام په دين کي جائز دی که نه ؟ ۲: په دې تصادم کی چی خلک مري ددې دواړو فريقينو ايا هغه شهيدان دی ، او کوم فريق ناحق دی ؟ ۳: پر قرآن چي يې لاس ايښی دی دهغه څه حيثيت دی ؟ پر هغه باندی وفا کول يا ماتول پکار دی ؟ ۴: عوام په دې فکر کي دی چي فتواري په رشوت وغيره سره ناجائز کاروائياني کوي ، لهذا هغه موږ په دې علاقه کي نه پريږدو ، دا څه حيثيت لری ؟ حکومت دغه خلق دباغيانو په نامه قتل کولی شي ؟

جواب: دفتهواري نظام في نفسه جائز دی، البته رشوت وغیره ناجائز ذرائع استعمال کول حرام دی (۱) لهذا په دې علاقه کي دفتواری نظام نافذ کولو کي حرج نشته، حکومت چي دغه نظام نافذول غواړی نو په دې جائز اقدام کي یې اطاعت کول ضروری دی (۲) او دحکومت خلاف جنگ کول جائز نه دی، څوک چي په دې جنگ کي دحکومت خلاف مري هغه شهیدان نه دی، لهذا ضروري ده چي خلگو چي ددې نظام خلاف معاهده کړې ده دهغه پابندي کول پکار نه ده، او که هغو پر قران لاس ایښی دی نو دهغه دی کفاره ادا کړي (۳) او ددې کار څخه ځان راوباسي، که فتهواري قتل کړي نو دقتل دنفس گناه کبیره یې تر سره کړه، چي دهغه لپاره دقرآن په تصریح سره سزا جهنم ته تلل دی (۴)

فقط والله اعلم / احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۲۰ / ۱۲ / ۱۳۷۸ هـ (فتوی نمبر ۱۴۲۲ / ۱۸ الف)

---

(۱) وفی سنن الترمذی ج۳ ص۶۲۴ (طبع دار احیاء التراث العربی، بیروت وفی طبع مکتبه رحمانیه ج۱ ص۳۸۰) لعن رسول الله ﷺ الراشی والمرتشی، وابی داؤد ج۳ ص۳۰۰ (طبع دار الفکر وفی طبع مکتبه رحمانیه ج۲ ص۶۰) وسنن ابن ماجه ج۲ ص۷۷۵ (طبع دار الفکر، بیروت وفی طبع مکتبه قدیمی ج۱ ص۱۶۷) وفی مجمع الزوائد ج۴ ص۱۹۹ (طبع دار الریان للتراث قاهره، دار الکتاب العربی، بیروت وفی طبع مکتبه دار الفکر ص۳۵۹) الراشی والمرتشي فی النار.

(۲) وفی الدر المختار ج۲ ص۱۷۲ تجب طاعة الامام فیما لیس بمعصیة.
وراجع للدلائل والتفصیل الی الدر المختار مطلب فی وجوب طاعة الامام ج۴ ص۲۶۴ (طبع سعید).
ددې سره امداد الفتاوی سوال نمبر ۳۹۳ ج۳ ص۴۰۲ (طبع مکتبه دار العلوم کراچي) وگوری.

(۳) وفی تنویر الابصار ج۳ ص۷۲۸ (طبع سعید) ومن حلف علی معصیة کعدم الکلام مع ابویه او قتل فلان الیوم وجب الحنث والتکفیر ... الخ.
وفی سنن النسائي باب من حلف علی یمین فرأی غیرها خیراً ج۲ ص۱۴۳ (طبع مکتبه الحسن) عن ابی موسی عن النبی ﷺ قال ما علی الارض یمین احلف علیها فأری غیرها خیراً منه الا آتیه.
وفی کتاب الاصل (المبسوط للشیباني) کتاب الایمان ج۳ ص۱۹۰ قد بلغنا عن النبي ﷺ انه قال: من حلف علی یمین فرأی غیرها خیراً منه فلیأت الذی هو خیر ولیکفر عنه یمینه.

(۴) وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (سورة النساء آیة ۹۳)

ایا دسودی معاملاتو دکولو پر بنا دحکومت هر ملازمت ناجائز دی؟

سوال: زما یو دوست دی وایي چي نن صبا حکومت غیر شرعی سودي کار بار کوي، او دسود دروپو څخه موږ ته تنخواوي راکوي، لهذا دغه تنخوا هم حرام دی، ایا شرعًا دا خبره صحیح ده؟

جواب: ستا ددوست دا خبره علی الاطلاق صحیح نه دی، دحکومت هر ملازمت ناجائز نه دی او نه دهر ملازمت تنخواه حرامه ده، په کوم ملازمت کي چي غیر شرعي کار نه وی تر سره شوی یا براه راست دحرام آمدني څخه دهغه تنخوا نه وي، هغه جائز دی دهغه تنخوا حلال ده.

والله اعلم ۱/۶/ ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۵۸ / ۲۸ الف)

داغاخانیانو دعقائدو لرونکو ته ددکان په کرایه ورکولو حکم

سوال: دعلماء کرامو په لاندي مسئله څه حکم ورکوي: یو شخص چي ځان علم دین ته منسوب کوی، په گلگت کي یې یو تعمیر دکرایې لپاره جوړ کړی دی، چي دهوټل قابل هم دی داغاخانیانو فاؤنډیشن اداره غواړي چي هغه په کرایه سره واخلی او ددفتر کار ورڅخه واخلي ایا دغه اداري دغه عمارت په کرایه ورکول جائز دی؟ بینوا وتوجروا.

یادونه: دآغاخان فاؤنډیشن والا اداره تقریبا دپنځو کالو راسي دلته قائم ده، دغه اداره رفاهي کارونه کوي، اسکولونه او دهسپتالو وغیره کارونه کوي، حتی چي په غروکي دسنگین مریضانو دضرورت پر وخت هیلي کاپټر په وسیله هسپتال ته راوړي، ورنه عام مریضانو ته دموټرانو بندوبست کوي.

ددې څخه علاوه نور رفاهي کارونه هم کوي مثلاً کله چي دلارو یا دنهر یا ټینکی وغیر دجوړولو ضرورت پیش سي نو هم دغه اداره یې دخپلو اصولو او ضوابط مطابق تر

سره کوي په دې اداره کي دملازمينو تعلق دخاص مذهب سره نه دی بلکه دقابليت پر بناء هغو ته کارونه سپارل شوی دی ، او ددې ادارې لپاره اقتصادي منافعو پروګرام هم چليږي مثلا دعسلو انتاج دګلګت دميوو دجديد ترين انداز سره پيک کيږي او هغه دپاکستان په غټو ښارو کي پلورل کيږي ، دادارې وينا ده چی دغه يو عالمي فنډ دی چی دغريبو علاقو لپاره برابريږي چي په هغو کي اسلامي هيوادونه هم ونډه لری ، داغاخان حيثت ديو مشر دی ، دباوثوق ذرائعو څخه معلومه شوې ده ، چي نواز شريف په تيره دوره کي دګلګت لپاره دپنځوس ملينو مرسته کړې وه چي ددې ادارې په وسيله هلته مصرف شوه ، حکومت دغه مرسته دکمشنر په وسيله هم مصرف کولای شوای ، مګر دحکومت پر دغه اداره باندی داعتماد دوجی ددې ادارې په وسيله مصرف کړه.

دزياتو معلوماتو لپاره عرض دادی چی داريل دخالص سنيانو علاقه ده ، چي په دې علاقه کي دآغاخانيانو او شيګانو نوم نشته ، ددې علاقې علماء ددې ادارې مخالفت کوي کله چي هغو ته دا معلومه شوه چی دغه يو عالمي فنډ دی ، اغا خان يې دجيب څخه نه ورکوي ، او داريل خلک دخپلي علاقې لپاره مخصوص رقم نه وړي دغه رقم دآغاخانيانو په علاقه کي خرچ کوي ، کله چی دوی ته دغه معلومات وشول نو يوه کميټۍ يې مقرر کړه ، چي دکال دشروع څخه دداريل په ترقياتي کارو کي رقم يې مصرف کوي ، (چي دفاؤنډيشن دطرف څخه مخصوص دی) دروپۍ روپۍ حساب کوي او په خپله نګراني کي يې په علاقه کي مصرف کوي او بيا دغه ادارې ته حساب ورکوي ، کوم رقم چي هغه ورته ورکوي.

دلس پنځلس کالو څخه دغه ادارې چي کوم عمارت په کرايه سره نيولی دی هغه يې ډير صاف سنره ساتلی دی نو ډير خلک غواړي چي دوی ځای په کرايه ورکوي ، دمذکوره عمارت مالک دې ادارې دځای ورکولو تمنا خو نه کوي البته دهغه ځيني رشته داران اصرار کوي او هلته ځينی علماء دجواز قائل دی ، په دې وجه مالک مکان دجواز يا عدم جواز دفتوی منتظر دی ، ترڅو چي په ورکولو يا نه ورکولو کي فيصله وشي. وصلی الله علی سيدنا محمد وآله وصحبه وسلم

از طرف عبدالقيوم حال مکه مکرمه.

جواب: اګرچی غير مسلم ته دعمارت ورکول دجائز مقصد لپاره په کرايه ورکول فی نفسه جائز ده (۱) بالخصوص کله چی درفاهي کارو لپاره وی ، لکن لاندي خبري په ذهن کي ساتل ضروري دی :

۱: هغه غير مسلم چي خپل ځان دغير مسلم داعتراف بغير ځان مسلمان ظاهره وی ، دهغه سره معامله دبل غير مسلم په اندازه زياده شديده ده ، دهغه سره دمستقل نوعيت تعلقات قائم کول صحيح نه دی.

۲: که غير مسلم عمارت درفاهي کار لپاره استعمال کړي ، لکن دهغه سره يې دخپلو عقائدو خپرول مقصود وي ، ترڅو ضرورت مند مسلمان دخپل ضرورت دپوره کيدلو سره دغير مسلم مذهب ته مائل شي ، نو داسي غير مسلم ته په کرايه عمارت ورکول جائز نه دی ، بالخصوص چی تاته ځان مسلمان ښکاره کړي او دا کار کوي ولي چي دده خطره نوره هم زياته شي ولي چي دده عقيد مسلمان دناواقفيت دوجي داسلام حصه بولي.

۳: آغاخاني فرقه باتفاق المسلمين ددائره اسلام څخه خارج ده (۲) مګرهغه تاته ځان مسلمان ښکاره کوي ، لهذا دهغه سره معامله دغيرمسلم څخه زياته سخته ده ، څوک چي په ښکاره تاته ځان غير مسلم ښکاره کوي.

---

(۱) وفي الهنديه کتاب الاجارة ج۴ ص۴۵۰ (طبع ماجديه) واذا استأجر الذمی من المسلم داراً يسکنها فلا بأس بذلک ، ان شرب فيها الخمر او عبد فيها الصليب او أدخل فيها الخنازير ولم يلحق المسلم فی ذلک بأس لان المسلم لا يؤاجرها لذلک انما آجرها للسکنی ، کذا فی المحيط.
قال العلامة سراج الدين رحمة الله عليه آجر بيتًا ليتخذ فيه بيت نار او بيعة او کنيسة او يباع فيه الخمر لا بأس به عند ابي حنيفة خلافًا لهما (فتاوی سراجيه علی هامش قاضی خان ، کتاب الاجارة ج۴ ص۲۴۱).
ومثله فی اخلاصة الفتاوی کتاب الاجارات ج۳ ص۱۴۹.
وفی الهندية ج۴ ص۴۴۹ (طبع ماجديه) اذا استأجر الذمي من المسلم بيتًا ليبيع فيه الخمر جاز عند ابي حنيفة خلافًا لهما.
وفيها أيضًا ج۴ ص۴۵۰ لو استأجر الذمي مسلمًا ليبنی له بيعة او کنيسة جاز.
(۲) دتفصيل لپاره دامداد الفتاوی ۶ ص۱۰۴ تا ۱۰۶ ملاحظه کړی.

ددې درو خبرو په نظر کې نیولو سره ، دآغاخان فاؤنډیشن که آغاخانیانو قائم کړې وی ، او هغه دغه اداره چلوي ، که دملازم په ډول کار کوي ، او دغه اداره په دې ډول مسلمانان ګمراه کوي ځنګه چې هلته دمعتمد علماؤ څخه معلومه شوې ده ، نو هغو ته عمارت په کرایه ورکول جائز نه دی.

والله تعالی اعلم بالصواب محمد تقی عثمانی ۲۴ / ۱ / ۱۴۱۸ هـ (فتوی نمبر ۴۲ / ۲۶۵)

په محکمه پولیس او دشرابو په کمپنۍ کې دملازمت کولو حکم.

سوال: یو سړی چې مخکې په پولیسو کې ملازم ؤ او اوس دشرابو په کمپنۍ کې ملازم دی ایا دهغه روزي حلاله ده ؟ او دده پر اهل او عیال څه واجب دی؟

جواب: رشوت او بل نا جائز څخه دآمدني څخه اجتناب کول پکار ده ، نو په پولیسو کې ملازمت جائز دی البته دشرابو په کارخانه کې یا دشرابو پلورلو ملازمت حرام دی (۱) او آمدني یې هم حرام ده (۲) دداسې شخص و اهل عیال ته پکار ده چې هغه پر جائز آمدني اختیارولو باندې مجبور کړي.

---

(۱) قال العلامه طاهر بن عبدالرشید البخاری رحمة الله علیه ولا یجوز الاستیجار علی شیئ من الغناء والنوح والمزامیر (خلاصة الفتاوی ج ۳ ص ۱۱۶ کتاب الاجارات)
قال العلامة المرغیناني رحمة الله علیه ولا یجوز الاستیجار علی الغناء والنوح وکذا سائر الملاهی لانه استیجار علی المعصیة والمعصیة لا تستحق بالعقد (الهدایه ج ۳ ص ۳۰۶ (طبع مکتبه رحمانیة) باب الاجارة الفاسدة) ومثله فی رد المحتار (ج ۶ ص ۵۵ باب الاجارة الفاسدة)

(۲) وفی الهندیة ج ۴ ص ۴۱۱ ومنها ای من شرائط صحة الاجارة ان یکون مقدور الاستیفاء حقیقة او شرعًا فلا یجوز استئجار الآبق ولا الاستئجار علی المعاصی لآنه استئجار علی منفعة غیر مقدور الاستیفاء شرعًا.
وفیها ایضًا ج ۴ ص ۴۴۹ لا تجوز الاجارة علی شیئ من الغناء والنوح والمزامیر والطبل ... الخ وکذا فی البدائع ج ۴ ص ۸۹.

والله اعلم ۱۹ / ۲ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۲۲۵ / ۲۸ ب)

۱: مدرسین دایام تعطیلاتو دتنخوا حق دار دی که یا ؟
۲: مدرسین په خارجي اوقاتو کې دبل کار څخه منع کول
۳: دوړاندې اطلاع نه ورکولو په صورت کې دمدرس دیوې میاشتې تنخوا ګرزولو حکم

(وضاحت از مرتب) مذکوره درې مسائل په اړه دحضرت مولانا مفتي عبدالشکور ترمذی صاحب رحمة الله علیه څخه استفتاء شوې وه چې هغه بیا دحضرت مفتي صاحب درائي معلومولو لپاره رالیږلې وه ، ددې په جواب کې اولا حضرت مفتي محمود اشرف عثمانی صاحب مفصل فتوی لیکلې ده ، او دار الافتاء دار العلوم کراچي کې حضرت مولانا مفتی عبدالرؤف سکهروی صاحب او حضرت مولانا مفتي عبدالمنان صاحب خپل رایه تحریر کړې ، چې دهغه وروسته بیا تمام تحریرات استاذ محترم شیخ الاسلام مفتی محمد تقی عثمانی صاحب ته راغلی ، چې پر هغه باندې آخر حضرت مفتي صاحب خپله فتوی لیکلې ده ، دغه تمام تحریرات او په آخر کې دحضرت مفتي صاحب فتوی وړاندې کیږي (محمد زبیر حق نواز)

استفتاء ورائي ګرامي از حضرت مولانا مفتي عبدالشکور ترمذی رحمة الله علیه

سوال: عزیز محترم مولانا محمد تقی عثمانی سلمهم الله وعافاهم ! السلام علیکم ورحمة الله.

امید دی چې ته او ستا متعلقین به په خیر سره وی.

جامعه خیر المدارس په مجلس شوری کی دماه رمضان المبارک دمدرس دتنخوا ذکر وشو ، په فتاوی خلیلیه کی دڅو اکابرینو جوابات موجود دی ، پر هغو تړلو باندی حضرت مولانا خلیل احمد صاحب قدس سره محاکمه په لاندې ډول ده:

زما رایه داده چې دمدرسینو معامله دمدرسې سره دعقد اجارې ده ، او مدرسین اجیر خاص بلل کیږي ، ولی چې دوقت پابند دی ، دتعطیل زمانه هم دملازمت زمانه ده

چې دهغه عقد اجاره باقي ده ، عقد قطع شوی نه دی ، مگر دتنخوا سره يو شرط لګيدلی دی ، چې درمضان المبارک تنخوا هغه وقت مدرس مستحق دی ، چې په ابتداء شوال کي به حاضر وی ، شرعًا شرط دخلاف مقتضائي عقد اجاره لپاره مفسد دی ، لهذا عقد اجاره فاسد شو ، او دفساد عقد په صورت کی اجير مستحق داجر مسمی نه بلل کيږي بلکه داجر مثل بلل کيږي ، لهذا په صورت موجوده هغه مدرس دتنخوا مستحق نه بلل کيږي ، بلکه داجر مثل مستحق دی ، او که دغه شرط فی العقد نه وبلل شی ، بلکه خارج دعقد څخه وبلل شي ، يا شرط معروف وبلل شي ، نو په دې ټولو صورتو کي بيا مدرس دواقعه متنازع فيه دپوره تنخوا مستحق دی ، او احتمالات او اختلاف حکم يواځي په رمضان المبارک کي دی او ايام شوال کي کله مدرس خپل مأموريت ته دوام ورکړي نو دتنخوا مستحق دی. فقط خليل احمد عفی عنه ۱۰/۱/۱۳۳۸ھ (فتاوی خليليه ج۱ص ۲۴۸)

پر دې باندی ته غور وکړه بيا چې دې کومه رايه وي په هغه باندی مونږ خبره کړه.

زما په فکر کي دا راځي چې په ابتداء دشوال کي دراتلو شرط چې له سره حذف شي ، او په هر صورت بايد مدرس دتنخوا مستحق وبلل شي ، ولې چې دغه عقد اجاره قائم دی ، دغه شرط لګول او بيا عقد اجاره فاسد کول دڅه لپاره دی ؟

۲: مدرسين اجير خاص دی ، ولې چې دوقت پابند دی ، ددې څخه معلوم شوه ، چې دوقت اجاره وروسته اجير نه دی ، هغه دنورو کارو څخه نه رامنع کيږي ، داجير خاص معنی دا نه ده چې هغه به ۲۴ گانټې ملازم وی او دکار منصبي څخه علاوه دټولو امورو څخه منع دی.

نو مدرس دنورو کارو څخه رامنع کول دعقد خلاف کار دی ، پاته شوه دا چې بل ځای منصبي کار کي فرق راځي نو دهغه تدارک که نه کيږي نو عقد اجاره فسخ کول دمهتمم اختيار دی. فقط والله اعلم.

چونکه ستا څخه وقت نه وی نو مختصر محاکمه درته نقل کوم ، ورنه دا ټول بحث قابل ملاحظه دی.

نور ددعاؤ محتاج يم دزړه دناروغی په وجه کار نه شم کولی ، تاته او دټول فاميل دعا گويم. والسلام ، سيد عبدالشکور ترمذی عفی عنه.

اضافه: يوه مياشت وړاندی داطلاع نه ورکولو په صورت کی مدرس څخه دیوې مياشتي تنخوا وړل هم راته په فکر کي نه راځي ، کله چې مدرس کار کړی وی ، نو داجرأت مستحق دی ، اوس دهغه پر ذمه بيرته ادا کولو ذمه دڅه په خاطر ؟ داډول مدرسې ديوې مياشتی دمزيد تنخوا ورکولو باندي ولی مکلف ده ؟ کله چې هغه پدې مياشت کي کار نه دی کړی نو اجرأت پر څه ؟ داجارې پر اصولو غور کول مطلوب دی.

سيد عبدالشکور ترمذی عفی عنه ۵/۵/۱۹۹۷م.

(جواب از حضرت مولانا مفتی محمود اشرف صاحب)

بعد الحمد والصلوة

احقر دحضرت مفتی عبدالشکور ترمذی صاحب تحرير ولوست ، داکابر په وړاندي به دنا اهل اصاغرو درائي څه وقعت وی ، مگر امتثالاً للامر عرض دادی چې داحقر ناچيز په فکر دابتدائي شوال دراتلو شرط دماه رمضان (ايام بطالت واستراحت) دتنخوا سره شرط کول اوس مفسد عقد نه دی ولی چې دغه شرط کالمعروف دی ، او په خپله شيخ المحدثين حضرت سهارن پوري قدس سره په فتاوی خليليه کی په خپله محاکمه کي ددې امر تصريح کړې ده:

چې يا خو دی هغه شرط معروف وبلل شي نو په دې ټولو صورتو کی دمدرس واقعه متنازع فيه کي دپوره تنخواه مستحق دی (فتاوی خليليه ج۱ ص ۲۴۸)

ددې شرط معروف کيدل په څو وجو سره واضح دی چې په لاندي ډول دی:

الف: په مدارس دينيه کی ددې شرط معروف کيدل دبيان محتاج نه دی تقريبًا په ټولو مدارسو کي داډول عمل دی.

ب: دغه شرط معروف عند الفقهاء هم دی ولی چې ايام بطالت دتنخوا څخه استحقاق شته چې دغه وخت داستراحت دی وروسته بيا په زيات نشاط سره کار کولی شي ، که دايام بطالت څخه وروسته بلکل دکار کولو اراده ونلری نو دايام بطالت دتنخوا استحقاق به څنګه وی ؟

ج: دغه شرط دمال وقف دحفاظت او هغه په صحيح مصرف باندی درسولو عين مطابق دی ، ولی چې په مدارسو کی زکاة ، عطيات رقم دمعطينو يا طلباؤ امانت دی په

دي امانت کي د احتياط تقاضا داده چې دغه رقم چاته بې له عمل او بې له عوض ورنه کړل
شي ، لهذا یا عمل موجود وي څنګه چې ايام د عمل دي يا مظنون وي څنګه چې ايام
بطالت واستراحت دي ، ورنه د اجرأت ورکول محل د نظر دي.

که مورږ دا وو ايو چې د ايام بطالت تنخوا د ماضي د عمل په وجه ده نو پر دې باندې
دا شبه واريدېږي چې د ماضي پر خدمت باندې د ايام بطالت د اجرأت ورکول چې هغه
د مستقبل لپاره د کار کولو اراده هم نه لري د عطيې او هبې سره زياته اشبه ده ، او مهتمم
يا صدر ته د دا ډول عطيه ورکولو اجازت محل د شبهې ضرور دي.

د : د لته دا خبره هم قابل د توجه ده : چې که د سوال د راتلو شرط مفسد عقد و بلل
شي او د مهتمم لپاره دغه شرط لګول ناجائز و بلل شي ، نو ايا د مدرس لپاره د ايام بطالت
کې د عدم عمل شرط لګول مفسد نه دي ؟ او اجرت د استحقاق لپاره اجير خاص کې عمل
يا تسليم نفس ضروري دي ، او په مدارسو کې دا عرف دي چې مدرس په ايام بطالت کې
نه عمل کوي او نه تسليم د نفس باندې راضي وي ، بلکه په بعض مدارسو کې که هغه
مجبور کړل شي او په ايام بطالت کې پر کار کولو مأمور شي نو اضافي تنخواه ورکول
کيږي ورنه د انعام په نام د هغه دلجوئي کيږي ، ګويا په معاهده کې اوس تحريري يا عرفي
عمل مشروط دي چې ملازم به ايام بطالت کې نه عمل کوي او نه به تسليم د نفس کوي ، او
د هغه باوجود دغه عقد فاسد نه بلل کيږي.

لهذا که مدرسين د طرف څخه د ايام بطالت کې د عدم عمل او د عدم تسليم نفس
شرط مفسد عقد نه دي ، (حالانکه اجرت بطالت د وقف څخه ورکول کيږي) ولې چې اوس
دغه شرط معروف دي ، نو مهتمم د طرف څخه آئنده کال د کار کولو لپاره بنياد پر رمضان
د تنخوا ورکولو سره شرط مفسد عقد نه دي. والله سبحانه اعلم

۲ : په دې سلسله کې د احقر رايه دا هم ده چې مدرس اوقات کار څخه وروسته
پابند کول شرط فاسد دي ، دا ډول اوقات کار د شپږو يا اتو ګنټو پر ځای څلورويشت
ګنټې مقرر کول چې ملازم مسلسل شپه او ورځ پابند کړی هم شرط فاسد دي ، په دې کې
ډېر نور قباحتونه دي.

الف : د ملازم او غلام په منځ يو اخې دا فرق دی او د پابندي دغه شرط اشبه
بالاجاره هم نه دی ، البته که دغه اجاره نه وي بلکه نفقه وي نو شايد په دې کې څه
ګنجائش وي ، ولی زوجه که هر وقت د اطاعت څخه انکار ونه کړي او امير المؤمنين
د مصالح المؤمنين څخه اغماض ونه کړي ، مګر في الوقت مدارس کې اجاره بلکه
د اجارې محضې صورت رائج دی.

ب : دغه هغه شرط دی چې پر هغه عمل کول مشکل بلکه تقريبًا نا ممکن دی ،
لهذا دغه شرط تسليم کول ګناه ده په ګناه کې مبتلا کول دي.

ج : دغه د سلف صالحينو د تعامل خلاف ده د دار العلوم ديوبند ، مظاهر العلوم
سهارن پور او تهانه بهون کې د دغه خلاف تعامل ؤ ، او مدرسين فارغ اوقات خپل جمله
مشاغل حتی په کارباري مصروفياتو کې صرف کوي ، د اکابرو واقعات پر دې باندې
شاهدي دي ، بلکه دغه مصروفيات د اسلامي معاشرې لپاره د علماؤ شموليت د برکت
حامل وي.

د : دغه شرط بظاهر مفسد اجاره هم دی ، ولی چې د مقتضائي وقت د عقد اجاره
خلاف دی ، او غير معروف هم دی بلکه دغه غير معمول هم دی ، البته چونکه دغه شرط
باندې عمل کول ناممکن يا د مشکل سره مخ دی ، نو دغه شرط فاسد و بلل شي ، او اجاره
صحيح و بلل شي نو دا هم بعيده نه ده.

ه : علامه شامي رحمه الله د عباراتو څخه هم معلوميږي ، چې مدرس ته د اجاره
د اوقاتو وروسته د طلب معاش اجازت دی ، ولی چې د وی ته د مدرسې له طرفه کومه
وظيفه او نفقه مقرر ده ، د طلب معاش لپاره سفر کولو اجازت دی ، او دغه عذر شرعي
بلل کيږي ، او د دغه سفر پر بناء د وظيفې ساقط نه کولو حکم کړی دی ، د علامه شامي
عبارت دا ډول دی :

(قوله ونظم ابن شحنه الغيبة) اقول حاصل مافي شرحه تبعًا للبزازية انه اذا غاب
عن المدرسة فاما ان يخرج من المصر اولا فان خرج مسيرة سفر ثم رجع ليس له طلب
مامضى من معلومه بل يسقط وكذا لو سافر لحج ونحوه وان لم يخرج لسفر بأن خرج الى
الرستاق فان اقام خسمة عشر يومًا فأكثر فان بلا عذر كالخروج للتنزه فكذلك وان لعذر

کطلب المعاش فهو عفو الا ان تزید غیبته علی ثلاثة اشهر فلغیره اخذ حجرته ووظیفته ان معلومه ، وان لم یخرج من المصر فان اشتغل بکتابة علم شرعی فهو عفو والا جاز عزله ایضًا واختلف فیما اذا خرج للرستاق وأقام دون خمسة عشر یومًا لغیر عذر فقیل یسقط وقیل لا هذا حاصل ما ذکره ابن الشحنه فی شرحه.

ومخلصه انه لا یسقط معلومه الماضی ولا یعزل فی الآتی: اذا کان فی المصر مشتغلا بعلم شرعی او خرج لغیر سفر وأقام دون خمسة عشر یومًا بلا عذر علی احد القولین او خمسة عشر فأکثر لکن لعذر شرعی کطلب المعاش ولم یزد علی ثلاثة اشهر. (رد المحتار ج۴ ص۴۱۸) (۱)

دشامی ددې عبارت څخه معلومیږي چي په کال کی دربع څخه په کم وقت کي دطلب معاش اجازت دی ، اګرچي دده وظیفه بحیثیت ساکن مدرسه طی شده او جاری وی ، او ددغه طلب معاش په وجه نه دهغه وظیفه ساقط کیږي او نه داستحقاق څخه عزل کیږي.

اګر چی علامه شامی بیان دتفصیل یو خاص صورت په اړه دی دهغه وضاحت په خپله علامه شامی په دغه الفاظو کي کړی دی.

وهذا التفصیل المذکور فی الغیبة انما هو فیما اذا قال وقفت هذا علی ساکنی مدرستی واطلق اما لو شرط شرطًا تبع کحضور المدرس ایاما معلومة فی کل جمعة فلا یستحق المعلوم الا من باشر خصوصًا اذا قال: من غاب عن الدرس قطع معلومه فیجب اتباعه (۲) (ج۴ ص۴۱۹) (۳)

لکن دعلامه شامی دعبارت څخه دا خبره هم واضح ده ، چی طلب معاش یو عذر شرعی دی ، په مال وقف کي دهغه رعایت حکم دی ، نو مدارس شرعه کی ددغه عذر شرعی رعایت په طریق اولی وشي ، البته دغه امر په هر حال لازم دی ، چی مدرس دی

(۱) کتاب الوقف (طبع سعید (هامش رد المحتار علی الدر المختار کتاب الوقف ج ۴ : ص ۴۱۸)
(۲) قلت یجب اتباع هذا الشرط لان شرط الواقف کنص الشارع (حاشیه از حضرت مولانا محمود اشرف صاحب)
(۳) کتاب الوقف (طبع سعید)

اجاره لپاره طلب معاش دغه عمل محض ضمنی دی مقصود نه دی ، او په دغه وجه دمدرس اوقات اجاره او عمل اجاره کي کوم قسم اختیاری کوتاهی واقع نه وی.

۳: الف: یو میاشتی وړاندی داطلاع نه ورکولو په صورت کي دمدرس څخه دیوې میاشتی تنخواه وړل شرط پر هیڅ قاعده نه منطبق کیږي ، ولي چی مدرس دخپل عمل یا تسلیم نفس پر بناء دهغه داجرت مستحق دی ، دهغه څخه داجرت داسترداد کول یو قسم تعزیر مالی دی ، او معاهده اجاره کی دداسی تعزیر مالی لازم بلل مفسد عقد دی ، او حضرت ګنګوهی قدس سره په فتاوی رشیدیه کی ددې مفسد بللو تصریح کړې دی.

سوال: دغه شرط که څوورځي وړاندی داطلاع نه ورکولو نه وو دومره جرمانه به ورکوي دمتممات عقد څخه دی او لازم دی؟

جواب: اجاره په شرط فاسد سره فاسدیږي ، او دا شرط دخلاف مقتضائي عقد څخه دی ، لهذا دغه عقد فاسد کوي ددې ذکر نه کول ضروری دی ، تفسد الاجاره بالشروط المخالفة لمقتضی العقد (درمختار) او دغه شرط ظاهر دی چی اجیر ته مفید دی او مستأجر ته نافع او دعقد خلاف دی. (تالیفات رشیدیه ص۴۲۲) (۱)

البته مدرس باندی دا شرط لګولی شي چی دملازمت دترک کولو څخه یوه میاشت وړاندي دوی ته اطلاع ورکړی ورته داطلاع وروسته تر یوې میاشتي پوري اصالةً یا نیابةً به کار کول لازمی وي.

ب: ترکومه چی دمدرسې دطرف څخه فی الفور باندي داخراج باندی یوه میاشت تنخوا ورکول لازم کولو شرط دی ، نو دغه شرط هم په ظاهره مفسد عقد دی ، البته دمدرسې دطرف څخه تبرع تاویل کیدلی شي ، لکن دغه تبرع هغه وقت جائز ده کله چی معطین او طلباء دطرف څخه اذن صراحةً موجود وی.

البته په دې مسئله کی دغه اړخ قابل غور دی چی څنګه چی مکان یا دکان داجارې غیر متعینه کي داول تاریخ داطلاع نه ورکولو په صورت کي آئنده دپوره میاشتي اجاره لازم ده ، داهول دلته داول تارخ په اطلاع نه ورکولو په صورت کی دپوره میاشتي اجاره لازم ولی نه ده؟

(۱) طبع اداره اسلامیات

فليتأمل الأكابر واليهم المفاهيم ومنهم الأوامر.

احقر محمود اشرف عثمانی غفر الله له ۲۵ / ۳ / ۱۴۱۸ھ.

دحضرت مولانا مفتی عبدالمنان صاحب رايه:

احقر دحضرت مولانا مفتی محمود اشرف صاحب تحرير ولوست په دې کې چې کوم موقف اختيار شوی دی هغه داصولو په لحاظ درست دی ، او په دې سلسله کې داحسن الفتاوی ج۷ ص۲۸۷ تا ۲۹۴ (۱) کې چې کوم موقف اختيار کړل شوی دی هغه هم قابل غوری ، حضرات اکابر ته پر دې باندې هم غور کول پکار دی

او داحقر يو تجويز بل هم دی ، چې دمدارسو عقد اجاره دعرف او رواج مطابق اګرچې اجاره مسانهه ده ، بيا هم داجاره دقواعدو اوضوابطو مطابق زياده بهتر دا صورت دی چې عقد اجاره په وقت کی باضابطه ددې مدت طی شي چې يو کال دپاره به وی ، او بيا دی هر کال دهغه تجديد وشي ، او مدرس ته دی دپوره کال تنخوا ورکول کيږي ، يعنی ايام تعطيل تنخوا دی هم ورکول کيږي ، په دې صورت کې که دغه اشکال وی چې ايام تعطيل کې مدرس خپل ځان نه تسليموي ، او تدريس لپاره نه حاضريږی ، نو بيا به دتنخوا استحقاق څنګه وي ؟ ددې جواب دادی چې څنګه په دوران دتدريس کې دجمعې ورځ مدرس تدريس نه کوي ، لکن معاهده قائم وي او ددې په وجه هغه راحت کوي دهغه تنخوا ورکول کيږي ، دا ډول دی دايام تعطيل يعنی اواخر شعبان او رمضان تنخواه هم ورکول کيږي ، البته که کوم مدرس درمضان وروسته تدريس ته نه حاضريږي اراده يې بدله وی ، او په اواخر شعبان کې هغه دا فيصله کړې وي ، نو په داسې صورت کې دی هغه ديانةً داواخر شعبان او رمضان تنخوا نه اخلی ، ولی چې دلته دا خبره واضح ده چې اوس دراحت او آرام فائده مدرسې ته رسيږي.

والله اعلم / محمد عبدالمنان عفی عنه ۲۲ / ۴ / ۱۴۱۸ھ

دمفتی عبدالرؤف سکهروی صاحب رايه:

احقر ته دمذکوره دواړو حضراتو رايه درسته معلوميږي ، او پر دې باندې داضافتوب ضرورت هم محسوسيږي. بنده عبدالرؤف سکهروي ۱۲ / ۶ / ۱۴۱۸ھ

(۱) طبع ايچ ايم سعيد

(دحضرت مولانا مفتی عبدالشکور ترمذی صاحب رحمة الله عليه دمذکوره ستفتاء باندې دارالافتاء جامعه دارالعلوم کراچی حضرات مفتيان کرام خپله مذکوره آراء تحرير کړل او په آخر کی يې حتمي فيصلې لپاره مذکوره فتوی لپاره دحضرت مفتی صاحب دامت برکاته خدمت ته پيش کړې ، چې پر هغه باندی مفتی صاحب فتوی په لاندې شکل تحرير کړه)

فتوی ازحضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاته

مخدوم مکرم حضرت مولانا مفتی عبدالشکور صاحب ترمذی مد ظلهم العالی !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

افسوس دی چی دخط جواب مي په هغه کړي ونه ليکو ، دمختلفو اسفارو اشغالو دازدحام دې ته پرې نه شودم چي په خپل اختيار او انتخاب سره دمسئلو تحقيق وکړم ، احقر دغه خط دار الافتاء ته وليږو دهغو حضراتو آراء منسلک دی ، احقر دمحکمې اهل نه دی ، لکن تعميل حکم لپاره ، چي کومه خبره زما په ذهن کي راځي هغه داده چی په شوال کې دکار کولو او نه کولو باندی درمضان تنخوا موقوف کول دواړه وجې صحيح دی ، ، موقوف عليه نه بللو جواز واضح دی ، ولی چی ددې حاصل دادی چی عقد اجاره کي يو مياشت تنخوا بلاعمل چي مقرر شوې ده ، هغه ګواکي دټول کال دمجموعی عمل اجرت اضافيه دی ، چی دا خبره معلوم ده ، او دفريقينو په اتفاق سره جائز ده ، او موقوف عليه نه بلل دجواز يوه وجه داده کوم چي ورته حضرت مولانا خليل احمد صاحب قدس سره په جواب کي ورته اشاره کړې ده ، چی دا دی يا شرط معروف وبلل شي ...الخ چي پر هغه باندی مولانا محمود اشرف صاحب دخپل تحرير بنياد اينبي دی ، او بله وجه يې دا هم کيدلی شي چی دايام بطالت تنخوا دی دتجديد عقد اجاره لپاره شرط وبلل شي ، يعنی که په شوال کار کوي نو ذايام بطالت تنخوابه ورکوی ، او که نه نو يې نه ورکوي ، ګويا په دې صورت کي عقد اجاره شعبان باندی ختم شوه ، په شوال کی تجديد عقد وقت ايام بطالت دتنخوا په اضافی ډول دشوال لپاره ورکول کيږي.

بهر صورت ! ددوارو تخریجاتو مطابق دغه شرط درست دی ، او دحکیم الامت حضرت تهانوی قدس سره هم دوه ځله ددې مطابق په فتاوی خلیلیه ج۱ ص۲۴۵ و۲۴۷) کی موجود دی.

البته پر ملازم دغه شرط لګول چي هغه به خارج الاوقات معاشي کار نه کوی شرط فاسد دی ، هو ! که موجر دخارجي کار کولو په صورت کي دملازم تنخوا کمه مقرر کړي نو بیله خبره ده.

داطلاع نه ورکولو په صورت هر میاشت تنخوا مطالبه شاید په دې بنیاد درست وی چی عقد اجاره کي څونه مده طی شوې ده دهغه پابندي پر فرقینو لازم ده ، بلاعذر دهغه ماتول چی فریق ثاني ته نقصان دی ، که دهغه دتلافی لپاره جانبین دیوې میاشتي تنخوا په مطالبه طی کړي نو شاید چی د (دلاضرر ولا ضرار)(۱) سره سم وی مګر دا محض یو احتمال په درجه کی چي پر دې باندي تحقیق کول پکار دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم / احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۵ / ۱۱ / ۱۴۱۸هـ (فتوی نمبر ۳۰ / ۳۰۱)

کرایه دار دکرایې په دکان کي غسل خانه وغیره جوړ کړل نو دهغه خرچ پر چا باندی ؟

سوال: زید دبکر څخه دکان په مبلغ اووه روپۍ میاشتنی دپنځو کالو لپاره کرایه کړو ، او دپنځو کالو کرایه وړاندي لا ادا کړه ، څه وخت وروسته دبکر درې زرو روپۍ پکار شوې ، دزید څخه یې دغه روپۍ قرض حسن واخستلې او وعده یې وکړه چي په یوه میاشتي کي به یې ادا کوم ، مګر وعده یې ددرو زره ورنه کړه بلکه ورته ویې ویل چي دغه روپۍ هم په کرایه کي مجرا کړه ، ددکان چت دوه کاله وروسته سوری شو ، زید هغه په خپله ورغاؤ ، مګر کله چي زیات خراب شو نو بکر ته یې دچت دجوړولو وویل: په غټ مشکل سره بکر زید ته وویل چی چت جوړ کړه څه خرڅ چي کوې هغه په کرایه کي ګرزوه ، : که کوټه ددکان پر هغه بل طرف جوړه شي نو دکان به نور هم شو داره شي ، زید وویل: زما اعتراض نشته ، پر کومه حصه چي یې ته غواړي هلته به یې جوړه کړم ، څو ورځي مختلف تجویزونه ورکیدل ،

(۱) لا ضرر ولا اضرار (سنن ابن ماجه باب من بنی فی حقه ما یضر بجارٍ ص۲۹۶ طبع مکتبه فاروقی)

آخر بکر دا وویل: چي زموږ دکمرې ضرورت نشته ، ته یې په خپله خرڅه جوړه کړه ، زه یې خرچه نه درکوم ، زید ته دګراکانو ضرورت ؤ لهذا هغه په خپل مصرف کوټه جوړه کړه په هغه کي یې پاخانه او تشناب جوړ کړو ، اوس چي پنځه کاله او څه لازیات وخت تیر شوی دی ، نو ایا دزید حق شته چي دکوټې ، غسل خانې او پاخانې مصرف دبکر څخه وصول کړي ؟

جواب: په صورت مسؤله کي چونکه زید کوټه ، غسل خانه او پاخانه په خپله خوښه جوړه کړې ده او بکر په صراحت سره ورته وویل چی زه یې مصرف نه درکوم ته په خپله دمصرف ذمه واریې ، او نه یې په کرایه کي مجرا کوم ، نو دبکر پر ذمه ددې مصرف نه دی(۱) هو ! که بکر یې ادا کړي نو ښه به وی او باعث داجر به وی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ، احقر محمد تقی عثمانی عفی ۸ / ۵ / ۱۳۹۱ هـ (فتوی نمبر ۲۱۷ / ۲۲ ب)

الجواب صحیح بنده محمد شفیع عفی الله عنه.

دمعاهدې دوخت په ختمیدلو سره دکرایې کور خالي کول لازمی دی.

سوال: اردو اخبار جنګ دجمعې په بڼه کی چی په اول دمئی په غصب شده کور کي دلمانځه په اړه فتوی شائع شوې وه ، چي دهغه یوه فوټو کاپی مرسل ده جناب ددار الافتاء څخه که یوه فتوا حاصل شي نو اراده چی قانون ساز ادارو ذمه دارانو ته یې ولیږم چي هغه دشرع په روشنی قانون کرایه داری کي ترمیم وکړي ډیري جګړې به ختم شي ، که ضروری وي نو دهغه یو نقل به صدر محترم ته هم ولیږل شي.

جواب: منسلک تحریر کي چي کومه مسئله بیان شوې ده هغه درست ده ، کرایه دار دی صرف دهغه وقت پوري دقبضې حق دی تر څو چي معاهدې پوره شوې نه وی . او دمدت دختمیدلو سره چي

(۱) وفی الدر المختار ج۶ ص ۷۹ (طبع سعید) وعمارة الدار المستأجرة وتطیینها واصلاح المیزاب وما کان من البناء علی رب الدار وکذا کل ما یخل بالسکنی ... واصلاح بئر الماء والبالوعة والمخرج علی صاحب الدار لکن بلا جبر علیه لانه لا یجبر علی اصلاح ملکه فان فعله المستأجر فهو متبرع .
وفی الشامیه تحته : (قوله فهو متبرع) أی ولا یحسب له من الاجرة .
وفی شرح المجلة للأتاسی رقم المادة ۵۲۹ وان عمل هذه الاشیاء المتأجر یکون متبرعًا فلیس له ان یطالب الاجر بشئ مما انفق علی التعمیر والترمیم قال في رد المحتار ولیس له ان یسلبه من الاجرة .

کله مالک ورځخه دځای دخالی کیدلو غوښتنه وکړي نو پر کرایه دار لازم ده چې ځای خالی یا دمعاهدې تجدید وکړي(۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۳/۱۱/۱۴۰۱ھ (فتوی نمبر ۱۶۷۶/۳۲ج)

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب الاجارة ج۶ ص۴۵ (طبع سعید) آجر داره کل شهر بکذا فلکل الفسخ عند تمام الشهر وفی تبیین الحقائق باب الاجارة الفاسدة ج۶ ص۱۱۲ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت) ثم اذا تم الشهر کان لکل واحد منها نقض الاجارة لانتهاء العقد الصحیح ... الخ .
وکذا فی المبسوط للسرخسي ج۱۵ ص ۱۴۶ (طبع مکتبه غفاریه کوټه)
وفی الهندیه ج۴ ص ۴۴۸ کان الرد علی المستأجر بعد انقضاء المدة ویضمن لو هلک قبل الرد لانه غاصب آه وفی المجلة لسلیم رستم باز رقم المادة : ۴۹۶ ص ۳۱۸ لو استعمل واحد ما لا بدون اذن صاحبه کان غاصبًا فانما یلزمه ضمان المنفعة ای اجر المثل اذا لم یکن استعماله بتأویل ملک او عقد ... الخ . وکذا فی شرح المجلة للأتاسي ص۶۹۷ (طبع مکتبه حبیبیه)
وفی البحوث فی قضایا فقهیه معاصرة ص۱۱۴ اذا کانت الاجارة لمدة معلومة استحق المستأجر البقاء علیها الی تلک المدة ... الخ .
وفی الهندیه ج۴ ص۴۱۱ واما شرائط الصحة (ای شرائط صحة الاجارة) فمنها رضاء المتعاقدین ... الخ .

فصل فی اجارة الارض والاشجار والحیوان

(دمځکي ، حیوان او درختو اجاره کولو اړوند مسائل)

داحکار یعنی همیش لپاره دمځکي په کرایه اخستلو حکم

دتفصیلی شرائط

سوال: زموږ په علاقه کي یو قسم عقد مروج دی چې یو شخص بل سړی ته مځکه دکور جوړولو لپاره په اجاره ورکوي ، په عقد کي کرایه متعین کوي ، کرایه نقد یا غله وی ، او دکال په پای کي ورکول کیږي ، لکن په عقد کي وقت سکونت نه ذکر کیږي ، بلکه په عرف قدیم سره متوارث عمل راروان دی ، صاحب دکور همیشه په دې کور کي اوسیږي ، دده تر وفات وروسته پیړی په پیړی په سي ، دا ډول دمالک مځکي تر وفات کیدلو وروسته هم ورثاء مالک دکور نه شي ایستلی ، بس مالک دمځکي او دده ورثاء یوازې دکرایې حق لری ، او دغه عدم تعین مدت مفضی ونزاع ته هم نه دی ، ولی چې عرف داډول دی ، په پښتو کي دې عقد ته غوله (یعنی حریم) ویل کیږي ، البته که په خپله مالک دکور کور پریږدي نو بیا بیله خبره ده ، زموږ علماء دغه عقد په احکار کي داخل بولی ، او داجارې مؤبدې نوم هم ورکوي ، اوس خبره داده چې :۱: دغه عقد جائز دی که نه ؟۲: ایا دغه احکار بلل کیږي ؟ ۳: صاحب دمځکی یا دده ورثاء دی بیله کومې وجې څخه ایستلی شي ؟۴: دمځکي دمالک ورثاء دغه کار کولی شي ؟ ۵ ایا اجاره مؤبده دفقې په کتابو کي چیرته هم ذکر شوی ده ؟

جواب: که دغه کرایه داری دعقد کولو په وقت کی مدت ذکر نه کړي نو اصل حکم دادی چې دغه اجاره صحیح نه دی ، یا کوم مجهول مدت مقرر کړی نو دهغه هم دا حکم

دی.(۱) لکن که عقد کي دا خبره طی شي چی کرایه دار به همیش پر دغه مځکه قابض وی ، او مالک دمځکي ته به کرایه ورکوي ، او تر څو چي هغه دمځکي اجر مثل ادا کوي تر هغه وخته به مالک دمځکي ته دکور دخالی کولو حق نه وی ، نو دغه هم بعض فقهائي کرام جائز بولی ، او دې ته په اصطلاح کي احکار ویل کیږي ، (احتکار) ، لکن دا ضروری ده چی ۱: مالک به دعقد په وقت کی کرایه دار ته لیک ورکوی چی دغه مځکه دهمیش لپاره په کرایه ورکول کیږي ، ۲: چی کرایه دار به په دې کي خپل تعمیر کوي ۳: دا خبره به هم طی کوی ، چي دداډول مځکي کرایه پورته کیږي ، نو په هغه حساب به ددې مځکي کرایه هم پورته کیږي ، ۴: کرایه دار به په پابندي سره کرایه ادا کوي ، ۵: کرایه دار به تر درو کالو پوري مځکه معطل نه پریږدي ، دغه شرائط علامه شامي په رد المحتار کی تر مطلب مرصد ومشد مسکة تر عنوان لاندي لیکلی دی (ج۵ ص۲۱ و۲۲) (۲) او په خپله رساله تحریر العبارة فیمن هو احق بالاجارة کي ذکر کړي دی (رسائل ابن عابدین ج۲ ص۱۵۴) او حضرت مفتی اعظم مولانا مفتی محمد شفیع صاحب په جواهر الفقه کی (ج۲ ص۳۰۳) کي ذکر کړي دی ، ما پر دې مسئله مفصل بحث کړی دی ، لهذا صورت مسؤله کي اصل خبره داده چی دغه شرائط پوره دی که نه ؟ موږ ته ستاسي دعلاقې څخه پوره معلومات نشته نو حتمی فیصله نه شو کولی ، لهذا ستاسي لپاره په

(۱) وفی الدر المختار باب الاجارة الفاسدة ج۶ ص ۴۶ و۴۷ تفسد الاجارة بالشروط المخالفة لمقتضی العقد فکل ما افسد البیع مما مر یفسدها کجهالة مأجور او اجرة او مدة او عمل ... الخ .
وفی خلاصة الفتاوی کتاب الاجارات ج ۳ ص۱۰۳ (طبع رشیدیه کوټه) عقد الاجارة لا یجوز الا ان یبین البدل من الجانبین جمیعًا اما بیان المنفعة فباحدی معان ثلاثة بیان الوقت وهو الاجل ... الخ .
وفی الفتاوی الکاملیة کتاب الاجارات مطلب تفسد الاجارة بجهالة الاجر ویفسد بها العقد سواء کانت الجهالة فی الاجرة او المدة او العمل ... الخ . وکذا فی البحر الرائق ج۸ ص۱۷)
وفی الهندیه کتاب الاجارة ج۴ ص ۴۱۱ (طبع رشیدیه کوټه. واما شرائط الصحة (صحة الاجارة) ... مها بیان المدة فی الدور والمنازل والحوانیت ... الخ وفیها ایضاً ج۴ ص ۴۳۹ الفساد قد یکون لجهالة قدر العمل وقد یکون لجهالة قدر المنفعة بأن لا یبین المدة .. الخ .
(۲) رد المحتار مطلب فی المرصد والقیمة ومشد المسکة ج۶ ص۲۶ و۲۷ (طبع سعید)

کار ده چی دخپلو علماؤ څخه په دې اړه سوال وکړی ، کوم شرائط چي په جواهر فقه کي ذکر دی هغه دلته موجود دی که نه ؟ که موجود وی نو عقد جائز دی او که موجود نه وي نو جائز نه دی.

والله اعلم ۱۴۱۲/۱/۱۴ هـ (فتوی نمبر ۲۸۰ / ۵۹)

دونو داجارې شرعي حیثیت او دجواز حیله

سوال: ایا دونو اجاره کول جائز دی ؟ اوریدلي مي دی چی په فتاوی رشیدیه کی جائز بلل شوې ، ددې حقیقت څخه دی ؟ که ناجائز وي نو ددې متبادل طریقه کار څه دی ؟

جواب: دونو اجاره کول ټولو فقهاؤ ناجائز لیکلې ده ، چنانچه علامه خیر الدین رملي رحمة الله علیه فرمایي: استأجر بقرة لیشرب لبنها لا ینعقد ، وکذا لو استأجر بستانًا لیأکل ثمره (فتاوی خیریه ج۲ ص۱۲۸) (۱) والمسئلة مصرح بها فی منح الغفار ووکثیر من الکتب وفی الاجارة المذکورة امور اخر توجب فسادها خصوصًا عندنا کالشیوع وطول المدة فی الوقف.

ددې څخه علاوه په ډیر کتابو دفقهي کي ددې مسئلې تصریح شوې ده ، حتی په فتاوی رشیدیه په استفتاء کي دهغه ذکر راغلی دی چي اجاره اشجار جائز ده ، هلته هم په صراحت سره دجواز پر ځای دعدم جواز فتوا موجود ده مولانا رحمة الله علیه فرمایي:

چی دونو اجاره درست نه ده ولي چي اجاره دمنافعو وي داعیانو او زوائدو بیع کیږي... الخ. (فتاوی رشیدیه کامل مبوب ص۴۴۸) (۲)

او داډول حضرت مولانا تهانوی قدس سره فتوا ورکړې (امداد ج ۳ ص۱۲۸) (۳)

لکن په دې سلسله کي فقهاؤ دجواز یو حیله نقل کړې چي اول دی دونو دمساقاة عقد وکړي چي دزرو څخه به حصه دمالک وی او باقي تمام حصې به دمساقي وي ، او بیا دی هغه مځکه هغه شخص ته په کرایه ورکړي ، او دهغه شرح کي دمثلی اجرت څه اضافه

(۱) الفتاوی الخیریه علی تنقیح الفتاوی الحامدیه ج۲ ص۲۰۴ (طبع مکتبه حبیبیه کوټه)
(۲) ص۱۵ (طبع سعید)
(۳) ج۳ ص۳۸۷.

وکړي څومره چې په عقد مساقات کي کم کړې ده ، شرط يې دا دی چې مځکه به قابل زراعت وی ، او دا حيله هلته صحيح کيږي ، چي دغه مځکه مال وقف يا ديتيم نه وی ، که چادغه حيله په مال وقف او په مال يتيم کي وکړه نو دواړه عقدونه باطل دی ، ولی چي مساقاة چي ديتيم او وقف ضرر دی ، او اجاره په دې چي مساقاة باطل شو نو په ارض مشغول کي اجاره منعقده شوه او هغه باطل ده ، او په دې وجه په حيله کي عقد مساقاة کي شرط مقدم کړل شوه که معامله بالعکس شي نو اجاره دمځکي باطل ده ، لکونها فی الارض المشغولة ددې ټولو خبرو دلائل دفقهي په کتابو کی په دې ډول دی:

۱: قال فی الدر المختار وافاد فساد ما يقع کثيرًا من اخذ کرم الوقف او اليتيم مساقاة فيستأجر ارضه الخالية من الاشجار بمبلغ کثير ويساقی علی اشجارها بسهم من الف سهم فالحظ ظاهر فی الاجارة لا فی المساقاة.

۲: وقال الشامي تحته: اعلم انه حيث فسدت المساقاة بقيت الارض مشغولة فيلزم فساد الاجارة ايضًا کما قدمناه وان کان الحظ والمصلحة فيها ظاهرين فتنبه لهذه الدقيقة.

۳: وفی فتاوی احانوتي التنصيص فی الاجارة علی بياض الارض لا يفيد الصحة حيث تقدم عقد الاجارة علی عقد المساقاة اما اذا تقدم عقد المساقاة بشروط کانت الاجارة صحيحة کما صرح به فی البزازية. (شامی ج۵ ص۶ و ۷)

۴: وفيه بعد اسطر: وهذا بالنسبة الی الوقف واما مساقاة المالک فلا ينظر فيها الی المصلة (ای عدم الجواز) کما لو آجر بدون أجر المثل آهـ (رد المحتار ج۵ ص۷) (۱)
والله سبحانه وتعالی اعلم ۸/ ۵/ ۱۳۸۰هـ (۲)

دمځکي مؤنت پر مؤجر دی او که پر مستأجر؟

سوال: په بعض علاقو کي دا رواج دی چي مځکه په اجاره ورکي مال گزاری يعنی فی بوگه ۸ روبی پر مؤجر وي او بعض علاقو يې مستأجر ادا کوی ، او زما مځکه په دې

(۱) الدر المختار مع رد المحتار کتاب الاجارة ج ۶ ص ۸ (طبع سعيد)

(۲) دغه فتوی دحضرت مفتی صاحب په تمرين الافتاء په کتابچه کي موجود ده .

دواړو علاقو کي ده هلته چی مؤجر مال گزاری ادا کوی هلته يې زما څخه غواړی او هلته چی مستأجر ورکوي ايا پر دې به مؤاخذه عند الله وی ؟

جواب: که مځکه په کرايه ورکړل شوې وي نو مال گزاری شرط پر مستأجر لگولی شي ، په دې شرط چي دهغه مقدار به معلوم وی او حکمًا دا دکرايې جزء دی ، ليکن که بزگري ورکړل شي نو پر مزارع باندی عائد نه دی او که شرط کړل شي نو مزارعت فاسد دی.

لما فی الدر المختار فتبطل ان شرط لاحدهما قفزان مسماة او ما يخرج من موضع معين او رفع رب البذر بذره او رفع الخراج الموظف (شامی ج۵ ص۲۴۱ استنبول) (۱)
والله اعلم ۱۹/ ۱۲/ ۱۳۸۸هـ (فتوی نمبر ۲۳۳/ ۱۹الف)

دغوا يا گامينبی ساتنه په نصف ورکولو حکم او دجواز صورت

سوال: زيد خپله گامينبه بکر ته نصف حصه په ساتنه ورکړه ، دگامينبی بچي تقريبًا ديو نيم کال دی ، زيد بکر ته وويل: چي دغه گلگی يوسه ساتنه يې کوه ، ددې گلگی هر ډول ساتنه دبکر پر ذمه کړي دی ، پر زيد ددې هيڅ ډول خرڅه نه وی ، کله چي گلگی غټه شي لنگه شي ، هغه نوزاده بچی چي تر څو غټيږي نو تر هغو ددې غوا شيدې

(۱) الدر المختار کتاب المزارعة ج۶ ص۲۷۶ (طبع سعيد)

وفی البحر الرائق کتاب المزارعة ج۸ ص ۱۶۱ (طبع سعيد) او اشترطا لاحدهما قفزانًا مسماة او ما علی الماذيانات والسواقي او ان يرفع رب البذر بذره او برفع من الخارج الخراج والباقي بينهما فسدت ... وفيه بعد اسطر ... او يرفع رب البذر بذره او بدفع الخراج فلانه يؤدی الی قطع الشرکة فی البعض او الکل وشرط صحتها ان يکون الخارج مشترکًا بينهما والمراد بالخراج الخراج المؤظف نصفًا او ثلثًا او نحر ذلک ... الخ .

وکذا فی الهنديه کتاب المرارعة ج۵ ص۲۳۵ (طبع رشيده) والهدايه کتاب المزارعة ج۴ ص۴۲۶ (طبع شرکت علميه وفی طبع مکتبه رحمانيه ج۴ ص۴۲۴) وبدائع الصنائع و کتاب المزارعة ج۶ ص۱۸۰ (طبع سعيد)

بکر خوري ، دوهم ځل چي هغه بیا لنګیږي نو دغه عقد پای ته ورسیږي ، یعنی زید دلته هغه غوا نصف بکر ته ورکوي، اوس قابل دریافت دغه مسائل دی:

۱: دغه غوا په نیماي سره په ساتنه ورکول جائز دی که نه ؟ ۲: بکر ددې نیمایي مالک کیدلی شي که ټول دزید بلل کیږي ، ۳: دا ډول په قیمت سره نیمایي ورکول جائز ده که یا ؟ عرفًا یا شرعًا دا ډول ورکول جائز دی که یا ؟ ساتونکی ددې غوا حصه تقسیم یا ختمولو په وخت کي کوی مالک دغوا قیمت نه ورکوي ، نو بیا دغوا مالک اختیار لری که نصف قیمت ورکوي یا نصف قیمت دهغه څخه وړي او غوا ورته پریږدي شرعي حکم څه ډول دی ؟

جواب: غوا یا ګامیښه په نصف قیمت ورکول جائز نه دی ، دا اجاره فاسده ده ، لهذا په صورت مسؤله کي غوا دزید ده ، او بکر ته به مصرف ورکوي ، او بکر چي یې څونه خدمت کړی دی دهغه اجرت به زید ورکوي اجرت به دونه ورکوي څونه چي دمزدور مزدوري ددې کار لپاره وی غوا په هر صورت کي دزید بلل کیږي ، لهذا اول دی معامله په دې ډول درست کړي ، ددې وروسته که زید بکر ته غوا ورپریږدی یا نصف حصه ورباندی پلوري ، نو ددواړو په رضامندی سره کولی شي ، دساتنی مذکوره معامله جائز نه ده ، لهذا دجواز صورت داسي کیدلی شي ، چی زید نصف حصه ورباندي وپلوري ، او دهغه وروسته قیمت ورمعاف کړي ، او بکر ددې ساتنه کوي هر څه به یې نیمایي وی ، کله چی بکر په دې سره راضی شو ، بیا که بکر مصرف ورباندي وکړي نو دهغه مطالبه کولی شي.

لما فی العالمکیریه دفع بقرة الی رجل علی ان یعلفها وما یکون من اللبن والسمن بینهما انصافًا فالاجارة فاسدة وعلی صاحب البقرة للرجل اجر قیامه وقیمة علفه ان علفها من علف هو ملکه لا ما سرحها فی المرعی ، ویرد کل اللبن ان کان قائمًا وان اتلف فالمثل الی صاحبها ... والحیلة فی جوازه ان یبیع نصف البقرة منه بثمن ویبرئه عنه ثم یأمر بأتخاذ

اللبن والمثل فیکون بینهما (عالمګیریه ج۴ ص۴۴۵ ، ۴۴۶ الفصل الثالث فی قفیز الطحان وما معناه من الاجارة (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۳/۱/۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۱۵۴/ ۱۲۸ الف)

دحیوان په نصف سره اجاره کولو حکم

سوال: یو سړی په ساتنه غوا بل سړی ته په نصف سره ورکوي ، یعنی څه چي ورڅخه پیدا کیږي هغه به یې نصف نصف وی ، په دې صورت کي غواړ مالک ته یا ساتونکی ته ورکړل شي یا کوم بل شخص یې په قیمت ورڅخه رانیسي او دوی نصف نصف قیمت وصول کړي جائز ده که نه او دداسي غواي قرباني کول درست که یا ؟

جواب په مذکوره صورت سره معامله کول جائز نه ده (۲) لهذا اول دا ولیکی مالک یا ساتونکی ته په څه ډول غوا ورکول کیږي. ایا پوره حیوان په بیع سره یو بل ته په قیمت سره ورکول شی.

والله اعلم ۱۴/۲/۱۳۷۸ھ

---

(۱) وفی الهدایه ج۳ ص۳۰۳ (طبع مکتبه رحمانیه) والواجب فی الاجارة الفاسدة اجر المثل لا یجاوز به المسمی ... الخ

طبع مکتبه رشیدیه ، وفی خلاصة الفتاوی ، کتاب الاجارات وما یتصل بهذا ج۳ ص ۱۱۴ (طبع مکتبه رشیدیه وفی فتاوا النسفی رجل دفع بقرة الی رجل بالعلف مناصفة وهو التی بالفارسیة کاونیم ، سود بان دفع علی ان ما یحصل من اللبن والسمن بینهما نصفان فهذا فاسد والحاصل کله لصاحب البقرم والاجارة فاسدة.

وکذا فی الفتاوی البزازیه علی الهندیه کتاب الاجارة النوع الثالث فی الدواب ج۵ ص۳۷ (طبع رشیدیه) ددې سره امدد الفتاوی ج۳ ص۳۴۳ طبع دار العلوم کراچی وګوری.

وکذا فی الهدایه ج۳ ص ۳۰۵ کتاب الاجارات والدر المختار ج۶ ص ۵۴ باب الاجارة الفاسدة والبحر الرائق ج۸ ص۲۳ کتاب الاجارة (طبع سعید)

(۲) دتفصیل لپاره وړاندنی مسئله وګوری

فصل فی نفس الاجرة

(دتنخوا ، اجرت او مختلف الاؤنسز اړوند مسئلې)

شرعًا دملازم دتنخوا مقرر پر کوم معيار سره تړاکل کيږي ؟ دملازم دضرورت او که دملازم دقابليت په معيار ؟

سوال: خدمت ته دجناب مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

جناب عالی ! اوس دستي ما ديوه صاحب او بل ځخه دپوښتنی په صورت کي دا مسئله واوريدله خو زړه مي وربانديی مطمئن نه شي ، نو سوال او جواب يې لاندي درج کوم په دې مسئله کي ستا لارښووني ته ضرورت دی .

سوال: مسئله داده چی يو ملازم انجنير دی دهغه دوه زامن او يوه ښځه ده ، دهغه تنخوا پنځه زره روپۍ دی ، دوم ملازم يو مزدور دی دهغه شپږ زامن او يوه ښځه ده دهغه تنخوا يوآځي زر روپۍ دی ، داسلام دقوانينو سره تعين دقابليت پر بنياد وي او که دضرورت پر بنياد .

جواب: په اسلامي نظام کي تنخوا تعين پر قابليت نه دی ، دمزدور دضرورت پر بنياد وي ، برائی مهرباني دجواب دراليږلو سره سم دمندرجه ذيل امور په نظر کي نيول اړين دی:

۱: دملازم دضرورياتو تعين څه ډول کيږي ؟

۲: يو ملازم يوآځي وی ، بل څه واړه لری ، که ددواړو قابليت ته وکتل شی نو تنخوا بايد برابر ورکړل شي او که څنګه ؟

۳: دحکومت دملازم او شخصي ملازمانو تنخوا پر يوډول مقرر کيږي که جدا جدا ؟او دکورني ملازمينو تنخوا دمقررولو پر وخت کوم طريقه کار فرق لری که يا ؟

۴: په امريکا او په نورو ترقياتي يافته ممالکو کی دمزدورانو کم ازکم تنخوا مقررول دهغه ځای دګراني په نظر کي نيولو سره کوي ، او وروسته هم دګراني سره پورته

کيږی ، البته او کم از کم تنخوا وروسته بيا قابليت او دروپو قيمت په کتلو سره تړاکل کيږي ، دغه طريقه کار تر کومه حده صحيح دی ؟

جواب: محترم ومکرم ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

ستا خط راته ورسيدو ، په اصل کي ملازمت شرعي نقطه نظر څخه عقد اجاره ده ، چي په هغه کی دجانبينو په رضامندي چي کوم اجرت وتړاکل شي هغه جائز دی ، په دې شرط چي يو پر بل ظلم ونکړي ، په دې ډول چي څه هم وتړاکل شي هغه جائز دی شرعًا هغه صحيح دی هغه که دقابليت په لحاظ وی او که بنيادي ضرورياتو په لحاظ وي.

البته که اسلامي حکومت دې ته وګوري دمزدوکارو اجرت مناسب مقرر نه کړي نو هغه اجرتو معيار هم مقرر کولی شي (۱) چي دهغه پابندي پر فريقينو لازم ده (۲) په دې معيار کی تعين وقت حکومت داهليت ، کار او ضرورت درو واړو خبرو په نظر کي نيولو سره کولی شي ، او هغه جائز ده.

ددې تشريح څخه واضح شوه ، چی دا خبره صحيح نه ده داسلامي نظام په تنخوا کي تعين پر قابليت باندی دی ، يا دمزدور دضرورياتو پر بنا دی ، ددې څخه به دټولو سوالاتو جواب شوی وی.

والله اعلم ۷/۴/۱۴۰۸هـ.

دمزدور داجرت تعين شرعًا په کوم معيار سره دی ؟

---

(۱) وفی الدر المختار ج۶ ص۳۹۹ (طبع سعيد) الحظر والاباحة .. ولا يسعر حاكم لقوله ﷺ لا تسعروا فان الله هو المسعر القابض الباسط الرازق الا اذا تعدى الارباب عن القيمة تعديا فاحشًا فيسعر بمشورة اهل الرأى .

ونظيره كما فى البحر الرائق كتا ب القسمة ج۸ ص۱۴۸ (طبع سعيد) ... والا نصب قاسمًا يقسم بأجرة بعدد الرؤس يعنى ان لم ينصب قاسمًا رزقه فى بيت المال نصيبه وجعل رزقه على المتقاسمين لان النفع لهم على الخصوص ويقدر له القاضى اجرة مثله كى لا يطمع فى اموالهم ويتحكم بالزيادة .

وفى الاشباه والنظائر ص ۱۵۷ (طبع ادارة القرآن كراچي) تصرف الامام على الرعية منوط بالمصلحة .

(۲) وفى الدر المختار ج۲ ص۱۷۲ تجب طاعة الامام فيما ليس بمعصية .

سوال۱: دمعاوضې دادائيګي معيار پر څه باندي دی؟ دپيداوار او که دکار يا دکارکوونکی دضرورت پر بنياد؟

۲: پيداوار هغه څه دی چې دشرکت دټولو شعبو اجرتوادائيګي کوي، او نور خرڅې پوره کوي، او په بند سيزن کي دنه کارکوونکو تنخواوي او نور مراعات ورکوي او بيکاره افرادو ته تنخوا او مراعات دسره بندوي، او هغه کارکنان چې دولس مياشتی کارکوی هغه اګرچي دولس مياشتی کار نه کوی ولی چې پيداوار څو مياشتي وي، مګر په دې پيداوار کي منافع په سيزن کي دوی حصه اخلی مذکوره کارکنانو ته تنخوا او نور مراعات تمام کال ورکول کيږي، او دسيزن کارکنانو ته يواځي په سيزن کي ورکول کيږي ايا دا جائز ده؟

۳: نوی کارکوونکيو ته داجرت تعين ددې آيت شريفه (وَيَسْئَلُوْنَکَ مَا ذَا يُنْفِقُوْنَ قُلِ الْعَفْوَ) (سورة بقره آيت ۲۱۸) په بنياد دی ايا داسي کول جائز دی؟

جواب۱: شرعًا داجرت تعين معيار په خپل منځ کي په رضامندي سره دی، په رضامندی چي څه مقرر شول هغه شرعًا جائز دی البته پر هر فريق ديانةً واجب دی چې يو دبل دمجبوري څخه ګټه پورته نه کړي، داسي اجرت مقرر نه کړی چي په عرف کي هغه ناکافی وبلل شي يا ډير زيات وی چنانچه دا دآجر اخلاقي ذمه داري ده چې دهغه داجرت تعين په وقت کی ددې خبری لحاظ وساتی چي اجير ته به دکار کردګي مطابق، مناسب او کافی اجرت ورکول کيږي(۱) بل دا چې قانونی طور باندی داجرت تعين معيار اګرچه په باهمی معاهده سره کيږي، لکن اخلاقي طور باندي ديانةً دهغه معيار دکار کردګي

وراجع للدلائل والتفصيل الى الدر المختار مطلب فی وجوب طاعة الامام، ج۴ ص۲۶۴ (طبع سعيد)

(۱) وفی سنن الترمذی، باب ما جاء فی التسعير رقم الحديث ۱۲۳۵ عن انس رضي الله عنه قال غلا السعر على عهد رسول الله ﷺ فقالوا: يا رسول الله! سعرلنا، فقال: ان الله هو المسعر القابض الباسط الرازق وانی لارجوا ان القى ربى وليس احد منکم يطلبنى بمظلمة فی دم ولا مال قال ابو عيسى هذا حديث حسن صحيح وفی حاشية السندی على ابن ماجة ج۴ ص ۴۲۲ ... وفيه اشارة الى ان التسعير تصرف فی اموال الناس بغير اذن اهلها فيکون ظلمًا فليس للامام ان يسعر لکن يأمرهم بالانصاف والشفقة على الخلق والنصيحة.

نوعيت دی، که ددې پر ځای چې اجير دا خلاقی ذمه داري دپوره کولو پر ځای مزدور مجبوری ته وګوری او کم اجرت ورته مقرر کړی نو په دې صورت کی حکومت کولی شي چې دهغه کم از کم اجرت مقرر کړی، په دې صورت کی به پر اجيرانو پابندی قانونًا لازمی وی.(۱)

۲: اصل مسئله داده چې هر کارکوونکی ددونی اجرت مستحق دی څونه چې دوی کار کړی وی لکن که کوم مؤجر اجير ددې خبري پابند کړي چې هغه به ټول کال دده سره ملازم وی، که کار وی او که نه وی، چونکه هغه يې ټول کال پابند کړو نو پر مؤجر دټول کال تنخوا واجب ده، خواهي که کار وکړي او که يې نه وکړي ددې بر خلاف که کوم څوک ټول کال پابند کړي نو دهغه يواځي دونه څه پر مؤجر لازم دی چې څونه يې پابند کړی وي، دباقي مدت چې هغه دکار لپاره ازاد وی نو دهغه اجرت ورباندی واجب نه دی.

هو! که داسي وی چې هغه وقت دکار قابل نه وی، نو دی مؤجر سره داسي معاهده کولی شي چې ددې مدت کار کردګی اجرت دونه زيات مقرر کړی چې دهغه دبې کاری ورځي هم کفالت وکړي.

۳: آيت شريفه (وَيَسْئَلُوْنَكَ مَا ذَا يُنْفِقُوْنَ قُلِ الْعَفْوَ) (سورة بقره آيت ۲۱۸) کی داجرت دتعين سره څه اړه نه لری ددې حاصل دادی چې مسلمان دزائد از ضرورت رقم ضرورت مند افرادو ته ورکړي يعنی داجرت په ډول نه، بلکه دهديې يا صدقې په طور ترکومه چې داجرت تعلق دی نو ددې مسئله په جواب نمبر۱ تيره شوه.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲/ ۱۱/ ۱۴۰۱ھ (فتوی نمبر ۳۲/۱۲۵۳ح)

دمدرس لپاره دايام غير حاضری دتنخوا حکم

سوال واعظ مدرس دصاحب مجلس دطرف څخه عطيه يا دوعظ اجرت ورلو وروسته دمدرسې څخه دغير حاضری ورځو تنخوا ورل جائز ده که نه؟

(۱) وړاندنی صفحې حاشيه وګوری.

جواب: كه يې د مدرسې څخه باضابطه رخصت اخستى وى او پر وعظ يې داجرت نه اخستلو كومه معاهده د منتظمين مدرسه سره نه وى كړې نو جائز ده (۱)

والله سبحانه وتعالى اعلم / احقر محمد تقى عثمانى عفى عنه ۱۳۸۸/۱/۱۹ھ

(فتوى نمبر ۱۷۱ / ۱۱۹ الف)

الجواب صحيح بنده محمد شفيع عفى عنه ۱۳۸۸/۱/۲۱ھ

---

(۱) فى الشاميه ج۴ ص ۴۱۹ (طبع سعيد) اما لو شرط شرطًا تبع كحضور الدرس ايامًا معلومة فى كل جمعة فلا يستحق المعلوم الا من باشر خصوصًا اذا قال من غاب عن الدرس قطع معلومه فيجب اتباعه وتمامه فى البحر .

په امامت د ناغه كولو پر بناء د تنخوا كټولو حكم

سوال په تنخوا د امام كه لمنځونه ناغه كړى نو هغه ته د پوره تنخوا وركول جائز دى كه نه ؟ كه ناجائز وى نو اصرار په صورت كي اكل حرام مرتكب دى كه يا ؟ په داسي صورت كي په هغه پسي اقتداء صحيح ده كه يا ؟

جواب: د تنخوادار پيش امام ته د معاهدې خلاف ناغه كول جائز نه ده ، كه په معاهده كي دا خبره شوى وى د جائز رخصت څخه علاوه ناغه باندى به تنخوا نه وركوله كيږي نو هغه ته د پوره تنخوا حق نشته (۱) كه هغه په غفلت يا بې توجهى سره پوره تنخوا وړې وى ، نو هغه ته دې تنبيه وركړل شي ، او كه ددې سره هغه تنخوا واجب الرد حصه رد

---

(۱) ولى امام اجير خاص دى چى تسليم دنفس او وقت يې كړى دى داجرت مستحق دى ، كه ناغه يې كړى نو داجرت مستحق نه دى .

وفى الدر المختار ج۶ ص۶۹ والثانى وهو الاجير الخاص ويسمى اجير وحد وهو من يعمل لواحد عملاً مؤقتًا بالتخصيص ويستحق الاجر بتسليم نفسه فى المدة وان لم يعمل كمن استوجر شهرًا للخدمة او شهرًا لرعى الغنم المسمى بأجر مسمى .

وفى الهنديه ج۴ ص ۵۰۰ والاجير الخاص من يستحق الاجر بتسليم نفسه وبمضى المدة ولا يشترط العمل فى حقه لاستحقاق الاجر .

او ناغه كولو په تنخوا كى په صراحت سره په مبسوط كي موجود دى :

ولو كان يبطل من الشهر يومًا او يومين لا يرعاها حوسب بذلك من اجره سواء كان من مرض او بطالة لانه يستحق الاجر بتسليم منافعه وذلك ينعدم فى مدة البطالة سواء كان بعذر او بغير عذر . المبسوط للسرخسى ج۱۵ ص۱۶۲ .

وفى الشاميه ج۶ ص۴۵ (طبع سعيد) ووجه الفساد ان مقتضى العقد ان لا تلزم لاجرة مدة العطلة قلت او كثرت .

ددې سره امداد المفتين ص۸۶۲ وګورئ

امام يترك امامة لزيارة اقربائه فى الرساتيق اسبوعًا او نحوه او لمصيبة او لاستراحة لا بأس به ومثله عفو فى العادة والشرع

د تفصيل لپاره فتاوى دار العلوم ديوبند عزيز الفتاوى ص۶۶۵ وګورئ .

نه کړي او دې عادي وي نو تر څو چي توبه ونه باسي نو په هغه پسي لمونځ کول مکروه دي ، لکن فاسد نه دی.

والله اعلم / احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۴ / ۲ / ۱۳۸۸ھ (فتوی نمبر ۲۵ / ۱۱ الف)

د سودي معاملاتو دوجهی دحکومت دهر ملازم تنخوا دناجائز بللو حکم

سوال زما يو دوست دی هغه وايي چي نن ورځ چی ملازمان تنخوا اخلی هغه حرام ده ولی چی حکومت سودی کاربار کوی ، او د سودی رقم څخه موږ ته تنخوا راکوي نو په دې اړه ستا څه رايه ده ؟.

جواب: ستا د دوست خيال صحيح نه دی ، دحکومت ټوله آمدني د سود نه ده بلکه ډيرو ذرائع آمدني لری ، په دې صورت کی د تنخوا وصول کول شرعًا جائز او درست ده (۱)

والله اعلم ۲۸ / ۱۱ / ۱۳۹۶ھ (فتوی نمبر ۲۷۵۱ / ۲۷ و)

په غلط بياني سره د سواري الاؤنس وصول کولو حکم

سوال: زه د سکول ملازم يم موږ ته د سواري الاؤنس راکول کيږي ، که د دفتر او اسکول فاصله درې نيم ميله څخه زيات وی ، نو هغه ته ماهانه پنځويشت روپۍ ورکول کيږي ، او که اونيم ميله وی نو ديرش روپۍ ورکول کيږي ، اوس که کوم شخص د اسکول څخه په يو ميل کی وی او په غلط بيانی سره ووايي چی زه اته ميله ليري يم ، او مطلوبه رقم ورته ورکړل شي نو دا جائز دی ؟

جواب په غلط بيانی سره دحکومت څخه د قانون خلاف الاؤنس وصول کول جائز نه دی ، او افسر که په دې خبر وی نو هغه هم ورباندي ګناه ګار دی.

والله اعلم ۲ / ۱ / ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۵۸ / ۲۸ الف)

(۱) ولی چی غالب حلال وی نو دهغه څخه تنخوا وصول جائز دی .

داختري د پوستو او سرسايو څخه دامام تنخوا ورکولو حکم

سوال: ايا پيش امام ته سرسايه او داختري پوستونه ورکول جائز دی ؟ او که امام بالکل غريب وی او په کور کي هم زيات وي ، تنخوا يې هم کمه وی ، دغه شيان په اجرت کي نه وي بلکه صرف لله يې ورکوي ايا دا ډول ورکول جائز دی ؟

جواب: که پيش امام صاحب د نصاب مالک نه وی ، نو هغه ته سرسايه او داختريانو پوستونه ورکول جائز دی او که هغه مالک د نصاب وی نو جائز نه دی (۱)

والله اعلم / احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۲۰ / ۱۲ / ۱۳۸۷ھ (فتوی نمبر ۱۴۵۴ / ۱۸ الف)

او دا په اجرت کي ورکوي او که په خدمت کي ؟ د دې فيصله يوائي امام او مقتدی دی دالله په حضور کي وکړي ، که کوم څوک داختری پوست يا سرسايه بل ته ورکړي او امام يا دامام همدرد ناراض نه شي نو دغه خبره د خدمت ده نه داجرت ، او که امام شکايت کوي نو بيا اجرت دی ، دالله څخه وويريږئ غور او فکر وکړئ (۲)

کتبه العبد الحقير / محمد عاشق الهی بلند شهری

بې د سواری راتلو د سرکاري ملازم لپاره د کرايې د سواري حکم

سوال: فيډرل حکومت ملازمينو ته د سواري کرايه ورکوی ، د دې حد هم مقرر دی چی د درې نيم ميل فاصلې والا ته پنځويشت روپۍ او د اونيم ميل فاصلې والا ته ديرش

(۱) وفی الدر المختار ج ۲ ص ۳۳۹ (طبع سعيد) مصرف الزكاة هو فقير وهو من له ادنى شيئ) ای دون نصاب او قدر نصاب غير نام مستغرق فی الحاجة .
وفی الهنديه كتاب الزكوة ج ۱ ص ۱۸۹ ولا يجوز دفع الزكوة الى من يملك نصابًا .... الخ .
(۲) ولا يجوز دفع الزكوة الى من يملك نصابًا ... الخ .

روپۍ دی، څوک په دې ښار کي اوسیږي، چیرته چی دده ډیوټی وی، یعنی داسکول
ملازم وی او د اسکول څخه څلور پنځه سوه ګزه کي وی، د بس یا د بل شي په وسیله
سکول ته نه راځي لکن په بل کي هره میاشت دیرش روپۍ درج کوي او دا عذر کوی چی
زما کور هم لیری دی، میاشت کي یو ځل زه هم کورته ځم داډول د کرایې الاؤنس اخستل
جائز دی که نه؟

جواب: که دغه کرایه د تنخوا جزء وی نو په هر حال د هغه اخستل جائز ده، لکن
حکومت تفصیل په کي کړی دی چی د کور څخه په دونه میله وي نو کرایه یې دونه ده، دا
ددې خبرې ښکاره دلیل دی چی دغه رقم د تنخوا جزء نه دی بلکه کرایه ده، لهذا په دې نام
وصول کول شرعًا جائز خو نه چی دی واقعة د کور څخه کرایه ورکوي، او که فاصله زیاته
ولیکي نو کرایه وصول کوي جائز نه دی، او دا تأویل هم درست نه دی چی د اصل کوره
څخه لیری دی، ولی چی حکومت د اصلی کور کرایه نه ورکوي نو ددې روپو واپس کول
ضروری دی ددې څخه صدقه کول جائز نه دی مګر که حکومت ته د واپس کولو صورت نه
وی، نو بې د ثواب د نیت څخه دی صدقه کړل شي. (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۸/۱۱/۱۳۹۲ھ (فتوی نمبر ۲۷۵۱/۲۷و)

داوور (زیات) وخت ورکولو بغیر د تنخوا وصول کولو حکم

سوال: زه په یوه اداره کي د ټایپسټ ملازمت کوم، ددې ادارې افسر تر ټولو غټ
افسر ده، په دې اداره کي هره میاشت دیرش ګانټې اوور ټائم ورکول کیږي، دورځی یوه
یا یونیمه ګینټې په حساب، د دفتر ټائم څخه همیشه یوه یوه نیمه ګنټه کار کیږي، اکثر
اوقات موږ پر دوې بجې کور ته ځو، ولی چی کار زیات وی، ایا موږ ته بغیر د زیات
کار کولو د زیات رقم وصول جائز دی؟ او زموږ افسر ته هم دا معلومه ده چی کله ناکله
زیات کار نه وی شوی، ددې سره سره د دیرش ګنټو د زیات کار کولو تنخوا ورکول کیږي.

(۱) وفی الشامیه ج۵ ص۹۹ والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم والا فان علم عین
الحرام لا یحل له ویتصدق به بنیة صاحبه ... الخ.

جواب: داوور ټائم په نام چي رقم ورکول کیږي هغه وقت جائز دی چی واقعة هم
زیات کار وکړي، کوم ورځ چي زیات کار شوی دی، هغه جائز دی، که افسر واقعة
د ملازمینو خیر خواهي کوی، نو تنخوا دی ورزیاته کړي لکن اوور ټائم په نامه دی په
غلط بیاني شرعًا اجازت نشته.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۰/۱۱/۱۳۹۲ھ (فتوی نمبر ۲۵۱۴/۲۷ه)

په غلط بیاني کولو سره د تنخوا د اضافه کولو حکم

سوال: په غلط بیانی سره د تنخوا زیاتول جائز دی که یا؟ او ددې دلیل داوایي چی
حکومت تنخوا نه زیاتوی او ګراني زیاته ده، او که په شخصی شرکت کي وایي نو دونه
تنخوا به یې زیاته شوې وای، او په غلط بیانی سره تنخوا زیاتولی شي که یا؟

جواب: په صورت مسؤله کي چونکه هغه شخص غلط بیان ورکړی دی نو دغه
عمل جائز نه دی.

والله اعلم بالصواب احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۷/۱۲/۱۳۸۷ھ (فتوی
نمبر ۱۴۳۲/۱۸الف)

الجواب صحیح محمد عاشق الهی.

د زکوة او صدقاتو د رقومو څخه د مهتمم او مدرسینو او ملازمینو تنخوا ادا کولو حکم

سوال: زید د مسجد خطیب دی، په دې مسجد کي یوه وړه مدرسه ده، چي د هغه
مهتمم زید دی، دا مدرسه اقامتي ده طلباؤ، اساتذه، باورچي د ټولو د خوراک انتظام
د مدرسې ذمه ده، د زید د اعتماد، تعلق او په کوشش سره د حاصل شده چندې په آمدني
سره مدرسه روانه ده، د مالي ګنجائش په وجه کوم اکاونټ هم نه لري زید د آمد او خرچ
حساب کوي، ایا زید ته از روی شرع جائز ده چی ددې مدرسې د فنډ څخه مشاهره واخلی
؟ او د مدرسې کمیټی هم نشته په خپله خپله تنخوا مقرر کولی شي؟

جواب: اول ضروری خبره خو داده چې دمدرسينو ، مهتمم او نورو ملازمينو تنخوا دزكوة او صدقات واجبهٔ څخه شرعًا نه شي وركولی لهذا كه مذكوره رقم دزكوة وی نو دهغه څخه مدرسينو ته تنخوا نه شي وركولی ، نه په خپله تنخوا اخستلی شی ؟هو ! كه رقم دزكوة څخه علاوه دعامي چندې وي نو دهغه څخه دمدرسينو او ملازمينو تنخوا وركولی شي او مهتمم هم دهغه څخه تنخوا وصول كولی شي ، البته تنخوا تعين كولو لپاره بهتره داده چې دچنده دهندګنو رائ معلوم كړل شی او تنخوا بالمعروف وی ، يعنی په دې ډول مدرسه ددې ډول كاركوونكی عمومًا تنخوا څو مقرر وی ؟ دهغه څخه زائد مقرر نه كړی شي ، او موضع دتهمت څخه ځان وساتی ، او داحتياط تقاضا داده چې نور مدرسين او ملا زمين په مشوره كي ورسره واخلي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۱ /۱۰/ ۱۳۶۵ھ (فتوی نمبر ۲۴۲۵/۲۷ ه)

فصل فی الاجارة علی المعاصي

(په مختلف ناجائز او معصيت كي دملازمتو احكام)

دسودي كاربار كولو والا سره دمالياتي اداري دملازمت دآمدني حكم

سوال: زه په يو مالياتی اداره كی كار كوم هغه سودي كاربار كوی ، يعنی بعض كمپنيانو ته سود وركوي او بعضو ته بيا په نفع او نقصان روپۍ وركوي ، او نفع هم په فيصدي سره وركوي ، يعنی پنځلس فيصد كلنۍ وركوي ، كه نقصان وشی نو پنځه فيصده وركوي ، بلكه دنقصان په صورت كي هم ددوی منافع وی ، ولی پندره فيصد منافع حصه وی نو ددې برابر كمپنۍ دسرټيفكيټس يعنی حصص اخلی ، ددې څخه علاوه دسودي كاغذات ليكل هم شامل وی ، چې ستا پر ذمه دومري سودی دی ، هغه ادا كړه او دسود راكړه وركړه كوي ، بعض اوقات چاته چې قرضه وركوي ، نو دهغه لپاره دكمپنۍ معاينه هم كيږي ، اوس ستاسي څخه غوښتنه كيږي چې دشريعت په چوكاټ كي راته جواب راكړه ، چې دغه ډول نوكري جائز ده ؟ يا ناجائز؟ يا بل كوم صورت دی ؟ او زما شمار به په سودي كاتبانو كي وي كه يا ؟

او ددې به پر ما څومره ګناه وي ؟ او دغه سود كول په اسلام كي ذكر راغلی دی كه يا ؟

جواب: دادارې چي تا تفصيلات ليكلی دی ، كه هغه درست وی نو ددې ادارې اكثر امدني سود يا بل ناجائز كار ، يا په دې اداره كي تاته دسود دكاربار دحساب كتاب كولو كار وي ، نو په دې اداره كي كار كول جائز نه دی [1] په داسي صورت كي تاته پكار كه اداره كي اكثر آمدنی دسود يا دبل ناجائز كار وی نو دهغه آمدني حرام ده او دحرام څخه اجرت حاصلول جائز نه دی ، څنګه چي لاندني فقهي عبارات كي يې ذكر شوی دی .

(۱) وفی صحيح البخاری كتاب الطلاق رقم الحديث ۵۵۰۵ عن ابن مسعود ﷺ قال : لعن رسول الله ﷺ اكل الربوا وموكله ، وكذا فی الصحيح لمسلم رقم الحديث ۲۹۹۴ و ۲۹۹۵ .

فی الدر المختار ج۶ ص۳۸۵ (طبع سعید) وفی الاشباه الحرمة تنتقل ، وفی الشامیه تحته ، قال الشیخ عبدالوهاب الشعرانی فی کتاب المنن وما نقل عن بعض الحنفیة من ان الحرام لا یتعدی الی ذمتین سألت عنه الشهاب ابن الشبلی فقال هو محمول علی ما اذا لم یعلم بذلک اما من رأی المکاس یأخذ من احد شیئاً من المکس ثم یعطیه آخر ثم یأخذه من ذلک الآخر فهو حرام .

وفی الهندیه ج۵ ص ۳۴۲ (طبع رشیدیه کوئته) لو ان فقیراً یأخذ جائزة السلطان مع علمه ان السلطان یأخذها غصباً ایحل له قال ان خلط ذلک بدراهم اخری فانه لا بأس به وان دفع عین المغصوب من غیر خلط لم یجز ... وقالا لا یملک تلک الدراهم وهی علی ملک صاحبها فلا یحل له الاخذ ... الخ .

وفیها ایضاً ج۵ ص۳۴۲ ولا یجوز قبول هدیة امراء الجور لان الغالب فی مالهم الحرمة الا اذا علم ان اکثر ماله حلال بأن کان صاحب تجارة او زرع فلابأس به لان اموال الناس لا تخلوا عن قلیل حرام فالمعتبر الغالب وکذا اکل طعامهم ... الخ .

وفیها ایضاً ج۵ ص۳۴۳ آکل الربوا وکاسب الحرام اهدی الیه او اضافه وغالب ماله حرام لا یقبل ولا یأکل مالم یخبره ان ذلک المال اصله حلال ورثه او استقرضه وان کان غالب ماله حلالاً لا بأس بقبول هدیته والاکل منها .

چونکه داداري اکثر آمدني جائز وی مگر په اداره ناجائز کارونه کیږي ، مثلا سود حساب وکتاب کول ، نو داسي ملازمت معصیت باندی داشتمال په وجه ناجائز دی چي په دې فقهي عباراتو کي یې ذکر شوی دی .

وفی الهدایة باب الاجارة الفاسدة ج۳ ص۶-۳ (طبع مکتبه رحمانیه) ولا یجوز الاستیجار علی الغناء والنوح وکذا سائر الملاهی لانه استیجار علی المعصیة والمعصیة لا تستحق بالعقد .
وکذا فی خلاصة الفتاوی کتاب الاجارات جنس آخر فی المتفرقات ج۳ ص۱۱۶)
وفی الهندیة ج۴ ص۴۴۹ (طبع رشیدیه) ولا تجوز الاجارة علی شیئ من الغناء والنوح والمزامیر والطبل وشیئ من اللهو وعلی هذا الحداء وقرأة الشعر وغیره ولا اجر فی ذلک وهذا کله قول ابي حنیفة وابي یوسف ومحمد رحمهم الله تعالی کذا فی غایة البیان لو استأجر لتعلیم الغناء او استأجر الذمی رجلاً لیخصی عبداً لا یجوز ... الخ .
وفی الدر المختار کتاب الاجراة مطلب فی الاستجار علی المعاصی ج۶ ص۵۵ (طبع سعید) ولا تصح الاجارة لعسب التیس وهو نزوه علی الاناث ولا لاجل المعاصی مثل الغناء والنوح والملاهی ولو اخذ بلاشرط یباح .

ده چي کومه بله د حلال روزي تلاش وکړي او ددې اداري څخه ځان گوښه کړي ، تر څو چي بل کار پیدا کوي تر هغو ددې ناجائز کار باندی استغفار کوه ، او ژر ترژر د بل کار پیدا کولو پوره کوشش کوه . والله اعلم .

د بینک د ملازمت تفصیلی حکم

سوال: د بینک په باب د مسئله سوال کوم د بعض علماء څخه مي اوریدلی دی چي فتوی داده چي د بینک بعض ملازمتونه جائز دی ، ایا دا صحیح ده ؟ او زما په خیال کي د بینک ټولو ملازمتونه ناجائز دی ، ولي چي د بینک هر ملازمت چي وي په هغه کي اعانت او تعاون ده لهذا هغه ناجائز دی ، او تنخوا یې هم د ناجائز او حرامو څخه ده ، لهذا په دې وجه هم جائز نه دی ، ایا دا خبره صحیح ده یا نه ؟ که د بینک کوم کار جائز وی نو د کوم قسم ملازمت کول او په څه وجه جائز دی چي تنخوا یې د حرامو څخه وي ولي چي تنخوا یې د بینک څخه ورکول کیږي ؟

جواب: محترم ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

ستا دوهم سوال چي په انگریزی سره ؤ د هغه جواب هم په اردو کي په دې وجه د رکوم چي ته په اردو باندی پوهیږي .

په اصل کي د بینک د ملازمت ناجائز کیدلو دوې وجهي دی ، یو دا چي د بینک په ملازمت کي د سود وغیره ناجائز معاملات کي اعانت وي بل دا چي تنخوا د حرام مال څخه ورکول کیږي ، او وجه یعني په حرامو کارو کي مدد کولو چي تر کومه تعلق دی ، په

وفی الشامیه تحته وفی المنتقی امرأة نائحة او صاحبة طبل او زمر اکتسبت مالا ردته علی اربابه ان علموا والا تتصدق به وان من غیر شرط فهولها ، قال الامام الاستاذ : لا یطیب والمعروف کالمشروط ... الخ .

وفی الهندیة ج۴ ص۴۱۱ ومنها (ای من شرائط صحة الاجارة) ان یکون مقدور الاستیفاء حقیقة او شرعاً فلا یجوز استئجار الآبق ولا الاستئجار علی المعاصی لانه استئجار علی منفعة غیر مقدور الاستیفاء شرعاً .

وفی بدائع الصنائع ج۴ ص۱۸۹ ... وکذا کل اجارة وقعت لمظلمة لانه استئجار لفعل المعصیة فلا یکون المعقود علیه مقدورة الاستیفاء شرعاً .

شریعت کي د مدد مختلف درجې دی ، هر درجه حرام نه ده (۱) بلکه یو اخي هغه معاونت ناجائز دی چی براه راست حرام کار وی ، مثلاً په سودی معامله کي د سود معاهده لیکل ، د سود درقم وصول کول وغیره ، (۲) لکن که براه راست سودی معامله کي انسان ملوث نه وی ، بلکه ددې کار په نوعیت کی ورداخل وی لکه د بینک موټر چلول وغیره نو هغه براه راست مدد نه دی په هغه کي گنجائش شته .

ترکومه چي د حرام مال څخه تنخوا اخستلو تعلق دی په دې اړه د شریعت اصول دادی چی که یو مال حرام او حلال سره مخلوط شي او حرام مال زیات وی نو د هغه څخه تنخوا یا هدیه اخستل جائز نه ده لکن که حرام مال کم وی نو جائز ده . (۳) د بینک صورت حال دادی چی په مجموعی مال یې د خو شیانو څخه جوړی دی ۱: اصل سرمایه ۲: دپازیتېرز روپی ۳: د سود او حرام کار آمدنی ۴: جائز خدمات آمدني ددې دولو د مجموعې یو اخي ۳ حرام دی باقی حرام نه دی ، او د هر بینک اول او دوهم نمبر اکثریت وی ، نو په دې وجه سړی نه شي ویلی چی مجموعي اعتبار سره حرام غالب دی ، لهذا د جائز کار تنخوا د بینک څخه وصول کول جائز ده .

---

(۱) مدد او اعانت مختلف درجات او دهغه تفصیل حکم لپاره دجواهر الفقه ج۲ ص۴۵۷ بیا تر ۴۵۹ پورې وګورې .

(۲) وفی مشکوة المصابیح باب الربوا الفصل الاول ج۱ ص۲۴۴ (طبع قدیمی کتب خانه) لعن رسول الله ﷺ آکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء ، رواه مسلم . ددې سره وړاندې مسئله هم وګورئ .

(۳) وفی الهندیه ج۵ ص ۳۴۲ ولا یجوز قبول هدیة امراء الجور لان الغالب فی مالهم الحرمة الا اذا علم ان اکثر ماله حلال بأن کان صاحب تجارة او زرع فلا بأس به لان اموال الناس لا تخلو عن قلیل حرام فالمعتبر الغالب وکذا أکل طعامهم وفیها ایضاً ج۵ ص ۳۴۳ آکل الربوا وکاسب الحرام اهدی الیه او اضافه وغالب ماله حرام لا یقبل ولا یأکل مالم یخبره ان ذلک المال اصله حلال ورثه او استقرضه وان کان غالب ماله حلالاً بأس بقبول هدیته والاکل منها .... الخ .

دغه بنیاد دی چی په دې وجه علماؤ دغه فتوی ورکړې ده چی د بینک داډول ملازمت چي په هغه کي حرام کار نه کیږي جائز دی ، البته احتیاط دادی چی ددې څخه هم اجتناب وکړي .

والسلام ۳/ ۴ / ۱۴۲۳ھ (۱)

د بینک کتابت کولو حکم

سوال: محترم مفتی صاحب ! السلام علیکم ، د سلام وروسته ستا خیریت غواړم

عرض دادی چی په صوبه سرحد پشاور کي د حسابیاتو په دفتر کي د مشر لیکونکي پر عهده گمارل شوی یم ، چی د هغه تنخوا نن ورځ دالاؤنسو او گراني سره سره ۲۲۰ روپی ده ، لکن ما په حبیب بینک کي درخواست ورکړی دی ، چي د هغه په ټسټ ، انټرویو وغیره کي زه کامیاب شوم ، او اوس کراچي ته ماته د غوښتلو خط راغلی دی یعنی زه منتخب یم ، دغه عهده د پروفیشنل آفیسر عهده ده ، او د هغه تنخوا نن ورځ تقریباً ۱۰۰۰ روپی ده ، چی د هغه د سودي کار بار څخه ته ښه خبر یې ، لهذا که راته په دې اړه فتوی راکړې نو زیات شکر گذاره به یم ، فتوی که ښه په وضاحت سره وی چی زه دغه نوکری پریږدم او د بینک نوکري وکړم که یا ؟

جواب د بینک ملازمت شرعاً حرام او ناجائز دی (۲) او د حرام آمدني که زیاته وی که کمه مگر د مسلمان لپاره پکار ده که بې کار وي که یې کمه تنخوا وی پر هغه قناعت وکړي او د حلال کار کول او د حرامو پریښوول د دنیا او د آخرت کامیابي ده .

---

(۱) دغه فتوی مفتی صاحب په جواب خط کي لیکلې ده .

(۲) د بینک او دهغه بینک دملازمت حکم چي په هغه سودی معاملات تر سره کیږي تفصیلي حکم په سابقه فتوی کي وګورئ .

وفی تکملة فتح الملهم ج۱ ص ۶۱۹ قوله : وکاتبه لان کتابة الربا اعانة علیه ومن هنا ظهر ان التوظف فی البنوک الربویه لا یجوز فان کان عمل الموظف فی البنک ما یعین علی الربا کالکتابة او الحساب فذلک حرام لوجهین الاول اعانة علی المعصیة ، والثانی اخذ الاجرة من مال الحرام .... الخ .

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳۹۹/۹/۷ ھ (فتوی نمبر ۱۵۸۸/۳۰ج)

دبینک دملازمت حکم

سوال ۱: دبینک ملازمت شرعي څه حکم دی؟
۲: که ملازمت بې اختیار کړی وي نو پرېږدي او که نه؟

جواب: دبینک ډېر کار بار پر سود ولاړ وي دهغه ملازمت کول جائز نه دی، ۲: بل جائز کار تر پیدا کولو پورې چې په پوره کوشش سره نو تر هغه دی ددعا او استغفار سره پاته وي، او کله چې پیدا شو نو بې پرېږده، او بیا چې الله ﷻ توفیق درته درکړي نو دبینک روپۍ رفته رفته صدقه کړه.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳۹۸/۲/۸ ھ (فتوی نمبر)

تر حلال روزګاره پورې دبینک ملازمت دجاري ساتلو دمشورې شرعي حیثیت

سوال: محترم ومکرم جناب مفتی صاحب! اطال الله بقائه
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
ستا توجه دمسئلې خواته راګرزوم، هغه دبینک دملازمت په اړه، زموږ معاشره سودی معاشره ده، ربا قمار نوی نوی شکلونه غوره کړی دی، هغه دترقیاتی سکیمو په نامه راوزی، دبینک ملازمت اشد حرام دی، په دې بنیاد بعض خلک علماؤ ته مخه کوي او دځان دخلاصون لاره غواړي، او په ډېر معصومیت سره خپل رنجیده حال ورته بیانوي، که زه دغه ملازمت پرېږدم، نو زما مسکین ښځه، بچیان او لوني او دمعمر، ضعیف معذور والدینو او پیغلانو خوندو به څه حال وی، سوا ددې حرام تنخوا، اهل علم حضرات وربانډی درحم او شفقت لمخي دهغو غالبًا متفقه طور باندی یو جواب وي هغه تاسي ته ښه معلوم دی، چې دهغه مختصر خلاصه داده: چې دبینک ملازمت حرام دی، او دهغه تنخوا حرام ده، لکن دبل ملازمت تلاش جاري وساته او تر څو چې متبادل صورت نه وی نو دحرام ملازمت هم کوه، او ددې حرامو روپو څخه داولاد او والدینو

خوندو حقوق ادا کوه، دایماني تنز او ددې بې سره ګراني، دزیاتو اخراجاتو او هوی پرستی په دور کې دیو بینک منیجر لپاره دونه همدردي کافی ده، دجواز دغه فتوی هغه دالله او درسول سره مقابلې ته تیار کړي، دبنده څخه هم په دې اړه په وار وار سوال شوي ده، زړه په هیڅ صورت دجواز فتوا ته اماده نه شو، ته زموږ لپاره مشعل راه یې په خالی ستاسي دروازې ته ولاړ یم ددې آیت: (فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ) سره سم دقرآن او حدیث، او اقوال فقهائي کرام او دقواعد فقهیه په رڼا کې دلائلو سره مفصل جواب راته راکړه. جزاکم الله خیرًا.

جواب مکرم بنده زید مجدکم السامي! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.
کومه خبرې چې کیږي هغه دجواز فتوی نه ده، فتوی دحرمت ده (۱) او دمشورې په ډول ورته ویل کیږي، چې موجوده ملازمت دترک کولو دناقابل برداشت تنګي ددفع کولو لپاره ملازمت دحرام بللو باجود دبل ملازمت دتلاش کولو سره لکه څنګه چې بې روزګاره یې تلاش کوي، که تنخوا کمه هم وي، کله چې پیدا شي نو دبینک ملازمت ترک کړه، ما دخپل والد ماجد ﷫ څخه اوریدلی دی چې ددې مشورې حاصل داهون البلیتین باندی عمل کول دی، ولې چې بعض اوقات ترک ملازمت وروسته دفقر او فاقې سره مبتلاء کیدلو فکر وي، او خلګ دنوری بې دینې خواته کشوي، او زما یاد دی چې حضرت والد صاحب دغه خبره دحکیم امت قدس سره څخه هم نقل کوله، مګر احقر دا خبره جزمًا یاد نه ده.

---

(۱) وفی الصحیح للامام مسلم رقم الحدیث ۳۹۷۲ لعن رسول الله آکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء، مشکوة شریف ج۱ ص۲۴۴ (طبع قدیمي)
وفی تکملة فتح الملهم ج۱ ص۶۱۹ (قوله وکاتبه) لان کتابة الربا اعانة علیه ومن هنا ظهر ان التوظف فی البنوک الربویه لا یجوز فان کان عمل الموظف فی البنک ما یعین علی الربا کالکتابة والحساب فذلک حرام لوجهین الاول اعانة علی المعصیة، والثاني اخذ الاجرة من المال الحرام، فان معظم دخل البنوک حرام مستحلب بالربا واما اذا کان العمل لا علاقة له بالربا فانه حرام للوجه الثانی فحسب فاذا وجد بنک معظم دخله حلال جاز فیه التوظف للنوع الثانی من الاعمال والله اعلم. ددې سره دوړاندینو مسئلو حوالې هم وګورئ.

والسلام ۳/۳/۱۴۲۱ھ(۱)

دغير مذبوح حيوان غوښه پلورونكي شركت سره دحساباتو دنوكرۍ كولو حكم.

سوال: محترم مفتي صاحب ! السلام عليكم ورحمة وبركاته.

يو صاحب چې كينيډا ته دمعاش لپاره تللى دى، هغه يوه سوال كړې ده چې دشريعت محمد ﷺ څه حكم دى په دې اړه چې يو شركت چې راته يې دملازمت پيشكش كړى دى، دغه شركت غوښه سپلائي كوي، ظاهر ده چې په كينيډا كې دغه غوښه حلال نه ده، او ددې شركت تمام اشياء حرام دى، په دې كمپنۍ كې چې دغه صاحب ته پيشكش شوى دى، دغوښو څخه علاوه نور خوردني اشياء هم كار نشته، ددې شركت لخوا دغه صاحب ته دحساباتو دملازمت پيشكش ده، ددغه سوال داده چې ددې شركت ملازمت كول جائز دى كه يا ؟ خاص طور په دې صورت كې چې هغه هجرت كړى دى، او هغه دمعاش په تلاش كې دى، دڅه مدې څخه هغه هلته گرزي خو ملازمت نه دى ورته پيدا شوى.

جواب: په صورت مسؤله كې دمذكوره كمپنۍ داكاونټنټ ملازمت كولو گنجائش معلوميږي وجه داده چې دغه غير مذبوح غوښه اگرچې حرام ده، او زمونږ لپاره دهغه خريد او فروخت جائز نه دى، لكن دغير مسلم په نزد جائز ده، نو دفقهاؤ كرامو په نزد باندې داسې بيع نافذه ده او دهغه دماليت اعتبار شته، لهذا دهغه خريد او فروخت دهغه رقم حاصلول په عقد باطل سره نه دى، البته دمسلمان لپاره بذات خود ددې خريد او فروخت جائز نه دى، لكن دحساباتو ملازمت كه مسلمان وكړي او دې نه پلورې يواځې دشركت حسابيات كوي، نو اعانت على المعصية سره سره حرام نه دى، ولې دغه اعانت بعيده دى، لهذا حاجت وقت ددې ملازمت گنجائش معلوميږي بيا په پرهيز كولو

(۱) دغه فتوى دمفتي صاحب دجوابي خط كې وركړل شوې ده.

كې احتياط دى، او په دې مسئله كې دنور علماؤ څخه هم استصواب وكړى، كه دهغو جواب مختلف ؤ نو ماته هم اطلاع راكړى، متعلقه فقهي عبارات منسلك دى.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۸/۲/۱۴۲۲ھ (فتوى نمبر ۴۹۲/۷۵)

اړوند فقهي عبارت په لاندې ډول دى:

فى البحر ج ۶ ص ۷۰ طبع سعيد) قال تحت قوله (لم يجز بيع الميتة والدم) لانعدام المالية التى هى ركن البيع فانهما لا يعدان مالا عند احد وهو من قسم الباطل ... وفى القاموس الميتة ما لم تلحقه ذكاة وبالكسر للنوع آهـ فان اريد بعدم الجواز عدمه فى حق المسلمين بقيت الميتة على اطلاقها وان اريد الاعم للمسلم والكافر فيرادبها ما مات حتف انفه اما المنخنقة والموقوذة فغير داخلة لما فى التجنيس، اهل الكفر اذا باعوا الميتة فيما بينهم لايجوز لانها ليست بمال عندهم، ولو باعوا ذبيحتهم وذبحهم ان يخنقوا الشاة ويضربوها حتى تموت جاز لانها عندهم بمنزلة الذبيحة عندنا، وفى جامع الكرخى يجوز البيع عندهم عن ابى يوسف خلافًا لمحمد لابى يوسف انهم يتمولونها كالخمر ولمحمد ان احكامهم كأحكامنا الا فى الخمر وفى الذخيرة اراد بالميتة ما مات حتف انفه اما التى ماتت بالسبب كالخنق والجرح فى غير موضع الذبح فالبيع فاسد لا باطل، وكذلك ذبائح المجوس مال متقوم عندهم بمنزلة الخمر، كذا فى المعراج، وحاصله ان فيما لم يمت حتف انفه بل بسبب غير الذكاة روايتين بالنسبة الى الكافر وفى رواية الجواز وفى رواية الفساد واما البطلان فلا، واما فى حقنا فالكل سواء.

فی البنایة ج۷ ص۱۸۸ (طبع رشیدیه) تحت قوله (فالبیع فاسد کالبیع بالمیتة) والمیتة فی اللغة هو الذی مات حتف انفه وانما قید باللغة لتخرج المخنوقة وأمثالها فان ذلک عند من لیس له دین سماوی بمنزلة الذبیحة عندنا ، ولهذا باعوا ذلک عند من لیس له دین سماوی بمنزلة الذبیحة عندنا ولهذا باعوا ذلک فیما بینهم جاز ، وکره المصنف فی التجنیس وان کان میتة عندنا بخلاف المیتة حتف انفها فان بیعه فیما بینهم لا یجوز ولانها لیست بمال عندهم .

فی تبیین الحقائق ج۴ ص۳۶۲ (طبع سعید) قال بعد قوله لم یجز بیع المیتة ... لعدم رکن البیع وهو مبادلة المال بالمال ، وبیع هذه الاشیاء باطل لما ذکرنا .

وفیه ایضًا بعد اسطر : والاصل فیه ان بیع مالیس بمال عند احد کالحر والدم والمیتة التی ماتت حتف انفها والمدبر وام الولد والمکاتب باطل ، وان کان مالا عند البعض کالخمر والخنزیر والمیتة التی لم تمت حتف انفها ، مثل الموقوذة فان هذه الاشیاء مال عند اهل الذمة .

فی شرح الوقایة ج۳ ص۳۹ طبع رحمانیة) اعلم ان المال عین یجری فیه التنافس والابتذال فیخرج التراب ونحوه ، والدم والمیتة التی ماتت حتف انفه اما التی خنقت او جرحت فی غیر موضع الذبح کما هو عادة بعض الکفار وذبائح المجوس فمال الا انها غیر متقومة کالخمر والخنزیر .

فی الدر المختار ج۵ص۵۵ ، ۵۶ طبع سعید) قوله (کخمر وخنزیر ومیتة لم تمت حتف انفها) بل بالخنق ونحو فانها مال عند الذمی کخمر وخنزیر .

وقال الشامی تحت قوله (ومیتة لم تمت حتف انفها) هذا فی حق المسلم اما الذمی ففی روایة بیعها صحیح وفی اخری فاسد کما قدمناه عن البحر .

فی فتح المعین ج۲ ص۶۶ طبع سعید) تحت قوله (فبیع المیتة) یعنی التی ماتت حتف انفها اما غیرها مثل الموقوذة عند اهل الذمة کالخمر زیلعی .

وفیه ایضًا بعد اسطر ثم لا فرق فی حق المسلم بین التی ماتت حتف انفها او کانت منخنقة او موقوذة او ماتت بالجرح فی غیر الذبح اما فی حق الذمی فیراد بها الاول واما الثانی فاختلف فیه ففی التجنیس جعله من قسم الصحیح لانهم یدینونه ولم یحک خلافًا وفی الایضاح هو قوله ابی یوسف وعند محمد لا یجوز وجزم فی الذخیرة بفساده والموقوذة هی التی قتلت بالخشب .

فی الطحطاوی علی الدر (ج۳ ص۶۳ طبع بولاق مصر) تحت قوله (المیتة) بفتح المیم وسکون الیاء هی التی ماتت حتف انفها لا بسبب والمیتة بفتح المیم وتشدید الیاء المکسورة هی التی لم تمت حتف انفها بل ماتت بسبب غیر الذکاة کالمنخنقة والموقوذة والقسم الاول لیس بمال عند المسلمین واهل الذمة اتفاقًا والقسم الثانی لیس بمال فی حق المسلمین اتفاقًا وفی حق اهل الذمة اتفاقًا والقسم الثانی

ليس بمال فى حق المسلمين اتفاقًا وفى حق اهل الذمة روايتان وقال الشيخ كمال الدين انها فى حق الميتة شرعًا وانما نحكم بجوازه اذا وقعت بينهم لانها مال عندهم كالخمر كذا ذكره المصنف فى التجنيس من غير ذكر خلاف وفى جامع الكرخى يجوز بينهم عند ابى يوسف خلافًا لمحمد انتهى ملخصًا من حاشية المرحوم نوح وحاصله كما فى البحر .

وفى مجمع الانهر (ج ۳ ص ۷۷ طبع دار الكتب العلمية بيروت) تحت قوله (بيع ما ليس بمال الى قوله والميتة) التى ماتت حتف انفها لانه المنخنقة وامثالها مال عند اهل الذمة .

فى الدر المنتقى فى شرح الملتقى (ج ۳ ص ۷۸ طبع علميه) تحت قوله (بيع مال غير متقوم كالخمر والخنزير) وقال عبدالواحد وغيره البيع فيهما فاسد لا باطل كما فى النظم وكذا بيع ما مات بخنق وجرح كما فى الكشف لكن فى المحيط بيع منخنق المجوسى باطل خلافًا لمحمد وهكذا فى القهستانى (ج ۳ ص ۴۵۶) .

فى شرح المجلة (ج ۲ ص ۱۰۳ طبع مكتبه حبيبيه كوئته) وقوله المجلة باع جيفة اى ميتة ماتت حتف انفها ، اما لو ماتت بسبب غير الذكاة كالمنخنقة والموقوذة والمتردية ففى حق المسلم لا فرق بينها وبين الميتة حتف انفها من حيث بطلان البيع الى قوله واما فى غير المسلم ففى التجنيس جعله قسمًا من الصحيح لانهم يدينونه ولم يحك فيه خلافًا وجزم فى الذخيرة بفساده وجعله فى البحر من اختلاف الروايتين وفى البزازية على هامش الهندية ج ۴ ص ۳۷۲

(طبع رشيديه) وبيع المجوسى ذبيحة او ما هو ذبح عنده كالخنق من كافر جاز عند الثانى .

سودى بينک ته ځاى په کرايه ورکولو او دهغه لپاره دلالى کولو حکم

سوال ۱: د سودى بينک لپاره دځاى په کرايه ورکول جائز دى که يا ؟ دهغه څخه لاسته راوړل شوې کرايه حلال ده که حرامه ؟

سوال ۲: په مذکوره صورت کي دلالى جائز ده که يا ؟ د دلالى روپۍ حلالى دى که حرامى ؟ محمد عامر جامعة الرشيد کراچى.

جواب ۱: په جواهر الفقه کي اعانة على المعصية په باره کي مفصل تحقيق په دې اړه موجود دى هغه وګوره ، خلاصه داده چى که دغه ځاى خاص د مقاصدو د بينک لپاره وي نو جائز نه ده ورنه مکروه ده [1].

جواب ۲: کوم کار چى جائز وى هلته دلالى هم جائز ده [2] که کار جائز نه وى نو دلالى يې هم جائز نه ده. والله اعلم ۲۹ / ۱۲ / ۱۴۲۵هـ.

---

(۱) دجواهر الفقه خلاصه داده : که دې ته وکتل شي چى دځاى مالک که دبينک لپاره مناسبي کوټې جوړې کړې وي نه په دې کي کراهت تحريمي دى ، او که يوائځي دبينک لپاره نه وى نو بيا کراهت تنزيهى دى دتفصيل او دلائلو لپاره دجواهر الفقه ج ۲ ص ۴۳۹ بيا ۴۶۲ وګورى .

(۲) وفى الشاميه ج ۶ ص ۶۳ (طبع سعيد) مطلب فى اجرة الدلال قال فى التاتر خانية وفى الدلال والسمسار يجب اجر المثل وما تواضعوا عليه ان فى كل عشرة كذا فذاک حرام عليهم وفى الحاوى سئل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال : ارجوا انه لا بأس به وان كان فى الاصل فاسداً لكثرة التعامل وكثير من هذا غير جائز فجوزوه لحاجة الناس . وكذا فى البحوث فى قضايا فقهيه معاصره ص ۲۰۷ و ۲۰۸ .

فصل فی الاجارة الجدیدة والمتفرقة

(اجاره جدید او دمتفرق مسائلو بیان)

دانټرنیټ سروس مهیا کولو او دفیس وصول کولو حکم

سوال: حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب! السلام علیکم ورحمة وبرکاته.

عرض دادی چی زه ح، س، بټ دمکې مکرمې سره تعلق لرم او حضرت مولانا عبدالحفیظ مکی زما ماما دی و دهغه څخه ما دخپل کار دجواز سوال وکړه هغه راته وابینوولې، زه دانټرنیټ کیفی (هلته خلګ دنیټ استعمال کوی) خلاصول غواړم، څه وضاحت یې کوم، هغه دا چی په سعودي عرب کی دانټرنیټ مکمل طور سره صفا دی (یعنی دغیر اخلاقی مواد دحکومت لخوا بند شوی دی) او انټرنیټ خلګ په خپله طریقه استعمالوی، دمثال په طور څه خلګ دنلیفون لپاره یې استعمالوي چی تلیفون ورڅخه زیات هرزانه دی و څه خلګ یې دتعلیمي مصالحو لپاره استعمالوي، څه خلګ یې بیا دتجارتي کارولپاره استعمالوي، وغیره وغیره، مګر داحتیاط په خاطر دغه سوال کوم چی ایا ددې کار په شریعت کی جواز شته؟ امید دی چی دخپلې توجه سره به مې مستفید کړې، که په لیکلو کې څه کوتاهي وي نو معافی غواړم.

ستا ددعاؤ طالب او دجواب منتظرح، س بټ مکه مکرمه سعودی عرب.

جواب: که دحکومت لخوا څخه غیر اخلاقی مواد بند وي نو دا ډول انټرنیټ چلول او فیس وصول کول جائز دی.

والله سبحانه اعلم ۴/۱۲/۱۴۲۰ھ (فتوی نمبر ۸۱/۴۰۳)

دشرکت دموټر دخرابیدو په صورت کې دموټر دمرمت او متبادل انتظام برابرول یو جدید عقد او دهغه شرعی حیثیت

(عربی فتوی)

سوال: وما یقول الشیخ ادام الله عزه فی عقد خدمات یدفع فیه صاحب السیارة مبلغًا محددًا لشرکة تقوم باصلاح السیارة او نقله من طرق المدینة او الطریق السریع الی ای مکان یختاره اذا تعطلت سیارته، والخطورة هی فی الطریق السریع لانها بین المدن ولیست آمنة تمامًا واذا تعطلت السیارة فی ذلک الطریق الزمت الشرطة صاحب السیارة بنقلها علی الفور الامر الذی یکلفه ضعف ذلک المبلغ المحدد فهل یجوز التعاقد علی ذلک حیث لا یعرف هل تتعطل السیارة ام لا؟

سائلاً المولی عز وجل لکم التوفیق والسداد ودوام العافیة، وارجوا منکم الدعاء فنحن فی بلد غیر مسلم والله المستعان، والسلام عیکم ورحمة الله وبرکاته

راجی رحمة ربه / محمد علی محمد احداش

جواب: وسؤالک الثانی یتعلق بعقد صیانة السیارة ونعلها وان مثل هذه العقود قد انتشرت فی عصرنا مثل عقود صیانة السیارات، والحاسب الآلی والمعدات الکهربائیة وغیرها، والواقع ان هذا العقد لا ینطبق تمامًا علی احد من العقود المعروفة فی الفقه الاسلامی، فان اعتبرناه عقد الاجارة فانه لا یصح علی کونه متضمنًا للغرر(۱) فانه لا یعرف هل تحتاج السیارة الی صیانة او نقل ام لا؟ وقد کیفه بعض المعاصرین علی اساس الجعالة ولکننی غیر مقتنع تمامًا علی هذا التکییف فان عقود الجعالة تعتمد علی عمل نشأ سببه عند العقد، الا ان نقول: ان وجود السیارة یلزمه ان تحتاج الی صیانة فی وقت او آخر.

(۱) فی کتاب المبسوط: فی کتاب الشرب: قال ابو یوسف سألت أبا حنیفة رحمه الله عن الرجل استأجر النهر یصید فیه السمک او استأجر جهة یصید فیها السمک قال: لا یجوز .... وذلک کله من باب الغرر.

وبالجملة فلم ينشرح صدری حتی الآن علی تكييف مقبول لها العقد ، ويبدو انه اشبه بالتأمين منه بالجعالة او الاجارة ، وقد طرح الموضوع علی مجمع الفقه الاسلامی ولم يتمكن من اصدار قرار فيه حتی الآن ، ولكن الحاجة داعية الی مثل هذه العقود فی عصرنا فينبغی ان ينظر فيه الفقهاء ويلتمسوا له تكييفًا مقبولاً او بديلاً مناسبًا والله سبحانه اعلم.

والسلام عليكم ورحمة الله / اخو كم محمد تقی العثمانی ۲۹ / ۲ / ۲۰۰۴ م.

د پګړۍ شرعي حیثیت

سوال: په پګړۍ کور اخستل او هغه بیا په کرایه ورکول دا ډول کار بار جائز دی که یا ؟ د کرایې په صورت کې آمدني راځي هغه جائز ده که یا ؟

جواب: د پګړۍ لین دین شرعًا جائز نه دی البته کرایه چې څونه زیاته مقرر کړل شي نو صحیح ده ، او دا ممکن دی چې اول کرایه زیاته مقرر کړی او د وروسته میاشتو کمه ؟

والله سبحانه وتعالی اعلم ۵ / ۱۰ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۱۰۲۰ / ۲۸ ج)

د پګړۍ حکم

سوال: ایا دکان مثلاً په ۲۵ زره ونیسي او بیا یې په کرایه ورکړي جائز دی که یا ؟ او دا دکان د مالک په قبضې کې دی او مالک یې په کرایه ورکوي.

جواب: مروجه پګړۍ شرعًا جائز نه ده [1]

والله سبحانه اعلم ۱۴ / ۲ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۲۲۸ / ۲۸ الف)

د پګړۍ یو خاص صورت

(۱) فی البحوث فی قضايا مفقيه معاصره ص ۱۱۴ تحقيق مما ذكرنا ان البدل الخلو المتعارف الذی يأخذه المؤجر من مستأجره لا يجوز ولا يتطبق هذا المبلغ المأخوذ علی قاعدة من القواعد الشرعية وليس ذلک الا رشوة

د یو شریک د طرف د شرکت د ختم کولو په صورت بل شریک کرایه د کان د مد څخه د رقم ورلو حکم

سوال: زید او عمر دواړه په مال سره شریک ؤ ، دواړو د شراکت په زمانه کې د کان په کرایه نیولی ؤ ، پر دکان یوه کمره ده چې د هغې کوټې ځانته دروازه نشته ، البته دکان ته یې دروازه د یوه سرې دراتلو دروازه شته ، هغه دروازه هم عارضی ده ، په دې طریقه سره چې په دکان کې یوه عارضی زینه ده چې د هغې په وسیله سره سړی لوړې کمرې ته پورته کیدلی شی ، بیا د سړی دراکښته کیدلو لپاره بیا ځینه اینښووله کیږي ، دا خبره دی هم واضح وی چې د دکان لوړه کوټه چې د هغې بله هیڅ لار نشته ، مذکوره دکان یې دوې حصې کړی یوه حصه یې د شرکت د کار بار لپاره کړی ، اوس چې زید او عمر شراکت ختم کړی زید عمر ته وایي چې د کرایې دکان ته ونیسه ماته یې قیمت راکړه ، عمر په دې باندې راضی شو ، عمر د دې دکان قیمت په قسطو کې ادا کړو ، زید یو کال وروسته دعوا وکړه چې ماته قیمت ادا کړی هغه یواځې دلاندې پوړ دی ، د دکان لوړ پوړ کې زما حصه پاته ده ایا د ده حق په لوړ پوړ کې پاته دی؟

جواب: په صورت مسؤله کې د عمر پر ذمه نیمایي قیمت ادا کول واجب ؤ هغه چې ادا شو ، او کوم چې د دکان اړه ده نو هغه د خپل مالک بلل کیږي ، او د شریکین ملک نه دی ، دواړو په کرایه سره اخستی دی ، لهذا د دکان په سلسله کې پر عمر رقم پاته نه دی څونه رقم چې یې ورکړي دی هغه هم زیات دی ، په لوړ پوړ کې د زید دعوی بلکل باطل ده ، د عمر پر ذمه هیڅ واجب نه دی ، شریعت کې د پګړۍ لین دین جائز نه دی [1] والله سبحانه اعلم ۲۲ / ۱۰ / ۱۴۱۰ هـ (فتوی نمر ۱۲۱۵ / ۳۲ ج)

د پګړۍ صورت

(۱) وراندنی حوالې وګوری.

سوال: دلته كوټې وغيره په عمده عمده نيلام كيږي ، او ماهانه كرايه كي يو خاص مقدار مقرر كوي ، ددې باوجود مالک غټ غټ رقوم طلب كوي ، مسجد ته وقف شده كور او كوټه ليلام كول جائز ده كه يا؟

جواب: دغه دپګړۍ صورت او حق داستيجار او بيع دی چی دا يواځې يو حق مجرده دی ، او حقوق مجرده بيع شرعًا جائز نه دی نو داسي ليلام جائز نه دی (۱) والله اعلم ۲۹/ ۱۳۹۷/۱ ھ (فتوی نمبر ۱۹۲ / ۲۸ الف)

۱: دويزا لګولو اجرت حكم

۲: مختلفو غير قانوني طريقو سره دخلكو استول بهرنيو ملكو ته داجرت حكم

۳: يواځې دټكټ پلورلو دلائسنس علاوه دويزې لګولو كار كول

سوال: محترم مفتی صاحب ! په لاندينيو مسئلو دقرآن په رڼا كي تحقيق كولو سره دشريعت څه حكم دی ؟

۱: يو سړی غواړي چی دامريكا ، اورپا يا روس ويزه ولګوي ، هغه موږ ته راځي ، موږ هغه دهغه ملک دكونسلر سره مخ كوو چی هغه ته ويزا وركړي ، كه موږ دهغه سړی څخه زياتي روپۍ واخلو نو موږ ته حلال دی كه حرام ؟

۲: يو سړی موږ ته راځي وايي چی ما بهرني ملك ولېږدوه ، موږ ټريول شركت سره په خاص مقدار روپو متفق شو ، ددې وروسته دهغه تصوير دكوم بل سړي پر پاسپورټ باندي لګوو ، دچاچي ويزا لګيدلې وي ، او هغه دغه ويزا نه پيژني ، دهغه سره دوه پاسپورټه وي ، چي پر هغه دواړو باندي ويزا وي ، نو دهغه تصوير تبديل كړو او ايئر پورټ ته هم روپۍ وركوو چي هغه راباند نه كړي ، ايا داډول روپۍ ګټل جائز دی ؟

۳: ډيرو افغانيانو دپاكستان پاسپورټونه جوړ كړي دی او دسعودي عرب يا امارات وغيره ويزې يې وربانډی لګولې دی ، لهذا هغه چي كله ځي نو دهغو دنيولو

(۱) ايضًا

انديشنه وی ، نو هغه دټريول ايجنسي سره رابطه كوي ، ټريول ايجنسي والا ايئرپورټ والا ؤ ته روپۍ وركوي ، چي هغو ته اجازه وركړي ، ټريول ايجنسي لاله وړاندي څخه ددې لپاره روپۍ راګرزوي ، په دې صورت كي دټريول ايجنسي لپاره دغه روپۍ حلالي دی كه حرامي ؟

۴: ټريول ايجنسي دحكومتي لائسنس دوه ډوله دی ، يو صرف دټيكټو لپاره دی ، او بل دلائسنس لپاره دی ، لكن دواړه ايجنسياني دواړه كارونه كوي ، يعنې ټكټونه پلورل او حكومت دا پيژني خاموش دی ، يا داډول داجازت بغير دواړه كارونه كولو آمدني جائز ده ؟ برائي مهرباني دقرآن او حديث په رڼا كي راته فتوی راكړه.

۵: يو سړی دكار لپاره موږ ته روپۍ راكړې او يا دضمانت دپاره څه روپۍ كنبيايښوولې ، او دهغه كارونه شو هغه پشيمان شو ، دهغه روپۍ پر كارونه لګيدلې يا كمي ولګيدلې ، او چونكه هغه معاهده ماته شوه كه موږ دهغه څخه زياتي روپۍ واخلو نو حلال دی كه حرام ؟

جناب مفتی صاحب دمندرجه بالا مسئلو په اړه دقرآن او حديث په رڼا كي جواب مطلوب دی مهرباني وكړه جواب يې راكړه.

ارشد احمد ايئر انټر نيشنل ټريولز پشاور

(دمذكوره بالا استفتاء سره سائل دحضرت مفتی صاحب په نام درج ذيل خط هم ليكلی)

(خط ازسائل)

بخدمت جناب حضرت مفتي صاحب !

تر سلام وروسته عرض دادی زه په خير يم ستا خيريت دالله رب العزت څخه غواړم .

زه يو ادنی طالب علم يم يو خل لائبريري كي ستا كتاب سفرنامه (جهان ديده) مي لاس ته راغی ، كله چی می ولوست نو زه پوه شوم چي ماته دااسلامي تاريخ يو خزانه لاس ته راغله ، ددې څخه وروسته په پشاور كي ما دشيخ الحديث مولانا حسن جان صاحب څخه ستا په اړه سوال وكړه چي هغه ستا تعريف په دې ډول وكړ ، چي زما محبت ستا سره

نور هم زیات شو ، او اوس ستا د تصانیفو یو مجموعه زما سره موجوده ده ، او ستا سره دملاقات شوق لرم ، لکن مالی حالات او مصروفیاتو په وجه د کراچي سفر او دزیارت شرف تر اوسه لا راته حاصل شوی نه دی ، بهر حال که دغه خط تاته ورسيدو نو ته راته ستا قيمتي وخت راته فارغ کړه او په خو الفاظو کي راته په خپل لاس خط وليکه چي زما تسلی وشي ، چي ستا زيارت ماته نصيب شو ، نور خط نه اوږدوم چي ستا وخت ضائع کړم ، لکن د دعاؤ غوښتنه کوم چي په خپلو دعاؤ کي ناچيز هم ياد کړئ.

ارشد احمد

جواب: مكرم ومحترم ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

ستا خط راته ورسيدو تاچي د محبت اظهار کړی دی ، شکر گذاریم ، او ستا ددعاؤ طالب یم چی الله ﷻ دی راته رضائی کامله په نصیب کړي ، آمین ، تاته هم دعاوي کوم چی الله ﷻ دی په ټولو مقاصد حسنه ؤ کي کامیاب کړي ، ستا د سوالاتو جوابات په ترتیب سره په دې ډول دی:

١: دویزا حاصلول جائز محنت دی او ته وربانديِ اجرت اخستلی شي (١) لکن ددي لپاره هیڅ چاته رشوت ورکول جائز نه دی (١) او په رشوت سره د اجرت ډيرول جائز نه دی ، دویزې فیس قانوني وی ، هغه ته د خپل اجرت علاوه هم وصول کولی شي.

---

(١) لانه عمل مباح يجوز اخذ الاجرة عليه ويستأنس فى هذه المسئلة من العبارات الآتية :

فى الهندية الباب الثانى والثلاثون فى المتفرقات (ج٤ ص٥٢٦ طبع رشيديه كوئٹه) فى الكبرى اهل بلدة ثقلت عليهم مؤنات العمل فأستأجروا رجلا بأجرة معلومة ليذهب ويرفع امرهم الى السلطان الاعظم ليخفف عنهم بعض الحيف واخذ الاجرة من عامتهم غنيهم وفقيرهم ذكر ههنا انه ان كان بحال لو ذهب الى بلد السلطان تهيا له اصلاح الامير يومًا او يومين جازت الاجارة وان كان بحال لا يحصل ذلک الا بمدة فان وقتوا للاجارة وقتًا معلومًا فالاجارة جائزة والاجر كله له وان لم يوقتوا فهى فاسدة وله اجر مثله .

وفى فتاوى قاضى خان باب الاجارة الفاسدة ج٣ ص١٨ اهل بلدة ثقلت عليهم المؤنات فاستأجروا رجالاً باجر معلوم ليذهب الى السلطان ويرفع القصة ليخفف عنهم السلطان نوع تخفيف وأخذ الاجر من عامة اهل البلدة وان كان بحال لا يحصل المقصود فى يوم او يومين وانما يحصل فى مدة فان وقتوا الاجارة وقتًا

٢: دغه کار بلکل حرام دی ، دوکه ده ، دهغه اجرت حرام دی (٢)

٣: دغه کار هم بالکل حرام دی او ددې آمدني حرام ده.

٤: که دحکومت د طرف څخه قانونًا یا عملاً ددې اجازت وی نو جائز دی. ستا آخری سوال واضح نه دی نو دجواب څخه معذرت غواړم.

والسلام ٢ / ١ / ١٤٢١ هـ (فتوی نمبر ٧٤ / ٤٠٨)

په انشورنس کمپنۍ کي دملازمت حکم

سوال: دانشورنس داداري نمائنده جوړیدل یا بل کار کولو ملازمت په باره حکم څه دی ؟

جواب: په دې محکمه کي ملازمت کول جائز نه دی (٣)

والله اعلم حقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ٢٣ / ٥ / ١٣٨٨ هـ (فتوی نمبر ٥٩٢ / ١٩ الف)

دوکالت دپیشې په وسیله درقم دحاصلولو حکم

جازت الاجارة وله كل المسمى وان لم يوقتوا فسدت الاجارة وكان له اجر المثل على اهل البلدة على قدر مؤنتهم ومنافعهم ... الخ .

(١) وفى المشكوة كتاب الامارة والقضاء ج١ ص٣٣٧ (طبع رحمانيه) عن عبدالله بن عمرو قال : لعن رسول الله ﷺ الراشي والمرتشى .

(٢) ولى چى اجاره على المعاصى جائز نه ده دتفصیل لپاره وړاندنیو مسئلو ته رجوع وکړی.

(٣) وفى الهداية باب الاجارة الفاسدة ج٣ ص٣٠٦ (طبع مكتبه رحمانيه) ولا يجوز الاستيجار على الغناء والنوح وكذا سائر الملاهى لانه استيجار على المعصية والمعصية لا تستحق بالعقد.

وفى بدائع الصنائع ج٤ ص١٨٩ (طبع سعيد) وكذا كل اجارة وقعت لمظلمة لانه استئجار لفعل المعصية فلا يكون المعقود عليه مقدور الاستيفاء شرعًا ، وكذا فى الهنديه ج٤ ص٤١١ .

وفى تكملة فتح الملهم ج١ ص ٦١٩ فان كان عمل الموظف فى البنک ما يعين على الربا كالكتابة او الحساب فذلک حرام بوجهين الاول اعانة على المعصية والثانى اخذ الاجرة من المال الحرام ...

سوال: ايا دوكيل دوكالت په وسيله حاصل شوې روپۍ حلال دی ؟ او چي وكيل ته دربنتنې مقدمې د پيروي هم حقائقو رد وبدل پيش كول وی.

جواب: دوكالت په پيشه كي چي درواغ ويل او ناحق ثابت كول نه وی نو جائز دی لكن په كومه مقدمه كي دغه كارونه كيږي نو جائز نه دی او دهغه آمدني حرام ده.[1]

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۲/۲/۱۳۸۸هـ (فتوی نمبر ۱۵۳/ ۱۹الف)

۱: دملازمت دطرفی په زمانه كي دتنخوا حكم

۲: درشوت په وركولو دملازمت بحاله كول دملازم لپاره دطرفي دزمانې دتنخوا حكم

سوال: محترم ومكرم جناب مفتی صاحب ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته. عرض دادی چي په لاندينيو مسائلو كي دقرآن او سنت په رڼا كي جواب مطلوب دی.

زيد دپاكستان دايرفورس په ښاخ كي ملازم دی ، اداري څلور كاله وړاندي دملازمت څخه برطرف كړو چي ستا ددو طيار په پرواز كي شل يا پنځلس منټه تاخير

---

(۱) وفی نور الانوار ص۱۰۷ ان وكل احد رجلاً ان يخاصم المدعی عند القاضی يحمل علی مطلق الجواب لان الخصوصة هو الانكار فقط محقًا كان المدعی او مبطلا وهو حرم شرعًا لقوله تعالی : ولا تنازعوا ، فلا بد ان يصرف الجواب مطلقًا بالرب والاقرار مجازاً من قبيل اطلاق الخاص الی العام فلو اقر الوكيل علی مؤكله جاز عنده ... الخ.

وفی الهداية كتاب الوكالة ج۳ ص۱۷۶ ويجوز الوكالة بالخصومة فی سائر الحقوق لما قدمنا من الحاجة اذ ليس كل احد يهتدی الی وجوه الخصومات وقد صح ان عليًا وكل فيها عقيلاً وبعد ما اسن وكل عبدالله بن جعفر.

ددې سره دامداد الفتاوی ج۳ ص۳۲۰ وامداد الاحكام ج۳ ص۵۸۰ و۵۸۱ وعزيز الفتاوی ص۶۶۷ (طبع دار الاشاعت) وګوری.

راغلی دی ، حقيقت دادی چي ددې غلطی ذمه وار نور خلګ ؤ ، زيد ددې اداري مستند ، ديانت دار او محنتی او مستقل ملازم ؤ.

خير ! مقدمه په عدالتو كي روانه وه ، درې كاله وروسته دعدالت قاضي فيصله وكړه چي هغه ولي ايستل شوی دی ، دا يوه بيله خبره ده ، (ددې خبر ضرورت نه محسوسيږي) ددې ايستل چي په قانوني طور باندی ؤ هغه نه ؤ اختيار شوی ، نو دده ملازمت دی دوباره بحاله شي ، او دده ټول واجبات دی وركړل شي ، لكن اداري دغه فيصله ونه منله په عدالت عاليه كي يې مقدمه دائر كړه ، او درخواست يې وركړو چي كه ددغه قانوني سقم وي نو فيصله دي ورباندی وباسي ، عدالت عاليه كي تر ټولو لوی قاضی حكم وكړ چی تمام واجبات دی وركړل شي ، او تنخوا دی جاري شي ، كه فيصله شوې وای نو زيد به ټول واجبات وركول ، كله چی مقدمه يې وګټله نو ملازمت بحاله او ټول رقم ورته وركړل شول.

اوس زيد ته رقم وصول كولو وقت دی ، يعنی ماهانه تنخوا او دوړاندينيو واجباتو رقم ، لكن هغه وايي: چي ما په څلور كاله كي كار نه دی كړی ، او نه ماته دهغو دطرف څخه څه ويل شوی دی ، نو ماته چي كوم رقم راكول كيږي دهغه وصول كول جائز دی كه يا ؟ او مقدمه دګټلو په صورت كي ماته هلته دوباره ملازمت كول جائز دی كه يا ؟

اداره حكومت ده ، هر سړی ددې ملازم دی ، دغه شاخ داير فورس وړوكی دغټو ملازمينو په روپو سره قائم شوی دی ، ددې فائده خپله دوی او ايرفورت ته رسيږي ، زيد صرف ددې اداري ملازم دی ، دغه اداره دچا ذاتي ملكيت نه دی ، دلته دملازم راوستلو او ايستلو طريقه شرعي نه ده ، زموږ په اداري كي چي كوم قانون دی هغه مطابق كار وائي شوې ده.

زيد وايي: كه ماته دغه رقم او ملازمت دوباره جائز نه وی بلكه حرام وی نو زه هغه نه غواړم.

سوال۲: بالكل ددې سره جوخت بله مقدمه دی چي يو سړی د عدالت يو اهلكار ته څه رقم وركړل يعنی په رشوت وی دده په حق كي يې فيصله وكړه ، اوس دتنخوا بغير

دکار کولو وړي په دې کي شک نشته دغه سړی هم پر حق ؤ ، او دخپل جائز کار لپاره يې رشوت ورکړی ؤ بصورت دیگر دهغه پر خلاف فیصله کیدله اوس حکم څه دی ؟

جواب: دحکومت دقانون ماتحت دسرکاری ملازمینو (فوجي وي که سول) تقرر او تنزل یا معزولي وغیره چي په عمل کي راځي دهغه دقانون دنفاذ وروسته دفریقینو دمعاهدې سره سم کیږي ، او پر هغه باندی هغه احکام جاری کیږي چي په معاهده کي شرائط طی شوي وی ، نو دهغه شرائطو چي معاهده کي خلاف ورزي دقانون بلل کیږي ، اوس که کومه سرکاري اداره دهغو شرائطو یا قانون خلاف ورزی کوی کوم ملازم يې معزول کړو ، چی په قانون کي دا هم چي داسي معزولي قانونًا معتبر نه ده ، نو دغه معزولي دشرائط معاهده خلاف ده شرعًا صحیح نه وی او زید بدستور ملازم دی ، او دغه فیصله په عدالت کي چیلنج کول ددې خبری ثبوت دی چی دهغه خدمات داداري دپوره آمادګي نښه ده ، نو دده کار کول دده دغلطی په وجه نه ده ، بلکه داداري دغلطی په وجه ده ، چي اداري ده ته کار کولو موقع نه ده ورکړې ، لهذا که عدالت په هغه زمانه کي تنخوا دمحکمې څخه ورته ورکړي دمذکوره وجو پر بناء ددي لپاره جائز ده ، بیا هم که دی په احتیاط سره هم وکړل ددي وخت تنخوا نه واخلی نو دا ښه تقوی ده ، انشاء الله موجب اجر به وی.

جواب: دغه ملازم ته رشوت ورکول هرګز جائز نه دی (۱) ده چي رشوت ورکړی دی نو دسخت حرام ارتکاب يې کړی دی ، او که درشوت په وجه ورته ناحق فیصله شوی ده نو دوچنده ګناه ده ، او دغه رقم اخستل ورته جائز نه ده ، لکن که فیصله په جواب نمبر ۱ کی دتفصیل مطابق شرعًا درست وی نو درشوت دګناه باوجود دکار نه کولو تنخوا ورته جائز ده چي دهغه وجه په جواب نمبر ۱ کي لیکل شوې ده.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۰/۱۱/۱۴۰۹ هـ (فتوی نمبر ۱۹۳۱/۴۰ ه)

په لیز باندی دموټر رانیولو حکم

(۱) وفی سنن الترمذی ج۱ ص۲۴۸ (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابی هریرة ﷺ لعن رسول الله ﷺ الراشي والمرتشي في الحكم.

سوال: شیخ الحدیث ومفتی صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.
په لیز چي بینک موټر ورکوي دهغه شرعي حکم څه دی ؟

جواب: محترم ! سلام مسنون
په لیز دموټر معاهدات په جائز او ناجائز دواړه ډوله کیږي نن ورځ اکثر لیز معاملات ناجائز دی ، البته دمیزان بینک طریقه کار بهتر دی ، ددې څخه دفائدې اخستلو ګنجائش دی.

والسلام ۸/۳/۱۴۲۵ هـ (فتوی نمبر ۱۸/۲۹۲)

په سودی قرضه درانیول شوی کور کرایې حکم

سوال: حضرت علامه مفتی تقی عثماني صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

بعد از سلام مسنون آکلینډ (نیوزی لینډ) څخه خلیل احمد سلام قبول کړه ، او دعا دی چی الله تعالی ستا صحت او عافیت سالم ولری ، او موږ ستا څخه داستفادي موقع راپه برخه کړي.

عرض دادی چی ستاسره چي پر تلیفون خبره شوې وه ، په هغه حواله باندی سوال عرض کوم چی دلته یوه کمیټی دی چی تر هغه لاندي یوه بله کمیټی ده چی کار بار کوی ، او منافع يې مختلفو مساجدو ته ورکوي ګویا چی دغه کمیټی دنیوزی لینډ دتمامو مسلمانانو ده.

هغو څو میاشتی وړاندی یو کور رانیولو دکرایې لپاره ، چی دهغه قیمت ۸ لکه ۲۰ ډالرؤ چی په هغه کي يې ۴ لکه ۵۰ زره دبینک څخه قرضه واخستله ، باقی قرض حسنه په ډول جمع کړل شوې قیمت يې ادا کړو ، دغه عمارت يې په اجرت دمیاشتی په ۷۰ ډالره سره ورکړو ، چي په مساجدو او په کار دخیر کي به استعمالیږي ، ظاهر ده چي پر دې باندي سود هم ورکول کیږي ، لهذا ګناه ده ، او په دې معامله ختم شي ، او کور دې وپلورل شي او قرضه دی ختم کړي ، لکن یو بل رایه داده چی دادی وي ددې څخه دی فائده اخستل کیږي ، او سودي قرضه دی ادا کړل شي ، ولی چی کور که وپلورل شي ،

قرضه ادا شي نو تقريبًا يو لاک ډالر نقصان دی ، نو په صورت کي څه پکار دی ؟او شريعت اسلامي کي زموږ رهنمائي ضروری ده ، برائی کرم ددلائلو په روشنی کي زموږ رهنمائی وکړه ، او ژر يې راته راوليږه.

احقر خليل احمد نادات ۱۳ / ۸ / ۲۰۰۲ م

جواب: مکرم ومحترم جناب مولانا خليل احمد صاحب زيد مجدکم ! السلام عليکم ورحمة وبرکاته.

ستا فاکس راته ورسيدو ، دسوال جواب دادی چی دبينک قرضه اخستل سخت گناه ده ، که په غلطی سره واخستل شي نو ځان ورڅخه خلاصول واجب دی ، ، لکن په دي قرضې چي کور رانيول شوی دی ، دهغه څخه فائده اخستل حرام ده ، لهذا ددغه سودي قرضې څخه ژر تر ژر ځان خلاص کړل که ممکن وی نو کور دي نه پلوري سودی قرضه دی ادا کړی او دکور څخه استفاده جائز ده ، حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی قدس سره داډول فتوی ورکړې ده (امداد الفتاوی ص۱۲۹ و۱۷۰ ص ۳ سوال نمبر۲۲۴) لکن دا په هغه صورت کي جائز ده ، چي سودي قرضه وار لمخه لا خلاصه کړل شي ، که دکور دپلورلو څخه بغير سودی قرضه ادا کول ناممکن وی ، يا څنګه په کي راځي چي په سودي قرضه کي نور زياتوب راشی ، او مسلسل داداٸيګي ګناه جاري وي نو بيا کور وپلوری او دسودي قرضې څخه ځان خلاصول ضروری ده.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸ / جمادی الثانيه ۱۴۲۳ هـ (فتوی نمبر ۷۷ / ۵۲۱ (۱)

(۱) دحوالو لپاره وړاندنيو فتواوٴ ته رجوع وکړی.

كتاب الرهن

(رهن يعنی دګروی او دګروی متعلق مختلف مسائل)

د پازټ په ډول چي رقم ورکړل شوی وی هغه قرض دی که رهن؟
(دڅو فقهی عباراتو وضاحت)

سوال بخدمت شيخی ومرشدی واستاذی مدظلکم ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

بنده په ذو الحجه ۱۴۲۲ هـ کي يو علمی خط ليکلی ؤ چي په هغه کي د ډپازټ دجواز فقهی تخريج باندی شبه عرض شوې وه ، جناب مفتی صاحب په جواب کي ليکلی ؤ دهغه فتوی کاپي دی ددار العلوم څخه راوغوښتل شي ، په هغه کي چي زما ترکومه ياد ده ، مفصل تخريج بيان شوی دی بنده دهغه وروسته فتوی فوټو کاپی حاصل کړه ، فتوی دمفتی عبدالرؤف سکهروی صاحب وه ، او پر هغه باندی دحضرت مولانا سحبان محمود صاحب دستخط هم ؤ لکن ددې فتوی په ليدلو سره هم دبنده شبه لرې نه شوه ، نو بنده دوباره دحضرت مفتی صاحب خدمت ته پيش شو ، نو مفتی صاحب يو طالب علم پر ذمه ددې تحقيق ورکړو ، کله چی تيار شي نو يو يه شه ، چنانچه دهغه وروسته بنده متعدد مرتبه دار الافتاء ته رجوع وکړه و لکن بنده ته هيڅ په لاس ورنغلل ، بالآخر څه مده وروسته معلومه شوه چی فتوی تياره شوه ، بنده هغه فتوی دمولانا افتخار بيګ په وسيله حاصل کړه ، پر دې فتوی دحضرت مفتی صاحب دستخط ؤ .

وړاندي دبنده دا خيال ؤ چی شاهد دحضرت مفتی صاحب په ذهن کي به تخريج بل ډول وی يا ددې فتوی په اړه دبنده شبه ختم شي جواب به يې وشي ، لکن دا فتوی چی مي کله وليده نو معلومه شوه چي ددواړو خبرو څخه يوه هم نشته ، په دې فتوی کي هغه تخريج دی ، چی مفتی عبدالرؤف صاحب کړی ؤ ، او په دې فتوی کي دبنده هغه شبه ده چی سابق وه .

نو بنده يو واری بيا دشبهې داعاده کولو جرأت کوي ، اميد دی چی دا ځل دحضرت مفتی صاحب دفتوی سره ددې شبهې ازاله وشي .

د ډپازټ په ډول درقم اېښوولو دفقهی تخريج خلاصه داده چی دغه معامله اجاره بشرط قرض ده ، او چونکه شرط په عرف عام سره جائز دی .

په اړه عرض داده چی څنګه چی غرض او مقصد لاندی دغه رقم ورکول کيږي ، ددې پيش نظر دغه رقم باندی درهن تعريف صادق دی ، درهن تعريف تنوير الابصار کي په الفاظو نقل شوی دی:

حبس شيئ مالی بحق يمکن استيفاؤه منه (رد المحتار ج۶ ص۲۷۷) او عقود کي اعتبار معانی ته دی ، او په عرف عام کي دبنده په علم سره هيڅ څوک دې رقم ته قرض نه وايي بلکه رهن ورته وايي.

او بل درهن په باره کي راجح قول دادی چی رهن څخه انتفاع جائز نه ده (ردالمحتار ج۶ ص۴۸۲) او د ډپازټ رقم څخه انتفاع اخستل کيږي.

بله شبه داده چی رد المحتار ج۶ ص۵۰۸ کي تصريح شوی چی ثمن په ابتداء کي رهن جوړول صحيح نه دی ، حيث قال: والثمن وان کان دينًا لا يصح رهنه ابتداء لکنه يصح رهنه بقاء ددې تقاضا داده چي د ډپازټ په طور رقم اېښوول جائز نه دی.

نو دحضرت مفتی صاحب څخه دوباره عرض دی چی ددې شبهاتو ازاله وکړي ، دحضرت مفتی صاحب څخه دعلم او عمل دتوفيق ددعا درخواست دی.

بنده محمد عامر / خادم جامعة الرشيد ، احسن آباد ۲۲ ربيع الثانی ۱۴۲۵ هـ

جواب عزيز مکرم سلمه الله تعالی ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

رهن اګرچي دراهم او دنانير نه شي کيدلی (او دثمن ددين په باره کي چی تا عبارت ليکلی دی په هغه کي به غالبًا دوانکان واو غلط وی ، او مطلب يې دادی چی ثمن که دين وی نو ابتداء رهن نشي صحيح کيدلی) څنګه چی په تمامو متونو کی تصريح ده ، مثلا په هدايه کی دی:

ويجوز رهن الدراهم والدنانير (ج۴ ص۵۳۱)(۱) لکن د ډپازټ رقم رهن په دې نه بلل کيږي چی رهن بالدرک نه صحيح کيږي ، کما فی الهدايه وغيرها والرهن بالدرک باطل ، والکفالة بالدرک جائزة ، والفرق ان الرهن للاستيفاء ولا استيفاء قبل الوجوب

---

(۱) ج۴ ص۵۲۹ (طبع مکتبه رحمانيه)

، واضافة التملیک الی زمان فی المستقبل لا تجوز (ایضاً ج ۴ ص ۵۲۷) (۱)

د پازړ رقم ددې غرض لپاره دی چې کله دکان یا کور خالي کړی نو که دکان یا کور کي نقصان شوی وی، نو د هغه ضمان ورڅخه اخستل کیږی، دغه ضمان فی الحال واجب نه دی محض محتمل دی، لهذا د پازت ته رهن نه ویل کیږي، دغه قرض دی او مشروط بحکم العرف دی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۲ / ۵ / ۱۴۲۵ھ (فتوی نمبر ۳۶ / ۷۱۸)

د رهن (ګروي) دکان په کرایه ورکول

سوال: زید خپل دکان بکرته یوولس سوه روپی په ګروي ورکړی دی، او دا ترمنځ طی شوې ده چې دکان مذکور مرتهن چاته چې یې خوښه وي په کرایه ورکولی شي، په دروکالو کي که راهن روپی اداکړي نو مرتهن به دکان پریږدي، مرتهن میاشتنی دکان په یوولس سوه روپی په کرایه ورکړو، دغه کرایه چې د درو کالو اتلس سوه روپی جوړیږي، مرتهن ته جائز دی که یا؟ ایا هغه سود دی؟ دا هم تحریری معاهده وشوه چې که په درو کالو کي راهن روپی ادا نکړي نو دغه دکان به د مرتهن پر نام رجسټر کوي.

(۱) ج ۴ ص ۵۲۵ (طبع مذکور)

وفی الدر المختار کتاب الرهن باب مایجوز ارتهانه ومالا یجوز ج ۶ ص ۴۹۲ (طبع سعید) ثم لما ذکر مالا یجوز رهنه ذکر مالا یجوز الرهن به فقال ولا بالامانات کودیعة وامانة ولا بالدرک خوف استحقاق المبیع فالرهن به باطل بخلاف الکفالة کما مر.

وفی الشامیه تحته (فوله بخلاف الکفالة) ای بالدرک فانها جائزة والفرق ان الرهن للاستیفاء ولا استیفاء قبل الوجوب لان ضمان الدرک هو الضمان عند استحقاق المبیع فلا یصح مضافاً الی حال وجوب الدین لان الاستیفاء معاوضة واضافة التملیک الی المستقبل لا تجوز اما الکفالة فهو للالتزام المطالبة لا للالتزام اصل الدین ولذا لو کفل بما یذوب له علی فلان یجوز ولو رهن به لا یجوز کفایة ملخصاً ... الخ وکذا فی البحر الرائق ج ۸ ص ۲۴۴ (طبع سعید)

جواب: په صورت مسؤله کی د دکان په کرایه ورکول رهن باطله وی، او د کرایه چې څونه رقم بکر وصول کړی دی هغه ټول د زید حق دی، بکر ته جائز نه دی هغه سود او ګناه کبیره ده، هو! هغه دا کولی شي چې خپل قرض چې یوولس سوه روپی دی راوګرزوی او باقي ټولي روپی زید ته بیرته ورکړي.

فی رد المحتار: واما الاجارة فالمستأجر ان کان هو الراهن فهی باطلة وکانت بمنزلة ما اذا اعار منه او اودعه وان کان هو المرتهن وجدد القبض للاجارة او اجنبیاً بمباشرة احدهما العقد باذن الاخر بطل الرهن والاجرة للراهن وولایة القبض للعاقد ولا یعود رهنا الا بالاستئناف آھ (شامی ج ۵ ص ۴۵۲) (۱) والله سبحانه وتعالی اعلم / احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۵ / ۱ / ۱۳۸۸ھ (فتوی نمبر ۸۴ / ۱۹ الف)

الجواب صحیح بندہ محمد شفیع عفا الله عنه ۱۲ / ۱ / ۱۳۸۸ھ

د مرهونه مځکي کښت او د هغه د آمدني څخه قرض وصول کولو حکم

(۱) رد المحتار کتاب الرهن، باب التصرف فی الرهن والجنایة علیه وجنایته ... الخ ج ۶ ص ۵۱۱ (طبع سعید وفی طبع دار الفکر بیروت ج ۶ ص ۵۱۱)

وفی الهندیة کتاب الرهن الباب الثامن فی تصرف الراهن او المرتهن فی المرهون ج ۵ ص ۴۶۲ (طبع بلوچستان بک ډپو) وان آجر المرتهن من اجنبی بأمر الراهن یخرج من الرهن وتکون الاجرة للراهن ... الخ.

وکذا فی فتح القدیر ج ۹ ص ۱۱۷ کتاب الرهن، بدائع الصنائع کتاب الرهن ج ۶ ص ۱۴۶ (طبع سعید). والبحر الرائق کتاب الرهن ج ۸ ص ۲۶۲ (طبع سعید) والعنایة شرح الهدایة ج ۹ ص ۱۱۷)

سوال: یو سړی چی خپله مځکه یې دبل سړی سره په رهن ایښې ده ، مرتهن دهغه ځخه نفع حاصل کوی ، اوس چي یو نوی قانون حکومت جاری کوی چی که چا سره مځکه په رهن سره ترشلو کلو زیاته پاتـه وی ددې وروسته هغه دکوم عوض بغیر دی راهن ته ورکړل شي ، ایا دغه معامله درسته ده ؟

جواب: مرتهن ته درهن مځکه کرل او دهغه نفع حاصلول جائز نه ده[1] هغه چی کرلې او څونه آمدنی یې ورځخه پورتـه کړې ، کـه هغه آمدنی دقرض دپوره کولو لپاره کافی وی نو اوس دراهن پر ذمه قرض باقی نه دی او که پوره نوی نو څونه روپۍ چی پاتـه دی هغه دی ورکړي او خپله مځکی دمرتهن ځخه واخلی . [2]

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۱۴ / ۱۲ / ۱۳۸۷ (فتوی نمبر ۱۴۵۵ / ۱۸ الف)

الجواب صحیح محمد عاشق الهی بلندی شهری .

درهن ځخه نفع اخستل او ترشلو کلو وروسته بې له عوضه رهن واپس کولو حکم

(۱) وفی رد المحتار ، کتاب الرهن ج۶ ص ۴۸۲ (طبع سعید) لا انتفاع به مطلقا لا باستخدام ولا سکنی ولا لبس ولا اجارة ولا اعارة سواء کان من مرتهن او راهن (الا باذن) کل للآخر وقیل لا یحل للمرتهن لانه ربا .

وفی الشامیه تحته ... لا یحل له ان ینتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فی الربا لانه یستوفی دینه کاملا فتبقی له المنفعة فضلاً فیکون ربا ... الخ .

کفایة المفتی ج۸ ص۱۴۴ (طبع جدید دار الاشاعة) کی دی چی پر مځکه دمرتهن صرف قبضه کول جائز دی ، دهغه کاشت کول جائز نه دی ، که په خپله کاشت وباندی وکړی نو پوره کرایه به یې راهن ته ورکوي ، او ددې رقم ځخه به یې وضع کوي ، که یې بل ته په کاشت ورکړي نو دهغه پورا معاوضه به دراهن وی یا رقم درهن ځخه به وضع کوي .

(۲) شامیه کتاب الرهن ج۶ ص۴۸۲ (طبع سعید)

سوال: (خلاصه سوال) دلته دا رواج ده چی خلګ مځکه په رهن سره ورکوي ، او مرتهن دمال مرهونه ځخه نفع اخلی ، تر دې وقته راهن رقم نه وي پوره کړی ، نو دحکومت لخو دنافذ قانون سره سم چی که ترشلو کلو رهن واوړي نو بیله عوضه به یې مرتهن واپس کوي ایا داسي کول جائز دی ؟

جواب: درهن دمځکی نفع اخستل بالکل جائز نه ده حرام او په حکم دسود کی ده دچاسره چی رهن وی نو ددې رواج چي ممکنه وی نو بندول یې واجب ده .

لایحل ان ینتفع بشی منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فی الربا لانه یستوفی دینه کاملاً فتبقی له المنفعة فضلاً فیکون ربًا وهذا امر عظیم (شامی جلد خامس) [1]

بیا که حکومت دغه قانون نافذ کوی وی چی شل کاله وروسته به رهن بیله عوض واپس کیږي نوتر دې وخته که مرتهن دونه فائده ورځخه اخستې وی چی هغه دده دقرض سره مساوی یا زیاته وی ، نو قرض دار ته دی دخپلي مځکي ځخه ګټه اخستل جائز ده ، او پر مرتهن واجب ده دقرض ځخه چي ده زیاته نفع وصول کړې ده هغه دی راهن ته ورکړي . [2]

والله اعلم احقر محمد تقی عثمانی عفی الله عنه ۱۴ / ۱۲ / ۱۳۸۷ هـ (فتوی نمبر ۱۴۲۴ / ۱۸ الف)

الجواب صحیح محمد عاشق الهی بلند شهری .

دګروی موټر سائیکل استعمال کول او دهغه کرایه په قرض کي دمحسوب کولو حکم

(۱) دسابقه فتوی حاشیه وګوری .

(۲) ایضًا

سوال: يو سړی چې زموږ سره شل زره روپو به عوض کی موټر سائيکل په ګروي ايښی دی او موږ ته يې اجازت راکړی دی چې تر څو دی رقم ادانه کړي نو دموټرسائيکل څخه استفاده کوی ايا موږ ته جائز ده چې موږ دهغه موټر سائيکل استعمال کړو ؟

جواب: کوم موټر سائيکل چې تاسي په ګروي ايښی دی دهغه استعمال جائز نه دی ، البته دا استعمال شوی موټر سائيکل وکرايې ته دی حساب وشی چې څونه کرايه يې جوړه شي هغه ته دی حساب وشي او په قرض کي دی حساب شی نو جائز دی[1]

والله سبحانه اعلم ۵/۱/۱۴۱۸ھ(فتوی نمبر ۲۳ / ۲۲۳)

۱: دقرض په عوض کي ددکانو په رهن کي دايښوولو حکم.

۲: مرتهن دا اجازت بغير دراهن دکانونه نه شي پلورلی.

۳: دګروي په دکانو کي دسامان ايښوولو څخه درهن معامله نه ختميږي.

سوال۱: ګزارش دادی چې ددغو مسئلو په اړه فتوی مطلب دی ، هغه مسئله داده چې محمد اسلم خان ولد محمد عباس خان د شبير احمد ولد عبدالمجيد مبلغ ۱۱۰۲۰۸۹ روپۍ ورکړې دی ، چې تصديق يې په خپل تحرير کي کړی دی ، محمد اسلم خان ولد عباس خان په خپل ملکيتي جائيداد کي ددرو دکانو قبضه شبير احمد ولد عبدالمجيد ته ورکړې ده ، او بطور ثبوت قبضه دکرايې ددرو کالو لپاره دخپل طرف څخه ورکړې ده ، (واضح دی وی دکرايې ادائيګي نه ده شوې) او وايي چې زه دفلان تاريخ پوري تاته خپل رقم ادا کوم او ته به راته دکانونه واپس راکوې او که تر دې تاريخه مې ستا روپۍ ادا نه کړې نو ته زما دکانونه فروخت کولی شې او خپل رقم وصولی کولی شې ، براه کرم خپله فتوی راته وليکه چې په دې معامله کي شرعی حکم څه دی ؟ شبير احمد ته څه حق حاصل دی ؟ جزاکم الله فی الدارين.

[1] ايضاً

سوال۲: دمندرجه معاملې وروسته محمد اسلم خان وتښتيد ، او بل سړي په نام دحافظ عبدالرشيد په قول چې زما يې هم پنځه لکه روپۍ وړې دی ، د محمد اسلم ملکيتی جائداد کاغذات يې دکوم بل دوست نام اړولی دی.

په دې دکانو کی يو دکان دبل سړی په قبضه کي په عوض د۱۴۰۰۰۰ زره روپو کي دی ، نو حافظ عبدالرشيد هم دغه رقم ادا کړل او يو دکان يې په خپله قبضه کي واخست ، ددې دکان څخه علاوه په دې مارکيټ دحافظ عبدالرشيد په قبضه کي څلور نور دوکانونه دی ، دمارکيټ ملکيت منتقل کولو څخه وړاندی حافظ عبدالرشيد په علم کي داخبره وه چې دغه درې دکانونه په دې مارکيټ کي دشبير احمد سره بطور رهن دی ، دمارکيت په دغه کانو کي دشبير احمد څه سامان هم شته چې دکان خالي نه وی او دقبضې ثبوت شي ، هيڅ ډول کارباری معامله نه ده رامنځ ته شوې ، او په تجاری ډول ددې دکانو استعمال شوی دی و لکن حافظ عبدالرشيد يواځي سامان دايښوولو سره ددکانو درهن څخه انکار وکړو و وروسته حافظ عبدالرشيد ، شبير احمد ته دمقدمې چلولو دمکۍ ورکولې يو معاهده يې وکړه ، چې به هغه کی پر داخبره مجبور کړل شو چې هغه ددکانو کرايه ادا کړی او کله چې دکانونه فروخت کړی نو شبير احمد به حافظ عبدالرشيد ته دوه لکه روپۍ بطور رسيد ادا کوي و او دغه دکانونه په شرعی نقطه نګاه سره دشبير احمد سره رهن دی ، په دې سلسله دڅو خبرو شرعی فتوی مطلوب ده.

۱: دحافظ عبدالرشيد دغه فعل شرعًا څنګه دی ؟

۲: دحافظ عبدالرشيد معاهده دشرعي نګاه څخه څه حيثيت لری ؟

۳: دحافظ عبدالرشيد شرعًا ذمه واری څه ده ؟

۴: په دې معامله کي دشبير احمد بشرعًا څه حق دی ؟ بينوا توجروا .

جواب: په مذکوره دوو سوالو کي چې څه تحرير شوی دی ، که هغه درست وی نو ددواړو سوالو مشترک جواب دادی چې دمحمد اسلم خان تقريبًا ديوولس لکو روپو دمديون حيثيت چې شبير احمد ته يې درې دکانونه په قبضه کي ورکړی دی چې که ما پر فلان تاريخ زقم ادا کړل نو ته دکانونه پلورلی شې ، او خپل رقم وصول کولی شې ، شرعًا دغه دکانونه دشبير احمد سره رهن دی (للعبارة الاولی) او بطور ثبوت يې قبضه ورکړې

ده ، چی رسيدونه يې هم ورکړي دی ، دهغو څخه پر دې معامله کوم فرق نه پريوزی ، دا رهن بلل کيږي ، ددې دليل دادی چی شبير احمد دطرف څخه نه کرايه ادا شوې ده ، نه محمد اسلم خان دطرف څخه ددې مطالبه شوې ده ، او نه کرايه په اصل قرض دمحسوب معاهده طی شوې ده ، اوس چی دغه دکانونه رهن شوی دی ، نو دمرتهن يعنی شبير احمد داجازې پرته دد کانو پلورل محمد اسلم خان ته جائز نه دی ، اوس چی حافظ عبد الرشيد ته دخپل مارکيټ بيع دمرتهن شبير احمد تر اجازت پوري موقوف ده ،(للعبارة الثانيه)

که شبير احمد ددې بيع اجازت ورکړی وي که صريحًا وی او که ضمنًا ، نو بيع درست ده ، لکن دسوال څخه معلوميږی ، چی شبير احمد دبيع اجازت نه دی ورکړی ، ددې وروسته چی شبير احمد دحافظ عبد الرشيد سره دکرايه داری معاهده کړې ده ، که هغه دزور او زبردستی بغير په مکمل رضامندي سره شوې وای نو دغه معاهده دبيع ضمنی اجازت بلل کيدلو ، دهغه په وجه دغه دکانونه درهن څخه وتل ، او په هغه کي به دکرايه داری معامله درست وه ، (للعبارة الثانيه).

لکن سوال کی چی کوم صورت بيان شوی دی ، او دهغه وضاحت چی سائل زباني هم کړی دی ، هغه دادی چی کرايه دار معاهده رضا ورغبت سره نه ده شوې ، بلکه شبير احمد دطرف څخه دغه معاهد ددې دباؤ لاندي تر سره شوې ده چی که دغه معاهده ونکړی نو دکانونه چي دده سره رهن دی دهغه دقبضې څخه وزی او په قانونی ډول دهغه قبضه بر قرار ممکن نه ده هغه دمقدمه بازی هم دمکی ورکړل شوې وې ، لهذا که صورت حال دغه وی ، چی په سوال کي بيان شوی دی نو دغه کرايه داری معاهده شرعًا درسته نه دی (للعبارة الرابعة) تر کومه چی ددې خبری تعلق دشبير احمد دقبضې سره دی چی دثبوت په ډول يې دکانونو سامان خوندی کړی دی ، نو دهغه څخه پر رهن باندی کوم اثر نه لويږي ، ولی چی اول خو سامان يواځي دقبضې دثبوت لپاره ايښی دی ، باقاعده استعمال لپاره نه دی.

دوم دا چی که مرتهن دشی مرهون څخه فائده واخلی هم نو فائده اخستل دمرهون څخه شرعًا جائز نه ده ، او دشی مرهون پر رهن باندی کوم اثر نه غورزوی ، او په دې سره رهن نه باطليږي ، لهذا بصورت صحت واقعات مندرجه سوال کی دغه درې دکانونه اوس

هم دشبير احمد سره بطور رهن بلل کيږي ، او دده پر ذمه عبد الرشيد ته شرعًا کرايه ورکول واجب نه ده ، ددې احکامو لپاره دليل په عبارات فقهيه ؤ کي په لاندي ډول دی:

۱ : العبارة الاولی : واما رکن عقد الرهن فهو الايجاب والقبول وهو ان يقول الراهن رهنتک هذا الشيئ بمالک علی من الدين او يقول هذا الشيئ رهن بدينک وما يجری هذا المجری ويقول المرتهن : ارتهنت او قبلت او رضيت وما يجری مجراه فاما لفظة الرهن فليست بشرط حتی لو اشتری شيئًا بدراهم فدفع الی البائع ثوبًا وقال له : امسک هذا الثوب حتی اعطيک الثمن ، فالثوب رهن لانه اتی بمعنی العقد والعبرة فی باب العقود للمعانی کذا فی البدائع (عالمگيريه ج۵ ص۴۳۲) (۱)

۲ : العبارة الثانية : توقف بيع الراهن رهنه علی اجارة مرتهنه او قضاء دينه فان وجد أحدهما نفذ وصار ثمنه رهنًا فی صورة الاجازة ... الخ (الدر المختار ج۶ ص۵۰۶) (۲)

۳ : العبارة الثالثة : وکذلک لو استأجره المرتهن صحت الاجارة وبطل الرهن اذا جدد القبض للاجارة (شرح المجلة ج۳ ص۱۹۱)

---

(۱) عالمگيريه ، کتاب الرهن ج۵ ص۴۳۱ (طبع رشيديه)

(۲) الدر المختار ج۶ ص۵۰۸ (طبع سعيد)

وفی شرح المجلة للأتاسی رقم المادة ۷۴۷ ص۱۸۹ (طبع مکتبه حبيبيه) لو باع الراهن الرهن بدون رضی المرتهن لا ينفذ البيع ... الخ

وکذا فی الهندية ج۵ ص ۴۶۲ الباب الثامن ، کذا فی الهداية ج۴ ص ۵۳۸ (طبع مکتبه رحمانيه) کتاب الرهن (طبع شرکة علمية)

۴ : وفی الدر او حبس او قید مدیدین بخلاف حبس یوم او قیده او ضرب غیر شدید الا الذی جاء (درر) حتی باع او اشتری او اقر او آجر فسخ ما عقد ولا یبطل حق الفسخ بموت احدهما (الی) او امضی لان الاکراه والملجئ وغیر الملجئ یعدمان الرضاء والرضاء شرط لصحة هذه العقود وکذا الصحة الاقرار فلذا صار له حق الفسخ والامضاء (ج۶ ص۱۳۰) (۱)

وفی الدر : وهل الاکراه بأخذ المال معتبر شرعًا ظاهر القنیة نعم وفی الوهبانیة ان یقل المدیون انی مرافع ، لتبری فالاکراه معنی مصور (قوله ظاهر القنیة نعم) وعبارتها ف ع متغلب قال لرجل : اما ان تبیعنی هذه الدار او ادفعها الی خصمک ، فباعها منه ، فهو بیع مکره ان غلب علی ظنه تحقیق ما اوعده ، قال ﷺ فهذه اشارة الی ان الاکراه بأخذ المال اکراه شرعًا (شامی) قوله (انی مرافع) ای مرافعک للحاکم ای وکان ظالمًا یؤذی بمجرد الشکایة کما فی القنیة (شامی ج۶ ص۱۴۲ مطبوعة ایچ ایم سعید)

والله سبحانه اعلم ۱/۱۱/۱۴۱۰ھ (فتوی نمبر ۴۱/۷۴ و)

(۱) طبع سعید

د مرابحې ، اجارې یا مشارکې په تمویل کی د رهن طلب کولو حکم

سوال محترم ومکرم ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

الحمد لله خیریت دی ، امید دی چی د جناب مزاج به خیر سره وی.

دلته چینائي څو مخیر حضرات سره یو شول یو پخوانی خوب (بلا سودی مالیات) باندی د څو میاشتو څخه کوشش روان کړی دی ، ان شاء الله ډیر ژر به دغه خوب هم شرمنده شي ، په دې اړه مندرجه ذیل مسئله کي ستاسي علماؤ رایه مطلوب.

ایا د کوم بزنس یا پروجیکټ مالیات دبرابری لپاره د کوم قسم رهن طلب کول ممنوع دی ؟ په دې اړه د دغه خبره دلته واضح کول غواړم چی د اسلامی بینک قائم کولو په هندوستان کي ډیر کوششونه شوی دی ، مګر اکثر ناکام شوی ترټولو غټه وجه داده چی دغه رقم دوړلو وروسته دیو قسم دپابندي یا ذمه داری بغیر درقم وړلو درقم په لوټولو په فکر کی نه کیږی دی نه یې پرواساتی.

که ممنوع وی نو دورکړل شوی پونجي حفاظت به څه صورت وي ؟ په دې معامله کي تفصیلی حکم څه دی ؟

جواب : محترم ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

د رهن طلب جائز یا جائز کیدل پر دې خبره موقوف دی چی د مالیات فراهم پر څه بنیاد باندی کیږي ؟ که د مرابحې په بنیاد وی نو هغه بیع ده ، چی د هغه قیمت په مستقبل کی واجب الاداء په وجه د خریدار پر ذمه ده نو خریدار څخه رهن طلب کول بالکل جائز دی (۱) دا ډول که تمویل د اجارې پر بنیاد وی نو د اجرت د توثیق لپاره رهن طلب کول جائز دی

(۱) وفی الدر المختار ، کتاب الرهن ج۶ ص۴۷۷ و ۴۷۸ (طبع سعید) هو حبس شیئ مالئ بحق یمکن استیفاءه ای اخذه منه کلا او بعضًا کان قیمة المرهون اقل من الدین (کالدین) کاف الاستقصاء لان العین لا یمکن استیفاؤها من الرهن الا اذا صار دینًا حکمًا کما سیجئ حقیقة وهو دین واجب ظاهرًا وباطنًا او ظاهرًا فقط کثمن عبد ... او حکمًا کالاعیان المضمونة بالمثل او القیمة ... الخ.

، لما فی البحر ، ولا یلزم علینا صحة الابراء عن الاجرة والکفالة والرهن بها لانا نقول ذاک بناء علی وجود السبب فصار کالعفو عن القصاص بعد وجود الجرح (البحر الرائق ج۷ ص۵۱۱) (۱) لکن ددې خبرې یاد ساتل پکار دی ، چې مقصد یواځې د ادائیګی توثیق دی ، لهذا مرتهن (یعنی صورت مسؤله کی مالیات برابرولو لپاره) جائز نه دی چې ددې رهن څخه په هیڅ صورت نفع اخستل جائز نه ده ، (۲) البته که مدیون ادائیګی نه کوی نو هغه پلورلی شی او خپل حق وصول کول جائز دی.

او که تمویل مشارکه پر بنیاد وی نو په دې صورت کی رهن طلب کول جائز نه دی ولی شریک مدیون نه دی (۳) البته که خیانت وکړی یا خپل فرائض صحیح انجام نه کړی نو هغه وقت بیا ذمه دار دی.

والله سبحانه اعلم / ۱۴۲۷/۲/۱۹ھ (فتوی نمبر ۸۹۲/۱۱)

وفی الدر المختار ج۶ ص۴۹۷ (طبع سعید) باع عبداً علی ان یرهن المشتری بالثمن شیئًا بعینها او یعطی کفیلاً کذلک بعینه صح ولا یجبر المشتری علی الوفاء لمامر انه غیر لازم وللبائع فسخه لفوات الوصف المرغوب الا ان یدفع المشتری الثمن حالاً او یدفع قیمة الرهن المشروط رهنًا لحصول المقصود .

وفی الشامیه تحت (قوله لفوات الوصف المرغوب) لان الثمن الذی به رهن اوثق مما لا رهن به فصار الرهن صفة للثمن وهو وصف مرغوب فله الخیار بفواته .

(۱) البحر الرائق کتاب الاجارة ج۷ ص ۳۰۰ (طبع سعید) وړاندنی حاشیه مطالعه کړی.

(۲) وړاندینیو فتواؤ حاشیه وګوری.

(۳) وفی الهدایة ج۴ ص ۵۲۴ و ۵۲۵ (طبع رحمانیه) ولا یصح الرهن بالامانات کالودائع والعواری والمضاربات ومال الشرکة لان القبض فی باب الرهن قبض مضمون فلا بد من ضمان ثابت لیقع القبض مضمونًا ویتحقق استیفاء الدین منه .

وفی حاشیته قوله قبض مضمون ای قبض یصیر به المقبوض مضمونًا علی القابض بقدر الدین فلا بد من ضمان علی الراهن حتی یصیر المرهون مضمونًا علی المرتهن بقدر ذلک الضمان ولیس فی الامانات ضمان فان حق صاحب الامانة مقصود علی العین .

وفی الدر المختار ج۶ ص۴۹۲ (طبع سعید) ولا بالامانات کودیعة وامانة .

وفی الشامیه (قوله کودیعة وامانة) الاصوب وعاریة وکذا مال مضاربة وشرکة کما فی الهدایة ... الخ .

کتاب الهبة

(د هبه د مسائلو بیان)

۱: دمرض الوفات ښځه وړاندی هبه کولی شي او خپلي میرمني ته څونه مال هبه کولی شي؟

۲: هبه زباني هم کیدلی شي مګر قبضه ضروری ده

سوال۱: ایا انسان خپل مال او مملوکه جائیداد خپل وارث ته په ژوند کي هبه کولی شي یا نه؟ زه دعمر په آخرنی حصه کي یم، زه غواړم چی خپلی میرمنی او نورو ورثهٔ ته څه ورکړم میرمني ته څونه ورکولی شم؟ ایا زه داسي کولی شم؟ او خپل مال وچاته هبه کولی شم؟

سوال۲: ایا زبانی طور باندی هبه کولی شم؟ او زبانی هبه کیدلی شی یا نه؟ ددې ښځه بل مالک جوړیدلی شی یا نه؟ دهبې بهتره طریقه څه ده، او هبه په کوم حالت کي کولی شم؟

جواب۱: مرض وفات (یعنی هغه مرض چی په هغه کي انسان مړ شي) دهغه ښځه وړاندی انسان خپل مملوکه جائیداد هر ډول جائز تصرف کولی شي (۱) چی په هغه کي هبه هم داخل ده (۲) لکن داسي طریقه اختیارول مناسب نه ده چی په هغه یوه وارث ته دټولو ورثه حق ورکړل شي او هغه محروم شي، (۳) لهذا بهتر صورت دادی چی خپلي میرمنی

---

(۱) وفی شرح المجلة للاتاسي ج۴ ص۱۳۲ رقم المادة ۱۱۹۲ (طبع مکتبه حقانیه پشاور) کل یتصرف فی ملکه کیف شاء لان کون الشیئ ملکًا لرجل یقتضی ان یکون مطلقًا فی التصرف فیه کیفما شاء.
وفی شرح المجلة لسلیم رستم باز ج۱ ص۶۵۴ رقم المادة ۱۱۹۲ (طبع حنفیه کوټه) کل یتصرف فی ملکه کیف شاء.

(۲) ایضًا

(۳) وفی صحیح البخاری ج۱ ص ۳۵۲ (طبع قدیمي) عن حمید بن عبدالرحمن ومحمد بن النعمان بن بشیر انهما حدثاه عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه ان اباه اتی به الی رسول الله ﷺ فقال: انی نحلت ابنی هذا غلامًا فقال: أکل ولدک نحلت مثله؟ قال لا! قال: فارجعه.

دمهر دمعاف کیدلو باوجود دهغې دمهر رقم یا دهغه قیمت جائیداد ورکړي، یا که هغه نافی بولې نو جائیداد دونه ورکړه چی دآمدني څخه یې ګذران وربا ندی تیر شي، او نور جائیداد په خپل ملکیت کي وساته او ستا وروسته به دټولو شرعي ورثاؤ په منځ کي تقسیم شی.

جواب۲: هبه زبانی هم کیدلی شی (۱) لکن هبه هغه وخت تکمیلیږي چی موهوب له (یعنی هغه شخص چی هبه ورته شوې ده) پر هغه باندی قبضه وکړي (۱) او بهتره طریقه

وفی فتح الباری ج۵ ص۲۸۰ (طبع مکتبة الرشید) وذهب الجمهور الی ان التسویة مستحبة فان فضل بعضًا صح وکره واستحبت المبادرة الی التسویة او الرجوع فحملوا الامر علی الندب والنهی علی التنزیه.
وکذا فی عمدة القاری ج۱۳ ص۲۱۴ الی ۲۱۶ (طبع دار الاحیاء التراث العربی بیروت) وکذا فی اعلاء السنن ج۱۶ ص۹۶ و ۹۷ (طبع ادارة القرآن کراچي)
وفی شرح الطیبي علی المشکوة ج۶ ص۱۸۱ ولو وهب جمیع ماله من ابنه جاز وهو آثم نص علیه محمد ... الخ
وفی الدر المختار مع رد المحتار، کتاب الهبة ج۵ ص۶۹۶ (طبع سعید) لا بأس بفضیل بعض الاولاد ... وکذا فی العطایا ان لم یقصد به الاضرار وان قصده یستوي بینهم ... ولو وهب فی صحته کل المال للولد جاز واثم.
وفی الهندیه ج۴ ص ۳۹۱ (طبع رشیدیه) ولو وهب شیئًا لاولاده فی الصحة واراد تفضیل البعض علی البعض عن ابی یوسف لا بأس به اذا کان التفضیل لزیادة فضل فی الدین وان کانا سواء یکره وروی المعلی عن ابی یوسف انه لا بأس به اذا لم یقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوی بینهم وهو المختار ... الخ
وکذا فی البحر الرائق کتاب الهبة ج۷ ص ۲۸۸ والبزازیة علی هامش الهندیة ج۶ ص۲۳۷ وفتاوی قاضی خان ج۳ ص۲۷۹.

(۱) وفی الهدایة ج۳ ص۲۸۵ (طبع مکتبه رحمانیه وج۳ ص۲۸۳ فی طبع مکتبه شرکت علمیه) وتصح بالایجاب والقبول ... الخ
وفی الدر المختار مع رد المحتار ج۵ ص۲۸۸ (طبع سعید) ورکنها هو الایجاب والقبول ... الخ.
وفی الدر المنتقی علی مجمع الانهر ج۳ ص ۴۹۰ (طبع غفاریه کوټه) وتصح بایجاب وقبول ولو بالفعل فی حق الموهوب له.
وفی شرح المجلة للاتاسی ج۳ ۳۴۴ (طبع مکتبه حبیبیه) تنعقد الهبة بالایجاب والقبول ... الخ.

داده چې تحريري طور باندې وشي ، او پر هغه باندې دوه شاهدان ونيول شي ، چې آئنده تنازعه نه وربانديوشي ، واضح دې وي چې ښځې ته هر ډول هبه يوازې هغه وقت شرعًا نافذ ده چې د مرض الموت څخه وړاندې وي ، كه د مرض په وقت كې ورته هبه كړل شي او په هغه مرض كې وفات راشي نو هبه كالعدم ده. (۲)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۲ / ۳ / ۱۳۹۷ھ

هبه شوې مځكه د موهوب له ملكيت دى د واهب د مرګ څخه وروسته په هغه كې ميراث نه جاري كيږي

(۱) وفى الدر المختار كتاب الهبة ج۵ ص ۶۸۸ (طبع سعيد) وشرائط صحتها فى الموهوب ان يكون مقبوضًا وفيه ايضًا ج۵ ص۶۹۰ وتتم الهبة بالقبض الكامل .

وفى مجمع الانهر ج۳ ص۴۹۱ (طبع غفارية كوئته) وتتم بالقبض الكامل لقوله عليه السلام لا تجوز الهبة الا مقبوضة .

وفى الهداية ج۳ ص ۲۸۵ و ۲۸۶ (طبع مكتبه رحمانيه) وتصح بالايجاب والقبول والقبض ... قوله عليه السلام لا يجوز الهبة الا مقبوضة وفى الملتقى الابحر ج۳ ص ۴۸۹ وتتم (الهبة) بالقبض الكامل .

وفى شرح المجلة لسليم رستم باز ص ۴۶۲ وتتم بالقبض الكامل لانها من التبرعات والتبرع لا يتم الا بالقبض ... الخ وفيها ايضًا ج۱ ص ۴۷۳ رقم المادة ۸۶۱ يملك الموهوب له الموهوب بالقبض شرط لثبوت الملك وكذا فى شرح المجلة للاتاسى ج۳ ص۳۴۴ رقم المادة ۸۳۷ وج۳ ص۳۸۱ رقم المادة ۸۶۱ (طبع مكتبه حبيبيه كوئته)

(۲) وفى الهنديه كتاب الهبة الباب العاشر فى هبة المريض ج۴ ص۴۰۰ (طبع رشيديه) لا تجوز هبة المريض ولا صدقته الا مقبوضة فاذا قبضت فجازت من الثلث واذا مات الواهب قبل التسليم بطلت .

وكذا فى البزازية على الهندية ج۶ ص ۳۳۹ (طبع رشيديه)

وفى رد المحتار ج۵ ص ۷۰۰ (طبع سعيد) وهب فى مرضه ولم يسلم حتى مات بطلت الهبة ... الخ

وفى شرح المجلة للاتاسى رقم المادة ۸۷۹ ج ۳ ص۴۰۳ (طبع مكتبه حبيبيه كوئته) واذا وهب احد فى مرض موته شيئًا لاحد ورثته وبعد وفاته لم تجز الورثة الباقون لا تصح تلك الهبة وكذا فى الهداية كتاب الوصايا ج۴ ص ۶۵۷ (طبع شركت علميه ملتان)

سوال: د بكر دوې لوڼې دى ، چې يو فاطمه او بله زينت ده ، او دوه يې زامن دي چې يو غلام رسول او بل غلام نبي نوميږي ، او يو يې خوريي دى چې خالد نوميږي.

د فاطمې يو زوى او يوه لور ده د زوى نوم محمد شريف خان دى ، او د لور نوم يې كلثوم ده ، او د كلثوم دوه زامن دي ، د يوه نوم غازى خان او د بل نبى خان دى.

اوس بكر په مرض الموت كى خپله مځكه درې حصې كړه يوه حصه يې خالد ته وركړه ، او دوې حصې زامنو غلام رسول او غلام نبي ته وركړه ، او دواړه لوڼو يعنى فاطمه او كلثوم ته هيڅ ورنكړل ، هغه يې د مځكې څخه محروم كړې.

اوس د فاطمه د لور زوى غازى خان دعوى كړې چې زما انا ته ولې ميراث نه دى وركړل شوى ، وايي چې ماته زما مور كلثوم ويلي دي چې ته د فاطمې ميراث طلب كړه ، او پر دې دعوى د غازى خان شاهد هم نشته ، او د غازى خان ورور نبي خان نه د فاطمې د ميراث دعوى كوي او نه هم د مور د وصيت ذكر كوي ، ايا په مذكوره صورت د غازى خان د غه دعوى درست ده ؟

جواب: كه دا صحيح وي چې بكر په مرض الموت څخه وړاندې (۱) خپله مځكه خوريي او زامنو ته وركړې ده ، او هغو پر مځكه باندې قبضه هم كړې وي ، نو اوس هغه مځكه د بكر د ملكيت څخه ووتله او د خوريي او زامنو په ملك كې داخل شوه ، (۲) او د هغه څخه د بكر د ورثاؤ تعلق نشته ، يعنى د غه مځكه د بكر په تركه كې نه ده شامله ، او د نورو ورثاؤ په هغه كى حق نشته ، هو ! كه بكر د غه مځكې څخه علاوه نور جائيداد پرې ايښى وي ، نو په هغه كې د ورثاء شرعي د تقسيم حق دى ، لهذا په دې مځكې غازى خان دعوى شرعًا قابل قبولنه ده.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۰ / ۳ / ۱۳۹۷ھ

وكذا فى شرح المجلة لسليم رستم باز رق المادة ۸۷۹ ج۱ ص۴۸۳ (طبع حنفيه كوئته)

(۱) د حوالو لپاره وړاندينو حاشيو ته مراجعه وكړې.

(۲) وفى الدر المختار ج۵ ص۶۹۲ (طبع سعيد) وتتم الهبة بالقبض الكامل ... الخ وفيه ايضًا ج۵ ص۶۸۸ وحكمها ثبوت الملك للموهوب له غير لازم ... الخ وفيه ايضًا ج۵ ص۶۸۸ وشرط صحتها فى الموهوب ان يكون مقبوضًا ... الخ.

دهبې دصحیح کیدلو لپاره قبضه ضروري ده محض کاغذی کاروایي کافی نه ده

سوال۱: که کوم شخص په ژوند کي جائیداد دخپلو اولادو په نام باندی رانیسی او داوایي چی دغه ما اولاد ته هبه کړی دی، نو ایا دده دانتقال وروسته هبه شوی جائیداد دده وراثت کي شامل دی؟

سوال۲: ایا په شریعت کي یواځي زباني هبه کول کافی دی که لیک هم ضروری دی؟ ایا که په زبانی ویلو سره وي نو شاهد ضروری دی؟

مثلا زید خپل زوی بکر ته جائیداد رانیولو، تمام کاغذات یې دبکر پر نامه کړل، زید بکر ته په ژوند کي وویل: چی دغه جائیداد ماتاته هبه کړی دی، ددې هبې شاهد موجود دی چی دبکر والده، انا او تره دی، ایا دزید دانتقال وروسته دغه جائیداد دزید په ترکه کي شامل دی که یا؟

جواب۱و۲: شرعًا هبه لپاره تحریری هبه نامه مرتب کول ضروری نه ده، یعنی زباني هم هبه کولی شی[1] البته دا ضروری ده، چی کوم شخص ته هبه کوی، هغه به ورباندی قبضه کوي لهذا په صورت مسئوله کی که بکر پر جائیداد دزید په ژوند کي قبضه کړې وی نو جائیداد دبکر بلل کیږي، دزید نور ورثا په مذکوره جائیداد کي حق نه لری، او دغه جائیداد دزید په ترکه کي شامل نه دی.

واضح دی وی چي محض کاغذات پر نامه ورکولو باندی هبه نه تامیږي، بلکه زباني یا تحریری طور باندی دهبې تصریح کول موهوب له ته او دهغه قبضه کول ضروري ده. دلته چونکه زباني تصریح موجود ده نو دقبضې دشرط سره هبه صحیح ده

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲/ ۹ / ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۹۰۷ / ۲۸ج)

(ددې فتوی دمزید وضاحت لپاره سائل دوهم ځل سوال رالیږلی دی چي په لاندي ډول دی)

---

(۱) دحوالو لپاره وړاندینیو صفحاتو ته مراجعه وکړی.

دهبه دقبضې لپاره کرایه وغیره وصول کول شرعًا قبضه بلل کیږي؟

سوال: قبضه دموهوب له څخه څه مراد دی؟ دا چی خریداری شوې مځکه او تمام سرکاری وغیر سرکاری ادارو کی دموهوب له پر نام درج ده، دا ددې لپاره وضاحت طلب کول کیږي، که هبه شده عمارت کي یو یا زیات کرایه دار آباد وی نو قبضه دهغه سره ده، البته رسیدات وغیره ورکوونکی موهوب له دی، هغه یې ټیکس وغیره پر نام ادا کوي، لهذا قبضه مالکانه مراد ده یا آبادول شرط دی؟

۲: موهوب له (بکر) دواهب زید په ژوند کي مالکانه قبضه حاصل کړې ده، البته په کوم بلډنګ کي چي کرایه دار آباد دی هغه هغه ډول آباد دی بطور کرایه، ایا په دې صورت موهوب له قبضه شرعي درست ده که یا؟

جواب: دقبضې لپاره موهوبه کور بذات خود آباد ضروری دی، بلکه په صورت مسؤله کي بهترداده چی واهب کرایه داری معامله فسخ کړي، او موهوب له کرایه دارانو ته نوی کرایه داری عقد وکړي. په دې ډول کله چی کرایه دارانو څخه کرایه وصول کړي او معاملات دواهب پر ځای موهوب له انجاموي نو دغه شرعي قبضه ده، او هبه مکمل شوه[1].

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۱/ ۹ / ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۹۷۲ / ۲۸ ج)

---

(۱) وفی الشامیه کتاب اهبه ج۵ ص ۶۸۸ یوخذ ویستأنس ذلک من العبارات الآتیه:
قلت فقد ان افاد ان التلفظ بالایجاب والقبول لا یشترط بل تکفی القرائن الدالة علی التملیک کمن دفع الفقیر شیئًا وقبضه ولم یتلفظ واحد منهما بشئ ... الخ.
وفی بدائع الصنائع کتاب الهبة ج۶ ص ۱۲۴ والاذن نوعان صریح ودلالة ... واما الدلالة فهی ان یقبض الموهوب له العین فی المجلس ولا ینهی الواهب فیجوز قبضه استحسانًا ... الخ وکذا فی شرح المجلة کتاب الهبة رقم المادة ۸۴۲ ص۳۵۳ (طبع مکتبه حبیبیه کوټه) ددې سره امداد الفتاوی ج۳ ص۴۶۶ وکوری.

بیله قبضې د دوو ورونو مشترکه جائیداد هبه کولو حکم

سوال: زما تره خپل جائداد د خپلو دوو ورونو یعني زما پلار او زما تره ته هبه کړو ، زما د مشر اکا اولاد ، ښځه ، خوندي نه وې ، زما پلار مذکوره جائداد چي وړور ورته هبه کړې ؤ هغه اوس هم زما د تره په استعمال کي دی زما مشر تره په آخری عمر کي دی ، اوس شرعي حکم څه دی ؟ د هغه جائیداد د چادی ؟ او د هغه انتظام او ساتنه به څوک کوی ، د جنگ اخبار کالم نهایت مفید او پسند دی ، ایا اسلام آباد او راولپنډي کی ستا د والد صاحب خلفیه شته ؟

طلعت محمود راولپنډي.

جواب: برادر عزیز ومکرم ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

ستا تره که خپل ټول جائیداد دواړو ورونو ته ورکړی وی نو هغه هبه په دې وجه صحیح نه ده ، چی دواړو ورونو ته ځانته ځانته ورکول ضروری ده (۱) او قبضه هم نه شوې (۲) لکن ستا د تره چي اولاد نشته ، او میرمن هم نه لری ، خوندي هم نه لری ، نو ستا د تره

---

(۱) وفی الدر المختار ج۵ ص ۶۸۸ (طبع سعید) وشرائط صحتها فی الموهوب ان یکون مقبوضاً غیر مشاع ممیزاً غیر مشغول ... الخ . وفی هامش مجمع الانهر ج۳ ص۴۹۰ (طبع غفاریه) وفی الموهوب ان یکون مقبوضاً غیر مشاع ممیزاً غیر مشغول وتتم بالقبض الکامل ... الخ .

وفی رد المحتار ، کتاب الهبة ج۵ ص۶۹۲ (طبع سعید) وذکر قبله هبة المشاع فیما یقسم لا تفید الملک عندابی حنیفة وفی القهستانی لا تفید الملک وهو المختار کما فی المضمرات .

وفی خلاصة الفتاوی ، کتاب الهبة ، الفصل الثالث فیما یکون خطبًا وفیما لا یکون ... الخ ج۴ ص ۳۹۰ (طبع مکتبه رشیدیه) ومن شرائط الهبة الافراز حتی لا یجوز هبة المشاع فیما یحتمل القسمة کالبیت والدار والارض ونحوها وان کان لا یحتمل القسمة یجوز کالبئر والحمام والرحی ... الخ

وفی البحر الرائق کتاب الهبة ج۷ ص ۲۸۶ (طبع رشیدیه) فأفاد انه لو قبضه مشاعًا لا یملکه فلا ینفذ تصرفه فیه لانها هبة فاسدة مالا وهو مضمونة بالقبض ولا تفید الملک للموهوب له وهو المختار .

وکذا فی مجمع الانهر کتاب الهبة ج۳ ص ۴۹۴ (طبع غفاریه کوټه) وشرح المجلة للاتاسي ج۳ ص۳۷۸ (طبع حقانیه پشاور)

(۲) وړاندنیو حوالو ته مراجعه وکړی.

شرعي وارث یوائې ستا پلار او ستا کشر تره دی ، لکن ترڅو چي ستا مشر تره ژوندی وی نو د هغه وقته جائیداد پر هغه باندي مصرف ضروری دی ، البته د هغه جائیداد انتظام د معاوضې په طور مناسب رقم د دواړه ورونه ته ګنجائش لری.

د جنګ اخبار د کالم د خوښولو شکریه ! دعا وکړه چی الله ﷻ یي نور هم مفید کړي ، راولپنډۍ اسلام آباد کي د حضرت والد صاحب خلیفه نشته و لیکن نواب قیصر صاحب په اسلام آباد کي مقیم دی چی د حضرت مولانا فقیر محمد صاحب خلیفه دی ، د هغه هفته وار مجلس هم وی مولانا عبدالله صاحب جامعه فریدیه څخه هغه معلومات وکړه.

والسلام ۲۸ / شعبان ۱۴۱۴ھ(۱)

د کور د استعمال لپاره دورکړل شوی رقم څخه د زیوراتو جوړ شوی شیانو ملکیت د چا دی ؟

سوال: خاوند خپلي میرمنی ته د کور د انتظام لپاره روپۍ ورکولې ، میرمني یې د هغو پیسو څخه څه زیاتی کړې وې چی په هغه سره یې زیورات جوړ کړي ؤ ، اوس د میرمني د مرګ څخه وروسته هغه زیورات د چا بلل کیږي ؟ شرعي حیثیت یې څه دی ؟

جواب: د خاوند د روپو څخه چي میرني یې د زیاتو روپو څخه زیورات جوړ کړی دی هغه د میرمني ملکیت بلل کیږي ، د هغې د انتقال وروسته هغه په ترکه کي حساب کیږي ، او که خاوند خپله میرمنه د دې خبري پابنده کړې وې چی ته حساب کوه چي زیاتي روپۍ وی هغه ماته واپس کوه نو بیا زیور د خاوند ملک دی ، که ده میرمني ته هبه کړي نه وې ، نو هغه دی د انتقال څخه وروسته واپس کولی شي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۱ / ۳ / ۱۳۹۷ ھ (فتوی نمبر ۳۴۴ / ۲۸ ب)

محض په کاغذی کاروایي سره د چا پر نام د جائیداد یا د چا پر نام د رانیولو شرعی حیثیت

سوال: ديو صاحب انتقال وشو ، هغه څه جائيداد دزامنو پر نام رانيولى ؤ كله چې يې زامن واړه ؤ اوس زامن وايي چې دكومه چې دغه جائيداد والد صاحب زموږ پر نوم رانيولى دى ، موږ دهغه مالكان يو ، والد صاحب كوم تحرير دهغو پر نامه نه دى كړى ، اوس دغه جائيداد څه ډول تقسيمېږى ؟

جواب: محض په كاغذى طور سره جائيداد دچا پر نام ليكلو سره يا دچا پر نام رانيولو سره هبه نه ثابتيږى (٢) البته كه دغه ثابت شي چې والد مرحوم په ژوند كي دغه جائيداد زبانى طور خاص اولاد ته هبه كړى وى او هغو قبضه هم وربانديي حاصل كړى ، نو هغه جائيداد دهغه مخصوص اولاد ملكيت دى (٣) هغه دوالد مرحوم په تركه كي نه شامليږي ، (٤) تحريرى هبه نامه وركول ضرورى نه ده زباني هبه (٥) لپاره شاهدان وى نو هغه كافى دى (٦) لكن كه زباني هبه ثبوت نه وى نو بيا دجائيداد مالک والد مرحوم دى دهغه په تركه كي شامل دى هغه تمام ورثاؤ په منځ كى تقسيمېږي.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۳۹۷/۹/۲ هـ (فتوى نمبر ۹۱۰/۲۸ ج)

---

(١) دغه جواب حضرت مفتى سائل موصوف ته ديو خط به وسيله وركړى ؤ (محمدزبير حق نواز)

(٢) وفى الدر المختار كتاب الهبة ج٥ ص ٦٨٨ (طبع سعيد) وشرط صحتها فى الموهوب ان يكون مقبوضاً ، وفيه ايضاً ج٥ ص٦٢٩ وتتم الهبة بالقبض الكامل وفيه ايضاً ج٥ ص ٢٨٨ وحكمها ثبوت الملك للموهوب له غير لازم.

(٣) ايضاً

(٤) دحوالو لپاره مخكينيو فتواؤ ته رجوع وكړى.

(٥) ايضاً

(٦) فى الدر المختار كتاب الدعوى ج٥ ص ٥٥٣ (طبع سعيد) وعدها فى الاشباه سبعاً بنية واقرار ويمين ونكول عنه ... وكذا ادعى ديناً او عيناً على وارث اذا علم القاضى كونه ميراثاً او اقر به المدعى او برهن الخصم عليه فيحلف على العلم ولو ادعى هما اى الدين والعين الوارث على غيره يحلف المدعى عليه على البتات كموهوب وشراء درر ... الخ.

دخصوصى خدمت پر بناء دنورو وارثانو په رضامندي خپل كور يواځي خدمت ګذاره زامنو ته دهبه كولو حكم

سوال: داوس څخه تقريبًا څلور كاله وړاندى په فالج كي مبتلا وم ، ددې بې بسي او بيماري په حالت كى زما يو زوى حفيظ الرحمن خان دسعادت مندي ثبوت وركړه ، زما خدمت يې په ميړانه تر سره كاؤ ، (زما ميرني وفات شوې وه) او په خپلو روپو يې زما تداوى كوله ، ددې عمل په مقابل كي چي زه ورڅخه راضى وم خپل كور چى ما په ۱۹۴۹ كي په ۵۰۰ روپۍ رانيولى ؤ ، هغه ته مى په انعام كي وروبخښو ددې څخه وړاندي ما دنورو زامنو چي زما دناروغي سوال به يې كوله رايه طلب كړې وه ، هغو راته رضامندي ظاهره كړه ، چي ددې كور دغه هلک مستحق دى ، دغه په ۱۹۷۹ م كي وشول ، او زيات مي دا هم وكړل ، چي روزانه اخبار عام كي مي هم اعلان كړى دى چى ما دغه ذاتى كور يواځي دحفيظ الرحمن خان ته په انعام كي وركړى دى ، كه دچا كوم عذر وي نو تر ۵ پنځه ورځو پوري دي خپل عذر پيش كړي ورنه ددې وروسته دهغه عذر قابل قبول نه دى ، دچا كوم اعتراض راته وصول نه شو و لهذا قانون مروجه مطابق دهغه مي پخته كاروايي وكړه او دكور قبضه مي هم وركړه ، چي پر هغه باندى.داوتهـ كمشنر او شاهدانو وغيره دستخط هم شته ، دغه دفرورى ۱۹۷۴ م كي ما مكمل كړه ، او دكور اسناد هم ددغه پر نام دى ، زه اوس هم په هغه كور كى اوسيږم ، او دهغه هلک په كفالت كى يم ، هر قسم ټيكس هغه ادا كوي ، او دكور مرمت هم هغه كوي.

زما څلور زامن او پنځه لوڼي دى ، دټولو ودونه شوى دى ، سوا ديو هلک چى په وجه دكمزورى ددماغ او په وجه دنه آمدني يې انكار وكړ ، دټولو لوڼو درسم رواجي مطابق دزراؤ زيور او نور سامان او جامې دخپلو روپو څخه شوې دى ، زما سره اوس دكفن دفن داخراجات سوا هيڅ هم نشته ، اوس سوال دادى چى زما دانتقال وروسته په مذكوره كور دنور حق شته او كه نه ؟

جواب: په صورت مسؤله كي چي تا دنورو ورثاؤ رضامندي هم حاصله كړې ده ، نو ستا لپاره ددې كور وخپل خدمت ګار زوى ته دهبه كول جائز دى او كله چى هغه

وربا ندی قبضه کړې وی نو هغه يې مالک او قابض دی ، نو دغه هبه شرعًا نافذ ده او س حفيظ الرحمن خان دديِ كور مالک دی او ستا تر وفات وروسته ستا دنورو ورثاؤ په دې كور كي حق نشته ، او نه دغه مكان ستا په تركه كي داخل دی.

لما فی الدر المختار: لا بأس بتفضيل بعض الاولاد فی المحبة لانها عمل القلب وكذا فی العطايا ان لم يقصد به الاضرار... ولو وهب فی صحته كل المال للولد جاز واثم. (قلت: يعنی اذ لم يرض به ورثته الآخرون) (شامی ج۴ ص۵۱۳ كتاب الهبه) [1]

وفيه ايضًا: وهبة مقعد ومفلوج وأشل ومسلول من كل ماله ان طالت مدته ، وقال الشامی تحته: لانه اذا تقادم العهد صار طبعًا من طباعه كالعمی والعرج وهذا لان المانع من التصرف مرض الموت وهو مايكون سببًا للموت غالبًا ، وانما يكون كذلک اذا كان بحيث يزداد حالاً فحالاً الی ان يكون آخره الموت واما اذا استحكم وصار بحيث لا يزداد ولا يخاف منه الموت لا يكون سببًا للموت كالعمی ونحوه (شامی كتاب الوصايا ج۵ ص۴۲۳) [2]

---

(۱) الدر المختار كتاب الهبة ج۵ ص ۶۹۶ (طبع سعيد) وفی شرح معانی الاثار للطحاوی كتاب الهبة ج۲ ص ۲۷۱ (طبع سعيد) وقد فضل بعض اصحاب رسول الله ﷺ ورضی عنهم بعض اولادهم فی العطايا... الخ وراجع ايضًا اوجز المسالک كتاب الهبة باب مالا يجوز من النحل ص ۲۲۰ (طبع مكتبه مظاهر علوم) واعلاء السنن ج۱۶ ص۹۶ و۹۷ (طبع ادارة القرآن كراچي)

وفی الهندية كتاب الهبة ج۴ ص۳۹۱ (طبع رشيديه) ولو وهب رجل شيئًا لاولاده فی الصحة واراد تفضيل البعض علی البعض عن ابی حنيفة انه لا بأس به اذا كان التفضيل لزيادة فضل له فی الدين وعن ابی يوسف انه لا بأس به اذا لم يقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوی بينهم وان كان فی ولده فاسق لا ينبغی ان يعطيه اكثر من قوته كيلا يصير معينًا له فی المعصية .

وفی البزازية علی هامش الهندية الجنس الثالث فی هبة الصغير ج۶ ص۲۳۷ ولو وهب جميع ماله من ابنه جاز وهو آثم نص عليه محمد ولو خص بعض اولاده لزيادة رشده لا بأس به ... الخ .

وفی فتاوی القاضی خان علی هامش الهندية فصل فی هبة الوالد لولده ج۳ ص۲۷۹ وروی المعلی عن ابی يوسف انه لا بأس به اذا لم يقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوی بينهم وكذا فی البحر الرائق كتاب الهبة ج۷ ص۲۸۸ .

(۲) وفی الدر المختار كتاب الهبة ج۵ ص ۶۹۲ وتتم الهبة بالقبض الكامل

والله سبحانه اعلم ۱۳۹۷/۷/۱۰ھ (فتوی نمبر ۲۸/۷۲۲ ب)

۱: اولاد كم او زيات او دمشتركه كار بار څخه حاصل شده رقم څخه په كار بار كي دغير شريک زامنو محروم كولو حكم

۲: په ژوند كي دجلا شوی زوی هم په ميراث كي حصه شته

سوال۱: ديوه پلار درې زامن دی ، هغه ټولو ودونه كړی دی ، مشر زوی دسركار ملازم دی ، نور دوه او والد صاحب يو ځای دكان كوی ، ټول يو ځايي اوسيږي ، دوالد صاحب غير منقوله جائيداد نشته و يواځي روپۍ دی ، اوس والد صاحب دناراضګي بغير مشر زوی جلا شو ، مګر دجلا كيدلو پر وقت دجمع شده رقم څخه هيڅ نه دی وركړی ، ټولی روپۍ يې ټولي هغه زامنو ته وركړې چي دده سره كار كوي ، ايا داډول والد صاحب ته جائز دی چي يو زوی بلا وجه محروم كړی او نورو ته روپۍ وركړي ؟

سوال۲: والد صاحب دمرګ څخه وروسته څه صورت دی چي يو زوی دپلار په ژوند كي جلاوي ، او بيا دهغه وروسته دواړه زامن او والد يو ځای كار كوي ايا دټولو به برابر تقسيم وي يا دهغه دوو زامنو ذاتي محنت به بلل كيږي ؟

جواب: په صورت مسؤله كي مناسب داده چي پلار دريم زوی ته هم په كار بار كي څه حصه وركړي ، لكن كه پلار يوه زوی ته هيڅ نه وركوي نو پر هغه باندي ګناه نشته ، ولی چي دغه روپۍ نورو زامنو سره ديوځايي كار بار څخه حاصل شده روپۍ دی ، او په ژوند كي كه كوم زوی ته كم يا زيات څه وركړي نو تر څو چي بد نيتي دنقصان رسول مقصد نه وي نو ګنجائش شته.

وفی الخانيه ، لا بأس بتفضيل بعض الاولاد فی المحبة لانها عمل القلب وكذا فی العطايا ان لم يقصد به الاضرار وان قصده يسوی بينهم (شامی ج۴ ص۵۱۳ كتاب الهبه)

وفی بدائع الصنائع فصل واما حكم الهبة ﷺ... الخ ج۶ ص ۱۲۷ (طبع سعيد) واما اصل الحكم فهو ثبوت الملک للموهوب له فی الموهوب من غير عوض...

جواب ۲: دوالد صاحب دوفات پر وقت دغه رقم یا جائیداد دهغه ذاتی ملکیت وی نو هغه دټولو ورثاء شرعي حصو مطابق تقسیمېږي په هغه کي جلا زوی ته هم حصه ورکول کیږي.

والله سبحانه اعلم ۱۳/ ۱۰/ ۱۳۹۷ه (فتوی نمبر ۱۰۲۴/ ۲۹ ج)

دمرض الوفات ښځه وړاندی دهبه شویو روپو حکم

سوال: (دسوال خلاصه) زید مرحوم دمړني پر وخت نه منقوله او نه غیر منقوله جائیدا پرې ایښی دی، بکر او خالد دواړو هم په ژوند کي کوم جائیداد نه پرې ایښی، دواړو ورونو هر وقت یو بل سره تنازع کړې یو دبل ښځه جلا او سیدل، ګټه یې هم جلا وه، په ۱۹۲۷م کي خالد وفات شو، دخالد یوه لور وه، چي ده ورسره زیات محبت درلود، ټول ژوند یې ددې سره ترسره کړو، او په ژوند کي به یې ویل چي زما مال ټول دهم دې لورکی دی، دمرحوم دوه زره روپی نقد دلور سره پاته وې، دانتقال وروسته دخالد ورور بکر راغی، لور یې هغه دوه زره روپی ورته راوړي چي دغه روپی ته دروا خله، بکر وویل: چي دا ستا مال دی، ماته ددې هیڅ ضرورت نشته، او دا یې هم وویل: چي ترا وسه ستا پالنه ستا پلار کوله اوس به یې زه کوم، ددې ټولي ماجرا لس دولس دکور وګړي شاهد دی.

جواب: په صورت مسؤله کي که خالد په خپل ژوند واقعةً دغه دوه زره روپی خپلي لور ته هبه کړي وي، او لور یې وړباندی قبضه کړې وي نو هغه شرعًا ددې ملکیت دی (۱) دنورو ورثه په هغه کي حق نشته، په دې شرط چي دغه روپی خالد دمرض وفات ښځه وړاندي ورته هبه کړې وي.

(۱) وفی الدر المختار کتاب الهبه ج۵ ص۶۸۸ وشرط صحتها فی الموهوب ان یکون مقبوضًا ... الخ.
وفیه ایضًا ج۵ ص ۶۹۲ وتتم الهبة بالقبض الکامل ... الخ.
وفیه ایضًا ج۵ ص ۶۸۸ وحکمها ثبوت الملک للموهوب له غیر لازم.
وفی بدائع الصنائع فصل واما حکم الهبة ... الخ ج۶ ص ۱۲۷ (طبع سعید) واما اصل الحکم فهو ثبوت الملک للموهوب له فی الموهوب من غیر عوض.
وفی رد المحتار ج۵ ص ۷۰۰ وهب فی مرضه ولم یسلم حتی مات بطلت الهبة وفی شرح المجلة للاتاسی واذا وهب واحد فی مرض موته شیئًا لاحد ورثته وبعد وفاته لم یجز سائر الورثة لا تصح تلک الهبة وکذا فی الهدایة کتاب الوصایا ج۴ ص ۶۵۷.

والله اعلم بالصواب ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۸۷ه (فتوی نمبر ۱۴۱۹/ ۱۸ الف)

دمرحوم دانتقال وروسته دهبه نامې حیثیت او دځو تر منځ دتقسیم میراث طریقه

سوال: دزید په ژوند کي دزید دمیرمني او والدینو انتقال شوی دی، زید بل واده کړې دی، دهغه ښځه اولاد نشته، وروسته دزید انتقال وشو، دمرحوم ورثه کی یو میرمن، دمخکینی میرمني ښځه یوه لور واده شوې، یو ورور او دوې خوندي پاته دی دمرحوم دانتقال وروسته هبه نامه راغله چي داستفتاء هذا سره منسلک ده، دغه هبه نامه رجسټر نه ده، دکومو شاهدانو چي وړباندی دستخط دی دهغو بیان دی چي زموږ په وړاندی دکوم شی قبضه نه ده راغلې، دچا پر نام چي هبه شوې ده، دهغو هم دا بیان دی چي ددوی قبضه نه ده شوې، دهبه نامې علاوه نقد او زیورات هم دی دمرحوم جائیداد څه ډول تقسیم شی؟

جواب: که مذکوره جائیداد دمرحوم خپلی لور ته او میرمني ته جلاجلا قبضه نه وی ورکړې، نو دغه هبه نامه تام نه ده (۱) او دغه تمام نه ده، او دغه تمام جائیداد دمرحوم ملکیت دی دده په ترکه کي شامل دی دشریعت مطابق پر حصو باندی تقسیمېږي.

لما فی الدر المختار: وتتم الهبة بالقبض الکامل، وفی رد المحتار تحته فیشترط القبض قبل الموت ولو کانت فی مرض الموت للاجنبي کما سبق فی کتاب الوقف (شامی ج۴ ص۵۱۰)

او په صورت مسؤله کي دمرحوم ترکه دتجهیز او تکفین وروسته که پر هغه قرض وی نو دهغه دادا کولو وروسته، دمیرمني مهر هم که تر دې وخته ادا شوی نه وی او ښځي هم ورته معاف کړی نه وی دهغه دادائیګي وروسته، که مرحوم جائز وصیت ۱/۳ باندی نه وي کړې، بیا که مال پاته شی نو دمال اتمه یې میرمني ته ورکول کیږي، او نیمایي یې لور ته ورکول کیږي دهغه وروسته چي څه پاته شي هغه یې پر څلورو حصو

(۱) دجوالو لپاره مخکینو جوابو ته مراجعه وکړی.

کولو سره دوو ورنو ته ورکول کيږي ، او يوه يوه حصه يې دوو خوندو ته ورکول کيږي ، دسهولت لپاره ټوله حصه پر ۳۲ حصو باندي تقسيميږي او چي څلور يې دميرمني ، شپاړس يې دلور شپږ يې دورور او دري دري حصې هري لور ته ورکول کيږي.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲ / ۹ / ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۹۱۲ / ۲۸ ج)

شريک ته دقابل تقسيم مشترکه مځکه چاته هبه کولو حکم

سوال: دزيد او بکر دخالد سکني زامن دی بکر خپله مځکه چي تر اوسه يې تقسيم کړې نه ده ، بلکه مشترکه ده ، عمر ته په پټه هبه کړه ، لکن قبضه يې نه دروکړې ، واهب تر درو کالو ژوندی ؤ ، بلکه مځکه دسکني ورور زيد سره وه ، زيد در ديارلسو کلو پوري دموهوبې مځکي قبضه عمر ته ورنکړه ، کله چي زيد ضعيف العمر شو او بې کسه هم ؤ نو عمر جبرًا پر مځکه قبضه وکړه ، ايا شرعًا داډول هبه صحيح ده ؟ هبه دمشترکه مځکي شوې چي قابل تقسيم ده ، لکن تقسيم نه وه او نه واهب ورته قبضه ورکړې ده ، مدلل او مفصل جواب مطلوب دی ، اوس عمر دزيد پر ذاتي مځکه هم قبضه کړې ده او شاهد هم يواځي يو ژوندی دی ، بينوا توجروا.

جواب: په صورت مسؤله کي هبه شرعًا درست نه ده (۱) په مځکه کي دبکر حصه ده هغه تر مرګه دده په ملک کي وه ، او دمرګ څخه وروسته دده پر ورثاؤ تقسيميږي ، عمر چي زور سره پر مځکه قبضه کړې ده ، هغه شرعًا بالکل جائز نه ده حرام ده ، پر ده شرعًا واجب ده چي مځکه دعبدالرحيم ورثاؤ ته تسليم کړي

والله سبحانه وتعالى اعلم ۸ / ۱ / ۱۴۱۲ھ (فتوی نمبر ۱۴۰ / ۵۲)

داصل مالک دطرف څخه پر ځای دقبضې بغير محض سند سره ملکيت نه راځي

سوال: والد صاحب بهر ته تللی دی دکانونه يې پرې ايښي دی ، کاربار دوالده صاحبې په سرپرستي کي روان دی ، په کراچي کی دوه دکانونه دکرايې دی چي خالي ولاړ

(۱) ايضًا

دی ، دوه عدد کورنه چي سرکاري نامزد شوی دی ، چي يو دمور او بل دورور پر نامه شوی دی ، ددغو دواړو کورو کي يو بل ورور چي دهغه پر نام کور نه دی ثبت ، سره دخپلې ميرمني او اولادو اوسيږي ، پر هغه کور دغه ورور مصرف هم کړی دی لهذا دترکې څه حکم دی ؟ دغه دوه کوره چي دچا پر نام دی هغه ددې مالک دی يا والد مرحوم ددې مالک دی ؟ شرعًا څه حکم دی ؟

جواب: دمرحوم په ترکه دغه ټول دکانونه او کورونه شامل دی ، دکورو قيمت دمرحوم پر ذمه دين دی ، هغه دی اول دترکې څخه منها کړل شي او سرکار ته دی ورکړل شي ، او محض پر نامه کولو مالک نه جوړيږي ، بلکه اصل مالک هغه دی چي چا کور رانيولی دی ، که مرحوم مذکوره کورو باندي قبضه کړې وی دهغه وروسته دتندرستي په حال کي يې زباني يا تحريری هبه وچاته کړې او بيا هغه وباندی قبضه هم کړې وی نو هغه يې مالک دی.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۳ / ۹ / ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۹۵۰ / ۲۸ ج)

۱: دميرمنی پر نامه دمځکي رانيولو او تعمير ورباندي کولو سره ددې ملکيت ګرزري

۲: تحريري سند سره دورکړل شوی رقم هبه درست ده.

۳: دچا پر نامه چي په بينک کي روپی جمع شي يا دجائيداد رانيولو سره هبه درست ده.

۴: دچا پر نامه جمع شويو روپو چيک بک باندي قبضه هبه مکمل کيږي.

۵: دميرمني او هلكانو ددستبردار وروسته كل جائيدا وزامنو ته دهبه كولو حكم

سوال۱: متوفی خاوند یو قطعه مځکه دخپلی میرمني پر نوم رانیوله ، بیا یې وپلورله ، میرمني یې ورباندي اعتراض وکړ ، نو مرحوم خاوند یې وویل: زه تاته یو پلاټ په حیدر آباد کي رانیسم ، او بیا په حیدرآباد کي دمیرمني په نام پلاټ رجسټر کړو ، دهغه وروسته مرحوم خاوند مذکوره پلاټ باندی کوټی تعمیر کړله ، دتعمیر په دوران کي میرمن وویل: ماتاته کوټی جوړه کړه ، ته ټول عمر هلته اوسیږه ، کله چی کوټی بالکل مکمل شوه ، نو خاوند وفات شو ، نو په داسي صورت کي دواړه دمیرمني ملکیت دی او که صرف مځکه دمیرمني ده ؟ یا دواړه دمیرمني حق نه دی ، نو ایا په نورو ورثه کي تقسیم شي. تر اوسه وکوټی ته هیڅ څوک نه دی ورغلی.

سوال۲: مشر زوی ته یې ۵۵ زره روپۍ مروجه تحفه ورکړې ده ، چي په هغه کي یو سند لیکل هم ضروری وی ، چی زما زوی زما ډیر خدمت کوي ، دهغه څخه زه خوشحاله یم زه ورته دونه رقم بخښم ، او دغه رقم متوفی په پورتني طریقه ورته ورکړي دی ایا دغه هبه شول ؟

سوال ۳: وړوکي زوی ته متوفی داډول رقم ورکړل چي دده پر نام یې په بینک کي جمع کړل ، او دده پر نام یو جائداد رانیولو ، دغه رقم او جائیداد هغه ته هبه شول که نه ؟ که هبه شوی نه دی نو شامل په ترکه کي دی ؟

سوال۴: دمیرمني پر نام یې هم په بینک کي روپۍ جمع کړې دی هغه هبه بلل کیږي که نه ؟ که هبه نه وی نو شامل دترکې دی ؟

سوال۵: خوندو او مور یې زباني داوویل: چی مور خپله حصه دوو وروڼو او والدې خپلو دوو زامنو ته هبه کوو ، نو ایا که ترکه چي دوی ته ورکیدله هبه ده که نه ؟ حساب کول چی لوڼو ته یې دونه حصه رسیږي که هبه نه وی نو برائ مهرباني دهبې صحیح طریقه تحریر کړی.

جواب۱: په صورت مسؤله کي مځکه او څونه قدر کوټی چي متوفی دوفات څخه وړاندي تعمیر کړې ده ، هغه دمیرمني ملکیت دی ، په دې شرط چي دمځکي هبه دمرض وفات څخه وړاندي وي ، په فقهي اصطلاح کي ددې مسئلې صورت دادی چي دخاوند مځکه میرمني ته هبه شوې ده ، پر هغه باندي دمیرمني په اجازت سره کوټی جوړول دمیرمني قبضه ده ، چي په هغه سره هبه تامه شوه ، مځکه دمیرمني ملکیت دی ، اوس دمیرمني دطرف څخه تصرف اجازت په دې شرط سره تر سره شو چي کوټی به ددې وي ، او په کوټی کی اوسیدل شرط نه دی ، شرط دادی چي کوټی دمرض وفات څخه وړاندي جوړشوې وي. (۱)

جواب۲: په صورت مسؤله کي هبه منعقد شوه ، په دې شرط چي هبه په مرض وفات کي نه وي.

جواب ۳: که کشر زوی یې پر جائیداد او دبینک پر چیک قبضه کړې وي نو دغه هبه هم درست ده ، چي په مرض الوفات کي نه وي.

جواب ۴: که میرمني یې پر چیک باندي قبضه کړې وي نو هبه منعقد شوه بشرط مذکور.

جواب ۵: ددې هبې صحیح طریقه داده چی وارث خپله حصه پریاینبوول غواړی ، نو هغه ترکه کي کوم شی مثلاً جامه یوسي او نوره خپله حصه باقي ورثاؤ ته پریږدی نو دې ته تخارج ویل کیږي. (۲)

یادونه: اولاد ته هبه کولو کی ضروری ده چی ټوله حصه برابر برابر وی ، که هغه مذکر وی که مؤنث ، لهذا بعض ته ورکول او بعض محروم کول شرعًا جائز نه دی. لکن که داسی وشي چي واهب فوت شوی وی نو هبه نافذ ده ، بشرط که هبه په مرض الوفات کي نه وي.

---

(۱) ددې ټولو حوالاتو لپاره مخکینیو فتواوو ته رجوع وکړی.

(۲) وفي الهنديه كتاب الهبه الباب السادس ج۴ (طبع رشيديه) رجل وهب فی صحته كل المال للولد جازفی القضاء ويكون آثمًا فيما صنع ... الخ.

والله سبحانه وتعالى اعلم احقر محمد تقى عثمانى عفى عنه ۵ / ۱۲ / ۱۳۸۷ھ
(فتوى نمبر ۴۱۷ / ۱۸الف)

الجواب صحيح محمد عاشق الهى عفى عنه

دبچندر دطرف څخه والد ته قرض یا دهبې په ډول دليږل شوی رقم حکم.

سوال: يو سړی چي واده يې کړی دی دهغه ښځه يې درې لوڼي دی ښځه يې وفات شوې، دهغه وروسته يې دوهم واده کړی چې دهغه ښځه يې يوه لور ده، دغه ښځه يې هم وفات شوه دهغې وروسته يې دريم واده کړې ديوه هلک مور ده، چې هغه يې هم دځان سره ساتو، وروسته هغه هلک ورڅخه ولاړی.

دغه هلک پنځلس کاله يا شل کاله وروسته څه رقم ورته راواستول ليکلی يې ؤ چي په دې روپو سره کور رانيسه مصرف يې کړه ښه ژوند وربانديې تر سره کړه، حج وربانديې وکړه دخپل خواهش سره مصرف کړه، ده په هغو روپو باندي زر رانيول چي په هغه کي ګټه هم ورپاته شوه، او اوسيدلو لپاره كور رانيولو په هغه کي هم نفع ورته وشوه، په کور کي مرحوم هم خپلي روپۍ مصرف کړې، ددريم واده ښځه يې اولاد پاته نه شو، چې هغه هم وفات شوه، او تر دې وروسته يې خاوند وفات شو، اوس سوال دادی چي دبچندر رقم چي پلندر ته يې راليږلې وې دهغه څه حکم دی؟

بچندر چي روپۍ رااستولې وې دهغه تحرير هم موجود نه دی، چې دغه رقم امانت دی، ددواړو دمرګه پس دی وايي چې هغه امانت دی، اوس دتقسيم پروخت چي دمخکينيو ميرمنو ښځه يې څلور لوڼي پاته دی او يو بچندر دی، نو دهغه رقم څه حکم دی؟ او په كور کي چي نفع شوی ده دهغه څه حکم او داډول په زرو کي چي نفع شوې ده دهغه څه حکم دی؟ اوس لوڼي يې وايي چې داټول زموږ دی او هلک وايي چې داټول زما دی.

تنقيح ۱: کله چي پنځلس يا شل کاله وروسته بچندر دغه روپۍ ورته راواستولې چې کور ورباندي رانيسه، او مصرف يې کړه ايا هغه يې چاته رااستولې وې؟ خپلي مور

ته او که پلندر ته؟ او دراستولو څه مطلب دی؟ چاته چي يې راليږلې وې هغه يې ددې روپو مالک جوړ کړی ؤ او که يې محض ددې لپاره چي هغه ورباندي کور رانيسي؟

۲: هغه رقم چي په هغه سره زر رانيولي ؤ چاته يې راليږلې وې؟ او مالک يې قابض کړی ؤ که يا؟

۳: دمرحومه دانتقال پروقت والدين ژوندي ؤ که يا؟ دهغو څخه علاوه نور قريبان يې ؤ که يا؟ ايا دهغې ميراث تقسيم شوی ؤ که يا؟

دتنقيح جواب ۱: رقم يې دپلندر پر نامه راليږلی ؤ مګر دمور او پلندر دمصرف لپاره ؤ، ليکلی يې ؤ چې تاسي ورباندی کور رانيسی چي په هغه کي آرام وکړۍ، دهغه دملکيت ذکر نه ؤ شوی.

۲: دزرو درانيولو څخه علاوه نوري روپۍ نه وې، دکور لپاره چي روپۍ وې، هغه هم پاته وې په هغه سره يې زر رانيول، چې په دې سره نفع وشي او ښه كور به ورباندي رانيسي.

۳: والدين دمرحومې په ژوند کي وفات شوی ؤ، مرحومه لاولد وفات شوه، يواځي دمخکيني خاوند څخه يې مذکوره هلک پاته ؤ، چې په برما کي آباد دی، چې هغه دحقيقي مور او دپلندر لپاره دغه روپۍ رااستولې وې و مګر دهغه څخه يې کور نه دی رانيولی حال دا چې ده دکور درانيولو لپاره دغه روپۍ ورکړې وې، مګر دوی ورباندی زر رانيول چې په هغه کي ورته نفع ولويده، اوس چې کله هلک ته دمور او دپلندر دوفات معلومه شوه چې هغه رقم چي ماورته راليږلی ؤ په هغه سره دوی زر رانيولی دی او په هغه کي نفع هم شوې ده، نو دهغه نورو ورثه ؤ ته وايي دغه رقم زما دی، چې ما امانةً ورکړی ؤ، اوس جګړا يواځي داده چي رقم هغه بيرته غواړي، ايا هغه دمړه ترکه کي تقسيم شي او دغه هلک هم دخپلي حصې حق دار شي؟

دهلک مور لا له وړاندي وفات شوې وه، او پلندر يې وروسته وفات شوی دی، اوس چې دغه زر سره دنفع په کور کي لګول شوی دی، او پلندر يې خپله هم مصرف وربانديې کړی ؤ چې هغه دخپلي ښځي پر نام دغه کور رانيولی ؤ، په هغه کي دا خپله

اوسيدله ، هلک چی کله روپۍ ورته رااستولې نو دامانت لفظ يې نه دی کړی اوس دامانت وايي.

تفصيل وارثان: دمرحومه دوفات وروسته خاوند ، اويو زوی (چی دهغه پر روپو باندی جګړه ده) او ددغه خاوند ځلور لوڼي دی ، وروسته بيا دغه خاوند هم وفات شو ، چې دهغه وروسته ځلور لوڼي او يو بچندر پاته شو ، او ترکه هغه يو کور دی چی دښځي پر نامه آباد کړی ؤ ، څه رقم هم دی ، اوس ددغه امورو جواب طلب دی: چی دده دترکې تقسيم به څنګه کيږي ؟ دميرمني پر نامه چی يې کور رانيولی دی ، هغه بچندر غواړي او لوڼي يې ورباندی راضی نه دی ، دوی وايي چی دغه کور زموږ دپلار دی ، او هغه ده دښځي پر نام جوړ کړی ؤ ، او په هغه کي زياتي روپۍ ددغه هلک دی څه روپۍ دپلندر هم دی.

جواب: په صورت مسؤله کي که رقم راليږونکي هلک په قسم سره ووايي چی دغه رقم ما قرض وکړی ؤ نو هبه نه بلل کيږي نو دده قول معتبر دی ، او هغه رقم به دغه هلک ته بيرته ورکول کيږي ، دمرحوم او مرحومې په ترکه کي شامل نه دی.

لما فی رد المحتار: ولو دفع دراهم وقال: انفقها عليک يکون قرضًا ، (ج۴ ص۵۰۹) (۱) وفيه ايضًا دفع دراهم الی رجل وقال انفقها ففعل فهو قرض... (وفيه ايضًا) رجل اشتری حليًا ودفعه الی امرأته واستعملته ثم ماتت ثم اختلف الزوج وورثتها انها هبة او عارية فالقول قول الزوج مع اليمين انه دفع ذلک اليها عارية لانه منکر للهبة (ج۴ ص۵۲۲) (۲)

البته دغه حکم يوازي ددونه روپو دی چی هلک ورته رااستولې دی ، هغه روپۍ چي په تجارت سره نفع په کي راغلې ده هغه دهلک نه بلل کيږي ، بلکه څونه چي ده قرض ورکړې دی (۳) ددې څخه معلومه شوه چی دغه قرض هغه خپلي يوازي مور ته يا يوازي

(۱) رد المحتار كتاب الهبه ج۵ ص۶۸۹ (طبع سعيد) وفى الهنديه ج۴ ص۳۷۵ (طبع رشيديه) رجل عنده دراهم لغيره فقال له صاحب الدراهم ، اصرفها فى حوائجک کان قرضًا.

(۲) ردالمحتار ج۵ ص۷۰۱ (طبع سعيد).

(۳) ولی چی قرض اخستلو وروسته مستقرض دقرض مالک دی ، او قرض کي نفع دده نفع بلل کيږي.

پلندر ته ؟ يا دواړو ته نصف نصف ورکړې دی؟ په اول صورت کی نفع دمور په ترکه کي شامل ده ، او په دوهم صورت کي دپلندر په ترکه کي شامل دی ، او په دريم صورت کي نصف نصف دهر يوه په ترکه کي شامل دی ، او په کور کي چي پلندر روپۍ لګولې دی هغه په هر صورت دپلار په ترکه کی شامل دی.

کله چی دا معلومه شوه نو اوس دمور دوفات وروسته که ددې بل قريب نه وي نو ددې دتکفين او تجهيز ادا ديون او وصيت که وي ددرېمي دماله وروسته ددې ټوله ترکه پر څلورو حصو تقسيميږي ، دهغه څخه يوه حصه يې دخاوند او باقي يې دزوی دی ، چی په برما کي مقيم دی ، او دهغې بچندرې ددې وارثانې نه دی.

او دپلار دانتقال وروسته که دهغه نور ورثه نه وی نو دتکفين ، تجهيز ، اداء ديون او ونفاذ وصيت په ثلث مال کي دهغه وروسته دده دترکې او ميرمني حصه چي ده ته رسيدلې ده ، هغه ټول دمرحوم پر لوڼو برابر برابر تقسيميږي ، دمرحوم بچندر دده په ورثه ؤکي نه دی ، دغه تفصيل هغه وخت دی چی دمرحوم بل قريب نه وی سوا ددې څلورو لوڼو ، که دده دلوڼو څخه سوا نور قريبان وی لکه ورور ، اکا ، وراره ، دزوی لخوا لمسی ، وغيره موجود وی نو دغه مسئله دوهم ځل معلومه کړی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۹ / ۹ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۹۲۰ / ۲۸ ج)

۱: دورثاؤ دمړتيا يا فقيري په صورت کي دکل جائيداد بل ته دهبه کولو حکم

۲: متبنی شرعًا وارث نه دی.

سوال: زه اولاد نه لرم او زما ميرمن وفات شوې ده ، زه ورور او خور هم نه لرم.

(دسوال خلاصه) زما دميرمني دخور زوی سيد افسر علی چی زما متبنی دی ، چی معه اهل وعيال زما سره اوسيږي ، زه چي اوس ضعيف العمری ته رسيدلی يم زما هر ډول خدمت کوي ، زما جائيداد زما تر وفات وروسته هغه ته څه ډول رسيدلی شی ؟

دوهمه مسئله داده چې زه غواړم چې په ژوند څه حصه ورته وبخښم كه كل جائيداد چاته وركړم يا يې وقف كړم نو كوم اشكال خو به نه وي ؟

جواب: كه ستا ورثاء نه وي يا ورثاء په مال اعتبار مستحكم وي نو تاته جائز ده چې په ژوند كي دمرض الوفات وړاندې پوره جائيداد چاته هبه كړې ، يا يې وقف كړې ، لكن كه هغه په مالي اعتبار سره كمزور يا نادار وي نو بيا مناسب نه ده ، كم اوزكم دوې دريمې ورثاؤ ته پريږده ، او يوه دريمه وقف يا هبه كړه ، يا يې وصيت وكړه چې زما تر وفات وروسته فلان شخص ته زه ددريمې دمال وصيت.

ويؤخذ ذلك من رد المحتار حيث قال: ان كانت الورثة فقراء ولا يستغنون بما يرثون فالترك اولى... وان كانوا اغنياء او يستغنون بنصيبهم فالوصية اولى... فالتفصيل انما هو فى الكبار اما الصغار فترك المال لهم افضل ولو كانوا اغنياء...(شامي ج۵ ص۳۷۳)

او څوک چې تا متبنى كړى دى ستا وارث نه دى ، البته كه په ژوند كې كى هغه ته دخدمت مكافات رقم يا جائيداد وركړې نو وركولى يې شې ، او دیوې دريمې تر حده ته ورته وصيت هم كولى شې. والله سبحانه اعلم ۱۳۹۷/۵/۲۲ھ (فتوى نمبر ۵۲۴/ ۲۹ب)

په قبضه كي په وركولو هبه صحيح شوه اګرچې په كاغذاتو كي دواهب نوم وي

سوال: شير محمد درې زامن او دوې لوڼې لري ، شير محمد خپله مملوكه ومقبوضه مځكه ددرو زامنو ترمنځ تقسيم كړه ، دوفات څخه تقريبًا دولس كاله وړاندې ، او هغه يې مالكان او قابضان كړل ، په سركاري كاغذاتو كي يې مځكه دوالد پر نام ده يواځې پر موقع يې تقسيم كړه او قبضه يې وكړه ، په دې جائيداد كي خوندې حصه لرى كه يا ؟

جواب: كه دا صحيح وي چې شير محمد په ژوند كي دروغتيا په حالت كي خپل جائيداد دزامنو ترمنځ تقسيم كړى وى او هغه يې مالكان او قابضان جوړ كړي وي ، نو هبه صحيح شوه ، مذكوره زامن يې مالكان دى ، او دشير محمد دوفات وروسته دنورو ورثه ؤ تر

دې جائيداد مذكور پوره تعلق نشه محض كاغذي طور باندې جائيداد دشير محمد پر نامه باندې كوم فرق نه راځي.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۳۹۷/۹/۷ھ (فتوى نمبر ۹۱۹/ ۲۸ج)

ومحرم ته دهبه كولو وروسته رجوع نه كيږي

سوال: والد په خپله زندګې خپل املاك بطور هبه خپلو اولادو كي تقسيم كړو ، اوس دده اولاد فردًا فردًا قابض ومتصرف دى ، دده په اولاد كي څه مشترك كار بار كوي ، او په هغه شراكت يې دخپل ذاتي مفاد نظر دى ، كه په هغه كي دنورو نقصان هم وي ، په هغه معاملاتو كي والد بطور تحفظ حقوق مساوات تجويزونه پيش كړل ، څه قبول كړل څه ورڅخه انكار كوي ، تر دې چې داولاد خلاف يې عملي كوشش هم وكړو ، په دې حالت كي والد صاحب ته دموهوب ملكيت بيرته اخستلو حق شته ؟

جواب: كله چې والد خپل املاك په خپلو اولاد كي هبه كړل او هغو ورباندې قبضه وكړه نو هبه تام شوه اوس پلار ته دموهوب بيرته اخستلو حق نشته.

فلو وهب لذى رحم محرم منه لا يرجع كذا فى التنوير مع الشامي ج۴ ص۵۱۸. (۱)

والله سبحانه اعلم ۱۳۹۷/۲/۱۲ھ (فتوى نمبر ۵۱۸/ ۲۸ب)

دهبې څخه رجوع كول صحيح نه ده

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار ، كتاب الهبة باب الرجوع فى الهبة ج۵ ص۷۰۴ (طبع سعيد)
وفى صحيح البخارى ، كتاب الهبة باب الهبة للمشركين ج۱ ص۳۵۷ (طبع قديمى) عن ابن عباس رضي الله عنهما
قال: قال رسول الله ﷺ: ليس لنا مثل السوء الذى يعود فى هبته كالكلب يرجع فى قيئه.
وفى الهداية كتاب الهبة باب ما يصح رجوعه ومالا يصح ج۳ ص۲۹۲ (طبع مكتبه رحمانيه) وفى طبع مكتبه شركت علميه ج۳ ص۲۹۰) وان وهب هبة لذى رحم محرم منه لم يرجع فيها (رواه البيهقى) وكذا فى مجمع الانهر باب الرجوع ج۳ ص۵۰۳ (طبع غفاريه كوټه) وفى الهندية ج۴ ص۳۸۶ (طبع رشيديه) والبحر الرائق ، كتاب الهبة ج۷ ص۲۹۴ (طبع سعيد) والبدائع ج۶ ص۱۳۲ (طبع سعيد) وفى شرح المجلة لسليم رستم باز رقم المادة ۸۶۶ كتاب الهبة باب ثالث ج۱ ص۴۷۶ (طبع حنفيه كوټه) من وهب لاصوله وفروعه او لأخيه او اخته او لاولادهما او لعمه او لعمته او لخاله او لخالته شيئًا فليس له الرجوع.

سوال: ما خپل زوی ته کور هبه کړو، او دهغه پر نامه مي ورواړاؤ، داډول کاربار او دکان بلامعاوضه مي خپل زوی ته ورکړل او دهغه پر نام مي تحریري واړول، او داتو کالو څخه دآمدني څخه محروم یم، زما ددوهمی میرمني څخه زما څلور اولادونه دی، دهغو دحالاتو په نظر کي نیولو سره غواړم چي بیرته خپل منقوله او غیر منقوله جائیداد دزوی څخه بیرته واخلم، ایا شرعًا ماته جائز دی؟

جواب: کله چي تا خپل کور، دکان او کاربار باقاعده خپل زوی ته هبه کړل، او هغه ورباندي قبضه وکړه، نو تاته دبیره اخستلو اختیار نشته، فلو وهب لذی رحم محرم منه نسبًا ولو ذمیًا او مستأمنًا لا یرجع (شامی ج۴ ص۵۱۸) [1] البته ستا زوی ته اخلاقی فرض ده چي هغه ستا ضروریات پوره کړي، او ستا سره صله رحمي وکړي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸/ ۳/ ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۳۳۲/ ۲۸ب)

دشرم او مروت په خاطر ډوډۍ ورکولو په بدله دروپو طلب کولو حکم

سوال: زید بکر ته څه روپۍ قرض ورکړې، دزید سره دبکر کوچنیانو تعلیم کاؤ، بکر زید ته ډوډۍ ورکوله، څه وقت وروسته بکر ډیر مفلس شو، ناروغه هم شو، پر بکر داسی حالات راغلل چي دمحلې دهر شناخته څخه یې قرض واخستل، حتی چي په سود سره یې هم قرض واخستل، په دې دوران کی بکر زید ته وویل چي ته خپل انتظام وکړه، ولی چي دی اوس ډوډۍ نه شی ورکولی، مګر زید په پټو سترګو دبکر دکور ډوډۍ خوړله، که به کله ډوډۍ ورته ونه رسیدله، نو دبکر کورته به ورغی مطالبه به یې کوله.

دبکر په وینا چي ما وزید ته یواځي دشرمندګي په وجه ډوډۍ ورکوله، څو ورځي وروسته زید دقرضو مطالبه وکړه، دمطالبې سره سم بکر څه رقم ورکړل، دڅه یې وعده ورسره وکړه، مګر زید دټولو روپو غوښتنه تکرار کړه، او خبره تر شرمندګی سره ورسیدله، ددې سره بکر وویل: چي ما چي تاته دخورکې دانتظام ویلي ؤ دهغه وروسته

(۱) الدر المختار مع رد المحتار کتاب الهبة ج۵ ص۷۰۴ (طبع سعید)

چي تا زما په کور کي ډوډۍ خوړله دهغه روپۍ ماته حواله کړه، ولی چي زما نه دثواب نیت ؤ او نه په خوښي ماتاته ډوډۍ درکوله، یواځي دعزت دبچاؤ لپاره. ایا بکر ته شرعًا دمطالبې حق شته؟

جواب: په صورت مسؤله کی که زید هغه ته دقرض په خاطر ډوډۍ ورکوله او زید هم دقرض دوجي خوړله نو دا سود دی حرام دی، او ددې قیمت دقرض څخه منها کول ضروری دی، لکن که دقرض دوجي نه وی، بلکه دمخکني تعلق په وجه وی، نو کله چي بکر دخپلي ډوډۍ څخه منع کړو، نو دزید لپاره جائز نه ده چي هغه دده دکور ډوډۍ وخوري، لقوله علیه السلام: لا یحل مال امرئٍ الا بطیب نفس منه [1] نو زید ته دبکر دکور خوراک کول ګناه ده، زید ته دیانة واجب ده چي څونه ډوډۍ چي ده دبکر دکور خوړلې ده دهغه قیمت بکر ته ورکړي، لکن بکر په خپل اختیار سره زید ته ډوډۍ ورکوله اګر چي دشرم په خاطر وي، او پر هغه باندي جبر نه ؤ، او ده دخوړلو پر وقت زید ته دا هم ویلي نه وي چي زه ددې ډوډۍ قیمت غواړم، نو دا دده دطرف څخه هبه ده [2] اوس ده ته دقیمت مطالبه کول صحیح نه ده، بالخصوص دزید دقرض دځنډلو په صورت کي، بکر ته پکار دی چي دزید قرض ورته ورکړي، او پر زید دیانة لازم دی چي هغه دده ډوډۍ قیمت ورکړي.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹/ ۱۰/ ۱۴۰۱ھ (فتوی نمبر ۱۲۳۸/ ۳۲ج)

دمیرمني پرنام دکور رانیول او بیا دواهب دمرګ څخه وروسته ددوهمي میرمني دورثاؤ ددعوی میراث کولو حکم

(۱) مشکوة المصابیح، باب الغصب والعاریة ح۲۵۵ (طبع قدیمي کتب خانه)

(۲) وفی بدائع الصنائع کتاب الهبة ج۶ ص۱۲۴ والاذن نوعان صریح ودلالة ... واما الدلالة فهی ان یقبض الموهوب له العین فی المجلس ولا ینهاه الواهب فیجوز قبضه استحسانًا ... الخ.
وفی الشامیه کتاب الهبة ج۵ ص ۶۸۸ قد افاد ان التلفظ بالایجاب والقبول لا یشترط بل تکفی القرائن الدالة علی التملیک کمن دفع الفقیر شیئًا وقبضه ولم یتلفظ واحد منهما بشئ ... الخ

سوال: زيد دانتقال پر وخت شپږ زامن، يوه لور او يوه ميرمن پرې ايښي دی، زيد دوه ودونه کړی دی، داولي ښځي دانتقال وروسته، يې بل واده کړی دی، داول واده ځخه يې دوه زامن دی، او ددهم واده ځخه يې څلور زامن يوه لور ده، او دوهم ښځه يې پاته ده، زيد يوه ټوټه مځکه رانيوله، او دميرمني پر نام يې کړه، او دغه مځکه يې دوهمي ميرمني داولاد په سرپرستي کي تعمير کړه، او کور يې هم دوهمي ميرمني پر نامه واړولو، دزيد دانتقال وروسته ددوهمه ښځه هم انتقال شوه، اوس دزيد ددوهمي ميرمني زامن وايي چی دغه کور زموږ دوالدې دی موږ يې وارثين يو، ولي چي دغه کور زموږ ته هبه شوی دهغې پرنام دی، اوس داولي ميرمني دوه زامن دوراثت دعوی کوی، چي په شرعي اعتبار سره زموږ شريک دی؟

تنقيح: ايا زيد مرحوم کله هم زباني ددې خبري اظهار کړی دی چی دغه مکان ما دميرمني پرنام کړی دهغې ملک دی ياهغې ته ما هبه کړی دی؟ ايا کله داسی شوی دی چی زيد مرحوم ددې مکان قبضه ميرمني ته ورکړې ده، او په خپله په بل ځای کي مقيم ؤ؟ ددې سوالات جواب دې کاغذ پر شاباندي وليکه نو ان شاء الله ددې مسئلې جواب به درکړل شي.

جواب تنقيح: مځکه چي کله رانيول شوه، په دې اراده رانيول شوه چی دغه ملکيت موجوده به دميرمني وی، علاوه ددې ځخه زباني يې هم دانتقال ځخه وړاندی ددې خبره تذکره کړې وه، او دمرحوم په ژوندکي پيشګي ټيکس نه دی اخستل شوی، دزيد دانتقال ځخه وروسته دا مسئله طی شوه ددې ټيکس به دميرمني اولاد جمع کوي، داسی تر اوسه نه دی شوی چی هغه په بل کور کي اوسيدلی وی، ميرمن يې دموجوده حال سره چونکه جګړه باندی روانه ده، بل کوم خيال په دې ښار کي دزيد هم نه ؤ.

جواب: په صورت مسؤله کي کله چی دزيد او دهغه دواړي ميرمني انتقال شوې، دمعاملې صحيح نوعيت خو اصحاب معامله ته معلوم نه دی، البته ظاهر داده چی دغه کور دميرمني ملکيت دی، دښځي پر نامه رجسټر شوی ددې داولاد قبضه دميرمني پر نامه او دزباني ګفتګو ځخه په ظاهري ډول ددې خبري قرائن ثابتيږي، چی دمرحوم دغه مکان په خپل ژوند کي دميرمني ملکيت دی، په دې صورت که داولی ميرمني اولاد

قابل اعتماد شاهدان سره ثابت کړی چی دغه کور دميرمني پرنامه يوازي بينامي کاروائي وه، او حقيقت کي زيد مرحوم دغه کور دميرمني په ملکيت کي نه دی ورکړی، نو بيا دغه کور دزيد په ترکه کي شامل دی، لکن که داولنی ميرمني زامن کره شاهدان نه لری(۱) نو دا بيا ددوهمي ميرمني ملکيت بلل کيږي داولنی ميرمني اولاد په دې کی حصه نه لری. والله اعلم ۲/۷/۱۴۰۰ھ (فتوی نمبر ۸۵۹/۳۱ج)

دميرمني او اولاد دنافرماني په وجه ټول مال صدقه کول يا په تبليغ کي صرف کولو حکم

سوال: زما ميرمن او اولاد زما ځخه نافرمانه دی، زه خپل مشر زوی دغلطو خلګو دصحبت ځخه رامنع کوم، پر لمانځه يې امر کوم، خلګ راته وايي چی اوس هغه بالغ دشر او دخير په خپله ذمه وار دی، ماميرمن ته وويل: چی دی تي وي راوړي نو ته منع کړه لکن ميرمن مي هيڅ اثر نه اخلی، هغه ټي وي راوړه، نور ماته په کور اوسيدل ګران کار دی، ولی چي ټي وي په لوړ ږغ ږغوي زه يې پريشانه کړی يم، په دې حالاتو کی زه دتبليغي جماعت سره ووتلم، زوی مي روزانه پنځوس، يا شپيته روپۍ ګټي، په کور يې دعوی کړې ده، کور زما دی، لس دوولس زره روپۍ زما سره دی، چي دهغه ځخه نصف يې په مسجد کي صدقه کول غواړم، او نصف دخپل ضرورت لپاره ايښوول غواړم، ايا ماته دشرعي څه حکم دی؟

جواب: په صورت مسؤله کي په ژوند تاته اختيار دی چي هر جائز کار کي ته خپله سرمايه صرف کولی شې البته ستا دميرمن نفقه پر تا په هر حال کي واجب ده لهذا دخپل ځان او ميرمني او که نابالغ اولاد وی نفقه ورځخه ځانته کړه نور چي څه زړه وي هلته يې

(۱) وفی الشامیه کتاب الهبة ج۵ ص ۶۸۸ قلت فقد افاد ان التلفظ بالايجاب والقبول لا يشترط بل تكفی القرائن الدالة علی التمليک کمن دفع لفقير شيئًا وقبضه ولم يتلفظ واحد منهما بشئ ... الخ نيز دامداد الفتاوی کتاب الهبه ج ۳ ص ۵۶۶ وګوری.

مصرف کړه په صدقه جاريه کي يې هم لګولی شي او په تبليغ کي يې هم مصرف کولی شي. (۱)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۰/ ۳/ ۱۳۹۷ھ (فتوى نمبر ۳۱۳/ ۲۸ب)

ټول جائيداد لورته بخښل او دهغې په قبضه کي ورکولو سره هبه تام شوه

سوال: (دسوال خلاصه) زما خسر چي ټول جائيداد يې خپلي لور چی زما ميرمن ده ورته هبه کړی دی، او هغې ورباندي قبضه کړې ده، ايا دهغې سره دوالد دوفات وروسته نور ورثه شريک دی که يا؟

جواب: په صورت مسؤله کی که ستا خسر په ژوندکي ټول جائيداد خپلي لور ته هبه کړی وی، او هغې ورباندي قبضه هم کړې وي نو دا ددې ملکيت دی هغه ستا خسر په ترکه کي شامل نه دی، له دې سره نور ورثه شريک نه دی، البته که دغه دخسر هبه په مرض الموت کي ترسره شوې وي نو بيا دوباره سوال وليکی چي جواب به يې درکړو.

---

(۱) وفى شرح المجلة للاتاسى ج۴ ص۱۲۳ رقم المادة ۱۱۹۲ (طبع مكتبه حقانيه پشاور) كل يتصرف فى ملكه كيف شاء لان كون الشئ ملكا لرجل يقتضى ان يكون مطلقا فى التصرف فيه كيفما شاء.

وفى شرح المجلة لسليم رستم باز ج۱ ص۶۵۴ رقم المادة ۱۱۹۲ (طبع حنفيه كوئټه) كل يتصرف فى ملكه كيف شاء الخ.

وفى الدر المختار كتاب الطلاق باب النفقة ج۳ ص۵۷۲ (طبع سعيد) ونفقة الغير تجب على الغير باسباب ثلاثة زوجية وقرابة وملك فتجب للزوجة بنكاح صحيح على زوجها.

وفى الدر المختار ج۳ ص۶۱۲ (طبع سعيد) وتجب النفقة بانواعها على الحر (لطفلة) يعم الانثى والجمع الفقير وفى الشاميه تحته (قوله بأنواعها) من الطعام والكسوة والسكنى ... الخ.

وفى البحر الرائق باب النفقة ج۴ ج۴ ص ۲۰۱ (طبع سعيد) قوله ولطفله الفقير اى تجب النفقة والسكنى والكسوة لولده الصغير الفقير ... الخ.

وفى الهندية ۱ ص۵۶۰ (طبع رشيديه) نفقة الاولاد الصغار على الاب لا يشاركه فيها احد كذا فى الجوهرة النيرة ... الخ.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۱/ ۱/ ۱۳۹۷ھ (فتوى نمبر ۱۵۳/ ۲۸الف)

صرف دکاغذاتو پر نام کولو څخه شرعًا ملکيت نه راځي

سوال: زه سره دوالد، والدې او درو خوندو دهندوستان څخه پاکستان ته راغلم، ما (نور الحسن) او زما کشر ورور محمد سليم دواړه په دفتر کي نوکري کوله، والد صاحب په ضعيف العمری کي ؤ، دواړي مشراني خوندی په ځانته کورکي اوسيدلې، ولي چي دهغو دواړو لا له وړاندي واده شوې وې، دريم خور مو کشروه، هغه زموږ سره اوسيدله، څه روپۍ مو برابرې کړې په ناظم آباد کي مو يو پلاټ رانيولو، څه مو جوړ کړو بيا دحکومت څخه دکور جوړلو ادارې څخه مو قرضه ترلاسه کړه څه روپۍ چي لاسته راتلې هغه مو په ادا کوې تر څو چي مکمل شوه.

عرض دادی چی دغه پلاټ ددوو ورونو او والدې پر نام دی، محض ددې لپاره چي دهندوستان څخه په رنجيده حال کي راغلی يو، څه حصه مو په کرايه ورکړه، کرايه مو په کور مستعملوله، اوس والده وفات شوه، ددې څخه وړاندي کشر خور واده شوې ده، والده او موږ دوه ورونه او کرايه دار په دې کور کي اوسيږو، اوس دپوښتني طلب دغه امرونه دی چی په دې کور کي دخوندو حق شته که يا؟ چي يوازې دمور پر نامه ددې احترام په موږ کړی ؤ ددې علم خوندو ته هم شته.

جواب: که دا صحيح وی چی دغه کور تاسي خپلي مور ته باقاعده هبه کړی نه وی، بلکه محض کاغذات مو ددې پر نام کړی وی، مالکان يې تاسي واست نو دغه کور ستاسی دی، او دوالدې په ترکه کي شامل نه دی دخوندو په دې کور کي حق نشته. (۱)

والله اعلم ۲۲/ ۱۱/ ۱۳۹۲ھ

په ژوندکي دجائيداد تقسيم حکم او طريقه کار

---

(۱) فى الدر المختار ج۵ ص۶۹۰ (طبع سعيد كراچي) وتتم الهبة بالقبض الكامل

وفيه ايضا ج۵ ص۶۹۶ اتخذ لولده او لتلميذه ثيابا ثم اراد دفعها لغيره ليس له ذلك مالم يبين وقت الاتخاذ انها عارية

وفى الشاميه قوله: لولده اى الصغير واما الكبير فلا بد من التسليم.

سوال ۱: دیوه سړی دوې ښځې دی ، اولی ښځې ته یې طلاق ورکړو که دهغې اولاد ته څه ورنکړي ، ګناه ګار دی که نه ؟

سوال ۲: که هغه ته میراث ورسیږي او هغه دده میراث څخه څه حصه ورنکړي نو ګناه ګار خو به نه وی.

جواب ۱: په ژوندکي که څوک اولاد ته څه ورکوي نو برابر برابر به یې ورکوي ، دمطلقې وي که دغیر مطلقې ، ځینو ته ورکول او ځینو ته نه ورکول صحیح نه دی.

جواب ۲: که چاته دمیراث حصه ورسیږي نو په ژوند کي بل ته ورکول واجب نه دی ، هغه ټوله حصه دده ده ، لکن که اولاد ته ددې څخه څه ورکوي نو برابر به یې ورکوي. (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲/۱۲/۱۳۹۶ھ (فتوی نمبر ۲۷۶۱/۲۷)

په مرض الموت کی هبه کولو حکم

سوال: یو سړی په مرض الموت اخته دی ، دده اولاد نشته ، یو ورور او یوه خور لری ، څه وریرونه لری ، دده وریرونه ورغلل وکیل یې راووست دده ورور او خورته دمعلوماتو بغیر یې غوښتل چی دهغه ترکه پر خپل نامه واړوي ، او په ده دستخط وکړي ، او دده دمرګ څخه وړاندي دده وراره ګانو یو ډول قبضه نه وه نو په دې صورت کي څه حکم دی ؟ ایا دغه هبه صحیح ده ، چی ورور او خور یې ورباندي ناراض دی.

جواب: چونکه دغه سړی قبضه نه ده ورکړې ، هبه باطل ده ، اګرچه هبه په مرض الموت کي په حکم دوصیت کی ده ، لکن کله چی موهوب له ته یې قبضه ورکړې وي ،

(۱) فی الهندیة ج ۴ ص ۳۹۱ الباب السادس فی الهبة للصغیر ولو وهب رجل شیئًا لاولاده فی الصحة واراد تفضیل البعض علی البعض ، روی عن ابی حنیفة رحمه الله علیه انه لا بأس به اذا کان التفضیل لزیادة فضل له فی الدین وان کانا سواء یکره ، وروی المعلی عن ابی یوسف رحمه الله علیه انه لا بأس به اذا لم یقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوی بینهم یعطی الابنة مثل ما یعطی الابن وعلیه الفتوی .
وفی البحر ج ۷ ص ۹۰ (طبع بیروت وفی طبع سعید ج ۷ ص ۲۸۸) المختار التسویة بین الذکر والانثی فی الهبة .

دقبضې وروسته په ثلث مال کی هبه نافذ ده (۱) لکن چی قبضه نه وی نو بیا هبه باطل ده ، او کل جائیداد په ترکه کي شامل دی:

لما فی الهندیة قال فی الاصل ولا تجوز هبة المریض ولا صدقته الا مقبوضة فاذا قبضت جازت من الثلث واذا مات الواهب قبل التسلیم بطلت (عالمکیریه کتاب الهبة باب ۱۰ فی هبة المریض ج ۴ ص ۴۰۰)

دپلار څو زامنو ته هبه کول درست نه دی

سوال: عبد الجبار یې کور تعمیر کړو ، دزامنو او لونو سره یوځای اوسیدلو ، عبد الجبار په حالت دصحت کي دغه کور زباني څلورو زامنو ته هبه کړو ، ورته یې وویل: تاسي څلور واړه برابر برابر شریک یاست ، او پر دې کور ستاسي قبضه ده ، عبد الجبار وویل: زما ددغه کور سره هیڅ تعلق نشته ، سوا ددې چي زه په دې کور کي ستاسي سره اوسیږم ددې هبې شاهدان هم موجود دی.

(۱) وفی رد المحتار ، باب الرجوع فی الهبة ج ۵ ص ۷۰۰ (طبع سعید) وهب فی مرضه ولم یسلم حتی مات بطلت الهبة لانه وان کان وصیة حتی اعتبر فیه الثلث فهو هبة حقیقة فیحتاج الی القبض ....الخ.
وفی تکملة حاشیة رد المحتار ج ۲ ص ۳۰۲ لان الوصیة تملیک بعد الموت ... کذا الهبة فی مرضه لان الهبة فی مرض الموت وصیة
وفی المحیط البرهانی کتاب الدعوات الفصل الرابع والعشرون فی دوی الوصیة الخ ج ۱۶ ص ۳۴۴ (طبع ادارة القرآن کراچی) ... ان کانت الهبة فی حالة المرض فالجواب فیها کالجواب فی الوصیة لان الهبة فی مرض الموت وصیة ... الخ
وفی شرح المجلة لسلیم رستم باز رقم المادة ۸۷۹ کتاب الهبة الفصل الثانی (طبع حنفیة کوټه) اذا وهب واحد فی مرض موته شیئًا لاحد ورثته بعد وفاته لم یجز سائر الورثة لا تصح تلک الهبة اصلا لان الهبة فی مرض الموت وصیة ... الخ وفی شرح المجلة للاتاسی کتاب الهبة الفصل الثانی فی هبة المریض رقم المادة ۷۸۹ ج ۳ ص ۴۰۳ (طبع مکتبه حبیبیه کوټه) لان هبته (ای المریض) وان کان هبة حقیقة لکن لها حکم الوصیة .
وکذا فی الهندیة ج ۴ ص ۴۰۰ کتاب الهبة الباب العاشر فی هبة المریض (طبع رشیدیه) والبزازیة علی هامش الهندیة کتاب الهبة نوع فی هبة المریض ج ۶ ص ۲۳۹ (طبع رشیدیه)

تر انتقال يې پلار په دې كور كي ورسره ؤ ، ايا په دې صورت كي چې عبد الجبار د كور څخه دستبردار شوی ؤ ، او شاهدان موجود دی ، دغه كور د عبد الجبار په تركه كي شامل دی ؟ ايا پر عبد الجبار لازم وه چې د هبې د قبضې لپاره يې دغه كور خالی كړی وای ؟ د قبضې څخه آباديدل مراد دی او كه مالكانه حقوق ؟

جواب: په صورت مسؤله كی عبد الجبار خپلو زامنو ته د كور هبه شرعًا صحيح نه ده ، اوس د عبد الجبار ټول ورثاء حق دار دی ، ولی دغه هبة المشاع ده تر څو دغه كور تقسيم نه شي او د هر يوه ځانته حصه معلوم نه شي ، نو هبه صحيح نه ده.

لما فی الكنز وسائر المتون : ولو هب اثنان دار الواحد صح ... لا عكسه وهو ان يهب واحد من اثنين كبيرين ولم يبين نصيب كل واحد عند ابي حنيفة لانه هبة النصف من كل واحد منهما ... الخ (البحرا الرائق ج۷ ص۳۱۵) وقال فی الدر المختار : ولو سلمه شائعًا لا يملكه فلا ينفذ تصرفه فيه وقال الشامي تحته : وكما يكون للواهب الرجوع فيها يكون لوارثه بعد موته لكونها مستحقة الرد ... ومضمون بالهلاك ... فحيث علمت انه ظاهر الرواية ، انه نص عليه محمد ورووه عن ابی حنيفة ظهر انه الذی عليه العمل وان صرح بان المفتی به خلافه ولا سيما انه يكون ملكًا خبيثًا (شامی ج۴ ص۵۱۱)

لكن دغه د هبې نه صحيح كيدل هغه وخت دی چې عبد الجبار دغه كور باقاعده حصې كړې وی او تقسيم يې كړي هبه كړی يې نه وي ، كه هغه باقاعده حصې جوړ كړی وی بيا يې تقسيم كړی وی نو په دې صورت كي مسئله دوباره وپوښتئ ، لكن د دې خبرې تصريح كړئ چې عبد الجبار د كوم يوه په حصه كي اوسيدلو ؟

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱ / ۱۲ / ۱۳۹۷ هـ (فتوی نمبر ۱۲۵۱ / ۲۷ ج)

د خدمت ګاره زامنو ته هبه كولو حكم

سوال: ما د والدې ډير خدمت كړی دی ، د والدې څلور زامن دی ، هغې د انتقال څخه وړاندی څه اشياء ما ته هبه كړل را ته يې وويل: دغه شيان ما تا ته دركړی دی ، تا زما ډير خدمت كړی ، ايا دغه شيان د نورو ورونو را سره شريک دی او كه زما ذاتی بلل كيږي ؟ فياض اعوان

جواب: كه ستا والدې دغه شيان په حالت د صحت كي (يعنی د مرض الوفات څخه وړاندې) تا ته دركړي وی او تا ورباندی قبضه كړې وی ، نو هغه ستا ملكيت دی ، په هغه كي نور ورونه ستا سره شريک نه دی.

والله اعلم ۲۷ / ۱۲ / ۱۴۲۸ هـ

کتاب الوديعة والعارية

(دامانت او عاريت دمسائلو بيان)

په عاريت ورکړل شوی زيورات دبعينه واپسي يا دپوره قيمت مطالبه کول جائز ده

سوال: دنن څخه شل پنځويشت کاله وړاندې خپله مشر خور په مالي مشکلاتو کي مبتلا وه ما ورته اوولس تولې زيورات په دې شرط ورکړل چې هغه يې بالفعل په بينک کي جمع کړي او خپل مشکلات وړباندي حل کړي، او کله چې روپۍ پيدا کړي نو زما زيورات دې دبينک څخه راخلاص کړي، دې زما سره داوعده هم وکړه چې دغه سې به کيږي، مګر بيا هغسي ونشول، دجائيداد اوولس زره روپۍ هم هغې ته ورکړل شوي، چې هغې زما څخه پوتي کړې وې، مګر ماته دهغه علم وشو، مادزيوراتو مطالبه وکړه، نومعلومه شوه چې دهغې زوی روپۍ لاس ته رسولې دي، ما هغې ته دزيوراتو دراخلاصولو غوښتنه وکړه، مګر هغې را خلاص نه کړل، نه يې هغه وقت ماته قيمت راکړو، وروسته زيور ليلام شول، اوس ماته وايي چې موږ دنيلام دوخت قيمت درکوو، زه دليلام دوخت قيمت اخستلو ته تيار نه يم، ولې چې ما يواځې درهن لپاره ورته اجازت ورکړې ؤ دليلام اجازت مي نه ؤ ورکړی، زه اوس يواځې هغه سونا غواړم څونه چې ما ورته قرض ورکړې وه ايا دغه مطالبه زما جائز ده؟

جواب: په صورت مسؤله کي ستا پر خور واجب چې هغه تاته څونه زيورات چې تا ورکړې ؤ هغه درکړي، يا دهغه قيمت دواپسي دروځي درکړي، ستا مطالبه شرعًا جائز ده.

لما فی الدر المختار: فان آجر المستعير او رهن فهلکت ضمنه المعير (شامی ج۴ ص۵۰۴) (۱) وفيه: الا اذا استعارها ليرهنها فتکون کالاجارة وقال شامی تحته: لان هذه

(۱) الدر المختار کتاب العارية ج۵ ص۲۷۹ (طبع سعيد)

اعارة فيها منفعة لصاحبها فانها تصير مضمونة فی يد المرتهن وللمعير ان يرجع علی المستعير بقيمته (شامی ج۴ ص۵۰۵) (۱)

والله سبحانه اعلم ۵/۲/۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۲۸/۵۴۴)

دساعت ساز سره ډېر وخت دساعتانو حکم

سوال: زيد ساعت ساز دی څه خلګ ورته ساعت راوړي او بيا دوباره نه راځي نه يې اميد وي چې بيا راسي، هغه دوه يا درې کاله پاته وي، سره دښه حفاظت هغه زنګ کوي او خرابيږي، په دې صورت کي څه حکم دی؟ ايا زيد هغه خيرات کړي يا يې په خپله استعمال کړي؟

جواب: په صورت مسؤله کي زيد دا حق نه لري چې ساعتانو قيمت خيرات کړی هغه خپل ملک کړي، بلکه هغه ټول عمر چې ممکن وی دحفاظت کول ضروری دی، ترڅو چې اصل مالک هغه وړي يا دهغه دطرف څخه پيغام راځي، يا دهغه دموت علم راځي، نو بيا به دهغه ورثه ؤ ته سپارل کيږي، ولې چې دغه ساعتان دزيد سره امانت دی، او امانت دلقطې په ډول نه صدقه کول کيږي.

دليل: الصغری فی قول الهنديه وحکم الاجير المشترک ان ما هلک فی يده من غير صنعه فلا ضمان عليه فی قول ابی حنيفة رحمة الله عليه (عالمګيريه ج۴ ص۵۱۸) (۲) ودليل

وفی درر الحکام شرح غرر الاحکام کتاب العارية ج۷ ص۱۳۴ فان آجر او رهن المستعير فهلکت العارية ضمنه المعير ای ضمن المعير المستعير.

وکذا فی الهنديه الباب الخامس فی تضيع العارية وما يضمنه المستعير وما لا يضمن ج۴ ص۳۶۷ (طبع رشيديه)

(۱) الدر المختار مع رد المحتار کتاب العارية کتاب العارية ج۵ ص۶۸۲ (طبع سعيد)

(۲) الهندية ج۴ ص۵۰۰ باب ۲۸ (طبع مکتبه رشيديه) وفی المحيط البرهانی کتاب الاجارة الفصل الثامن والعشرون فی بيان حکم الاجير الخاص والمشترک ج۱۲ ص۳۹ (طبع ادارة القرآن کراچي) ومن حکم الاجير المشترک ان ماهلک فی يده من غير صنعة فلا ضمان عليه فی قول ابی حنيفة وهو قول زفر والحسن رحمهما الله وانه قياس ... الخ.

الکبری فی قول غاب المودع ولایدری حیاته ولا مماته یحفظها ابداً حتی یعلم بموته وورثته کذا فی الوجیز للکردری ولا یتصدق بها بخلاف اللقطة کذا فی الفتاوی العتابیة (عالمگیریه ج۴ ص۳۵۲) (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم / احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه ۲۵/۲/۱۳۸۸ھ

(فتـــــوی نمبـــــر ۳۲۵/۱۹ الـــــف)

---

(۱) الهندیة باب ۷ ج۴ ص۳۵۴ (طبع مکتبه رشیدیه) وفی الشامیه کتاب الایداع ج۵ ص۶۸۶ (قبل کتاب العارية) طبع سعید) غاب رب الودیعة ولا یدری اهو حی ام میت یمسکها حتی یعلم موته ولا یتصدق بها بخلاف اللقطة ... الخ

وفی المحیط البرهاني کتاب الودیعة الفصل العاشر فی المتفرقات ج۸ ص۳۱۸.

وفی فتاوی ابی اللیث رجل استودع رجلا الف درهم ثم غاب رب الودیعة لا یدری احی هو ام میت فعلیه ان یمسکها حتی یعلم موته ولا یتصدق بها بخلاف اللقطة.

کتاب اللقطة

(دولیدلو شیانو بیان)

په سیلاب کي دلاسته راغلو شیانو حکم

سوال: زه دشترنګ دجوړولو کار کوم، یعني دکورو دروازې جوړوم، تخته دځانه په کي لګوم، ددې اجرت وصول کوم، په سیلاب کي زما تختې وبهیدلې، ډیري یې نورو خلګو یووړې، څه یې پاته شوې، لکن ماته شبه ده چی دغه تختې زما دی او که دنورو؟ ایا زه دغه تختې وړلی شم.

جواب: که په علاماتو او قرائنو سره معلوم شي چي دغه تختې ستادي نو تاته جائز ده چي هغه یوسې، په دې شرط چي نور ددې دعویدار نه وی، که ګمان غالب نه وی نو هغه دلقطې په حکم کي دی، یعني اول دی دهغه مالک ولټول شي که مالک پیدا نه شو، نو که په خپله مستحق زکوة یې نو استعمال یې کړه، او که نه یې نو مستحق زکوة ته یې ورکړه(۱)

وغالب الظن عندهم ملحق بالیقین وهو الذی یبتنی علیه الاحکام، یعرف ذلک من تصفیح کلامهم فی الابواب، صرحوا فی نواقض الوضوء بأن الغالب کالمتحقق (الاشباه والنظائر ج۱ ص۹۴ قاعده ۳) (۲)

---

(۱) وفی الهندیه کتاب اللقطة ج۲ص۲۸۹ و ۲۹۰ (طبع رشیدیه) اذا رفع اللقطة یعرفها ... وفی هذا الوجه له ان یأخذها ویحفظها ویعرفها حتی یوصلها الی صاحبها.

(۲) الاشباه والنظائر ج۱ ص۳۷ قاعدة ۲ وقاعده ۳ طبع سعید)

مسافر سامان پريښود ولاړی دهغه دسامان حکم

سوال: يو سړی زموږ سره په سفر کي ؤ ، په لار کي کښته شو ، سامان يې زموږ سره پاته شو ، هغه موږ پيژنو هم نه ، تقريبًا اووه کاله کيږي ، اوس موږ څه ورباندي وکړو ؟

جواب: که هغه سړی ژوندی او دهغه پته معلومه وي نو سامان ورته رسول ضروري دي ، او که هغه ژوند نه وي نو ورثاء ته يې رسول ضروري ده ، که يې پته نه وي معلومه نو تر هغه وقت يې پلټل ضروري دي چي تر څو دا خيال وي چي هغه سړی به دسامان په تلاش کي وي ، کله چي دپيدا کيدلو څخه يې مأيوس شي نو بيا يې صدقه کړي. (۱)

والله سبحانه اعلم ۱۳۹۷/۹/۲ هـ (فتوی نمبر ۲۸/۹۰۴ ج)

(۱) دحوالو لپاره وړاندي مسئلې ته رجوع وکړی.

كتاب الغصب والضمان

(دغصب او ضمان مسائل)

دمسجد پر دكان ناجائز قبضه كولو او كرايه نه ادا كولو حكم

سوال: يو تعمير شده مسجد سره دملحقه قطعه مځکه توسيع کول چي ديني مدرسه ، وضوء خانه ، او مسجد ومدسې لپاره دکانونه تعمير کړل شي ، دتعمير څخه وړاندی دمځکي په شمالي کناره کي درې تړې دی ، چي دوه يې په پابندي سره کرايه ادا کوي ، مګر يو يې دخپل اثر ورسوخ په وجه قابض دی ، کرايه نه ورکوي ، کله چي ناروغ شو دغه تړه يې په کرايه ورکړه او کرايه يې په خپله وصول کوله ، دوفات وروسته يې ښځي کرايه وصول کوله ، کله چي هلته پاخه دکانونه شروع شول ، هغې وويل شول چي ته خپل شيان پورته کړه ، کله چي دکانونه جوړ شول ، دمتوفی زوجه دد کان مطالبه شروع کړه ، دمسجد په کميټۍ يو ممبر يې رشته دار دی هغه يې حمايت کولو ، په شرط دکان ورکړل شو چي هغه به لس روپۍ مسجد ته کرايه ورکوي ، مګر هغه اوس سره له دې چي پنځوس روپۍ کرايه وصول کوي مسجد ته هغه لس روپۍ هم نه ورکوي ، ايا په صورت مذکوره کي دمتوفی قبضه تسليم کړل شي ، او که ازروی شريعت ددغي کونډي مالکانه حقوق تسليم کړل شي ؟

جواب: که په سوال کي درج شده واقعات صحيح وي نو دمتوفی دکونډ قبضه دکان حق نشته ، پر هغې واجب ده چي طی شده کرايه مسجد ته ورکړي ورنه دکان خالی

كړى ، دكوم مسلمان پر مال باندى ناجائز قبضه سخت حرام ده (۱) او ناجائز ده ، لكن دمسجد حق خوړل بيا دډير وبال موجب ده.

والله اعلم بنده محمد تقى عثمانى عفى عنه ۲۱ / ۲ / ۱۳۸۸ هـ (فتوى نمبر ۲۸۳ / ۱۹ الف)

الجواب صحيح بنده محمد شفيع عفى الله عنه

دمال برآمد كولو په صورت كي كه مال په لار كي هلاك شي نو دكمپنۍ څخه دمال دضمان حكم

سوال: په اوګوټ وغيره كي مال راوړل كيږي كه مال په لار كي ضائع شي نو ددې نقصان بدل دانشورنس كمپنۍ څخه اخستل جائز دى كه يا ، او دترسيل دكمپنۍ څخه نقصان اخستل چى دنقصان سره برابر يا څه كم وي دغه بدل اخستل جائز دى كه يا ؟

تنقيح: ددې لاندي امور وضاحت كول پكار دى:

۱: ايا دترسيل كمپنۍ دكرايې علاوه نو رقم پيشكي وركړل شوى دى ؟

۲: كه يواځي انشورنس شوى دى ، ايا بيا دترسيل اداري څخه نقصان اخستل كيږي ؟ كه وصول شي نو څه وجه ده ؟

۳: كه دواړه جلا جلا معامله كول كيږي ، ايا بيا ددواړو څخه وصول كيږي ؟ كه نه وصول كيږي په څه وجه ؟

۴: كه انشورنس نه شي او دترسيل كمپنۍ ته هم رقم نه وركول كيږي ، ايا دهغه سره سره هم دتسيل كمپنۍ نقصان دركوي ؟

جواب تنقيح: ۱: يا دترسيل كمپنۍ يواځي كرايه وصول كوي ، دهغه څخه زيات څه نه اخلي.

(۱) وفي المشكوة ، باب الغصب والعارية ج ۲۵۵ (طبع قديمي كتب خانه) قال رسول الله ﷺ لا يحل مال امرئ مسلم الا بطيب نفس منه.

۲: هو ! يواځي انشورنس شوى دى ، ولى چى اصل ذمه دار ترسيل كمپنۍ ده ، چى مال به پوره پوره خپل ځاى ته رسوي ، ددې مزيد وضاحت په دې ډول دى: كه زيد پر ذمه ته كوم كار وركوې ، او دهغه ضامن بكر وى ، چى كه زيد كار پوره نه كړو نو زه يې ذمه وار يم ، لهذا په اصل كي ذمه دار زيد دى چى ترسيل كمپنۍ ده او بكر دانشورنس كمپنۍ ده.

په اصل كي خلګ دانشورنس څخه په داسي حال كي نقصان اخلي ، ولى چى اكثر خلګ انشورنس داصل پاليسي څخه زه زيات كوي ، ددې برعكس دترسيل كمپنۍ وصولى په دوو يا څلورو مياشتو كي كيږي ، او صرف نقصان هغه وركوي اصل نقصان زياتوب نه وربانديي وركوي.

بهر حال به دې اړه يو وضاحت داهم ضروري دى چى دنقصان وصولي يواځي ديو ځاى څخه كيږي ، يعنى دترسيل كمپنۍ يا انشورنس څخه زيات وضاحت يې دادى:

الف: انشورنس وي او كه نه ، په دواړو صورتو كي دترسيل شركت ذمه واره دى ، چي دنقصان تلافي وكړي ، ولي څنګه چي وړاندي وويل شول ، چي اصل ذمه واره دترسيل شركت دى ، ولى چى هغه مال ددغه شركت ذمه داري وه چي تر ځايه يې رسولى واى ، دترسيل شركتونه په ټوله دنيا كي يو شان قانون لرى ، په دنيا كي داسي ملكونه هم شته چى هلته دانشورنس نوم هم نشته ، كه بيا وي نو دحكومت دطرف څخه لازمي نه وي.

ب: كه انشورنس شوى وى نو دلته بيا دوې لاري دى ، يو دا چى دترسيل شركت وي ، بل دا چي دانشورنس شركت وي ، او ددواړو وضاحت بيا په دې ډول دى:

الف: دترسيل دشركت څخه دمال وصولي په څو مياشتي كي كيږي ، دقانون دپيچيدګي ليري كول كيږي ، او رقم يواځي دونه لاس ته راځي څونه دمال اصل قيمت وى ، او بعض اوقات شركت دبهرني ملك وى ، او دهغو روپۍ دنورو ملكو څخه راځي ، چي نور هم دوقت ضرورت وي ، بهر حال دترسيل شركت ورته يو سند وركوي ، چي روپۍ ټولي پوره ورته وركړي ، او زياته دعوا نه كيږي.

ب: دانشورنس شركت په دې صورت كي نقصان ژر لاسته راځي او داصل رقم څخه بعض اوقات زيات وركول كيږي ستاسى څخه هغه يو خط غواړي ، چي دفلان جهاز

او جهاز څخه زما فلان تلف شو ، چي دهغه رقم موږ دانشورنس شرکت څخه وصول کړو ، دانشورنس کمپنۍ اګرچي موږ ته رقم راکړل ، بيا دغه دترسيل دشرکت څخه وصول کوي هغو ته څه وقت ورکول کيږي ددې معلومات نشته ، بهر حال انشورنس کمپنۍ ته دترسيل شرکت هغه روپۍ ضرور ورکوي ، دانشورنس يوائي نقصان داوي چي دوی اول ورته روپۍ ورکوي ، او بل دا چي انشورنس ته کم شی ورکول کيږي ، او دوی ورسره عادي دی او دا ددوی لپاره معمولي شی دی.

۳: ددې سوال جواب ستا وړاندي وشو ، بهرحال درقم وصولی دترسيل او انشورنس دواړو څخه جائز ده ، دچا سره چي معامله تر سره شی ، دهغه څخه دنقصان تلافی کول کيږي ، هو دانشورنس کمپنۍ بيې بيا دترسيل دشرکت وصول کوي ، ولی چی اصل ذمه دار دترسيل شرکت دی.

۴: هو ! هغه دداسی څه کولو پابند دی ، او ددې جواب هم وړاندي وشو ، بهر حال تاسي چي خط ليکلی دی ، چی پيشګی رقم ، دهغه څخه شايد ستاسی مقصد پيشګي کرايه وی ، چی دترسيل شرکت ته ورکول کيږي ، نو کرايه عمومًا وړاندي ورکول کيږي ، او زموږ معامله هم داسی ده ، مګر په بعض صورتو کی که مال پلورونکی غواړی نو کرايه وروسته ورکړی ورکولی يې شي ، دمثال په ډول مال په جده ته رسول کيږي نو دترسيل شرکت ته وويل شي: چی دغه کرايه به خريدار په جده کي درکړی.

جواب: په صورت مسؤله کي تفصيل دادی چی که نقصان په داسي آفت سره راشی چی دهغه څخه مال ساتل ممکن نه وی مثلا ټول او ګوټ يا طياره اور واخست وسو ، يا باغيانو ورباندی حمله وکړه ، نو دنقصان رقم وصول کول تاسی دترسيل دشرکت څخه وصول کول جائز نه دی ، لکن که داډول آفت نه وی نو بيا ګنجائش شته.

وفی البدائع لا يضمن (ای الاجير المشترک) عنده ما هلک بغير صنعه قبل العمل او بعده لانه امانة فی يده وهو القياس وقالا يضمن الامن حرق غالب او لصوص مکابرين وهو استحسان آه ، قال فی الخيريه ... قول ابی حنيفة قول عطاء وطاؤس وهما من کبار التابعين وقولهما قول عمر وعلی ، وبه يفتی احتشامًا لعمر وعلی وصيانة لاموال الناس ، والله اعلم آه ، لانه اذا علم انه لا يضمن ربما يدعی انه سرق او ضاع من

يده وفی الخانية والمحيط والتتمة الفتوی علی قوله فقد اختلف الافتاء وقد سمعت ما فی الخيرية (شامی ج۵ ص۴۰ و۴۱) (۱)

قلت وحيث اختلف الافتاء ورجحان الشامي الی قولهما ظاهر فالاولی فی عصرنا الافتاء بقولهما صيانة لاموال الناس وتحرزًا عن الوقوع فی فتنة التامين الذی هو مرکب من الربا والقماء.

والله سبحانه اعلم ۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۲۱۷ / ۲۸ ب)

دواقعي دصحيح صورت حال دپوهولو په وجه دچا حق ضائع کولو او دهغه ضمان

سوال: زما ورور وحيد الدين ماته پښځه کاله وړاندي ذکر کړل چی ده دپټواری الله بخش څخه يوه خبره اوريدلې وه چی دبليغ الدين ديونټو پر کوم چی محکه ورکول کيږي ، دغه سرټيفيکټ راغلی دی ، چی دفټواري په لاس کي ؤ او زما ورور هغه په خپله ليدلی ؤ پر دې چي محکه ورکول کيږي نيمايي به يې ستاشي او نيمايي به يې زما (فټواری) شي ، نو ما وحيد الدين ورته وويل: چی دغه زما دورور خبره ده زه داسي نه شم کولی ، مګر داسي وکړه چی دغه سرټيفيکټ بيرته لاهور ته وليږه ، نو فټواري ته موقع پيدا شوه ، ما مي وريدل چی هغه فټواري محکه پر خپل نامه واړوله او بيا يې پر بل چا وپلورله او اوس زه هغه محکه لاس ته نه شم راوړلای ايا په دې چي زما ورور زما څخه دا خبره پټه کړې وه

---

(۱) رد المحتار کتاب الاجراة باب ضمان الاجير ج۶ ص۶۵ (طبع سعيد)

وفی مجمع الضمانات ج۱ ص۲۶۲ ان الاجير المشترک ضامن عنده ما هلک بغير صنعه فاذا کان الثوب فی ضمانه کان الضمان عليه مالم يعلم انه تخرق من دق صاحب الثوب وروی بشر عن ابی يوسف ان القصار يضمن نصف النقصان ويعتبر فيه الاحوال واما علی قول ابی حنيفة ينبغی ان لا يجب الضمان فی فعل القصار لان عنده الثوب امانة عند القصار وليس بمضمون.

وفی الهندية کتاب الاجارة الباب الثامن والعشرون فی بيان حکم الاجير الخاص والمشترک ... الخ ج۴ ص۵۰۰ (طبع رشيديه کوټه) وحکم الاجير المشترک ان ماهلک فی يده من غير صنعه فلا ضمان عليه فی قول ابی حنيفة وهو قول زفر والحسن وانه قياس ... الخ.

او ماته يې تقريبًا لس ايکړه مځکه نقصان ورساؤ ولي چي که هغه زه خبر کړی وای نو ما به هغه سرټيفکټ لاس ته رسولی ؤ اوس چی زما ورور وايي چی زما څخه غلطی وشوه ، پر دې خبره هغه ته ما وويل: چی دا ستا حماقت دی او ته يې ذمه واريې ، او ته به ماته ددې بديل راکوې ، يا به زه دقيامت په ورځ دالله ﷻ مخ ته پيشه وم ، اوس زما ورور تر کومه ذمه دار دی ؟

جواب: په صورت مسؤله کي ستا ورور وحيد الدين چی ستا بد خواهي کړې ده گناه گار دی ، بايد چی توبه او استغفار وکړي (۱) او ستا څخه معافی وغواړي ، لکن پر هغه باندي ددې مځکي تاوان واجب نه دی ، ولي چی هغه فتواري ته يواځي مِشوره وکړې وه ، دمځکي په ضياع کي دهغه مستقل دخل نه ؤ (۲)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۱/۱/۱۳۹۷ ھ (فتوی نمبر ۱۵۳/۲۸ الف)

سرکاري موټر داجازته پرته دنور کارو لپاره استعمال کولو حکم

سوال: بعض سرکاری ملازمانو ته سرکاري موټر دسرکاري کار لپاره ورکول کيږي ، هغه ملاز بعض اوقات خپل خپلوان ورسره سپروي ، دخپلوانو سامان په کي وړي ، يو بل ځای ته يې رسوي ايا داجازته پرته داسي کول جائز دی ؟

جواب: بې له اجازت دسرکاري موټر دذاتي کارو لپاره استعمال کول او بل چا دکار لپاره استعمالول جائز نه دی (۳)

---

(۱) وفی مسند احمد رقم الحدیث ۱۹۵۳ ج۱۴ ص۳۹۷ و۳۹۸ (طبع دار الحدیث القاهرة) عن جریر رضی الله عنه
قال: اتیت رسول الله ﷺ فقلت: ابا یعک علی الاسلام فقال رسول الله ﷺ واشترط علی النصح لکل
مسلم فبایعته علی هذا ورب هذا المسجد انی لکم لناصح جمیعاً ثم استغفر ونزل.

(۲) فتح القدیر ، کتاب الغصب ج۸ ص۲۴۳ و۲۴۴ (طبع رشیدیه) الغصب فی اللغة: اخذ الشی من الغیر
علی سبیل التغلب للاستعمال فیه ، وفی الشریعة: اخذ مال متقوم محترم بغیر اذن المالک علی وجه یزیل
یده.

(۳) فی الدرج۶ ص۲۰۰ لا یجوز التصرف فی مال غیره بلا اذنه ولا ولایته ...آھ

کتاب الجهاد

(دجهاد او قتال دمسائلو بيان)

پرمسلمان ميشته سيمه له يرغلګرو كفاروسره دمسلمانانو له وس سره دجهاداو دهمدارنګه واكمن تر واكمي لاندي دنوكري اود حقوقوترلاسه كولو حكم. (فارسي فتوی)

سوال ۱ :- حکمران کافر چند قری وامصار را بتغلب واستیلا از دست مسلمانان سلب کرد ورعایای مسلمانان که مغلوب قوانین او مستند دران دیار می باشند وہمان حکمران بعد از سلب دیار با ایشان خیلی ترحم دارد، و بخششها می کند، مگر اینکه ہمیشہ درپی آنست کی قوانین اسلامی را از بین ببرد وکفر وزندقہ جاری کرداند مگر بسیار ست وتلطف، نہ بزور وزجر مثلا تعلیم جدید خود وآزادی زنان وافشای زنا وشراب وسینما وغیرہا ترویج می دہد، وبمدارس دینی وپردہ راضی نیست، آیا با این حکمران ودستگاہان او چون محاربین در ترک موالات وغیرہ زندگی باید کرد یا کہ نہ؟

سوال ۲ :- وازادارہای او قافیہ شان مزدور شدہ وحقوق گرفتن ودر سازمانہای جدید دادہ حقوق گرفتن بغرض آنکہ اصلاح بچہ گان مسلمان بکنند ودیگر ماموروں مزدوری نزدشان کردن جائز است یا کہ نہ؟ ودرین پول حقوق کدام قسم حرمت یا کراہت یا شبہ می آید یا نہ؟ وبالخصوص علماء ومقتدیان را این افعال چگونہ اند.

سوال ۳ :- واگر اینہا بہ مسلمانی پول بدہند کہ برای من حج کن آیا احرام با اینہا یا بہمان پول او احرام بخود بغرب بستن روا است یا نہ؟

سوال ۴ :- تعلقات با کفار قائم کردن وتعظیم شعائر کفر روا است؟

سوال ۵ :- واعانت این حکمران را در مدرسہ اسلامیہ بکرفتہ استعمال کردہ روا است یا نہ؟

سوال ۶ :- واگر مرتکب امور مذکورہ کدام اہل علمی یا شیخی باشد، بہ او چہ اعتقاد باید کرد و آیا ملامت او غیبت او وتردید این عمل را چہ حکم دارد. بینوا توجروا

جواب ۱ :- اگر مسلمانان را چندی قوت واستطاعت ہست کہ با او محاربہ کردہ حکومتش را زائل نمایند وحکومت اسلامی قائم کنند، بر مسلمانان حکومت اسلامی قائم کردن واجب است (۱) واگر آنہا چنین استطاعت وقوت نہ دارند، پس آنہا را صبر باید کرد (۲) تا آنکہ قوت

(۱ تا ۳) وفی بدائع الصنائع ، كتاب السير ج : ۷ ص : ۹۸ وامابيان من يفترض عليه فنقول انه لايفترض الاعلى القادر عليه فمن لاقدرة له لاجهادعليه لأن الجهاد بذل الجهد وهوالوسع والطاقة بالقتال أو المبالغة فى عمل القتال ومن لاوسع له كيف يبذل الوسع .

وفى الهندية ، كتاب السير ، الباب الاول فى تفسيره ج : ۲ ص : ۱۸۸ (طبع رشيدية) واماشرائط اباحته فشيئان احدهماامتناع العدوعن قبول مادعى اليه من الدين الحق وعدم الامان والعهد بيننا وبينهم والثاني ان يرجوا الشوكة والقوة لأهل الاسلام باجتهاده .... لمافيه من القاء نفسه فى التهلكة وكذافى البحر الرائق ، كتاب السير ج : ۵ ص : ۷۲ (طبع سعيد)

وفى الدرالمختار ، كتاب الجهادج : ۴ ص : ۱۲۷ (طبع سعيد) ولابد لفرضيته من قيدآخر هوالاستطاعة ...... وشرط لوجوبه القدرة على السلاح لأمن الطريق فان علم انه اذاحارب قتل وان لم يحارب أسر لم يلزمه القتال ... الخ وفى بدائع الصنائع ج : ۷ ص : ۹۸ فامااذاعم النفير بان هجم العدو على بلدفهوفرض عين يفترض على كل واحدمن آحادالمسلمين ممن هوقادر عليه .... الخ .

(۴) وفى تفسير المدارك ج : ۱ ص : ۳۴۲ (طبع قديمى) والآية (الم تكن .... تدل على ان من لم يتمكن من اقامة دينه فى بلدكمايجب وعلم انه يتمكن من اقامته فى غيره حقت عليه المهاجرة .

وفى التفسيرات الاحمدية ص : ۳۰۵ (طبع كريمى كتب خانه بمبئ) وفى هذاالزمان ان لم يتمكن من اقامت دينه بسبب أيدى الظلمة أوالكفرة يفرض عليه الهجرة وهو الحق .

وفى أحكام القرآن للقرطبى ج : ۵ ص : ۳۳۲ (طبع دار الكتاب العربى) الهجرة وهى الخروج من دار الحرب الى دار الاسلام وكانت فرضًا فى أيام النبى صلى الله عليه وسلم وهذه الهجرة باقية مفروضة الى يوم القيامة .

وكذافى التفسير المظهرى ج : ۲ ص : ۲۰۷ (طبع حافظ كتب خانه كوئته) .

وفى تكملة فتح الملهم كتاب الأمارة ج : ۳ ص : ۳۷۳ (طبع مكتبة دار العلوم كراچى) .... الأول قادر على الهجرة منهالايمكنه اظهار دينه ولاأداء واجباته فالهجرة منه واجبة ... الخ وفى عمدة القارئ شرح صحيح البخارى ، باب المداراة مع الناس ج : ۲۲ ص ۲۶۲ (طبع دارالأحياء التراث العربى بيروت) المداهنة محرمة والفرق بينهماان المداهنة هى ان يلقى الفاسق المعلن بفسقه فيؤلفه ولاينكر عليه ولوبقلبه .

وفيها أيضاً باب ماقيل فى ذى الوجهين ج : ۲۲ ص : ۲۰۱ (طبع داراحياء التراث العربى بيروت) المداهنة المحرمة وسمى ذوالوجهين مداهناً لأنه يظهر لأهل المنكر ...... فيخلطه لكلتا الطائفتين واظهاره الرضى بفعلهم استحق اسم المداهنة واستحق الوعيد الشديد أيضاً. وفى فتح البارى ، باب المداراة مع الناس ج : ۱۷ ص : ۳۱۷ المداهنة محرمة والفرق ان المداهنة من الدهّان وهو الذى يظهر على الشئ ويستر باطنه وفسرها العلمآء بانه معاشرة الفاسق واظهار الرضآء بماهوفيه من غيرانكار عليه وفى شرح ابن بطال ، الباب رقم : ۸ ص : ۲۷۰ قال المؤلف لاينبغى لمؤمن ان يثنى على سلطان أوغيره فى وجهه وهوعنده مستحق للذم ولايقول بحضرته بخلاف مايقول اذاخرج من عنده لأن ذلك نفاق كماقال ابن عمر وقال فيه صلى الله عليه وسلم : « شرالناس ذوالوجهين » وقال : انه لايكون عندالله وجيهاً لأنه يظهر لأهل الباطل الرضاعنهم ويظهر لأهل الحق مثل ذلك ليرضى كل فريق منهم ويريه أنه منهم وهذه المداهنة محرمة على المؤمنين .

وفى مرقاة المفاتيح شرح المشكوة ، باب الأمر بالمعروف ج : ۹ ص : ۳۳۱ (طبع مكتبه امدايه ملتان) المداهنة فى الشريعة أن يرى منكراً ويقدر على دفعه ولم يدفعه حفظالجانب مرتكبه أوجانب غيره لخوف اوطمع أو لاستحياء منه أوقلة مبالاة فى الدين ..... الخ.

وفى بدائع الصنائع ، فصل في بيان مايعترض من .... الخ ج : ۱۵ ص : ۳۳۹ ان ذلك مباح فكان اظهار شعائر الكفر فى مكان معد لاظهار شعائر الاسلام وهوأمصار المسلمين فيمنعون من ذلك وكذايمنعون من ادخالها فى أمصار المسلمين ظاهراً ...... ولايمكنون من اظهار صليبهم فى عيدهم لأنه اظهار شعائر الكفر فلايمكنون من ذلك فى امصار المسلمين . ..... والخنزير والصليب وضرب الناقوس فى قرية اوموضع ليس من امصار المسلمين ولوكان فيه عددكثير من أهل الاسلام وانمايكره ذلك فى امصار المسلمين وهى التى يقام فيها الجمع والاعياد والحدود لأن المنع من اظهار هذه الاشيآء لكونه اظهار شعائر الكفر فى مكان اظهار شعائر الاسلام وهوامصار المسلمين وفى البحر الرائق ، بيع العصير من خمار ج : ۸ ص : ۲۰۲ و ۲۰۳ (طبع سعيد) لايمكنون من ذلك فى الامصار ولايمكنون من اظهار بيع الخمر والخنزير فى الامصار لظهور شعائر الاسلام فلايعارض بظهور شعاء الكفر قالوا فى هذاسواد الكوفة لان غالب أهلها أهل الذمة .

وفى تبيين الحقائق شرح الكنزج : ۴ ص : ۱۶۴ (طبع سعيد) باب العشر والخراج والجزية : الامصار هى التى تقام فيهاشعائر الاسلام فلايعارض باظهار مايخالفها لهذايمنعون من بيع الخمر والخنازير وضرب الناقوس خارج الكنيسة فى الامصار لماقلنا ولايمنعون من ذلك فى قرية لاتقام فيها الجمع والحدود وان

حاصل شود(۳) واندرین زمانه مغلوبیت انتظامات مناسب برای حفاظت دین واجب هستند، چون تعمیر مساجد واقامت مدارس دینی ووعظ و تبلیغ ، تاکه مسلمانان برایمان سلامت باشند، واگرآن حکمران برترک احکام دینی جبروتشدد نماید، واستطاعت مقاومت اونه باشد پس اندران وقت هجرت بر مسلمین واجب شود. (۴)

جواب ۲ : - زیرحکومت آن حکمران کافرملازمت کردن ویول حقوق بگرفتن جائزاست بشرطیکه آن خدمت فی نفسها حرام وناجائزنه باشد ودران اعانت معصیت لازم نیایداندرین پول هیچ کراهت نیست.

جواب ۳ : - سوال واضح نیست حکمران کافرچرا بگوید که «برای من حج کن» .

جواب ۴ : - درصورت عدم استطاعت محاربه تعلقات باکفار قائم کردن رواست البته مداهنت وتشبه باکفار و تعظیم شعائر کفربدون حالت اضطرار جائزنیست.

جواب ۵ : - رواست.

جواب ۶ : - جواب این سوال ازاجوبه سابقه واضح است.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۷/۱۱/۱۳۹۶ (فتوى نمبر ۲۵۵۴/۲۷)

په عراق كي دامريكايي قواوودمرستي لپاره دپاكستاني فوځونود لیږلو حكم

كان فيهاعدد كثير لان شعائر الاسلام فيهاغير ظاهرة وقيل يمنعون فى كل موضع لم تشع فيه شعائرهم لان فى القرى بعض الشعائر فلاتعارض باظهار مايخالفها من شعائر الكفر .... الخ .

وفى الفتاوى الكبرى (من يفعل من المسلمين مثل طعام . ... الخ) ...... قدذهب طائفة من العلماء الى كفر من يفعل هذه الامور لمافيهامن تعظيم شعائر الكفر .... الخ .

سوال: دپاکستان حکومت دامريکې په غوښتنه عراق ته دپاکستاني فوځ دلېږلو اراده لري، آیادپاکستان دحکومت لپاره داروادی چې په عراق کي دامريکادمرستي لپاره خپل فوځونه ولېږي؟

جواب: په اوسني حالاتوکي داوخت چې امريکاپرعراق باندي يومخيزه تېرې او قبضه کړيده دپاکستان، يادیوه بل مسلمان حکومت لپاره په هيڅ ډول ددې جواز نشته چې هلته دهغوی دمرستي لپاره خپل فوځونه ولېږي، چې دحرمت اونه جواز لپاره يې څوښکاره دلائل په لاندي ډول دي:

۱: - امريکاچې پرعراق په تېرې کولوسره کوم ډول ظلم اوبربريت ترسره کړی، نه يوائې اسلام بلکه دټولې نړۍ منل شوي اواخلاقي قوانين يې ترپښو لاندي کړي، نودهغې په غوښتنه سره هلته دفوځونولېږل دهغې ددې يومخيز، ظالمانه تېرې له تائيد څخه پرته بل څه نه دي چې پرحرمت يې ددلائلو کوم ضروروت نشته

۲: - امريکا پرعراق ترخپل کنټرول وروسته دخپلې ولکې دټينګولواو د خپلو شومو اهدافودلاسته راوړلولپاره له بېلابېلوملکونوڅخه دخپلوفوځونودلېږلو غوښتنه کړيده، دشريعت له حکم سره سم پداسي حال کي چې يوکافر قوم پريوه مسلمان هيوادتېرې وکړي نوله ضرورت سره سم پرټولو مسلمانانو له هغه څخه دفاع کول لازم دی اوکه يوکافرقوم د مسلمانانويوهيواداشغال کړي نوپرټولومسلمانوحکومتولازمه ده چې دهغوی ددې اشغال دپای ته رسولولپاره ټول شته وسائل پرکاراواچوي، ښکاره خبره ده چې پداسي حالاتو کي داشغال دختمولوپرځای ددوی دظالمانه اشغال دلازيات ټينګولولپاره کوښښونه سراسر حرام اوناجائزدي.

۳: - پرعراق له دامريکا لشکرکشي سره سره دعراق مسلمانان د امريکې ددې تېرې په پرله پسې توګه مقابله کوي کوم چې ورته ددې پوره حق حاصل دی، پداسي حالاتوکي دټولي اسلامي نړۍ دنده اووظيفه ده چې دعراقي مسلمانانودکومک اومرستي لپاره ملاوتړي اوهيڅ ډول وس ونه سپموي، دامهال خپل فوځونه امريکاته په قومانده کي ورکولونتيجه به مسلمان فوځونه دعراقي مسلمانانو په مقابل کي له درولوڅخه پرته بل څه نه وي، داخبره چې پاکستاني فوځونه په عراق کي دسولي لپاره غوښتل کېږي خپله ددې اعتراف دی چې هغوی به دعراق له مسلمانانوسره ښکېل اوپه ټکر کي لوېږي څوک چې داوخت دامريکې پرضد جنګېږي، د مسلمانانوپه مقابله کي له کفري اشغالګرانوسره مرسته دقرآن اوسنت له ښکاره نصوصوڅخه

برښنده سرغړونه ده چې په حراموالي کي يې وهيڅ يوه مسلمان ته شک نه پيداکېږي دقرآن کريم ښکاره لارښوونه ده: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُم مِّنَ الْحَقِّ.

ترجمه: ای مؤمنانو! زمادښمن اوخپل دښمن خپل دوست مه ګرزوئ چې دهغوی لپاره ددوستئ بنيادجوړشئ څه مهال چې هغوی له هغه حق څخه انکارکوي کوم چې تاسو ته راغلی دی.

داآيت چې په کومه واقعه کي نازل شوی په هغې کي حاطب بن ابی بلتعه ؓ يوازي دومره وکړل چې دهغه چې کوم خپل خپلوان په مکه مکرمه اوسېدل د هغوی دګټود خونديتوب په مقصد يې دمکې کفاروته پرهغوی دمسلمانانو له لوري دحملې خبرورر کول غوښتل. (صحيح البخاری)(۱)

که څه هم په هغه پېښه کي مسلمانانوته کوم دياد ولوړتاوان ونه رسېدی خو دقرآن کريم پورتني آيت دده پردې اقدام باندي سخت رد وکړ. (تفسيرابن کثيرج:۴ ص: ۳۴۵)(۲)

اودبيالپاره يې ځانګړی قانون جوړکړ چې له کفاروسره دمسلمانانودګټوپرضد مرسته اودوستي په هيڅ ډول روانه ده.

په همدې صورت کي وړاندي الله تعالی ددې مسئلې نوروضاحت داسي کوي:

لَّا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٨﴾ إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَىٰ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٩﴾ الممتحنة: ۸-۹

ترجمه: الله تعالی تاسي له دې خبري څخه نه منع کوي چې کوم (کافران) خلګ له تاسي سره ددين په معامله کي جګړه نکوي، تاسي ستاسوله کورو نه باسي تاسي له هغوی سره ښه رويه اودانصاف معامله وکوئ، بېشکه الله تعالی انصاف کونکي خلګ خوښوي هوالله تعالی

(۲) الصحيح البخاری باب غزوة الفتح ومابعث حاطب ابن ابی بلتعة الی اهل مکة يخبرهم بغزو النبی صلی الله عليه وسلم رقم الحديث ۲۷۸۵ ج: ۲ ص: ۶۱۲ (طبع قديمی کتب خانه)

تاسوله دې خبري څخه منع كوي چي كوم خلك له تاسو سره ددين په معامله كي جګړې كوي اوتاسو ستاسوله كورونو څخه باسي اوستاسو دايستلو لپاره يوله بل سره كومك كوي، دداسي خلكومرستندويان جوړشئ ، ځوك چي ددوئ مرسته وكړي نو داسي خلګ ظالمان دي.

په دې آياتو كي په بشپړ وضاحت سره له داسي كفاروسره ملګرتيا اومرسته حرام ګرزول شوي ده ځوك چي له مسلمانانوسره جګړه كوي اودهغوی كورونه نړوي ، ياپدي كاركي له هغوی سره مرسته كوي.

امريكا چي په خپله يې هم په زرومسلمانان په وحشي توګه دخپل تېري هدف ګرزولي اوپه زرومسلمانان يې خپله بې كوره كړي، داسرائيلويې هم پوره مرسته كړي ځوك چي له كلو راهيسي دداسي جرائمومرتكب دي ، نوله همدې وجي هغه له شک څخه پرته ددې آيت ترمفهوم لاندي ده، ددې پرمرسته داآيت په پوره ډول صادقيږي، د مسلمانانو پرضدله كفاروسره ددوستانه كومک دحراموالي په ګڼوآياتونوكي په بېلابېلو ډولونوبيان شويدی په خاصه توګه بيالاندينی آيت كريمه دمسلمانانولپاره دپوهي معدز دی: الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا (النسآء ۱۳۹)

ترجمه: داهغه خلګ دي ځوک چي دمؤمنانو په پرېښوولوسره يې له كفاروسره دوستي جوړوي آيادوی دهغوی په وړاندي عزت مومي نو(پوه دي شي) چي هرډول عزت دالله په واک كي دی..

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا

(النسآء ۱۴۴)

ترجمه: آياراده لرئ تاسي (ای مؤمنانو) چي پيداكړئ الله لره پرتاسی برهان (حجت) ښكاره؟ چي تاسي منافقان ياست.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم ... لَهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (المائدة: ۵۱)

ترجمه :ای هغوكسانوچي ايمان يې راوړی (ای مؤمنانو) مه نيسئ تاسي يهوديان او نصرانيان دوستان ځيني ددوئ دوستان دي دځينونوړ، اوهرڅوچي دوستي وكړه له دوئ سره له تاسي ځيني نوبيشكه چي دی له همدوی ځني دی اوددہ حكم ددوی حكم دی (بيشكه الله هدايت نه كوي قوم ظالمانوته)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُوا ... لَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (المائدة: ۵۷)

ترجمه : ای هغوكسانوچي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) مه نيسئ هغه كسان چي نيولی دي دوئ دين ستاسي مسخره اولوبي (له هنو كسانو څخه چي وركړی شوی دی دوئ ته كتاب پخواله تاسي څخه او(مه نيسئ) كافران (دوستان) اوويرېږئ له الله څخه كه يئ تاسي مؤمنان په رښتياسره)

۴ : - په پورتنويادوشووآياتونواودنبی ﷺ دبرولاربښوونوپه رڼاكي دامت فقهاوو دا اصول بيان كړيدي چي ديوه ګډدښمن په وړاندي هم د كفاروڅخه مرسته غوښتل ، ياله هغوی سره مرسته كول يوازي هغه مهال روادی څه وخت چي هغه كفاردمسمانانوتربيرغ لاندي وجنګيږي اودجنګ په نتيجه كي دمسلمانانوحكم غالب وي امام ابوبكرجصاص رحمه الله دسورة النساء ترياد شوي آيت لاندي داسي فرمايي:-

وهذايدل على انه غيرجائز للمؤمنين الاستنصار بالكفار على غيرهم من الكفار اذاكانوا متى غلبواكان حكم الكفر هوالغالب .
(احكام القرآن ج : ۲ ص : ۳۵۲)

ترجمه : له دي آيت څخه معلومه شوه چي دمسلمانانولپاره داروانه دی چي دكفارو دمقابلې لپاره له نوروكفاروپداسي حال كي مرسته وغواړي چي دبري څخه وروسته به دكفرحكم غالب كيږي.

همدارنگه امام محمد رحمه الله په «سیر کبیر» کي فرمايي: لابأس بأن يستعين المسلمون بأهل الشرک على اهل الشرک اذاكان حكم الاسلام هو الظاهر عليهم. (۱) (شرح السير الكبير ج: ۳ ص ۱۸۲)

ترجمه: مسلمانان که دکفارو په مقابله کي له نورو کفارو څخه مرسته غواړي نو څه حرج نشته خو هغه مهال چي داسلام حکم پرهغوی باندي غالب وي.

بل لورته که یو کافرقوم له یوه بل کافرقوم سره مسلمانانوته دجګړې بلنه ورکړي نو هم اصل حکم همدادی چي دمسلمانانولپاره دیوې ډلي مرسته کول هم روانه دی، البته که ددې وېره وه چي که مسلمانان دکفارودابلنه ونه مني نوهغوی مسلمانان هم وژني نوبیاد هغوی مرسته کول روادی.

امام محمد رحمه الله فرمايي: لاينبغى للمسلمين أن يقاتلوا أهل الشرک مع أهل الشرک ......ولوقال أهل الحرب لاسراء فيهم قاتلوا معناعدونامن المشركين وهم ...... فاذا كانوايخافون اولئک الآخرين على انفسهم فلابأس بأن يقاتلوهم. (۲)

ترجمه: دمسلمانانولپاره روانه دی چي هغوی دمشرکینو دیوې ډلي په ملتیاله نورومشرکانوسره وجنګېږي، که کفارودمسلمانانوبندیانوته وویل: چي زموږ دمقابل مشرک دښمن سره زموږپه پلوي وجنګېږئ، هغوئ خپله هم مشرکان وي، نوکه له دغه بندیانوسره دخپل ځان وېره وه ددوئ لپاره روادی چي له هغوی سره یوځای دهغوی ددښمن په مقابل کي وجنګېږي

(شرح السير الكبير ج: ۳ ص: ۲۴۱، ۲۴۲) (۲)

داټول څه هغه مهال روادي څه وخت چي له کفاروسره یوځای دکفارو په مقابل کي جنګ روان وو، خوکه دکفارومقابل لورته مسلمان وه اوبیاکفارو دخپل ځان په پلوي دخپل مسلمان دښمن پرضدپه جنګ کي بلنه ورکړه، نو دا وخت دمجبوریت په حالت کي هم د هغوی مرسته روانه ده، یعني که د مسلمانانوداوېره وه چي که دکفارودا غوښتنه ونه مني چي

(۳) باب استتابة المرتد (تحت) بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا (الآية) ج ۲ : ص : ۳۶۱ (طبع دار الكتب العلمية بيروت)

(۱) باب الاستعانة بأهل الشرک واستعانة المشركين بالمسلمين.

دنورومسلمانانود جنګ لپاره له موږسره ملګري شئ نوداکفارموږهم وژني، بیاهم د مسلمانانو لپاره دهغوی ددې غوښتني منل روانه دي که څه هم دمرګ له خطرسره مخ شي.

امام محمد رحمه الله تعالی فرمايي: وان قالوالهم قاتلوامعنا المسلمين والاقتلناكم، لم يسعهم القتال مع المسلمين.

ترجمه: اوکه دوی ووايي: چي له نورومسلمانانوسره په جنګ کي زموږملګرتیا وکړئ، که نه نوتاسوبه ووژنو، بیاهم ددوئ لپاره له مسلمانانو سره د جګړې اجازه نشته. امام سرخسي رحمه الله ددې په تشريح کي داسي وايي:

لأن ذلک حرام على المسلين بعينه فلايجوز الاقدام عليه بسبب التهديد بالقتل كمالوقال له: اقتل هذ المسلم والِاقتلنّک. (شرح السير ج: ۳ ص: ۲۴۲)

ترجمه: له دې وجي څخه چي دمسلمانانوله نورومسلمانانوسره جنګ کول حرام لعَينه دی نوځکه دوژلوداخطارپه صورت کي هم داسي کول روانه دي، داداسي دی لکه یو څوک چي ووايي: فلاني کس ووژنه، که نه نوزه تا وژنم (چي دهمدې اخطارپه وجه دبل چاوژنه روانه ده).

خلاصه داشوه چي دپاکستان فوځونه چي په جوړښت اوبنسټیزو اصولوکي یې جهاداودملک په دستورکې داسلامي نړۍ له مسلمانانوسره دوفادارۍ وعده شامله ده د عراق دمسلمانانوپه ضددرول څوک چي داوخت دامريکې د جبراوظالمانه تېري په وړاندي په سربښندنه بوخت دي دقرآن اوسنت له ښکاره نصوصواودأمت له ټولنيز فکرڅخه خلاف یوعمل دی، خپله دپاکستان له دستور اودپاکستان دفوځ له مقاصدوڅخه هم خلاف دی اوکه خدای مکړه دا یومخیزناروااقدم پورته شي نودپاکستاني فوځ دعزت اووقار او د دوی پر نیکنامي دیوه تورداغ دلګېدلومعنابه ولري.

والله سبحانه وتعالى اعلم

الجواب صحيح	الجواب صحيح	
محمدرفيع عثماني عفا الله عنه	احقر محموداشرف غفرالله له	محمدتقي عثماني
۱۲/۲/ ۱۴۲۴ هـ	۱۳/ ۲/ ۱۴۲۴ هـ	۱۲/ ۲/ ۱۴۲۴ هـ

(فتوی نمبر ۸۲/ ۲۳۲)

دتحریک نظام مصطفی په لاریونونو کي وژل شوی «شهید» دی او که نه؟

سوال: - نن صباچي کوم مسلمانان دنظام مصطفی غورزنګ په لاریونونو کي د پولیسو په ګولیوووژل شي داشهیددی، که نه دی، داسي خلګوته غسل، کفن ورکول کېږي، که نه؟

جواب: - كوموخلكوچي ديوه عالم دفتوى، ياترغيب پراساس په دغه لاريونونوكي برخه اخيستي وي، يايې په نيک نيت سره دامحسوسه كړي وي چې پدې لاريونوكي برخه اخيستل داسلامي نظام دقيام لپاره دهڅواو كوښښونوهمدالاره ده اوبيادى مړشي نود اخروي احكامو په اعتبار سره انشاء الله شهيددى خوددنيوي حكمونوله لحاظه دشهادت لپاره شرط دادى چې له ګولۍ لګېدلو، يازخمي كېدلوڅخه وروسته سمدستي دده روح قبض شي، ترزخمي كېدلووروسته هغه څه خوړلي، څښلي نه وي، نه يې له يوه چاسره اوږدې خبرې اترې ترسره كړې وي، نه يې ديوه كامل لمانځه وخت موندلى وي، داسې خلكوته له غسل، كفن وروكولوپرته لمونځ وركول كېږي، بيابښخېږي(۱) اوكه داشرطونه ونه موندل شي نوبياغسل، كفن وركول ضروري دى.

(۴و۵) وفى الدرالمختار، باب الشهيدج: ٢ ص: ٢٥٠ (طبع سعيد) ......فينزع عنه مالايصلح للكفن ويزادان نقص ماعليه عن كفن السنة وينقص ان زاد لأجل ان يتم كفنه المسنون ويصلى عليه بلاغسل ويدفن بدمه وثيابه لحديث زملوهم بكلومهم ..... الخ.

وفيه ايضًا ص: ٢٥٠ الى ٢٥١ ويغسل من وجدقتيلا فى مصر .... أوجرح وارتث وذلك بأن أكل أوشرب أونام أوتداوى ولوقليلاً أوآوى خيمة أومضى عليه وقت صلوة وهويعقل .... اوباع أواشترى أوتكلم بكلام كثير..... وكل ذلك فى الشهيدالكامل والافالمرتث شهيدالآخرة.

وفى الشامية تحته ج: ٢ ص: ٢٥٢ قوله فى الشهيدالكامل) وهوشهيدالدنياوالآخرة وشهادة الدنيابعدم الغسل الالنجاسة اوأصابته غيردمه كمافى أبى السعود وشهادة الآخرة بنيل الثواب الموعودللشهيد........الخ. وكذافى بدائع الصنائع ج: ١ ص: ٣٢٤ (طبع سعيد).

وفى المبسوط للسرخسى، باب الشهيدج: ٢ ص: ٥١ (طبع مطبع السعادة مصر) وقدورد الأثر بغسل المرتث ومعناه ..... والأصل فيه أن عمر رضى الله عنه لماطعن حمل الى بيته فعاش يومين ثم غسل وكان شهيدًا على لسان رسول الله صلى الله عليه وسلم وكذلك علِي رضى الله عنه حمل الى بيته حيًا بعدماطعن ثم غسل وكان شهيدًا وأماعثمان رضى الله عنه فاجهز عليه فى مصرعه ولم يغسل فعرفنابذلك ان الشهيد الذى لايغسل من اجهز عليه فى مصرعه دون من حمل حيًا...... الخ. وكذافى البحر الرائق، باب الشهيدج: ٢ ص: ١٩٨ (طبع سعيد). وفى المبسوط للسرخسى، باب الشهيدج: ٢ ص ٥٠ (طبع مطبع السعادة مصر) قال ويكفن فى ثيابه التى هى عليه لقول رسول الله صلى الله عليه وسلم: زملوهم بدمائهم وكلومهم ...... ولمااستشهدعمار ابن ياسر بصفين قال: لاتغسلوا عنى دمًا ولاتنزعوا عنى ثوبًا فانى

وهذالأن الخروج على الحكومات اليوم أمرمجتهدفيه، وحكمه على الإجتهاد، كماأن حجربن عدى رحمه الله خرج على معاوية رضى الله عنه بعداستقرار خلافته وكان ذلک اجتهادًا منه وقدصرح السرخسي فى المبسوط انه دفن فى ثيابه. والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۳۹۷/۷/۲۴ھ (فتوى نمبر ۷۷۷/۲۸ج)

دخليج دجګړې شرعي حيثيت اوپه هغه كي دكومي ډلي په پلوي جګړه جهادوو؟

سوال: - تاسوبه خبرياست چي دخليج له بحران څخه وروسته اوس عراق او امريكا اودهغې اتحادي ملكروترمينځ جګړه روانه ده، اوددې جګړې په حقائقوتاسوښه خبرياست، يولورته عراق دى چي يواسلامي ملک دى، بل پلوبېلابېل ملكونه دي چي امريكايې په سركي راځي، برطانيه اوفرانسه يې هم سرپرستي كوي خوله دې پرته په دې مملكتونوكي اسلامي ملكونه هم شته چي دعراق په وړاندي سره يودي په كوموكي چي سعودي عرب، مصر، تركيه اوداسي نوراسلامي ملكونه شامل دي، آيايوپاكستانى مجاهدپه دې جګړه كي برخه اخستلاى شي، كه نه؟ يعني داجنګ ددې مجاهدلپاره جهادفى سبيل الله بلل كېداى شي، يانه؟ اوكه وي نودچاپه پلوي، دسعودي عرب په پلوي، كه دعراق په پلوي، دې ته په پام سره كوم مملكتونه چي له عراق سره دي په هغوى كي كوم يوكفري ملک هم نشته. دمهرباني له مخي موله شرعي حكم څخه خبركړئ.

جواب: - دخليج په سيمه كي چي كومه جګړه روانه ده هغه داسلامي نړۍ لپاره يوه لويه فتنه ده، پدې كي شک نشته چي په پيل كي پركويټ دعراق حمله يوه لويه تېروتنه كومک وو چي شرعًا يې هيڅ جوازنه وو. اودسعودي لپاره له ديو مظلوم په حيث له كويټ سره كومک اوكه چېري دده خپلي يوې سيمي ته داډول خطرمتوجه واى دهغې ددفاع لپاره جګړه هم پرحق وه، پدې شرط چي دجګړې مشري خپله دده، ياديوه بل مسلمان ملک په لاس كي واى خوپه عملي توګه داسي وشول چي سعودي عرب دجنګ ټوله قومانده، پاليسياني په ټوليزډول امريكاته وسپارلې، نودعراق په پلوي جګړه ځكه روانه وه چي له لمړى ځل ظلم دده له لوري څخه پيل شوى وو، كه عراق له ظلم څخه تېرېدلاى، كويټ يې له خپلې سلطې څخه آزادولاى نوجنګ

التقى ومعاوية بالجادة وهكذا نقل عن حجر بن عدى غيرانه ينزع عنه السلاح والجلد والفرو والحشو والخف والقلنسوة ...... الخ.

بندېدل دده په اختيار کي وو ، له بل لورڅخه دده پر ضدپه جګړه کي ګډون ځکه روانه دی چي داوخت ددې جګړې قومانده دامریکاپه لاس کي ده چاچي دايې په ډاګه کړي وه چي يوازي دکويټ خلا ددوئ هدف نه دی بلکه دعراق زور په پوره توګه ددوی مدنظردی، کوم څه چي ورسره دټولي اسلامي نړۍ کمزوري حتمي ده ، په کوم جنګ کي چي په يوه لوري کي ګډون له شرعي موانعوڅخه خالي نه وي هغه ته په اصطلاح کي «فتنه» ويل کېږي اوداسي فتنوپرمهال له دواړوډلو څخه دبې طرفه پاته کېدلوحکم دی.البته دامهال داسي دعا غوښتل پکاردی چي ای الله ! دمسلمانانوترمينځ يووالی او اتفاق پيدا کړې اوددوی دځان ، مال ، عزت ، ابرو ساتنه وکړې ، ددوی دښمن تباه ، برباد کړې آمين

لقوله تعالى: فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا (النسآء : ٤١)

وفى مشكوة المصابيح ودقال : سمعت رسول الله ﷺ يقول : ان السعيدلمن جنب الفتن ، ان السعيدلمن جنب الفتن ، ان السعيدلمن جنب الفتن ، ولمن ابتلى فصبر فواهًا. (رواه ابو داؤد ص: ٤٦٤)

وعن ابى موسى عن النبى ﷺ انه قال : ان بين يدى الساعة فتنًا كقطع الليل المظلم (الى قوله) ثم قالوا: فماتأمرنا؟ وفي مشكوة المصابيح عن أبى سعيدقال : قال رسول الله ﷺ يوشک ان يكون خيرمال المسلم غنم يتبع بهاشعف الجبال ومواقع القطر يفربدينه من الفتن . (رواه البخارى ص : ٤٦٢)

وعن المقدادبن الأسود: قال سمعت رسوالله ﷺ قال : كونوا اجلاس بيوتكم . وفى رواية الترمذى ان رسول الله ﷺ قال : فى الفتنة كسّروافيهاقسيكم وقطعوا فيهااوتاركم والزموافيهااجواف بيوتكم وكونواكابن آدم. (٣) (ص : ٤٦٤)

وعنه (حذيفة) قال : (الى قوله) قلت : يارسول الله ﷺ ! صفهم لنا. قال هم من جلدتناويتكلمون بألسنتنا، قلت فماتأمرنى ان أدركنى ذلک ؟ قال : تلزم جماعة المسلمين وامامهم . قلت فان لم يكن لهم جماعة ولاامام ؟ قال : فاعتزل تلک الفرق كلهاولوان تعض بأصل شجرة حتى يدرکک الموت وأنت على ذلک. (١) (متفق عليه ص : ٤٦٢)

وفى شرح السيرالكبير:باب الاستعانة بأهل الشرک واستعانة المشركين بالمسلمين : - مانصه - ولابأس بأن يستعين المسلمون بأهل الشرک على أهل الشرک اذاكان حكم الاسلام هوالظاهر (الى ان قال) والذى روى ان النبى ﷺ يوم أحد رأى كتيبًاحسناقال : من هؤلآء ؟ فقيل : يهودبنى فلان حُلفآء بن ابى فقال : انالانستعين بمن ليس على ديننا تأويله انهم كانوأهل منعة وكانوالايقاتلون تحت رأية رسول الله ﷺ وعندنااذاكانوابهذه الصفة فانه يكره الاستعانة بهم (الى قوله) وانماكره ذلک لأنه كان معه سبعمأة من يهودبنى قينقاع من حلفآئه فخشى ان يكونواعلى المسلمين ان احسوابهم زلة قدم فلهذاردهم (وفيهم بعدذلک) حديث الزبير حين كان عندالنجاشى فنزل به عدوه فأبلى يومئذٍ مع النجاشى بلآءً حسنًا(الى قوله) ان النجاشى كان مُسلما(وبعدأسطر) قلناان ظهر على النجاشى لم يعرف من حقناماكان النجاشى يعرف فاخلصناالدعآء الى ان يمكن الله النجاشى آه ملخصًا. والله سبحانه وتعالى اعلم

احقرمحمدتقى عثمانى عفى عنه

الجواب صحيح	الجواب صحيح	٢١/ ٧/ ١٤١١هـ
محمدرفيع عثمانى عفاالله عنه	بنده عبدالرؤف سكهروى	(فتوى نمبر ٧٢/ ٤٧)

(١) شرح السيرالكبير، باب الأستعانة بأهل الشرک واستعانة المشركين بالمسلمين ج : ٣ ص : ٨١ و١٨٧

دضیاء الحق مرحوم مړینه شهادت دی او که نه؟

سوال:- زید وایي چي زموږ دملک دصدر مرحوم جنرال ضیاء الحق غمیزه د مسلمانانو لپاره دعبرت یوه پېښه ده ، له دي پېښي څخه زموږ لپاره پند اخیستل پکاردی ، ولي چي دا دالله تعالی له لوري یو عذاب دی چي زموږ دملک پر صدراوده پرملګرو نازل شو ، دارنګه دصدر ضیاء الحق مړینه شهادت نه بلکه دهلاکت یوه مړینه یې بولي. آیا دزید دا خیال سم دی؟

جواب: - صدرمرحوم دیوې الوتکي په پېښه کي په حق ورسېد ، که یوه کس دا پېښه قصداً دهغه دوژلو په موخه رامنځته کړي وي، نو بیا خو هغه په دنیوي اواُخروي لحاظ دواړو شهیددی (۱) او که دا یوه ناڅاپي پېښه وه نو ددنیا په لحاظ شهید نه دی البته دآخرت داجر په لحاظ هغه شهید دی (۲) ولي چي دأخروی اجر په لحاظ کوم کس دا ور په سوځلو، یا دیوه شي په راپرېوتلو سره هلاک شي هغه هم شهید دی. (۴) او دیوه کس په باره کي دا فیصله کول چي پرهغه عذاب نازل شویدی ډېره دجرأت خبره ده ، چي دهرمسلمان لپاره ورڅخه ځان ساتل ضروري دی. (۵)

والله اعلم ۳۰/۱/۱۴۰۹ھ (فتوی نمبر ۲۲۴ / ۱۴۰ الف)

---

(۱) وفی الهندیة ، فصل فی الهندیة فصل فی الشهیدج : ۱ ص : ۱۶۸ (طبع رشیدیه) ولوکان المسلمون فی سفینة فرماهم العدوبالنار ..... فاحترقوا فهم کلهم شهداء کذافی الخلاصة.

(۲ و ۷) وفی الشامیة ، باب الشهیدج : ۲ ص : ۲۴۸ (طبع سعید) لومات حتف انفه أوبتر دأوحرق اوغرق أو هدم لم یکن شهیداً فی حکم الدنیاوأن کان شهیداً الآخرة.

وفی الدرالمختار ، باب الشهیدج : ۲ ص : ۲۵۲ والافالمرتث شهیدالآخرة وکذاالجنب ونحوه ..... الغریق والحریق والغریب والمهدوم علیه .... الخ.

وفی المبسوط للسرخسی ، باب الشهیدج : ۲ ص : ۵۲ (طبع مطبع السعادة مصر) ومن قتله السبع أواحترق بالنار أوتردی من جبل أومات تحت هدم أوغرق غسل کغیره من الموتی ...... الخ.

وفیه ایضاً ج : ۲ ص : ۵۱ .....فیغسل وان کان له ثواب الشهداء کالغریق والحریق والمبطون والغریب یغسلون وهم شهدآء علی لسان رسول الله ﷺ...... الخ.

دوسائلو دنشتوالي په صورت کي دعوت ، تبلیغ او دوسائلو دمُیسروالي په صورت کي جهاد کول کېږي دجهاد لپاره دامام مهدی رحمه الله انتظار او دتبلیغي ډلي دنظریې حکم

سوال: - محترم ، جناب مفتی تقی عثمانی صاحب ! السلام علیکم

امید دی چي روغ ، او سلامت یاست ، قدرمنه ! ما فکر کاوه چي خپله ستاسو په خدمت حاضر شم ، خودځای دلیري والي او دزیاتو مصروفیتونو له امله ونه توانېدم ، له همدې وجي دلیک له لاري مي لتاسو سره تماس ونیوه. لمړی خپله پېژندنه او دلیک مقصد بیانول مناسب ګنم. زه له کوم دیني غورزنګ یا ډلي سره په رسمي ډول اړیکي نلرم ، خو ستاسو په څېر له جیدو علماوو او دیني بزرګانو دزیارت او ددهغوی دمجلس په واسطه دین زده کول ، دهغه دبقاء او نفاذ مینه مي په زړه کي وي.

محترمه ! زه له څه مودې راهسي دتذبذب ښکاریم چي ددین مناسب اشاعت او حفاظت سمه او مسنونه لاره څنګه ده په دي باره کي ستاسو وضاحت غواړم. لمړی ځوخبري چي مي په ذهن کي دي ستاسو په خدمت کي به یې وړاندي کړم، ستاسو په څېر جید علماء کرام او دیني بزرګانو له مجلسو ، تصانیفو ، دقرآن او حدیث له مطالعې څخه وروسته دې نتیجې ته ورسېدم چي نبی ﷺ چي کله په مکه کي ددین ددعوت لپاره کومه لاره او طریقه د الله په امر سره غوره کړه دهغې په نتیجه کي تقریباً دري څلوره سوه کسان دین ته راغلل ، خو مدینې ته ترهجرت کولو پس څه وخت چي دجهاد حکم نازل شو او صحابه کرامو ترخپل وس پورته دا حکم پوره کړ چي په دوولس کاله موده کي دبېلابېلو سیمو له فتحي سره سم د مسلمانانو شمېر یولک کسانو ته ورسېدی، دارنګه دخلفای راشدینو په زمانه کي دلویو لویو ملکونو له فتح کېدلو سره سم داسلام دائره پراخه شوه ، او څورلس سوه کلن تاریخ ددې خبري شاهد دی چي داسلام حفاظت او بقاء لپاره یوازي جهاد یعني قتال مؤثر ثابت شویدی.

داسلام تر ډېره حده ، کماحقه اشاعت ، ترویج هم له همدې لاري شوی څه وخت چي کومه سیمه به فتح شوه نو هلته به داسلام مبلغینو ته په آزادانه ډول داسلام داشاعت موقع پلاس ورغله.

په اوسني موجوده دورکي له قتال فی سبیل الله څخه دمخکې په څېر لکه چي ښایې تاثیرات په نظرنه راځي، کوم چي ددیوبند دعلماوو له لوري راپیل شوی تحریک (غورزنګ)

تبليغي جماعت څوک له ۸۰ اتياكالوراپدي خوا ددين داشاعت لپاره هلي ځلي کوي چي يوازي په ملک کي دننه نه بلکه په بهرني مملکتونو کي يې هم ډېري مثبتي نتېجې ورکړي دي.

دې خبري ته په پام سره زه ددين داشاعت ، اوحفاظت په اړه دخپلي پورتنۍ رايې، يا په بل عبارت دقرآن، اوحديثو څورالس سوه ۱۴۰۰ کلن تاريخ اودأمت داکثرعلماوو د دريځ اودتبلېغي ډلي ددريځ په باره کي د تذبذب ښكاريم چي آيادامهال داسلام اومسلمانانو دبقاء، داسلام د ساتني اواشاعت لپاره کوم يو عمل مؤثراوګټور ، له قرآن اوسنت سره برابر دی ؟

دتبلېغي ډلي دريځ اونظريات چي کوم ماته دتبلېغي بزرګانو(علماوو، كاركنانو) پرژبه بيان شويدي په تفصيل سره درته بيانوم: -

۱ : - دتبليغيانو په قول ددين اصل روح اوحقيقت « امربالمعروف اونهی عن المنكر» دی ، دادټولونبيانو كارو، په دې کي دأمت كاميابي اوبری دی. (په دې خبره تبلېغي لکه چي ښايې څومره عمل کوي ؟ پدې اړه زه څه نشم ويلی.)

۲ : - دادجهاد ، قتال زمانه نه ده بلكه دژبني دعوت زمانه ده.

۳ : - ترڅوچي مهدي نه وي څرګندشوی ترهغې پوري جهاد ، له هغه سره اړوندي ټولي چاري موقوف،دتبلېغي ډلي له نظريې سره سم هلي ځلي کول دټول امت لپاره ضروري دي

۴ : - په دې دور کي په جهادي هلوځلوکي برخه اخستل دحكمت عملي خلاف ، دين ته دضرر رسولو په معنادی.

۵ : - په قرآن ، حديث کي دجهاد ، قتال فی سبيل الله اصطلاح ګاني په دووبېلو معناوو کي استعمال شوي دي

۶ : - ددين دتبليغ او داصلاح نفس رواجي طريقې کومي چي اكثرًا په أمت کي رواج دي دخانقانظام ، دېني رسالې ورځپاڼي، اصلاحي تقريرونه، ليكني، تصنيفونه، دمدرسو ثبات ، اوداسي نوري لاري له نبوت سره مشابه نه دي ، د« تبلېغي ډلي » ددعوت ډول نه يوازي سم اوله الهی رضاسره برابر بلكه له نبوي طريقې سره ورته والی هم لري.

۷ : - که په أمت کي دبدر دصحابه وودشمېرپه اندازه خلګ ددوی په څېر اعمالو ، ايمان، تقوی، اوله الله سره دتعلق جوړېدوجوګه شي نوخپله به ددنياځرخ بدل شي او د تبليغي ډلي مقصدهم همداسي خلګ پيداكول دي.

۸ : - ذدين دنفاذاودامربالمعروف ، نهی عن المنكرلپاره » دطالبانوپه طريقه كار له حكمت ، ددين له منشاڅخه خلاف ده.

۹ : - ددين يو كارهم ترهغه وخته پوري مؤثرثابتېدلای نشي ترڅوچي د رسول الله ﷺ له سنت څخه پرته ، د«تبليغيانو په اند » چي هغه عمل له نبوي سنت سره ملګری نه وي.

۱۰ : - دامهال ددين دساتني ، داسلام اومسلمانانو دبقاء اوداسلام دنفاذ لپاره نوري ټولي جهادي هلي ځلي غيرمؤثري ثابتي شويدي ، لهذادمهدي تر راتلوپوري داټول څه معطل اود«تبليغي ډلي» كاردي پيل شي.

۱۱ : - دأمت يووالی له تبليغي جماعت څخه پرته په بل څه کي ناشونی دی.

۱۲ : - تبليغي جماعت دمهدي فوځ (لشكر) تياروي

پورته يادشوي عام « نظريات » مادتېروشپږوکالوپه اوږدوکي دربوندپه اجتماع ، اودخپلي سيمي دشب جمعې په بيانونواوله ډېروتبلېغي علماوو څخه رانقل كړيدي

اويوه بله ځانګړي خبره داهم ده چي «تبلېغيان» پورتنۍ يادي شوي نظريې په عامه توګه «غيرتبليغيانو» په وړاندي نه بيانوي اوکه يې بيانوي نوداشارې، ياكنايې په ژبه يې بيانوي، همداوجه ده چي «غيرتبلېغي» علماوو ته دتبليغيانو په نظريه باندي پوهېدل ګران وي.

له تاسومحترم څخه (چي په دې له فتنوپه ډکه زمانه کي له استقامت سره سره ددين دترويج ، ددين تعليم اودمسلمانانود اصلاح لپاره كاركوئ) غواړم چي دې مسئلې ته پوره توجه وكړئ ، او په خپلوتقريرو، مجلوکي دا خبره روښانه كړئ چي دامهال ددين كوم يو عمل ډېرمؤثر، ګټور اوله قرآن اوسنت سره برابردی چي له هغه څخه ددين داشاعت ، ساتني اونفاذلپاره ورڅخه كارواخستل شي ، اوآيادتبلېغي ډلي ياده شوي نظريه سمه ، له دين سره برابره ده اوکه نه ؟

ديوه جيدعالم دين په توګه ستاسوددين داثركړې ډېره پراخه ده اوستاسو په خبرو کي الله تعالی ډېرقوت اوتاثيرايښی دی ، له همدې وجي خلګوته ستاسوخبري آسان فهمه اودمنلووړدي ، كومي چي زماپه څېر دلږ علم، عمل څښتن خبري يوه ته هم دمنلونه دي ، ديوي بلي فتنې اوفساد خورېدلو وېره هم شته.

له دې ټولووړانديزونوپرته هيله ده چي خپل مهر اودستخط سره مدلل اوتفصيلي جواب راولېږې ، لارښوونه راته وكړې چي آيازمارايه سمه ده، ياده تبلېغيانو، ياله دې دوو څخه پرته يوه بله لاره په قرآن اوسنت کي داسي شته چي دهغې په واسطه دامت اصلاح ، د مسلمانانو، داسلام حفاظت ، ترويج ، ددين په نفاذكي ورڅخه په مناسب ډول كار واخستلی شي ؟ فقط

حافظ سميع الله خان الياس

جواب : - لنډه خبره داسي ده څه وخت چي دجهادلپاره ضروري وسائل مُیسرنه وي ، ددعوت، تبليغ ، دافرادو دروزني کارته توجه کول پکاردی، له دې سره په څنګ کي دجهاد د ضروري وسائلودبرابرولوفکرهم جاري ساتل پکاردی (۱) څه وخت چي وسائل برابر، تيارشي نوجهادکول پکاردی (۲)، داویناناسمه ده چي دامام مهدي ترراتلوپوري جهاد موقوف دی ، داغلط فکر دی ، ددې د ردولواواصلاح لپاره دتبليغ له بزرګانوسره خبري اتري هم ترسره شويدي.

(۱ تا ۱۱) «وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ عَدُوَّ اللهِ وَعَدُوَّكُمْ» (الانفال : ۶۰).

وفى تفسير القرطبى ج : ۸ ص : ۳۵ (طبع داراحياء التراث العربى بيروت) أمر الله سبحانه المؤمنين باعداد القُوة للأعداء بعد أن اكد تقدمة التقوى .... قال ابن عباس القوة هاهنا السلاح والقسى ...... الخ .

وفى تفسير ابن كثير ج : ۲ ص : ۳۲۸ (طبع قديمي كتب خانه) ثم أمر تعالى باعدادآلات الحرب لمقاتلتهم حسب الطاقة والامكان والاستطاعة فقال : (وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ) اى مهماأمكنكم .... الخ.

وفى تفسير المدارک ج : ۱ ص : ۵۹۷ (طبع قديمى كتب خانه) (مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ) من كل مايتقوى به فى الجرب من عددها..... الخ .

وفى تفسير ابى السعودج : ۳ ص : ۱۰۹ (طبع دار الكتب العلمية بيروت) أعدوا لقتال الذين نُبذاليهم العهد وهيئوالحربهم .... مااستطعتم من قوة من كل مايتقوى به فى الحرب كائناًماكان .... الخ .

وفى الدرالمختارج : ۴ ص : ۱۲۷ (طبع سعيد) وشرط لوجوبه القدرة على السلاح لأمن الطريق . وفى الشامية تحته : أى وعلى القتال وملك الزاد والراحلة كمافى قاضى خان وغير قهستانى ...... الخ. وفى تفسير روح المعانى ج : ۶ ص : ۲۴ (طبع مكتبه امدادية ملتان) (وَاَعِدُّوْا لَهُمْ) خطاب لكافة المؤمنين لماأن المأموربه من وظائف الكل أى أعدوالقتال الذين نُبذ اليهم العهد وهيئوا لحربهم (مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ) أى من كل مايتقوى به فى الحرب كائناًماكان وأطلق عليه القوة مبالغة ، وانماذكرهذالانه لم يكن له فى بدر استعداد تام فنبهوا علىٰ أنّ النصر من غير استعدادلايتأتى فى كل زمان وعن ابن عباس رضى الله عنهما تفسير القوة بأنواع الأسلحة . وفى التفسير الكبير للامام الرازى ج : ۵ ص : ۴۹۹ (طبع دارالحديث ملتان) أمره فى هذه الآية بالاعداد لهؤلاء الكفار ..... وأن يعدوللكفار مايمكنهم من آلة وعدة وقوة والمرادبالقوة ههنامايكون سبباًلحصول القوة وذكروافيه وجوهاً : الاول المرادمن القوة انواع الاسلحة .... قال أصحاب المعانى الأولى أن يقال هذاعام فى كل مايتقوى به على حرب العدوّ وكل ماهوآلة للغزو والجهادفهومن جملة القوة .... الخ .

څه وخت چي ضروري وسائل تيارشي ، جهادكول پكاردی (۱) امام مهدی دي تر اوسه نه وي راغلی ، خودضروري وسائلو په برابرولوكي له نني حالاتوسره ورته ويوه اوږده حكمت عملي ته اړتياده چي په يوه لنډه كي ليک كي يې بيانول ناشونی دی.

والسلام ۱۴۲۳/۲/۱۷ھ

جواب له۱ تر۳: - دمېرمني دستر وجوب يوه اجماعي اوغيراختلافي مسئله ده او دا ستر دمخ هم دی(۱) اودمېرمني تصوير شائع کول هم شرعًا روانه دی په دې مسلوکي ديوه ديني عالم هم کوم اختلاف نشته ، ددې خلاف ديوچاعمل په شريعت کي دليل نشي کيدای.

۴: - داشخاصوپه اړه پوښتني له فتوی سره تړاو نلري.

۵: - پردې مسئله باندي حضرت مولانامفتی محمد شفيع صاحب رحمة الله عليه تفصيلي فتوی د«جواهرالفقه» په نوم شهرت لري هغه ملاحظه کړئ.

الجواب صحيح
محمدرفيع عثمانی عفاالله عنه
۱۳۷۹/ ۲۱/۳

والله سبحانه اعلم.
احقرمحمد تقی عثمانی عفی عنه
۳/۱۳۹۷/۱۸

په انتخاباتوکي په بېلابېلو اميدوارانوباندي دقرآني آياتونواواحاديثود تطبيق حکم

۱: - «وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ» الآية د ۹ مفسدينود قومي اتحادپر۹ سردارانولګول

۲: - دقرآن کريم لفظ «هَلْ» دسياسي ډلي پرانتخابي نښه باندي لګول.

۳: - دتلاعب بالقرآن بېلابېل ډولونه اوپه داسي مجالسوکي دګډون حکم

سوال: - دتېرانتخاباتي بهيرپه دوران کي څرنګه چي مخالفوډلويودبل پرضدروا اوناروا مندي تړي سرته ورسولې تاسوهم په پوره توګه خبرياست بلکه په غلطه توګه د قرآن کريم

(۱) وفي الدرالمختار ، کتاب الصلوة ج: ۱ ص: ۴۰۶ (طبع سعيد) وتمنع المرأة الشابة من کشف الوجه بين الرجال لالانه عورة بل لخوف الفتنة .

تقاضايې مقصودګرزولی ، دين يې دهغه انسان په څېر چي پښې يې پورته اوسريې کښته وي، خلګوته څرګندکړی، وروسته ددې فکر يوه کارنده کس ددې په ردکي ديوه بېل او مستقل فکربنسټ ايښی ، له خپل ګمان سره سم يې مقصود اوتقاضاوي پرخپل خپل ځای په ايايښوولوکي کامياب شوی دی اوالحمدلله دواړه دعلم اوادب له نهر(ويالې)څخه اوبه شوي هم دي.

ترکومه حده چي داولني فکرتړاو دی دهغه په اړه زموږ بزرګانو- رحمهم الله – اوموجوده مبارکانوډېرڅه ليکلي دي، خوداصل فکر په اړه يوازي دوو ښاغليو؛ مولانامنظور نعمانی اومولاناسيدابوالحسن ندوی ليکني کړيدي. دخپلوبزرګانو چي ددې ردپه اړه څومره کتابونه زما ترمطالعه لاندي دي له هغه څخه داانداز لګېږي چي هغوی له دوهم فکرسره اتفاق لري ، دابېله خبره ده چي له دوهم فکرسره د نورومعاملواومسئلوپه اړه زموږدبزرګانو له هغه سره اختلاف دی ، خوددين دتعبيرترحده زموږ بزرګان له هغه سره متفق معلومېږي لکه چي ستاسومحترم دخپل ښکلي تصنيف «تکملة فتح الملهم» داعبارت هم پردې خبره دلالت کوي «ولکن بعض المسلمين الذين قاموابالردعلی العلمانية فی عصرنا قدأفرطوا فی ذلک الخ» (تکملة فتح الملهم ج: ۳ ص: ۲۷۰)

خوهغه معامله چي حل ته اړتيالري داسي ده چي دوهم کس دخپل فکرپه خپل کتاب د«تعبيرغلطي» ، يا«الرسالة» کي چي په کوم مدلل انداز کي وړاندي کړی آياهغه په پوره ډول سم، برابرګڼلی شو ، که په افراط کي ديوه مبتلاکس په ليدلو سره خپله دغه ښاغلی په تفريط کي مبتلاشويدی ؟ زه دخپلي مطالعې ترحده دې نتيجې ته رسېدلی يم چي که يو په دوی کي دافراط ښکارشوی وي ، دوهم يقينًا په تفريط کي مبتلادی ، خوداند ېښنې خبره داده چي ددې دوو نظرونوترمينځ د اعتدال لاره ورکه شوي ده چي له ډېري څېړني ، پلټني سره سره په نظرنه راځي ، کافی اندازه کتابونه مي کتلي خوتنده بياهم نده ماته شوي په آخرکي دزړه دآرام اوتسکين لپاره مي لتاسوسره دمشورې په موخه داليک درولېږه. اوس اوس مي يو کتاب «دين کامتوازی تصور عبادت اوخلافت کی جامعيت» دډاکټر محسن عثمانی ندوی زيده مجده تصنيف په يوه ډېرښکلي ، خاص ډول چي دخپلوبزرګانو له تقريظونوسره سره شائع شويدی په ډېره مېنه مي راغوښتی ، په لالهانده توګه مي ولوستی خوداعتدال لاره لا تراوسه پوري پيداشوي نه ده، ډېردعلم له څښتنانو سره مي خبري ترسره شوي ، اويوله بل سره مذاکرې هم شوي خوتشويش لاپرخپل ځای پاتی دی.

كېداى شي زه به دخپلي مدعاپه روښانه كولوسره په دې لړ الفاظوكي په واضح ډول نه يم توانېدلى خوستاسوپه څېرد علم اوپوهي له څښتن څخه لويه هيله ده چي په مدعاپوه شوي ياست.

يوځل بيا يادونه كوم چي په واضح ډول ددوهم يادشوي فكرپه نورو ادعاووكي كه څه هم اختلاف شته خو ددين په اړه دهغه بيان شوى تعبير زموږلپاره بلكه دټول اسلام لپاره له هغه سره څومره اختلاف اوڅومره اتفاق شتون لري؟ اوددې دوو نظريوتر مينځ داعتدال لاره كومه يوه ده ؟زه ددې وضاحت ستاسو د محترم پاک شخصيت له حكمته ډک قلم څخه غواړم. وړاندوينه داسي ده چي ددې دوونظريو، ددوى د رد او تصديق لپاره چي څومره كتابونه مشهور شوي ، زماعلم پرې راغلى دى ماهغه مطالعه كړيدي خوعلاج مي نه دى پرې شوى تاسو اندازه لګولاى شئ چي ددې دووبېلومتضادونظرونو اثر به په عواموكي تر كومه حده رسېدلى وي اوكه داعتدال دلاري كه نن ورځ يوه نښاني معلومه شي نوپه راتلونكي كښي ښايي يوڅوک غالب شي لكه چي ددوهم نظر امكان شته نوبيابه داغالبه نظريه له خپلوټولوښيګڼواوخرابيو ګډوډه شي اوداعتدال پر لاره به هم دومره تينګي پردې پرېوزي چي دهغوليري كونكي چي په يقين سره به دالله لوري راځي له پوره څنډونو سره مخ وي. فقط والسلام

مظفرحسين القاسمي خادم التدريس والافتاء دارالعلوم رودهوان ، كپواړه كشمير

جواب: - محترم مولانامظفرحسين القاسمى صاحب زيد مجدهم.

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ستاسومبارک ليک موترلاسه كړ، دسفرونوپه وجه چي څه ځنډ راغلى له هغه څخه بخښنه غواړم. مادوحيد الدين خان صاحب كتاب «تعبيركى غلطى» پوره لوستلى نه دى ، خود حضرت مولاناعلى ميان مدظلهم كتاب مي پوره لوستلى ، زماپه فكرسمه رايه هغه ده چي مايې په خپل كتاب «حكيم الامت كي سياسى افكار» كي بيان كړې دى ، چي خلاصه يې په تكملة فتح الملهم كي هم راځي . يعنى سياست اواقتدار ددين اصل مقصدنه دى (۱) بلكه د مقصدترسره

(۱) وفى سورة الذاريات : « وَمَاخَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّالِيَعْبُدُوْنَ» . وفى تفسير القرطبى ج : ۱۷ ص : ۵۰ (طبع مكتبه حقانية) ...... وقال على رضى الله عنه أى وماخلقت الجن والانس الالأمرهم بالعبادة واعتمدالزجاج على هذاالقول ويدل عليه قوله تعالى « وَمَاأُمِرُوْاإِلَّالِيَعْبُدُوْاإِلٰهًاوَّاحِدًا» التوبة : ۳۱) .....

كولولپاره يوه ذريعه ده ، ددين داجتماعي احكامودنافذولولپاره يې له اهميت څخه ستر ګي نشي پټېداى خوددين د اصل په حيث نه بلكه ديوې ذريعې ، ددين د يوې مهمى شعبې په حيث. همدا داعتدال هغه لاره ده چي دقرآن اوسنت پوري اړونده احكامو څخه روښانه كېږي كه يوكس هغه ددين مقصد ګڼي نودمبالغې ښكاردى ، كه يوڅوک بيا ددې په يومخيزه توګه دهغه په ردولوسره له هغه څخه په دين كي ديوې برخي په توګه انكاركوي نوداهم غلط اوهاغه بل لورته مبالغه ده.

والسلام ۴ / ۱ / ۱۴۲۰ھ (فتوى نمبر ۴۸/ ۳۵۷)

۱ : - «د مغربى جمهوريت شرعى حيثيت

۲ : - په خپله خوښه دنده غوښتل ناروادى

۳ : - پر اكثريت باندي دفيصلي دبناحكم

سوال: - زمااوددې ملک دټولومېشته خلګوژونديوه ګډه مسئله ده « انتخاب ، يا جمهوريت» كوم چي په اسلامى مجلو، كتابونو بلكه په عامودرسو، وعظوكي هم «د موجوده زمانې يولوى بُت په توګه ثابت شوى دى دپوښتني مهم توكي په لاندي ډول دي:

۱ - : آيارښتياداخبره سمه ده چي دموجوده ډول انتخاب « دمغربى جمهوريت» دموجوده زمانې يولوى بت دى ؟

الاليعرفونى الثعلبى ، وهذاالقول حسن لأنه لولم يخلقهم لماعرف وجوده وتوحيده ...... والعبادة الطاعة والتعبدالتنسک فمعنى (ليعبدون) ليذلواويخضعوا ويعبدوا.

وفى تفسير الكشاف ج : ۴ : ص ۴۰۸ (طبع قديمى كتب خانه) (وماخلقت الجن .... الآية) أى ماخلقت الجن والانس الالأجل العبادة ولم أردمن جميعهم الاإياها.

وفى تفسير ابن كثير ج : ۴ ص : ۲۳۸ (طبع قديمى كتب خانه) « وَمَاخَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّالِيَعْبُدُوْنَ» أى انماخلقتهم لامرهم بعبادتى لالاحتياجى اليهم .....الخ .

وفى التفسير المنير ج : ۱۴ ص : ۵۱ (طبع مكتبه رشيدية كوئټه) أى ماخلقت الثقلين والانس والجن الاللعبادة ولمعرفتى لالاحتياجى اليهم ..... الخ .

۲ : - كه دا خبره سمه وي نو كوم خلګ چي دلته سرپه سجده دي د دوئ لپاره په كتاب او سنت كي شرعي حكم څه دی ؟

۳ : - كوم كس چي د وخت د مجبوري په پنا كي دلته سرتيټول د اسلام لپاره مهم كار بلكه عين اسلام ګڼي نو دده لپاره د قرآن او سنت په رڼا كي حكم څه دی ؟

۱ : - د مسئلې بل اړخ : -

۱ :- كه په حقيقت كي په موجوده زمانه كي مغربی جمهوريت ته لوی بُت ويل ناسم وي نو د داسي ويونكي لپاره په اسلام كي څه حكم دی ؟

۲ : - كوم خلګ چي په انتخاباتو كي دبرخي اخيستلو په موخه خپله د اُميدواري (كانديدي) غوښتنه وكړي ، خپله خپل شهرت طلبي د قدرت د ګټلو لپاره وكړي ، دی په خپل دې قول او فعل سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې فرمان چي « انا والله مانولی علی هذا العمل أحدا سأله ولا أحدا حرص عليه » او دده د حكم « لاتسئل الامارة » د خلاف ورزي مرتكب بلل كېږي ، كنه ؟

۳ : - كوم خلګ چي په قانوني توګه د حق او ناحق د پېژندګلوي لپاره د اكثريت فيصله په موقته توګه معيار و مني نو آيا هغه « اِنْ تُطِعْ اَكْثَرَمَنْ فِی الْاَرْضِ يُضِلُّوْکَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ » غوندي د قرآن مجيد د ښكاره ، روښانه تعليماتو د سرغړوني مرتكب دی ، كه نه ؟

له قرآن او سنت سره سم پوره او مدلل جواب راكړئ الله دي اجر دركړي .

السائل عبدالكريم جامع مسجد (العنايه) جناح استريټ ګجرات ۱۴ / مئ ۱۹۹۰ء

جواب : - په حقيقت كي ستاسو د پوښتنو تفصيلي او مدلل جواب ديوه جلا كتاب ظرفيت غواړي چي په يوه لنډ كي ليک كي احاطه كول پرې يو ستونزمن كار دی خو په كوتاه ډول د پوښتنو جواب په لاندي ډول دي :

۱ : - مغربي جمهوريت چي بنيادي يې « د عوامو د حاكميت » پر فكر ولاړ دی د اسلام په قطعي ډول خلاف دی ولي چي د اسلام بنسټ د « الله د اعلی حاكميت » پر عقيده دی لكه په قرآن كريم كي چي « اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ (۱) په مختصره جمله كي ارشاد كړی دی . لهذا د مغربی جمهوريت له خپلو ټولو تصوراتو سره سم ګڼل د موجوده دور له بدترينو ګمراهيو څخه ده ، داسي خلګو ته په شريعت كي ګمراه ويل كېږي ، كه يو كس له دي تفصيل سره مغربي جمهوريت سم ګڼي چي

(۱) سورة يوسف آيت : ۴۵ .

پارلمان كه كوم قانون د قرآن كريم د ښكاره حكم په خلاف عملي كړي نو «معاذالله» د پارلمان قانوني كېدل به سم وي ، داسي عقيده لرل كفر دی .

خو كه يو كس د پارلمان فيصلې د قرآن او سنت تابع وګرزوي نو بيا كفر ، ګمراهي نه ور ته ويل كېږي خو د دې مطلب دا دی چي هغه به مغربي جمهوريت په مخکني ډول نه مني .

۲ : - عام اسلامي حكم داسي دی چي پخپله يوه سركاري دنده ، يا وظيفه د خپل ځان لپاره غوښتل روانه دی . (۱) او داسي كس د غوښتل شوي منصب اهل نشي كېدای (۱۵) خو په ځيني استثنائي صورتو كي چېرته چي دا خبره ښكاره ده چي كه يو كس خپله دا دنده و نه غواړي نو ظالم او ناوړه كس پر هغه په قبضه لګولو سره پر خلګو تېری كوي ، په داسي وخت كي د دندي غوښتلو شرعًا جواز شته . او د حضرت يوسف ﷺ وينا : « اِجْعَلْنِیْ عَلٰی خَزَآئِنِ الْاَرْضِ » پر همدې صورت باندي حمل دی (۲) د دې شرعي اصولو له په نظر كي نيولو سره د موجوده انتخاباتو حكم معلومېږي چي د قدرت د غوښتلو پر بنا بشپړ د حكومتي نظام قائمول هيڅكله روانه دی ، كه يې منشأ يوازي د قدرت غوښتل وي ، يا نو روړ كسان موجود وي ، يا له يوې بلې لاري د غلط نظام بدلېدل شوني وي نو د داسي نظام په انتخاباتو كي دربدل روانه دي ، خو كه د شته فاسد نظام د بدلېدو له دې څخه پرته بله يوه لاره نه وي نو كه نېک او وړ كسان د قدرت غوښتلو د جذبې پرځای د حالاتو د سمون په مقصد پكي ګډون وكړي نو بيا د دې لپاره جواز شته په دې شرط چي د ټولو ناروا او ښكنځلو ، بدرد ، غيبت او نور ناروا ، منكرشيانو څخه په پوره ډول د ځان ساتلو اهتمام تر سره شوی وي چي دا مهال ډېر نادرا و نا شونی برېښي .

۳ : - په اكثريت باندي فيصله د منصوصي شرعي معاملو د تصفيو لپاره معيار جوړول ګمراهي ده بلكه لكه په ۱ نمبر كي چي تېر شول په ځيني حالاتو كي كفر دی خو كه په انتظامي معاملو كي د مباحوالي تر حده پوري ، يا په مُجْتَهَدْ فِيْهِ امورو كي يوه لوري ته د ترجيح لپاره اكثريت معيار

(۱ و ۱۵) وفی صحيح البخاری ، كتاب الأحكام ، باب من سأل الامارة وكل اليهاج : ۲ ص : ۱۰۵۸ (طبع قديمي) قال رسول الله صلی الله عليه وسلم « لاتسئل الامارة فان أعطيتها عن مسئلة وكلت اليها ، وان اعطيتها من غير مسئلة اعنت عليها .

وكذافی صحيح مسلم ، باب النهی عن طلب الامارة والحرص عليهاج : ۲ ص : ۱۲۰ (طبع قديمی)

(۲) سورة يوسف آيت : ۵۵ .

وګرزول شي نو ددې ګنجايش او جواز شته (۱) لکه حضرت عمر رضی الله عنه چې د خپل ځای
ناستي د نو موني لپاره د شورى د مجلس د اکثريت پر بنسټ حکم وکړ.

والله سبحانه اعلم احقر محمد تقي عثماني عفى عنه ۱۲/۱/۱۴۱۲هـ

په سياست کې د دين او وطن، د کټو علمبرداري ډلې ملاتړ کول

سوال: - د ملک په موجوده حالاتو کې د بېټو ملاتړ د کفر د ملاتړ او د اپوزيشن ملاتړ د اسلام
د ملاتړ په معنا دی، دا آواز له مساجدو او اکثرو علماوو له لوري اورول کېږي ددې په اړه
ستاسو لارښوونه څه ده؟

جواب: د شريعت حکم دومره دی چې په نېکي او تقوی کې مرسته وکړئ او په فسق او فجور، اثم
، عدوان کې مرسته مه کوئ (۲) هم دا راز په سياست کې ددې کس، يا ډلې ملاتړ او مرسته وکوئ
د چا په حمايت کې چې د دين، وطن، ملت ګټې ډېرې وي، اوس دا په پوه او بصيرت پورې اړه
لري چې په کومه ډله کې د وطن، ملت ديني ګټې ډېرې دي، داد دار الافتا څخه د پوښتنې خبره نه
ده، بلکه د خپل زړه، پوهې سره سم هر کس ته ددې فيصله خپله کول پکار دی، له
شخصياتو څخه بحث کول د مفتي وظيفه نه ده.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲/۱۲/۱۳۹۷هـ (فتوى نمبر ۲۰۲ / ۲۸ ج)

په برما کې د ټولو مسلمانانو، يا د يوې خاصې مسلماني قبيلې لپاره هلې ځلې کونکو دوو ډلو کې د کومې يوې ملاتړ کول پکار دی؟

سوال: - په برما کې د انصاف رسولو، آزادې ګټلو لپاره «برميز مسلم ارګنائزيشن (B.M.O)
او روهنګيا پټيريوټيک فرنټ (R.P.F) دوې ډلې کارکوي اولنۍ ياده شوې ډله
د برما د ټولو مسلمانانو په ګډه د اسلام په نوم سره (لکه چې له نوم څخه يې ښکاريږي) هلې ځلې

(۱) سيرة عمر ابن الخطاب ص: ۵۰۹ مصنفه: على محمد محمد الصلابي.

(۲) لقوله تعالى: «تعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الاثم والعدوان» الآية، سورة المائدة: ۲.

کوي، ورووستنۍ ياده شوې ډله په برما کې د مسلمانانو په يو څو قبيلو کې ديوې قبيلې «روهنګيا»، يا قوميت په نوم سره (لکه له نوم څخه چې يې ښکاريږي) هلې ځلې کوي که موږ ته روښانه کړئ چې له شرعي نظره موږ د کومې يوې ملاتړ وکوو؟

جواب: - کومه ډله چې يوازې د اسلام نوم نه اخلي بلکه واقعًا د اسلام او مسلمانانو لپاره خدمت کوي له هغې سره مرسته او د هغې ملاتړ تعاون على التقوى دی، او کومه ډله چې د قبائلي عصبيت بلنه ورکوي له هغې سره مرسته او د هغې ملاتړ سم نه دی (۱) البته که قبائلي عصبيت ته بلونکي نه وه (۲) خو هغوی د خپلو هلو ځلو دائره په يوې خاصې قبيلې پورې محدوده کړې وه نو بيا پکې څه حرج نشته، مسلمانان له هغې سره هم تعاون على التقوى کولای شي.

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۲/۹/۱۳۹۷هـ (فتوى نمبر ۹۵۸ / ۲۸ ج)

په انتخاباتو کې د کانديد (اميدوار) په باره کې ددې الفاظو: «فلاني ته په ووټ، رايه ورکولو سره موږ د الله له حساب څخه خلاصېږو» حکم.

سوال: - په ځينې اشتهارونو کې کوم چې د انتخاباتو په لړ کې جاري وي، دا الفاظ ليکل شوي وي: فلاني ته د ووټ په ورکولو سره موږ د قيامت په ورځ د الله له حساب څخه خلاصون مومو» او ددې مقصد داوي چې وي يوه نيکمرغه انسان ته په ووټ ورکولو سره په آخرت کې د غلط ووټ د جواب له ورکولو او حساب څخه انسان بچ کېدلای شي.

پردې باندې ځينې خلګ نيوکه کوي چې په دې کې د نبوت دعوه شته، ستاسو د داسې الفاظو په باره کې څه نظر دی؟

جواب: - ترياده شوي مقصد لاندې ددې الفاظو له ليکلو څخه د نبوت دعوى نه لازمېږي، که مقصد داوي کوم چې په سوال کې ليکل شوی دی او د کوم چا په هکله چې دا الفاظ ليکل شوي،

(۱) لقوله تعالى: «تعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الاثم والعدوان» الآية، سورة المائدة: ۲.

(۲) في سنن النسائي ج: ۲ ص: ۱۷۴ و ۱۷۵ (طبع مكتبة الحسن لاهور) «عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من خرج من الطاعة وفارق الجماعة فمات مات ميتة الجاهلية .... ومن قاتل تحت راية عمية يدعوا الى عصبية أو يغضب لعصبية فقتل فقتلته جاهلية» رقم الحديث: ۴۰۴۵.

هغه دليكونكي په نزد رښتياهم په حلقه كي ترنوروټولو كانديدانو (اميدوارانو) ډېر ښه ، لائق وي نوددې الفاظوپه ليكلوكي شرعًا كوم حرج نشته ، البته د يوه كس په باره له ټينګ باور سره په دومره لويه دعوه كولوكي له احتياط څخه كار اخيستل پكاردی. والله اعلم ۱۹/ ۱۲/ ۱۴۰۳(فتوی نمبر۲۲۰ /۵۲۴)

دمخ پټولوشرعي حيثيت اود كانديدي (اميدواري)

مېرمني په انتخاباتي پوسترونوكي دتصوير داشاعت حكم

سوال: - دقومي يووالي په جلسوكي بيګم نسيم ولي خان اوبيګم صفيه شكيل دا سټيج ښكلاجوړوي ، په ورځپاڼوكي دهغوی تصويرونه چاپېږي ، خلګ دورځپاڼوپرمخ دهغوی تصويرونه ګوري او ويناوي هم ترسره كوي اوربډلي مودي چي ونامحرم ښځينه تصويرته كاته هم دومره ګناه ده څومره چي هغې ته په مخامخ كتلوكي وي، دنامحرمي مېرمني آواز هم ستردی، كه په دومره اوچت آواز سره دقرآن پاک تلاوت وكړي چي نامحرم نارينه يې واوري نوهم ګناه ده. ددې په اړه دشريعت حكم څه دی؟

۲: - آياداسمه ده چي رسول الله ﷺ له نابيناقريب څخه پرده كړيده ؟

۳: - دخالدابن وليد ؓ مېرمني هغه ته درسول الله ﷺ مباركه خولۍ دجهادپه ډګركي وركړه ،دبېرته راستنېدلوپرمهال چي هغه ؓ ورته وويل: ای سپرې! تالماسره ډېرلوی احسان وكړ، خپل نوم راوښيه، داوقت معلومه شوه چي دادهغه مېرمن ده؛ ګواكي دمخ پټولوهم دومره اهتمام ووچي خپل خاوندته دانه معلومېده چي زمامېرمن ده؟

۴: - مفتی محمودرحمه الله بهټو پرسرداقتدار راووست ، چاچي به دهغه مخالفت كاوه؛ مفتی صاحب به دهغه مخالفت كاوه، اوس چي كوم چا دمفتی محمودصاحب كرل شوی نهال پرېكول نه غوښتل؛ مفتي محمودصاحب به بيادهغه مخالفت كاوه اوس د بهټوتائيد كول روادی اوكه نه؟

۵: - كوم كس چي پرجمهورو داهل السنت والجماعة پرسلف صالحينوتنقيد كوي ددې كس په اړه دشرعي څه حكم دی؟

(كتاب الامارة والسياسة)

(دحكومت ، امارت اوسياست دمسلوبيان)

په دين كي دسياست اوقدرت حيثيت اوشرعی مقام اوددين اصل مقصد

سوال: - محترم قدرمن حضرت مولانامفتی محمدتقی عثمانی «زيد مجده»

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

هېله ده چي خوشحاله ياست ، ما بې وسه له علمی مُور دارالعلوم ديوبند څخه له فاضليت سره ددارالافتاء له شعبې څخه هم فراغت ترلاسه كړی دی ، څه موده د وادی كشمېر د مشهور شخصيت علامه كشميري رحمه الله په كور «ننهيال رودهوان كپواړه» كي په يوه مدرسه كي مي تدريس اوافتاء كارسرته رسولو.

زه اوزمانورملګري څوک چي الحمدلله له دارالعلوم ديوبند څخه يې فراغت ترلاسه كړيدی له تدريس اوافتاء پرته مو دبېلابېلو مصنفينو دكتابونومطالعه كړيده الحمدلله ستاسو ټول هغه كتابونه موچي په هندوستان كي مشهورشويدي په ډېره مينه اوشوق سره كتلي، لوستلي دي نوله همدې وجي څخه دميني اومحبت پربناء دلاس ښكلول نه بلكه دقدم ښكلول مي زړه غواړي، له ډېري مودې مي دخط ليكلواراده وه خو د « عرفت ربی بفسخ العزائم» مي څوځلي تجربه وشوه، بياچي تېركال دحضرت تهانوی رحمه الله دسيمينار په تړاو ستاسود راتګ آوازه خپره شوه خوله همدې سره جوخت ستاسوله پروګرام څخه دپاتي كېدلو خبر راغی ، همداوجه چي بياهم ملاقات ترسره نه شو.

زړه مي ډېرڅه ليكل غواړي خو دكلام اوږدوالی پربې ادبي په حمل كولوسره خپله مدعا را لنډوم، هېله ده چي تاسود خپل بې حده قېمتي وخت په مصرفولوسره مناسب جواب بلكه د وقت له غوښتنوسره سم دپوره كتاب په ليكلوسره دسرګردانه خلګو لارښوونه اوتشويش ليري كړئ.

واقعه داسې ده چي داوخت په امت كي دوه لوی دقلم او پوهي څښتنانوپه عامواو خاصو خلګوكي دوه بېلي نظريې خپرې كړي دي ؛ يوه ښاغلي د دين په تعبيركي مقصود تقاضا،

اواحاديثو مباركه وو له كارولو څخه يې هم ډډه ونكړه دبېلګي په توګه ديوې سياسي ډلي مقررينو او ورځپاڼو داويلي دي چي « وَكَانَ فِى الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ » ترپايه په دې آيت كريمه كي دمفسدو افرادو يادونه شوي ده همدي وجي څرنګه چي دقومي اتحاد ۹ مشران دي همدې لورته اشاره وه.

دبلي ډلي يوه ويناوال په عامه جلسه كي دنوستوروترانې ويلې ، دقرآن كريم دآيت « وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ » او « رُجُوْمًا لِّلشَّيَاطِيْنِ » سره يې استدلال كاوه ، همدارنګه د «هَلْ» نښي دانتخابولو په اړه يې ويل : چي «هَلْ» ذكر په قرآن كي په څلوېښتو ځايونو كي راغلى دى بيا يو څو آياتونه وايې چيرته چي د «هَلْ» لفظ استعمال شوى وي لتاسو محترم څخه هيله كېږي چي ددې په اړه شرعي حكم راوښاياست.

۱ : - آيا د قومي اتحاد پر ۹ مشرانو د « وَكَانَ فِي الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ » آيت تطبيقېداى شي ؟

۲ : - دارنګه د «هَلْ» د لفظ استعمال ؟

۳ : - آيا دخپل مقصد لپاره دقرآني آياتونو استعمالول مناسب دى ؟

۴ : - آيا دتلاعب بالقرآن ، يا تحريف قرآن په ډله كي دانه راځي ؟

۵ : - په داسي مجامعو كي دګډون والو ، او رېډونكو څه حكم دى ؟

جواب : - دقرآني آيت « وَكَانَ فِى الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ » واقعه بالكل بېله ده كه دا آيت دموجوده زمانې پر سياسي ډلو په دې نيت ولګول شي چي دا آيت دهمدوى په باره كي نازل شوى دى نو دا ښكاره دقرآن تحريف دى ، كه دامقصد وي چي آيت دبلي واقعې په باره كي نازل شوى خو دلته تطبيقېداى شي نو دا دآيت ناسم استعمال دى او د سياسي مخالفت پربناء يو څوك دكفارو په صف كي شاملول تر ټولو بده غلطي ده (۱)

(۱) وفى الاشباه والنظائر لابن نجيم « وكذا قولهم بكفره اذا قرأ القرآن فى معرض كلام الناس ، كما اذا اجتمعوا فقرأ فجمعناهم جمعًا ، وكذا وكأسًا دهاقًا ، عند رؤية كأس . رقم : ۱۴۸
قال فى شرحه : ذكر فى القاموس أن معنى قول الزهرى لاتناظروا بكتاب الله ولا بكلام رسوله لاتجعلوا شيئًا نظيرًا لهما ، معناه لاتجعلوهما مثلا لشئ يعرض به كقول القائل جئت على قدرياموسى لمسمى بموسى جاء فى وقت مطلوب .

۲ : - هيڅكله نه ، دقرآن كريم د لفظ «هَلْ» پر انتخابي نښه لګول ناپوهي ده او كه په دې نيت سره وي چي په قرآن كي د هَلْ له لفظ څخه مراد انتخابي نښه ده نو ښكاره تحريف دى (۱)

۳ : - هيڅكله هم صحيح نه دى دقرآن كريم آياتونه په دارنګه سياسي ، يا انتخابي جنګ كي كارول له كوم شي څخه چي عوام خلګ غلط تأثر اخلي ډېره دبې ادبي او ګستاخي خبره ده چي ور څخه ځان ساتل لازم دى . (۲)

۴ : - دداسي خبرو په باره كي لويه خطره ده چي هغه په تلاعب بالقرآن كي داخل وي ، كوم خلګ چي داسي كوي هغه دډېري سختي غلطي مرتكبين دي ، البته هغوى په يوه بدنوم سره ديادولو پر ځاى دي دهغو دپوهي او اصلاح كوښښونه وشي . (۳)

۵ : - پداسي مجلسو كي چي هلته قرآني آياتونه داسي غلط كارول كېږي ګډون نه دى پكار او كه ګډون وكړل شي نو دداسي غلطي ترسره كونكو ته دهغوى پردې غلطي پوهول پكار دى (۴)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۷/ ۶/۱۳۹۸

دنارينه كانديد (اميدوار) له ښتون سره ښځينه ته ووټ وركولو حكم

سوال : - دنارينه اميدوار په شته والي كي چي ښه نمايندګي ترسره كوي ، ښځه خپله مشره ټاكل او هغې ته ووټ وركول د اسلام له نظره روا دى او كه نه ؟

جواب : - دنارينه اميدوارانو په شته والي كي كوم چي ښه نمايندګي كولاى شي ، ښځه مشره ټاكل او ووټ وركول شرعًا روانه دى (۵)

(۱) حواله سابقة .

(۲) حواله سابقة .

(۳) قال الله تعالى فى القرآن الكريم : « اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِىْ هِىَ اَحْسَنُ ..... الآية ۱۲۵ (سورة النحل) « وَاَحْسِنْ كَمَا اَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ..... الآية (سورة القصص : ۷۷)

(۴) فى الشامية ج : ۶ ص : ۳۴۸ (طبع سعيد) لودعى الى دعوة فالواجب الاجابة ان لم يكن هناك معصية ولا بدعة و الامتناع أسلم فى زماننا الا اذا علم يقينًا أن لا بدعة ولا معصية آه .

(۵) فى صحيح البخارى ، كتاب المغازى ، كتاب النبى صلى الله عليه وسلم الى كسرى وقيصر ، رقم : ۴۰۷۳ ج : ۲ ص : ۶۷۳ (طبع قديمى كتب خانه) « ...... لما بلغ رسول الله صلى الله عليه وسلم أن أهل

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۱/۱۰/۱۳۹۸ (فتوی نمبر ۱۰۴۷/ ۲۸ ج)

په پاکستان پوري پيوستېدونکي رياست له يوه والي سره له وعدې سره سم دورکول شوي امتياز بېرته اخيستل

سوال: - څه وايي ددين علما او شرعي مفتيان په دې کي چي يو رياست « الف» کوم چي دهند دآزادۍ دقانون له مخي چي په ۱۹۴۷ ء ۱۴ اګست کي دبرطانيې له تسلط څخه آزاد شوا ودې رياست والي دقانون په وجه ددې امر حقدار بلل کېږي چي هغه په آزاد هېواد هندوستان، يا نوي جوړ شوي هېواد پاکستان په يوه پوري پيوست شي، يا آزاد پاته کېږي لکه چي د «الف» رياست والي برابر جوړ شوي پاکستان کي يوازي د اسلامي او ملي جذبې پر بنايې ګډون اختيار کړ دکوم په تنيجه کي چي نوموړی والي او دده کورنۍ د هندوستان د حملو، ظلم، بربريت هدف وګرزيد او له خپل رياست، ټولو شتمنيو څخه بې برخي کړای شو، له دې پيوستون سره سم په قانون نمبر ۱ کي نوموړي والي دخپل رياست په پاکستان پوري د تړلو وعده کړي او هغه پاکستاني مقننه قوه او سپريم کوټ پابند کړل په دې شرط چي ورکول شوي شرائط په نظر کي ونيول شي.

قانون نمبر ۲ او ۷ کي دراتلونکي جوړېدونکي قوانينو په ذريعه کومه تبديلي چي منظورېدل بې د نوموړي والي له لوري نه وي ترلاسه شوي په عمل کي به نه راځي.

تردې ګډون لاندي د پاکستاني حکومت له لوري امتيازات او خاص ډول ترجيحات نوموړي والي ته حاصل دي او هغه چي له ۴۷ - ۹ - ۲۴ څخه رواج دي خو پخواني حکومت د نوموړي والي له منظورېدلو پرته په يو طرفه ډول دا ټول مراعاتونه او امتيازات سلب او له مينځه وړي او نوموړی والي يې له هغه څخه بې برخي کړی وو.

۱: - د شريعت محمدي او دقرآن او اسلامي طريقې له مخي د پاکستاني حکومت دا يو طرفه قدم کوم چي د «تړون ليکشموليت» ښکاره خلاف ورزي ده، آيا د شريعت له نظره ددې کوم جواز شته؟ او آيا د اسلامي فقه له نظره دا يو طرفه تبديلي روا دی او که ناروا؟

فارس قدملکوا عليهم بنت کسری قال: لن يفلح قوم ولوأمرهم امرأة» دارنګه کفايت المفتی وګورئ، کتاب السياسات ج: ۹ ص: ۳۴۹ (طبع جديد دار الاشاعات).

۲: - که دا کار ناروا وي نو آيا داسي حکومت کوم چي په پاکستان کي د اسلام دنفاذ دعوېدار او په علني ډول دعوه لري دمخکني حکومت ددې پاليسي او فيصلې پابندی، څوک چي د هغه د دېني او اخلاقي حدودو خلاف ورزي وکړي څه پېښېږي؟

۳: - آيا د شريعت له مخي نوموړی والي ددې يو طرفه تغير دمعاهدې پر اساس د کومي بدلې، تاوان حقداردی؟ ددې تاوان په بدل کي کوم چي پر همدې اساس ده او دده کورنۍ ته رسېدلی دی؟

هېله ده چي يادشوي پورتني امورو کي فتوی او فيصله دقرآن او سنت، احاديثو په رڼا کي صادره کړئ. ازطرف غلام معين الدين

تنقيح: له استفتاء سره دمعاهدې دستاوېز ګډ نه دی، جواب يې ددې دستاوېز په مطالعه پوري موقوف دی لهذا له همدې استفتاء سره دمعاهدې دستاوېز راولېږئ نو به د اصل پوښتني جواب درکړو.

تنقيح: جواب له پوښتني سره دستاوېز ګډ دی.

جواب: - د پاکستاني حکومت لپاره شرعًا لازمه ده چي هغه ددې معاهدې پابندي وکړي (۱) کوم چي ديوه رياست د پيوستون پر مهال يې ددې رياست له والي سره کړي وي خو په ګډ تړون ليک کي د رياست د والي لپاره دکوم قسم خصوصي امتياز او مراعات يادونه نه ده شوي، البته که ګورنمنټ آف انډيا ايکټ په ۱۹۳۵ء او دهند د آزادۍ قانون په ۱۹۴۷ء کي دکوم چي يادونه يې د ګډ تړون ليک په ۱ او ۲ نمبر کي شويده، د رياست والي ته چي يو څه خصوصي مراعات او امتيازات ورکول شوی وي نو دهغو پابندي د پاکستان پر حکومت تر هغه وخته پوري لازمه ده تر څو چي ددې رياست پيوستون له پاکستان سره پاته وي او که په يادوو شوو دوو قوانينو کي هم کوم مراعت، يا امتياز شتون نلري، يا تر معاهدې ورسته ديوه بل تړون ليک په ذريعه سرته ورسول شي نو دهغه له تبديلي سره دګډون دمعاهدې خلاف ورزي نه لازمېږي په دې صورت کي ددې دوهم تړونليک په کتلو سره ددې شرعي حکم معلومېږي. والله اعلم.

۲۰/ ۴/ ۱۴۰۰ھ (فتوی نمبر ۵۲۴ / ۳۱ ب)

(۱) قال الله تعالى «وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُوْلاً» وفي سورة المائدة «يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ» الآية

په سرکاري نوکريو، املاکو، اومځکوکي دترجيح اساس سميېز، جغرافيايي جوړښت دی، که اهليت؟

سوال: - محترم، عزتمند مولانامحمدتقی عثماني صاحب «دامت برکاتهم»

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

څرګنده دي وي چي پرلاندي مسئلو دخپلي علمي رايې اودلائلوله مخي رڼاواچوئ مهرباني به مووي.

۱: - قرآن مجيد، سنت نبوی اوخلفائ راشدينو، دفقهائ عظامو لارښوونوپه رڼاکي ديوه اسلامي هېواد د بېلابېلوسيمو (صوبو) هستوګن دنوروسيمو (صوبو) دهستوګنو دحق لپاره دسميېزي سرکاري نوکری، املاکو، مځکوکي برابرګڼلی شو، که د بېلوسيمو هستوګنو حقوق ددوی ترخاصي معلومي سيمي پوري محدودګرزول شوي دي؟

۲: - آيا که په يوه اسلامي هيوادکي ديوې سيمي هستوګنوته په بله سيمه کي په معاشي حقوقوباندي دګټي اخستلوپه سلسله کي يوشان برابر حق ورنکړل شي نوداشرعًا سمه ده؟

۳: - آياداسلامي عدلي نظريې له مخي داسي يو برابر دمعاشي استحاق پاليسي جوړول ديوه اسلامي حکومت لپاره شرعًاضروري اولازمي ده؟

۴: - ترڅوچي په اسلامي حکومت کي دحقوقودساتني په نوم سيميېز قومي عصبيت پيداکېږي نوداِمهال ددې عصبيت دله منځه وړلولپاره دبېلوسيموترمنځ د معاشي ساتني هغه کوم منصفانه حکمت عملي پکاردی کوم چي له اسلامي عدلي نظريې سره هم سمون خوري اوداسلامي هيواددیووالي اواستحکام لپاره هم ګټوروي؟

هېله ده چي تاسومحترم ددې مهمومسلوپه هکله زموږ رهنمائي وکړئ مهرباني به مووي ستاسوشخصي رايه غواړو نه د دارالافتاء فتوی.

والسلام خاکسار عبدالخالق سهرياني بلوچ ايم ای ايل بی

جواب: - محترم قدرمنه! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسوقيمتي ليک راورسيد تاسوچي دسرکاري نوکريو، املاکو، مځکوکي د جغرافيايي، سيميېزي برابري په باره کي چي کومه سوال کړي وه ددې جواب داحقرپه نزد دادی چي په اسلام کي ديوې دندي، يانوکري په سلسله کي په بنسټيزه توګه دا اصول په نظرکي نيول شويدي چي که ديوچامقررېدل مقصودوي په هغه کي دده پوره وړتيا ضروري ده، اوکوم کس

چي ددې دندي پوره وړتيالري هغه ددې دندي ډېراهل دی نورکه د ده تړاوله هري سيمي سره وي (۱) لهذا په دې معامله کي دترجيح بنياد وړتيااواهليت دی نه جغرافيايي تعصبات (۱) داوجه ده چي په اسلامي حکومتوکي ديوې سيمي هستوګن له تکليف څخه پرته په نوروسيموکي مقررېږي.

لهذاداخبره په شريعت کي په يوډول روانه ده چي په يوه کس کي دمنصب وړتيانه وي، يوازي ددې لپاره پردنده وګمارل شي چي هغه ددې سيمي هستوګن دی () البته که دبېلابېلوسيموخلک دوړتياپه اعتبارسره يومساوي وي نوپه دي صورت کي دانتظامي آسانتياووپه خاطر دا اصول مقررول روادي چي په هره سيمه کي دهمدې سيمي افرادوته ترجيح ورکول شي، ولي چي هغه دهمدې سيمي له ستونزو اووګړو له طبيعتونو سره واقف وي اوددې سيمي وګړي له دوی سره ډېرمانوس هم وي.

دارنګه که ددې خبري انديښنه وه چي ديوې سيمي خلک بهرني مؤظفين دزړه له کومي ونه مني اوپه دې سره په هيواد، ملت کي دانتشارپيداکېدوخطره رامنځ ته کېږي نوپه دي صورت کي هم ددې خبري ګنجايش شته چي دملت له انتشارڅخه دبچ کېدلولپاره يو داسي کس مقرر شي کوم چي په خپل ځان کي وړتياولري، خو دبلي سيمي په خلګو کي ترډې ډېر وړ، اهليت لرونکي کسان موجود وو.

نبی کريم ﷺ چي کوم څه فرمايلي دي: چي حاکمان به له قريشوڅخه وي (۲) ددې حکمت علامة ابن خلدون رحمه الله داسي بيان کړيدی چي په عربوکي له قريشوپرته پربل يوه کس

(۱و۱) دتفصيل لپاره معارف القرآن وګورئ ج: ۲ ص: ۴۴۹ (طبع ادارة المعارف کراچي).

(۲) وفی صحيح البخاری کتاب الأحکام ج: ۲ ص: ۱۰۵۷ (طبع قديمي کتب خانه) باب الأمراء من قريش ..... سمعت رسول الله ﷺ يقول: أن هذاالامر فی قريش لايعاديهم احد الاکبه الله علی وجهه ماأقاموا الدين. وفيه ايضاعن ابن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لايزال الأمر فی قريش مابقی منهم اثنان ..... الخ. وکذافی صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۱۱۹ (طبع سعيد)

وفی مصنف ابن ابی شيبة رقم الحديث ۳۳۰۵۵ ج: ۱۷ ص: ۲۸۵، ۲۸٦ (طبع دارة القرآن کراتشی) عن انس رضی الله عنه قال: أتانا رسول الله ﷺ ونحن فی بيت رجل من الانصار فأخذ بعضادتی الباب ثم قال: «الأئمة من قريش»

باندي راجمع کېدل ستونزمن کاروو(۱) خوددې خبري شرعًا هيڅکله ګنجايش نشته چي خلک دمتعصبانه فکرله مخي ناوړه کسانوته ذمه لرونکي دندي وروسپاري (۲) پداسي حال کي دخلګودخواهشاتودپيروي پرځای ددوی دفکراصلاح ضروري دی (۳).

هيله ده چي له دې تفصيل سره ستاسو دټولو پوښتنو جواب ترسره شوی وي که بياهم څه تشويش پاته وي نودوهم ځل يې سوال ترسره کړئ انشاء الله له خپل وس سره سم د جواب درکولو کوښښ به وکړم. والسلام ۱۴۰۵/۷/۱

دسياستوال دانتخاباتو پرموقع له يوه سياسي ډلي سره دشوي وعدې دماتولو حکم

(۱) وفى تاريخ ابن خلدون ، الفصل السادس والعشرون فى اختلاف الأمة فى حكم هذا المنصب وشروطه ج : ۱ ص : ۲۰٦ (طبع دارالكتب العلمية بيروت) ولنتكلم الآن فى حكمة اشتراط النسب ليتحقق به الصواب فى هذه المذاهب فنقول ان الاحكام الشرعية كلها لابدّ لها من مقاصد وحكم تشتمل عليها ....
وذلک ان قريشًا كانوا عصبة مضر وأصلهم وأهل الغلب منهم وكان لهم على سائر مضر العزة بالكثرة والعصبية والشرف فكان سائر العرب يقدر غيرهم من قبائل مضر أن يردهم عن الخلاف ولا يحملهم على الكرّة فتفترق الجماعة وتختلف الكلمة والشارع محذر من ذلک حريص على اتفاقهم ورفع التنازع والشتات بينهم لتحصل اللحمة والعصبية وتحسن الحماية بخلاف ما اذا كان الأمر فى قريش لأنهم قادرون على سوق الناس بعصا الغلب الى ما يراد منهم فلا يخشى من أحد خلاف عليهم ولا فرقة لأنهم كفيلون حينئذٍ بدفعها ومنع الناس منها فاشترط نسبهم القرشى فى هذا المنصب وهم أهل العصبية القوية ليكون أبلغ فى انتظام الملة واتفاق الكلمة .... الخ .

(۲) وفى صحيح البخارى كتاب العلم ج : ۱ ص : ۴۱ (طبع قديمى كتب خانه) اذا وسد الأمر الي غير اهله فانتظر الساعة وفيه ايضًا كتاب الرقاق ج : ۲ ص : ۹٦۱ اذا اسند الامر الى غير اهله فانتظر الساعة .
وراجع للتفصيل الى شرحه فى فتح البارى ج : ۱ ص : ۱۹۰ (طبع قديمى كتب خانه) وعمدة القارى ج : ۲ ص : ۴ (طبع مكتبه رشيدية) .

(۳) وفى التفسير الكبير تحت آية رقم : ۵۸ من سورة النسآء : ويدخل فيه عدل الأمرآء مع رعيتهم وعدل العلمآء مع العوام بأن لا يحملوهم على التعصبات الباطلة بل يرشدونهم الى اعتقادات وأعمال تنفعهم فى دنياهم واخراهم .

سوال : - داوسني انتخاباتو په نتيجه کي په رحيم يارخان کي څو کونسلرانو خپل يو ګروپ جوړ کړ په کوم کي چي فلاني ، فلاني کونسلر ګډون کړی وو او د ټول ګروپ کونسلرانو په يو خوله په لوړه پورته کولو سره خدای حاضر ، ناظر په بللو سره داوعده وکړه چي موږ به په راتلونکي انتخاباتو کي د رحيم يارخان بلديه رئيس چوهدري عبدالحميد ګاندهی او نائب رئيس هارون باجواټاکو ، خو څو ورځي وروسته يې دوهمه لوړه پر قرآن باندي په لاس ايښوولو سره پورته کړه چي موږ ټول د ميان عبدالخالق په ډله کي يو ، کوم څه چي ميان عبدالخالق چيري غواړي استعمال دي کړي ، خو پردې برسېره په اخبارونو او په نورو ذرائعو سره يې دا اعلان وکړ چي زموږ نوميالی رئيس عبدالحميد ګاندهی دی ، په آخري ورځ چي کله رئيس انتخاب وو نو په شعوري توګه دې ممبرانو عبدالخالق ته د رئيس ووټ ورکړ ، عبدالحميد ګاندهی يې له نظره ورغورزاوه کله چي عبدالحميد ګاندهی ودې ممبرانو ته وويل : چي تاسو زما د رئيس ټاکلو لپاره وعده راکړي وه نو اوس ما رئيس مقرر کړئ نو همدلته ممبرانو هغه ته وويل : چي دا سياسي لوړه وه ، موږ ستاسو ووټ يوازي ددې لپاره چي له موږ سره په غونډه کي دښځو او مېړنو ګډون ترسره شي استعمال کړ ، اوس موږ هغه غونډې ترسره کړلي ، اوس تاسو ته زموږ کومه اړتيا نشته.

دانتخاباتو په ورځو کي له هغوی څخه ځينو ممبرانو له عوامو سره په مسجدو کي په غونډو کي دا وعده کړې وه چي موږ به له برې وروسته خپل ووټ عبدالخالق ته نه ورکوو ، خودې خلګو له دې په ښکاره ډول مخالف عمل ترسره او لوړه يې ماته کړه ، قصدًا پر قرآن پاک په لاس ايښوولو سره له وعده خلافي څخه کوم چي ديني اقدار تر پښو لاندي کړل او خلک اوس په قرآن دلوړي کول يوه ټوکه ګڼي ددې لپاره ديني علماو مفتيان کرام دي فتوی صادره کړي چي که دوي دا عمل قصدًا ترسره کړي وي نو د شريعت مطهره له نظره ددې خلګو کوم مقام دی ؟ داسي خلک په اسلامي معاشره کي دعوامو نماينده جوړېدلای شي ؟ (مرزا محمد رفيق)

جواب : - لومړی معاهده په تحريري صورت کي شوي وه ، هغه د تحرير له ليدلو څخه معلومېږي چي په هغه کي لوړه ، ياقسم نه وو ، البته يوه وعده وه په شريعت کي ددې حکم دادی چي په دې وعده کي دګډو افرادو لپاره ددې وعدې خلاف ورزي له عذر څخه پرته روانه ده (۱) البته که له دې وعدې وروسته ددوی له ديانت څخه معلومه شوه چي د کوم کس د ټاکلو وعده شوي وي ، بل کس دده په پرتله ښه او غوره وي نو ددې عذر په وجه سره د هغوی لپاره روا ده چي

(۱) فى القرآن الكريم « وَاَوْفُوْا بِالْعُهُوْدِ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُوْلًا » سورة الاسرآء آية : ۳۴ .

هغه وعده ماته کړي اوهغه کس چي ددوی په اند ډېرغوره وي منتخب کړي. په پوښتل شوي صورت کي که دغه خلګوله دارنګه سم عذرڅخه پرته دالوړه ماته کړي نوډېرګنهګاران دي اوداسي خلګ دنمایندګۍ وړقابل نه دي ، اوکه دفیصلې بدلېدل دیوه عذرپراساس وونوهم تر وروستي وخته پوري خپل دزړه دارادې خلاف اعلان کول دروغ دي اوهغه سخته ګناه ده لهذاکوم خلګ چي ددې دروغوارتکاب کوي هغوی هم ګنهګاران دي ، داسي خلګ دنمایندګۍ اهل ، وړنه دي ترڅوچي هغوی له خپلوګناهونوڅخه دزړه له اخلاصه توبه ایستلي نه وي (١) والله سبحانه وتعالی اعلم.

دجماعت اسلامي ، جمهوريت اوجمعيت علماء اسلام په باره کي ديوې پوښتني جواب

سوال: - «تحریک جمهوریت» په نامه چي کومه ډله په وجودراغلي ده ، جماعت اسلامی هم چي دهغوی ملاتړی دی ستاسوپه دې باره کي څه رایه ده ؟ آیاجماعت اسلامي اودهغوی امیر مودودي صاحب له نظام څخه ونیسي ترهیواده پوري هرڅه دامریکې په غېږکي غورزول غواړي ،آیاداسمه ده ؟ دجماعت اسلامي دادریغ سم دی چي دجمهوریت پرځای کېدل په اصل کي داسلامي نظام پرځای راتللویوه هڅه ده، لکه څنګه چي دپاکستان د ګټلو په ذریعه یوبېل انتخاب وشو.

٢ : - بله سوال کوچي نن سباپه هیوادکي په شداومدسره خپرېږي ، مخالفت يې هم په شداومدسره ده هغه «سوشلزم» دی ددې نظام بلونکي دنیشنل عوامي پارټۍ ده ، په تائیدکي يې دجمعیت علماء اسلام ځیني ذمه دار خلګو هم بیانونه کړي دي ، جماعت اسلامی ددوی په مخالفت کي ترټولو وړاندي دی ، دجمعیت علمااسلام له لوري د سوشلزم چیغه څه ډول سمه اوله اسلام سره برابره ده ؟ جمعیت علماء اسلام په دې باره کي کوم څه کوي په دې کي تاسواونورعلماء کرام په کوم ډول ګډیاست ؟

---

(١) قال الله تعالى « إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا » الاية : ٥٨ سورة النساء .فی صحیح مسلم ج : ٢ ص : ٣٢٦ (طبع قدیمی کتب خانه) قال رسول الله ﷺ « علیکم بالصدق ! فان الصدق یهدی الی البر وان البر یهدی الی الجنة ، .... وایاکم والکذب فان الکذب یهدی الی فجوروان الفجور یهدی الی النار ....» الحدیث : ٤٧٢١ .

جواب: - ترکومه ځایه چي په جماعت اسلامي کي ګډون اونه ګډون اړه لري ، ددې جواب په چاپ شوي ورقه کي شته کومه چي تاسووړاندي رالېږلي وه.

پاته شو تحریک جمهوریت خبره ! نوڅه مهال چي متحده حزب اختلاف داکارپیل کاوه نوحسین شهید سهروردي مرحوم حضرت مولانامفتی محمد شفیع صاحب مدظلهم ته په دې تحریک کي دګډون بلنه ورکړي وه، دهغې په جواب کي نوموړي ویلي وو: «زموږاصلي غوښتنه دنظام پرېښودربدل دي ، بیاکه په اسلام کي په کومه درجه کي دننه جمهوریت وي نوخودبخودبه ددې غوښتني په دننه کي راځي خودجمهوریت په تحریک کي له ګډون څخه بخښنه غواړم» له دې څخه تاسودتحریک جمهوریت په اړه دهغوی دریځ اندازه کولای شئ.

دسوشلزم خبره داسي ده چي په دې کي کوم داسي مسلمان کوم چي له اسلام او سوشلزم څخه خبردار وي شک نه کوي چي سوشلزم داسلام یومخیزمنافي نظام دی اسلام خپل بېل نظام لري چي دسرمایه داري اواشتراکیت (سوشلزم)دواړوڅخه بېل دی کوم څوک چي داسلام په اړه لږهم خبروي هغه سوشلزم له اسلام سره برابرنه ګڼي . دموجوده جمعیت علماء اسلام هم کوم داسي بیان زموږپه علم کي نشته په کوم کي چي هغوی د سوشلزم ملاتړکړی وي بلکه ددې الزام ردېدل موترنظرتېر شوی دی.

په آخرکي وړاندېزدادی چي موجوده جمعیت علمائ اسلام هغه جمعیت نه دی کوم چي دپاکستان دجوړېدلوهلي زلي يې کولې،هغه چي بنسټ يې علامه شبیراحمدرحمه الله ایښی وو، دا جمعیت له مارشلاء څخه وروسته ژوندی نه دی پاته، موجوده جمعیت علمآء اسلام یوبېل جماعت دی چي د پاکستان له جوړېدلوډېروروسته جوړشوی دی.

حضرت مولانامفتی محمدشفیع عثمانی صاحب مدظلهم هم ددې ډلي غړی نه وو اونه ددې ډلي په پالیسي کي دهغه دمشورې کوم دخل وولهذا د هغه دکوم قول اوفعل ذمه داري هغه ته نه راجع کېږي.

والله سبحانه وتعالی اعلم احقرمحمدتقی عثمانی عفالله عنه ١٢ / ٢ / ١٣٨٨ھ

الجواب صحیح بنده محمدشفیع ١٢/٢/١٣٨٨ھ

دقانون میعادسماعت (داوربدلودمودې قانون) شرعي حیثیت

(دقانون «مېعاد سماعت» د حقيقت، تاريخ، شرعي تصور، دلائل، په تېرو وختونوكي د هغه شته والى او د دې قانون د حكمت په اړه تفصيلي فتوى)

سوال: - په ځيني نوي مترقي هيوادوكي (Limitation Act) (محدوديت) په نوم سره چي كوم اصول او قوانين رواج او نافذدي د دې تاريخ څه دى ؟ او آيا هغه سراسرنا اسلامي اصول دي ؟ كه دا اصول او قوانين نا اسلامي وي نو په دفتري او نظامي مسلو او چاروكي د چارې لټولو د مهال د نه تعين كوم چي عملي خرابي ترې پيدا كېږي د دې تدارک څنګه كول كېدا يشي خصوصًا كه دا نه تعين ته د غوښ (Categonical Imperatin) حيثيت وركول شي نو غيرمنقوله جائدادونه د كلونو زړې معاملې به ترې متأثري شي، كه دا اصول او قوانين غيراسلامي نه وي نو د دې په اسلامي والي كي كوم جواز شته څه وخت چي ويل كېږي چي د اسلام په تاريخ كي شفعه پرېږدئ دا رنګه قوانين كله هم نافذ بدلاى نشي ؟

كه همدا اوس قومى اتحاد پرسرد قدرت راشي نو پوره اسلام به څنګه نافذ يږي او (Limitation Act) به څنګه په اسلام مشرفه كېږي ؟ يا به بيا هغه ته په كوم اساس ديوه كلمه ګو قانون حيثيت وركړ په برخه شي ؟

جواب: - محترم قدرمن ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

خداى دي وكړي چي طبيعت مو ښه وي، آمين.

په ليک موخوشحاله شوو، ستاسو د پوښتني په باره كي وضاحت دادى چي د «ميعاد سماعت» داوريدلو د مودې قانون (Limitation Act) يومخېز نا اسلامي قانون نه دى او دا وينا بالكل غلطه ده چي په اسلامي تاريخ كي د شفعې په پرېږدينوولو سره دا قانون كله هم نافذ بدلاى نشي. واقعه داسي ده چي اسلامي عدالتونه هم «مېعاد سماعت» د قانون خيال ساتي په خاصه توګه د تركي خلافت پرمهال د اسلامي نړۍ ټولو قاضيانو د وخت د خليفه مقررشوي «ميعاد سماعت» په قانون عمل ترسره كاوه. او اسلامي فقهاوو د هغوى د دې عمل نه يوازي تائيد كاوه بلكه د وخت د خليفه د منشور له اجراء وروسته يې هغه واجب العمل ګاڼه. د «الاشباه والنظائر» مشهور شرح كونكى علامه حموى رحمه الله د خپل مهال په اړه ليكي چي زمورد زمانې پاچهانو ټولو قاضيانو ته داحكم وركړى و چي هغوى دي له وقف او وراثت څخه پرته هيڅ يوه دعوه تر پنځلس كاله وروسته د دعوې

جوړيدلو پنځلس كاله وروسته د اوريدلو قابل ونه ګڼي. او په فتاوى حامديه كي (چي تنقيح يې علامه ابن عابدين شامى كړي ده) پردې مسئله باندي د څلورو مذهبونو (حنفى، شافعى، مالكى، حنبلى) فقهاوو فتواګاني رانقل كړيدي څوک چي ټول پردې خبره په يوخوله دي چي د پاچاله لوري د دې ممانعت له اجراء څخه پنځلس كاله وروسته كومه دعوه داخله نكړاى شي (۱)

البته علامه خيرالدين رملى رحمه الله په فتاوى خيريه كي په صراحت سره ويلي دي: چي په دې اړه د هر خليفه له لوري له سره نوى حكم جاري كول د مودې د اوريدلو د پابندۍ لپاره ضروري دى البته په مختلفو زمانوكي بېلابېلي مودې مقررېږي، د حنفي فقهي په كتابوكي د ځينو دعوو لپاره ۱۵ كاله، د ځينو لپاره ۳۳ كاله او د ځينو لپاره ۳۶ كاله موده مقرره شوي ده، د مثال په توګه په درمختار كي دي (۲) «القضاء مظهرلامثبت ويتخصص بزمان ومكان وخصومة حتى لوأمر السلطان بعدم سماع الدعوى بعد خمسة عشرسنة فسمعها لم ينفذ، قلت فلاتسمع الآن بعدها الابأمر» تردې لاندي علامه شامى رحمه الله پردې مسئله پوره بحث كړى دى او په دې كې دا هم ليكلي دي چي: «قال المتأخرون من أهل الفتوى: لاتسمع الدعوى بعدست وثلاثين سنة الاأن يكون المدعى غائبًا اوصبيًا ..... (۳) الخ.

بلكه علامه شامى رحمه الله د شمس الائمة له مبسوط څخه نقل كړي دي چي: «اذاترک الدعوى ثلاثا وثلاثين سنة ولم يكن مانع من الدعوى ثم ادعى لاتسمع دعواه» (ردالمحتار، كتاب القضاء مطلب فى عدم سماع الدعوى بعد خمس عشرسنة ج: ۲ ص: ۳۴۴، مطبوعة ديوبند). (۴)

---

(۱) ج: ۵ ص: ۴۹۱ (طبع سعيد) دا رنګه وګورئ حاشيه نمبر ۴.

(۲) ردالمحتار ج: ص: ۴۲۲ (طبع سعيد).

(۳) ردالمحتار ج: ص: ۴۲۲ (طبع سعيد).

(۴) كتاب القضاء ج: ۵ ص: ۴۲۲ (طبع سعيد). وفى الفتاوى تنقيح الحامدية، كتاب الدعوى ج: ۲ ص: ۳ (طبع مكتبة حبيبة كوئټه) وقال المتأخرون من أهل الفتوى لاتسمع الدعوى بعد ست وثلاثين سنة الاان يكون المدعى غائبًا أو مجنونًا أو المدعى عليه أميرا جائرآ يخاف منه كذافى الفتاوى العتابية.

وقال فى البحر عن المبسوط ترک الدعوى ثلاثا وثلاثين سنة ولم يكن مانع من الدعوى ثم ادعى لاتسمع دعواه لأن ترک الدعوى مع التمكن يدل على عدم الحق ظاهرآ ...... والحاصل من هذه النقول أن الدعوى بعد مضى ثلاثين سنة أو بعد ثلاثة وثلاثين لاتسمع اذاكان الترک بلاعذرمن الاعذار المارة لأن تركها هذه المدة مع التمكن يدل على عدم الحق ظاهرآ .... الخ. وفى الفتاوى الكاملية كتاب الدعوى ص: ۱۳۳.

شمس الأئمة السرخسی دخلافت عباسية دمهال دی له کوم ځخه چي ښکاره شوه چي د مېعادسماعت دعوی تصور په خلافت عباسيه کي هم موجودوو، دافسوس خبره ده چي زه داوخت دپښې ديوه زخم له وجي په کور ناست اوله تګ کولوځخه معذوريم له همدې وجي نوروکتابوته رجوع دامهال شوني نه ده که نه ښايې چي پردې نوري هم پخوانۍ حوالې پيداشي ، تراوسه يوازي دعلامه شامي رحمه الله له يادوو شوو څرګندونو څخه دومره څرګندېږي چي دمېعادسماعت تصورنه يوازي داچي نااسلامي نه دی بلکه اسلامي محکموپه هروخت کي په هغه باندي په يونه يوشکل عمل هم کړی دی.

البته دلته يوه شبهه کېدای شي،ښايې لتاسوسره به هم داشبه وي چي يوازي دځنډپر بنا د حق څښتن له حق څخه بې برخي کول کوم جواز لري؟

په موجوده قوانينوکي ددې پوښتني جواب (Equity) ددې مقولو په ذريعه ورکول کېږي چي:-

(The Law aids the diligent and not the indolent.)

قانون دچوکۍ دخلګو مرسته کوي ، دغافله خلګو مرسته نکوي.

(Ther Should be to an end to Litigation)

په محاکموي دعواګانوکي يوڅه افراط پکاردی.

وفی مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر فصل قضاء المرأة فی غير حد وقودج : ۶ص : ۸۸ لوأمر السلطان بعدم سماع الدعوی بعدخمس عشرة سنة يجب عليه عدم سماعها ولوسمعها وقضی لاينفذ لأنه لايصير قاضيًا بالنسبة الی تلک الحادثة کمافی المنح. وفی الفتاوی الأنقروية ج : ۲ص : ۵۸ وفی المبسوط رجل ترک الدعوی ثلاثا وثلاثين سنة ولم يکن له مانع من الدعوی ثم ادعی له لاتسمع دعواه لان ترک الدعوی مع التمکن عليه يدل علی عدم الحق ظاهرًا.

وفی درر الحکام المادة : ۱۶۶۰ ج : ۴ص : ۲۶۱ (طبع مکتبه علمية) اذاادعی أحدبأن العقار کالدراهم والکرم الذی فی تصرف شخص آخرمدة خمس عشرة سنة بلانزاع بأنه ملکه أوأن له حصة فيه فلاتسمع دعواه آهر ...

وکذافی الشامية ج : ۵ ۴۲۲ طبع سعيد) . وفی شرح المجلة اللأتاسي رحمه الله رقم المادة ۱۶۶۳ج : ۵ ص : ۱۷۷ قال المتأخرون من أهل الفتوی لاتسمع الدعوی بعدسن وثلاثين سنة الاان يکون المدعی غائبًا اوصبيًا اومجنونًا وليس لهماولی أوالمدعی عليه أميرًا جابرًا . وفيهاايضًا رقم المادة : ۱۶۷۰ج : ۵ص : ۱۸۷ اذاترک المورث الدعوی مدة يترکهاالوارث أيضًا مدة وبلغ مجموع المدتين حدمرور الزمان فلاتسمع .

خودامقولې په موجوده قوانينوپه حق کي له دې وجي پوره باوري نه دي چي هلته ديانت ، قضا کومه پېژندنه لږ ترلږه په عملي توګه شتون نلري ، بلکه کوم حق چي دمحکمې له لوري مسترد شي په عملي بڼه هغه حق نه بلل کېږي. ددې پرځای اسلامي فقه کي ديانت او قضائي امور يوځای سره روان دي لهذاکه محکمه ديوه حق له ځېرني څخه انکارکړی وي دهغه دامطلب نه دی چي هغه حق نه دی ، بلکه هغه حق موجوددی ، دچاپرذمه چي حق دی پرهغه ديانةً لازم دی چي هغه دحق څښتن ته ورسوي ، که هرڅومره موده تېره شوي وي ، که هغه داسي ونه کوي او محکمه هغه ته څه هم ونه وايې خودی ګنهګاردی له دې وجي داد فقهاوومقوله په « الاشباه والنظآئر» اوپه نوروکتابونوکي درج ده چي :« الحق لايسقط بتقادم الزمان »[1] يعني حق دمودې

([1]) وفی ردالمحتارج : ص : ۴۲۰ (طبع سعيد) قداستفيد من کلام الشارح أن عدم سماع الدعوی بعد هذه المدة انماهو للنهی عنه من السلطان فيکون القاضی معزولا عن سماعها لماعلمت من أن القضاء يتخصص فلذاقال الابأمر أی فاذاأمر بسماعها بعد هذه المدة تسمع وسبب النهی قطع الحيل والتزوير فلاينافی مافی الاشباه وغيرها من أن الحق لايسقط بتقادم الزمان ولذاقال فی الاشباه ايضا ويجب عليه سماعها أی يجب علی السلطان الذی نهی قضاته عن سماع الدعوی بعد هذه المدة أن يسمعها بنفسه أويأمربسماعها کی لايضيع حق المدعی والظاهر أن هذاحيث لم يظهر من المدعی أمارة التزوير ... الخ .

وفی شرح المجلة رقم المادة : ۱۶۷۴ لايسقط الحق بتقادم الزمان فاذاأقر المدعی عليه واعترف صراحة فی حضور الحاکم بأن حق المدعی عنده فی الحال علی الوجه الذی يدعيه وکان قدمر الزمان علی الدعوی فلايعتبر مرورالزمان ويحکم بموجب اقرار المدعی عليه .

وفی تکملة حاشية ردالمحتارج : ۱ ص : ۳۳۲ ثم اعلم ان عدم سماعهاليس مبنيًا علی بطلان الحق حتی يردان هذاقول مهجور لأنه ليس ذلک حکمًا ببطلان الحق وانماهو امتناع عن القضاة عن سماعها خوفًا من التزوير ولدلالة الحال کما دل عليه التعليل والافقدقالوا ان الحق لايسقط بالتقادم کما فی قضاء الاشباه فلاتسمع الدعوی فی هذه المسائل مع بقاء حق الآخرة ولذالوأقر به يلزمه کما فی مسئلة عدم سماعه الدعوی بعدمضی خمس عشرة سنة اذانهی السلطان عن سماعها کماتقدم قبيل باب التحکيم فاغتنم ... الخ.

وفی تکملة حاشية ردالمحتار ج : ۷ ص : ۴۸۷ (طبع سعيد) ثم اعلم أن عدم سماع الدعوی بعد مضی ثلاثين سنة اوبعدالاطلاع علی التصرف ليس مبنيًا علی بطلان الحق ذلک وانماهو مجرد منع للقضاة عن سماع الدعوی مع بقاء الحق لصاحبه حتی لوأقر به الخصم يلزمه ولوکان ذلک حکمًا ببطلانه لم يلزمه ويدل

په تېرېدلو سره له منځه نه ځي ددې مطلب دادی چې د اوربدلو مودې د تېرېدلو سره سره هغه حق موجود دی د کوم چې يو اثر يې اخروي دی چې د دې حق د ضائع کولو والا ګنهګار دی ، بل اثر يې دنيوي دی چې کوم چاته ددې حق د ضائع کولو علم په يقين سره وي پر هغه د فاسق حکم جاري کېږي په کوم سره چې دده ټولې معاملې متأثر کېږي ، دريم اثر يې دادی چې که څه هم محکمې ددې مسئلې له اوربدلو څخه انکار کړيدی خو که خليفه ته قضيه وړاندې شي او هغه وفهموي چې دعوه سمه ده او پکې چل ول نشته نو فقهاوو ليکلي دي چې هغه دی يوه قاضي ته لېږلی شي چې په دې صورت کې قاضي د هغې اوربدل وکوي (شامي ج: ۴ ص: ۳۴۳) (۱) همداسې په دې صورت کې دې د حق ښبتن قاضي دريم مقرر کړي فيصله کولای شي.

له دې څخه ښکاره واضحه ده چې يوازې دژبې پرسرنه بلکه په عملي توګه هم داوربدلو موده نه ساقطېږي . داوربدلو مودې د مقررولو اساسي وجه داده چې ډېره موده تېرېدلو وروسته هم که داوربدلو حق باقي پاته شي نوله دې څخه به يو لورته په دعوو کې چل او فريب او دروغجنو شاهدېو ته زمينه برابرېږي ولې چې ډېرې مودې له تېرېدلو وروسته د پېښې دعيني شاهد پيدا کېدل ستونزمن کار دی ، که پيدا هم شي نو د پېښې پوره تفصيلات يې په ذهن کې نه وي پاته شوي له همدې وجې په محاکمو کې دداسې دعواګانو داخلولو مطلب دا کېږي چې په دعواګانو کې غيرضروري ځنډ راشي او ستونزمنې دعوې ودرول شي د اوربدلو مودې د قانون داحکمت هم زموږ فقهاوو بيان کړيدی.

خلاصه دا شوه چې اسلامي فقه کې ددې بنياد شته ، او کله هم د شريعت پر بنسټ موجوده قوانينو تدوين له سره وشي نو دا قانون په بشپړه توګه مسترد، منسوخ نه ګرزول کېږي بلکه

على ماقلناه تعليلهم للمنع بقطع التزوير والحيل كمامر فلاير دمافى قضآء الاشباه من أمن الحق لايسقط بتقادم الزمان رأيت التصريح بمانقلناه فى البحر قبيل فصل دفع الدعوى .... الخ .

(۱) وفى ردالمحتار ج : ص : ۴۲۰ يجب على السلطان الذى نهى قضاته عن سماع الدعوى بعد هذه المدة أن يسمعها بنفسه أويأمر بسماعها كى لايضيع حق المدعى والظاهر أن هذا حيث لم يظهر من المدعى امارة التزوير .

پردې د ياد و وشو و فقهي بنسټونو پر اساس نظرثاني کول کېږي ، او موږ پوهېږو چې په دې قانون کې د ترميم ضرورت نشته خو مره چې په نورو ډېرو قوانينو کې مخته راځي.(۱)

والسلام ۲۳ رمضان المبارک ۱۳۹۷ هـ (فتوى نمبر ۹۸۷ / ۲۸ ج)

د مسجد له نړولو څخه د ساتلو لپاره هم په دعوی کې دروغ او د واقعې خلاف خبرې کول روانه دي

سوال : - جناب قدرمنه ! دوهمه سوال د يادشوي مسجد په اړه په داسې ډول ده ، څرنګه چې د سيمې ځينې خلک هغه مسجدنشي منلای ددوی دريغ دادی چې په دې سيمه کې د مسجد لپاره ضرورت نشته بلکه پردې ځکه ديو کتابتون ، يا بل مرکز ترڅنګ د مسجد جوړول پکار دی په دې اړه دې خلګو خپلې هلې ځلې وکړې ، ددې مسجد د نړېدلو حکم يې جاري کړ، دې حالت ته په کتو سره له دې څخه پرته بله هيڅ يوه چاره نه وه چې دا قضيه محکمې ته وړاندې شي او په سمدستي توګه د مسجد د نه نړولو حکم له امتناعي محکمې څخه راوړل شي ، لکه چې د مسجد کمېټۍ يو غړي و يوه وکېل صاحب ته ټول حالات بيان او له سره ټول اسناد يې ورښکاره کړل ، وکيل صاحب پوره ډاډ ورکړ چې انشآء الله مسجد به نه نړول کېږي.

په محکمه کې به زه کوښښ وکړم ، د مسجد د نه نړولو فيصله به جاري کړم ، بيا هغه پرڅو پاڼو مشتمل يوه دعوه ليک وليکه ، او امضاء ، په محکمه کې تروړاندې کولو مخکې يې د مسجد د کمېټۍ ديوه غړي دستخط پرو کړ او خپله وکيل صاحب هم دستخط پرې وکړ.

د نومړي غړي له دستخط کولو وروسته وکيل صاحب وويل : زه به يوه علامه دا هم ورته وښيم چې پردې ځکه چې همدا اوس مسجد پر قائم دی په دې کې د سيمې خلګ له تېروڅو کلو راهيسې لمونځ اداکوي، چې حقيقت همداسې نه وو خو ديوې پوښتنې په جواب کې وکيل صاحب وويل : چې د مسجد له نړولو څخه د ساتلو په موخه زه دا قانوني ضرورت پوره کولو لپاره ما دا علامه ايښې ده . الحمدلله وکيل صاحب هم مسلمان او د روژو ، لمونځو پابند دی او بيا وکيل صاحب نور وضاحت وکړ چې زموږ له دې بيان څخه به ولاړ مسجد انشاء الله لو يه هيله

---

(۱) د « داوربدلو د مودې قانون» په اړه نور مهم تفصيلاتو لپاره دحضرت بزرګ دامت برکاتهم العاليه کتاب « عدالتی فيصلی » ج : ۲ ص : ۲۱۹ تر ص : ۲۳۶ پورې دحضرت بزرګ دامت برکاتهم العالية يو مهمه فيصله په عنوان د « غاصبانه قبضه او حق ملکيت » ملاحظه کړئ ،

ده چي دمحکمې له لوري به دنه نړولو امتناعي حکم جاري کړي هغه موږته باور راکړچي زماله دې بیان څخه به چاته ذاتي نقصان رسول یادیوچا حق تلفول مقصودنه دي، بلکه یوازي دالله دکور له شهیدکولو څخه ساتل مقصوددي، الله زما په نیت خبردی. څرنګه چي واکمنانوله پاسه دمسجدد نړولو حکم جاري کړی وو، ددوی عمله یو وخت راغلي هم وو، مسجدیې نړاوه اوس یوازي داصورت ووچي دمحکمې په حکم سره هغوی دمسجدله نړولو څخه منع کړای شول، لهذاله الله څخه په بخښنه غوښتلوسره د کمېټۍ هغه غړي چُپ پاته شواووکیل صاحب په محکمه کي کاغذان داخل کړي وو، محکمې له امتناعي له جاري کولو څخه انکاروکړ، اوزموږ وړاندي شوي دعوه یې خارج کړه، وروسته دمسجددنړولولپاره سرکاري کارکنان هغه مهال راورسېدل خوپرهغوی یو دبدبه غوړېدلي، هغوی دمسجدله نړولوپرته بېرته ولاړل اوتراوسه پوري دالله په فضل مسجدولاړدی، خلګ په جماعت سره پنځه وخته لمونځونه اداکوي.

جواب: - په دعوی کي دروغ اوخلاف خبري کول کله هم روانه دي، له دې نارواکارڅخه د زړه له اخلاصه توبه ایستل ضروري دی، په هرقیمت سره دمسجدآبادول فرض نه دی، له دروغو څخه ځان ساتل فرض دی.(۱) والله اعلم ۹/۱۴۰۸/۲هـ (فتوی نمبر ۳۹/۱۷۹۲)

---

(۱) وفی الآیة «ثم نبتهل فنجعل لعنة الله علی الکاذبین» (آل عمران: ۶۱).

وفی مشکوة المصابیح ج: ۱ ص: ۱۷ کتاب الایمان، باب الکبائر وعلامات النفاق الفصل الأول (طبع قدیمی کتب خانه) عن أبی عریرة رضی الله عنه: آیة المنافق ثلاث، زاد المسلم وان صلی وصام وصلی وزعم انه مسلم ثم اتفقا: اذا حدث کذب واذاوعد اخلف واذا أؤتمن خان. (متفق علیه)

وفی مشکوة المصابیح ج: ۲ ص: ۴۱۲ (طبع قدیمی کتب خانت) ایاکم والکذب وان الکذب یهدی الفجور وان الفجور یهدی الی النار، ومایزال الرجل یکذب ویتحری الکذب حتی یکتب عندالله کذابا. (متفق علیه)

وفی مشکوة المصابیح کتاب الامارة والقضاء باب الاقضیة والشهادات، الفصل الاول (طبع قدیمی کتب خانه)

عن أم سلمة رضی الله عنها أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: انماانابشر وانکم تختصمون الی ولعل بعضکم ان یکون الحن بحجته من بعض فاقضی له علی نحوماأسمع منه فمن قضیت له بشیٔ من حق أخیه لا یأخذنه فانما أقطع له قطعة من النار. (متفق علیه)

وفی الدر المختار ج: ۶ ص: ۴۲۷ (طبع سعید) الکذب مباح لاحیآء حقه ودفع الظلم عن نفسه والمراد التعریض لان عین الکذب حرام قال وهو الحق قال تعالی: «قتل الخراصون».

دولیدابن عقبة رضي الله عنه دحد په واقعه کي دخلیفه راشد پرحضرت عثمان رضي الله عنه باندي دپوښتني جواب

سوال: - په خدمت دمخدومی الاعظم استاذی المحترم زید مجدهم

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

هیله ده چي تاسو محترم به جوړ، سلامت یاست دعاکوم چي الله تعالی ستاسو سیوری همیشه اوتل ولري آمین. لتاسو څخه چي دامهال الله تعالی ددین دساتني لپاره کوم کار اخیستی اوآخلي یې ددې مثال پیداکېدلای نشي، داستاسوپرتول أمت احسان دی دډېرو ستونزمنو مسلوحل ستاسوپه کتابونوکي پیداکېږي، زړه ډېرپرې خوشحالېږي، اللهم زد فزد، آمین.

داوخت دشرابو څښلو حدزماترکتنه لاندي دی، ستاسولوی تألیف «تکملة» څخه موډېره لارښوونه ترلاسه کړي ده، دامهال یوذهني تشویش راته پیداشوی دی دکوم دحل لپاره چي

وفی الشامیة والضابط فیه کمافی تبیین المحارم وغیره عن الأحیآء ان کل مقصود محمود یمکن التوصل الیه بالصدق والکذب جمیعاً فالکذب فیه حرام. وفیهاایضا بعدأسطر قال علیه السلام: کل کذب مکتوب لامحالة الاثلاثة الرجل مع امرأته أو ولده والرجل یصلح بین اثنین والحرب فان الحرب خدعة. قال الطحاوی وغیره وهومحمول علی المعاریض لأن عین الکذب حرام قلت وهو الحق قال تعالی: «قتل الخراصون» وقال علیه السلام. الکذب مع الفجور وهمافی النار، ولم یتعین عین الکذب للنجاة وتحصیل المرام..... الخ.

وفی الدر المختار أیضا بعده ج: ۶ ص: ۴۲۸ (طبع سعید) وللصلح جاز الکذب أودفع ظالم.... الخ.

وفی خلاصة الفتاوی ج: ۴ ص: ۳۴۶ (طبع مکتبه رشیدیة کوئته) یجوز الکذب فی ثلاثة مواضع فی الصلح بین الناس وفی الحرب، ومع امرأته... الخ.

وفی سکب الانهر کتاب الکراهیة فصل فی المتفرقات ج: ص: ۵۵۲ (طبع داراحیآء التراث العربی بیروت) والکذب حرام الافی الحرب للخدعة فی الصلح بین اثنین وارضاء الاهل، وفی دفع الظالم عن الظلم والمراد التعریض لان عین الکذب حرام، قال فی المجتبی وهو الحق قال تعالی: «قتل الخراصون».

ستاسو په خدمت کي حاضرشوم له دې سره سره ستاسو د وخت پرضائع کولو هم پښېمانه يم ، الله تعالی دې تاسو ته اجرعظيم درکړي ، آمين.

زماپرېشاني داده چي وليدبن عقبه ﷺ دحضرت عثمان ﷺ ساتنه کړي وه دهغه له کردارڅخه خبرياست ، څه وخت چې دکوفې والي مقررکړای شونودهغه خلاف دسيسه جوړه کړل شوه چي هغه شراب څښلي دي اوهغو دسيسه کارانودشراب څښلو شاهدې دحضرت عثمان ﷺ په وړاندي دوليدبن عقبه ﷺ خلاف ورکړه، په همدې وجه حضرت عثمان ﷺ وليد راوغوښتی ، ددې شاهدې په اړه له هغه څخه جوا ب وغوښتی ، هغه جواب ورکاوه چي: « فوالله انهماخصمان موتوران» خو داجواب ونه منل شو ، پرهغه حدجاري کړای شو.

پردې زماشبهه ده چي يقيناً به غلطه وي ، خوماته خپله تېروتنه څرګنده نه ده له همدې وجي ستاسو محترم په خدمت کي حاضرشوم.

شبهه داده چي څه وخت مدعی عليه شاهدان مجروح کړي اوجرح هم خصوصاً مجرده نه وه بلکه وجه يې هم بيان کړي چي شاهدان يې سخت دښمنان دي ، نوبيادانصاف تقاضاخو داده چي دڅېړني وخت ورکول شي چي هغه خپله دښمني ثابته کړي ، خصوصاً په حدودو کي احتياط ډېرضروري دی کوم چي په شبهاتو سره نړېږي.

فقهاوو هم په عدالتي طريقه کارکي ملزم ته دصفايي وخت ورکولو يادونه کړې ده.

ستاسو محترم په تکملة دفتح الملهم کي ج: ۲ ص: ۴۹۸ تر ۵۰۲ پوري په تفصيل سره ددې واقعې څخه بحث کړی دی ، ستاسو محترم هم دارجحان دی چي يوازي دشهادت پربناپر هغه حدجاري کړل شوی دی ، که نه هغه دداسي کردار والاکس نه وو ، تاسوداهم ليکلي دي چي په پيل کي حضرت عثمان ﷺ ددې حد په اجراکي شکمن وو بلکه دتکملې په نمبر۷ ص: ۵۰۱ کي ليکلي دي چي : « أن سيدناعثمان ﷺ لم يزل يشک فی صحة شهادة الشهودعلی الوليد» له دې څرګندونو څخه زماشبهه نوره هم ټينګه شوه چي هغه ته د صفايي لپاره وخت ورکول پکاروو چي دشاهدانو دښمني يې ثابته کړي وای ، له حدڅخه بچ شوی وای خوداسي ونشول.

زه ددې شبهې په ښکاره کولو کي هم شکمن يم ځکه چي داديوې لويې هستي فعل دی کوم چي په يقين سره سم دی ، زماشبه کول غلط دی ، پردې توبه باسم ، ځکه چي تريو وخته پوري دمحکمې کارسره تړاو لرم هلته دفوځداري دضابطې په دفعه ۳۴۲ لاندي دملزم ته دصفايي وخت ورکول کېږي ددې عادت له وجي داشبه پيداشوي ده ، چي يادونه يې وشوه ستاسو ددعا په هيله. والسلام ستاسو شاګرد

(قاضی) بشيراحمد عفاالله عنه باغ ، آزادکشمير، ۱۴/ ۳/ ۲۰۰۵ء

جواب: - عزتمنده قدرمنه ! جناب مولاناقاضی بشيراحمدصاحب زيد مجدکم

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسو محترم ليک راورسيد. اصل خبره داده چي دتاريخي رواياتو ددې مهال دکومې فيصلې دپوره تفصيلاتو پوره علم نشي راتلای. راوي چي دخپلو ترجيحاتو سره سم کومه حصه روايت کول مناسب وګڼي روايت کوي يې، نورپرېږدي ، داخبره شوني نه ده چي وليد بن عقبة ﷺ ته دصفايي موقع نه وه ورکول شوي له قانون سره سم که هغه پرشاهدانوجرح کړي وي نودهغې جرح ثبوت هم پرهغه باندي وه اوښايي هغه په پوره ډول ثابته کړي نه وي ، له دومره مودې تېرېدلووروسته زمونږلپاره ديوه راشدخليفه دفيصلې په باره کي دډاډګېرني ، تسلې لپاره همدومره احتمال هم بس دی[1]

والله سبحانه وتعالی اعلم بنده محمدتقی عثمانی عفی عنه ۲۱ / ۲ / ۱۴۲۲ھ

دمدعی عليه په نه موجوديت کي له مدعی څخه دپيسو اخيستلو په بدل کي دده په حق کي فيصله نه نافذ يږي

سوال: - دتحصيل دمولوی صاحب په وړاندي يوقسم دعوه راغله ، له ده څخه يې دشرعي فيصلې غوښتنه وکړه ، مولوی صاحب مدعی اومدعی عليه دبيان لپاره را وبلل دبيان له ورکولو سره سم دواړه جانبينوته نېټه وټاکل شوه ، ترنېټه وړاندي مدعی راغی ، مولوی صاحب ته يې څو روپۍ ورکړې اومدعاعليه يو کس دښمن وه له هغه څخه يې دشاهدې په نيولو سره دمدعي عليه په نه موجوديت مولوی صاحب دمدعی په حق کي فيصله وليکله ، مدعی ترنېټه وړاندي مدعاعليه ته هغه فيصله واوروله، مدعاعليه هغه فيصله ونه منله لهذا اعلاء الدين وړاندي دوهم ځل غوښتنه وکړه چي پرهمدې مسئله غوروکړئ ځکه چي دامسئله دغوروړده دشريعت محمدي اومذهب حنفی په نزد دمولوی صاحب دايوطرفه حکم نافذدی اوکه نه ؟

(له ځايې دارالافتاء له لوري جواب)

[1] دتفصيل لپاره تکملة فتح الملهم ج : ۲ ص : ۴۹۸ تر ۵۰۲ پوري وګورئ.

الجواب: - «وَمَنْ يَعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ» (١) په بل ځای کي راځي: «ولايصح ولاية القاضى حتى يجتمع فى المولى شرائط الشهادة ويكون من أهل الاجتهاد (٢) په بل ځای کي بياداسي دی: ولوكان القاضى عدلاففسق بأخذ الرشوة أوغيره كالزناوشرب الخمر (٣)

په دريم ځای کي: «وينبغى للمقلدان يختار من هو القدر والاولى لقوله عليه الصلوة والسلام: من قلدانسانًا عملاوفى رعيته من هواولى منه فقدخان الله ورسوله وجماعة المسلمين وفى حدالاجتهادكلام عرف فى اصول الفقه حاصله ان يكون صاحب حديث له معرفة بالفقه ليعرف معانى الآثار اوصاحب فقه له معرفة بالحديث لئلايشغل بالقياس فى المنصوص عليه. (الهداية مع الدراية ص: ١٣٢، كتاب ادب القاضى). (٤)

څلورم ځای: قال ولايقضى القاضى على غائب الاان يحضر من يقوم مقامه وقال الشافعى رحمه الله يجوز لوجودالحجة وهى البينة فظهر الحق ولنا ان العمل بالشهادة لقطع المنازعة ولامنازعة بدون الانكار ولم يوجد، ولأنه يحتمل الاقرار والانكار من الخصم فيشتبه وجه القضاء لأن أحكامهامختلفة. (الهداية مع الدراية ص: ١۴٢، كتاب ادب القاضى). (۵)

---

(١) سورة النسآء آية: ١۴.
(٢) الهداية ج: ٣ ص: ١٣٩ كتاب ادب القاضى (طبع رحمانية.
(٣) حواله سابقه.
(۴) الهداية ج: ٣ ص ١۴٠. كتاب ادب القاضى (طبع رحمانية)
(۵) الهداية ج: ٣ ص: ١۵٠ (طبع رحمانية).

والعدولاتقبل شهادته على عدوه اذاكانت دنيوية ولوقضى القاضى بهالاينفذذكره يعقوب باشافلايصح قضاءه عليه (١) بل ځای: «اخذ القضاء برشوة للسلطان اولقومه وهوعالم بهاأوبشفاعة، جامع الفصولين وفتاوى ابن نجيم أوارتشى وهوأو أعوانه بعلمه شرنبلالية وحكم لاينفذ حكمه. (الدرالمختار كتاب القضآء ص: ٣٠۶) (٢)

داپردي صورتونومشتمل دی: ١ - رشوت اخيستل، ٢ - ددښمن پردښمن شاهدي، ٣ - دمدعاعليهٔ نه شتون هغه مهال چي بيان كول كيږي كه په دروصورتوكي يوصورت دقاضى لپاره موجودوه نودقاضى قضامنعدم ګرزول كيږي لهذاددرې صورواجراء من القاضى كول كيږي نودده قضاپه طريقه اولى سره نه نافذيږي، دهدايې په حواله، درمختار اوټول دفقهي كتابونه اوله نص سره يې قضا رديږي.

المجيب مصيب احقر العباد مظفرالدين عفى عنه

(دحضرت مفتى صاحب له لوري جواب)

جواب: - پورتنى جواب سم دی په پوښتل شوي صورت كي كه دپوښتونكي بيان سم وي نوله دريو وجوڅخه دمولوی صاحب فيصله شرعًانافذه نه ده، يوداچي هغه دمدعاعليه په نه موجوديت كي فيصله كړي ده، وفى الدرالمختار: ولايقضى على غائب ولاله اى لايصح بل لاينفذ على المفتى به بحر، (الشامى ج: ۴ ص: ۵٢ (٢) بل داچي ده دمدعاعليه له دښمن څخه يې دده پرضدشاهدي منلي ده، والعدولاتقبل شهادته على عدوه اذاكانت دنيوية ولوقضى القاضى بهالاينفذ ذكره يعقوب باشا. (درمختار مع الشامى ص: ۴۶۵ (٣) دريم داچي رشوت يې اخيستی، اوكه څه هم د رشوت خوړونكي قاضى د فيصلوپه نفاذ كي دعلماوواختلاف دی خوپه كومه فيصله كي چي رشوت اخيستل شوی وي دهغې په باره كي دډېروفقهاوو مسلک دا

---

(١) الدرالمختارج: ص: ٣۵۶، ٣۵٧ (طبع سعيد).
(٢) الدر المختارج: ص ٣۶٢، ٣۶٣ (طبع سعيد).
(٣) الدزالمختارج: ۵ ص: ۴٠٩ (طبع سعيد)
(۴) درمختارج: ۵ ص: ٣۵۶ (طبع سعيد)

دی چي په دې کي فيصله نه نافذېږي ، خلافًا للبعض ومال الشافعی الی ترجيح قول البعض لضرورة الزمان.(شامی ج: ۴ ص: ۴۷۱ ولاضرورة هنا.([1])

والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب ۱/ ۳/ ۱۳۹۱ھ (فتوی نمبر ۳۳۷/ ۲۲ الف)

([1]) درمختار ج : ۵ ص : ۳۵۸ (طبع سعيد)

(كتاب الحدود)

(دحدودو بيان)

داقرار په ذريعه سره دزنا دشرعي سزا داجراكولو شرائط

سوال : - آيا ديوه نارينه او ښځي دااقرار چي له نكاح څخه درې مياشتي وروسته پيدا شوي ماشوم ددوی دی دزنا اقرار ګڼل کېږي.

۲ : - آيا پردې نارينه او ښځه په دې جرم سره دزنا حد جاري کېدای شي ؟

جواب ۱ ، ۲ : - يوازي ددومره اقرار په وجه دزنا حد نشي جاري کېدای ، دزنا دحد لپاره په محكمه کي په ښكاره الفاظو سره دزنا اعتراف وكړي ، دامام ابوحنيفه په نزد يوځل اقرار هم كافی نه دی، څلور ځله دا رنګه اقرار كول ضروری دی ([1]) له همدې وجي دیادشوي اقرار په وجه حد نشي جاري کېدای ، البته تعزير وركول کېدای شي. والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۷/ ۱۱/ ۱۴۰ھ (فتوی نمبر ۱۷۱۳/ ۳۲ ج)

په اقرار او شاهدي کي دځه شي په نشتوالي سره دزنا جرم نه ثابتېږي

سوال: - زيد عمر ته له خپلي كورنۍ سره يوځای بلنه وركړه عمر چي له خپلي كورنۍ سره يوځای ورسېدی نو دزيد خپله كورنۍ له نورو مېلمنو سره بل ځای ته تللي وو ، وروسته زيد او عمر دواړه دمازيګر دلمانځه دادا كولو په موخه مسجد ته لاړل ، دلمانځه ترادا کېدلو وروسته زيد عمر ته دمېتايې راوړلو لپاره روپۍ وركړې ، عمر دمیتايې راوړلو لپاره بازار ته لاړ ، له مېتايې راوړلو څخه پرته عمر دزيد كور ته بېرته راستون شو ، عمرزيد په كوركي پيدا نكړ، وروسته عمر له خپلي مېرمني سره خپل كورته بېرته ستون شو ، دعمر مېرمني تورولګاوه چي زيد پر ماجنسي

([1]) فی فتح القدير كتاب الحدود ج : ۵ ص : ۴ (طبع رشيديه كوئټه) الزنا يثبت بالبينة والاقرار ... وعلى ص : ۸ والاقرار أن يقر البالغ العاقل على نفسه بالزنا أربع مرات فی أربعة مجالس المقر . فی الجوهرة النيرة كتاب الحدود ج : ۲ ص : ۲۲۴ (طبع قديمی كتب خان) الزنا يثبت بالبينة والاقرار ..... (وبعد أسطر فی المتن) والاقرار أن يقر البالغ العاقل على نفسه بالزنا أربع مرات فی أربعة مجالس من مجالس المقر.

تېرې ترسره کړ ، زيدانكاركاوه ، ددې فعل کوم عينی شاهد هم نشته ، دعمر مېرمن لوړه کوي چي همداسي وشول ، زيدهم لوړه ترسره کوي چي دا کار نه دی شوی نوپداسي صورت کي دشريعت حکم څه دی ؟

جواب : - په پوښتل شوي مسئله کي کوم چي دعمر مېرمن لوړه کوي ، دداسي اکراه يادونه نه کوي کوم چي دابالکل مجبور شوي وي ، نو ددې ګناه ثابته شوه چي علاج يې له دې ښځه پرته بل يوڅه نه دي چي توبه او استغفار وباسي ، چي د زړه له اخلاصه توبه وباسيو انشآء الله ګناه به يې وبښل شي (۱) خوځرنګه چي زيدنه اقرار کوي، نه دده پر ګناه کوم شاهد شته له همدې وجي دده په خلاف کوم جرم نه ثابتېږي.(۲)

الجواب صحيح	والله اعلم
بنده محمد شفيع	احقر محمد تقی عثمانی
۱۳۸۸/۵/۲۳ھ	۱۳۸۸ ۵/۲۳ھ
	(فتوی نمبر ۵۹۷ / ۱۹ الف)

(۱) وفی فتح الباری ج : ۱۲ ص : ۱۶۹ (طبع مكتبه الرشد) ..... وقد يتمسک به من قال أنه اذاجآء تائبًا سقط عنه الحد...... وقواه بأن الحسنة التی جآء بها من اعترافه طوعاً بخشية الله وحده تقاوم بالسيئة التی عملها لأن حكمة الحدود الردع عن العود وصنيعه ذلک دال علی ارتداعه فناسب رفع الحد عنه لذلک .... الخ .

وفی ردالمحتار مطلب التوبة تسقط الحد قبله ثبوته ج : ۴ ص : ۴ (طبع سعيد) الظاهر ان المراد انها لاتسقط الحد الثابت عندالحاكم بعدالرفع اليه اماقبله فيسقط الحد بالتوبة ..... (وبعداسطر) رجل اتی بفاحشة ثم تاب وأناب الی الله تعالی فانه لايعلم القاضی بفاحشة لاقامة الحد عليه لان الستر مندوب اليه وفی شرح الاشباه للبيري عن الجوهر رجل شرب الخمر وزنی ثم تاب ولم يحد فی الدنيا هل يحد له فی الآخرة؟ قال الحدود حقوق الله تعالی الاانه تعلق بها حق الناس وهو الانزجار فاذاتاب توبة النصوحًا أرجوان لايحد فی الآخرة فانه لايكون أكثرمن الكفر والردة وأنه يزول بالاسلام والتوبة

(۲) وفی الدرالمختار كتاب الحدود ج : ۴ ص : ۷ ، ۸ (طبع سعيد) ويثبت بشهادة أربعة) رجال فی مجلس واحد.... بلفظ الزنا ..... ويثبت أيضا باقراره صريحًا صاحيا ولم يكذبه الآخر...... الخ . وكذافی البحرا الرائق كتاب الحدود ج : ۵ ص : ۷ و ۱۲ (طبع رشيديه) . وفتح القدير كتاب الحدود ج : ص ۴ و ۸ (طبع رشيديه كوئټه).

دحدودو په ترميمي بِل کي دزنا بالجبر سزا په اړه دسورة النور په آيت نمبر ۳۳ سره داستدلال وضاحت

سوال : - محترم مفتی محمد تقی عثماني صاحب السلام عليكم

دحدودو دقوانينو په باره کي چي کوم بحث دامهال په هيواد کي روان دی دهغه په اړه ستاسو تفصيلي نظر د«جنګ» په يوه برخه کي دويلو موقع په لاس راغله . پدې ترڅ کي زه ستاسو ځو خبرو وضاحت غواړم ، هيله ده چي تاسو محترم له خپلو بېلابېلو مصروفياتو سره سره جواب راته ووايا ست.

لمړی داخبره ده چي زنا بالجبر موجب دحد دی چي ورته دحدودو په قوانينو کي څلور شاهدان وړاندي کول شرط دی آيا په تېرشوو ۲۷ کاله کي يوه مجرم ته ورکول شوي ده ؟ څه وخت چي داشوني نه ده نو بيا که هغه له بِل ښځه وايستل شي نو څه فرق کوي ؟ څه وخت چي يوه خبره له عقل ښځه ليري وي نو بيا دهغه لپاره دتېنګار کولو لپاره څه ضرورت دی ؟

دوهمه خبره داده چي که بې واده کس دزنا بالجبر ارتکاب وکړي نو هغه ته کومه سزا ورکول کېږي ؟ که ددې سزا هم سل دورې وي نو بيا داسزا خو دهغه بې واده کس لپاره هم ده څوک چي دزنا بالرضا مرتکب وي لکه چي تاسو ليکلي دي « دادعام عقل خبره ده چي دزنا بالجبر جرم درضامندي ترزنا ډېره سخت جرم دی ، لهذا که درضامندي په صورت کي دا حد جاري کېږي نو دجبر په صورت کي ددې اطلاق له ډېره قوته سره کېږي ». (جنګ مورخه ۲۳ نومبر سنـــــه ۲۰۰۶ء) څنګه ؟ زما دريم وړانديز دادی چي په سورة نور کي کوم آيت تاسو دزنا بالجبر ښکار شوي مېرمني دبري والي لپاره ددليل په توګه وړاندي کړی دی دهغه له دې معاملې سره هيڅ تعلق نشته، دغه آيت دهغه وينځو په باره کي دی څوک چي خپل مالک په زور سره بدفعلي ته مجبور کړي وې دهغوی په باره کي دالله تعالی ارشاددی چي څرنګه چي هغوی پردې بدفعل مجبور کړل شويدي له همدې وجي الله تعالی هغوی ته بخښنه کړې ده.

که ددې آيت سياق ، سباق ته وکتل شي نو بله کومه يوه معناترې اخيستل شوني نه دي ، ښايې داله دې وجي څخه ترسره شوي وي چي زموږ دقرآن پاک دآياتو سياق سباق ته په کتلو سره دمطالعې رجحان ډېر لږ وي ، بله وجه زما په فکر کي نه راځي.

موجوده حکومت چي دحدودو په قوانينو کي کوم ترميمات کړي دي هغه هم آخري ټکی نه دی ، داهم يو انساني کار دی په کوم کي چي دښه والي شونتيا موجوده ده دارنګه د آر، ډی، نينس

حدودواجراء سنه ۱۹۷۹ ء هم يو انساني كار ووكوم چي په دننه كي يې بنستېزي نيمګړتياوي موجودي وې ، زه حيران يم چي زما په څېر يو عام طالب العلم هم پوهېږي چي په هغوقوانينوكي بنستېزي نيمګړتياوي وې او هغه ډېرژر لري كول پكار وو خوزموږ مذهبي كړې هغوی ته په حدود الله كي ددمداخلې رنګ وركولو كوښښونه كوي. الله تعالى دي موږته له جذباتو ، تعصب څخه داوچت فكر وس راپه برخه كړي اوموږته دې دمقلدانه فكري لېول څخه دآزادي توفيق راكړي آمين.

والسلام عليكم ناصر مصطفى

جواب: - محترمه !السلام عليكم ورحمة الله

دسفرونو په وجه ستاسو دليک په جواب كي له ځنډ څخه بخښنه غواړم.

دسورة نور آيت ۳۳ په باره كي وړاندوينه چي كومو وينځو څخه په زور كاراخيستل كېده ، له هغوی سره په زور يا دپيسو وركولو په بدل كې زناكوله ، دزنابالجبرمرتكب خودي، (۱) په دې صورت كي الله تعالى وينځوته بخښني اعلان وكړ، خوكوموخلګوچي له هغوی سره زنا بالجبر كوله دهغوی دبخښني كوم اعلان نه دی شوی ، لهذادسورة نور د آيت نمبر ۱ كي بيان شوي سزا پردوی هم تطبيقېدای شي ، زماداستدلال همداوجه وه.

والسلام ۱۴۲۸/۴/۷ هـ

(۱) وفى أضوآء البيان سورة النور ج : ۵ ص ۵۳۲ (طبع دار الفكر بيروت (فان الله من بعد اكراههن (لهن) غفوررحيم، ذكره عنه القرطبى ، وذكره الزمخشرى عن ابن عباس رضى الله عنهم جميعًا.
فزيادة لفظة لهن فى قرآءة من ذكر نااستشهاد بقرآءة شاذة لبيان بقرآءة غير شاذة أن الموعودبالمغفرة والرحمة ، هو المعذور بالاكراه دون المكره ؛ لأنه غير معذور فى فعله القبيح ..... وفى الدر المنثور ج : ۷ ص : ۳۹۷ باب : ۳۳ (طبع موقع التفاسير) (فان الله من بعداكراههن غفوررحيم) فان للمكرهات الى الزنا.
وأخرج عبدبن حميد عن قتادة (فان الله من بعداكراههن غفوررحيم) قال : لهن وليست لهم .وفى اللباب باب : ۳۳ ج : ۱۲ ص ۱۰۰ (ومن يكرههن فان الله من بعداكراههن غفوررحيم) اى غفوررحيم للمكرهات والوزر على المكره ، وكان الحسن اذاقرأ هذه الآية قال : لهن والله لهن . وفى كتاب الأم ج : ۵ ص : ۱۷۴ (طبع ببروت) (فان الله من بعد اكراههن غفوررحيم) نزلت فى الاماء المكرهات أنه مغفورلهن بمااكرهن عليه وقيل غفورأى هوأغفر وأرحم من أن يؤاخذهن بما أكرهن عليه وفى هذاكالدلالة على ابطال الحدعنهن اذاأكرهن على الزنى .

يوازي په توبه اوستر سره دحدله ساقطېدلو سره سره نبی ﷺ په زمانه كي ښځي ولي دزنا اقرار وكړ؟ او دارنګه دنارينه لپاره ستر بهتر دی، كه اقرار

سوال: - مكرم ، محترم تقى عثمانى صاحب !السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

په «معارف القرآن» دسورة المائده آيت ۳۳ دمسائلو دمطالعې په مهال مي په ذهن كي يوه سوال راپيدا شوه چي وړاندي كوم يې:

محترم مولانامحمدشفيع صاحب دامت بركاتهم دشرعي سزاګانو په ضمن كي دپنځه حدودويادونه كړي ده اوليكلي يې دي چي ددي سزاګانوپه صورت كي په توبه كولوسره له أخروي حساب څخه بخښنه كېږي خودنيوي سزا نه بخښل كېږي له دې څخه مي دا خبره په ذهن كي پيداشوه چي نبی ﷺ په زمانه كي يوې زانيې ښځي دنبی ﷺ په وړاندي په خپله په حاضرېدلو سره په داسي حال كي چي نبی ﷺ په دې خبرنه وو دجرم اعتراف وكړ ، سزايې غوښتله.

دمولانامحمدشفيع صاحب بيان مي مخته پروت دی كه هغې ښځي په اخلاص توبه ايستلي وای ، خپله ګناه يې پټه كړي وای نونه يوازي داچي دآخرت له عذاب څخه به ساتل شوي وای بلكه له دنياوي رسوايې اوسزاڅخه هم ، هغې داسي ولي نه كول ؟آياهغه له دې مسئلې څخه بې خبره وه ؟ آياهغه دغيرت له وجي په تنګ اوپه جذباتوكي راغلي ، سزايې غوښته ترڅويې دزړه بوج سپک شي؟كه داسي نه وي نوترسزاوړاندي نبی ﷺ هغې ښځي ته دا مسئله نه وه وراپښوولي ؟ چي دارنګه ته بچ كېدای شې ، كه پدې كي يوشرعي حكمت وو؟

جواب: - مكرم محترم !السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

داسمه ده چي كه له يو كس څخه خدای مكړه داسي ګناه صادره شي ، دهغه لپاره غوره دادی چي هغه پټه كړي (۱) اوتوبه وكاږي (۱) خوكه داكس قاضی ته ورشي اواعتراف وكړي نوقاضی هغه

(۱) وفى فتح البارى ، باب لايرجم المجنون والمجنونة ج : ۱۲ ص : ۱۵۸ (طبع مكتبة الرشد، مكة المكرمة) ويؤخذ من قضية أنه يستحب لمن وقع فى مثل قضيته أن يتوب الى الله تعالى ويسترنفسه ولايذكر ذلک لأحد كماأشاربه أبوبكروعمر على ماعزوان من اطلع على ذلک يسترعليه بماذكر ولايفضحه ولايرفعه الى الامام كماقال صلى الله عليه وسلم فى هذه القصة لوسترته كان خيراً لک وبهذاجزم الشافعى رحمه الله فقال أحب لمن أصاب ذنبًا فستره الله تعالى عليه أن يستر على نفسه ويتوب .

ته صراحةً د پتېدلو مشوره نشي ورکولای (۱) خو سنت دادی چي يو ځل له اقرار کولو څخه قاضی مخ ترې واړوي کومه چي يوه سپکه اشاره ده چي ته بېرته ولاړشه (۲) خوله درې ځله مخ

وفيه ايضاً ج : ۱۲ ص : ۱۵۹ وفيه أنه يستحب لمن وقع فی معصية وندم أن يبادر الی التوبة منها ولايخبر بهاأحداً ويستربستر الله تعالی وأن اتفق انه يخبر احداً فيستحب أن يأمر بالتوبة وستر ذلک عن الناس كماجری لماعز مع أبی بكر ثم عمر وقدأخرج قصته معهما فی الموطأ ...... وفی القصة أن النبی صلی الله عليه وسلم قال لهزال لوسترته بثوبک لكان خيراً لک .... قال الباجی المعنی خيراً لک مماأمرته به من اظهارأمره وكان ستره بأن يأمره بالتوبة والكتمان كماأمره أبوبكروعمر وذكرالثوب مبالغة أی لم تجدالسبيل الی ستره الابردائک ممن علم أمره كان أفضل مماأشرت به عليه من الاظهار ... الخ .

وراجع ايضاً الی شرح البخاری لابن بطال ج : ۸ ص : ۴۴۳ (طبع درالنشرمكتبة الرشد) . وفی عمدة القاریٔ (باب من أصاب ذنباً دون الحد فأخبرالامام فلاعقوبة عليه بعدالتوبة اذاجاء مستفتياً) ج : ۲۳ ص : ۴۴۵ (طبع داراحيآء التراث العربی بيروت) اذاتاب قبل أن يقام عليه الحد سقط عنه .

(۱)

(۱) ۴۵ و۴۶) وفی عمدة القاری ج : ۲۳ ص : ۴۴۵ (طبع داراحيآء التراث العربی بيروت) ولايجوز للامام العفوعنه اذابلغه وفی الهندية ج : ۲ ص : ۱۴۴ (طبع رشيدية) فاذابين ذلک وظهره زناه سأله عن الاحصان .... فان وصفه بشرائطه حكم برجمه كذافی التبيين .

(۲) وفی صحيح المسلم رقم الحديث : ۴۲۸۴ عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: اتی رجل من المسلمين رسول الله صلی الله عليه وسلم وهوفی المسجد فناداه فقال : يارسول الله ! انی زنيت فأعرض عنه حتي ثنی ذلک عليه أربع مرات فلماشهدعلی نفسه أربع شهادات دعاه رسول الله صلی الله عليه وسلم فقال : أبک جنون ؟ قال: لا..........قال : فهل أحصنت ؟ قال : نعم ، فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم : اذهبوابه فارجموه ،

دارنګه دنورواحاديثولپاره دحضرت مولاناصاحب كتاب «تكملة فتح الملهم» ج : ۲ ص: ۴۳۷ ترص : ۴۶۳ پوري.

وفی الهندية ج : ۲ ص : ۱۴۴ (طبع رشيدية) وينبغی للامام أن يزجر المقر عن الاقرار ويظهر الكراهة ويأمر بتنقيحه كذافی المحيط . وفی فتح الباری ، كتاب الحدود ج: ۱۲ ص : ۱۵۶ (طبع مكتبة الرشد) ان رجلاً من أسلم قال لابی بكر الصديق ان الاخر زنی قال : فتب الی الله وستتر بستر الله ، ثم اتی عمر كذلک ، فأتی رسول الله صلی الله عليه وسلم فاعرض عنه ثلاث مرار حتی اذاكثر عليه بعث الی اهله.

اړولو څخه وروستېه څه وخت چي هغه څلورم ځل اقرار وکړي نو بيا دي سزا پرې جاري کړي (۱) نبی ﷺ له هغې ښځي سره همداسي وکړل (۲) دقاضی په حيث نبی ﷺ هغې ته په ښکاره دانه دي ويلي چي ستالپاره تر اقرار پټه خوله غوره ده ، ددې ښځي پرزړه دآخرت وېره دومره غوړېدلي وه چي هغه په دومره ورو ورو اشارونه پوهېده ، دسزا پرجاري کولوېې ټينګار کاوه او په تکويني ډول په هغه کي دالله حکمت ددې په ذريعه ددين د يو مهم حکم عملي نفاذ ، دتل لپاره قانون او سنت ساتل وو. (۲)

والله اعلم ۱۴۲۲/۱/۷هـ

---

(۱) وفی عمدة القاری ج : ص : ۱۵۹ (طبع داراحيآء التراث العربی ببروت) يقول الامام للمقر لعلک لمست المرأة أو غمزتها بعينک أوبيديک وفی بعض النسخ بعدهذا أونظرت ...... الخ. وفی فتح الباری ج : ۱۲ ص : ۱۵۹ (طبع مكتبة الرشد) وفيه التثبت فی ازهاق ان ادعی اكراهاً واخطاء فی معنی الزنا أومباشرة دون الفرج مثلااوغير ذلک . وفی عمدة القاری ج : ۲۳ ص : ۴۴۰ (طبع داراحيآء التراث) وقلا عياض فائدة سؤاله أبک جنون استقرألحاله واستبعاد أن يلح عاقل بالاعتراف بمايقتضی اهلاكه اولعله يرجع عن قوله .وفی الهندية ج : ۲ ص : ۱۴۴ (طبع رشيدية) وندب تلقينه لعلک قبلت اولمست اووطئت بشبهة وقال فی الاصل لعلک تزوجتهااو وطئتها بشبهة والمقصودأن يلقنه مايكون دارئا كائناماكان .

(۲) وفی حديث المسلم رقم : ۴۲۹۴ ثم جائته امرأة من غامد من الازد فقالت : يارسول الله ! طهّرني فقال : ويحک ارجعی فاستغفری الله وتوبی اليه (الحديث) (راجع للتفصيل الی تكملة فتح الملهم ج : ۲ ص : ۴۴۷۸ طبع دار العلوم كراچی (.

(۲) دارنګه له اصل حکمت څخه پرته ددې مېرمني دستر پرځای داقرار يوه وجه داکېدايشي چي ځيني وختونه ستر هغه وخت بهتروي څه وخت چي داسي څه نشي پاته کوم چي دستر ضد وي او ددې ضد امر دپيداکېدلو په وجه ستر ستونزمن وي لکه چي غير منکوحه ښځه حامله شي ، پداسي صورت کي ځيني حضراتو ويلي دي چي دستر پرځای اقرار بهتر دی لکه چي په فتح الباری ج ۲ : ص : ۱۵۸ (طبع مكتبة الرشد) کي دی .

ان الغامدية كان ظهربهاالحبل مع كونها غيرذات زوج فتعذر الاستتار للاطلاع علی مايشعر بالفاحشة ومن ثم قيد بعضهم ترجي الاستتار حيث لايكون هناک مايشعر بضده وان وجد فالرافع الی الامام ليقيم عليه الحد أفضل. اوځرنګه چي مېرمن حامله شوي وه له همدې وجي هغې اقرار بهتروګانه له همدې وجي ددې پېښې په اړه احاديثو کي داخبره شته چي څه وخت رسول الله صلی الله عليه وسلم اشارةً داعراض کولو اوتوبي اوبخښني غوښتلووويل نو مېرمني وويل : زه پوهېږم چي تاسولکه څرنګه چي موماعزاسلمي رضی الله عنه ته دوړانديزاونورولاروپه واسطه جواب ورکاوه نو ښايي ماته هم دارنګه

(فصل فی القصاص والدیات)

(دقصاص اودیت دمسلو بیان)

دموټرد ټکرپه نتیجه کي دیوچا پرمړینه دقصاص اودیت حکم

سوال : - دموټردټکرله وجي يوکس مړشونوآياله چلونکي څخه قصاص اخيستل کېږي ،که پرهغه ديت واجب دی ؟

جواب : - که ټکردچلوونکي دغلطي په وجه ترسره شوی وي، دوژلواراده يې نه وه نو قصاص نه تري اخيستل کېږي ، يوازي پرعاقله وو ديت راځي اوکفاره واجبېږي (۱) اوکه يې دوژني اراده وه نو قصاص لازمېږي. والله اعلم ۲۲/۳/۱۴۳۴ هـ

وړانديز کوي څنګه چي زمامعامله له ماعزڅخه بېله ده چي له د هغه يوازي اقرارو اودهغه لپاره ستاسو دتعريض پراساس له اقرار څخه رجوع شوني وه خوزمامعامله کي ښکاره قرينه موجوده ده چي زه خوحامله شوي يم لهذاماپاکه کړه . خلاصه داشوه چي نبی صلی الله عليه وسلم له لوري دهغې له توبې اوبخښني غوښتلواوتعريض د شوي اشاري له مونډلوسره هغې مېرمني ديادوو شولاملونو (کوم چي دآخرت وېره وه لکه چي حضرت دامت برکاتهم العاليه ليکلي دي) پربناپرحدباندي ټينګار کاوه .

وفی حدیث صحیح المسلم رقم الحدیث ۴۲۹۴ ..... ثم جآءته امرأة من غامد من الازدفقالت : يارسول الله طهرني ، فقال : ويحک ارجعي فاستغفری الله وتوبی اليه ، فقالت : أراک تريد ان ترددني کمارددت ماعزبن مالک قال : وماذاک ؟ قالت انهاحبلی من الزنا، فقل : آنت ؟ قالت: نعم فقال لها: حتی تضعی مافی بطنک . (الحديث) وفی فتح الباری ج : ۱۲ ص : ۱۶۰ (طبع مکتبة الرشد) واماقول الغامدية تريدان ترددني کمارددت ماعزاً فيمکن التمسک به لکن أجاب الطيبی بأن قولها انهاحبلی من الزنافيه اشارة الی ان حالهامغايرة لحال ماعز لانهماوان اشترکافی الزنالکن العلة غيرجامعة لان ماعزاًکان متمکنًا من الرجوع عن اقراره بخلافهافکانها قالت أناغيرمتمکنة من الانکاربعد الاقرار لظهور الحمل بهابخلافه ..... الخ .

وفی شرح سنن ابی داؤد ج : ۲۵ ص : ۴۰۶ فالتردادبالنسبة لهاقدحصل ولکنهاطلبت منه الايفعل کمافعل بماعز..... الخ .

(۱) فی الدرج : ۶ ص : ۵۲۷ (طبع سعيد) القتل ..... عمد ، وهوأن يتعمد ضربه بأی ضرب الآدمی فی أی موضع من جسده ..... وموجبه القودعينًا ..... والثالث خطآء ......وموجبه .... الکفارة والدية علی العاقلة والاثم دون اثم القتل ...آه

په ټکرکي دمړيني درامنځته کېدلو په صورت کي دذمه دارچلوونکي دانشورنش «بيمې» له کمپنۍ څخه لاس ته راغلي پيسې «په ديت» کي داخستلو حکم

سوال: - په امريکاکي مي دعمه زوي پرلاره پوريوتی، ديوه ټرک موټرچلونکي مېرمني له ترافيکي قانون څخه په سرغړونه سره ماشوم وواهه ، چي په نتيجه کي هماغه ماشوم مړ شو موټر دانشورنس (بيمي) دکمپنۍ وو اوس دانشورنس له کمپنۍ څخه دماشوم والدينوته تاوان اخيستل روادي اوکه نه ؟ آياداتاوان ديت بلل کېږي اوکه نه ؟ آياترديت زياتي پيسې آخيستل روادي اوکه نه ؟ دانشورنس له کمپنۍ څخه دآخيستلوپه صورت کي حلالي دي ، که نه ؟

بنده محمد عامرعفی عنه /خادم جامعة الرشيد ، احسن آباد

جواب : - اصل تاوان دټرک پرچلوونکي لازم وو، چي دديت په اندازه دغوښتلوحق ووتردې زيات دغوښتلوحق نلري خودخطاقاتل که خپله زياتي ورکړي نواخيستل يې روا دی ، پاته شوه دانشورنس له کمپنۍ څخه آخيستل نودانشورنس کارکنانوچي تراوسه په کوم دفترکي څومره پريميم (هغه پيسې چي دبيمې ګډون کونکي يې په ټاکلي وخت کي کمپنۍ ته ورکوي) جمع کړی دی ترهغې اندازې پوري اخيستل له څه شک څخه پرته روا دي له هغه څخه دزياتوروپوپه اخيستلوکي داتاويل کېدايشي چي دانشورنس کمپنۍ دده دعاقله وو پرځای ګڼل کېدايشي (۱) دده دعاقله جوړولولپاره چي کوم ناروا عقد ترسره شوی دی هغه ددوی خپل عمل دی ، دکوم چي هغوی يې خپله ذمه داردي خوڅه وخت چي په عرف اوقانون کي هغه دعاقله ووقائم مقام ګرزول شوی دی نوله هغوی څخه په اخيستلو کي هم جوازمعلومېږي ، که څه هم دانشورنس دکمپنۍ مال زياتره دعقود فاسده وو له وجي څخه دحراموالي ګمان زيات پرکېدای

---

(۱) وفی الهداية ج : ۴ ص : ۶۲۸ وص : ۶۲۹ کتاب المعاقل (طبع مکتبه رحمانيه) والاصل فی وجوبهاعلی العاقلة قوله عليه السلام فی حديث حمل بن ملک رضی الله عنه للأولياء قوموافدوه .... وانماخصوا بالضم لانه انماقصر لقوة فيه وتلک بأنصاره وهم العاقلة فکانوا هم المقصرين فی ترکهم مراقبته فخصوابه ...... لان العقل کان علی أهل النصرة وقدکانت بأنواع بالقرابة والحلف والولآء والعد . وفی عهدعمر رضی الله عنه قد صارت بالديوان فجعلها علی اهله اتباعًا للمعنی ولهذاقالوا: لوکان اليوم قوم تناصر هم بالحرف فعاقلتهم أهل الحرفة ..... الخ.

شي خو كفار اهل حرب د مخاطب بالفروع نه ګڼلو پر بنا جواز معلومېږي [۱] خو پردې پوره يقين نشته ، غور كول پكار دي او نورو علماوو ته هم مراجعه وكوئ. والسلام

۱۴۲۵/۱۲/۲۹ھ

۱ : - په موجوده زمانه كي د قتل شبه عمد په اړه دصاحبينو د بيان شوي تعريف د غوراوي حكم

۲ : - صلح عن دم العمد ، يا د عمد په ديت كي درې كاله مهلت غوښتل ضروري نه دى

سوال : - امام ابوحنيفه رحمه الله د قتل شبه بالعمد تعريف داسي كړى چي «عمداً يې په داسي شي سره ووژني چي نه اسلحه وي او نه قائم مقام د اسلحې» (هدايه ج ۴ ص : ۵۶۰ ، كتاب الجنايات).

صاحبينو دا تعريف كړيدى چي «شبه العمد ان يتعمد ضربه بما لايقتل به غالبًا» (هدايه ج: ۴ ص: ۵۶۰) امام شافعي رحمه الله هم د صاحبينو تائيد كړى دى له همدي وجي په لويه ډبره او لوى لرګى (لاټھى) سره قتل ، يا په ډېرو او بوكي غرقول ، يا له غره څخه رارغړول غرض دا چي په هرشي سره كوم چي اجزاوي نه بېلوي د امام صاحب په نزد دا قتل شبه عمد او د صاحبينو پر مذهب قتل عمد بلل كېږي.

امام صاحب د وژلو آله «سلاح» د قتل د نيت ښكارندوى بللى دى ، لهذا «سلاح» سره وژل عمداً قتل دى او «بماليس بسلاح ولاجرى مجرى السلاح » څخه قتل شبه بالعمد دى ، د صاحبينو پر مذهب د قتل آله « مايقتل به غالبًا» سره قتل عمد بلل كېږي او « بمالايقتل به غالبًا» سره قتل شبه بالعمد بلل كېږي.

۱ : - اوس د پوښتني وړ خبره داده چي په دې زمانه كي د قتل بالمثقل پېښي ډېري دي ، دارنګه په آله غيرجارحه سره هم قتل روزمره معمول جوړ شوى ، د امام صاحب تعريف ته كه د هيواد د قانون درجه وركول شي نو بيا داوېره ده چي د قتل په پېښو كي به زياتى راشي، ځكه چي د شبه بالعمد سزا ديت دى ، نن سباله خلكو سره پيسې ډېري دي، د پيسو په ادا كولو كي هم ورته

---

[۱] درمختار سره له ردالمحتاره وګورئ ج : ۴ : ص : ۱۲۸ و ۱۲۹ (طبع سعيد) .

آساني ده چي اول خو به يې عاقله ديت وركړي اضافه لا دا هم ده چي په ادا كولو كي ترډروكلونو پوري مهلت هم شته ، د دې په مقابل كي د صاحبينو رحمهما الله تعالى تعريف له همدې مهال سره وړتيا لري او د عقود رسم المفتى له عباراتو څخه معلومېږي چي د قضا په معاملاتو كي د امام ابويوسف رحمه الله پر قول فتوى كول كېږي وفى القنية من باب المفتى الفتوى على قول أبي يوسف فيما يتعلق بالقضاء لزيادة تجربته كذا فى البزازية من القضاء. (ص : ۲۹ ، مطبوعه دارالاشاعة كراچي) او د دې خبري وضاحت په دې كتاب كي شته چي د صاحبينو قول په حقيقت كي د امام صاحب د يوه بنياد فرع وي (ص: ۱۷) او خپله امام صاحب هم د شبه عمد والي لپاره شرط لګولى دى چي د وهونكي قصد به «تأديب وي ، نه اتلاف نفس» چي حاصل يې دادي :كه قصد يې اتلاف نفس وو نو دده په نزد هم قتل بالمثقل قتل عمد بلل كېږي عبارت يې دادي : « يشترط عند أبى حنيفة رحمه الله أى فى شبه العمد ان يقصد التأديب دون اتلاف » الدرالمختار ج : ۵ ص : ۳۵۱ فصل فيما يوجب القودو مالايوجبه بولاق مصر) [۱] په اعلاء السنن جز: ۱۸ كي هم د قتل بالمثقل بشرط القصد سره د قصاص د وجوب يادونه شوي ده [۲] دې ته په كتو سره سوال داده چي آيا د امهال د صاحبينو پر قول د فتوى وركولو ګنجايش شته او كه نه ؟ كه جواب هو وي نو د امام صاحب د مستدل جواب به څه وي ؟ دده يو دليل دادى : « قتيل السوط والعصا شبه العمد» همدارنګه « الاان قتيل خطآء العمد بالسوط والعصا والحجر فيه الدية مغلظة مأة من الابل منها أربعون خلقة فى بطونها اولادها» (داحكام القرآن په حواله للجصاص ج: ۲ ص: ۲۲۹ ، ۲۳۰ ، باب شبه العمد ، مطبوعه بيروت) په دې رواياتو كي د بل شي په آله سره قتل په شبه بالعمد كي شمېرل كېږي.

۲ : - دوهمه سوال داده چي آيا قاضي كه د قتل په ديت كي مهلت ورنكړي نو د ته دا ګنجايش شته او كه نه ؟ شبهه داده چي يو ديو چا قريب قتل شوى دا جلا يوه صدمه ده ، بيا به ترډريو كالو پوري هغه د ديت انتظار كوي په دې سره به دده تسلي تر سره نشي ما ته له پلټني سره سره د مهلت د ختمولو كوم صورت په نظر نه راځي.

المستفتي بنده بشير احمد قاضى عدالت باغ ، آزاد كشمير

---

[۱] ردالمحتار ج : ۶ ص : ۵۳۰ (طبع سعيد).

[۲] اعلاء السنن ج : ۱۸ ص : ۸۷ (طبع ادارة القرآن والعلوم الاسلامية). وفى كنز العمال : لاعمد الا بالسيف ج : ۱۵ ص : ۱۱ كتاب القصاص حديث : ۳۹۸۴۲ . وفى اعلاء السنن ج : ۱۸ ص : ۸۱ (طبع ادارة القرآن ليس معناه ان آلة القود ليس الا السيف كما توهمه الطحاوى.

جواب: - په اوسني حالاتوکي قتل شبه العمدهغه تعریف غوره دی کوم چي صاحبینوخوښ کړېدی ، هغه مناسب اومستساغ دی (۱) تاسوچي ددې کوم دلائل یادکړي دي هغه بس دي اوښایې تردې وړاندي مادهغودلائلوپربناتاسوته خپله رایه ښکاره کړې وي.

۲: -صلح عن دم العمد ، یادیت عمدکوم چي خپله پرقاتل دی په دې کي د دریو کالومهلت ضروري نه دی بلکه په خپل منځي توافق سره چي کومه موده مقرره شي هماغه سمه ده «صرح به فی البدائع (۲) بلکه دشافعیه اومالکیه ووپه نزدمهلت ورکول روانه دی ، خوشبه العمد اوخطادیت ځرنګه چي عاقله اداکوي له همدې وجي په دې کي مهلت ورکول عین له حکمت سره برابردی اوددې خلاف دفقهاوو کوم قول نه دی تېرشوی ، اوپه شبه العمد د صاحبینوقول له غوره کولووروسته ددې کوم ضروروت هم نشته.

والله سبحانه اعلم ۱۳۹۹/۱۰/۲ هـ (فتوی نمبر ۱۷۱۰ / ۳۰ د)

په قتل شبه عمدکي دامام صاحب مسلک اودده ددلائلو تحقیق اوپه موجوده وخت شبه عمدکي دصاحبینو دتعریف دغوراوي حکم

سوال: -څه وایې علماددین په لاندیني مسلوکي:-

۱: - داحنافوپه نزدقتل بالمثقل موجب دقصاص نه دی په دې شرط چي تېره شی نه وي ، په دلیل کي «حدیث» دلاقود الابالسیف وایې.

۲: - بیادقصاص په استیفاکي هم داحدیث خپل مستدل ګرزوي ، وایې چي قصاص لکه فصل په وینوکي وي بلکه په هرحال کي په توره سره کېږي.

دپورتني حدیث محمل موجب دقصاص دی (یعني قصاص په کوموحالاتو ، کومو آلاتود ضرب(وهلو) سره واجبېږي) ، که استیفا دقصاص دی؟

جواب: - داحنافوټول امامان نه بلکه یوازي دامام صاحب په نزد قتل بالمثقل موجب دقصاص نه دی ، دصاحبینو ورسره اختلاف دی ، دامام ابوحنیفه صاحب په باره هم علامه ظفراحمدعثمانی رحمة الله علیه تحقیق دادی چي امام ابوحنیفه رحمه الله یوازي په هغه صورت

(۱) دتفصیل لپاره بېله فتوی اودهغې حواله وګورئ.

(۲) بدائع الصنائع ج: ۷ ص: ۲۴۷ وګورئ (طبع سعید)

کي قتل بالمثقل موجب دقصاص نه بولي څه وخت چي دقاتل مقصد قتلول نه وي ، دی لیکي: « بل مذهبه ان القتل بالمثقل غیرموجب للقود اذالم یکن القتل مقصودًا للقاتل کمانص علیه فی المجتبی ونقل عن العینی فی البنایة. (اعلاء السنن ج: ۱۸ ص: ۷۵). (۱)

داامام ابوحنیفه رحمه الله په دلیل کي په عامه توګه حدیث د «لاقود الابالسیف» وړاندي کوي خوله هغه سره په دې باره کي ښکاره دلائل هم شته مثلا:-

۱: - په مسند احمد کي له حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه مرفوعًا روایت دی: « ولاعمد الابالسیف» (کنز العمال ج: ۷ ص: ۲۸۴ حدیث ۳۱۳۲ کتاب القصاص). (۲)

۲: - طبراني اوبیهقی کي حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه څخه مرفوعًا روایت دی: « کل شئ خطأ الاالحدید والسیف » اوعبدالرزاق دروایت الفاظ دادي « کل شئ سوی الحدید خطأ ولکل خطأ أرش.» (پورتنی حواله). (۲) له همدې وجي امام ابوحنیفه رحمه الله ددې ارشاد دتائید لپاره مرفوع ښکاره روایات موجود دي البته په موجوده زمانه کي څه وخت چي قتل نفس یوه ډرامه ګرزېدلی دی اودقتل آلات هم بې شماره ډېرشوي دي اودقتل نوي نوي طریقې پیداشوي دي ، داحقرطبعي رجحان دادی چي دملکي قانون دجوړېدلو پر مهال که دامام شافعی اویالږترلږه دصاحبینوقول غوره کړای شي نوبهتربه وي، احقرددې یادونه دکراچۍ له ځینواهل فتوی علماووسره وکړه نوهغوی له دې سره اتفاق وکړ، ددې تائیدله دې خبري څخه هم کېدای شي چي په زهرو دوژني په صورت کي علامه حموي رحمه الله اونورودقصاص پر وجوب باندي فتوی ورکړېده اوعلامه رافعی رحمه الله له علامه سمرقندي څخه نقل کړېدي چي: «العمل علی هذه الروایة في زماننا لانه شاع فی الارض بالفساد فیقتل دفعًا لشره (التحریر المختار ج: ۲ ص: ۳۲۳). له نورواهل فتوی علماوو څخه هم ددې داستصواب لپاره سوال پکاردی. (۳)

۲: - «لاقود الابالسیف» دجملې ددوو معناووا احتمال دی ، داهم چي قصاص له دې صورت څخه پرته نه واجبېږي: څه وخت چي په توره سره قتل شي ، داهم چي دقصاص استیفاله توري څخه پرته له بل یوه شي څخه نه کول پکاردی ، په اعلاء السنن کي یې لومړنۍ معناته ترجیح

(۱) اعلاء السنن ج: ۱۸ ص: ۸۷ (طبع ادارة القرآن.

(۲) کنز العمال ج: ۱۵ ص: ۱۱ کتاب القصاص حدیث: ۳۹۸۴۲.

(۳) اوس ځرنګه چي په پاکستان کي دقصاص قانون دجمهورو له مسلک سره سم جوړشویدی له همدي وجي په هغه سره عمل کول متعین شویدی لأن حکم الحاکم رافع للخلاف.
(۱)

وركړي ده «ليس معناه أن آلة القود ليس الا السيف كما توهمه الطحاوي» (اعلاء السنن ج: ۱۸ ص: ۷۰). (۱) خو علامه ظفر احمد عثمانی رحمه الله په آخر کي دې نتيجې ته رسېدلی دی چي: «فالظاهر انهما حديثان احدهما فی ايجاب القود انه لايجب الا بالسيف والثانی فی استيفائه به لالتوفی الا بالسيف والمراد به اسلام.» (ايضاح ۱۸ ص: ۷۹) (۲)

په هرحال! په حديث کي د دواړو معناګانو احتمال شته، او د ده له معنا څخه دا څرګندېږي چي د قصاص استيفاء يوازي له توري څخه کول پکاردی، او په قتل بالمثقل کي د قصاص پرنه واجبيدلو له دې حديث څخه استدلال ښکاره نه دی او د نورو احاديثو په شته والي کي په دې حديث سره د استدلال نيولو ضرورت نشته، هذا ماعندی.

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۷ /۴/ ۱۳۹۸ھ (فتوی نمبر ۴۳۵ / ۲۹ الف)

په قتل خطاکي پر قاتل ګناه شته او که نه؟

(د بېلا بېلو عباراتو تحقيق او څېړنه)

سوال: - السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

وروسته تر سلام وړاندي يز دادی چي زه د لاهور په يوه دارالافتاء کي د معاون په حيث کار کوم زموږ دارالافتاته يو ځل د قتل خطا په اړه يوه سوال راله د کوم په جواب کي چي په مجموعي ډول د قتل خطا د نورو احکامو څخه دا حکم هم ليکل شوی وو چي قاتل د دې قتل په وجه ګنهګار هم دی لهذا توبه او بخښنه دي وغواړي، که څه هم دا ګناه د قتل عمد د ګناه په څېر نه دی لکه چي د فقهي په کتابونو کي دا مسئله ښکاره موجوده ده.

دامهال زما په خيال کي د دې حديث «ان الله تجاوز عن امتی الخطا الخ» په وجه اشکال پيدا شو، د اشکال وجه دا وه چي په حديث کي د خطا د پورته کېدلو څخه مراد د آخرت د حکم پورته کېدل دي کوم چي عذاب دی.

څه وخت چي د حديث له رويه له خاطی څخه د آخرت حکم يعني عذاب مرفوع دی نو د قتل خطا په صورت کي پر قاتل باندي ګناه ولي شته؟ او له ده څخه اُخروي حکم ولي نه پورته کېږي؟

---

(۱) اعلاء السنن ج: ۱۸ ص: ۸۱ (طبع ادارة القرآن).

(۲) اعلاء السنن ج: ۱۸ ص: ۹۲ (طبع ادارة القرآن والعلوم الاسلامية.

د دې پوښتني د جواب د پلټني لپاره ما د خپل وس مطابق د فقهي کتابونه او فتواوي او د تفسير کتابونه او د احاديثو شروحی وکتلي خو کومي توجيهاتي چي هغوی بزرګانو د قتل خطا په باره کي د قاتل د ګنهګار کېدلو په اړه غوره کړي وې په هغوی کي مي په کومه يوه توجيه سره تسلي ونشوه بلکه له ځينو عباراتو څخه د قاتل د ګنهګار کېدلو په فکر کي نور تقويت رالی، لکه چي په احکام القرآن للجصاص کي دي: ليست هذه الکفارة مستحقة بالمأثم فيعتبر عظم الاثم فيها لان المخطئ غير آثم فاعتبار الاثم فيه ساقط.

په مرقات شرح مشکوة کي داسي راغلي دي: والمعنى أنه عفا عن الاثم المستوجب عليه بالنسبة الى مأثر الاثم والا فالمؤاخذة المالية کما فی قتل النفس خطأ واتلاف مال الغير ثابتة شرعًا واذا قال علماءنا فی أصول الفقه: الخطأ عذر صالح لسقوط حق الله اذا حصل من اجتهاد ولم يجعل عذرًا فی حقوق العباد حتى وجب عليه ضمان العدوان. (ج: ۱۰ ص: ۶۶۳ طبع کوئټه)

د مشکوة په حاشيه کي له لمعات څخه نقل شوي دي: ولعل المراد بالتجاوز عدم الاثم فيها لا عدم المؤاخذة عليهما مطلقًا لأنه يثبت الدية والکفارة فی قتل الخطأ ومع ذلک الاثم مرفوع فی الکل وهو المراد بالتجاوز. (مشکوة ج: ۲ ص: ۵۸۴ طبع قديمي کتب خانه) په هدايه کي داسي راغلي دي: والخطأ على نوعين .... وموجب ذلک الکفارة والدية على العاقلة .... ولا اثم فيه. (ج: ۴ ص: ۵۶۱)

که څه هم صاحب د هدايې له «لا اثم فيه» څخه د قتل ګناه اخيستي ده نو ره د ترک عزيمت او د ترک مبالغه فی التثبت ګناه مرفوع نه ده.

خو سوال دا ده چي په خطا کي د ترک عزيمت او ترک مبالغه فی التثبت له شته والي سره سره شارع دا ګناه مرفوع ويلي ده. همدا رنګه ځيني بزرګانو د کفارې مشروعيت هم د ګناه دليل

ګرزولی ، خوددې جواب د احكام القرآن للجصاص له عباراتوڅخه کېدای شي چي داكفاره دګناه له وجي څخه نه ده. زماپرفقهاووكرامو کوم اعتراض نشته ، البته د هغوی حضراتو دخبري په کم فهمي کي دخپل قصور اعتراف کوم.

له همدي وجي زه دلويانو خبري له لويانو څخه دزده کړي په وجه له تكليف دهي څخه له ډېري له عذرخواهي سره ستاسو دلارښووني هيله من يم.وللارض من كأس الكرام نصيب.

فقط والسلام عرض کونکی محمد رفيق عاون دارالافتاء والتحقيق چوبرجی پارک لاهور

جواب: - په قتل خطاکي پرقاتل ګناه شته،يانشته ؟ په دې باره کي دفقهاكرامو عبارات مختلف دي ، ځينوويلي دي چي په دې کي ګناشته ، که څه هم دقتل عمدترګناه کمه ده ، او كفاره ددې دازالې لپاره مشروع شوي ده لکه په درمختارکي چي وايي : والاثم دون اثم القتل اذالكفارة تؤذن بالاثم لترك العزيمة. تردې لاندي علامه شامی رحمه الله وايي چي : قوله لترك العزيمة ؔ وهى هناالمبالغة فى التثبت ليس باثم ، وانمايصيربه آثما اذااتصل به القتل ، فتصيرالكفارة لذنب القتل ، وان لم يكن فيه اثم قصد القتل اهـ تأمل. (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٥٣١) [1] اوځيني فقهاء کرامو دګناه نفی کړيده لکه امام ابوبکر جصاص رحمه الله عبارت چي تاسوخپله نقل کړيدي، دامام طحاوی رحمه الله له عباراتو څخه هم دامعلومېږي ، دی وايي: ان الكفارات قدتجب فى الاشياء التى لاآثام فيهاعلى من كانت منه ، من ذلك قوله تعالى فى كتابه : «ومن قتل مؤمناً خطأ» الآية.

(مشكل الآثار ج: ١ ص: ٣٩٢) [2]

اوځينو فقهاوو دګناه له يادولو څخه چُپتياغوره کړيده.

خو په حقيقت کي ددواړو قولوترمينځ داتطبيق شونی دی چي کوم چاچي دګناه نفی کړيده له هغه څخه مراد قتل دګناه نفی ده ، اوچاچي اثبات کړيدی له هغه څخه مراد دعدم تثبت دګناه اثبات دی ، اوکه اختلاف حقيقةً ومنل شي نو دا يوازي دنظراختلاف دی چي کوم عملي نتيجه يې نه راوزي له دې وجي چي:

۱: - پردې خبره ټول متفق دی چي کفاره واجب ده.

۲: - پردې خبره دهيچا اختلاف نشته چي كه كفاره ورنکړي نو ګناه شته.

---

[1] طبع سعيد.

[2] مشكل الآثار للطحاوى باب من قطع مال امرئ مسلم بيمين كاذبة . ج : ١ ص : ۴۵۰ رقم : ۳۷۴ .

۳: - پردې خبره هم دټولو اتفاق دی چي دکفارې تراداکولووروسته پرهغه کومه اُخروي ذمه داري نشته.

پردې ټولو عملي تنيجوتر اتفاق وروسته داتعبيري اختلاف دی چي ځيني حضرات وايي: ګناه موجوده وه خو په کفاره سره له منځه لاړه ، ځينونوروبياويلي دي ګناه کله هم نه وه او کفاره ديو امرتعبدي په توګه واجب شويده.

البته دقرآن کريم له الفاظوڅخه په ظاهره دامعلومېږي چي ګناه وه خو په کفاره سره وبخښل شوه ، له همدې وجي قرآن کريم دکفارې له يادلو سره وايي: «توبة من الله» (النساء: ۹۲).

ددې آيت ترجمه حكيم الامت مولاناتهانوی قدس سره داسي کړيده: «داآزادول دي ، که هغه نشي کېدلای نوروژې نېول دی) دتوبې په توګه (دي) کومي چي دالله له لوري مقرري شويدي».

په دې آيت کريمه کي ښکاره خبره ده چي کفاره دتوبې په توګه مشروع شويده اوداهم ښکاره ده چي توبه پريوه ګناه باندي وي اوڅرنګه چي الله تعالی خپله ارشادکوي چي په کفاره سره توبه کېدای شي له همدې وجي دجلاتوبې ، استغفار ضرورت نشته.

اوس يوازي داخبره پاته شوه چي په قتل خطاکي دګناه پرشته والي حديث د«رفع عن امتى الخطأ والنسيان » معارض دی ددې دوه جوابه کېدای شي : لومړی داچي ددې حديث مقصد دادی چي ددې فعل اصل ګناه دخطاپه صورت کي مرفوع ده، لکه چي دقتل په صورت کي چي اصل ګناه دقتل عمدپه صورت کي ګناه وه کومه چي په خطاکي مرفوع شوه ، خوله يوې بلي وجي څخه ګناه ددې معارض نه ده دمثال په توګه دقلت تثبت ګناه بياهم کېدايشي کوم چي ده يوه نفس دهلاکت سبب شو.

دوهم جواب داکېدايشي چي قتل خطاله دې ګُليې څخه په قرآني نص سره استثنا ده ، ددې وجه داکېدايشي چي دمعصوم نفس هلاکول ډېره درنه معامله ده ، په دې کي له قصد څخه پرته تَسبب هم دګناه موجب دی اوترمبالغه فى التحرزوالتثبت په نورو معاملاتوکي به موجب دګناه نه وي خو په دومره درنده معامله کي موجب دګناه بلل کېدای شي . البته د عدم قصد دعذرپه وجه دبخښني لپاره يوازي کفاره دتوبې پرځای ودرېده ، دجلاتوبې کوم ضرورت نشته.

هذاماظهرلی والله سبحانه وتعالی اعلم بنده محمد تقی عثمانی ۱۰/ شعبان ۱۴۳۰ھ
(فتوی نمبر ۱۱۸۲/۳۴)

(فصل فی التعزیر)

(دتعزيراوسزاوركولودمسئلوبيان)

پربهتان باندي دتعزيري سزاغوراوی يوازي په محكمه پوري اړه لري په عواموپورې نلري

سوال: - زيداوبكر په يوه تنظيم پوري تړلي ديوې اداري غړي وو، زيدد بكرتر سرپرستي لاندي كاركاوه ، بكرد زيدپه خلاف څه خبري وكړې اوزيدپربكرڅه الزامات ولګول ، سمبالونكي كمېټۍ دبكر پرضددتورونوكوم خبرتراسه نكړاوفيصله يې وكړه څرنګه چي دزيداوبكرترمينځ داختلافاتوله وجي دباورفضاله مينځه تللي وه له همدې وجي ماتحت نوكرزيديې له ادارې څخه ګوښی كړ دكوم په وجه چي زيدخپل كار پرېښووی ، كورته لاړی تردې څوروځي وروسته يې دچاپېدونكو ورځپاڼولهلاري داخبره شائع كړه او بېلابېلوغړوته يې وركړه اوويې ليږل چي مادچارودسمبالوونكوپه مشوره زيدپه ماليات وكي دلاس وهني ، دقوانينو، ضوابطود خلاف ورزي په كولواودنظم په چارو كي دپابندي دنه كولوپربناله كاره څنګ ته كړ، زيدچي كله مجلې ، ورځپاڼي ولوستلې ده د همدې تورونوپرضددڅارنوالي دلوی سرپرست په وړاندي تحريري شكايت وړاندي كړ لوی څارنوال دڅېړني لپاره خپل نماينده مقرركړ دڅېړني اوتحقيقاتوپرمهال بكرپرزيد لګول شوي تورونه ثابت نكړای شول دڅارنوال له خبرداري اووينا سره سره پرزيد له دې ښكاره ظلم څخه له بخښني نه په انكاركولو سره يې وويل: زيدكه غواړي نوله ماسره دې په محكمه كي دعوه وچلوي ، زه خپل تاوان وركوم. اوويې ويل: زه له دې كس څخه بخښنه نه غواړم پرهمدې خبره څارنوال دخپل راپورپه اړه دډېرخفګان اظهاروكړ اونوريې وليكل چي دكاركري اداري په فيصله كي چي كوم الزامات درج نه دي هغه يې هم په چاپي رسنيو كي له وجي اومعقول ثبوت څخه پرته دخپلي غُصې پربنا ،دخپل سپكاوي دانتقام اخيستلو په غرض شامل كړيدي . هغوی دومره لويه غلطي كړيده چي هيڅ مثال يې نه تر سترګوكېږي ، لوی څارنوال د همدې وجوهاتوله كبله د بكرپرضددتأديبي كاروايې سفارښتنه كړيده.

بكرپه چاپي رسنيوكي دډېردروغ داويلي دي چي هغه زيدبرطرفه كړزياته لاداچي د چاروسمبالونكي كېمسيون له مشورې سره سم يې برطرفه كړيدی.

دزيدوينا ده چي كله داثابته شوه چي بكرپرهغه تورونه (دروغ) لګولي دي ، اوهم يې
دواقعي خلاف دروغ ويلي، زيديې خپله ګوښه كړى، دچارود سمبالښت كميسيون له مشورې
سره ګوښه كېدل اوپه رسنيو كې رسواكېدلوښكاره ظلم هغه په څلوركونجه دنيا كې رسواكړى ،
دكوم څه په وجه چې هغه ته د ډېرزيات اونه جبرانېدونكى تاوان رسېدلى دى زياته لاداچې
بكرداداري دمشر دنماينده سرغړونه كړې ده نودهمدې جرمونوپه وجه څوك چې د تعزير قابل
دى بكرمردودالشهادته اوساقط الاعتبار ، دمنصب لپاره وړنه دى، له همدې وجې دتأديب په
توګه له اداري څخه دبكر ګوښه كېدل پكاردى اوداداري له غړيتوب څخه دي وايستل ،
دتعزيرپه توګه دي مجازات شي.

دمهرباني له مخې له شرعي نقطه نظره ددې وضاحت غواړم چې دزيددا غوښتنه تركومه
ځايه حق په جانب ده ؟

جواب : - كه لاندنى پېښې سمې وي اوزيدله لګېدلوتورونه څخه په رښتيابري وي كوم
چې بكردهغه پرضدلګولي دي نوبكردبهتان په توګه دسختي ګناه ارتكاب كړيدى (۱) ، كه هغه
له خپلې دې ګناه څخه توبه ونه باسي ، له زيدڅخه بخښنه ونه غواړي (۱) نود داسي وظيفې

(۱۴ و ۱) وفى سنن ابى داؤد ج : ۲ ص : ۳۲۷ (طبع مكتبه رحمانيه) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم
: كل المسلم على المسلم حرام ماله وعرضه ودمه حسب امرئ من الشران يحقر اخاه المسلم .
وفى سنن ابى داؤد كتاب الاب باب من ردّعن مسلم غيبة ج : ۲ ص : ۳۲۷ (طبع رحمانية) عن سهل بن
معاذبن انس الجهنى عن أبيه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال : من حمى مؤمنًا من منافق أراه قال بعث
الله ملكًا يحمى لحمه يوم القيامة من نارجهنم ، ومن رمى مسلمًابشئ يريدشينه به حبسه الله على
جسرجهنم حتى يخرج مماقال.
وكذافى مسنداحمد حديث معاذبن انس الجهنى رقم الحديث : ۱۵۵۶۸ ج : ۱۲ ص : ۲۵۸ (طبع
دارالحديث القاهرة) ومشكوة المصابيح ج : ۵ ص : ۴۲۴ (طبع قديمى) وفى مرقاة المفاتيح ج : ۹ ص :
۲۳۸ (طبع امداديه ملتان) أى قذف مسلما .... بشئ أى من العيوب يريد به شينه أى عيبه حبسه الله أى
وقفه على جسرجهنم وهوصراط ممدود...... حتى يخرج مماقال أى من عهدته والمعنى حتى ينقى من
ذنبه ذلك برضاء خصمه أوبشفاعة أوبتعذيبه بقدرذنبه وكذافى بذل المجهود ج : ۵ ص : ۲۵۵ (طبع معهد
الخليل كراچي)

مستحق نه دى تركومه چې دماتحت وګړو حقوق ترلي وي ، په يوه اسلامي محكمه كې ددې
بهتان لګولوباندې هغه ته تعزيري سزاهم وركول كېږي خودا تعزيري سزادعاموخلګو كارنه دى
، يوازې دمحكمې له لوري وركول كېدای شي (۱)

والله اعلم (فتوى نمبر ۱۰۲۵/۳۹ د)

دګناه په مجلس كې دګډون دنه كولودوعدې پرماتولو شرعًا كوم تعزيرمقررنه دى ، دارنګه دتعزيري سزا داجرا اختياريوازي له شرعي قاضى سره دى

سوال : - وړونود يوه ماتم (غم) پرمهال فيصله وكړه چي آينده به په ودونوكي ډول وهل ،
په لوډسپيكر كي دسروزونوغږولوباندي پابندي كوي ، چاكه نه مانه نوله هغه سره به اړيكي
شلوي، ټول وړونه پردې خبره سره يوشول همدامهال دمسجدامام هم داخطار په توګه وويل :
څوك چي داحركتونه ترسره كوي دهغه نكاح به نه تړي . څوورځي وروسته په وړونوكي ديوه
واده ووچي ډول ، په لوډسپيكرونوكي سروزونه پيل شول ، دمسجدامام خلګوته وويل : چي
وعده خلافي ترسره كېږي ، ذمه دارخلګ يي وروليږل هغه يي له وعده خلافي څخه منعه كاوه
خودواده خلګ نه منع كېدل، ډول وهل كېده ، وروسته چي كله دنكاح وخت راورسېده نوهمالته
يوسوشلستې كس كوم چي په خپل نظركي سوشلزم دين ګڼي هماغه امام ته وايي چي نكاح مه تړه
ولي چي تاويلي وو څوك چي داعمل ترسره كړي زه يي نكاح نه ترم ، امام وويل : ماداخبري
داخطار په توګه ترسره كړي وې په حقيقت كي دا كار دنكاح مانع نه دى دنكاح دجواز شرائط
نوردي ، امام نكاح وترله ، دنكاح پرمهال يي ډول بند كړ اوس هغه اشتراكي سردار داهنګازه
خپره كړه چي څرنګه چي امام وعده خلافي ترسره كړي له همدې وجي هغه ته تعزير وركول
پكاردى.

وفى شرح الفقه الاكبر مسئله فى التوبة وشرائطهاص : ۱۵۹ و ۱۶۰ (طبع قديمى) امام اذاقال بهتانًا بأن لم
يكن ذلك فيه فانه يحتاج الى التوبة .... فليس شئ من العصيان أعظم من البهتان ....الخ.
(۱) وفى الهنديه كتاب الحدود ج : ۲ ص : ۱۴۳ (طبع رشيديه) وركنه اقامة الامام اونائبه فى الاقامة .
وفى بدائع الصنائع كتاب الحدود ج : ۷ ص : ۵۷ (طبع سعيد) ....اما الذى يعم الحدود كلهافهو
الامامة وهوان يكون المقيم للحدهو الامام اومن ولاه الامام وهذاعندنا.

دمسجد امام وويل: زه دسرکاري نکاح ليکونکی يم دمجبورۍ له وجې نه مي نکاح وتړله سربېره پردې که مې نکاح تړلې نه وای نو دفساد خطره وه ولې چې ټولو وروڼو په نکاح کې ګډون کړی وو، دنکاح دنه تړلو په صورت کې له امامت څخه دګوښه کېدلو خطره هم وه، نو آيا په دې صورت کې امام لره شرعي تعزير شته؟

جواب: - لمړی دې ته فکر وکړه چې امام چې دخلګو په وړاندې کوم وعده کړې وه چې هغه به يوه هغه نکاح نه تړي چې په پروګرام کې ډول وهل کېږي، ياسروزونه غږول کېږي نو اوس ويوه داسې مجلس ته تلل، نکاح تړل دده لپاره له دووجو نارواوه يوه دا چې په کوم مجلس کې دالهوولعب وي هلته قصداً تلل، ګډون کول ناروادي(١) بله له دې وجې چې دا وعده خلافی ده،

(١) وفی مرقاة المفاتيح شرح المشکوة ج: ٦ ص: ٢٥٤ و٢٥٥ (طبع امداديه) عن سفينة ان رجلا ضاف علی بن ابی طالب رضی الله عنه فصنع له طعاماً فقالت فاطمة: لودعونا رسول الله صلی الله عليه وسلم فاکل معنا، فدعوه فجاء فوضع يديه علی عضادتی الباب فرأی القرام قدضرب فی ناحية البيت فرجع قالت فاطمة رضی الله عنها فتبعته فقلت يارسول الله! ماردک؟ قال: انه ليس لی – أو – لنبی أن يدخل بيتاً مزوقاً. رواه احمد وابن ماجة. قال المُلاعلی القاریٔ رحمه الله وفيه تصريح بأنه لايجاب دعوة فيهامنکر وفيه انه لوکان منکراً لأنکر عليهاولکن نبه بالرجوع الی انه ترک الولی فانه من زينة الدنيا وهی موجبة لنقصان الأخری.

وفی تبيين الحقائق کتاب الکراهية فصل فی الاکل والشرب ج: ٧ ص: ٢٩ و٣٠ (طبع دار الکتب العلمية بيروت) وان کان هناک لعب وغنا قبل ان يحضرها فلايحضرهالانه لايلزمه اجابة الدعوة اذاکان هناک منکر.

وفی الهندية کتاب الکراهية الباب الثاني عشر فی الهدايا والضيافات ج: ٥ ص: ٣٤٢ و٣٤٣ (طبع رشيديه). ومن دعی الی وليمة فوجدثمة لعباًاوغناء فلابأس ان يقعد ويأکل فان قدر علی المنع يمنعهم وان لم يقدر يصبر وهذا اذالم يکن مقتدی به اما اذاکان ولم يقدر علی منعهم فانه يخرج ولا يقعد ولوکان ذلک علی المائدة لاينبغی أن يقعد وان لم يکن مقتدی به وهذا کله بعد الحضور واما اذاعلم قبل الحضور فلايحضر..... الخ.

وفی الهداية کتاب الکراهية ج: ٤ ص: ٤٥٥ (طبع شرکت علمية) هذااذالم يکن مقتدی فان کان ولم يقدر علی منعهم يخرج ولايقعد لان فی ذلک شين الدين وفتح باب المعصية علی المسلمين. (وفی طبع رحمانية ص: ٤٥٣ و٤٥٤) وفی الهداية ج: ٤ ص: ٤٥٤ (طبع مکتبه رحمانية) ومن دعی الی وليمة أوطعام فوجد ثمه لعباً اوغناء فلابأس بأن يقعد ويأکل .... وهذااذالم يکن مقتدی فان کان ولم يقدر

ترکومه چې لومړۍ وجه اړه لري نو په پوښتنل شوي صورت کې نشي مونډل کېدای چې څه وخت امام صاحب نکاح لوستله پرهمدې وخت ډول باجه درول شوي وه، پاته شوه دوهمه وجه نو په حقيقت کې داامام صاحب دا وعده له ټولو وروڼو سره ديوې معاهدې حيثيت لاره، څه وخت چې ټولو وروڼو لومړۍ دامعاهده ماته کړه نو اوس داامام صاحب لپاره هم دمعاهدې په حيث ددې دخلاف ورزي شو نتيا بربښي خوکه داامام صاحب اعلان له وروڼو سره پرمعاهده موقوف نه وو بلکه هغه په ذاتي ډول دخلګو په وړاندې دا وعده کړې وه نوده لره پردې وعده خلافي توبه اوبخښنه غوښتل پکاردی پداسې معاملاتو کې دشريعت له لوري کوم تعزيرمقررنه دی، نه له شرعي قاضی پرته کوم بل چاته دتعزير واک او اختيار شته.

والله اعلم ١٣٩٠/١١/٧ هـ (فتوی نمبر ١١١٢/٢١ الف)

دلواطت دشرعي سزا داجراحکم اختيار له حکومت سره دی

سوال: - يوکس چې دمسجد امام وو په لواطت سره مبتلاشو، ونېول اووايستل شو، په پته يولري ځای کې نوکري کوله يومفتش ددې امام په لټه کې وو او شرعي سزايې پر هغه جاري کول غوښتل..................الخ.

جواب: - دلواطت مرتکب فاسق دی او ترڅو چې له دې عمل څخه دزړه له اخلاصه توبه ايستلې نه وي هغه امام جوړول روانه دی. البته دشرعي سزا داجراحکم يوازي اسلامي حکومت

علی منعهم يخرج ولايقعد لان فی ذلک شين الدين وفتح باب المعصية علی المسلمين والمحکی عن أبی حنيفة رحمه الله فی الکتاب کان قبل أن يصير مقتدی ولوکان ذلک علی المائدة لاينبغی ان يقعد وان لم يکن مقتدی لقوله تعالی: «فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ» وهذاکله بعد الحضور ولوعلم قبل الحضور لايحضر لانه لم يلزمه حق الدعوة.

وفی الفتاوی البزازية علی الهندية ج: ٦ ص ٣٥٩ (طبع رشيديه) استماع صوت الملاهی کالضرب بالقضيب ونحوه حرام قال عليه السلام استماع الملاهی معصية والجلوس عليهافسق والتلذذ بهاکفر ای بالنعمة.

ته شته (۱) اوپه موجوده قوانينوكي ځرنګه چي شرعي حدودنافذنه دي له همدې وجي ددې عمل سزامعلومول بې ځايه كاردی.

نوټ : - په داسي پوښتنوكي ديوه معلوم كس نوم اوښان په استفتآء كي يادول نه دی پكار.

الجواب صحيح
بنده محمد شفيع
۱۳۸۷/۱/۲۷ھ

والله اعلم وعلمه اتم واحكم
احقرمحمدتقی عثمانی عفی عنه
۱۳۸۷/۱۰/۲۲ھ
(فتوی نمبر ۱۸/۱۳۱۸ الف)

---

(۱) وفی الهندية كتاب الحدودج : ۲ ص : ۱۴۳ (طبع رشيديه) وركنه اقامة الامام أونائبه فی الاقامة. وكذافی بدائع الصنائع ج : ۷ ص : ۵۷ كتاب الحدود ومثله فی كتاب الفقه على المذاهب الاربعة ج : ۵ ص : ۲۴۹ كتاب الحدود.

(فصل فی القسامة)

(قسامت يعني يوځای پرپيداشوي مړي دمحلي خلګوته دقسم وركولو بيان)

له يوه كلي سره په خواكي په يوه خاصه عامه لاره كي دپيداشوي مړي لاش قسامت ددې كلي پروګړودی

سوال : - يوه كلي ته نژدې پرسړک يومړی وموندل شوهغه سړک داسي دی چي په مكمله توګه دې كلي ته يې نسبت كول كېږي نوآياكه پرهمدې سړک لاش وموندل شي ددې كلي پر وګړوقسامت راځي اوكه نه ؟ يادساتل پكاردی چي ددې كلي اوسړک ترمينځ څه فاصله هم شته خوډېره زياته نه ده ، همدارنګه داسړک تقريبًاپه همدې كلي پوري خاص دی مخكي يوه فتوی وركول شوې وه چي پكي ليكل شوي ووددې كلي پروګړوقسامت نه لازمېږي له سم شرعي صورت حال څخه مو خبر كړئ.

جواب : - مخدوم عزتمند دقدروړ مولاناتاج محمدصاحب ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ماته ډېره حيراځي چي تاسومحترم چي كومه استفتاء په لاسي توګه احقرته راكړې وه ، دهغې په جواب كي ځنډراغی له همدې وجي چي تاسومحترم ته كوم تكليف رسېدلی وي دهغې دبخښني لپاره له احقرسره الفاظ نشته ، هيله ده چي ومو بخښئ. اوس تاسودوهم ځل سوال اوجواب له اړونده عباراتوسره راولېږل نوپرمسئله باندي دغوركولووخت مو پيداكړ له دواړو پوښتني اوجواب له اړونده عباراتوله كتني څخه اندازه ولګېده چي په دواړوفتواګانوكي داصل حكم په اعتبارتعارض نشته. داغيراختلافي مسئله ده كه چيري پرعام سړک په داسي ځای كي لاش وموندل شي كوم چي يوه كلي ته دومره نژدې وي چي هلته دمقتول آواز رسېږي نوددې كلي پروګړوقسامت راځي خوكه هغه ځای له كلي څخه دومره لري وي چي كلي ته دمقتول آواز نه رسېده نوپه همدې صورت كي پركليوالوباندي قسامت نشته ، لكه چي ټولي اړونده مسئلې په ډېرپوره انداز سره علامه رافعی دارنګه بيان كړي دي : - وظهر من انه كمالايناسب العمل باطلاق المتون لايناسب الافتاء بوجوب القسامة والدية على أهل ادنی

الحال مطلقًا، والحاصل أن القتيل ان وجدفی الشارع الاعظم ونحوه فان وقع عندالازدحام فلاقسامة وديته على بيت المال وان وقع فی موضع لو صِيح فيه يسمعه أهل العمران فالقسامة و الدية على أدنى المحال ، وفی موضع بعيدمنتفع به بين المسلمين فهی على بيت المال ، والافهدرآھ»

(تقريرا ت الرافعی ج: ٢ ص: ٣٣٩) (طبع جديد ، ط سعيد)

لهذاپه همدې عباراتوکي چي کومه مسئله بیان شوي ده په هغې کوم اختلاف نشته ، البته دکومي استفتاپه جواب کي چي په سرکي فتوی جاري شوه په هغې کي په صراحت سره لیکلي وه چي په کوم ځای کي مقتول موندل شوی وو هغه له کلي څخه ۵۰۰ میټره لري وه اوددې ځای اوکلي ترمینځ کښت اوکوهي هم موجووه لهذاجواب ورکونکي صاحب دا فهمولي وه چي ۵۰۰ میټره یعني نیم کلومیټر فاصلې څخه په عامه توګه آواز نه رسیږي ، په خاصه توګه چي ترمینځ یې کرونده اوکوهي هم حائل وي البته مناسب داوه چي په جواب کې دابښکاره کړي وای چي داجواب په هغه صورت کي دی څه وخت چي واقعًا فاصله دومره وه چي آواز نه رسیده. په اصل کي حکم پردې بنادی چي عام سړک کلیوالوته په داسي ډول منسوبیده چي دهغه حفاظت اودهغه ساتنه ددوی پرذمه وه نودعام سړک پر همدې حصه دپیداشوي مقتول قسامت دوی ته راجع کیږي پردې خبره دعلامي په ډول فقهای کرامود په زوره چیغي درسیدلویادونه کړي ده.

لهذاپه نفس مسئله کي کوم اختلاف نشته دپوښتل شوي مسئلې ټول مدار پرسم تعین باندي دی، ښکاره دی چي تاسو هلته نژدې یاست اوتاسو دټولو خبروپه نظرکي له نیولوسره سم فیصله کوئ، که هغه ځای ریښتیاهم داسي وي چي دآواز درسیدلوپه وجه یې کلي ته نسبت کیده نوبې شکه قسامت کیدای شي اوکه نه وي نونه کیږي. داخبره تاسوپه خاصه توګه ملاحظه کړئ که واقعًافاصله ۵۰۰ میټره وي اوترمینځ یې کښت اوبل شی حائل وي نو په ظاهرې توګه دآواز رسیدل لري ښکاري له دې څخه پرته کومه سوال چي ترټولولمړی راغلي وه په هغه کي په وینه هم نه وه موندل شوي ددې اړخونود څېړني اوپلټني هم ضرورت دی. والسلام

(حضرت مولانا) محمدتقی عثمانی (مدظلهم) بقلم عبد الله میمن ٢٣/ ١٢/ ١٤١٤ھ

(كتاب الجنايات)

(دجنایت دمسئلو بیان)

دمالک له اجازې پرته دده کورته دیوه کس خپل اوبښ بیول اوهغه حیوان دنورو دهلاکولو حکم

سوال :- دزید یواوبښ دی ، دعمر و داوښانوګله ده ، یوه ورځ زیدغوښتل چي هغه خپل اوبښ دعمرو داوښانوله ګلې سره یوځای کړي خوعمرو داویل چي ستا(یعني زید) اوبښ بد معاش دی اوخطره ده چي هغه زمااوښان راونه وژني،هغه یې منع کړ خوزید دعمر و له منع کیدلوسره سره خپل اوبښ دعمرو په ګله کي خوشی کړ، دوهمه ورځ عمرو په اوښانو کي دوه اوښان مړه پیداشول اوزیداوبښ له هغوی سره پخواکي وموندل شو ، (واضحه دي وي چي دزیدله اوبښ سره دعمرو یوازي یو اوبښ برابردی نورټول ترې کوشني دي) پرمړه شوي اوښانوپربدنونو پربېلابېلوځایونود اوبښ دغاښونونښي ښکاره وې له دې پرته د اوښانودمنډو(څغاستو) نښي ښکاریدلي، له نښانومعلومه شوه چي دعمرو اوښان دزید او بښ په هلاکت رسولي دي کوم چي لاندیني وجوهات یې شک په یقین بدلوي:-

١ : - دزیداوبښ په بدمعاشي اونقصان سره مشهوردی اودسیمي خلګ له هغه څخه په وېره کي ول.

٢ : - دبکرپه وینا(له کوم کس څخه چي زیدداوبښ اخیستی وو) هغه خپل دااوبښ له دې وجي نه خرڅ کړی ووچي دهغه عادات بدوه اوویره یې وه چي هسي نه یو انسان هلاک ، یازخمي کړي.

٣ : - تردې پېښي څو ورځي وړاندي دسیمي نمبردار(هغه کس چي دمالوپرسردکلي پیسې دحکومت په خزانه کي درجوي) په یوه غونډه چي زیدهم پکي حاضرو د اوښانودځارني پر موضوع یې په خبروکولو سره په خاصه توګه دزیدنوم یادکړ اوپه څرګندوالفاظوکې هغه ته تنبیه ورکړه چي هغه دي دخپل اوبښ بدمعاشي ته په کتلو سره له کومي متوقعي پېښي څخه دبچ کیدلولپاره دي دخپل اوبښ ځارنه کوي.

۴: - دقوم مشرانو دمړشوو اوښانو ځای معاينه کړ او دې نتيجې ته ورسېدل چي دزيد اوښ په هلاكت رسولي دي.

الف: - دشريعت له مخي پرزيد د عمرو داوښانو دهلاكت ضمان راتلای شي ، كه نه ؟ كه راتلای شي نوهغه دكوم شرعي اصولوله مخي ؟

ب: - داوښانو دهلاكت عيني شاهدنشته ، آيادزيدد اوښ په بدمعاشي سره شهرت لرل دثبوت لپاره بس دی ، كه كوم بل ثبوت هم غواړي ؟

ج: -آيادبكربيان ، په ۳ نمبركي دنمبردار تنبيه دزيدداوښ دعمرو د اوښانو دهلاكت لپاره كافی دی ؟

جواب: - كه په سوال كې تولي واقعې سمي اوثابتي وي اوزيد په رښتياهم دعمرو له اجازې او خبرداري پرته خپل شرير اوښ دعمرو د اوښانوپه ورشوكي خوشی كړی وونوپه پوښتل شوي صورت كي پرزيدباندي دعمرو دمړه شووو اوښانو ضمان واجب دی په دې شرط چي په سوال كي له درج شوو قرائنوڅخه دومره ښكاره شوه چي دكلي تجربه لرونكوخلكو ددې خبري غالب گمان وه چي د عمرو اوښان دزيداوښ هلا ک كړي دي ، په همدې مسئله كي دفقهای كرامو اړونده څرگندوني په لاندي ډول دي: -

په فتاوی بزازيه كي داسي راغلي دي: « فی داره أبعرة أدخل عليها آخر بعيرًا مغتلمًا أوغير مغتلم باذن صاحبها فقتل الداخل ذلک الابل لايضمن وان كان بلااذنه يضمن » (بزازيه علی هامش الهنديه ج: ۶ ص: ۴۰۳ (۱)

(۱) هامش الهندية (الرابع فی الجناية علی غيربنی آدم ......الخ) (طبع رشيديه كوئټه)

وفی ردالمحتار ، كتاب الجنايات ، باب جناية البهيمة والجناية عليها ج : ۶ ص : ۶۱۲ (قبيل باب جناية المملوک والجناية عليه) (طبع سعيد) اذاكان فی داره بعير فادخل عليه آخر بعيرًا مغتلمًا أولا فقتل بعيره ان بلااذن صاحبها يضمن كمافی البزازية أقول ويظهر أرجحية هذاالقول لموافقته لمامر اول الباب من أنه يضمن ماأحدثه الدابة مطلقًا اذا ادخلها فی ملک غيره بلا اذنه لتعديه ....الخ .

وفی مجمع الضمانات الفصل الخامس فی جناية البهيمة ج : ۴ ص : ۴ وان ادخل بعيرًا مغتلما فی دار رجل وفی الدار بعير صاحب الدار فوقع عليه المغتلم اختلفوا فيه قال بعضهم لا يضمن صاحب المغتلم وقال الفقيه ابو الليث ان ادخله باذن صاحب الدار لا يضمن وان ادخله بغير اذنه ضمن وعليه الفتوی لان صاحب المغتلم وان كان مسببًا فاذاخله باذنه لم يكن متعديًا اوان ادخله بغير اذنه كان متعديًا فيضمن كمن القی حية علی انسان فقتله كان ضامنًا.

ربط حماره فی سارية فجآء آخربحماره وربطه ، فعض أحدهما الآخر وهلک ان فی موضع لهماولاية الربط لايضمن، والاضمن، بأن لم يكن ذلک الموضع طريقًاولاملكًا لاحد لايضمن اذاكان فی المكان سعة ، وفی الطريق يضمن لان الربط ثمه جناية. (۱) ياده شوي حواله شامی ج: ۴ ص: ۳۹۲). (۲)

اوپرداسي مهال دقرائنوپربنياد ضمان راجع كېږي چی دكوموپه شته والي غالب گمان قائمېږي لكه چي په معين الحكام كي دی :« علی الناظرأن يحفظ الامارات والعلامات اذا تعارضت ، فماترجح منها قضی بجانب الترجيح وهوقوة التهمة ، ولاخلاف فی الحكم بها وقدجآء العمل بهافی مسائل اتفق عليها الطوائف الاربع من الفقهاء.» (معين الحكام ص: ۲۰۳ ، باب ۵۵ ، فی القضآء بمايظهر من قرائن الاحوال والامارات) . هذاماعندي

والله سبحانه وتعالی اعلم ۷/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ(فتوی نمبر ۵۷۰ / ۲۸ ب)

وفی الهندية ، كتاب الحنايات ، الباب الثانی عشر فی جناية البهائم والجناية عليهاج : ۶ ص : ۵۲ (طبع رشيديه كوئټه) رجل ادخل بعيرًا مغتلمافی دار رجل وفی الدار بعير صاحبهافوقع عليه المغتلم فقتله اختلف المشائخ رحمهم الله فيه منهم من قال لاضمان علی صاحب المغتلم وقال بعضهم ان ادخل صاحب المغتلم بغير اذن صاحب الدار فعليه الضمان وان كان ادخله بلااذنه فلاضمان وبه اخذ الفقيه ابو الليث رحمه الله تعالی وعليه الفتوی كذافی المحيط .

وفی الهندية ، كتاب الغصب ، الباب الرابع عشر فی المتفرقات ج : ۵ ص : ۱۵۲ (طبع رشيدية كوئټه) وان ادخل فی دار رجل بعيرًا مغتلمًا وفی الدار بعير صاحب الدار فوقع عليه المغتلم اختلفوافيه قال الفقيه ابو الليث ان ادخله باذن صاحب الدار لايضمن وان ادخله بغير اذنه يضمن وعليه الفتوی ....الخ .

(۱) البزازية علی هامش الهندية ، كتاب الجنايات (الرابع فی الجناية علی غيربنی آدم ....الخ) ج : ۶ ص : ۴۰۳ (طبع رشيديه كوئټه)

(۲) وفی الشامية ، باب جناية البهيمة والجناية عليهاقبيل باب جناية المملوک والجناية عليه ج : ۶ ص : ۶۱۲ (طبع سعيد) ربط حماره فی سارية فربط آخر حماره ، فعض حمار الاول ان فی موضع لهما ولاية الربط لايضمن والاضمن ملخصًا . والله تعالی اعلم .

(كتاب الصلح)

(دصلحي دمسئلو بيان)

ددعوې په ذريعه ترلاسه شوی جايداد د سولي په بدل کي له اخيستلو نه لاس په سر کېدونکي ته دوهم ځل دغوښتلو اختيار نشته

سوال: - الف: - محمد اسماعيل ولد حاجي الله ديا (زوم)، د سرګودها هستوګن.
ب: - ملک دين محمد، (خوسر) د کراچي هستوګن.
ج: - اصلي دکاندار کوم چي په پګړې کې له «الف» نه په عارضي ډول دکان اخيستی.
«الف» له «ج» څخه تقريبًا په درې زره روپو په پګړې دکان واخيست، (تحقيق يې معلوم نه دی) دايوازي «دالف» وينا ده، په سرکاري ډول بيع نه ده ترسره شوي خوپه يوه شرط چي مهاجرته به دمتروکه شتمني په بدل کي دپاکستان متروکه شتمني ورکول کېږي، څرنګه چي له «الف» سره کومه شتمني نه وه په همدې وجه «الف» د «ب» دمتروکه شتمني دعوه ترلاسه کړه کوم چي دپنځه زره وه «ب» په دې شرط ددعوې حق ورکړ چي نيم دکان به د «الف» وي، نيم به د «ب» وي، داټول يوازي په ژبني ډول اقرار وو چي «الف» په خوښي سره ومانه

خوپه سرکاري ډول دادکان په پنځه زره قيمت ترلاسه کولو «الف» وعده خلافي وکړه، له پنځه زره څخه ددعوې نيمه برخه ورکول پکاررو، خود «الف» پلار له وېري د دعوې پنځه زره نقدي (دقسط په ذريعه) اداکړې څرنګه چي د «ب» اقتصادي حالت ښه نه وو، ديوه قريب په معامله کي يوه بل قريب دمجبوريت په وجه ددعوې روپۍ ورکړې اوس د جواب غوښتلو خبره داده چي آيا «دب» نيمايې برخه پرځای ده (په دې شرط چي دپوره مصرف نيمايې برخه يې اداکړې وي) اوکه نه؟ آيا «الف» دشريعت له مخي دوعده خلافي ګناه په غاړه لري، که يې نلري؟ که يې لري نوآيا خپل ځان دالله له عذاب څخه دخلاصون لپاره نيم دکان ورکړي چي ددې دکان له لارې له کلوراهيسي درې سوه، څلورسوه، پنځه سوه مياشتنۍ کرايه يې ترلاسه کوله، اوس دمرګ په وخت دالله پرنوم، دمسجد پرنوم دکان ورکړي آيا دارواده؟

جواب: - ددعوې په ذريعه چي کومه شتمني حکومت چاته ورکوي هغه دحکومت له لوري دهغه له لپاره ابتدايې عطيه ده اوددې مستحق هغه کس کېدای شي کوم چي دغه شتمني په دعوه سره ورکول شويده، له همدې وجي ددعوې څښتن دهمدې دکان اصل مستحق «ب» وه خوهغې «الف» ته دنيم دکان دورکولو کومه معاهده کړې وه داپه حقيقت کي ددعوې دلاسته راوړني مزدوري وه (کوم چي دجعالې، يا سمسرې په اصولو کي سم ګڼل کېږي) له همدې وجي پر «الف» لازمه وه چي دهغه دکان نيمايې برخه يې له خپل ځان سره ساتلي، نيمايې يې «ب» ته ورکړي وای، هغه دوعده خلافي په ترسره کولو سره دوعده خلافي ګناه وکړه خوڅه وخت چي هغه پنځه زره پيسې «ب» ته ورکړې او «ب» هغه اندازه روپۍ له کوم اعتراض پرته ورواخيستلي، داوخت يې ددکان دنيمايې برخي غوښتنه ونکړه نوله فقهي نظره هغه دسولي په بدل کي په وراخيستلو سره له دکان څخه لاس په سرشوه (١)، اوس بشپړ دکان د «الف» شو (٢) «الف» ته پکاروه چي هغه په پيل کي کومه وعده خلافي ترسره کړي وه پرهغه توبه او استغفار وغواړي او «ب» څخه هم پردې باندي بخښنه وغواړي خود سولي په بدل کي له ترلاسه کولو وروسته «ب» له دې دکان څخه لاس په سرشويده لهذا اوس دکان د «الف» دی (٣)، اوس پرده باندي دده نيمه برخه «ب» ته ورکول واجب نه دي (٤)

والله سبحانه وتعالی اعلم ٢٨/ ١١/ ١٣٩٢هـ (فتوی نمبر ٢٧٥٠/ ٢٧ و)

(١ تا ٢) وفی الدر المختار، کتاب الصلح ج: ٥ ص: ٦٢٩ (طبع سعيد) وحکمه وقوع البرأة عن الدعوی ووقوع الملک فی مصالح عليه وعنه لو مقرا أو هو صحيح مع اقرار أو سکوت أو انکار فالاول حکمه کبيع ان وقع عن مال بمال وحينئذ فتجری فيه احکام البيع. وفی الشامية تحته (قوله کبيع) أی فتجری فيه احکام البيع فينظر ان وقع علی خلاف جنس

(٣) المدعی فهو بيع وشراء کماذکر هنا وان وقع علی جنسه فان کان بأقل من المدعی فهو حط وابرآء ....

(٣) اعتبر بيعًا ان کان علی خلاف الجنس ....

(٤) ....الخ.

(كتاب الوكالة)

(دوكالة دمسلو بيان)

دوكالت په عقد كي دمضاربت په توګه په پور دشي خرڅولو اوله وكيل څخه فوراً دپيسو اداكولو دغوښتني حكم

سوال: - فضيلة القاضى محمد تقى العثمانى المحترم ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته
دتيباستي شركت هوډ لري چي دتجارت لپاره له دتويوتاله ياباني شركت څخه په پور موټرونه واخلي چي شپږمياشتي وروسته به پيسي وركوي ، دالمضاربة الاسلامية مؤسسه له لاندنيوشرائطوسره په دې معامله كي ګډون ته زړه ښه كوي:-

١ : - دتويوتاشركت به المضاربة الاسلامية دټولوچاروپه تصرف كي چي رسيد پاڼه ، اسناد ، ضمانتونه اونورلوازم پكي راځي دخپل وكيل په توګه اعلانوي.

٢ : - دالمضاربة الاسلامية شركت به ددې اعلان كوي چي دتيباسي شركت هغه له تويوتاسره په دې معامله كي وكېل منلى ، هغه داوكالة منلى دى.

٣ : - المضاربة به تيباسي ته دموټرانوترتسليمولو وروسته سمدستي ، دخپلي فيصدې تركمولو اوقبضولووروسته تويوتاته دموټرانو قيمت وركوي.

٤ : - المضاربة به دموټرانوپشپړقيمت دتيباسي له شركت څخه شپږمياشتي وروسته ترلاسه كوي كوم چي ده شپږمياشتي وړاندي تويوتاته وركړي وي.

له تاسوڅخه دمهرباني له مخي هيله كوم چي له شرعي نظره دهمدې معاملې دصحت په اړه راته خپله رايه واضحه كړې.

زيادعلى صبرى / مديربرج المؤسسة المصرفية المنطقية المنامة دولة البحرين

جواب: - الى سيادة الأخ زيادعلى صبرى

مديرالمضاربة الاسلامية فى المؤسسة العربية ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ستاسوهغه پيغام چي له تويوتاشركت سره مودشرعي وكالة په اړه سوال پكي كړي وه اورسيداوددې تړون شرط ته په كتلوسره يې زماپه انده د حل دوې لاري دي چي يوه يې روا، له ناروا ده:

لمړی لاره داده چي المضاربة الاسلامية دتويوتاله شركت سره (چي بائع دى) د وكالة په تړون كي ددې التزام وكوي چي هغه به دتېباسي له لوري (چي مشتري دى) دموټرانوله تسليمېدلووروسته سمدستي پيسې وركوي ، له تېباسي څخه به شپږمياشتي وروسته پيسې ترلاسه كوي نوداشرط په بيع كي فاسدشرط دى چي شرعًا جواز نلري اوداځكه چي دمؤكل له لوري ددې شرط مقتضاد اده چي هغه په پوردموټرانوپه خرڅولوكي وكالة دى په دې شرط چي وكيل به مؤكل ته سمدستي پيسې وركوي اوداله وكالة سره منافى دى(١)

دوهمه لاره داده چي له تويوتاسره دوكالة په تړون كي داشرط نه وي ايا يښوول شوى بلكه تويوتا المضاربة الاسلامية دموټرانوپه خرڅولوكي دوكيل په توګه ټاكلى وي په حالي بيعه اوالمضاربة الاسلامية بيادتويوتاله لوري له تېباسي سره دوكيل په توګه دحالي بيعې تړون ترسره كړى وي، وروسته تېباسي له المضاربة نه له همدې څخه بېل ديوه ځانګړي تړون په نتېجه كي يوه اندازه پيسې په پورواخلي، دامهال المضاربة الاسلامية دموټرانو قيمت دوكالة دمزدوري تركمولو ، وروسته تويوتاته وركړي،بيادتېباسي شركت له المضاربة څخه هغه پوركړي ټولي پيسې المضاربة ته شپږ مياشتي وروسته وركړي.

اوداطريقه شرعًا ترهغې پورې جواز لري ترڅوچي دادرې عقدونه؛ عقدالوكالة ، عقدالبيع ، عقدالاستقراض يوله بله سره بېل وي.(٢)

والله سبحانه وتعالى اعلم ٢٨ / ١١ / ١٤٠٨هـ(فتوى نمبر ٢٤٩٣ / ٣٩ ح)

❀❀❀

---

(١) فى الدرج : ص ٥٢٢ (طبع سعيد) وصح بالنسيئة ان التوكيل بالبيع للتجارة وان كان للحاجة لايجوز....... لكنه لايطالب الا بعد الأجل كمافى تنوير الابصار.

(٢) فى مسند أحمد بن حنبل رقم : ٣٧٨٣ ج : ٤ ص : ٣٠ (طبع دار الحديث القاهرة) نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن صفقتين فى صفقة واحدة . دارنګه ص : ٧٨ حاشيه نمبر ١ او ص : ٥٧ حاشيه نمبر ١ و ٢ وګورئ

(كتاب القسمة)

(د تقسيم د مسئلو بيان)

د ځلورو ورونو ترمينځ د مځكې د ويش پر سر د شخړې حل

سوال : - حاجى على محمد صاحب ۱۹۴۸ ء كي وفات شوى دى د ده ځلور زامن ؛ محمدعلى، محمدشريف، محمدعارف او انورعلى دي ۱۹۲ ايكړه مځكه د دريمانو په ذريعه پر ځلورو برخو جلا او د قرعه اندازي په توګه كورنى ويش ترسره شو، په مالي محكمه كي ګډه خانه پاته شوه محمدعلى له خپلي قرعې سره سم خپله برخه جلا كړه، نور دريو ورونه دوه كاله تريو ځاى هستوګني وروسته يوه ورور محمدعارف هم د خپلي قرعې رقبه جلا كړه، په رقبه كي تردې دمه كوم فرق نه وو راغلى وروسته پته ولګېده چي د محمد شريف په رقبه كي د ۱۵ ايكړه مځكي او به نشته كومه چي باراني مځكه ده، د نورو درو ورونو برخي ټولي د ويالې والا رقبې دي محمد شريف دريم والى وكړ چي باراني ډوله رقبه د حصو پر سر بايد تقسيم شي كومه چي په ناخبري كي يوازي د محمد شريف په برخه كي دا اندازه رقبه باراني ده ددې وجه داوه چي د دريو ورونو په برخو په پنځلس پنځلس ايكړه كي ځاى ځاى ښوره مغزه مځكه وه، د محمد شريف په حصه (پنځلس ايكړه كي) ځاى ځاى غونډياني وې، دريمګړو فيصله وكړه چي دوهم ځل دي تقسيم ترسره شي، خو دوو ورونو محمدعلى او محمدعارف وويل : چي اوس موږ دوهم ځل تقسيم نه كوو، نه ددې د آبادېدلو مصارف ادا كوو، لهذا محمد شريف او انورعلى دوه ورونه يوازي پاته شول او ددوى په لاس كي مځكه هم يو لور ته پاتي شوه دوى دواړه يو ځاى د انهارو په محكمه كي دعوه وكړه، دواړو ورونو په خپل مصرف سره همدا غونډياني آبادي كړې د انهارو په محكمه كي ۱۵ كاله دعوه له ځرخېدلو وروسته، فيصله داوشوه چي باراني مځكه لكه بړى هغد داسي منظوره شويده. دواړه رونه په مينه او اتفاق سره څو كاله سره يو ول، اوس شخړه رامنځته شوه محمد شريف وايې : زه هغه مځكه چي ترنن پنځه ويشت كاله وړاندي زما حصه وه هغه جلا كوم ، انورعلى وايې : زموږ دواړو ورونو حصه دي له نوي سرڅخه وويشل شي ولي چي په رقبه كي پوره فرق راغلى دى، د محمد شريف تياره ټوله ۲۳ ايكړه مځكه په سم حالت كي ده، د انورعلى دا پنځلس ايكړه ښوره ده شرعي فيصله څنګه ده چي آيا ځلور ورونه به له سره نوى

تقسيم ترسره كوي ، كه يوازي زموږ ؛ شريف او انورعلى مځكه له نوي سره تقسيم شي ، يا بالكل تقسيم ترسره نشي ؟

جواب : - په پوښتل شوي صورت كي محمد شريف او انور على ته يوازي د خپلو خپلو برخوله نوي سرڅخه تقسيم كول پكاردى ، په اصل كي چي كوم د ځلورو ورونو ترمينځ مځكه تقسيم شوي ده دا تېروتنه رامنځته شوي ده چي په ناخبري كي ديوه برخه پنځلس ايكړه باراني راغلي ده ، څه مهال چي د نورو ټولو په حصه كي نهري رقبه وه ، داوخت چي محمد شريف پر تقسيم كوم اعتراض ترسره كړى دى هغه سم وو ، او ځلورو ورونو ته پكار وه چي له نوي سره بيې تقسيم څخه انكار وكړنو محمد شريف د مځكي د نهرى ګرزولو غوښتنه وكړه او له انورعلى سره په ګډه هغوى دواړو ترخپل مينځ كوم تقسيم ترسره شوى وو هغه فسخ شو (كمايفهم من العبارة الثانية) اوس څه وخت چي دا دواړه سره جلا كېږي دوى ته له نوي سره په تقسيم سره بېلېدل پكاردى په دې سلسله كي فقهي عبارات په لاندي ډول دي : -

العبارة الاولى : - « اذا اقتسما دارًا فلما وقعت الحدود بينهما اذا أحدهما لا طريق له فان كان يقدر على ان يفتح لنصيبه فى حيزه طريقًا آخر فالقسمة جائزة وان لم يعلم فالقسمة فاسدة . » (عالمكيرية ج : ۵ ص : ۲۱۱ ، كتاب القسمة ، باب : ۳) (۱)

---

(۱) وفى الهداية ج : ۴ ص : ۴۱۷ ، كتاب القسمة (طبع شركت علمية). وفى البحر الرائق ، كتاب القسمة (طلب بعض الشركآء القسمة) ج : ۸ ص : ۱۵۳ (طبع سعيد) ولو اقتسموا دارًا فاذا لا طريق لاحدهم وقدر على أن يفتح فى نصيبه طريقًا يمر فيه الرجل دون الحمولة جازت القسمة لانها لم تتضمن تفويت منفعة وان لم يقدر ينظر ان لم يعلم انه لا طريق له فالقسمة فاسدة وان علم انه لا طريق له جازت القسمة لانه رضى بهذه القسمة .

وفى المحيط البرهانى ، كتاب القسمة ، فصل فى بيان مايقسم ومالا يقسم ....الخ. ج : ۱۱ ص : ۱۵۰ (طبع ادارة القرآن) وكذا اقتسم الرجلان دارًا فلما وقعت الحدود بينهما فاذا أحدهما لا طريق له فان كان يقدر على ان يفتح فى حيزه طريقًا فى القسم جائز وان كان لا يقدر أن يفتح لنصيبه طريقًا فان لم يعلم وقت القسم ان لا طريق له فالقسمة فاسدة لانها تضمنت تفويت منفعة على بعض الشركاء بغير رضاه وان علم وقت القسمة أن لا طريق له فالقسمة جائزة .....الخ.

العبارة الثانية : – « القسمة تقبل النقض ، فلواقتسموا واخذوا حصتهم ثم تراضوا على الاشتراک بینهم صح) وعادت الشرکة فی عقارأوغیره لان قسمة التراضی مبادلة ویصح فسخهاومبادلتهابالتراضی » (درمختارمع شامی ج : ۵ ص : ۱۷۰ ، کتاب القسمة) (۱)

هذاماظهرلی

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۳/۱۲/۱۳۹۲ھ (فتوی نمبر ۲۸۲۳/۲۷ و)

---

(۱) الدرالمختار ج : ۶ ص : ۲۶۸ (طبع سعید) . وفی بدائع الصنائع ، کتاب القسمة ، فصل وماصفات القسمة .....الخ . ج : ۷ ص : ۲۸ (طبع سعید)

وامافی قسمة التراضی فیجوز الرجوع لان قسمة التراضی لاتتم الابعد خروج السهام کلهاوکل عاقد بسبیل من الرجوع عن العقدقبل تمامه کمافی البیع ونحوه .

وفیه ایضاً : ۷ ص : ۲۶ (طبع سعید) ان قسمة الجمع فی الدور بالتراضی جائزة بلاخلاف ومعنی المبادلة وان کان لازماً فی نوعی القسمة لکن هذا النوع بالمبادلات أشبه واذاتحققت المبادلة صح البناء ......الخ.